فتاویٰ دارالعلوم زکریا

افادات

حضرت مولانا مفتی رضاء الحق صاحب دامت برکاتہم

شیخ الحدیث ومفتی دارالعلوم زکریا، جنوبی افریقہ

تر اهتمام لاندي

حضرت مولانا شبیر احمد سالوجی مدظلہ

مہتمم دارالعلوم زکریا، جنوبی افریقہ

تہذیب وتحقیق

محمد الیاس شیخ عفی عنہ

رفیق دارالعلوم زکریا جنوبی افریقہ

ناشر

مکتبہ رشیدیہ

Maktaba Tul Ishaat.com

يا قيوم　　　　　　　　　　　　یاحي

فتاوى دار العلوم زكريا

جلد پنځم

كتاب الايمان والنذور ۞ كتاب الحدود والقصاص ۞ كتاب الوقف ۞ كتاب البيوع

افادات

حضرت مولانا مفتي رضاء الحق صاحب دامت بركاتهم
استاذ الحديث ومفتي دار العلوم زكريا، جنوبي افريقا

تر اهتمام لاندي

حضرت مولانا شبير احمد السالوجي مدظله
مهتمم دار العلوم زكريا، لينيشيا جنوبي افريقا

تهذيب وترتيب

حضرت مفتي عبد الباري ومحمد الياس شيخ

ناشر

مكتبه رشيديه

ارګ بازار، کندهار-افغانستان

تيليفون: ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹

د کتاب ټول حقوق له (مکتبه رشیدیه) سره خوندي دي

هیڅ څوک حق نه لري چي پرته له مولوي رضاء الحق صاحب له اجازې پرته یې پښتو وژباړې ځکه چي د پښتو ټول حقوق یې مکتبه الرشیدیه ته ورکړي دي

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	**فتاوي دار العلوم زکریا**
تالیف	افادات شیخ الحدیث حضرت مفتي رضاء الحق صاحب
ژباړونکي	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
تصحیح	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
جلد	پنځم
کمپوز او ډیزاین	عبد الصمد
د چاپ کال	(۱۴۳۵ هـ ق، ۱۳۹۳ هـ ش)
د خپرونو لړ	(۱۴)
ناشر	مکتبه رشیدیه ارگ بازار، کندهار-افغانستان
تلیفون شمېره	۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹، ۰۷۰۰۳۸۸۶۷۴

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com



﴿لا يؤاخذكم الله باللغو في أيمانكم ولكن يؤاخذكم بما كسبت قلوبكم﴾. (سورة البقرة: الآية: ٢٢٥).

كتاب الايمان والنذور

اول .... باب

د ايمان بيان

﴿لا يؤاخذكم الله باللغو في أيمانكم ولكن يؤاخذكم بما عقدتم الأيمان﴾. (سورة المائدة: الآية ٨٩).

د ايمانو اړوند احكام

Maktaba Tul Ishaat.com

د غیر الله د قسم اخیستلو حکم او د افلح وابیه جواب

سوال: رسول الله ﷺ په غیر الله او په پلار سره د قسم اخیستلو څخه منع کړي ده مختلف احادیث ورباندي راغلي دي، د مثال په ډول په بخاري شریف کي راځي: ((قال رسول الله ﷺ: لاتحلفوا بآبائکم)). (رواه البخاری:۲/ ۹۸۳/ ۶۶۲۸).

بل ځای کي ذکر سوی دي:

((ألا إن الله ینهاکم أن تحلفوا بآبائکم، من کان حالفاً فلیحلف بالله أو لیصمت)).

(صحیح البخاری شریف:۲/ ۹۸۳/ ۶۶۴۶).

مګر د صحیح مسلم شریف په روایت کي ((افلح وابیه)) راغلی دئ د دواړو په منځ کي تطبیق څه دئ او د ((افلح وابیه)) کامیاب سو دوه په پلار دي مي قسم وي څه جواب دئ؟

الجواب: قسم دري قسمه دئ:

۱_ دیو چا تعظیم کوي او هغه متصرف ګڼي قسم ورباندي یادوي.

۲_ یوازي د استشهاد له پاره قسم اخیستل لکه ﴿ والتین والزیتون ﴾.

متنبي وایي:

فومن أحب لأعصینک فی الهوی ۞ قسماً به وبحسنه وبهائه

په فارسي کي راځي:

قسم بلب میګون تو وزلف شبګون تو که تو محبوب دلربایي

۳_ د دعای برکت له پاره قسم اخیستل لکه چي قرآن کي راځي: ﴿ لعمرك إنهم لفي سكرتهم يعمهون ﴾ او د ((افلح وابیه)) څخه همدغه قسم مراد دئ یعني ستا د پلار په نسل کي دي الله تعالی دنیایي او اخرتي برکت واچوي.

غرض دا چي د غیر الله قسم د تعظیم له پاره او هغه متصرف فی الامور ګڼونکي منع دي او چیري چي راغلي وي هلته د برکت د دعاء له پاره هغه په ممنوع قسم کي داخل نه دي. والله ﷻ اعلم.

په دواړو روايتونو كي تطبيق:

شارحينو په مختلفو طريق تطبيق ور كړي دي وربې ګورئ:

۱_ دابيه لفظ په بخاري شريف كي نه سته او هغه پرنورو كتابو مقدم دئ.

۲_ قسم مقصد نه وو دوابيه لفظ دعربو پر ژبو عادة جاري وو.

۳_ دا واقعه د اسلام په پيل كي وه بيا نسخ سوه.

۴_ دا سبقت لساني وو.

۵_ دا تر ده مبارك ﷺ پوري خاص وو.

٦_ په ځينو رواياتو كي تصحيف راغلي دئ.

۷_ دابيه لفظ غير محفوظ دئ په صحيح روايت كي لفظ دالله راغلى دئ.

۸_ دابيه څخه مخكي رب مقدر دي يعني ورب ابيه مراد دئ.

۹_ دا قسم د تعجب له پاره مستعمل سوى دئ.

(۱۰) يوازي تاكيد يې مقصد دئ د دې توجيهاتو له پاره لاندي كتابو وګورئ:

(عمدة القارى:۱/ ۳۹٦، دار الحديث ملتان – وشرح النووى على صحيح مسلم:۲/ ٤٦، فيصل – وإعلاء السنن:۱۱/ ۳۵۰، ادارة القرآن – وأوجز المسالک:۹/ ٦۷٦، دار القلم دمشق – وتكملة فتح الملهم :۲/ ۱۷۵، مكتبه دار العلوم كراچى – وتحفة الأخيار:٦/ ۹۳ – وإكمال المعلم:۵/ ٤۰۰، دار الوفاء – وفتح البارى:۱/ ۱۰۷، دار نشر كتب الإسلامية لاهور – وسبل السلام:٤/ ۱۹۷، دار الكتاب العربى – والتعليق المجد على مؤطا محمد: ص ۳۲۸، قديم – وفيض البخارى:۱/ ۱۳۹، القاهرة – وبذل المجهود:۳/ ۱٤۸، امداديه – وكشف البارى:۲/ ۵۱۲، مكتبة فاروقيه – وانوار البارى:۲/ ۱٤۷ – وفضل البارى:ص ۵۰۷- وتحفة الأحوذى:۵/ ۱۳۵، دار الفكر – وعارضة الأحوذى:۷/ ۲۱، دار الكتاب العربى).

په كومو رواياتو كي چي په غير الله سره قسم اخيستل سوى دئ د هغو تفصيل وګورئ:

۱_ مسلم شريف كي راځي:

Maktaba Tul Ishaat.com

جاء رجل إلى رسول الله ﷺ من أهل نجد ثائر الرأس..... فقال رسول الله ﷺ « أفلح وأبيه » إن صدق أو دخل الجنة وأبيه إن صدق ». (مسلم شريف:۱/ ۳۰، فيصل).

۲_ مسلم شريف کي راځي:

قال جاء رجل يا رسول الله من أحق الناس بحسن الصحبة، فقال: نعم وأبيک لتنبأن، قال: أمک ثم أمک ثم أمک ثم أباک ثم أدناک أدناک . (مسلم شريف:۲/ ۳۱۲، فيصل).

۳_ جاء رجل إلى النبى ﷺ فقال : يا رسول الله أى الصدقة أعظم أجرًا فقال « أما وأبيك لتنبأنه أن تصدق وأنت صحيح شحيح تخشى الفقر وتأمل البقاء ولا تمهل . (صحيح مسلم سريف:۱/ ۳۳۲،فيصل).

۴_ په سنن کبرى کي راځي:

عن أبى العشراء الدارمى عن أبيه أنه قال : يا رسول الله أما تكون الزكاة إلا فى الحلق واللبة؟ وأبيه لوطعنت في فخذها لأجزأ عنک . (السنن الكبرى للبيهقى:۹/ ۲٤٦، دار المعرفة).

د سنن دارمي په روايت کي د ((وأبيه)) لفظ نه سته. وګورئ سنن دارمي: (۲/ ۱۱۳/ ۱۹۷۲، باب فى ذبيحة لمتردى فى البئر).

وعلى هامشه قال: وفيه أبو العشراء، مجهول، وقال البخاري : في حديثه واسمه وسماعه من أبيه نظر . (حاشية سنن الدارمى:۳/ ۱۱۳/ ۱۰۷۲، باب فى ذبيحة المتردى فى البئر).

الغرض د ((أبو العشراء عن أبيه)) روايت ضعيف دئ وګورئ په فتح المنان کي راځي:

وقال الخطابي: وضعفوا هذا الحديث لأنه من رواية مجهول وأبو العشراء الدارمي لايدرى من أبوه. ولم يروعنه غير حماد بن سلمة. (فتح المنان شرح وتحقيق كتاب الدارمي:۸/ ۵۹، باب في ذبيحة المتردى في البئر).

۵_ په مسند احمد كي راځي:

أن رسول الله ﷺ أتي بطعام من خبز ولحم فقال : ناولني الذراع ...... فقال : وأبيك لو سكت ما زلت أناول منها ذراعاً ما دعوت به . وقال شعيب الأرنائووط في تحقيق هذا الحديث: قضة الذراع وإسنادها ضعيف .(مسند أحمد:۱٦/ ٤۱۲).

٦_ په حياة الصحابه كي راځي:

وأخرج ابن جرير عن ابن عباس رضي الله عنه قال : لما مرض أبو طالب دخل عليه رهط من قريش فيهم أبو جهل ...... وتكلم رسول الله ﷺ فقال: "يا عم إني أريدهم على كلمة واحدة يقولونها؛ تدين لهم بها العرب وتؤدي إليهم بها العجم الجزية" ففزعوا لكلمته ولقوله، فقال القوم: كلمة واحدة ، نعم وأبيك عشراً . الحديث . وهكذا رواه الإمام أحمد والنسائي وابن أبي حاتم وابن جرير كلهم في تفاسيرهم، ورواه الترمذي وقال: حسن، كذا في التفسير لابن كثير ؛ وأخرجه البيهقي أيضاً والحاكم بمعناه، وقال: حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه، وقال الذهبي: صحيح . (حياة الصحابة:۱/ ٤۰، باب الدعوة الى الله، المكتبة التجارية).

۷_ په سنن ابي داؤد كي راځي:

حدثنا عقبة بن وهب بن عقبة العامرى قال : سمعت أبى يحدث عن الفجيع العامرى أنه أتى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال : ماتحل لنا الميتة قال : ما طعامكم ؟ قلنا نغتبق

Maktaba Tul Ishaat.com

ونصطبح. قال أبو نعيم فسره لی عقبة قدح غدوةً وقدح عشيةً، قال « ذاك وأبی الجوع ». فأحل لهم الميتة على هذه الحال. (سنن أبی داؤد: ٢/ ١٧٨، سعيد).

قال المنذری : في إسناده عقبة بن وهب قال ابن معين : صالح، وقال ابن المديني : قلت لسفيان بن عيينة فقال: ما كان ذلک فندري ما هذا الأمر ولا ما كان من شأنه يعنی الحديث .

(عون المعبود: ١٠/ ٢٩٧).

غرض دا چي په ډېرو رواياتو کي د ((ابيک)) لفظ موجود دئ چي يو ځوي مورډ وليکل . والله ﷻ اعلم.

په قسم ورکول سره د قسم د انعقاد حکم

سوال: زيد ما ته راغی او ما د ډوډئ خوړلو ورته وويل زيد انکار وکړ ما ورته وويل ستا دي په الله قسم وي ويې خوره بيا يې هم ونه خوړه د دې صورت حکم په شريعت کي څه دئ؟ کفاره پر زيد ده او که پر ما او که پر يوه هم نه سته ؟

الجواب: که يو چا وويل چي ستا دي قسم وي دا کار به کوي او څه نيت يې نه وو يا يې په خپله د قسم اخيستلو نيت وه نو د مخاطب د کولو په صورت کي متکلم حانث ګرځي او که يې مقصد دا وو چي ته قسم واخله چي دغه کار به کوم يعني د قسم غوښتنه يې مقصد وه او مخاطب قسم وانه خيست او هغه کار يې وکړو نو دواړه نه حانثيږي نو څنګه چي په ذکر سوي صورت کي د قسم غوښتنه مقصد وه ځکه نو دواړه نه دي حانث او کفاره هم نه لازميږي .

په اعلاء السنن کي راځي:

فيه دليل على أن من أقسم غيره وقال والله لتفعلن كذا ولم ينو شيئاً أو نوى أنه يفعل ذلک ولا بد فهو حالف فإن لم يفعل المخاطب حنث وإن أراد به الاستحلاف فهو استحلاف ولا شيء على أحد منهما إذا لم يفعل كذا فی فتح القدير(٤/ ٤٢٢). قلت: ودليل عدم الحنث فی

الاستحلاف مامر في قصة أبي بكر في تعبير الرؤيا وقوله أقسمت عليک يا رسول الله بأبي أنت لتحدثني ما الذي أخطأت، فقال النبي ﷺ: « لا تقسم » وفي لفظ أبي داؤد: « ولم يخبره » أخرجه البخاري ومسلم والأربعة . (عون المعبود:٣/ ٢٤٤) فلم يأمره بالكفارة ولم يخبره بما أقسم عليه. (إعلاء السنن:١١/ ٤٢٧، مسألة الاستحلاف ادارة القرآن).

په فتاوی تاتار خانيه کي راځي:

وفی الخانية: رجل قال لآخر: عليک لتفعلن كذا ولانية له فهذا استحلاف فلا شيء على واحد منهما إلا أن ينوي فيكون يميناً وكذا لو قال: بالله فإذا لم يفعل ذلک حنث المبتدی ....

(الفتاوی التاتار خانية:٤/ ٤١٧).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل قال لآخر والله لتفعلن كذا وكذا ولم ينو استحلاف المخاطب ولا مباشرة اليمين على نفسه فلا شيء على واحد منهما إذا لم يفعل المخاطب ذلک وإن نوى القائل الحلف بذلک يكون حالفاً وكذا لو قال: بالله لتفعلن كذا وكذا ولو قال: والله لتفعلن كذا وكذا ولم ينو شيئاً فهو الحالف وإن أراد الاستحلاف فهو استحلاف ولا شيء على واحد منهما.....

(فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:٢/ ٨، فصل فی عقد اليمين علی فعل الغير – وكذا فی الفتاوی الهندية:٢/ ٦٠).

په درمختار کي راځي:

(فروع) قال لغيره : والله لتفعلن كذا فهو حالف، فإن لم يفعله المخاطب حنث ما لم ينو الاستحلاف . وفی الشامية : قوله فإن لم يفعله المخاطب حنث كذا أطلقه في الخانية و الفتح و النهر، وظاهره أنه يحنث سواء أمره بالفعل أو لا وهو كذلك، لأن أمره لا يتحقق الفعل من

Maktaba Tul Ishaat.com

المحلوف عليه وشرط بره هو الفعل وشرط حنثه عدمه (قوله مالم ينو الاستحلاف فإن نوى الاستحلاف فلا شيء على واحد منهما ..... (الدر المختار مع الفتاوى الشامي:۳/ ۸٤۸، سعيد).

والله ﷻ اعلم.

د بد فعل پر پرېښودلو د قسم حکم

سوال: يو ځوان ته چا د استمناء باليد بد عادت درلودئ يوه ورځ په کوم مصيبت کې گرفتار سو نو قسم يې واخيست که دا مصيبت ليري سو نو والله بيا به دا بد فعل نه کوم هغه مصيبت ليري سو مگر بيا يې هم ځو ځله هغه بد فعل وکړ همدا ډول يو چا قسم واخيست چې ائنده به هيڅکله تې وي نه گورم خو بيا يې ځو ځله وکاتې همدا ډول يوه هلک لمونځ نه کاوه چې کله ونيول سو قسم يې واخيست چې والله بيا په هيڅکله لمونځ نه پرېږدم مگر وروسته يې ډېر لمنځونه پرېښودل نو اوس پر دغو کسانو څه شی الازميږي او په شريعت کې يې څه حکم دئ ؟

الجواب: په دې صورت کې دوی ديو کار پر پرېښودلو قسم اخيستي دئ خو وروسته يې هغه کار کړي دئ لهذا په خپل قسم کې حانث سوه او په شريعت کې پر قسم ماتولو کفاره لازميږي لهذا پر دغو کسانو د قسم کفاره لازميږي او پر هر کس يوازي يوه کفاره لازميږي چې زيات وضاحت به يې د تداخل کفاره لاندي راسي د کفاري تفصيل په دې توگه دئ:

۱_ لسو مسکينانو ته سهار او مانبام دوه وخته په ماړه نس ډوډئ ورکول .

۲_ يا لسو مسکينانو ته جامې ورکول .

۳_ که دغو دواړو شيانو طاقت نه وي نو درې ورځي پرله پسي روژې نيول .

په البحر الرائق کې راځي:

(قوله وعلى آت منعقدة، وفيها كفارة فقط) أي حلفه على آت تسمى منعقدةً نفيًا كان أو إثباتًا وحكمها وجوب الكفارة إذا حنث لقوله تعالى : ﴿ ولكن يؤاخذكم بما عقدتم الأيمان فكفارته ﴾ الآية . والمراد منها اليمين في المستقبل بدليل قوله تعالى: ﴿ واحفظوا أيمانكم ﴾،

ولا يتصور الحفظ عن الحنث والهتك إلا في المستقبل ...... وكفارته تحرير رقبة ، أو إطعام عشرة مساكين كما في الظهار ، أو كسوتهم بما يستر عامة البدن ..... والأصل في ذلك قوله تعالى ﴿ فكفارته إطعام عشرة مساكين من أوسط ما تطعمون أهليكم أو كسوتهم ، أو تحرير رقبة ﴾ ..... ويجوز في الإطعام التمليك والإباحة ، فإن ملك أعطى نصف صاع من بر ، أو صاعًا من تمر أو صاعًا من شعير لكل مسكين، وإن أباح غداهم وعشاهم ..... وإن عجز عن أحدها صام ثلاثة أيام متتابعةً، أي إن لم يقدر على الإعتاق والإطعام والكسوة كفر بالصوم لقوله تعالى ﴿ فمن لم يجد فصيام ثلاثة أيام ﴾ وشرطنا التتابع عملًا بقراءة ابن مسعود رضي الله عنه متتابعات وقراءته كروايته، وهي مشهورة جاز الزيادة بها على القطعي المطلق . (البحر الرائق:٤/ ٢٨٩، ٢٨٠، ٢٩٠، كوئته).

همدا ډول وګورئ: (بدائع الصنائع:٥/ ٩٦-١١١ – وتبيين الحقائق:٣/ ١١٢ – والمبسوط:٨/ ١٢٨ – والفقه الإسلامي وأدلته:٣/ ٤٩٠ – وفتاوى الشامي:٣/ ٤٧٩ – وآپ كى مسائل اور ان كا حل:٤/ ٢٨٧).

والله تعالى اعلم.

په قرآن کريم سره د قسم اخيستلو حکم

سوال: په قرآن سره په قسم اخيستلو کي کفاره سته او که نه؟ او په قرآن سره قسم اخيستل روا دي او که نه ؟

الجواب: د احاديثو له کتابونو څخه معلوميږي چي په غير سره قسم اخيستل منع دي مګر متاخرينو فقهاوو د عرف له امله په قرآن کريم سره قسم اخيستل صحيح ګڼلي دي، لهذا په ذکر سوي صورت کي قسم منعقد سو او د قسم ماتولو له امله د قسم کفاره لازمه سوه همدا ډول قرآن کريم د الله تعالی کلام او صفت دئ .

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په درمختار کې راځي:

لا يقسم بغير الله تعالى كالنبي والقرآن والكعبة قال الكمال : ولا يخفى أن الحلف بالقرآن الآن متعارف فيكون يمينًا وأما الحلف بكلام الله فيدور مع العرف وقال العيني : وعندي أن المصحف يمين لا سيما في زماننا، وعند الثلاثة : المصحف ، والقرآن ، وكلام الله يمين . وفي الشامي: قوله وقال العيني : عبارته وعندي لو حلف بالمصحف أو وضع يده عليه وقال: وحق هذا فهو يمين ولا سيما في هذا الزمان الذي كثرت فيه الأيمان الفاجرة ورغبة العوام في الحلف بالمصحف . (الدر المختار مع فتاوى الشامى:۳/ ۷۱۲-۷۱۳، مطلب فى القرآن، سعيد –وكذا فى فتح القدير:٤/ ٣٥٦، دار الفكر).

په فتاوی عالمګیري کې راځي:

قال : محمد رحمه الله تعالى في الأصل : لو قال : والقرآن لا يكون يمينًا ذكره مطلقًا ..... وقد قيل هذا في زمانهم أما في زماننا فيكون يمينًا ، وبه نأخذ ، ونأمر . (الفتاوى الهندية:۲/ ۵۳ ، وكذا فى البحر الرائق:٤/ ٢٨٦، كوئته).

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي په امداد الاحکام کې لیکي:

که یې په قرآن شریف سره قسم واخیست او د هغه خلاف یې وکړ نو کفاره لازمه ده. (امداد الاحکام:۲/ ۳۳).

مولانا خالد سیف الله رحماني په قاموس الفقه کې لیکي:

تر کومه ځایه چې په قرآن کریم سره د قسم خوړلو خبره ده نو د حنفي فقهاوو اصلي رای خو همدغه ده چې په دغه سره قسم نه منعقد کیږي خو د ائمه ثلاثه وو په اند قسم منعقد کیږي ابن همام رحمه الله لیکلي دي چې صاحب د هدایې وغیره په قرآن سره د قسم پر نه صحت له دې ځخه

استدلال کړی دئ چي دغه ډول قسم متعارف نه دئ خو زموږ په زمانه کي په قرآن سره قسم اخيستل معروف او مروج دي ځکه نو په قرآن سره قسم منعقد کيږي. (قاموس الفقه: ۵/ ۳۵۶).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۴/ ۳۸، او فتاوی دار العلوم ديوبند: ۸/ ۳۸). والله تعالیٰ اعلم.

د يمين فور حکم

سوال: زيد عمر د چای څښلو له پاره وبلی په دغه وخت کي عمر وزيد ته سخت په قهر وو عمر ووېل چي والله زه به يې نه څښم بيا دوهمه ورځ خوشحاله سو او د زيد په کور کي يې ډوډئ وخوړل ايا پر عمر کفاره سته او که نه؟

الجواب: دغه مسئله د فقهاوو په اند په يمين فور سره مسمی سوي ده او د هغه حکم دا دي چي کوم وخت يې قسم واخيست بس په همدغه وخت کي هغه کار د ده له پاره حرام دئ بيا د يو څه وخت وروسته د هغه کار په کولو کي څه باک نه سته اوس په دې صورت کي دوهمه ورځ کار سوی دئ نو کفاره ورباندي واجب نه ده.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الموقت دلالةً فهو المسمى يمين الفور .... وهو أن يكون اليمين مطلقًا عن الوقت نصا ، ودلالة الحال تدل على تقييد الشرط بالفور بأن خرج جوابًا لكلام أو بناءً على أمر نحو أن يقول لآخر : تعال تغد معي ، فقال : والله لا أتغدى ، فلم يتغد معه ثم رجع إلى منزله فتغدى لا يحنث ..... (بدائع الصنائع: ۳/ ۱۳، سعيد).

په الفقه الاسلامي وادلته کي راځي:

يمين الفور .... وهو ما تكون اليمين مؤقتة دلالة أو معنى، ومؤيدة لفظاً وحكمها : أنه لايحنث في يمينه استحساناً. (الفقه الاسلامی وادلته: ۳/ ۳۷۳، دار الفكر).

همدا ډول وګورئ: (الدر المختار مع الفتاوی الشامی: ۳/ ۷۶۲، سعيد ــ وقاموس الفقه: ۵/ ۳۵۸). والله تعالیٰ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

په تحريم الحلال سره د قسم حکم

سوال: د خالد او عبد الله تر منځ خبري په سختي بدلي سوي نو عبد الله ورته وويل چي پر ما ستا د کور ډوډئ حرامه ده اوس په دغه سره قسم منعقد کيږي او که نه؟ او کفاره واجب ده او که نه؟

الجواب: په تحريم حلال سره قسم منعقد کيږي نو که عبد الله د خالد په کور کي خوراک وکړ کفاره لازميږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ومن حرم على نفسه شيئًا كقوله مال فلان علي حرام فيمين ما لم يرد الإخبار ثم فعله بأكل أو نفقة، كفر ليمينه لما تقرر أن تحريم الحلال يمين. وفى الشامى: ودليل كون التحريم يميناً مبسوط فى الفتح وغيره. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:۳/ ۷۳۰، مطلب فى تحريم الحلال، سعيد- وكذا فى قاموس الفقه:۵/ ۳۶۱). والله ﷻ اعلم.

په کافر يا يهودي کېدو سره د قسم حکم

سوال: يو چا وويل که ما دا کار وکړ نو زه به کافر يا يهودي يم پيا يې هغه کار وکړ نو دا قسم لازم سو او که نه؟ او پر ده کفاره واجب ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي قسم منعقد سو او پر قسم ماتولو کفاره لازميږي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

وإن قال فعلت كذا فهو يهودي أو نصراني أو كافر يكون يميناً لأنه لما جعل الشرط علماً على الكفر فقد اعتقده واجب الامتناع وقد أمكن القول بوجوبه لغيره بجعله يميناً.

(الهداية:۲/ ۴۸۱).

په فتح القدير کي راځي:

فإذا فعله لزمه كفارة يمين قياساً على تحريم المباح فإنه يمين بالنص وذلك أنه صلى الله عليه وسلم حرم مارية على نفسه فأنزل الله تعالى ﴿ يا أيها النبي لم تحرم ما أحل الله لك ﴾ ثم

قال ﴿ قد فرض الله لكم تحلة أيمانكم ﴾ ووجه الإلحاق أنه لما جعل الشرط وهو فعل كذا علماً على كفره ومعتقدة حرمة كفره فقد اعتقده أي الشرط واجب الأمتناع فكأنه قال: حرمة كفره قال حرمت على نفسي فعل كذا كدخول الدار . (فتح القدير:٥/ ٧٧، دار الفكر).

په قاموس الفقه کي راځي:

که يو څوک په دې ډول قسم واخلي چي که ما فلاني کار ونه کړ نو زه به يهودي يم دا قسم بلل کيږي ؟ د احنافو او حنابله وو په اند په دغه سره قسم منعقد کيږي که ده قسم پوره نه کړ نو د قسم کفاره واجبيږي د مالکيه وو او شوافعو په اند په دې سره قسم نه منعقد کيږي . (قاموس الفقه:٥/ ٣٥٧). والله تعالی اعلم.

د تکيه کلام په توګه د والله بالله تالله ويلو حکم

سوال: د يو چا عادت دا دئ چي کله ده ته د ډوډئ خوړلو يا چاى چښلو وويل سي دى په بې فکري سره وايي والله زه يې نه چښم والله زه يې نه خورم بيا راځي او هغه شی خوري خپل قسم ته يې فکر نه وي په دې صورت کي پر ده کفاره سته او که نه؟ د حضرت اشرف علی تهانوي رحمة الله عليه له کلام څخه معلوميږي چي دا يمين لغو دي په هغه کي کفاره نه سته دی د سورة بقره تر دغه آيت چي ﴿ لا يؤاخذكم الله باللغو في أيمانكم ﴾ .(سورة القبره، الاية، ٢٢٥).

لاندي ليکي د لغو قسم دوې معناګاني دي يوه دا چي پر تېره سوي خبره په دروا غو بېله ارادې قسم واخلي يا په اراده سره وي خو په خپل ګمان يې درسته ګڼي يا دائنده پر يوه کار داسي قسم واخلي چي بل څه وايي خو د خولي څخه يې قسم ووزي په دې کي ګناه نه سته او په لغو بالمعنى المذکور کي کفاره په درجه اولی نه سته .

د بيان القرآن په حاشيه کي ذکر سوي دي .

اختلف الشافعي رحمة الله عليه في معنى اللغو ودليله ما روي عن عائشة رضي الله عنها مرفوعاً أنه قول الرجل كلا والله وبلى والله .... ومعنى الحديث المرفوع (عند الحنفيه) حمله على الخاطر

Maktaba Tul Ishaat.com

الذي سبق على السانه من غير قصد كما في فتح القدير.... الخ. (بيان القرآن:١/ ١٣٠، تاج پبلشرز دهلی).

الجواب: په پورتنی صورت کي چي قسم دائنده په هکله بېله قصده او ارادې له خولي څخه ووزي دا يمين منعقده دئ لهذا د قسم ماتولو په صورت کي به کفاره لازمه وي .

وګوري په الاختيار کي راځي:

منعقدة : وهي الحلف على أمر فى المستقبل لفعله أو ليتركه فإذا حنث فيها فعليه الكفارة.

(الاخيتار لتعليل المختار:٤/ ٥٠ – وكذا فى الهندية:٢/ ٤٧٨).

حضرت شيخ په اوجز المسالک کي ليکي:

وأما المفسرون : « للغو » فذكروا وجوهاً :ـ الأول :ـ قول الشافعي رحمه الله إنه قول العرب لاوالله، بلى والله مما يو كدون به كلامهم ولايخطر ببالهم الحلف .... الخ.

والثاني:ـ قول أبي حنيفة رحمه الله إن اللغو أن يحلف على شيء يعتقد أنه كذلک ثم بان أنه لم يكن كذا، فهذا هو اللغو، وفائدة الخلاف أن الشافعي رحمه الله لايوجب الكفارة فى الأول ويوجبها فى الثاني، وأبو حنيفة رحمه الله يحكم بضد ذلک. (اوجز المسالک:٩/ ٥٩٤، دار القلم).

او له حنفي فقهاوو څخه چي کومو حضراتو بېله ارادې قسم اخيستل په لغو کي شمېرلي دئ د هغوی د قول مدار د امام محمد رحمه الله روايت دئ چي په کتاب الاثار کي ذکر سوی دي وربې ګورئ:

أخبرنا أبو حنيفة عن حماد عن إبراهيم عن عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها فى اللغو، قالت: هو كل شيء يصل به الرجل كلامه لايريد يميناً، لا والله وبلى والله، ولايعقد عليه قلبه، قال محمد رحمه الله: وبه نأخذ، ومن اللغو أيضاً الرجل يحلف على الشيء يرى أنه على

ماحلف عليه فيكون على غير ذلك فهذا أيضاً من اللغو وهو قول أبي حنيفة . (اعلاء السنن :۱۱/ ۳۳۰، ادارة القرآن).

خو د اکثره حنفي فقهاوو قول د امام ابو حنفيه د قول مطابق دئ او د امام ابو حنيفه رحمه الله قول مخکي دا وجز په حواله ذکر سو .

همدا ډول په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما يمين اللغو فقد اختلف في تفسيرها ، قال أصحابنا : هي اليمين الكاذبة خطأً أو غلطًا في الماضي أو في الحال وهي أن يخبر عن الماضي أو عن الحال على الظن أن المخبر به كما أخبر وهو بخلافه في النفي أو في الإثبات ، نحو قوله : والله ما كلمت زيدًا وفي ظنه أنه لم يكلمه .... وهكذا روى ابن رستم عن محمد أنه قال : اللغو أن يحلف الرجل على الشيء وهو يرى أنه حق وليس بحق . وقال الشافعي رحمه الله : هي اليمين التي لا يقصدها الحالف وهو ما يجري على ألسن الناس في كلامهم من غير قصد اليمين من قولهم : لا والله ، وبلى والله، سواء كان في الماضي أو الحال أو المستقبل وأما عندنا فلا لغو في المستقبل بل اليمين على أمر في المستقبل يمين معقودة وفيها الكفارة إذا حنث ، قصد اليمين أو لم يقصد وإنما اللغو في الماضي والحال فقط ، وما ذكر محمد رحمه الله على إثر حكايته عن أبي حنيفة رحمه الله أن اللغو ما يجري بين الناس من قولهم : لا والله وبلى والله فذلك محمول عندنا على الماضي أو الحال وعندنا ذلك لغو فيرجع حاصل الخلاف بيننا وبين الشافعي رحمه الله في يمين لا يقصدها الحالف في المستقبل عندنا ليس بلغو وفيها الكفارة وعنده هي لغو ولا كفارة فيها . (بدائع الصنائع:۳/ ۳-٤، كتاب الايمان، سعيد).

د امام محمد رحمه الله د قول په هکله د فقهاوو عبارتونه وګورئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

یہ اعلاء السنن کی رائے:

ولکن قال فی البدائع: وما ذکر محمد رحمۃ اللہ علیہ علی أثر حکایته عن أبي حنیفة رحمۃ اللہ علیہ أن اللغو ما یجرط بین الناس من قولهم ((لا واللہ وبلی واللہ)) فذلک محمول عندنا علی الماضي أو الحال وعندنا ذلک لغو فیرجع حاصل الخلاف بیننا وبین الشافعي رحمۃ اللہ علیہ في یمین لایقصدها الحالف فی المستقبل، فعندنا لیست بلغو وفیها الکفارة، وعنده هي لغو ولا کفارة فیها، کذا في رد المحتار (٣/ ٧٢) ویحتمل أن یکون محمد رحمۃ اللہ علیہ قد وافق الشافعي، فعد من اللغوما یجري علی اللسان بلا قصد مطلقاً سواء کان لماض أو لآت، وقوله: وبه نأخذ راجع إلی نفسه وحده، وقوله وهو قول أبي حنیفة رحمۃ اللہ علیہ راجع إلی التفسیر الثاني للغو، لا إلی الأول، بدلیل أن تفسیر اللغو بذلک هو المذکور فی المتون والهدایة وشروحها، وهو التفسیر المتفق علیه للغو الذي لاکفارة فیه لم یختلف فیه اثنان کما تقدم، وبه فسر محمد رحمۃ اللہ علیہ حدیث عائشه رضی اللہ عنہا هذا في موطاه، فقال: وبهذا نأخذ اللغو ما حلف علیه الرجل وهو یری أنه حق فاستبان له بعد أنه علی غیر ذلک، فهذا من اللغو عندنا، فهو المذهب والحدیث المرفوع وقول عائشة رضی اللہ عنہا لایخالفانه، بل یمکن ارجاعهما إلیه کما ذکرناه. (اعلاء اسنن: ١١/ ٣٣١، باب تفسی لغو الیمین، ادارة القرآن).

یہ منحة الخالق علی البحر الرائق کی رائے:

(وعندنا ذلك لغو) إنما نسبه لأنه قول الإمام محمد ولیس مراده أنه قول أئمتنا لما علمت من أن قول أبي حنیفة في اللغو هو ما عزاه إلی أصحابنا والحاصل أن قول أبي حنیفة الذي قاله أصحابنا إن الیمین اللغو هي ما یکون علی الماضي ، أو الحال علی ظن أن المخبر

به كما قال وهو بخلافه وأن قول محمد هي ما يجري بين الناس من قولهم : لا والله وبلى والله كما قال الشافعي إلا أن الشافعي يقول : إنها تكون على الاستقبال أيضًا ومحمد لا يقول بذلك في الاستقبال فصار حاصل الخلاف بيننا وبين الشافعي بناء على قول محمد فى يمين لايقصدها الحالف فى المستقبل فعند الشافعى هي لغو وعندنا أى عند محمد هي منعقدة ولها الكفارة هذا ماظهر لي في تقرير كلام البدائع على وجه يندفع عنه التناقض . (منحة الخالق على البحر الرائق: ٤/ ٢٧٩، كتاب الايمان كوئته). والله ﷻ اعلم.

که یو څوک ووايي چي والله زه به د فلاني عالم تقرير نه اورم؟

سوال: زيد قسم واخيست چي زه به د فلاني مولوي صاحب تقرير نه اورم څه وخت وروسته يې فيتې څخه واوريدئ ايا دي حانث دئ؟

الجواب: څنګه چي په عرف کي د تقرير اوريدلو اطلاق پر بالواسطه او بلا واسطه دواړو کيږي لهذا که يې د ټيپ څخه واوري او که يې مشافهة واوري په دواړو حالاتو کي دي حانثيږي او د قسم کفاره ورباندي لازميږي.

وګورئ په الاشباه والنظائر کي راځي:

صرح الزيلعي ، وغيره بأن الأيمان مبنية على العرف، لا على الحقائق اللغوية، وعليها فروع : منها : لو حلف لا يأكل الخبز حنث بما يعتاده أهل بلده . (الاشباه والنظائر: ١/ ٢٧٦).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوى الهندية: ٢/ ٨٣ – وتبيين الحقائق: ٣/ ١١٦).

همدا ډول چي کله زيد قسم واخيستي نو د ده د قسم مقصد دا وو چي دی د هغه تقرير له نقصانه ځان وساتي که يې په ټيپ واوريدئ نو د ده مقصد پاته سو نو دی په قسم کي حانث سو او د يمين کفاره ورباندي لازمه ده. والله ﷻ اعلم .

Maktaba Tul Ishaat.com

كه ستاسو كور ته راغلم خنزير به يم د دې ويلو حكم

سوال: زيد د خپل خسر او خواښې سره اختلاف راغى نو يې ورته وويله كه ستاسو كور ته درغلم نو خنزير به يم اوس كه د هغوى كره ورغلي نو د قسم كفاره ستـه او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كې قسم نه دئ منعقد سوي لهذا كه د خسر كره ورغې نو څه نه لازميږي.

وګورئ په فتح القدير كې راځي:

وكذا إن قال : إن فعلت كذا فهو زان أو فاسق أو سارق أو شارب خمر أو آكل ربا ، لا يكون يميناً أما أولاً فلأن معنى اليمين أن يعلق ما يوجب امتناعه عن الفعل بسبب لزوم وجوده عند الفعل، وليس بمجرد وجود الفعل يصير زانياً أو سارقاً . (فتح القدير:۵/ ۷۸، دارالفكر).

په درمختار كې راځي:

وإن فعله فعليه غضب ...... أو هو زان أو سارق أو شارب خمر أو آكل ربا لايكون قسماً لعدم التعارف . (الدر المختار:۳/ ۷۲۷، سعيد).

په بهشتي زېور كې راځي:

كه ما فلاني كار وكړ نو په فلاني مريضي دي مبتلا سم په دغو خبرو سره قسم نه منعقد كيږي د هغه په خلاف كولو سره كفار نه لازميږي . (بهشتي زيور: ۲۶۷). والله تعالى اعلم.

په كور كې د پښې نه ايښودلو د قسم حكم

سوال: د جنګ په حالت كې زيد وفاروق ته وويل والله زه به ستا په كور كې پښه نه ايږدم او اشاره يې نه ده ورته كړې نو كه د هغه وبل كور ته چې دى نه پكښې اوسېدئ ورغلي نو څه حكم يې دئ او همدا ډول كه يې دغه كورو نړاوه نوي يې جوړ كړ نو هغه ته د داخليدو حكم څه دئ؟

الجواب: په ذكر سوي صورت كې چې اشاره يې نه ده كړې نو د ده وبل كور تـه كـه داخـل سو هم حانث دئ كـه څـه هم فـاروق نـه پكښې اوسيږي او همـدا ډول د نوي تعمير پـه صورت كـې هم حانثيږي.

وګورئ په فتح القدير كي راځي:

أن الإشارة كما تفيد التعريف يحصل بها التخصيص أيضاً، وهذا لا يحصل بالإضافة وحدها، فإنه لو قال عبد فلان انعقدت على كل عبد له . (فتح القدير: ٥/ ١٥٣، باب اليمين فى الكلام، دار الفكر).

په عالمګيري كي راځي:

ولو حلف لايدخل دار فلان ولم ينو شيئاً .... وإن دخل داراً مملوكة لفلان وفلان لايسكنها حنث أيضاً . (الفتاوى الهندية: ٢/ ٧٠، الباب الثالث فى اليمين على الدخول).

په البحر الرائق كي راځي:

قوله لايأكل طعام زيد أولايدخل داره .... وإن لم يشر لايحنث بعد الزوال (أى الملک) وحنث بالمتجدد .... والحاصل أنه إذا أضاف ولم يشر لايحنث بعد الزوال .... ويحنث فى المتجدد بعد اليمين .(البحرالرائق: ٤/ ٣٣٧). والله ﷻ اعلم.

ويو شى ته اشاره كول او قسم اخيستل

سوال: بكر د زيد سره د جنګ په حالت كي قسم واخيست چي ستا په دغه كور كي به پښه نه ايږدم زيد هغه كور ونړاوه يا يې بالفرض نوي جوړ كړ نو اوس د زيد ودې كور ته په ورتلو سره حانث ګرځي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي كه يې كور ونړاوه يا يې خرڅ كړ او يا يې نوي جوړ كړ نو بكر به حانث نه وي .

وګورئ په درمختار كي راځي:

وإن جعلت (الدار) بعد الانهدام بستانًا أو مسجدًا أو حمامًا أو بيتًا أو غلب عليها الماء فصارت نهرًا لا يحنث وإن بنيت بعد ذلك . كهذا البيت وكذا بيتاً بالأولى فهدم أو بني بيتًا

Maktaba Tul Ishaat.com

آخر ولو بنقص الأول لزوال اسم البيت . وفي الشامية : قوله وإن بنيت بعد ذلک لأنه عاد اسم الدار بسبب جديد فنزل منزلة اسم آخر . (الدر المختار مع فتاوى الشامي:۳/ ۷٤٦، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

قال في البحر : فصار الحاصل : أن البيت لا فرق فيه بين أن يكون منكرًا أو معرفًا فإذا دخله وهو صحراء لا يحنث لزوال الاسم بزوال البناء .... قوله لزوال اسم البيت أي بالانهدام لزوال مسماه وهو البناء الذي يبات فيه . (فتاوى الشامي:۳/ ۷٤٦، سعيد).

په بحر الرائق کي راځي:

لو حلف لا يدخل هذا البيت فدخله بعد ما انهدم فإنه لا يحنث لزوال اسم البيت فإنه لا يبات فيه . (البحر الرائق:٤/ ۳۰۰ – وكذا في فتح القدير:٥/ ۱۰۰، باب اليمين في الدخول، دار الفكر).

والله ﷻ اعلم.

په کعبه سره د قسم اخیستلو حکم

سوال: په کعبه سره په قسم اخیستلو کي قسم ستړه او که نه؟ او دغه قسم اخیستل درست دي او که نه؟

الجواب: په شریعت مطهره کي په غیر الله سره قسم خوړل منع دي او په کعبه سره قسم اخیستل په غیر الله سره د قسم اخیستلو په معنا دي لهذا قسم نه منعقد کیږي او له دغه قسم څخه ځان ساتل ضروري دي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ومن حلف بغير الله لم يكن حالفاً كالنبي ﷺ والكعبة لقوله عليه السلام من كان منكم حالفاً فليحلف بالله أو ليذر .... الخ. (الهداية:۲/ ٤٧٩).

په اوجز المسالک کې راځي:

وقال الطبری في حديث الباب أن اليمين لاتنعقد إلا بالله، وان من حلف بالكعبة أو آدم أو جبرئيل أو نحو ذلک لم تنعقد يمينه ولزمه الاستغفار لإقدامه على ما نهى عنه ولا كفارة في ذلک. (اوجز المسالک:۹/ ۶۷۹).

همدا ډول وګورئ: (الفقه اسلامی وادلته:۳/ ۳۸۷ – وفتح الباری:۱۱/ ۵۳٤ – والفتاوی الهنديظ:۲/ ۵۳ – وقاموس الفقه:۵/ ۳۵۶). والله ﷻ اعلم.

په لا اله الا الله سره د قسم اخيستلو حکم

سوال: يو چا په لا اله الا الله سره قسم واخيست نو دا قسم دئ او که نه؟

الجواب: که په دغه علاقه کې په دې کلمه سره قسم اخيستل مشهور وي نو قسم منعقد سو او که مشهور نه وي نو که ويونکي د قسم نيت کړي وي نو قسم دئ که نه وي کړي نه دئ.

وګورئ په درمختار کې راځي:

فإن الأيمان مبنية على العرف، فما تعورف الحلف به فيمين وما لا فلا . (الدر المختار:۳/ ۷۱۲، سعيد).

وفى الشامية : لأن المتكلم إنما يتكلم بالكلام العرفي أعني الألفاظ التي يراد بها معانيها التي وضعت في العرف كما أن العربي حال كونه من أهل اللغة إنما يتكلم بالحقائق اللغوية ، فوجب صرف ألفاظ المتكلم إلى ما عهد أنه المراد بها، فتح .(فتاوى الشامى:۳/ ۷٤۳، مطلب الايمان مبنية على العرف، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

الأيمان مبنية على العرف والعادة فما تعارف الناس به يكون يميناً ومالم يتعارف الحلف به لايكون يميناً .... الخ . (كتاب المبسوط:۸/ ۱۳۳ - وكذا في درر الحكام:۲/ ٤٠ - والاختيار لتعليل المختار:٥٤ - والبحر الرائق:٤/ ۲۹۷).

په احسن الفتاوی کي راځي:

حاش لله په معنا د سبحان الله دي که په دغه سره د قسم اخيستلو عرف وي نو بېله نيته هم قسم کيږي که قسم مشهور نه وي نو که يې د قسم په نيت سره ووېل قسم به وي که نه، نه به وي د الله تعالى د هر صفت همدغه حکم دئ . (احسن الفتاوى:٥/ ٤٨٨). والله تعالى اعلم.

پر کعبه د غلاف اچولو د قسم حکم

سوال: يو چا قسم واخيست چي والله زه به پر کعبه غلاف اچوم نو دغه قسم صحيح دئ او که نه؟

الجواب: دا قسم درست دئ ځکه دا کار ممکن دئ چي د غلاف اچونکو سره مرسته وکړي لهذا که يې د ژوندانه تر اخيره ونه کړي نو حانث به سي او د کفارې وصيت پر لازم دئ.

په درمختار کي راځي:

حلف ليأتينه فهو أن يأتي منزله أو حانو ته لقيه أم لا، فلو لم يأته حتى مات أحدهما حنث في آخر حياته، وكذا كل يمين مطلقة . وفی الشامية : وكذا كل يمين مطلقة أي لا خصوصية للإتيان ، بل كل فعل حلف أن يفعله في المستقبل ولم يقيده بوقت لم يحنث حتى يقع اليأس عن البر مثل ليضربن زيداً أو ليعطين فلانة أو ليطلقن زوجته وتحقق اليأس عن البر يكون بفوت أحدهما . (فتاوى الشامى:۳/ ۷۵۷، سعيد).

وفي تبيين الحقائق: أي لو حلف ليأتين زيدًا أو البصرة أو نحو ذلك فلم يأته حتى مات ، حنث في آخر جزء من أجزاء حياته ، لأن شرط الحنث فوت الإتيان وهو لا يتحقق إلا بما

ذکرنا لأن البر مرجو ما دام حیا . (تبیین الحقائق:۳/ ۱۲۲، امدادیه ملتان – وکذا فی البحر الرائق:۵/ ۳۱۲ – والفتاوی الهندیة:۲/ ۱۱۰). والله ﷻ اعلم.

د اليمين على نية المستحلف مطلب

سوال: د فقهاوو په اند قاعده ده چي اليمين على نية المستحلف په يمين کي د قسم ورکونکي نيت معتبر دئ د دې قاعدې مثال څه دئ؟ او مطلب يې څه دئ؟ او په دغه کي د ظالم او مظلوم فرق سته او که نه؟

الجواب: د دې قاعدې مطلب دا دئ چي که قسم اخيستونکي ظالم وي يعني دی د الله تعالی د نامه په ذريعه په ظلم سره د مدعې حق خوړل غواړي او د الله تعالی د نامه بې حرمتي کول غواړي نو قسم اخيستونکي چي هر نيت وکړي د هغه طرفته نه کتل کيږي بلکي د مستحلف يعني قسم ورکونکي نيت به معتبر وي .

مثال يې صاحب د محيط برهاني په دغو الفاظو بيان کړي دئ:

إذا ادعى عيناً في يدي رجل أني اشتريت منك هذا العين بكذا وأنكر الذي في يده الشراء، فأراد المدعي أن يحلف المدعى عليه بالله ما وجب عليك تسليم هذا العين إلى هذا المدعي فيحلف المدعى عليه على هذا الوجه ويعني التسليم إلى هذا المدعي بالهبة والصدقة لا بالبيع، وهذا إن كان صادقاً فيما حلف فلم يكن بما حلف يمين غموس حقيقة؛ لأنه نوى ما يحتمله لفظه فهو يمين غموس معنى؛ لأنه قطع بهذا اليمين حق امرىء مسلم فلا تعتبر نيته.

(المحيط البرهانی:۴/ ۴۲۸، نوع فی تحليف الغير، المكتبة الرشيدية).

د ذکر سوي قاعدې تفصيل:

د فقهاوو له عبارتونو څخه معلوميږي چي دغه قاعده چي اليمين على نية المستحلف مطلق نه دئ بلکي يو څه تفصيل دي ويې وګورئ:

۱۔ د دې قاعدې تعلق په ماضي کي پريو شی له قسم اخيستلو سره دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

قال في تهذيب القلانسي : اليمين على نية الحالف إن كان مظلومًا ، وعلى نية المستحلف، وهذا على أمر فى الماضي . (شرح الاشباه والنظائر:١/ ٩٧).

۲_ چي كله حالف د مستحلف د مراد پر خلاف نيت وکړي:

قال فى الظهيرية : رجل حلف رجلاً فحلف، ونوى غيرما أراد المستحلف، إن كان اليمين بالطلاق .... وإن كان اليمين بالله عزوجل، فإن كان الحالف مظلوماً تعتبر نيته . (شرح الاشباه والنظائر:١/ ٩٧).

۳_ قسم به يې د الله ﷻ له مبارک نامه سره متعلق وي د طلاق، عتاق وغيره سره به متعلق نه وي:

قال الشيخ الإمام الزاهد شيخ الإسام المعروف بخواهر زاده: وهذا الذي ذكرنا فى اليمين بالله، فأما إذا الستحلف بالطلاق والعتاق.... الخ .(المحيط البرهانى:٤/ ٤٢٨، المكتبة الرشيدية).

علامه ابن عابدين رحمه الله فرمايي:

وإن كانت اليمين بالله تعالى فإن كان الحالف مظلوماً كانت النية فيه إلى الحالف . (منحة الخالق على البحر الرائق:٤/ ٤٢٨، كوئته).

علامه حموي رحمه الله فرمايي:

فظهر بما نقلناه أن إطلاق المصنف مقيد بما ذكرنا إذا كان الحلف بالله تعالى. (حاشية الحموى على الاشباه:١/ ٩٧).

۴_ حالف ظالم وي او مستحلف مظلوم وي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما بيان أن اليمين بالله عز وجل على نية الحالف أو المستحلف فقد روي عن أبي يوسف رحمه الله عن أبي حنيفة رحمه الله عن حماد رحمه الله عن إبراهيم رحمه الله أنه قال اليمين على نية

الحالف إذا كان مظلومًا ، وإن كان ظالمًا فعلى نية المستحلف وذكر الكرخي رحمه الله أن هذا قول أصحابنا جميعًا . (بدائع الصنائع:۳/ ۲۰، سعید). والله تعالی اعلم.

په قسم کي د زماني د تعیین حکم

سوال: که یو چا قسم واخیستي چي والله سبا به ورڅه نیسم او سبا یې ونه نیولي نو که یې بله ورځ ونیول قسم یې پوره کیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي په بله ورځ نیولو سره قسم نه پوره کیږي ځکه د سبا ورځي قسم اخیستي وو او د هغې ورځي په تېرېدو سره دی حانث سو ځکه د قسم مدار پر عرف دئ او په عرف کي د سبا د لفظ څخه مستقبل نه اخیستل کیږي.

په فتح القدیر کي راځي:

قوله وإن حلف ليأتين البصرة ..... فإما أن يطلقها أو يؤقتها بوقت مثل لأفعلن غدًا أو فيما بيني وبين يوم الجمعة .... وفي المقيدة تتعلق بأخر الوقت، فلومات قبل مضي الوقت ولم يفعل لم يحنث . (فتح القدير:۳/ ۱۱۰).

په تبیین الحقائق په حاشیه کي راځي:

قال الأتقاني رحمه الله : وأما التوقيت في الإثبات كقوله والله لآكلن هذا الرغيف اليوم فإنه لا يحنث ما دام الحالف والمحلوف عليه قائمين واليوم باق أما إذا مضى اليوم يحنث وإن كانا قائمين لفوات البر لفوات الوقت المعين ..... (حاشية الشلبي على تبيين الحقائق:۲/ ۱۶۰).

په قاموس الفقه کي راځي:

که یې قسم په وخت او زمانه سره مقید کړي وو لکه چي ووایي چي زه به نن ورځ دا ډوډۍ خورم نو چي تر څو پوري حالف او محلوف علیه موجود وي او هغه تاکلي وخت پاته وي حانث به نه وي

Maktaba Tul Ishaat.com

او که چیري وخت تېر سي او دوی دواړه پاته وي نو بالاتفاق حانث گرځي . (قاموس الفقه: ۵/ ۳۵۸).

والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالی: ﴿ وليوفوا نذورهم ﴾. (سورة الحج، الآية:۲۹).

قال الله تعالی: ﴿ يوفون بالنذر ﴾. (سورة الدهر، الآية: ٦).

دوهم .... باب

د نذر اړوند احکام

قال رسول الله ﷺ من نر أن يطيع الله فليطعه ومن نذر أن يعصيه فلا يعصه . (مؤطا إمام محمد).

د نذر د منعقد کېدو له پاره تلفظ ضروري دئ؟

سوال: ايا د نذر د منعقد کېدو له پاره په ژبه تلفظ ضروري دئ او که يوازي په زړه کي اراده کول کافي ده؟

الجواب: په ژبه نيت ضروري دئ يوازي د زړه په اراده نذر نه منعقد کيږي .

علامه شرنبلالي ليکي:

أقول والنذر لا يكون إلا باللسان ، ولو نذر بقلبه لا يلزمه بخلاف النية ؛ لأن النذر عمل اللسان والنية المشروعة انبعاث القلب على شأن أن يكون لله تعالى كذا في البزازية . (حاشية درر الحكام في شرح غرر الاحكام:۱/ ۲۱۲، باب الاعتكاف – وكذا في البزازية على هامش الهندية:٤/ ۱۰۵، السادس في العتكاف).

په فتاوی شامي کي راځي:

قال في شرح الملتقى والنذر عمل اللسان ..... ولو نذر صوم الأيام المنهية أو صوم هذه السنة صح مطلقاً وسواء قصد ما تلفظ به أو لا ولهذا قال في الولوالجية رجل أراد أن يقول لله علي صوم فجرى على لسانه صوم شهر كان عليه صوم شهر بحر. وكذا لو أراد أن يقول كلاماً فجرى على لسانه النذر لزمه لأن هزل النذر كالجد كالطلاق فتح . (فتاوى الشامي:٢/ ٤٣٣، فصل في العوارض المبيحة لعدم الصوم- وكذا:٣/ ٧٣٥، مطلب فى احكام النذر).

په آپ کي مسائل کي راځي:

يوازي ديوې خبري په خيال کي راتلو سره نذر نه کيږي په ژبه اداء کول يې ضروري دي . (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٣/ ٤١٩، وکذا فی فتاوی حقانیه:٥/ ٤٥). والله ﷻ اعلم.

د يو معلوم شي په نذر کولو کي د هغه پر خلاف کولو حکم

سوال: که يو چا د مرږه نذر وماني بيا د هغه پر ځای ميړ حلالولای سي او که نه؟ همدا ډول د غوا پر ځای ګاميښه يا د پنج شنبې په نذر منلو کي د جمعې په ورځ يې پوره کولای سي او که نه؟

الجواب: د مرږه پر ځای ميړ او د غوا پر ځای ګاميښه ذبح کولای سي خو که يې په قيمت کي زيات تفاوت وي د هغه خيال دي وساتي او د پنج شنبې په نذر کي د جمعې په ورځ هم ذبح کولای سي.

په درمختار کي راځي:

نذر أن يتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغيره جاز إن ساوى العشرة كتصدقه بثمنه .

وفى الشامي : إنما لم يختص في النذر بزمان ونحوه خلافا لزفر لأن لزوم ما إلتزمه باعتبار ما هو قربة لا باعتبارات أخر لا دخل لها في صيرورته قربة ..... نذر التصدق بهذه المائة يوم كذا على زيد فتصدق بمائة أخرى قبله جاز .... (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٧٤١، احكام النذر، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

ولو قال لله علی أن أتصدق بدرهم یوم الخمیس، فتصدق یوم الأربعاء جاز . (الفتاوی التاتار خانیة:۲/ ۱۰٤).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که یې په نذر کي دیوې زماني یا مکان یا فقیر تعیین وکړ نو هغه تعیین پر ناذر نه لازمیږي په کوم بل وخت کي یا په کوم بل ځای کي بیا بل فقیر ته په ورکولو سره هم نذر اداء کیږي همدا ډول که یې په نذر کي کوم شی متعین کړ چي فلاني شی به درکوم نو په خپله د هغه شی ورکول لازم نه دي بلکي د هغه د قیمت په اندازه نقدې او یا کوم بل شی هم ورکولای سي .

قال فی العلائیة: والنذر لا یختص بزمان ومکان ودرهم وفقیر فلو نذر التصدق یوم الجمعة بمکة بهذا الدراهم علی فلان فخالف جاز .رد المحتار:۲/ ۱۳۷ . (احسن الفتاوی:۵/ ٤۸۰).

په امداد الفتاوی کي راځي:

که یې اوښ نذر کړي نو دی اختیار لري که اووه بوزي حلالوي یا درمیانه درجي داوښ قیمت پر مسکینانو تقسیموي .

په درمختار کي راځي:

ولو قال لله علی أن أذبح جزوراً وتصدق بلحمه فذبح مکانه سبع شیاه جاز. وفي نذر أن یتصدق بعشرة دراهم فتصدق بغیره جاز إن ساوی العشرة کتصدقه بثمنه. (امداد الفتاوی:۲/ ۵۵۲).

همدا ډول وګورئ: (امداد الاحکام:۳/ ۳٦-۳۷ - وفتاوی رحیمیه:۹/ ۲۵).والله ﷻ اعلم.

د ذبح د نذر د منعقد کېدو حکم

سوال: كه يو چا نذر وماني چي كه زه له دې مريضۍ څخه جوړ سوم نو بزه به ذبح كوم نو دغه نذر منعقد سو او كه نه؟

الجواب: د ذبح نذر درست دئ لهذا كه جوړ سو نو د بزې ذبح كول او صدقه كوم لازم او ضروري دي.

په بدائع الصنائع كي راځي:

لو نذر بقتل شاة لا يلزمه ولو نذر بذبحها لزمه . (بدائع الصنائع:٥/ ٨٥، سعيد).

په فتاوى الشامي كي راځي:

فى الخانية : قال : إن برئت من مرضي هذا ذبحت شاة فبرىء لا يلزمه شيء إلا أن يقول : فلله علي أن أذبح شاة . وهي عبارة متن الدرر وعللها في شرحه بقوله : لأن اللزوم لا يكون إلا بالنذر والدال عليه الثاني ، لا الأول ..... ولكن في البزازية أيضا : إن عوفيت صمت كذا، لم يجب ما لم يقل : لله علي، وفي الاستحسان يجب ، ولو قال : إن فعلت كذا فأنا أحج ، ففعل يجب عليه الحج . فعلم أن تعليل الدرر مبني على القياس ، والاستحسان خلافه ، وينافيه أيضا قول المصنف : علي شاة أذبحها ، أو عبارة الفتح : فعلي بالفاء في جواب الشرط ، إذ لا شك أن هذا ليس وعدا . ولا يقال : إنما لم يلزمه شيء لعدم قوله : لله علي ، لأن المصرح به صحة النذر بقوله : لله علي حجة ..... وحمل ما في الخانية والدرر من صحة قوله : لله علي أن أذبح شاة على القول بأنه يكفي أن يكون من جنسه واجب . (فتاوى الشامى:٣/ ٧٤٠، احكام النذر، سعيد).

په امداد الفتاوى كي راځي:

فقهاوو دا څرګندونه كړي ده چي په غير كي د ورځو دا ضحيي ذبح كول قربت مقصوده نه دئ او دا يې هم ويلي دي چي منذور به قربت مقصوده وي نو كه نذر بالذبح يوازي په ذبح سره پوره سي نو دا به

Maktaba Tul Ishaat.com

لازمه سي چي منذر ربه به قربت غير مقصوده سي له دې قاعدې ځخه په يقيني ډول معلوميږي چي تصدق واجب ده همدا ډول د نذر اينبودونكي قصد د ذبح له نذر ځخه تصدق دي نو په عرف كي د نذر بالذبح لفظ د نذر لمجموع الذبح والتصدق له پاره دي او د دې مجموعي په نذر كي نذر منعقد كيږي . (امداد الفتاوى:۲/ ۵۵۷). والله ﷻ اعلم .

د دوو ركعتونو نفلو د نذر حكم

سوال: يو كس ديوه كار پر كېدو همېشه دوه ركعته نفل نذر كړل هغه كار وسو خو د څو ورځو ځخه يې د دوو ركعتونو پابندي نه ده كړي اوس به قضا راوړي او كه به كفاره وركوي؟

الجواب: په دې صورت كي د لمانځه قضاء لازمه ده ځكه شرط موجود سوى دئ او دغه مسئله د قضاء سوي لمانځه په شان ده چي كله لمونځ فوت سي نو قضاء ضروري ده ځكه يوازي وخت فوت سو وجوب يې پاته دئ.

په بخاري شريف كي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال: من نذر أن يطيع الله فليطعه .(رواه البخارى:۲/ ۹۹۱، باب النذر فى المعصية).

په درمختار كي راځي:

ومن نذر نذراً مطلقاً أو معلقاً بشرط .... ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحديث: من نذر وسمى فعليه الوفاء بما سمى كصوم وصلاة .... الخ. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:۳/ ۷۳۵).

په تنوير الابصار مع الدر المختار كي راځي:

ولو نذرت عبادة كصوم وصلاة في غد فحاضت فيه يلزمها قضاؤها لأنه يمنع الأداء لا الوجوب ولو نذرتها يوم حيضها لا، لأنه نذر بمعصية . (تنوير الابصار مع الدر المختار:۲/ ۴۳).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

دا ډول نذر لازميږي او پوره کول يې لازم دي او کوم دوه رکعتونه چې يې پر وخت نه دي کړي د هغه قضاء لازمه ده . (فتاوی دار العلوم دیوبند:۱۲/ ۱۰۸). والله ﷻ اعلم.

هره ورځ د زر ځله درود ويلو د نذر حکم

سوال: يو چا نذر کنېښنودئ چي هره ورځ به زر ځله درود شريف وايم نو دا نذر سو او که نه؟ که يې نذر پوره نه کړ نو څه شی لازميږي؟

الجواب: په دې صورت کي هره ورځ د زر ځله درود ويلو نذر صحيح دئ يعني هره ورځ يې ويل لازمي دي او که يې ونه وايه نو د قسم کفاره به اداء کوي.

په درمختار کي راځي:

ولو نذر أن يصلى على النبي ﷺ كل يوم كذا لزمه وقيل لا، قوله لزمه لأن من جنسه فرضاً وهو الصلاة عليه صلى الله عليه وسلم مرة واحدة في العمر وتجب كلما ذكر وإنما هي فرض عملي .... (الدر المختار مع فتاوى الشامى:۳/ ۷۳۸، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

لأن المذكور في ظاهر الرواية لزوم الوفاء بالمنذور عينًا منجزًا كان أو معلقًا ، وفي رواية النوادر هو مخيراً فيهما بين الوفاء وبين كفارة اليمين قال في الخلاصة : وبه يفتى فتحصل أن الفتوى على التخيير مطلقًا ..... (البحر الرائق:٤/ ٢٩٥، كوئته).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

ألزم على نفسه الحج إن فعل كذا لزمه الحج، ولا يجوز به كفارة اليمين . وعن القاضي المروزي أنه بالخيار إن شاء كفر، وعن الإمام أنه رجع وقال: تجب الكفارة، وعليه الفتوى لكثرة البلوى . (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٢٧١، الثالث في النذر). **همدا ډول وګورئ:**

Maktaba Tul Ishaat.com

(الهداية مع فتح القدير:٥/ ٩٣ – والدر المختار:٣/ ٧٣٨ – وامداد الفتاوی:٢/ ٥٦٢، انعقاد نذر درود شريف). والله ﷻ اعلم.

د نذر بالمعصية حکم

سوال: که یو څوک د ګناه نذر وماني داسي یې وویل چي که مي فلاني کار وسو نو سروز به اورم یا به د شیخ عبد القادر رحمه الله له پاره پسه ذبح کوم یا به پر قبر غلاف هواروم یا به ګنبده ورباندي جوړوم یا به د کوچني اختر او یا لوی اختر په ورځ روژه نیسم یا به د لمر راختلو او یا لوېدو په وخت کي لمونځ کوم نو په شریعت کي یې حکم څه دئ؟

الجواب: معصیت او ګناه پر دوه قسمه ده:

۱_ معصیت لذاته لکه په ذکر سوي صورت کي سروز اورېدل د شیخ عبد القادر رحمه الله پر نامه پسه حلالول پر قبر غلاف هوارول او یا ګنبده ورباندي جوړول دغه ټول شیان معصیت لذاته دي یعني صرف ګناه ده د طاعت او یا عبادت اړخ پکښي نه سته مګر که یې د یمین نیت وکړ نو د یمین کفاره ورباندي لازمیږي.

۲_ معصیت لغیره: یعني په اصل کي خو مشروع وي خو د یو خارجي ممنوع شی د مجاورت نه امله ممنوع ګرځېدلي وي لهذا نذر منعقد کیږي، البته په دغو وختو کي به له روژې څخه منع کیږي او د روژې او لمانځه ماتول به واجب وي او د ماتیدو له امله به د یمین کفاره ورباندي لازمه وي، البته که یې بله ورځ روژه ونیول او یا یې بل وخت لمونځ وکړ نو کفاره به لازمه نه وي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن عائشة زوج النبي ﷺ أن النبي ﷺ قال: من نذر ان فيطيع الله فليطعه ومن نذر ان يعصيه فلا يعصه .قال محمد رحمه الله وبهذا نأخذ من نذر نذرا في معصية ولم يسم فليطع الله وليكفر عن يمينه وهو قول أبي حنيفة رحمه الله.

وبهامش المؤطا: إن ظاهر الحديث أن مراده صلى الله عليه وسلم الإطلاق سمى أو لم يسم. (المؤطا للإمام محمد مع الحاشية: ص ٣٢٧، باب من حلف أو نذر فی معصية، قديمی).

په درمختار کي راځي:

وفی البحر الرائق شرائطه خمس فزاد لا یکون معصیة لذاته فصح نذر صوم یوم النحر لأنه لغیره، وفی الشامی : قال في الفتح : وأما کون المنذور معصیة یمنع انعقاد النذر فیجب أن یکون معناه إذا کان حراماً لعینه أو لیس فیه جهة قربة . فإن المذهب أن نذر صوم یوم العید ینعقد ویجب الوفاء بصوم یوم غیره ولو صامه خرج عن العهدة ثم قال بعد ذلك قال الطحاوي : إذا أضاف النذر إلى المعاصي کللّه علي أن أقتل فلاناً کان یمیناً ولزمته الکفارة بالحنث . (الدر المختار مع الفتاوی الشامی:۳/ ۷۳۶، سعید).

علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

ذکر الطحطاوي رحمه الله أنه لو أضاف النذر إلى ما هو معصیة وعنی به الیمین بأن قال : لله تعالى علي أن أقتل فلانًا ، کان یمینًا ، ویلزمه الکفارة بالحنث ؛ لقوله : ﴿ النذر یمین وکفارته کفارة الیمین ﴾ . (المبسوط للإمام السرخسی:۸/ ۱۳۹).

مګر د امام طحاوي رحمه الله او امام محمد رحمه الله له عبارتونو څخه دا وهم کیږي چي معصیت که لعینه وي او که لغیره وي په هر صورت کي کفاره لازمیږي .

په مؤطاء امام محمد رحمه الله کي راځي:

قال محمد رحمه الله : وبقول ابن عباس رضي الله عنهما نأخذ وهذا مما وصفت لك أنه من حلف أو نذر نذراً في معصیة فلا یعصین، ولیکفرن عن یمینه .(المؤطا للإمام محمد مع الحاشیة: ص ۳۲۸، باب من حلف أو نذر فی معصیة، قدیمی).

او د امام طحاوی رحمه الله عبارت محقق ابن همام رحمه الله په فتح القدیر کي نقل کړی دئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

قال الطحاوي : إذا أضاف النذر إلى سائر المعاصي كلله علي أن أقتل فلاناً كان يميناً ولزمته الكفارة بالحنث . (فتح القدير:٥/ ٩٢، فصل فی الكفارة، دار الفكر).

د دغه ښه جواب حضرت مفتي محمد تقی عثماني مدظله په تکمله فتح الملهم کي ورکړی دئ. وګورئ د تفصيلي کلام څخه وروسته د خلاصې په توګه ليکي:

فالحاصل: أنه لا كفارة عند الحنفية إذا نذر الرجل فعلاً هو معصية بعينه، وأما إذا كان معصية لغيره، كصوم يوم النحر ، فإنه تلزمه الكفارة إذا لم يقض صوماً آخر مكانه، وأما إذا راد بالنذر يميناً، فيلزمه الحنث والكفارة فی الصوم كلها، فاغتنم هذا التحرير، والله الموفق. (تكملة فتح الملهم: ٢/ ١٦٥ ، تحقيق مذهب الحنفية فی وجوب الكفارة فی النذر بالمعصية – وكذا فی الفقه الحنفی وادلته:٢/ ٣١٨، بيروت).

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکي:

يوې ښځي دا نذر وماني چي که فلاني کار وسو نو مولود شريف به لمانځم يا به د فلاني پر قبر څادر هواروم يا به د فلاني يوولسمه لمانځم نو دغه نذر صحيح نه دئ د ده پر ذمه شی نه واجبيږي .(دين کي باتين:ص ٣١٧).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

سوال: يو چا داسي نذر وماني چي اې بزرګه! که زما فلاني کار وسو نو زه ستا پر نامه پسه حلالوم نو ايا دا ډول نذر درست دئ؟

الجواب: په دې صورت کي نذر صحيح نه دئ دا معصيت دئ او د معصيت نذر نه دئ منعقد سوي د دغه نذر پوره کول روا نه دي .

په درمختار کي راځي: ((وان لايكون معصية لذاته)).

حضرت شاه محمد اسحاق محدث دهلوی رحمه الله فرمايي:

نذر كردن باين طور كه اگر حاجت من خدا بر آرد بمز ارّ فلان ولى اين قدر از نقد وجنس طعام پخته برسانم درست نيست زيرا كه در نذر كردن خداى تعالى چند شروط است اگر همه متحقق شوند نذر لازم مى شود والا لازم نيست ..... الى قوله .... چهارم آنكه منذور فى نفسه گناه نباشد اگر گناه خواهد شد اصلاً در نذر كردن برو لازم نخواهد شد چنانچه در فتاوى عالمگيرى مرقوم است : الأصل أن النذر لا يصح إلا بشروط .... إلى قوله .... والرابع : أن لا يكون المنذور معصية باعتبار نفسه، انتهى . (فتاوى رحيميه:۹/ ۲۳).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د نذر د انعقاد له پاره دا ضروري ده چي منذور به قربت مقصوده وي او د ميلاد مجلس قربت مقصوده نه دئ لهذا په دې صورت كي نذر نه دئ منعقد سوي نو پوره كول يې هم واجب نه دي .

(فتاوى محموديه:١٤/ ١٦).

خلاصه دا چي كه يې د معصيت لعينه نذر وماني نو اصلي مذهب دا دئ چي كفاره واجب نه ده ځكه نذر نه دئ منعقد سوي خو كه يې د نذر څخه يمين مراد كړ نو كفاره د يمين واجبيږي او كه يې د معصيت لغيره نذر وماني د مثال په ډول دا اختر په ورځ يې د روژې نيولو نذر كښېښود او په كومه بله ورځ يې ونه نيول نو كفاره واجبيږي.

يو سوال او جواب:

يو اشكال پاته كيږي هغه دا چي حضرت عبد الله بن عباس ﷺ ته يوه ښځه راغله او مسئله يې وپوښتل چي ما دا نذر منلي دئ چي خپل زوى به قرباني كوم حضرت عبد الله بن عباس ﷺ په جواب كي وفرمايل، زوى مه قرباني كوه او د قسم كفاره اداء كړه.

وګورئ په مؤطاء امام محمد كي راځي:

أخبرنا مالك، أخبرني يحيى بن سعيد قال: سمعت القاسم بن محمد يقول : أتت امرأة إلى ابن عباس ﷺ فقالت: إني نذرت أن أنحر ابني، فقال: لاتنحري ابنک، وكفري عن يمينک .

(المؤطا للإمام محمد: ص ۳۲۷، باب من حلف أو نذر فى معصية، قديمى).

Maktaba Tul Ishaat.com

وقال العلامة اللكنوي في تعليقه: وفي رواية عن ابن عباس رضي الله عنه: ينحر مائة من الإبل مقدار دية النفس، وروي عنه أيضاً: ينحر كبشاً أخذاً من فداء إسماعيل على نبينا وعليه الصلاة والسلام. (التعليق الممجد على مؤطا محمد: ٣/ ١٧٢، باب من حلف أو نذر في معصية).

علامه شامي رحمة الله عليه د هغه جواب ليكلي دئ:

ولأبي حنيفة رحمة الله عليه أن وجوب الشاة عليها خلاف القياس عرفناه استدلالاً بقصة الخليل.

(فتاوى الشامي: ٣/ ٧٤٠، سعيد – وكذا في الفقه الحنفي وادلته: ٢/ ٣١٨، باب النذر، دمشق بيروت).

وأما وجوب الشاة فيما إذا نذر بذبح ولده فإنه خلاف القياس، وإنما صار إليه أبو حنيفة رحمة الله عليه استحساناً لأثر ابن عباس رضي الله عنهما، وإلا فالقياس أن لا يجب فيه شيء لأنه معصية لعينه، كما صرح به السرخسي في المبسوط: (٨/ ١٣٩)، وراجعه للتفصيل، والله أعلم. (تكملة فتح الملهم: ٢/ ١٦٦).

خلاصه دا ده چي د قياس په اعتبار كوم شى نه لازميږي ځكه معصيت لعينهادى مګر خلاف قياس استحساناً امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د دغه ته ترجيح وركړي ده ځنګه چي حضرت ابراهيم على نبينا وعليه السلام خپل د ځكر ټوټه حضرت سيدنا اسماعيل عليه السلام په بدل كي اسماني پسه حلال كړي وو چي خلاف قياس د الله د جانبه حكم وو. والله تعالى اعلم.

پر نذر د معصيت لعينه د يوې د يوې شبهې ازاله

سوال: حضرت مولانا خالد سيف الله رحماني په قاموس الفقه (١٨٣/٥) كي ليكلي دي چي د معصيت په نذر كي د ګناه پرېښودل واجب دي او د نذر پوره كول حرام دي، البته د قسم كفاره اداء كول واجب دي او حال دا چي د فقهاوو له پورتنيو ځرګندونو ځخه معلوميږي چي كفاره لازمه نه ده د دې جواب ځه دئ؟

الجواب: په ظاهره د مولانا عبارت محل نظر دئ او د فقهاوو د تصریحاتو له مخي صحیح نه معلومیږي غالبابه د مولانا ذهن د معصیت د نذر د تقسیم طرفته تللی نه وي د مولانا عبارت وګورئ په قاموس الفقه کي راځي:

د کوم شی نذر چي منل سوی وي هغه ګناه وي لکه د شراب چښلو نذر داسي نذر پوره کول حرام او پرېښودل يې واجب دي او پر دغه د امت اجماع ده، البته لکه څنګه چي مخکي یادونه وسوه په دغه صورت کي د قسم کفاره اداء کول واجب دي نن سبا د میلاد د جوړولو نذر مني دا ټول په دغه حکم کي دي او د هغه پوره کول روا نه دي بلکي د قسم کفاره دي اداء کړل سي او آینده دي له داسي نذر څخه توبه وباسي. (قاموس الفقه: ۵/ ۱۸۳).

په پورتنی عبارت کي مولانا د معصیت لعینه مثال وړاندي کړی دئ او له هغه وروسته يې د کفاري د وجوب حکم لیکلي دئ او حال دا چي د فقهاوو له عبارتونو څخه دا مسئله بر عکس معلومیږي لهذا صحیح او راجح دا ده چي د معصیت لعینه نذر نه منعقد کیږي او کفاره هم نه واجبیږي. والله ﷻ اعلم.

په نذر کي اغنیاء او فقیران شاملول

سوال: یوه طالب داسي نذر وماني چي که زه په امتحان کي کامیاب سوم نو د مدرسې ټولو طالبانو ته به د الله ﷻ له پاره ډوډۍ ورکوم په دې سره نذر متحقق کیږي او که نه؟ او په نذر کي د الله کلمه ذکر کول ضروري ده او که نه؟

الجواب: د دې مسئلې په هکله حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکي:

چي د اغنیاوو په اندازه نذر نه دئ منعقد سوي او د فقیرانو په اندازه منعقد سو مګر حضرت مفتي کفایت الله صاحب لیکي:

چي نذر صحیح او لازم نه دئ په ظاهره د دواړو د فتوی تر منځ تعارض سته تطبیق يې داسي کېدای سي چي که د نذر منونکي په نیت کي یوازي فقیران وه نو نذر منعقد سو او که يې د مالدرانو او فقیرانو دواړو نیت کړي وو نو بیا نذر نه دئ منعقد سوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په امداد الفتاوی کي راځي:

يو سائل سوال وکړ چي که زما فلاني مقصد پوره سو نو يو غويي به د الله ﷻ پر نامه ذبح کوم او د محلي پر خلکو به يې تقسيميوم خو په محله کي مالدار او غريبان دواړه اوسيږي نذر به پوره کوي او که نه؟

الجواب: فی الدر المختار: نذر التصدق على الأغنياء لم يصح مالم ينو أبناء السبيل.

وفيه: ولو قال: إن برئت من مرضي هذا ذبحت شاة أو علي شاة أذبحها.... الخ.

له دې روايت څخه معلومه سوه چي داغنياوو په اندازه نذر نه دئ منعقد سوي او د فقيرانو په نذازه منعقد سو او که غنيانو وخوړل نو دي وګوري چي ده د فقيرانو د برخې په اندازه پخه کړي ده او که زياته ده په لومړی صورت کي يې اغنياوو ته خوراک درست نه دئ په دوهم صورت کي درست دئ.

(امداد الفتاوی:۲/ ٥٦٠- امداد الاحکام:۳/ ۳۳).

په کفايت المفتي کي راځي:

سوال: زيد مريض وو نو يې داسي نذر کښېښودئ چي که مي مريضې جوړه سوه نو د فلاني مسجد لمونځ کونکو ته به ډوډئ ورکوم نو اوس يې د صحت څخه مخکي يا د صحت څخه وروسته د هغه شی د تقسيم اراده وکړه سوال دا دئ چي هغه اغنياء چي په لمانځه کي شريک وي هغه شی خوړلا سي او که نه؟

جواب: د فلاني مسجد ټولو لمونځ کونکو ته که ډوډئ ورکول که هبه يا اباحت يې مقصود وي نو دغه قربت مقصوده نه دئ او که يې د صدقې په توګه مراد وي نو څنګه چي په لمونځ کونکو کي غني او محتاج دواړه شامل دي او تصدق على الغني صحيح نه وي لهذا دغه نذر صحيح يعني لازم نه وي اوس که هغه شی وخوري نو دا به تبرع وي او که يې په دغه تبرع کي د تصدق نيت نه وي نو اغنياء او فقراء يې دواړه خوړلای سي.

نذر التصدق على الأغنياء لم يصح ما لم ينو أبناء السبيل. (درمختار).

قلت: ولعل وجه عدم الصحة فی الأول عدم كونها قربة، الخ. (رد المحتار).

ولو قال: إن فعلت كذا فلله علي أن أضيف جماعة قرابتى فحنث لا يلزمه شيء . الفتاوى الهندية: ۲/ ٦٦ . (كفايت المفتى: ۲/ ۲٤٦).

په احسن الفتاوى كي راځي:

د غنياوو د برخې په اندازه نذر نه دئ منعقد سوي نو د هغه پوره كول واجب نه دي د فقيرانو د برخې په اندازه نذر صحيح دئ د هغه پوره كول واجب دي غنيان يې ورڅخه خوړلای نه سي . (احسن الفتاوى: ٥/ ٤٩٠). والله ﷻ اعلم.

په نذر كي د الله د لفظ د ذكر كولو حكم:

د نذر د انعقاد له پاره د الله كلمه ضروري نه ده بلكي د لزوم په الفاظو سره هم نذر منقعد كيږي، البته د الفاظو تلفظ ضروري دئ.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

فى الخانية : قال : إن برئت من مرضي هذا ذبحت شاة فبرىء لا يلزمه شيء إلا أن يقول : فلله علي أن أذبح شاة . وهي عبارة متن الدرر، وعللها في شرحه بقوله : لأن اللزوم لا يكون إلا بالنذر والدال عليه الثاني ، لا الأول فأفاد أن عدم الصحة لكون الصيغة المذكور لاتدل على النذر، أي لأن قوله: ذبحت شاة ، وعد لا نذر، ويؤيده ما فى البزازية: إن سلم ولدي أصوم ما عشت، فهذا وعد . و لكن في البزازية أيضاً : إن عوفيت صمت كذا، لم يجب ما لم يقل : لله علي، وفي الاستحسان يجب ، ولو قال : إن فعلت كذا فأنا أحج ، ففعل يجب عليه الحج . فعلم أن تعليل الدرر مبني على القياس ، والاستحسان خلافه ، وينافيه أيضا قول المصنف : علي شاة أذبحها ، أو عبارة الفتح : فعلي بالفاء في جواب الشرط ، إذ لا شك أن هذا ليس وعدا .

Maktaba Tul Ishaat.com

ولا يقال : إنما لم يلزمه شيء لعدم قوله : لله علي ، لأن المصرح به صحة النذر بقوله : لله علي حجة . (فتاوى الشامى:۳/ ۷٤۰، احكام النذر، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ركن النذر هو الصيغة الدالة عليه وهو قوله لله عزشانه علي كذا أو علي كذا أو هذا هدي أو صدقة أو مالي صدقة أو ما أملك صدقة ونحو ذلک .(بدائع الصنائع:٥/ ٨١، كتاب النذر، سعيد).

علامه ابن نجيم مصري رحمه الله فرمايي:

أما الصيغة فلله، وعلي، ونذرت لله، وأنا أفعل، إن كان معلقاً كأن أحج إن دخلت الدار، بخلاف أنا أحج، منجزاً . (البحر الرائق).

مفتي رشيد احمد په احسن الفتاوى کي ليکي:

کوم الفاظ چي په عرف کي د نذر له پاره مستعمل دئ په هغو سره هم نذر منعقد کيږي . (احسن الفتاوى:٥/ ٤٨٥). والله تعالى اعلم.

د حج ورکولو او يا په چله کي د ليږلو ځخه د نذر حکم

سوال: که يو څوک ووايي که الله جل جلاله زما دغه کار را وکړ نو په زيد به حج کوم يا به يې په چله کي ليږم نذر لازم دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي نذر نه لازميږي ځکه نذر د خپل فعل کيږي نه د بل چا د فعل او نذر د عبادت مقصوده منعقد کيږي او حال دا چي چله لګول عبادت مقصوده نه وي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ومن نذر نذرا مطلقاً أو معلقاً بشرط، وكان من جنسه واجب.... وهو عبادة مقصودة .... وجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحديث ((من نذر وسمى فعليه الوفاء بما سمى)) وفى الشامي : (قوله : وهو عبادة مقصودة) .... وفى البدائع : ومن شروطه أن يكون قربة

مقصودة، فلا يصح النذر بعيادة المريض، وتشييع الجنازة، والوضوء، والاغتسال، ودخول المسجد، ومس المصحف، والأذان .... (قوله : لزم الناذر) أي لزمه الوفاء به، والمراد أنه يلزمه الوفاء بأصل القربة التي التزمها . (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۷۳۵، سعيد).

پہ امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: يو کس داسي ووېل چي که ما ته الله تعالی اولاد راکړي نو دوولس کاله وروسته به يې کعبې شريفې ته ليږوم خو دی د نذر په وخت کي غني وو اوس مسکين سو اوس به څه کوي نذر وباندي واجب دئ او که نه؟

الجواب: د خپل فعل نذر منعقد کيږي نه د بل د فعل لهذا دا نذر هم منعقد نه دئ. (امداد الفتاوی:۲/ ۵٦۱).

پہ کفايت المفتي کي راځي:

سوال: زيد نذر وماني که زما فلاني کار وسو نو زه به په يو چا حج کوم اوس يې کار وسو ايا نذر به پوره کوي؟

الجواب: دا نذر په دې ډول لازميږي چي داسي ووايي چي زه به په خپله حج کوم داسي نه چي په بل چا به حج کوم . (کفايت المفتی:۲/ ۲۵۲).

پہ احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: زيد نذر کښېښودئ که زما لاس جوړ سو نو څلوېښت ورځي به په تبليغ کي ځم نو دا نذر صحيح دئ او که نه؟

الجواب: د نذر د صحت له پاره شرط دا دئ چي دغه نذر سوي شی به عبادت مقصوده وي تبليغ عبادت مقصوده نه دئ نو نذر نه دئ منعقد سوي او پوره کول يې واجب نه دي روا دئ. (احسن الفتاوی:۵/ ۴۹۱). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

په نذر معين غير معلق كي د تعيين حكم

سوال: يو چا د جمعې په ورځ د روژې نيولو نذر ومنې بيا ده د جمعې په ورځ سفر درلودئ نو د پنج شنبې په ورځ يې د نذر په نيت روژه ونيوه ايا نذريې پوره سو او كه نه؟

الجواب: نذريې پوره سو دوهم ځل د روژې نيولو ضرورت نه سته ځكه نذر معين غير معلق له يوې زمانې او مكان سره نه خاصيږي او د وخت څخه مخكي يې هم اداء كول صحيح او درست دي.

په درمختار كي راځي:

والنذر من اعتكاف أو حج أو صلاة أو صيام أو غيرها غير المعلق ولو معينًا لا يختص بزمان ومكان ودرهم وفقير، فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمكة بهذا الدرهم على فلان فخالف جاز. وكذا لو عجل قبله، فلو عين شهرًا للاعتكاف أو للصوم فعجل قبله عنه صح. (

الدر المختار: ٢/ ٤٣٦، فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم، سعيد).

په مراقي الفلاح كي راځي:

وألغينا تعيين الزمان و تعيين المكان و تعيين الدرهم و تعيين والفقير، لأن النذر إيجاب الفعل في الذمة من حيث هو قربة لا باعتبار وقوعه في زمان ومكان وفقير، وتعيينه للتقدير به أو التأجيل إليه. وفي الطحطاوي: فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمكة بهذا الدرهم على فلان فحالف جاز. وكذا لو عجل قبله، فلو عين شهراً للاعتكاف أو للصوم فعجل قبله عنه صح.

(مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى: ص ٦٩٦، باب مايلزم الوفاء به، قديمى). والله ﷻ اعلم.

په نذر معين معلق كي د تعيين حكم

سوال: يو چا داسي نذر ومني چي كه الله تعالى زه په دغه امتحان كي كامياب كړم نو د پنج شنبې په ورځ به روژه نيسم اوس يې دى په بله ورځ نيولاى سي او كه نه؟

الجواب: په نذر معلق کي تقديم روا نه دئ يعني د شرط د پوره کېدو وروسته روژه نيول لازمي دي که يې مخکښي ونيوه نو دوهم ځل يې نيول ضروري دي بيا د پنځ شنبې کوم تخصيص نه سته د شرط له پوره کېدو وروسته يې په هر ورځ نيولای سي.

په فتاوی شامي کي راځي:

بخلاف النذر المعلق ، فإنه لا يجوز تعجيله قبل وجود الشرط .قلت : وقدمنا هناك الفرق وهو أن المعلق على شرط لا ينعقد سببًا للحال كما تقرر في الأصول بل عند وجود شرطه ، فلو جاز تعجيله لزم وقوعه قبل سببه فلا يصح ، ويظهر من هذا أن المعلق يتعين فيه الزمان بالنظر إلى التعجيل ، أما تأخيره فالظاهر أنه جائز إذ لا محذور فيه ، وكذا يظهر منه أنه لا يتعين فيه المكان والدرهم والفقير، لأن التعليق إنما أثر في انعقاد السببية فقط ، فلذا امتنع فيه التعجيل ، وتعين فيه الوقت أما المكان والدرهم والفقير فهي باقية على الأصل من عدم التعيين ، ولذا اقتصر الشارح في بيان المخالفة على التعجيل فقط حيث قال : فإنه لا يجوز تعجيله فتدبر . (فتاوى الشامي:۳/ ۷۴۱، مطلب النذر الغير المعلق لايختص بزمان ومكان ودرهم وفقير، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإن كان معلقاً نحو أن يقول : إن شفا الله مريضي .... فلله علي أن أصوم شهراً أو أصلي.... فوقته وقت الشرط، فما لم يوجد الشرط لايجب بالإجماع، ولو فعل ذلک قبل وجود الشرط يكون نفلاً. (بدائع الصنائع:۵/ ۹۳، سعيد – وكذا فى فتح القدير:۲/ ۳۸۶، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د صوم الدهر د نذر تحقيق

سوال: يو چا نذر ومني چي تر څو چي زه ژوندی يم روژه به نيسم اوس يې د سپين بږير توب له امله نه سي نيولای نو څه به کوي؟

الجواب: که يې طاقت د روژې نه وي نو فديه دي ورکوي او که يې د فديې طاقت نه درلودئ نو استغفار دي کوي.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو أخر القضاء حتى صار شيخًا فانيًا أو كان النذر بصيام الأبد فعجز لذلك أو باشتغاله بالمعيشة لكون صناعته شاقةً فله أن يفطر ويطعم لكل يوم مسكينًا .... وإن لم يقدر على ذلك لعسرته يستغفر الله إنه هو الغفور الرحيم . (الفتاوى الهندية:١/ ٢٠٩).

په درمختار کي راځي:

نذر.... صوم الأبد فضعف لاشتغاله بالمعيشة أفطر وكفر كما مر . وفى الشامية وكذا ما فى البحر : لو نذر صوم الأبد فضعف عن الصوم لاشتغاله بالمعيشة له أن يطعم ويفطر، لأنه استيقن أنه لايقدر على القضاء .(الدر المختار مع فتاوى الشامي:٢/ ٤٢٧، سعيد).

وقال العلامة الرافعي : هو ملحق بالشيخ الفاني. (تقريرات الرافعي على الشامي:٢/ ١٥٢).

قال الشيخ محمد علي الصابوني في تفسير قوله تعالى: وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين. أي وعلى الذين يستطيعون صيامه مع المشقة لشيخوخته أو ضعف إذا أفطروا عليهم فدية بقدر طعام مسكين لكل يوم . (صفوة التفاسير:١/ ١٢١).

وقال : معنى الآية : يطيقونه بجهد شديد .... والطاقة اسم لمن كان قادراً على الشيء مع الشدة والمشقة .(صفوة الفتاسير:١/ ١٢٣).

په احسن الفتاوی کې راځي:

سوال: یو چا دا نذر ومنې چې زه به همېشه روژه نیسم اوس یې د سپین ږیر توب او یا مرض له امله نه سي نیولای نو حکم یې څه دی؟

الجواب: فدیه به ورکوي که یې د فدیې طاقت هم نه وي نو استغفار دي کوي. (احسن الفتاوی:۵/ ۴۷۷). والله ﷻ اعلم.

د اطعام په نذر کې قېمت صدقه کول

سوال: یو چا داسي نذر وکړي چې الله تعالی ما ته زوی راکړي نو دوه دېګه برياني به تقسيموم اوس یې زوی پیدا سو نو بریانی ضروري ده او که یې د قېمت ورکول هم کفایت کوي؟

الجواب: دی اختیار لري که بریانی ورکوي او که یې قېمت تقسیموي په هر صورت کې یې نذر پوره کیږي دی چې په نذر کې چې کوم قیدونه ایږدي د هغو پوره کول لازم نه دي.

په فتاوی شامي کې راځي:

بخلاف النذر المعلق، فإنه لا يجوز تعجيله قبل وجود الشرط .قلت : وقدمنا هناك الفرق وهو أن المعلق على شرط لا ينعقد سببًا للحال كما تقرر في الأصول بل عند وجود شرطه، فلو جاز تعجيله لزم وقوعه قبل سببه فلا يصح، ويظهر من هذا أن المعلق يتعين فيه الزمان بالنظر إلى التعجيل، أما تأخيره فالظاهر أنه جائز إذ لا محذور فيه، وكذا يظهر منه أنه لا يتعين فيه المكان والدرهم والفقير، لأن التعليق إنما أثر في انعقاد السببية فقط، فلذا امتنع فيه التعجيل، وتعين فيه الوقت أما المكان والدرهم والفقير فهي باقية على الأصل من عدم التعين، ولذا اقتصر الشارح في بيان المخالفة على التعجيل فقط حيث قال: فإنه لا يجوز تعجيله فتدبر. (فتاوى الشامي:۳/ ۷٤۱، مطلب النذر الغير المعلق لايختص بزمان ومكان ودرهم وفقير، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

وفی الطحطاوي علی الدر المختار: (قوله: لزم الناذر) أی وجوباً کما فی الهداية . وأراد بلزومه لزوم أصل القربة التي التزمها، لا بكل وصف التزمه، لأنه لو عين درهماً أو فقيراً أو مكاناً للتصدق أو للصلاة فإن التعيين ليس بلازم بحر .... (قوله: لايختص بشيء) أی من الفقير والدرهم والزمان والمكان، وذلک لأن المقصود التقرب إلی الله تعالی بدفع حاجة الفقير، فلا مدخل لخصوص المكان. قال الفقيه: وهو قول علمائنا الثلاثة خلافاً لزفر رحمة الله عليه. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۲/ ۳٤۰، کتاب الأيمان).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که يې په نذر کي کوم شی وټاکي نو په خپله د هغه شی ورکول لازم نه دي بلکي د هغه د قيمت برابر نقدي يا کوم بل شی هم ورکولای سي . (احسن الفتاوی:۵/ ٤۸۰). والله ﷻ اعلم.

په تجارت کي د ترقي د نذر حکم

سوال: ما داسي نذر کښېښودئ چي زما تجارت چي په هره مياشت کي دېرش زره روپۍ وګټلي نو زه به يوه ورځ روژه نيسم بيا زما پلار او ورور راسره شريکان سوه پلار مي وايي چي اوس چي شراکت راغلي نو پر تا روژه نه سته؟

الجواب: که ستا نيت دا وي چي که تجارت ترقي وکړه او ګټه يې دېرش زره سوه نو روژه به نيسم نو په هره مياشت کي چي يې دومره ګټه وکړه پر تا روژه لازم ده شراکت ورسره منافات نه لري او که ستا نيت داسي وي که زما ګټه دومره سوه نو روژه به نيسم نو بيا هغه وخت درباندي روژه لازميږي چي ستا د برخې ګټه دېرش زره سي .

په حديث شريف کي راځي:

عن عائشة زوج النبي ﷺ أن النبي ﷺ قال: من نذر ان يطيع الله فليطعه ومن نذر ان يعصيه فلا يعصه . (المؤطا للإمام محمد:ص ۳۲۷، باب من حلف أو نذر فی معصية، قديمی).

وفى التعليق الممجد : (قوله : فليطعه) أى وجوباً، فإن المباح يصير واجباً بالنذر لقوله تعالى: ﴿ وليوفوا نذروهم ﴾. (التعليق المجد على مؤطا امام محمد:۳/ ۱۷۰).

په درمختار کي راځي:

ومن نذر نذرا مطلقاً أو معلقاً بشرط، وكان من جنسه واجب.أى فرض، كما سيصرح به تبعاً للبحر والدرر، وهو عبادة مقصودة .... ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحديث ((من نذر وسمى فعليه الوفاء بما سمى)) كصوم وصلاة وصدقة . وفى الشامي : (قوله لزم الناذر) أى لزمه الوفاء به، ولمراد أنه يلزمه الوفاء بأصل القربة التي التزمها، لابكل وصف التزمه. (قوله: لحديث) قال فى الفتح: هو حديث غريب إلا أنه مستغنى عنه، ففي لزوم المنذور الكتاب والسنة والإجماع . (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۷۳۵، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د اولاد په نذر کي د والد الزناء حکم

سوال: يوه ښځه واده سوي وه دې نذر کښېښودئ چي که زما اولاد پيدا سو زه به عمره کوم مګر خاوند يې بې اولاده دي دې زنا وکړه اوس يې اولاد پيدا سو پر دغه ښځه عمره لازمه ده او که نه ؟

الجواب: د ښځي له پاره عمره کول او د خپل نذر پوره کول ضروري دي ځکه اولاد يې وسو او د دغه نسب ثابت هم دئ.

په حديث شريف کي راځي:

((الولد للفراش وللعاهر الحجر)) .

لهذا د شرط له پوره کېدو سره د نذر پوره کول لازم دي، البته ښځه د دغه بد فعل څخه ګناه ګاره ده پر دې توبه کول لازم دي .

په درمختار کي راځي:

ثم إن المعلق فيه تفصيل، فإن علقه بشرط يريده كإن قدم غائبي أو شفي مريضي، يو في وجوبا إن وجد الشرط . وفى الشامي: (قوله (ثم أن المعلق) أعلم أن المذكور في كتب ظاهر الرواية أن المعلق يجب الوفاء به مطلقا : أي سواء كان الشرط مما يراد كونه أي يطلب حصوله كإن شفى الله مريضي أو لا كإن كلمت زيدا. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:۳/ ۷۳۸، أحكام النذر، سعيد). والله ﷻ اعلم.

که يې ذبح نذر کړه او بيا يې قيمت صدقه کړه؟

سوال: يو چا داسي نذر وکړ چي بوزه به ذبح کوم او بيا به يې تقسيموم اوس غواړي چي قيمت يې صدقه کړي ايا داسي کېداى سي او که نه؟ په دې مسئله کي د اکابرينو د فتوى تر منځ په ظاهره تعارض معلوميږي.

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني په امداد الاحكام کي ناجائز کنلي ده دى داسي ليکي:

سوال: په نذر غير معين کي د حيوان پر ځاى د هغه د قيمت په صدقه کولو سره نذر پوره کيږي او که نه او ښه دا ده چي حيوان ور کړي او که د هغه قيمت؟

الجواب: که يې د حيوان ذبح کول نذر کړي وه نو ذبح يې واجب ده د قيمت تصدق يې کافي نه دئ او که يې د ذبح نيت نه وي نو د قيمت صدقه يې هم کافي ده (امداد الاحكام: ۳/ ۴۲) او حضرت مفتي رشيد احمد صاحب جائز ليکلي دي عبارت يې وګورئ:

دا ضحيي پرته د ذبح له نذر څخه د تصدق لحم نذر مقصود وي که نه په خپله د ذبح نذر صحيح نه دئ څکه دا ضحيي څخه پرته د حيوان ذبح مقصود عبادت نه دئ بلکي اختيار دي که بوزه ذبح کوي غوښي صدقه کوي يا ژوندى بوزه صدقه کوي يا د هغه قيمت صدقه کوي يا د قيمت سره برابر کوم بل شى صدقه کوي.

قال في شرح التنوير : نذر أن يتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغيره جاز إن ساوى العشرة كتصدقه بثمنه . رد المختار:۳/ ۷۲). (احسن الفتاوى:۵/ ۴۸۳).

اوس دا کس حیران دئ چي د بوزې پر ځای د هغه قیمت ورکولای سي او که نه؟

الجواب: د بزازيې له عبارت څخه معلوميږي چي بوزه دي حلاله کړي ځکه د مولانا ظفر احمد عثماني په فتوی عمل په کار دئ او په هغه کي احتياط هم دئ او د ذمي فارغه کېدل يقيني دي او همدا ډول د وينو توېول د قرباني د ورځو څخه علاوه عبادت نه دئ خو د هغه د جنسه قرباني لازمه ده او چي کله له هغه څخه تصدق لحم مقصد وي نو عبادت ګرځي .

د فتاوی بزازيې عبارت وګورئ:

قال: إن برئت من مرضي هذا ذبحت شاة أو علي شاة أذبحها فصح لايلزمه شيء ولو قال: علي شاة أذبحها وأتصدق بلحمها لزمه . لله علي أن أذبح جزوراً وأتصدق بلحمه يذبح مكانه سبع شياه. لزمه إراقة شاتين وسطين فذبح شاة سمينة تعدل وسطين لا يجزئه، لأن المقصود الإراقة والتصدق باللحم، والسمينة وإن عادلهتما فی اللحم لاتعادلهما فی الإراقة . (الفتاوی البزازية على هامش الهندية:۴/ ۲۷۱). والله ﷻ اعلم.

د ذبح د نذر څخه مقصد اراقة الدم وي د هغه له پاره واضح نظير :

يو چا د خپل زوی د حلالېدو نذر ومني نو فقهاء فرمايي چي د زوی په بدله کي دي پسه ذبح کړي. په فتاوی تاتار خانيه کي راځي:

إذا نذر الرجل ذبح ولده لزمه شاة لكل واحد يذبحها بمكة .(الفتاوى التاتار خانية:۵/ ۴۳- وكذا في الفقه الإسلامی وأدلته:۲/ ۳۱۸، باب النذر). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

پر توبه ماتولو د صدقې د نذر کولو حکم

سوال: یو کس د شرابو عادت درلوده ده توبه وکړه او ویې ویل چي که ما په ائنده کي شراب وچنبل نو لس زره روپۍ به صدقه ورکوم بیا یې شراب وچنبل نو اوس د ده له پاره په شریعت کي حکم څه دئ؟ صدقه لازمه ده او که د بل شی ګنجائش هم سته؟

الجواب: دغه کس اختیار لري که لس زره روپۍ صدقه کوي او که د یمین کفاره ورکوي .

په درمختار کي راځي:

وإن علقه بمالم يرده كأن زنيت بفلانة مثلاً وفى بنذره أو كفر ليمينه على المذهب لأنه نذر بظاهره يمين بمعناه فيتخير ضرورة. (الدر المختار:۳/ ۷۳۹، ط: سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

ولذا صح النذر في قوله : إن زنيت بفلانة، لكنه بتخير بينه وبين كفارة اليمين لأنه إذا كان لا يريده يصير فيه معنى اليمين فيخير ..... (فتاوى الشامي:۳/ ۷۳۹، ط: سعيد – وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۳٤۰، کوئته – وفقه الحنفى وادلته:۲/ ۳۱۷، باب النذر). والله ﷻ اعلم.

د مطلق صدقې د نذر حکم

سوال: د یو چالور مریضه وه ده وویل که جوړه سوه یو څه صدقه به کوم اوس هغه جوړه سو نو پر ده څومره صدقه لازمه ده؟

الجواب: د لسو سرسایو په اندازه به صدقه کوي او یا به د هغه قیمت صدقه کوي یعني که یې په غنمو اداء کوي نو پنځه پیالي یا د هغه په اندازه نقدي یا بل شی صدقه کول واجب دي که یې یوه مسکین ته ورکوي او که یې زیاتو ته ورکوي په هر صورت کي نذر اداء کیږي او پنځه پیالي تقریباً (۱٦) کیلو ګرامه کیږي .

قال فی الدر المختار: ولو نوی صیاماً بلاعدد لزمه ثلاثه أیام ولو صدقة فإطعام عشرة مساکین کالفطرة، قال ابن عابدین: قوله ولو صدقة، أی بلا عدد (قوله کالفطرة) أی لکل مسکین نصف صاع بر. (الدر المختار مع الفتاوی الشامی:۳/ ۷٤۲، ط: سعید).

قال العلامة الرافعي رحمه الله: قول الشارح فإطعام عشرة مساکین: لأن أقل ما أوجبه الله تعالی في کتابه من الصدقة عشرة مساکین، سندی. (التحریر المختار:۳/ ۱٦، سعید).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که يې د نذر په الفاظو کي د صدقې اندازه معلومه نه کړه په هغه صورت کي اطعام عشرة مساکين واجب دئ يعني د لسو سرسايو په اندازه غنم يا د هغه قيمت او يا کوم بل شی په هغه اندازه صدقه کول واجب دي که يې يوه مسکين ته ورکړي او که يې ډېرو ته ورکړي نذر يې اداء کيږي. (احسن الفتاوی:۵/ ٤۸٤).والله ﷻ اعلم.

د مدرسې جوړولو د نذر حکم

سوال: يو چا دا نذر ومني چي که يې ښځه الله ﷻ جوړه کړه نو مدرسه به جوړوم ايا دغه نذر درست دئ او که نه؟

الجواب: دغه نذر درست نه دئ ځکه د فقهاوو د تصريحاتو مطابق د نذر له پاره ضروري ده چي عبادت مقصوده به وي او مدرسه جوړول عبادت مقصوده نه دئ.

په تنوير الابصار کي راځي:

ومن نذر نذرا مطلقاً أو معلقاً بشرط، وکان من جنسه واجب.أی فرض، وهو عبادة مقصودة ووجد الشرط لزم الناذر. وفی الشامي: قوله: وهو عبادة مقصودة .... قال فی الفتح مما هو طاعة مقصودة لنفسها ومن جنسها واجب ..... وفی البدائع: ومن شروطه أن يکون قربة مقصودة، فلا يصح النذر بعيادة المريض، وتشييع الجنازة، والوضوء، والاغتسال،

Maktaba Tul Ishaat.com

ودخول المسجد وبناء الرباطاعت والمساجد وغير ذلک وإن كانت قرباً إلا أنها غير مقصودة . (تنوير الابصار مع فتاوی الشامي:۳/ ۷۳۵، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د مسجد تعمير که څه هم واجب دئ مګر عبادت مقصوده نه دئ لهذا دا نذر واجب الاداء نه دئ .

(احسن الفتاوی:۵/ ٤۷۸).

او همدا ډول وګورئ: (عزيز الفتاوی:ص ۵۵٦، کفايت المفتی:۵/ ۲۵۱).

غرض دا چي کله د مسجد جوړولو نذر صحيح نه دئ نو د مدرسې جوړولو نذر به په طريق اولی درست نه وي . والله ﷻ اعلم .

د الله ﷻ ويلو د نذر حکم

سوال: که يو چا ووېل چي که زه د ډاکټري په امتحان کي کامياب سوم نو يو لک ځله به د الله تعالی ذکر کوم ايا نذر وسو او که نه؟ او سبحان الله او الحمد لله ويلای سي او که نه؟

الجواب: د نذر دا نعقاد له پاره ضروري ده چي هغه به عبادت مقصوده وي او د واجب د جنس څخه به وي په دې صورت کي د الله ذکر عبادت مقصوده دئ او د هغه له جنس څخه تکبيرات تشريق په احرام کي تلبيه او د هغه قائم مقام ذکر وغيره واجب ده لهذا د الله د ذکر نذر درست دئ، لهذا که په امتحان کي کامياب سو نو يو لک ځله به يې وايي، البته په ذکر الله کي سبحان الله او الحمد لله هم شامل دي او په هغه سره هم نذر پوره کيږي.

په فتاوی تاتار خانيه کي راځي:

والأصل في ذلک أن كل ماكان له أصل فی الفروض لزم الناذر بنذره، وكل مالم يكن له أصل فی الفروض لايلزم الناذر بنذره . (الفتاوی التاتار خانية:۵/ ٤۰، ادارة القرآن).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله ولو نذر التسبيحات .... تكبير التشريق واجب على المفتى به وكذا تكبيرة الإحرام، وتكبيرات العيدين فينبغي صحة النذر به بناء على أن المراد بالواجب هو المصطلح. (فتاوى الشامی:۳/ ۷۳۸، سعيد).

په الفتاوى الهندية کي راځي:

الباب الثالث فى الإحرام .... فالركن أن يوجد منه فعل من خصائص الحج وهو نوعان أحدهما قول بأن يقول: لبيک اللّهم لبيک .... الخ، وهي مرة شرط .... ولو كان مكان التلبية تسبيح أو تحميد أو تهليل أو تمجيد أو ما أشبه ذلک من ذكر الله تعالى ونوى به الإحرام صار محرما.... (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۲۲).

په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي: أحب الكلام إلى الله أربع سبحان الله والحمدلله ولا إله إلا الله والله أكبر .... (مصنف ابن ابی شيبة:۱۵/ ۴۱۰).

په بخاري شريف کي راځي:

كلمتان حبيبتان إلى الرحمن، خفيفتان على اللسان، ثقيلتان في الميزان، سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظيم . (صحيح البخارى:۲/ ۱۱۲۹). والله ﷻ اعلم.

د کعبې شريفې له پاره د تېل وړلو د نذر حکم

سوال: که يو چا نذر ومنې چي زه به مسجد او يا کعبې ته تېل وړم نو دغه نذر منعقد سو او که نه؟

الجواب: دا نذر نه دئ منعقد سوي او د هغه پوره کول لازم او ضروري نه دي ځکه مسجد ته تېل وړل نه عبادت مقصوده دئ او نه يې له جنس څخه واجب سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

قال في الدر المختار: ولم يلزم الناذر ما ليس من جنسه فرض كعيادة مريض وتشييع جنازة ودخول مسجد ولو مسجد الرسول صلى الله عليه وسلم أو الأقصى، لأنه ليس من جنسها فرض مقصودة، وهذا هو الضابط كما في الدرر. (الدر المختار:٣/ ٧٣٦، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق:٤/ ٢٩٦، کوئته - وفتح القدير:٥/ ٩١، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

پر طالبانو د مصرفولو د نذر حکم

سوال: يو چا وويل چي زه به هره مياشت د خپلي تنخواه څخه سل روپۍ د دار العلوم پر طالبانو مصرفوم په دغه الفاظو ايا نذر صحيح دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي يې د التزام کومه صيغه نه ده ويلي لهذا په دې الفاظو نذر نه راځي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

ركن النذر هو الصيغة الدالة عليه وهو قوله لله عز شانه على كذا أو علي كذا أو هدي أو صدقة أو مالي صدقة. (بدائع الصنائع:٥/ ٨١، سعيد).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

سوال: يو چا په ټينګ نيت داسي وويل چي زه به د خپلي ګټي څلوېښتمه حصه غريبانو او مسکينانو ته او شلمه حصه مساجدو او عيدګاوو ته ورکوم اوس هغه کس وايي چي دا حساب کول ما ته ګرانه ده زه څنګه وکړم؟

جواب: که يې هغه الفاظ استعمال کړي وي کوم چي په سوال کي ذکر سوه داسي يې ونه ويل چي که ما ګټه وکړه نو داسي به کوم او همدا ډول د لزوم او د جوب کوم لفظ مثلاً د الله ﷻ له پاره به داسي کوم يا زما پر ذمه ذي چي داسي به کوم يې نه وي ويلي نو دغه ذکر سوي الفاظ نه نذر دئ او نه يمين له دغه څخه د ده پر ذمه کوم شی نه دئ لازم سوي ده ته اختيار دئ چي څومره چي ورته اسان وي هغه دي صدقه کړي.

علامه ابن نجيم مصري رحمه الله په خپله رساله النذر بالتصدق کي د نذر صيغي بيانوي او ليکي:

أما الصيغة فـ لله وعلي ونذرت لله وأنا أفعل إن كان معلقاً كأنا أحج إن دخلت الدار بخلاف أنا أحج منجزاً .(آخر الاشباه والنظائر: طبع مصر صفحة: ١٠٤).

په دې عبارت کې دا تصريح هم موجوده ده چې د ربونکي نيت که څه هم د نذر وي مګر چې تر څو پورې د لزوم وغيره الفاظ ونه وايي يوازې په نيت سره نذر نه منعقد کيږي .(امداد المفتين: ٢/ ٦١٢).

په فتاوی محموديه کې راځي:

د نذر له پاره د التزام صيغه ضروري ده . (فتاوی محموديه: ١٤/ ٥٩). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى : ﴿ فكفارته إطعام عشرة مساكين من أوسط ما تطعمون أهليكم أو كسوتهم أو تحرير رقبة فمن لم يجد فصيام ثلاثة أيام ذلك كفارة أيمانكم إذا حلفتم ﴾. (سورة المائدة، الآية: ٨٩).

دريم ....باب

د يمين د کفارې بيان

د يمين په کفاره کې د روژې حکم

سوال: يو کس د غناء په حالت کې په خپل قسم کې حانث سو خو چې کله يې د کفارې د اداء کولو اراده وکړه د هغه وخت څخه يې مسکنت شروع سو او د کفارې له پاره يې پيسې او يا کوم بل شی نه درلودنو اوس روژې نيولای سي او که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: په کفاره کي د اداء وخت اعتبار لري لهذا که د اداء کولو په وخت کي مفلس وي نو په کفاره کي د روژه نیولو ګنجائش سته یعني پرله پسي دي درې ورځي روژې ونیسي او که د مالداري تر وخته انتظار وکړي بیا هم بیله کراهته روا ده.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الثالث فهو كفارة اليمين ، لأن الواجب فيها أحد الأشياء الثلاثة باختياره فعلًا غير عين، وخيار التعيين إلى الحالف يعين أحد الأشياء الثلاثة باختياره فعلًا ....فإن لم يجد شيئاً من ذلک فعليه صيام ثلاثة أيام ... إن الكفارات كلها تجب على التراخي، هو الصحيح من مذهب أصحابنا فی الأمر المطلق عن الوقت حتى لايأثم بالتأخير عن أول أوقات الإمكان ويكون مؤدياً لاقاضياً. (بدائع الصنائع:٥/ ٩٦، سعيد).

وفی الشامي : لايجوز الصوم لمن يملک ما هو منصوص عليه فی الكفارة أو يملک بدله فوق الكفاف . (قوله: وقت الأداء) أی لا وقت الحنث فلو حنث موسراً ثم أعسر جاز له الصوم، وفي عكسه لا .... (قوله: ولاء ..... متتابعة لقراءة ابن مسعود رضي الله عنه وأبي رضي الله عنه .... فصيام ثلاثة أيام متتابعات . (فتاوی الشامي:٣/ ٧٢٧، سعيد – وكذا فی البدائع الصنائع:٥/ ١٠٢– ١١١، سعيد).

وفی البحر الرائق: ولا يجوز التكفير بالصوم إلا لمن عجز عما سوى الصوم .... والاعتبار في العجز وعدمه وقت الأداء لا وقت الحنث ، فلو حنث وهو معسر ثم أيسر لا يجوز له الصوم ، وفي عكسه يجوز . ويشترط استمرار العجز إلى وقت الفراغ من الصوم ، فلو صام المعسر يومين ثم أيسر لا يجوز له الصوم . كذا في الخانية . (البحر الرائق:٤/ ٢٩٠ – وتبيين الحقائق:٣/ ١١٢ – وفتاوی محموديه:١٤/ ٥٥). والله تعالی اعلم.

د كفارې دوډۍ د مدرسې په طالبانو خوړل

سوال: د مدرسې په طالبانو ډوډۍ خوړل روا دي او كه نه؟

الجواب: په مسكينانو طالبانو يې خوړل روا دي په مالدارو طالبانو يې خوړل روا نه دي .

قال الله تعالى : ﴿ إطعام عشرة مساكين من أوسط ما تطعمون أهليكم ﴾ . (سورة المائده: الآية، ۸۹).

په درمختار كې راځي: وكفارته .... إطعام عشرة مساكين .(الدر المختار:۳/ ۷۲۵، سعيد).

په مداد الفتاوى كې راځي:

په فقيرانو يې خوړل ضروري اغنياوو ته يې وركول درست نه دي . (امداد الفتاوى:۲/ ۵٦۰). والله ﷻ اعلم .

يوه مسكين ته د ډېرو فديو وركولو حكم

سوال: پر يو كس كفاره لازمه ده يعني شپيتو مسكينانو ته ډوډۍ وركوي خو ده د شپيتو مسكينانو د ډوډۍ پيسې يوه فقير ته وركړې او دا يې ورته وويل چې دا د شپيتو ورځو دي شپيته ورځې يې استعمالوه نو كفاره يې اداء سوه او كه نه؟

الجواب: يوه فقير ته يې په يوه ځل د شپيتو ورځو له پاره وركول روا نه دي او په دغه سره كفاره نه اداء كيږي، البته كه يې يو څوك وكيل جوړ كړ چې ته دغه پيسې شپيته ورځې فقير ته وركوه نو دا درسته ده خو كه يې يوه مسكين ته په يوه ورځ كې شپيته ځله وزكړ نو د هغه د جواز په هكله صاحب د هدايې اختلاف نقل كړى دئ ځيني يې روا گڼي او نوريې روا نه گڼي علامه شامي د نه جواز قول صحيح گڼلي دئ ځكه اصلي مقصد د فقير حاجت پوره كول دي او هره ورځ يې حاجت بدليږي.

وگورئ په هدايه كې راځي:

وإن أعطي مسكيناً واحداً ستين يوماً أجزأه، وإن أعطاه في يوم واحد لم يجزه إلا عن يومه، لأن المقصود سد خلة المحتاج، والحاجة تتجدد في كل يوم، فالدفع إليه في اليوم الثاني

Maktaba Tul Ishaat.com

كالدفع إلى غيره ، وهذا في الإباحة من غير خلاف . وأما التمليك من مسكين واحد في يوم واحد بدفعات فقد قيل : لا يجزئه، وقد قيل : يجزئه، لأن الحاجة إلى التمليك تتجدد في يوم واحد ، بخلاف ما إذا دفع بدفعة واحدة ، لأن التفريق واجب بالنص . (الهداية:٢/ ٤١٥، فصل فى كفارة الظهار).

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله (عشرة مساكين) أي تحقيقا أو تقديراً، حتى لو أعطى مسكيناً واحداً في عشرة أيام كل يوم نصف صاع يجوز، لو أعطاه في يوم واحد بدفعات في عشر ساعات قيل : يجزى ، وقيل:لا ، وهو الصحيح ، لأنه إنما جاز إعطاؤه في اليوم الثاني تنزيلاً له منزلة مسكين آخر كتجدد الحاجة، من حاشية السيد أبي السعود . (فتاوى الشامي:٣/ ٧٢٥، سعيد).

وفى الهداية: وإن أمر غيره أن يطعم عنه من ظهاره ففعل أجزأه ، لأنه استقراض معنى ، والفقير قابض له أولاً ثم لنفسه ، فتحقق تملكه ثم تمليكه . (الهداية: ٤١٤، فصل في كفارة الظهار).

په درمختار کي راځي:

وفى الأشباه : جاز التوكيل بكل ما يعقده الوكيل لنفسه .... وفي تكملة رد المحتار: وفى المجمع : وتجوز الوكالة بكل عقد يجوز للموكل مباشرته. وقال فى الهداية : كل عقد جاز أن يعقده الإنسان لنفسه جاز أن يوكل به غير . (تكملة رد المحتار مع الدر المختار:٧/ ٣٦٠، قبيل باب الوكالة بالخصومة والقبض، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د کفارو د تداخل حکم

سوال: یو چا څو ځله قسم واخیست او څو ځله حانث سو څو کفاري پر لازمي دي ایا یوه کافي ده؟

الجواب: پر تعدد یمین د کفاري د تعدد دوه قوله دي:

۱_ د تداخل قول شامي له بغیه وغیره څخه نقل کړی دئ.

۲_ او د عدم تداخل قول هندیې او په التحریر المختار للرافعي کي راغلي دي او بحر له خلاصې او تجرید څخه نقل کړی دئ لومړی قول اسان او دوهم قول پر احتیاط بناء دئ، البته د ضرورت په وخت کي په تداخل سره د عمل کولو ګنجائش سته.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وفي البحر عن الخلاصة والتجريد: وتتعدد الكفارة لتعدد اليمين. وفي الشامي: وفي البغية كفارات الأيمان إذا كثرت تداخلت، ويخرج بالكفارة الواحدة عن عهدة الجميع، وقال شهاب الأئمة: هذا قول محمد. قال صاحب الأصل: هو المختار عندي، مقدسي. ومثله في القهستاني عن المنية. (الدر المختار مع فتاوى الشامي :۳/ ۷۱٤، مطلب تتعدد الكفارة لتعدد اليمين).

وفي التحرير المختار للرافعي: (قوله: قال صاحب الأصل: هو المختار عندي) لا يخفى أن كلا من البغية والمنية للزاهدي، ومعلوم أن ما انفرد به لايعول عليه، فلا يعتمد على القول بالتداخل، بل يعتمد على ماذكره غيره من عدم التداخل حتى يوجد تصحيح لخلافه ممن يعتمد عليه في نقله، ومما يدل لتعددها ما ذكره في الفتح أول الحدود أن كفارة الإفطار المغلب فيها جهة العقوبة حتى تداخلت، وأن كفارة الأيمان المغلب فيها جهة العبادة. وفي الهندية: إذا قال الرجل: ((والله والرحمن لا أفعل كذا)) كانا يمينين حتى إذا حنث كان عليه كفارتان في ظاهر الرواية، فعلم أن تعدد الكفارة هو ظاهر الرواية .(التحرير المختار:۳/ ۱۳،

سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په احسن الفتاوی کي راځي:

د تعدد د کفاري او توحد دواړه قولونه ستده دوهم او سع او ایسر او اول د ارجح او اشهر کېدو څخه علاوه احوط هم دي. (احسن الفتاوی: ٥/ ٤٩٦). والله ﷻ اعلم.

د روژې په نذر کي د فدیې ورکولو حکم

سوال: که یو چا د روژې نذر ومنی نو د قدرت سره سره فدیه ورکولای سي او که نه؟

الجواب: د روژې په نذر کي که پر روژه قدرت ولري نو فدیه ورکول روا نه دي بلکي روژه نیول ضروري ده، البته که داسي څوک وي چي پر روژه قدرت نه لري د هغه له پاره فدیه ورکول روا ده.

په درمختار کي راځي:

وللشيخ الفاني العاجز عن الصوم الفطر، ويفدي وجوبًا ولو في أول الشهر وبلا تعدد فقير كالفطرة لو موسرًا، وإلا فيستغفر الله، هذا إذا كان الصوم أصلًا بنفسه وخوطب بأدائه. وفي الشامية: (قوله وللشيخ الفاني) في القهستاني عن الكرماني: المريض إذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض، (قوله العاجز عن الصوم) أي عجزًا مستمرا، أما لو لم يقدر عليه لشدة الحر كان له أن يفطر ويقضيه في الشتاء ..... (قوله: هذا إذا كان الصوم) أي وجوب الفدية على الشيخ الفانئ ونحوه. (قوله: أصلاً بنفسه) كرمضان وقضاءه والنذر، كما مر فيمن نذر صوم الأبد، وكذا لو نذر صوماً معيناً فلم يصم حتى صار فانياً جازت له الفدية. (الدر المختار مع فتاوى الشامي: ٢/ ٤٢٧، فصل فى العوارض المبيحة....، سعيد).

وقال فى الفتاوى الهندية: وقد روي عن محمد رحمه الله تعالى قال: إن علق النذر بشرط يريد كونه كقوله إن شفى الله مريضي أو رد غائبي لا يخرج عنه بالكفارة، كذا في المبسوط. ويلزمه عين ما سمى، كذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية: ٢/ ٦٥).

په امداد الفتيين کي راځي:

که په واقع کي د روژو له اداء کولو شخه معذوره وي نو د ده پر ذمه لازمي دي او د نه اداء کولو په صورت کي د ده پر ذمه ضروري ده چي له مرګ څخه وروسته د هغه د فديې د اداء کولو وصيت وکړي. (امداد المفتيين:٥/ ٥٦).

او همدا ډول وګورئ: (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٣/ ٣٠٨_ فتاوی رحیمیه:٦/ ٧٠ – وفتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٤٨١ – واحسن الفتاوی:٥/ ٤٧٧). والله ﷻ اعلم.

د روژې په نذر کي د عجز په وخت کي د فديې ورکولو حکم

سوال: يوې ښځي ديوه کال د روژو نذر منلي دئ خو اوس ډېره کمزوري ده پنځه مياشتې روژې يې نيولي دي پاته اوه (٧) مياشتې نيول ورته مشکل اوس به څه کوي؟

الجواب: د نذر پر منعقد کېدو د هغه پوره کول لازم او ضروري دي لهذا ټول کال روژې نيول ضروري ده خو که د کوم عذر يا مريضي وغيره له امله د روژې نيولو څخه عاجزه وي او آئنده يې د صحت اميد هم نه وي نو د هرې روژې په بدله کي فديه ورکول ضروري دي او که بېله روژې نيولو وفات سي نو د فديې وصيت کول به ضروري وي او په فديه کي به د هرې روژې په بدله کي د صدقة الفطر اندازه اداء کوي.

وګورئ په حاشية الطحطاوي کي راځي:

إذا نذر شيئاً من قربات لزمه الوفاء به، والإجماع على وجوب الإيفاء به. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ٣٧٨).

په درمختار کي راځي:

نذر صوم رجب فدخل وهو مريض أفطر وقضى كرمضان، أو صوم الأبد فضعف لاشتغاله بالمعيشة أفطر وكفر. وفي الشامية: (قوله وكفر) أي فدى. (الدر المختار مع الفتاوی الشامی:٢/ ٤٣٨، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

وفی الشامي : (قوله فدی) أی لکل یوم نصف صاع من بر أو صاعاً من شعیر، وإن لم یقدر استغفر الله . (فتاوی الشامی:٣/ ٧٤١).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولو نذر أن یصوم أبداً فضعف عن الصوم لاشتغاله بالمعیشة قال: له أن یفطر ویطعم لکل یوم نصف صاع من الحنطة، لأنه استیقن أنه لایقدر علی قضائه، فإن لم یقدر علی ذلک لعسرته یستغفر الله.... وقد نص علی هذا في باب الاعتکاف: إذا أوجب علی نفسه اعتکافاً فمات قبل أن یعتکف یلزمه أن یوصي بذلک، فیطعم عنه بعد موته عن نفسه کل یوم نصف صاع من الحنطة، وإذا ثبت هذا فی الاعتکاف فکذلک في باب الصوم . (فتاوی قاضي خان:١/ ١٠٦ علی هامش الهندیة). والله ﷻ اعلم.

د کفارې د تداخل یو صورت

سوال: یو چا د غفلت په وخت کي قسمونه اخیستل او بیا به یې ماتول اوس د تبلیغ په برکت اصلاح سو په یاد یې نه دي چي څومره قسمونه یې مات کړي دي؟

الجواب: په دې صورت کي د ټولو د طرفه یوه کفاره اداء کول کافي ده .

په اعلاء السنن کي راځي:

وقال عطاء فیمن قال: والله لا أفعل کذا وکذا، الأمرین شتی فعمهما بالیمین قال: کفارة واحدة، أخرجه ابن حزم فی المحلی : (٨/ ٥٢) وسنده صحیح .

روینا من طریق حماد بن سلمة عن أبان عن مجاهد قال: زوج ابن عمر رضي الله عنه مملوکه من جاریة له، فأراد المملوک سفراً، فقال له ابن عمر رضي الله عنه: طلقها، فقال المملوک : والله لا طلقتها، فقال له ابن عمر رضي الله عنه : والله لتطلقنها، کرر ذلک ثلاث مرات، قال مجاهد: فقلت

لابن عمر رضي الله عنه : كيف تصنع ؟ قال: أكفر عن يميني، فقلت له : قد حلفت مراراً، قال: كفارة واحدة، أخرجه ابن حزم فی المحلی (٨/ ٥٣) وسند صحيح . (اعلاء السنن:١١/ ٤٢٦).

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي البغية : كفارات الأيمان إذا كثرت تداخلت ، ويخرج بالكفارة الواحدة عن عهدة الجميع ، وقال شهاب الأئمة : هذا قول محمد . قال صاحب الأصل : هو المختار عندي، مقدسي . ومثله في القهستاني عن المنية . (الدر المختار مع فتاوى الشامي :٣/ ٧١٤، مطلب تتعدد الكفارة لتعدد اليمين).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوى:٥/ ٤٩٥ – وكفايت المفتى:٢/ ٢٤٥). والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com



قال الله تعالى: ﴿ واللاتي يأتين الفاحشة من نسائكم فاستشهدوا عليهن أربعةً منكم فإن شهدوا فأمسكوهن في البيوت حتى يتوفاهن الموت أو يجعل الله لهن سبيلا ﴾. (سورة النساء: الآية ١٥).

كتاب الحدود
والقصاص

قال رسول الله ﷺ ادرءوا الحدود عن المسلمين ما استطعتم فإن كان له مخرج فخلوا سبيله فإن الإمام أن يخطئ في العفو خير من أن يخطئ في العقوبة . (رواه الترمذی).

باب اول
د حدودو او قصاص بیان

﴿ رساله ﴾

البراهين الرفيعة لإثبات الرجم فی الشريعة

د رجم ثبوت او پر هغه د اعتراضونو جواب

سوال: رجم د کومه ځایه څخه ثابت دئ؟ او اکثره په نامه روښان فکره د رجم پر سزا اعتراض کوي چي له قرآن کریمه څخه ثابته نه ده او د اسلامي احکامو خلاف ده د دې جواب څه دئ؟

الجواب: شرعي مسائل یا په کتاب الله ثابتیږي یا د رسول الله ﷺ په سنت یا د امت په اجماع کي یوه مسئله له دغو درو څخه صراحةً ثابته نه وي نو بیا د امت د فقهاوو او د مجتهدینو امامانو د اجتهاد او استنباط وطرفته رجوع کیږي خو د رجم مسئله په خپله له کتاب الله څخه ثابته ده او د رسول الله ﷺ په سنتو کي یې هم ثبوت سته همدا ډول پر رجم د امت اجماع هم ده یعني لومړی قرن صحابه وو له دور څخه تر نن ورځي پوري پر رجم د امت اجماع ده .

په قرآن کریم کي د رجم ثبوت سته:

قال الله تعالى: ﴿ واللاتي يأتين الفاحشة من نسائكم فاستشهدوا عليهن أربعةً منكم فإن شهدوا فأمسكوهن في البيوت حتى يتوفاهن الموت أو يجعل الله لهن سبيلا ﴾. (سورة النساء: الآية ١٥).

په دې آیت مبارکه کي د زنا کونکو ښځو په هکله دا حکم ورکول سوی دئ چي د دوی پر جرم دي څلور مسلمانان نارینه شاهدان ودرول سي او کله چي په شاهدې یې جرم ثابت سي نو دوی دي په کورونو کي بندي سي تر څو چي د الله تعالی له طرفه کوم حکم نازل سي بیا نبي کریم ﷺ د الهی وحي په ذریعه د ﴿ لهن سبيلاً ﴾ په تفسیر کي وفرمایل، چي د زنا مرتکب که محصن (واده لرونکي) وي نو هغه دي په رجم کړي او کوم چي غیر محصن وي نو هغه دي سل دري ووهل سي .

لکه څنګه چي په صحیح مسلم شریف کي راځي:

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال كان النبي ﷺ إذا أنزل عليه كرب لذلك وتربد له وجهه، قال : فأنزل عليه ذات يوم فلقى كذلك فلما سرى عنه قال : « خذوا عنى فقد جعل الله لهن

Maktaba Tul Ishaat.com

سبيلاً : الثيب بالثيب والبكر بالبكر الثيب جلد مائة ثم رجم بالحجارة ، والبكر جلد مائة ثم نفي سنة ». (رواه مسلم:٢/ ٦٥، باب حد الزنا).

غرض دا چي د سبيل تشريح او وضاحت كوم انساني عقل نه ده كړي بلكي حق تعالى په خپله په وحي سره كړي ده لكه څنګه چي الله تعالى په قرآن كريم كي د لمانځه حكم كړى دئ نو دا چي د لمانځه څخه څه مراد دئ د هغه تشريح ده مبارك ﷺ كړي ده هغه به له قرآنه ثابته شمېرل كيږي او څوك چي د دغه كيفيت او اندازي د عدم ثبوت دعوه كوي هغه به د دينه څخه دباندي شمېرل كيږي ځيني حضرات فرمايي چي د جلد حكم په قرآن مجيد په سورة نور كي موجود دئ او د رجم حكم هم په قرآن كي موجودو وو خو د هغه آيت تلاوت منسوخ سو او حكم يې پاته دئ .

الشيخ والشيخة إذا زنيا فارجموهما البتة نكالاً من الله والله عزيز حكيم . (صحيح ابن حبان:١٠/ ٢٧٤/ ٤٤٢٩ - وسنن كبرى بيهقى :٨/ ٢١١/ ١٦٦٨٨ - ومسند بزار:١/ ٧١ - ومسند احمد: رقم ٢٠٢٦١).

لكه څنګه چي د دغه جواب تائيد د حضرت عمر رضي الله عنه له يوې خطبې څخه كيږي چي په هغه كي ده رضي الله عنه وفرمايل، چي رجم الله تعالى په خپل كتاب كي نازل كړى دئ او موږ هغه ولوستي او هغه مو ياد كړ اوس يې تلاوت منسوخ سو او حكم يې پاته دئ له دې وروسته رسول الله ﷺ رجم وكړ او ابو بكر صديق رضي الله عنه رجم وكړ او ما هم رجم كړى دئ كه په كتاب الله كي زياتونه بده نه واى نو ما به خامخا دغه ايت په قرآن مجيد كي ليكلي واى ځكه ما ته دا ېږه سته چي څه كسان به خامخا وروسته داسي پيدا سي چي له دې امله به د رجم څخه انكار وكړي چي دغه په كتاب الله كي نه سته او د دغه انكار په سبب به دا خلك ګمرهان سي او كافران به سي .

اشكال او جواب :

اشكال : پر دغه روايت ځيني كسان دا اشكال كوي چي شيخ او شيخه د واده سوي په معنا كي مشهور نه دي بلكي د ډېر عمر لرونكي په معنا راځي د دې جواب به څه وي ؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي د عربو په محاوره کي د قباحت په مقام کي د ادنې ذکر کيږي او د مدح په ځاى کي د اعلى ذکر کيږي د مقام قباحت مثال په حديث شريف کي راځي:

لعن الله السارق يسرق البيضة فتقطع يده . (رواه ابن ماجة:ص ١٨٥).

د قباحت په مقام کي د ادنى يعني هګۍ ذکر وسو چي له هغه څخه لږ شى مراد دئ همدا ډول او ((يسرق الحبل فيقطع يده)) هم راغلى دئ . (ابن ماجه:ص، ١٨٥).

((او اتقوا النار ولو بشق تمرة)) له همدغه جملې څخه دئ همدا ډول دلته هم د واده سوي هغه کمه درجه ذکر سوي ده چي واده والا د سپين ږيرتوب په عمر کي هم زنا نه پرېږدي همدا ډول په بخاري شريف وغيره کي حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه فرمايي:

والله لو منعوني عناقاً كانوا يؤدونها إلى رسول الله ﷺ لقاتلتهم . (رواه البخارى:١/ ١٨٨).

که دا خلک يو پسه هم له زکوة څخه وګرځوي نو زه به ورسره قتال کوم او د مدح په مقام کي د اعلى ذکر کيږي لکه واتيتم احداهن قنطارا دغه قانون شاه عبد الغني مجددي د ابن ماجه په حاشيه کتاب الحدود (١٨٣) کي نقل کړى دئ او د هغه څخه اسانه تعبير داسي کيږي چي د شيخ او شيخه ذکر د مبالغي په مقام کي سوى دئ د رجم په هکله چي کوم احاديث نقل سوي دي د هغو تعداد دومره زيات دئ کانها المتواتر معنا ګوياکه د معنا په اعتبار متواتر دي امت هغه احاديث قبول کړى دي او پر هغه د امت اجماع ده .

له احاديثو مبارکه وو څخه د رجم ثبوت:

١ــ عن جابر بن عبد الله الأنصاري رضي الله عنه أن رجلاً من أسلم أتى رسول الله ﷺ فحدثه أنه قد زنى فشهد على نفسه أربع شهادات فأمر به رسول الله ﷺ فرجم ، وكان قد أحصن . (رواه البخارى:٢/ ١٠٠٦/ ٦٥٥٦، باب الرجم – ومسلم:٢/ ٦٦).

Maktaba Tul Ishaat.com

٢ـ عن أبي هريرة رضي الله عنه وزيد بن خالد رضي الله عنه قالا: كنا عند النبي ﷺ فقام : رجل فقال : أنشدك الله إلا قضيت بيننا بكتاب الله فقام خصمه ، وكان أفقه منه فقال : اقض بيننا بكتاب الله وأذن لي قال : قل، قال : إن ابني كان عسيفًا على هذا فزنى بامرأته فافتديت منه بمئة شاة وخادم ثم سألت رجالاً من أهل العلم فأخبروني أن على ابني جلد مئة وتغريب عام ، وعلى امرأته الرجم، فقال النبي ﷺ : والذي نفسي بيده لأقضين بينكما بكتاب الله جل ذكره المائة شاة والخادم رد ، عليك وعلى ابنك جلد مئة وتغريب عام واغد يا أنيس على امرأة هذا فإن اعترفت فارجمها فغدا عليها فاعترفت فرجمها. (صحيح البخاری:٢/ ١٠٠٨/ ٦٥٦٩ – ومسلم:٢/ ٦٩ – وترمذی:١/ ٢٦٤ – ومؤطا امام مالک:ص ٦٨٥).

٣ـ عن ابن عباس رضي الله عنهما ، قال : قال عمر رضي الله عنه لقد خشيت أن يطول بالناس زمان حتى يقول قائل لا نجد الرجم في كتاب الله فيضلوا بترك فريضة أنزلها الله ألا وإن الرجم حق على من زنى وقد أحصن إذا قامت البينة ، أو كان الحبل ، أو الاعتراف . (رواه البخاری:٢/ ١٠٠٨/ ٦٥٧٠).

وفي روايته قال: فجلس عمر على المنبر فلما سكت المؤذنون قام فأثنى على الله بما هو أهله ثم قال : أما بعد فإني قائل لكم مقالةً قد قدر لي أن أقولها لا أدري لعلها بين يدي أجلي فمن عقلها ووعاها فليحدث بها حيث انتهت به راحلته ، ومن خشي أن لا يعقلها فلا أحل لأحد أن يكذب علي إن الله بعث محمدًا ﷺ بالحق وأنزل عليه الكتاب فكان مما أنزل الله آية الرجم فقرأناها وعقلناها ووعيناها رجم رسول الله ﷺ ورجمنا بعده فأخشى إن طال بالناس زمان أن يقول قائل والله ما نجد آية الرجم في كتاب الله فيضلوا بترك فريضة أنزلها الله

والرجم في كتاب الله حق على من زنى إذا أحصن من الرجال والنساء إذا قامت البينة أو كان الحبل أو الاعتراف .... (رواه البخاري:٢/ ١٠٠٩/ ٦٥٧١، باب الاعتراف بالزنا – ومسلم:٢/ ٦٥ – والترمذی:١/ ٢٦٤ – ومؤطا امام مالک:٦٨٥).

په دغه روايت کي له کتاب الله څخه قرآن کريم مراد دئ يا د الله تعالى حکم دئ :

٤_ عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما، أن اليهود جاؤوا إلى رسول الله ﷺ فذكروا له أن رجلاً منهم وامرأةً زنيا ، فقال لهم رسول الله ﷺ : ما تجدون في التوراة في شأن الرجم فقالوا : نفضحهم ويجلدون فقال عبد الله بن سلام رضي الله عنه : كذبتم إن فيها الرجم فأتوا بالتوراة فنشروها فوضع أحدهم يده على آية الرجم فقرأ ما قبلها وما بعدها فقال له عبد الله بن سلام رضي الله عنه : ارفع يدك ؟ فرفع يده فإذا فيها آية الرجم قالوا : صدق يا محمد ! فيها آية الرجم فأمر بهما رسول الله ﷺ فرجما فرأيت الرجل يجنأ على المرأة يقيها الحجارة. (رواه البخاری:١٠١١/ ٦٥٧٩، باب احكام اهل الذمة – والترمذی:١/ ٢٦٦ – ومؤطا امام مالک ص ٦٨٣ – مسلم :٢/ ٦٩).

٥_ عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : خذوا عني خذوا عني ، قد جعل الله لهن سبيلاً : الثيب بالثيب جلد مائة ورمي بالحجارة والبكر بالبكر جلد مائة ونفي سنة . (رواه ابو داؤد:٢/ ٦٠٦، باب فی الرجم – ومسلم:٢/ ٦٥، باب الزنا) .

٦_ عن أبي هريرة رضي الله عنه أنه قال أتى رجل من المسلمين رسول الله ﷺ وهو في المسجد فناداه فقال : يا رسول الله ! إني زنيت فأعرض عنه فتنحى تلقاء وجهه فقال له يا رسول الله إني زنيت فأعرض عنه حتى ثنى ذلك عليه أربع مرات فلما شهد على نفسه أربع شهادات دعاه رسول الله ﷺ فقال : أبك جنون ؟ قال : لا، قال : فهل أحصنت ؟ قال : نعم، فقال رسول ال

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ « اذهبوا به فارجموه وفيه يقول جابر رضي الله عنه فكنت فيمن رجمه فرجمناه بالمصلى. (مسلم :۲/ ٦٦، باب حد الزنا).

۷_ عن عبد الله بن بريدة عن أبيه .... قال: (فلما رجم ماعز بن مالک رضي الله عنه) فجاءت الغامدية فقالت : يا رسول الله! إنى قد زنيت فطهرنى وإنه ردها فلما كان الغد قالت يا رسول الله لم تردنى لعلك أن تردنى كما رددت ماعزا فوالله إنى لحبلى. قال : إما لا فاذهبى حتى تلدى قال: فلما ولدت أتته بالصبى فى خرقة قالت : هذا قد ولدته، قال : اذهبى فأرضعيه حتى تفطميه فلما فطمته أتته بالصبى فى يده كسرة خبز، فقالت : هذا يا نبى الله قد فطمته وقد أكل الطعام فدفع الصبى إلى رجل من المسلمين ثم أمر بها فحفر لها إلى صدرها ، وأمر الناس فرجموها فيقبل خالد بن الوليد بحجر فرمى رأسها فتنضح الدم على وجه خالد فسبها فسمع نبى الله ﷺ سبه إياها فقال : مهلاً يا خالد فوالذى نفسى بيده لقد تابت توبة لو تابها صاحب مكس لغفر له ثم أمر بها فصلى عليها ودفنت.(رواه مسلم:۲/ ٦٨، باب حد الزنا – وابو داؤد:۲/ ٦٠٩).

۸_ عن عمران بن حصين رضي الله عنه أن امرأة من جهينة أتت نبى الله ﷺ وهى حبلى من الزنا، فقالت : يا نبى الله أصبت حداً فأقمه على فدعا نبى الله ﷺ وليها، فقال : أحسن إليها فإذا وضعت فائتنى بها ففعل فأمر بها نبى الله ﷺ فشدت عليها ثيابها ثم أمر بها فرجمت ثم صلى عليها فقال له عمر رضي الله عنه تصلى عليها يا نبى الله وقد زنت فقال : لقد تابت توبة لو قسمت بين سبعين من أهل المدينة لوسعتهم ، وهل وجدت توبة أفضل من أن جاءت بنفسها لله تعالى. (رواه مسلم:۲/ ٦٩ – وابو داؤد: ۲/ ٦٠٩).

۹_ عن جابر ﷺ أن رجلاً زنا بامرأة فأمر به رسول الله ﷺ فجلد الحد ثم أخبر أنه محصن فأمر به فرجم . (ابو داؤد:۲/ ۶۰۹).

۱۰_ عن علي ﷺ، حين رجم المرأة يوم الجمعة وقال : قد رجمتها بسنة رسول الله ﷺ.

(رواه البخاری:۲/ ۱۰۰۶/ ۶۵۵٤، باب رجم المحصن).

۱۱_ عن عبد الله قال : قال رسول الله ﷺ: **لا يحل دم مسلم يشهد أن لا إله إلا الله وأني رسول الله! إلا بإحدى ثلاث الثيب الزاني والنفس بالنفس والتارك لدينه المفارق للجماعة .**

(رواه ابو داؤد:۲/ ۵۹۸ – والبخاری:۱۰۱۶ – ومسلم:۲/ ۵۹، باب مايباح به دم المسلم، فيصل).

۱۲_ عن عمر بن الخطاب ﷺ قال : رجم رسول الله ﷺ **ورجم ابو بكر ﷺ ورجمت ولولا أني أكره أن أزيد في كتاب الله لكتبته في المصحف فإني قد خشيت أن تجيء أقوام فلا يجدونه في كتاب الله فكيفرون به** . وفي الباب عن علي ﷺ حديث عمر ﷺ حديث حسن صحيح، وروي من غير وجه عن عمر ﷺ . (رواه الترمذی:۱/ ۲۶٤).

د صحابه وو له اجماع او د أمت له اجماع څخه د رجم ثبوت:

۱_ حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کي فرمايي:

قال ابن بطال : أجمع الصحابة ﷺ وأئمة الأمصار على أن المحصن إذا زنى عامداً عالماً مختاراً فعليه الرجم ..... واحتج الجمهور بأن النبي ﷺ رجم وكذا الأئمة بعده .(فتح الباری:۱۲/ ۱۱۸، باب رجم المحصن).

۲_ بداية المجتهد کي ابن رشد مالکي رحمه الله فرمايي:

فأما الثيب الأحرار المحصنون فإن المسلمين أجمعوا على أن حدهم الرجم إلا فرقة من أهل الأهواء ....عمدة الجمهور أن رسول الله ﷺ رجم ماعزاً ورجم امرأة من جهينة ورجم

Maktaba Tul Ishaat.com

يهوديين وامرأة من عامر من الأزد، وكل ذلک مخرج فی الصحاح . (بداية المجتهد:۲/ ۳۲۵، الباب الثانی فی اصناف الزناة).

۳_ حضرت مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله فرمايي:

قال ابن المنذر أقسم النبي ﷺ فی العسيف أنه يقضي بكتاب الله وخطب عمر رضي الله عنه بذلک على رؤوس الناس وعمل بها الخلفاء الراشدون رضي الله عنهم فلم ينكره أحد فكان إجماعاً. (بذل المجهود:۵/ ۱۳۹).

۴_ په مرقات کي ملا علي قاري رحمه الله فرمايي:

الرجم عليه إجماع الصحابة رضي الله عنهم ومن تقدم من علماء المسلمين وإنكار الخوارج الرجم باطل لأنهم إن أنكروا حجية إجماع الصحابة رضي الله عنهم فجهل مركب بالدليل بل هو إجماع قطعي وان أنكروا وقوعه عن رسول الله ﷺ فهو متواتر المعنى والأحاد في تفاصيل صوره وخصوصياته وأما أصل الرجم فلا شک فيه .... والحاصل أن إنكاره إنكار دليل قطعي بالاتفاق . (مرقات شرح مشكوة :۷/ ۱۲٤-۱۲۵، كتاب الحدود، ملتان).

۵_ ابن حزم اندلسی حنبلي په مراتب الاجماع کي فرمايي:

اتفقوا أنه إذا زنى كما ذكرنا وكان قد تزوج قبل ذلک وهو بالغ مسلم حر عاقل حرة مسلمة بالغة عاقلة نكاحاً صحيحاً.... أن عليه الرجم بالحجارة حتى يموت . (مراتب الاجماع:۱۲۹، كتاب الحدود، بيروت).

٦_ علامه آلوسی رحمه الله په روح المعاني کي فرمايي:

قد أجمع الصحابة رضی اللہ عنہم ومن تقدم من السلف وعلماء الأمة وأئمة المسلمين على أن المحصن يرجم بالحجارة حتى يموت ... لأن ثبوت الرجم منه عليه السلام متواتر المعنى كشجاعة على رضی اللہ عنہ وجود حاتم . (روح المعانى:۱۸/ ۷۸، القاهرة).

۷_ قاضي ثناء الله پاني پتي رحمہ اللہ په تفسير مظهري كي فرمايي:

وإذا كان الزاني والزانية محصنين يرجمان بإجماع الصحابة ومن بعدهم من علماء النصيحة .... وبه قال علماء الفقه والحديث وقد جرى عمل الخلفاء الراشدين بالرجم مبلغ حد التواتر . (التفسير المظهرى:٦/ ٤٢٢، بلوچستان).

۸_ دهدايې مصنف رحمہ اللہ فرمايي:

وإذا وجب الحد وكان الزاني محصناً رجمه بالحجارة حتى يموت لأنه عليه الصلاة والسلام رجم ماعزاً وقد أحصن وقال في الحديث المعروف وزنا بعد إحصان وعلى هذا إجماع الصحابة رضي الله تعالى عنهم . (الهداية:٢/ ٥٠٩، فصل فى كيفية الحد – وفتح القدير:٥/ ٢٢٤ – وتبيين الحقائق: كتاب الحدود – ومجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:٤/ ١٤١، باب حد الزنا).

۹_ مشهور فقيه، علامه ابن قدامه الحنبلي رحمہ اللہ فرمايي:

الرجم على الزاني المحصن رجلاً كان أو امرأة وهذا قول عامة أهل العلم من الصحابة رضی اللہ عنہم والتابعين ومن بعدهم من علماء الأمصار في جميع الأعصار ولا نعلم فيه مخالفاً الا الخوارج .... وقد ثبت الرجم عن رسول الله ﷺ بقوله وفعله في أخبار تشبه المتواتر وأجمع عليه أصحاب رسول الله ﷺ . (المغنى لابن قدامة الحنبلى:١٠/ ١٢٠، وجوب الرجم على الزانى المحصن، بيروت).

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۰_ علامه ابن نجيم مصري رحمه الله فرمايي:

قوله فإن كان محصنًا رجمه في فضاء حتى يموت، لأنه عليه السلام رجم ماعزًا وقد كان أحصن وقال في الحديث المعروف وزنًا بعد إحصان وعلى هذا إجماع الصحابة رضي الله عنهم، وإنكار الخوارج الرجم باطل ؛ لأنهم إن أنكروا حجية إجماع الصحابة رضي الله عنهم فجهل مركب بالدليل بل هو إجماع قطعي ، وإن أنكروا وقوعه من رسول الله ﷺ لإنكارهم حجية خبر الواحد فهو بعد بطلانه بالدليل ليس مما نحن فيه ؛ لأن ثبوت الرجم عن رسول الله ﷺ متواتر المعنى . (البحر الرائق:۵/ ۸، كتاب الحدود، كوئته).

۱۱_ په التقرير والتحبير كي علامه ابن امير الحاج الحلبي رحمه الله فرمايي:

أن حكمه صلى الله عليه وسلم على الواحد حكمه على الجماعة (حتى حكموا على غير ماعز بما حكم به) النبي ﷺ من الرجم (عليه) أي على ماعز رضي الله عنه حتى قال عمر رضي الله عنه خشيت أن يطول بالناس زمان حتى يقول قائل لا نجد الرجم في كتاب الله فيضلوا بترك فريضة أنزلها الله ألا وإن الرجم حق على من زنى ، وقد أحصن إذا قامت البينة أو كان الحبل أو الاعتراف . (رواه البخاري.... وحكوا على ذلک اجماع الصحابة ومن بعدهم ممن يعتد باجماعة . (التقرير والتحبير على التحرير فى اصول الفقه:۱/ ۲۷۹، مسألة خطاب الواحد).

۱۲_ امام ابو بكر جصاص رازي رحمه الله فرمايي:

قال أبو بكر : لم يختلف السلف في أن حد الزانيين في أول الإسلام ما قال الله تعالى ﴿ واللاتي يأتين الفاحشة من نسائكم فاستشهدوا عليهن أربعةً منكم ﴾ إلى قوله ....﴿ والذان يأتيانها منكم فآذوهما ﴾ . فكان حد المرأة الحبس والأذى بالتعيير وكان حد الرجل التعيير

ثم نسخ ذلك عن غير المحصن بقوله تعالى: ﴿ الزانية والزاني فاجلدوا كل واحد منهما مائة جلدة ﴾ ونسخ عن المحصن بالرجم وذلك لأن في حديث عبادة بن الصامت رضي الله عنه عن النبي ﷺ خذوا عني قد جعل الله لهن سبيلاً البكر بالبكر جلد مائة وتغريب عام والثيب بالثيب الجلد والرجم فكان ذلك عقيب الحبس والأذى المذكورين في قوله: ﴿ واللاتي يأتين الفاحشة من نسائكم ﴾ إلى قوله ﴿ أو يجعل الله لهن سبيلًا ﴾ . (احكام القرآن للجصاص:۳/ ۲۵۵، سورة النور، سهيل اكيدمى).

له پورتنيو نصوصو او دلائلو څخه د رجم حكم د ورځې په شان روښانه سو چې د انكار گنجائش يې نه سته لهذا كه كوم فرد يا ټولنه انكار وكړي نو دا سخته گمراهي ده د رجم څخه انكار د گمراهي سبب دئ .

۱_ وگورئ په كشف الاسرار كي راځي:

إن المتواتر يوجب علم طمانية ويقين والقول بأن المتواتر يوجب علم طمانية لايقين قول باطل يو دي إلى الكفر فإن وجود الأنبياء ومعجزاتهم لايثبت خصوصاً في زماننا إلا بالنقل فإذا لم يوجب المتواتر يقيناً لا يثبت العلم لأحد في زماننا بنبوتهم وحقيتهم حقيقة وهذا كفر صريح . (كشف الاسرار:۲٦۳).

۲_ علامه ابن همام رحمه الله په فتح القدير كي فرمايي:

قوله عليه إجماع الصحابة رضي الله عنهم ومن تقدم من علماء المسلين وإنكار الخوارج الرجم باطل لأنهم إن أنكروا حجية إجماع الصحابة رضي الله عنهم فجهل مركب بالدليل بل هو إجماع قطعي وإن أنكروا وقوعه من رسول الله ﷺ لإنكارهم حجية خبر الواحد فهو بعد بطلانه بالدليل ليس مما نحن فيه لأن ثبوت الرجم عن رسول الله ﷺ متواتر المعنى كشجاعة على

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ وجود حاتم والحال أن إنكاره إنكار دليل قطعي بالاتفاق . (فتح القدير:٥/ ٢٢٤، فصل فی كيفية إقامة الحس، دار الفكر).

۳_ حضرت شاه صاحب رحمه الله په اكفار الملحدين في ضروريات الدين كي فرمايي:

وكذلک وقع الإجماع من علماء الدين على تكفير كل من دافع نص الكتاب أی منع ونازع فيما جاء صريحاً فی القرآن .... كتكفير الخوارج بإبطال الرجم للزاني والزانية محصنين . (اكفار الملحدين فی ضروريات الدين:٥٧).

د اشكالاتو جوابونه:

١_ اشكال: د رجم منكرين وايي چي رجم د يهودو طريقه وه او بيا مسلمانانو خپله كړه د دې جواب څه دئ؟

الجواب: نبي كريم ﷺ يوازي د تورات له حكم څخه رجم نه دئ نافذ كړي بلكي قرآن كريم د هغه حكم تصديق وكړ او د الله جل جلاله حكم وګرځېدئ او د مخكنيو شريعتونو مطابق چي كوم حكم الله تعالى نازل كړي يا د هغه تصديق وكړي يا يې رسول الله تصديق وكړي نو هغه زموږ له پاره هم شريعت ګرځي لهذا دا حكم يوازي د تورات نه دئ بلكي زموږ د شريعت حكم سو البته نبي كريم ﷺ چي د تورات په اړه معلومات وكړ هغه د اتمام حجت له پاره وو .

۲_ جواب: د رجم په حكم يې يوازي عمل كړی نه دئ بلكي قولا يې تشريعي حكم هم وكړ چي له امله يې د شرعي قانون حيثيت غوره كړ .

۳_ جواب: په تورات كي مطلقا د رجم حكم وو شرائط او قيودات پكښي نه وه نبي كريم ﷺ شرطونه او قيدونه بيان كړل د مثال په ډول د غير محصن له پاره رجم نه سته بلكي سل (١٠٠) درې دي وغيره او دغه تصرفات يې د الهی وحي په رڼا كي كړي دئ حاصل دا چي د رجم حكم د يهودو طريقه بلل درست نه ده .

۲_ اشكال: د مخالفينو د جانبه دا اعتراض كيږي چي رجم كول يو حيواني عمل دئ او د انسانيت له حقوقو څخه ببخي خلاف دئ او د څلورو شاهدانو ورته كتل هم ناممكن دي؟

الجواب: څومره واقعات چې په نبوي زمانه کې پېښ سوي دي هغه ټول د مجرم په اقرار سره سرته رسېدلي دي ځکه د څلورو شاهدانو هلته حاضرېدل او د کالمیل فی المکحله په شان لیدل ېخي مشکل بلکې ناممکنه ده، البته د یهودیینو واقعه په شاهدۍ سره ثابته سوې وه.

وګورئ حضرت شیخ فرمايي: أنه علیه الصلاة والسلام رجم یهودیین زنیا بشهادة أربعة منهم . (الأبواب والتراجم، ص ۱۸۹).

ځکه نارینه او ښځه که پر څنګ پراته وي په دې سره حد نه ثابتیږي بلکې یوازې د تعزیر مستحق به وي له دې څخه هم معلومیږي چې شریعت مطهره د رجم په هکله مجرم ته کافي مهلت ورکړي دئ او ډېر ګنجائش یې ورکړی دئ دلته د یوې لطیفې ذکر کول مناسب معلومیږي چې ډېرې ذهني غوټې وربانديې خلاصیږي په پاکستان کې د جنرل ضیاء الحق د حکومت په دور کې د حدودو او قصاص قانون جاري سو که څه هم تر ننه پورې وربانديې عمل سوی نه دئ خو په هغه زمانه کې ډېر اشکالات وسوه ډېر محققین علماء یې راجع کړل د ځینو له طرفه دا اشکال وسو چې په اوس وخت کې د رجم قانون د نړېوالو حالاتو سره مناسب نه دئ د دې پر ځای دې په ګولۍ وویشتل سي حضرت مفتي محمود صاحب د مریضۍ له امله په روغتون کې ؤ د وفدیو څه کسان د ده د رای د معلومولو له پاره روغتون ته ورغلل چې مقصد خو دا دئ چې واده والا دې ووژل سي مفتي محمود صاحب وفرمایل، چې شریعت یې ساتي تاسو یې ولې وژنې، حاضرنیو وویل هغه څنګه؟ ده وویل چې ګورئ په تاریخ کې هیڅکله زنا په شاهدۍ سره نه ده ثابته سوې د حضرت ماعزا او حضرت غامدیې واقعه وغیره په اقرار سره ثابتې سوې دئ او چې کله د رجم په منځ کې د ډبرو د ویشتلو څخه زاني ته تکلیف ورسیږي او دی ووايي چې ما زنا نه ده کړې نو فوراً یې پرېږدئ او دی به له قتل څخه خلاص سي او د ګولۍ وېشتلو وروسته به دی څنګه خلاص سي په دې خبره د میلمنو وفد خوشحاله سو او اطمینان یې حاصل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

په بخاري شريف کي راځي:

عن ابن عباس ﷺ قال: لما أتى ماعز بن مالک ﷺ النبي ﷺ قال له: لعلک قبلت أو غمزت أو نظرت قال: لا يا رسول الله! قال: أنكتها لايكني قال: نعم، فعند ذلک أمر برجمه . وفي رواية له عن هريرة ﷺ قال : أتى رسول الله ﷺ رجل من الناس وهو في المسجد فناداه يا رسول الله إني زنيت يريد نفسه فأعرض عنه فجاء لشق وجه النبي ﷺ الذي أعرض عنه فلما شهد على نفسه أربع شهادات دعاه النبي ﷺ فقال : أبك جنون قال : لا يا رسول الله ، فقال : أحصنت : قال نعم يا رسول الله، قال :اذهبوا فارجموه. (رواهما البخاری:۲/ ۱۰۰۸).

وفی رواية الترمذي:قال : فلما وجد مس الحجارة فريشتد حتى مر برجل معه لحي جمل فضربه به وضربه الناس حتى مات فذكروا ذلک لرسول الله ﷺ .... فقال: هلاتر كتموه . (رواه الترمذی:۱/ ۲٦٤).

په درمختار کي راځي:

ويخلي سبيله إن رجع عن إقراره قبل الحد أو في وسطه ولو رجوعه بالفعل كهروبه .... وندب تلقينه الرجوع بـ لعلک قبلت أو لمست أو وطئت بشبهة لحديث ماعز ﷺ .....

(الدر المختار:٤/ ١٠، كتاب الحدود، سعيد – والبحر الرائق:٥/ ٧، كوئته).

په عالمګيري کي راځي:

ولو هرب رجل ولم يرجع لم يتعرض له ولو ثبت على الزنا ورجع عن الإحصان قبل منه ولم يرجم وجلد .... (الفتاوى الهندية:٢/ ١٤٤ – والبحر الرائق:٥/ ٥، كوئته).

۳_ **اشکال**: ځیني کسان وایي چي نعوذ بالله حضرت ماعزا او حضرت غامدیه بد خلک وه چي هروخت به په زنا پسي وه ځکه نو دغه سزا (رجم) د تعزیر په توګه وه نه د حد له پاره او په دلیل کي یو حدیث شریف وړاندي کوي هغه دا دئ:

أن رسول الله ﷺ قال: ألا كلما نفرنا في سبيل الله خلف أحدهم له نبيب كنبيب التيس يمنح أحدهم الكثبة أما والله إن يمكني من أحدهم لأنكلنه عنه . (رواه مسلم:۲/ ٦٦) .

یعني رسول الله ﷺ وفرمایل، چي کله موږ جهاد ته ځو نو یو څوک د سیرلي په شان اوازونه کوي د لرو شیدلو په ورکولو سره خپل کار سرته رسوي که ما ورباندي قدرت وموند، نو عبرت ناکه سزا به ورکړم، وایي چي حضرت ماعز هم دغسي انسان وو (نعوذ بالله) د دغه جواب څه دئ؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي دلته عام قانون بیانول مقصود دئ لکه څنګه چي مفتي تقي صاحب په تکمله فتح الملهم کي فرمایي وګورئ:

وإنما ذكره بعد رجم ماعز رضي الله عنه ليعتبر هؤلاء المفسدون بعقوبة ماعز رضي الله عنه. (تكملة فتح الملهم:۲/ ٤٤٣).

د دې واضح نظیر په قرآن کریم کي وګورئ:

الله تعالی د حضرت داؤد علیه السلام په هکله فرمایي: ﴿ يا داوود إنا جعلناك خليفةً في الأرض فاحكم بين الناس بالحق ولا تتبع الهوى فيضلك عن سبيل الله إن الذين يضلون عن سبيل الله لهم عذاب شديد ﴾. (سورة ص، الآية:۲٦).

د دې آیت کریمه مطلب هم دا دئ چي دلته عام قانون بیان سوی دئ دا مطلب نه دئ چي العیاذ بالله حضرت داؤد علیه السلام ګمراه سوي وو همدا ډول په ذکر سوي حدیث کي هم نبي کریم ﷺ د آئنده په هکله تنبیه ورکوي چي آئنده یو داسي کار مه کوي او د هغه دلیل دا دئ چي یمنح د فعل مضارع صیغه ده همدا ډول په ځینو روایاتو کي د ینب لفظ راغلی دئ، البته نفرنا او خلف د ماضي صیغې دي خو د کلما څخه وروسته د استمرار فائده ورکوي، دوهم دلیل دا دي چي په دغه حدیث مذکوره

Maktaba Tul Ishaat.com

كي وان يمكني من احدهم څخه معلوميږي چي داسي بد معاش كس تر اوسه نيول سوى نه وو او حال دا چي دا خبره د حضرت ماعز د رجم څخه وروسته ويل سوي ده لهذا حضرت ماعز مراد نه دئ، همدا ډول د وخت پادشاه يا حاكم تعزير هغه وخت وركوي چي كله دى معلومه كړي چي مجرم ضدي او غير نادم وي حال دا چي حضرت ماعز او غامديه ډېر ښه خلک وه او دا جرم له دوى څخه اتفاقاً صادر سوي وو د ښه والي دليل يې دا دئ چي ده مبارک ﷺ د دوى د قبيلې څخه پوښتنه وكړه نو هغوى په جواب كي عرض وكړ.

ثم سأل قومه، فقالوا : ما نعلم به بأساً إلا أنه أصاب شيئاً .... (مسلم شريف:٢/ ٦٧، باب حد الزنا، فيصل).

فأرسل رسول الله ﷺ إلى قومه فقال: أتعلمون بعقله بأساً تنكرون منه شيئاً فقالوا: ما نعلمه إلا وفي العقل من صالحينا فيما نرى .... (رواه مسلم :٢/ ٦٨، فيصل).

كه دى بد انسان واى نو په خپله ولي راغى او څلور ځله يې اقرار وكړ او همدا ډول رسول الله د دوى په هكله وفرمايل. لقد تاب توبة لو قسمت بين امة لوسعتهم . (رواه مسلم:٢/ ٦٨).

يعني دې ښځي داسي توبه وايستل چي كه په ظلم سره ماليه اخيستونكي داسي توبه وكاږي نو مغفرت به يې وسي همدا ډول نبي كريم ﷺ وفرمايل: أنه أى ماعز ﷺ الآن لفي أنهار الجنة ينغمس فيها . (ابو داؤد شريف:٦٠٨، باب فى الرجم).

يعني حضرت ماعز اوس د جنت په ويالو كي غوټې وهي ايا د يوه بد انسان په هكله به د وخت نبي داسي وفرمايي، بلكي د بدو كسانو په هكله خو خلک داسي وايي ((خس كم جهان پاک)) همدا ډول حضرت غامديې په خپله ځان وړاندي كړ بيا د حامله كېدو له امله دې مباركي ته مهلت وركړ خو د حمل اېښودلو وروسته بيا په خپله راغله .

په تکمله فتح الملهم کي راځي:

جاءت بنفسها دون أن يطلبها أحد، على رغم أنها صارت أماً لولد رضيع وكم يكون خاطرها قد تعلق بهذا المولود ؟ وكم تكون عواطف الإشفاق عليه قد عرضت في سبيلها .

(تكملة فتح الملهم:۲/ ٤۳۲، الفرق بين الحدو التعزير).

۴_ اشکال: درجم منکرین داوايي چي درجم تولي واقعې دسورة نور له نزول څخه مخکي دي بيا دسورة نور دجلدآيت درجم حکم منسوخ کړاو دخپلي نظريې د ثابتولو له پاره لاندي دليل وړاندي کوي .

عن أبي إسحاق الشيباني سألت عبد الله بن أبي أوفى : هل رجم رسول الله ﷺ؟ قال: نعم، قلت: قبل سورة النور أم بعده؟ قال: لا أدري . (رواه البخاري:۲/ ۱۰۰٦).

الجواب: حضرت عبد الله بن ابی اوفی دا نه دي فرمايلي چي دغه دسورة نور څخه مخکي واقعات دي بلکي خپله لاعلمي يې ښکاره کړه او قاعده دا ده چي اليقين لايزول بالشک لهذا د دغه شک له امله درجم هغه حکم چي په يقين ثابت دئ نه منسوخ کيږي علاوه له دې څخه سورة نور دا فک په واقعه کي نازل سوی دئ او دغه واقعه دبني مصطلق څخه دراستنيدلو پر مهال پېښه سوي ده د دې غزا دوخت دوقوع په هکله دمورخينو اختلاف دئ ځينې يې وايي چي په (۳ هـ) هجري سنه کي پېښه سوي ده او دځينو نورو رای دا ده چي په (۵ هـ يا ٦ هـ) هجري سنه کي پېښه سوي ده مګر د موسی بن عقبه او واقدی قول دا دئ چي په (۵ هـ)هجري سنه کي پېښه سوي ده او همدغه راجح ده حافظ ابن حجر او حافظ عيسی همدغه قول غوره کړی دئ . (فتح الملهم:۲/ ٤۲۵).

بيا تر تولو درجم لومړی واقعه ديهودو واعقه ده او ديهودو درجم واقعه دمکې دفتحي وروسته په (۸ هـ) هجري سنه کي پېښه سوي ده ځکه دمسند بزار او طبراني په روايت کي راځي حضرت عبد الله بن حارث فرمايي: ((فكنت فيمن رجهما)) . (رواه البزار، والطبراني كما في مجمع الزوائد:٦/ ۲۷۱).

Maktaba Tul Ishaat.com

او حضرت عبد الله بن حارث د مکې د فتحې وروسته په اسلام مشرف سوي دئ همدا ډول ابن جریر د سورة مائده په تفسیر کې د حضرت ابو هریره ﷜ روایت په دغو الفاظو ذکر کړی دئ.

کنت جالساً عند رسول الله ﷺ إذ جاء رجل من اليهود .... الخ. (سورة المائدة:٦/ ٣٥).

او حضرت ابو هریره ﷜ په (۷ هـ) هجري سنه کې په اسلام مشرف سوی دئ همدا ډول دغه یهود د فدک اوسېدونکي وه.

وګورئ په مسند حمیدي کې راځي:

عن جابر بن عبد الله ﷜ قال: زنى رجل من أهل فدک فکتب أهل فدک إلى أناس من اليهود بالمدينة أن سلوا محمداً عن ذلک .... (مسند الحميدى:٢/ ٥٤١/ ١٢٩٤).

او په (۷ هـ) سنه کې د خیبر له غزا څخه وروسته د فدک له یهودو سره صلح سوې ده حضرت مولانا ادریس صاحب په سیرة مصطفی کې فرمايي، چې کله د فدک اهالي خبره سوه چې د خیبر یهودو پر دغو شرائطو صلح کړې ده نو هغو خلکو هم د نبي کریم ﷺ خدمت ته پيغام ولیږی چې موږ ته دې امان راکړل سي ده مبارک ﷺ ومنل او د محیصه ابن مسعود په واسطه خیبري وسوې او فدک بیله حملې او فوجه فتح سو. (سيرة مصطفى :٢/ ٥٠).

خو پر دغه دا اشکال کیږي چې د مدینې یهودو دوې مشهوري قبیلې وې یو بنو نضیر چې په (۴ هـ) هجري سنه کې جلا وطنه سوې وه او دوهم بنو قریظه په (۵ هـ) هجري سنه کې وژل سوي وه نو بیا مدینې ته یهود له کومه ځایه راغلل او حال دا چې د مسند حمیدي له روایت څخه معلومیږي چې د رجم په وخت کې په مدینه منوره کې یهود موجود وه؟

د دې جواب دا دئ چې د بنو قریظه وو د قتل څخه وروسته په پوره ډول یهود له مدینې څخه نه وه ختم سوي بلکي څه کسان یې پاته وه د هغه دلیل دا دئ چې د نبي کریم ﷺ د وفات په وخت کې د ده مبارک زغره د یهودي سره د رهن په توګه ایښودل سوی وه. (بخاري شریف).

همدا ډول د مستدرک حاکم له روایت څخه معلومیږي چې د حضرت ماعز د رجم پر وخت حضرت عبد الله بن عباس ﷠ موجود وو او حافظ ابن حجر ﷫ دا خبره روښانه کړې ده چې

حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما په (۹ هـ) هجري سنه کي له خپلي مور سره مديني منورې ته تشريف راوړي وو له دغه روايت څخه هم تائيد کيږي چي د حضرت ماعز د رجم واقعه په (۹ هـ) هجري سنه کي او يا له دې څخه وروسته پيښه سوي ده . (د حاکم روايت که څه هم ضعيف دي خو د تائيد په ډول وړاندي سوي دي) همدا ډول د حضرت غامديې د رجم په واقعه کي حضرت خالد بن وليد موجود وو او حال دا چي حضرت خالد بن وليد په (۸ هـ) هجري سنه کي په اسلام مشرف سو او مديني ته راغی . (تکمله فتح الملهم: ۲/ ٤۲۵).

لهذا له دغو قرائنو او شواهدو څخه په ښه توګه په ډاګه کيږي چي دغه ټولي واقعې د سورة نور له نزول څخه وروسته پيښي سوي دي او منسوخي سوي نه دي.

۵ _ اشکال: ځيني کسان وايي چي د رجم په سزا کي اضطراب دئ چي د واده والا په سزا کي يوازي رجم دئ او که د رجم سره په درو وهل هم دي.

په تکمله کي راځي:

روی عامر الشعبي أن علياً جلد شراحة الهمدانية يوم الخميس ورجمها يوم الجمعة وقال: جلدتها بكتاب الله ورجمتها بسنة رسول الله ﷺ. (اخرجه البخاری – والنسائی – والدار قطنی كما فی فتح الباری: ۱۲/ ۱۱۹ – (تكملة فتح الملهم: ۲/ ٤۱۰).

الجواب: لومړی خو دغه د رجم د منکرينو له پاره مفيد نه دي ځکه د واده لرونکي سزا که دري وي او که نه رجم خو يقيني دئ دوهم دا چي حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه نووي رحمه الله وغيره فرمايي، چي د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه روايت منسوخ دئ او ناسخ يې الشيخ والشيخة دي يا د رجم واقعې دي چي په هغو کي يوازي د رجم سزا ذکر ده ځينو کسانو دا ويلي دي چي ثيب پر دوه قسمه دئ:

۱ _ ثيب محصن .

۲ _ ثيب غير محصن لکه کتابی .

په دغه روايت کي د دواړو د سزا يادونه ده د ثيب محصن له پاره رجم او د ثيب غير محصن له پاره سل دری دي او د حضرت علي رضي الله عنه د عمل ځينو دا جواب ورکړی دئ چي د ښځي په هکله دا

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومه نه ده چي صفت د احصان لري او که نه ځکه نو د درو وهلو وروسته معلومه سوه چي محصنه وه نو بيا يې د رجم حکم وسو همدا ډول د نبي کريم ﷺ په زمانه کي همدا ډول واقعه پېښه سوي وه وګورئ.

عن جابر أن رجلاً زنى بامرأة فأمر به النبى ﷺ فجلد الحد ثم أخبر أنه محصن فأمر به فرجم. (رواه ابو داؤد:۹۰۶).

خو پر دغه توجيه دا اشکال کيږي چي په ځينو طرقو کي راځي چي حضرت علي ﷺ د درو وهلو مخکي معلومه کړه چي ((لعل زوجک من عدونا قالت لا)) له دې څخه معلوميږي چي حضرت علي ﷺ يې په واده او مسلماني خبر وو لهذا د حضرت علي ﷺ د عمل دا جواب ورکولای سي چي دغه د ده خپل مذهب وو ځکه دغه مسئله اختلافي ده حافظ ابن حجر همدغه مذهب د حضرت ابی ابن کعب ﷺ او امام احمد بن حنبل رحمه الله وطرفته ته منسوب کړی دئ وګورئ فتح الباري: (۱۹/ ۱۲۱).

حضرت شاه ولي الله رحمه الله فرمايي:

الظاهر عندي أنه يجوز للإمام أن يجمع بين الرجم والجلد ويستحب له أن يقتصر على الرجم ... والجلد زيادة عقوبة رخص في تركها . (المسوى شرح المؤطا:۲/ ۱۳۵).

مفتي تقی صاحب دغه جواب اختيار کړی دئ، او د دغه عبارت له نقل کولو وروسته فرمايي:

وحاصله أن القرآن الكريم قدر للزاني مائة جلدة سواء كان محصناً أو غيره ثم جاءت السنة برجم المحصن زيادة على الجلد لا نسخاً له والأصل أن الجاني متى استوجب عقوبتين فإنه يجوز إدغام الأدنى فى الأعلى، ولا سيما إذا كانت إحداهما تأتي على نفسه . (تكملة فتح الملهم:۲/ ٤١٠).

۶_ **اشکال**: د حضرت ماعز اسلمي واقعه څنګه چي ډېره مشهوره ده ځکه نو منکرينو په هغه کي د اضطراب د ثابتولو کوښښ کړی دئ نو دوی وايي چي نبي کريم ﷺ څو ځله حضرت ماعز بيرته وليږي؟

په يوه روايت کي راځي: فأعرض عنه حتى ثنى ذلک عليه أربع مرات .

سعيد بن جبير رحمه الله وايي چي: أنه رده أربع مرات

په ځينو کي راځي: ((فرده مرتين)) او په ځينو کي راځي: ((فرده مرتين أو ثلاثاً)) .

په يوه طريقه کي راځي: ((فاعترف بالزنا ثلاث مرات)) (دغه روايات په مسلم شريف ۲/ ۶۶-۶۷ کي موجود دي .

الجواب: مفتي تقي صاحب په تکمله کي د هغه جواب ورکوي:

والظاهر أنه اختلاف الرواة الذي لايقدح في أصل الحديث وتقدم مراراً أن الرواة ربما لايعتنون بتفاصيل القصة وحواشيها والصحيح أنه صلى الله عليه وسلم رده ثلاث مرات حتى إذا اعترف الرابعة سأله عن كيفية الزنا فلما بينها رجمه . (تکملة فتح الملهم: ۲/ ۴۴۴).

خلاصه دا ده چي د راويانو اختلاف اصلي حديث ته تاوان نه رسوي ځکه ډېر ځله راويان د اصلي قصې د ثابتولو کوښښ کوي د هغه تفصيلاتو ته نه ځي او صحيح دا ده چي نبي کريم ﷺ درې ځله واپس کړي وو او څلورم ځل يې د زنا د کيفيت په هکله پوښتنه ورڅخه وکړه چي کله هغه صحيح بيان وکړ نو بيا يې د رجم حکم وکړ.

۷_ **اشکال**: په ځينو رواياتو کي راځي چي حضرت ماعز په خپله د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او اقرار يې وکړ او په نورو کي راځي چي دی راوستل سو او د نبي کريم ﷺ د معلومولو وروسته يې اقرار وکړ .

د رواياتو تفصيل وګورئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

عن أبي هريرة ﷺ قال: أتى رجل من المسلمين رسول الله ﷺ وهو في المسجد فناداه فقال: يا رسول الله! إني زنيت . وفي رواية إني أصبت فاحشة فأقمه علي. (رواهما مسلم:٢/ ٦٦).

وفي رواية لمسلم عن جابر بن سمرة ﷺ قال: رأيت ماعز بن مالک ﷺ حين جيئ به إلى النبي ﷺ. (رواه مسلم:٢/ ٦٦).

وفي رواية له عن ابن عباس ﷺ أن النبي ﷺ قال لماعز بن مالک أحق ما بلغني عنک؟ قال: وما بلغک عني، قال: بلغني أنک وقعت بجارية آل فلان قال: نعم، قال: فشهد أربع شهادات ثم أمر به فرجم . (رواه مسلم:٢/ ٦٦).

ګوياکه د حضرت ماعز د رجم په قصه کي يو ډول اضطراب پيدا سو؟

الجواب: علامه نووي رحمه الله د دغه اشکال په جواب کي ليکي:

قال العلماء : لا تناقض بين الروايات ، فيكون قد جيء به إلى النبي ﷺ من غير استدعاء من النبي ﷺ ، وقد جاء في غير مسلم أن قومه أرسلوه إلى النبي صلى ﷺ ، فقال النبي ﷺ للذي أرسله : لو سترته بثوبك يا هزال لكان خيرًا لك، وكان ماعز عند هزال ، فقال النبي ﷺ لماعز بعد أن ذكر له الذين حضروا معه ما جرى له : ((أحق ما بلغني عنك)) . (شرح مسلم:٢/ ٦٧).

يعني علماء فرمايي، چي په رواياتو کي تناقض نه سته ځکه نبي کريم ﷺ ته راوستل سو او راوليږل سو نو ده مبارک ﷺ هغه راليږونکي ته وفرمايل، چي اې هزال چي تا پرده پر اچولي وای نو ښه به وای بيا يې ماعز ته وويل ايا هغه خبره صحيح ده چي ما ته رسېدلي ده هغه وويل څه درته رسېدلي دي، ده مبارک ﷺ يې د زنا يادونه وکړه بيا حضرت ماعز څلور ځله اقرار وکړ، ځينو کسانو دا جواب ورکړي دئ چي ((احق ما بلغني)) يوازي د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ په روايت کي

دي د نورو صحابه وو په روایاتو کي نه سته او د حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه عمر په دغه وخت کي ډېر کم وو لهذا موږ د اکابرو صحابه وو روایاتو ته ترجیح ورکوو همدا ډول د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما یو روایت چي په بخاري شریف (۱۰۰۸/۲) او ابو داؤد شریف (ص ۶۰۷) کي دئ هغه د جمهورو صحابه وو د روایاتو سره موافق دئ لهذا ((احق ما بلغني)) د وروسته راوی وهم دئ یا مؤول دي . والله تعالى اعلم.

که یې د درو وهلو برداشت نه وو نو د حیلي حکم

سوال: که یو څوک زنا وکړي او د درو برداشت نه لري نو د ده له پاره حیله کول او په جارو یا دغسي شی یې وهل درست دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي ضعیف او کمزوري چي درې نه سي برداشتولای د هغه له پاره حیله کول او په جارو یې وهل درست دي خو دا خبره دي په نظر کي ونیسي چي ټول یې وبدن ته ورسیږي چي هغه مطلوب عدد پوره سي .

په ابن ماجه کي راځي:

عن سعيد بن سعد بن عبادة رضي الله عنه قال : كان بين أبياتنا رجل مخدج ضعيف ، فلم يرع إلا وهو على أمة من إماء الدار يخبث بها ، فرفع شأنه سعد بن عبادة رضي الله عنه إلى رسول الله ﷺ فقال: اجلدوه ضرب مئة سوط، قالوا : يا نبي الله ، هو أضعف ، من ذلك ، لو ضربناه مئة سوط مات ، قال فخذوا له عثكالاً فيه مئة شمراخ فاضربوه ضربةً واحدةً. (رواه ابن ماجه:۱۸۵).

قال الطيبى رحمه الله : العشكال: الغصن الكبير الذي يكون عليه أغصان صغر ويسمى كل واحد من تلك الأغصان شمراخاً . (المرقات:۷/ ۱۴۶).

وفى المغرب : العثكال: عنقود النخل والمشراخ شعبة منه. (المغرب:۲/ ۴۲).

Maktaba Tul Ishaat.com

قال المحدث الفقيه الملا على القاري رحمه الله فی شرح هذا الحديث: ومن المعلوم أن المريض الشديد الذي لايرجى برؤه لو ضرب ضرباً وجيعاً لمات ولم تؤمر بقتله ولايكلف الله نفساً وسعها وما لم يدرک کله لايترک کله فهذا هو الحيلة مراعاة للجانبين كما قال سبحانه وتعالى لأيوب عليه السلام وكان قد حلف أن يضرب امرأته مائة سوط لما توهم أنها تستحق الضرب فأمره الله تعالى بقوله: ﴿ وخذ بيدک ضغثاً ﴾ وهو ملء الكف من الشجر أو الحشيش فاضرب به ولاتحنث في يمينک فأخذ ضغثاً يشتمل على مائة عود صغار فضربها به ضربة واحدة. (المرقاة: ۷/ ۱٤۷، کتاب الحدود، ملتان).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله إلا أن يقع اليأس من برئه فيقام عليه أي بأن يضرب ضرباً خفيفاً يحتمله، وفي الفتح ولو كان المرض لا يرجى زواله كالسل أو كان ضعيف الخلقة فعندنا وعند الشافعي يضرب بعثكال فيه مائة شمراخ دفعة، وتقدم في الأيمان أنه لا بد من وصول الكل إلى بدنه، ولذا قيل: لا بد أن تكون مبسوطة. (فتاوی الشامی: ٤/ ١٦، کتاب الحدود، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوی الهندية: ۲/ ۱٤۷). والله تعالی اعلم.

يوازي په قرائنو سره د حد د ثبوت حکم

سوال: د يوې پيغلې انجلۍ کوچنی پيدا سو خو د زنا اقرار يې کړی نه دئ او نه شاهدان ورباندي سته، البته دا معلومه ده چي ديوه پردي هلک سره يې تعلقات وه اوس د زنا حد ورباندي جاري کيږي او که نه؟

الجواب: په شريعت کي د زنا د حد د ثبوت له پاره څلور شاهدان ضروري دي يا به زاني په خپله په څلورو مجلسونو کي د زنا اقرار کوي له دغو دوو صورتونو پرته يوازي په قرائنو يا څيرنه شرعي حد

نه ثابتیږي بلکي د شریعت منشاء خو دا ده چي د شبهاتو له امله حدود ساقط کړل سي نه دا چي په قرائنو او شبهاتو دي لازم کړل سي .

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت : قال رسول الله ﷺ : ادرءوا الحدود عن المسلمين ما استطعتم فإن كان له مخرج فخلوا سبيله فإن الإمام أن يخطئ في العفو خير من أن يخطئ في العقوبة . (رواه الترمذي:۱/ ۲۶۳، باب ماجاء في درء الحدود).

په هدايه کي راځي:

ومن أقر أربع مرات في مجلس مختلفة أنه زنى بفلانة وقالت : هي تزوجني أو أقرت بالزنا وقال الرجل تزوجتها فلا حد عليه وعليه مهر المثل في ذلك لأن دعوى النكاح يحتمل الصدق وهو يقوم بالطرفين فأورث شبهة ، وإذا سقط الحد وجب المهر تعظيما لخطر البضع . (الهداية:۲/ ۵۱۹، كتاب الحدود).

په درر الحکام في شرح غرر الاحکام کي راځي:

ويثبت الزنا بشهادة أربعة من الرجال في مجلس واحد حتى لو شهدوا متفرقين لم تقبل ذكره الزيلعي . (درر الحكام فی شرح غرر الاحكام:۲/ ۶۲، كتاب الحدود – والشامي:۴/ ۷، باب الحدود).

په البحر الرائق کي راځي:

ويثبت بشهادة أربعة بالزنا لا بالوطئ والجماع .... فسألهم الإمام عن ماهيته وكيفيته ومكانه وزمانه والمزنية .... فإن بينوه وقالوا : رأيناه وطئها كالميل في المكحلة راجع إلى بيان الكيفية وهو زيادة بيان احتيالاً للدرء . (البحر الرائق مع الكنز :۵/ ۵، كتاب الحدود، كوئته).

Maktaba Tul Ishaat.com

همدا ډول وګورئ: (فتاوی فریدیه: ٤/ ٥٠٣). والله ﷻ اعلم.

د اخرس په شاهدۍ د زنا د ثبوت حکم

سوال: په اوس وخت کې د ګونګي اشارې د یوې ځانګړې ژبې حیثیت لري یعني خپل مافی الضمیر په واضح ډول اداء کولای سي د غلطۍ معنا ګنجائش نه سته نو په دغه صورت کې د اخرس په اشاره زنا ثابتدلای سي او که نه؟

الجواب: د شاهدۍ په شرائطو کې یو شرط دا هم دئ چې په شاهدۍ کې به تلفظ وي بېله تلفظه شاهدۍ صحیح نه ده او د زنا د ثبوت له پاره شرائط نور هم سخت دي لهذا په زنا کې د ګونګي شاهدۍ په طریقه اولی د قبول وړ نه ده.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وشرائط الأداء سبعة عشر : عشرة عامة وسبعة خاصة، وفي الشامية : قوله عشرة عامة أي في جميع أنواع الشهادة، أما العامة فهي الحرية والبصر والنطق والعدالة لكن هي شرط وجوب القبول على القاضي لا شرط جوازه . (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٥/ ٤٦٢، سعيد).

وأيضاً فيه : وبقي من الشروط أن لايكون ولده أو ولد ولده أو أخرس . وفي الشامية : قوله، أخرس لأنه لا بد فيه من الدعوى، وفي إشارة الأخرس احتمال يدرأ به الحد .(الدر المختار مع فتاوى الشامي:٤/ ٤٦، باب حد القذف، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په اجاره کې د حد د سقوط حکم

سوال: پر احنافو اعتراض کیږي چې که یو څوک د زنا له پاره ښځه په اجاره واخیستله نو د احنافو د مذهب مطابق حد ور څخه ساقطیږي حال دا چې له زنا څخه حد څنګه ساقطیږي ؟

الجواب: په دې صورت د شبه في المحل له امله حد زنا د حدیث په حکم ساقط سو او همدا ډول په اجرت سره د زنا له پاره د یوې ښځې اخیستل متعه ده او متعه که څه هم حرامه ده نو د ځینو صحابه کرامو وطرفته یې د جواز د نسبت له امله حد دفع کوي، البته تعزیرا دي سخته سزا ورکول سي .

په احکام القرآن کې راځي:

قوله ﴿ فما استمتعتم به منهن فآتوهن أجورهن ﴾ فأوجب على الزوج كمال المهر ، وقد سمى الله المهر أجرا في قوله ﴿ فانكحوهن بإذن أهلهن وآتوهن أجورهن ﴾ فسمى المهر أجرا وكذلك الأجور المذكورة في هذه الآية هي المهور وإنما سمى المهر أجراً لأنه بدل المنافع وليس ببدل عن الأعيان كما سمى بدل منافع الدار والدابة أجرا وفي تسمية الله المهر أجراً دليل على صحة قول أبى حنيفة فيمن استأجر امرأة فزنا بها أنه لاحد عليه لأن الله تعالى قد سمى المهر أجراً فهو كمن قال : أمهرك كذا وقد روى نحوه عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه ومثل هذا يكون نكاحاً فاسداً لأنه بغير شهود .(إحكام القرآن للجصاص:٢/ ١٤٦).

په فتح القدير کې راځي:

ومن شبهة العقد ما إذا استأجرها ليزنى بها ففعل لاحد عليه ويعزر وقال هما والشافعي رحمه الله ومالك رحمه الله وأحمد رحمه الله : يحد لأن عقد الإجارة لا يستابح به البضع فصار كما لو أستأجرها للطبخ ونحوه من الأعمال ثم زنى بها فإنه يحد اتفاقاً، وله أن المستوفي بالزنا المنفعة وهي المعقود عليه في الإجارة لكنه في حكم العين فبالنظر إلى الحقيقة تكون محلاً لعقد الإجارة فأورث شبهة ، بخلاف الاستئجار للطبخ ونحوه لأن العقد لم يضف إلى المستوفى بالوطء والعقد المضاف إلى محل يورث الشبهة فيه لا في محل آخر . (فتح القدير:٥/ ٢٦٢، دار الفكر – وكذا فى البحر الرائق:٥/ ١٨، كوئته).

Maktaba Tul Ishaat.com

په تبيين الحقائق كي راځي:

ولأبي حنيفة رحمه الله ما روي أن امرأةً طلبت من رجل مالًا فأبى أن يعطيها حتى تمكنه من نفسها فدرأ عمر رضي الله عنه الحد عنهما وقال: هذا مهرها ولأن الله تعالى سمى المهر أجرةً بقوله تعالى: ﴿ فما استمتعتم به منهن فآتوهن أجورهن فريضةً ﴾ فصار شبهةً لأن الشبهة ما يشبه الحقيقة لا الحقيقة ألا ترى أنه لو قال: أمهرتك كذا لأزني بك لم يجب الحد ..... ولأن المستوفى بالوطء منفعة حقيقةً وإن كان في حكم العين شرعًا فاعتبار الحقيقة يقتضي أن يكون محلا للإجارة فأورث شبهةً. (تبيين الحقائق:۳/ ۱۸٤، باب الوطء الذى، ملتان).

البته علامه ابن همام د صاحبينو قول ته ترجيح وركوي فرمايي: چي حد به لازم وي.

په فتح القدير كي راځي:

((والحق فى هذا كله وجوب الحد)). (فتح القدير: ٥/ ۲٦۲).

او همدا ډول يې په فتاوى بينات كي يې هم د صاحبينو پر قول فتوى نقل كړي ده.

وګورئ په فتاوى بيتات كي راځي:

په دې مسئله كي د حنفي فقهي فتوا د صاحبينو پر قول ده پر ده حد لازم دئ. (فتاوى بينات:٤/ ٤۸۰).

خو پر دغه علامه شامي رحمه الله فرمايي، چي د صاحبينو د قول ترجيح يوازي صاحب د فتح القدير نقل كړي ده كه نه متونو او شارحينو د امام صاحب قول غوره كړى دئ او علامه طحطاوي رحمه الله فرمايي، چي د تعزير په ډول دي ډېره سخته سزا وركړل سي.

وګورئ په فتاوی شامی کي راځي:

قوله والحق وجوب الحد أی کما هو قولهما، وهذا بحث لصاحب الفتح، وسكت عليه فی النهر والمتون والشروح علی قول الإمام .(فتاوی الشامی:٤/ ٢٩، باب الوطء الذی یوجب الحد، سعید).

وفی الطحطاوي علی الدر : وعلی قوله يعزوان أشد التعزير، أبو السعود عن الحموي .

(حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:٢/ ٣٩٨، کوئته).

په عام ډول شارحینو د امام ابو حنیفه رحمه الله د قول په تائید کي دوه دلائل وړاندي کړي دي.

۱ _ د حضرت عمر رضي الله عنه فیصله .

۲ _ آیت کریمه چي په هغه کي الله تعالی مهر په اجرت سره تعبیر کړی دئ د حضرت عمر رضي الله عنه د فیصلي په هکله په فتاوی بینات کي ذکر سوي دي چي دا په صحیح سند ثابته ده او هغه دا جماع سکوتي په درجه کي ده ځکه دا فیصله يې د صحابه وو په موجودیت کي کړی وه او چا انکار ونه کړ.

وګورئ په فتاوی بینات کي راځي:

امام صاحب د شبهي له امله حد ساقطوي او د تعزیر حکم ورکوي د ده استدلال د حضرت عمر رضي الله عنه له اثر څخه دئ چي په مصنف عبد الرزاق کي په دغه الفاظو ذکر سوی دئ.

أخبرنا ابن جريج ثني محمد بن الحارث بن سفيان عن أبي سلمة بن سفيان أن امرأة جاءت عمر بن الخطاب رضي الله عنه فقالت : يا أمير المؤمنين ! أقبلت أسوق غنماً فلقيني رجل فحفن لي حفنة من تمر، ثم حفن لي حفنة من تمر ثم حفن لي حفنة من تمر ثم أصابني ، فقال عمر رضي الله عنه قلت ماذا ؟ فأعادت ، فقال عمر بن الخطاب رضي الله عنه ويشير بيده مهر، مهر ، ويشير بيده كلما قال : ثم تركها . (المصنف لعبد الرزاق:٧/ ٤٠٧/ ١٣٦٥٣، باب الحد فی الضرورة).

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوهم روايت د نقل کولو وروسته فرمايي:

د دغو دواړو راويان ثقه دي حافظ ابن حزم اندلسي دغه دواړه روايتونه په المحلی کي ذکر کړي دي او پر هغو يې جرح نه ده کړي بلکي د مالکيه وو او شافعيه وو خلاف يې هغه د حجت په توګه وړاندي کړی دئ او داسي ليکي :

وأما المالكيون والشافعيون فعهدنا بهم يشنعون خلاف الصاحب الذي لايعرف له مخالف .... بل هم يعدون مثل هذا إجماعاً ويستدلون على ذلک بسكوت من الصحابة رضي الله عنهم عن النكير لذلک . (المحلى بالآثار، كتاب الحدود، حكم المستاجرة للزنى:١٢/ ١٩٦، بيروت).

چي کله د دغو حضراتو اصول دا دئ نو د حضرت عمر ياده واقعه ولي حجت نه ګڼي سره د دې چي په صحابه وو کي هيڅا پر حضرت عمر رضي الله عنه انکار نه دئ کړي . (فتاوى بينات:٤/ ٤٧٩). والله تعالى اعلم.

پر يوې لېوني د زنا حد او د لولا علي لهلک عمر زيات تحقيق

سوال: که يو چا له يوې لېوني سره زنا وکړه نو پر زاني او زانيه حد سته او که نه؟ او په دې هکله چي کوم روايت بيانيږي چي حضرت عمر رضي الله عنه پر يوه لېوني زانيه د رجم حکم کړي وو د حضرت علي رضي الله عنه د تنبيه له امله يې خپله فيصله واخيسته دغه روايت کومه درجه لري . (فتاوى دار العلوم جلد اول). کي يې بلا سنده ښودلي دئ خو حضرت مولانا محمد يونس په اليواقيت الغاليه (۳۷۹/۲) کي ثابت بللي دي دواړو د ابن عبد البر حواله ورکړي ده د دغه تعارض حل څه دئ؟

الجواب: پر عاقل بالغ زنا کونکي د شرعي ثبوت څخه وروسته د زنا حد سته خو پر لېوني باندي حد نه سته په ((رفع القلم عن ثلاثة)) کي لېوني شامل دئ .

په عالمګيري کي راځي:

وإن زنى صحيح بمجنونة أو صغيرة يجامع مثلها حد الرجل خاصة، وهذا بالإجماع كذا في الهداية. (الفتاوى الهندية:٢/ ١٤٩).

او د حضرت عمر رضي الله عنه او د حضرت علي رضي الله عنه د واقعي تحقيق دا دئ:

قال أحمد بن زهير: ثنا عبيد الله بن عمر القواريري، ثنا مؤمل بن إسماعيل، ثنا سفيان الثوري عن يحيى بن سعيد عن سعيد بن المسيب قال: كان عمر رضي الله عنه يتعوذ بالله من معضلة ليس لها أبو الحسن، وقال في المجنونة التي أمر برجمها وفي التي وضعت لستة أشهر، فأراد عمر رضي الله عنه رجمها فقال له علي رضي الله عنه: إن الله تعالى يقول: ﴿ وحمله وفصاله ثلاثون شهراً ﴾. (الأحقاف ١٥.) الحديث. فكان عمر رضي الله عنه يقول: لولا علي لهلك عمر. (الاستيعاب في معرفة الإصحاب لابن عبد البر:٣/ ١١٠٢-١١٠٣، بيروت).

حافظ ابن عبد البر په سند سره پورتنئ عبارت ليکلي دئ او الحديث يې ليکلي دي او بيا يې دا جمله ليکلي ده ((فكان عمر يقول لولا على لهلک عمر)) زموږ خيال دا دئ چې پر الحديث مخکني کلام ختم سو او لولا على لهلک عمر تر مخکني متن لاندي نه دئ او د حضرت شيخ محمد يوسف دام فضله په راى دا جمله په مخکني متن کي شامله ده که دا جمله په ماقبل کي شامله وي بيا يې هم په سند کي مومل بن اسماعيل دئ چې منكر الحديث دي او د هغه متابع موجود نه دئ نو ځکه يې روايت د اعتماد وړ نه دئ همدا ډول حافظ ابن تيميه رحمه الله فرمايي، چې دغه زياتونه په دغه حديث کي مشهوره نه ده ((ان هذه الزيادة ليست معروفة فى هذا الحديث)) له دې څخه معلومه سوه چې د ده په اند هم دغه زياتونه د دغه حديث جزء نه دئ.

الدركتور بشار عواد په تحرير تقريب التهذيب كي ليكي:

مؤمل بن إسماعيل قال البخارى: منكر الحديث، واتفق أبو حاتم وابن سعد والنسائى عمل اليوم والليلة (٨٥) ويعقوب بن سفيان والدار قطنى ومحمد بن نصر المروزي وغيرهم على أنه كثير الخطأ على الرغم من توثيقهم له فى الجملة لكن من كثر خطؤه وجب مجانبة ماينفرد به فيعتبر به في المتابعات والشواهد. (تحرير تقرير التهذيب:٣/ ٤٤٢).

Maktaba Tul Ishaat.com

له دغه سره يو بل روايت هم په الاستيعاب كي موجود دئ ((كان عمر يتعوذ من معضلة ليس لها ابو الحسن)) يعني عمر له هغې مشكلي واقعې څخه پناه غوښته چي د هغه له پاره حضرت علي ﷺ موجود نه وي خو په دغه سند كي هم مومل بن اسماعيل دي. والله ﷻ اعلم.

له سرقي وروسته د مال د هبه كولو څخه د حد د سقوط حكم

سوال: پريو چا د غلا له امله د لاس پرې كول لازم سوه قاضي فيصله وكړه خو مالک هغه مال سارق ته هبه كړ نو د لاس د پرې كېدو سزا ساقطيږي او كه نه؟

الجواب: د مالک د هبه كولو څخه د لاس د پرې كېدو سزا ساقطيږي كه څه هم قاضي د لاس د پرې كېدو فيصله كړې وي.

د هدايې مصنف ليكي:

وإذا قضى على رجلين بالقطع فى سرقة فوهبت له لم يقطع. (الهداية:٢/ ٥٥٠، كتاب الحدود).

په قدوري كي راځي:

فإن وهبها من السارق أو باعها منه أو نقصت قيمتها عن النصاب لم تقطع. (مختصر القدورى:٢٧٢ – وكذا فى البحر الرائق:٥/ ٤٦، كوئته – وفتح القدير:٥/ ٤٠٦، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

په اوسني زمانه كي د شارب خمر حكم

سوال: زموږ په زمانه كي د شرابي حكم څه دئ؟ او د دغسي ګناه كونكي له پاره كوم وعيد دئ؟

الجواب: د شراب څښونكي اصلي حكم چي كله په اسلامي قضاء كي د شرعي قانون مطابق ثابت سي دا دئ چي شراب څښونكي دئ اتيا (۸۰) درې ووهل سي خو افسوس چي په اوس وخت كي د اسلامي حكومت د نشتوالي له امله د شرعي حد نفاذ ناممكن دئ ځكه نو د مسلمانانو له پاره په كار ده چي په نصيحت سره يې وپوهوي او له ده سره هر راز تعاون پرېږدي او مقاطعه ورسره وكړي شايد

چي منع سي او که د مسلمانانو کوم قاضي يا جمعيت وي نو مناسبه سزا دي ورکړي ځکه په کتاب او سنت کي د شراب څښونکي له پاره خطرناک وعيدونه راغلي دي د نموني په ډول يې څو وګوري:

﴿ يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون ، إنما يريد الشيطان أن يوقع بينكم العداوة والبغضاء في الخمر والميسر ويصدكم عن ذكر الله وعن الصلاة فهل أنتم منتهون ﴾

وقال ابن كثير رحمه الله: الزهري: حدثني أبو بكر بن عبد الرحمن بن الحارث بن هشام، أن أباه قال: سمعت عثمان بن عفان رضي الله عنه يقول: اجتنبوا الخمر، فإنها أم الخبائث، إنه كان رجل فيمن خلا قبلكم يتعبد ويعتزل الناس، فعلقته امرأة غوية، فأرسلت إليه جاريتها: إن تدعوك لشهادة. فدخل معها، فطفقت كلما دخل بابًا أغلقته دونه، حتى أفضى إلى امرأة وضيئة عندها غلام وباطية خمر، فقالت: إني والله ما دعوتك لشهادة ولكن دعوتك لتقع علي أو تقتل هذا الغلام، أو تشرب هذا الخمر. فسقته كأسًا، فقال: زيدوني، فلم يرم حتى وقع عليها، وقتل النفس، فاجتنبوا الخمر فإنها لا تجتمع هي والإيمان أبدا إلا أوشك أحدهما أن يخرج صاحبه، رواه البيهقي وهذا إسناد صحيح.... وله شاهد في الصحيحين، عن رسول الله ﷺ أنه قال: لا يزني الزاني حين يزني وهو مؤمن، ولا يسرق سرقة حين يسرقها وهو مؤمن، ولا يشرب الخمر حين يشربها وهو مؤمن .... عن أسماء بنت يزيد، أنها سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: من شرب الخمر لم يرض الله عنه أربعين ليلة، إن مات مات كافرًا، وإن تاب تاب الله عليه، وإن عاد كان حقًا على الله أن يسقيه من طينة الخبال. قالت: قلت: يا رسول الله، وما طينة الخبال؟ قال: صديد أهل النار . (تفسير ابن كثير:۲/ ۱۰۹-۱۱۰).

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت عثمان بن عفان ﷛ فرمايي، چي د شرابو څخه ځان وساتی ځکه هغه د ټولو بديو بنياد دئ ((يوه واقعه واوري)) ستاسي څخه مخکي په يوه زمانه کي يو لوی عابد وو د خلکو څخه گوښه يې په يوه عبادت خانه کي عبادت کاوه ديوې بد کاري ښځي په نظر کي وو خپله خادمه يې ورولېږل چي د شاهدۍ په بهانه يې راوله هغه بېچاره راغی چي کله به دی يوې دروازې ته داخل سو نو له دباندي څخه به يې هغه دروازه بندول تر داسي بريده چي هغې بد کاري ښځي ته ورسېدئ نو هغې ښځي ورته وويل چي په خدای قسم ما ته د شاهدۍ له پاره رابللي نه يې بلکي يا به زما سره شپه تير وي يا به دغه کوچني وژني يا به دا شراب چښي دغه عابد دا مناسبه وگڼل چي د دغو دواړو گناهونو په نسبت شراب وچښل اسانه گناه ده نو هغه شراب يې وچښل اوس يې ديوې پيالي چښلو وروسته نور غوښتل تر داسي بريده چي د شرابو په نشه کي يې کوچني هم قتل کړ او د ښځي سره يې شپه هم تېره کړه ځکه نو د شرابو څخه ځانونه وساتئ هغه د ټولو بديو بنياد دي شراب او ايمان هيڅکله پر يوه ځای نه جمع کيږي که شراب وي نو ايمان به کامل نه وي او که ايمان وي شراب به نه وي .

په صحيحينو کي راځي:

چي رسول الله ﷺ فرمايي، چي زاني چي کله زنا کوي نو دی مؤمن نه وي او غل چي غلا کوي دی مؤمن نه وي او شرابي چي شراب چښئ دی مؤمن نه وي د حضرت اسماء بنت يزيد ﷞ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل، چا چي شراب وچښل نو الله تعالی څلوېښت ورځي ور څخه ناراضه وي که دی مړ سي نو کافر به مري او که توبه وکړي نو الله ﷻ يې توبه قبلوي او که بيا د شرابو عادی وگرځي نو په يقين سره به الله تعالی ورته د قيامت په ورځ د دوزخيانو نوونه ورچښي حضرت اسماء ﷞ وايي چي ما عرض وکړ چي اې د الله رسوله! طينه الخبال څه شی دي؟ ده مبارک ﷺ په جواب کي وفرمايل، چي د دوزخيانو نوونه دي .

وقال السيوطي فى الدر المنثور : وأخرج وكيع والبخاري ومسلم عن ابن عمر ﵄ قال : قال رسول الله ﷺ: ((من شرب الخمر في الدنيا لم يشربها في الآخرة إلا أن يتوب))، وأخرج البيهقي في الشعب عن ابن عمر ﵄ قال : قال رسول الله ﷺ : ((من شرب الخمر

في الدنيا ولم يتب لم يشربها في الآخرة وإن أدخل الجنة. وأخرج مسلم والبيهقي ، عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: نهى رسول الله ﷺ أن يقعد على مائدة يشرب عليها الخمر .(الدر المنثور:٣/ ١٧٤-١٧٦).

قال الإمام السرخسي رحمه الله فى المبسوط: اعلم أن الخمر حرام بالكتاب ، والسنة : أما الكتاب فقوله تعالى .... والسنة : ما روي عن النبي ﷺ أنه قال: "لعن الله في الخمر عشرا" ، الحديث . وذلك دليل نهاية التحريم وقال عليه الصلاة والسلام: "الخمر أم الخبائث"، وقال عليه الصلاة والسلام: " شارب الخمر كعابد الوثن ، وقال عليه الصلاة والسلام : إذا وضع الرجل قدحاً في خمر على يده لعنته ملائكة السماوات والأرض فإن شربها لم تقبل صلاته أربعين ليلة ، وإن داوم عليها فهو كعابد الوثن ، والأمة أجمعت على تحريمها، وكفى بالإجماع حجة هذه حرمة قوية باتة حتى يكفر مستحلها ويفسق شاربها .(المبسوط:كتاب الاشربة، ٢٧/ ١٢١).

وقال ملك العلماء أبو بكر مسعود بن أحمد الكاساني :

أن حد شرب الخمر وحد السكر مقدر بثمانين جلدةً في الأحرار لإجماع الصحابة رضي الله عنهم وقياسهم على حد القذف حتى قال سيدنا علي رضي الله عنه إذا سكر هذى وإذا هذى افترى وحد المفترين ثمانون وبأربعين في العبيد لأن الرق منصف للحد كحد القذف والزنا . (بدائع الصنائع:٥/ ١١٣، كتاب الاشربة، سعيد) . والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د زهرو په وژلو سره د قصاص حکم

سوال: که یو چا بل څوک په زهرو وواژه نو قصاص او دیت به واجب وي او که نه؟

الجواب: په دې هلکه څه تفصیل سته هغه دا چي که یو چا په زور سره د بل کس په خوله کي زهر ورواچول او یا یې په لاس کي ورکړل او دی یې په خوړلو مجبوره کړ نو په دغو دواړو صورتو کي پر ورکونکي قصاص نه سته، البته پر عاقله وویې دیت واجب دئ او که یو چا بل کس ته زهر ورکړل او هغه بېله زوره په خپله وچښل نو پر ورکونکي دیت یا قصاص نه لازمیږي که چښونکي په دغه خبر وي چي دا زهر دي او که خبر نه وي، البته ورکونکي ته مناسب تعزیر ورکولای سي .

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

وإذا سقى رجلًا سما فمات من ذلك ، فإن أوجره إيجارًا على كره منه ، أو ناوله ثم أكرهه على شربه حتى شرب ، أو ناوله من غير إكراه عليه ، فإن أوجره ، أو ناوله وأكرهه على شربه فلا قصاص عليه ، وعلى عاقلته الدية ، وإذا ناوله فشرب من غير أن أكرهه عليه لم يكن عليه قصاص ، ولا دية سواء علم الشارب بكونه سما ، أو لم يعلم هكذا في الذخيرة . (الفتاوى الهندية:٦/ ٦).

په درمختار کي راځي:

سقاه سمًا حتى مات ، إن دفعه إليه حتى أكله ولم يعلم به فمات لا قصاص ولا دية لكنه يحبس ويعزر ولو أوجره السم إيجارًا تجب الدية على عاقلته وإن دفعه له في شربة فشربه ومات منه فكالأول لأنه شرب منه باختياره إلا أن الدفع خدعة فلا يلزم إلا التعزير والاستغفار.

وفي الشامية : قوله لا قصاص ولا دية ويرث منه قوله حتى أكله باختياره قوله ولو أوجره أي صب في حلقه على كره، وكذا لو ناوله وأكرهه على شربه حتى شرب فلا قصاص وعلى عاقلته الدية ، وفي الذخيرة : ذكر المسألة في الأصل مطلقاً بلا خلاف ولم يفصل ولا يشكل على قول

أبي حنيفة رحمه الله لأن القتل حصل بما لا يجرح فكان خطأ العمد على مذهبه وأما على قولهما فمنهم من قال عندهما على التفصيل إن كان ما أوجر من السم مقداراً يقتل مثله غالباً فهو عمد وإلا فخطأ العمد. (الدر المختار مع الشامي:٦/ ٥٤٢، فيما يوجب القود).

دوهم قول:

علامه شامي رحمه الله نقل كوي چي قصاصا دي ووژل سي ځكه زهر داسي كار كوي لكه په اور سوځل او په چاره پرېكول او په اوسينو حالاتو كي دي پر دغه قول فتوى وركړل سي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

ذكر السائحاني: أن شيخه أبا السعود ذكر في باب قطع الطريق أنه لو قتل بالسم قيل يجب القصاص لأنه يعمل عمل النار والسكين ورجحه السمرقندي. (شامی:٦/ ٥٤٢).

وفى التحرير المختار: (قوله وذكر السائحاني) وقال السندي فى آخر السرقة نقلاً عن الحموى: من سقى رجلا سماً فمات قال في جنايات البدائع: يجب القصاص لأنه يعمل عمل النار والسكين قال السمرقندي فى شرحه: والعمل على هذه الرواية في زماننا لأنه ساع فى الأرض بالفساد فيقتل دفعاً لشره. (التحرير المختار:٦/ ٣٢٣، سعيد).

همدا ډول د مالكيه وو او حنابله وو په اند قتل عمد دئ او د شافعيه وو په اند به هغه وخت قتل عمد وي چي كله يې بې تميزه كوچني يا لېوني ته وركړي يا يې عاقل بالغ ته په زور سره وركړي كه يې عاقل بالغ ته په زور ورنه كړل نو بيا به شبه عمد وي.

په الفقه الاسلامي وادلته كي راځي:

والخلاصة أن التسميم قتل عمد عند المالكية والحنابلة وعمد عند الشافعية في حالة الإكراه وإعطائه غير المميز أو المجنون. (الفقه الاسلامى وأدلته:٦/ ٢٤٤). والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د سحر په ذریعه په وژلو کي د قصاص حکم

سوال: که ساحر د سحر په ذریعه یو څوک ووژه نو د قاتل ساحر حکم څه دئ او سزا یې څه ده؟

الجواب: ساحر که په سحر سره څوک مړ کړ نو داحنافو په اند به یې قصاص نه اخیستل کیږي او نه به یې دیت لازمیږي، البته قاضي یې تعزیرا قتل کولای سي ځکه مفسد فی الارض دئ.

په الاحکام القرآن کي راځي:

وعلى أى وجه كان معنى السحر عند السلف فإنه لم يحك عن أحد إيجاب قتل الساحر من طريق الجناية على النفوس بل إيجاب قتله باعتقاده عمل السحر من غير اعتبار منهم بجنايته على غيره . (احكام القرآن للجصاص:۱/ ۵۲).

په مدارک التنزیل کي راځي:

إن السحر الذي هو كفر يقتل عليه الذكور لا الأناث وماليس بكفر وفيه إهلاك النفس ففيه حكم قطاع الطريق ويستوي فيه المذكر والمؤنث وتقبل توبته إذا تاب. (التفسير النسفى:۱/ ۶۶ – وكذا فى التفسير المظهرى:۱/ ۱۰۶).

په معین الحکام کي علاء الدین طرابلسي رحمه الله فرمایي:

قال فى النوازل : الخناق والساحر يقتلان اذا أخذا لأنهما ساعيان في الأرض بالفساد فإن تابا ان كان قبل الظفر بهما قبلت توبتهما وبعد ما أخذا لا، ويقتلان كما في قطاع الطريق.

(معين الحكام فيما يتردد بين الخصمين من الأحكام:۱۹۳، دار الفكر). والله تعالى اعلم.

د کفارو په ملک کي د یو مسلمان پر وژلو د کفاري حکم

سوال: که یوه مسلمان بل مسلمان د کفارو په ملک ووژه اوس پښیمان دئ نو ایا قصاص واجب دئ او که دیت؟ که صلح کول وغواړي نو صلح کېدای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي په غیر مسلم ملک کي د قتل له امله قصاص ساقطیږي، البته دیت لازم دئ، البته که صلح کول وغواړي نو صلح کولای سي.

وګورئ فتح القدير کي راځي:

قوله وإذا دخل مسلمان دار الحرب بأمان فقتل أحدهما صاحبه عمداً أو خطأً فعلى القاتل عمدا الدية في ماله ولا كفارة عليه هكذا في عامة النسخ من شروح الجامع الصغير بلا ذكر خلاف . (فتح القدير:٦/ ٢٠، دار الفكر).

په درمختار کي راځي:

قتل أحد المسلمين المستأمنين صاحبه عمدًا أو خطأً (تجب الدية) لسقوط القود ثمة كالحد (في ماله) فيهما لتعذر الصيانة على العاقلة مع تباين الدارين . وفي الشامية : قوله لتعذر الصيانة علة لقوله في ماله أي لا على العاقلة لأن وجوب الدية على العاقلة بسبب تركهم صيانته عن القتل ولا قدرة لهم عليها مع تباين الدارين وهذا في الخطإ فكان ينبغي أن يزيد ، ولأن العواقل لا تعقل العمد . (الدر المختار مع الشامی:٤/ ١٦٧، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د بادشاه او يا د وخت د حکومت پر مجبورولو د قتل حکم

سوال: که يو څوک د بادشاه يا د وخت د حکومت له طرفه ديو چا پر قتل مجبور سي نو ده هغه قتل کړ نو ايا قصاص واجب دئ؟

الجواب: په دې صورت کي پر قاتل قصاص لازم دئ نه پر پادشاه يا پر حکومت او که آمر خليفه المسلمين وي نو پر آمر قصاص دئ او مامور قاتل مباح الدم او مردود الشهادة دئ .

په فتاوی هنديه کي راځي:

وإن أكره على قتل غيره بقتل لم يرخص ولم يسعه أن يقدم عليه ويصبر حتى يقتل ، فإن قتله كان آثمًا والقصاص على المكره إن كان عمدًا عند أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله كذا في الكافي ، ولو كان المأمور مختلط العقل أو صبيا يجب القصاص على المكره الآمر ، كذا في العيني شرح الهداية .... وإذا بعث الخليفة عاملًا على كورة فقال لرجل لتقتلن هذا الرجل

Maktaba Tul Ishaat.com

بالسيف وإلا لأقتلنك لا ينبغي للمكره المأمور أن يقتل ولكن مع هذا إن قتل فالقود على الآمر المكره ، والمكره المأمور بالقتل يأثم ويفسق وترد شهادته ويباح قتله ، والمكره الآمر يحرم عن الميراث دون المكره المأمور ، كذا في خزانة المفتين . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٩-٤١).

په فتاوي قاضي خان کي راځي:

إذا أكره الرجل بوعيد قيد أو حبس على قتل مسلم ففعل لا يصح الإكراه وعلى القاتل القصاص في قولهم . (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:٣/ ٤٨٤، كتاب الاكراه). والله ﷻ اعلم.

د قتل په يقين او يا غالب ګمان د قتل کولو حکم

سوال: که يو چا يقين يا غالب ظن وي چي زيد به ما قتل کړي نو دغه کس زيد قتل کولای سي؟

الجواب: په شريعت مطهره کي پرته له درو صورتونو د چا قتل روا نه دئ.

١_ وروسته تر احصان په زنا کي رجم .

٢_ ارتداد .

٣_ پر ناحقه قتل قصاص له دغو درو صورتونو څخه علاوه د قتل ګنجائش نه سته که يو څوک له بل چا څخه بېربږي نو د پوليسو وغيره په ذريعه دي د امکان تر حده ځان وساتي، البته که زيد په سلاح سره حمله وکړه او د دفاع پرته يې چاره نه وي که نه د خپل ځان د هلاک بېره يې وي نو په دغه وخت کي ده دفاع په توګه به د قتل ګنجائش وي .

په مشکوة شريف کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ : لايحل دم امرئ مسلم يشهد أن لا إله إلا الله وأني رسول الله إلا بأحدى ثلاث النفس بالنفس والثيب الزاني والمارق لدينه التارك للجماعة . متفق عليه. (مشكاة:٢/ ٢٩٩، كتاب القصاص).

په هدايه کي راځي:

قال ومن شهر على المسلمين سيفا فعليهم أن يقتلوه لقوله عليه الصلاة والسلام من شهر على المسلمين سيفاً فقد أطل دمه ولأنه باغ فتسقط عصمته ببغيه ولأنه تعين طريقاً لدفع القتل عن نفسه فله قتله . (الهداية:٤/ ٥٦٧).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ومن شهر على المسلمين سيفًا وجب قتله ، ولا شيء بقتله ، وكذلك إذا شهر على رجل سلاحًا فقتله ، أو قتله غيره دفعًا عنه فلا يجب بقتله شيء ، ولا يختلف بين أن يكون بالليل ، أو النهار في المصر ، أو خارج المصر كذا في التبيين .(الفتاوى الهندية:٦/ ٧).

په درمختار کي راځي:

ويجب قتل من شهر سيفاً على المسلمين يعني في الحال . وفى الشامية : قوله فى الحال أى في حال شهرة السيف عليهم قاصداً ضربهم لا بعد انصرافه عنهم فإنه لايجوز قتله . (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٦/ ٥٤٥، فصل فيما يوجب القود، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په قتل خطاء کي د ديت حکم

سوال: يو چا ټکان کول په غلطي سره يې ګولۍ پر يوه کس ولګېده او هغه مړ سو قاتل اقرار کوي اوس پر ده ديت سته او که نه؟ اندازه يې څومره ده؟ او په اقرار او يا شاهدۍ سره په ثبوت کي کوم فرق سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي دا قتل خطاء دئ او په قتل خطاء کي کفاره او ديت لازميږي بيا که په شاهدۍ سره قتل ثابت سي نو ديت پر عاقله وو دئ او که يوازي د قاتل په اقرار سره ثابت سي نو ديت د قاتل په مال کي لازميږي چي په درې کلونو کي به اداء کيږي او د ديت اندازه زر ديناره او د درهم په لحاظ (۱۰۰۰۰) لس زره درهمه چي اندازه يې په نوي پيمانه (۳۰/۶۱۸) کيلو ګرامه سپين زر دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ د هدايې مصنف ليکي:

وخطأ في الفعل وهو أن يرمي غرضاً فيصيب آدمياً وموجب ذلك الكفارة والدية على العاقلة لقوله تعالى ﴿ فتحرير رقبة مؤمنة ودية مسلمة إلى أهله ﴾، وهي على عاقلته في ثلاث سنين، ولا أثم فيه . (الهداية:٤/ ٥٦١).

په فتاوی هنديه کې راځي:

وخطأ فى الفعل .... وموجب ذلك الكفارة والدية على العاقلة، وتحريم الميراث وسواء قتل مسلمًا، أو ذميا في وجوب الدية والكفارة، ولا مأثم فيه في الوجهين سواء كان خطأ في القصد، أو خطأ في الفعل .... الخ . (الفتاوى الهندية:٦/ ٣).

وفى حاشية تبيين الحقائق: إذا أقر بقتل خطأ حيث يقضى عليه بالدية في ماله لأن إقراره حجة على نفسه . (حاشية تبيين الحقائق للشيخ شهاب الدين أحمد الشلبى:٦/ ١٧٩).

په عالمګيري کې راځي:

وكذلك من أقر بقتل خطأ كانت الدية في ماله في ثلاث سنين . (الفتاوى الهندية:٦/ ٨٧، فصل اذا لم تكن لقاتل الخطأ العاقلة....).

په هدايه کې راځي:

والدية فى الخطأ مائة من الإبل أخماساً.... قال: ومن العين ألف دينار ومن الورق عشرة آلاف درهم .... ولاتثبت الدية إلا من هذه الأنواع الثلاثة. (الهداية:٤/ ٥٨٤).

نوی مقدار وګورئ: (اوزان شرعيه از مفتى محمد شفيع :٦٢). والله ﷻ اعلم.

په اوس وخت کي د عاقله وو تعیین

سوال: په اوسنی وخت کي د احنافو په اند عاقله څوک دئ او تفصیل یې څه دئ؟

الجواب: مفتي محمد تقی عثماني وایي، کله چي به هر قوم پېل ژوند کاوه هغه وخت دعاقله رو تعیین اسان وو ځکه د هري قبیلې خلک به نژدې نژدې اوسېدل او خپل منځي تعاون به یې درلودئ نو د هر چا له پاره به عاقله وه او هغو به دیت اداء کاوه خو په اوس وخت کي او په خاص ډول په ښاري ژوند کي به عاقله څوک وي؟ د روایاتو څخه معلومېږي چي د عاقله کېدو دار ومدار پر خپل منځي تعاون او تناصر دئ نو هلته چي قبائل منظم وي نو هلته خو عاقله معلوم دئ هغه به دیت اداء کوي او که قوم نه وي نو لکه نن سبا چي د تجارانو اتحادیه وي د هغوی په منځ کي تعاون وي نو هغه دده عاقله کېدای سي خلاصه دا چي د یو چا عاقله د حالاتو په لحاظ مختلف کېدای سي، دیت پر عاقله وو د دې امله واجب دئ چي عاقله یې د جرائمو څخه راوګرځوي او داسي لار ښوونه دي ورته وکړي چي دی وقتل ته اماده نه سي او که یو وخت قتل ته آماده سي نو عاقله به یې منع کړي او دغه دیت دي په درې کلونو کي ځني واخلي او له یوه کس څخه دي په یوه کال کي له درې درهمه زیات نه اخلي. (تقریر ترمذی:٢/ ٥٧).

په هدایه کي راځي:

والعاقلة أهل الديوان إن كان القاتل من أهل الديوان يؤخذ من عطاياهم في ثلاث سنين، وأهل الديوان أهل الرايات وهم الجيش الذين كتبت أساميهم في الديوان وهذا عندنا .... ولنا قضية عمر رضي الله عنه فإنه لما دون الدواوين جعل العقل على أهل الديوان وكان ذلك بمحضر من الصحابة رضي الله عنهم من غير نكير منهم وليس ذلك بنسخ بل هو تقرير معنى لأن العقل كان على أهل النصرة وقد كانت بأنواع بالقرابة والحلف والولاء والعد وفي عهد عمر رضي الله عنه قد صارت بالديوان فجعلها على اهله اتباعاً للمعنى ولهذا قالوا: لو كان اليوم قوم تناصرهم بالحرف فعاقلتهم أهل الحرفة وإن كان بالحلف فأهله والدية صلة لكن إيجابها فيما هو

Maktaba Tul Ishaat.com

صلة وهو العطاء أولى منه في أصول أموالهم والتقدير بثلاث سنين مروي عن النبي ﷺ ومحكي عن عمر رضي الله عنه ولأن الأخذ من العطاء للتخفيف والعطاء يخرج في كل سنة مرة واحدة . (الهداية:٤/ ٦٤٥، كتاب المعاقل).

ثم اختلفوا في تعيين مصداق العاقلة .... وقال الإمام أبو حنيفة رحمه الله : إن العاقلة هم الذين يتناصر بهم القاتل، وكان التناصر في عهد رسول الله ﷺ بالقبائل، فكانت عاقلة الرجل قبيلته ثم تغير الوضع حين وضع سيدنا عمر رضي الله عنه الديوان، فصار التناصر بأهل الديوان فأصبح أهل الديوان عاقلته .... فألحاصل أن قضاء عمر رضي الله عنه بمحضر من الصحابة رضي الله عنهم دل على أن الحكم كان مناطه النصرة، فيتغير بتغيره، ويمكن أن يقال في عصرنا : إن التناصر أصبح للعمال بوفاقهم الذي يسمى ((تريد يونين)) .... فينبغي أن تكون عاقلة عامل وفاقه .... وحيث لم يكن للقاتل جماعة ينتصر بها فالدية في بيت المال إن كان منتظماً فيه سعة، وإن لم يكن منتظماً ففي مال القاتل . (تكملة فتح الملهم :٢/ ٣٧٩، الاختلاف فى العاقلة). والله تعالى اعلم.

د تغریق حکم

سوال: که یو چا یو بل څوک په اوبو کي واچاوه او غرق یې کړ نو پر ده قصاص راځي او که نه؟

الجواب: که اوبه دومره زیاتي وي چي له هغه راوتل او نجات موندل ممکن نه وي نو د صاحبینو په اند په قتل عمد کي داخل دئ او د امام صاحب په اند شبه عمد ده او که اوبه لږ وي چي له هغه ځخه ځان ساتل ممکن وي یا ډېري زیاتي وي خو د ده اوبازي زده وي او په اوبازي سره ځان ساتل ممکن وي نو د احنافو په اتفاق سره به شبه عمد وي .

وګورئ په فتاوی عالمګیري کي راځي:

ذکر شيخ الإسلام في شرح زيادات الأصل أن من غرق إنسانًا بالماء إن كان الماء قليلًا لا يقتل مثله غالبًا وترجى منه النجاة بالسباحة في الغالب فمات من ذلك فهو خطأ العمد عندهم جميعًا وأما إذا كان الماء عظيمًا إن كان بحيث تمكنه النجاة منه بالسباحة بأن كان غير مشدود ، ولا مثقل ، وهو يحسن السباحة فمات يكون خطأ العمد أيضًا ، وإن كان بحيث لا تمكنه النجاة فعلى قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى : هو خطأ العمد ، ولا قصاص ، وعلى قولهما : هو عمد محض ويجب القصاص . (الفتاوى الهندية:٦/ ٥).

وفى المبسوط : وإذا غرق رجل رجلًا في ماء فلا قصاص عليه ، وإن كان يعلم أنه لا ينقلب منه بلغنا ذلك عن عمر رضي الله عنه..... وعلى قول أبي يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله يجب عليه القصاص إذا جاء من ذلك ما يعلم أنه لا يعيش من مثله بمنزلة القتل بالحجر الكبير .... ثم الماء ليس في معنى السلاح . (المبسوط للإمام السرخسى:٢٦/ ٢٧٨، بيروت).

همدا ډول وګورئ: (الفقه الإسلامی وأدلته:٦/ ٢٥٣). والله تعالی اعلم.

د یو تینیز یا رحیمانه (EUTHANASIA) قتل حکم

سوال: د شریعت مطهره له نظره یو تینیز یا رحیمانه قتل روا دئ او که نه؟

الجواب: د یو تینیز لنډه پېژندنه په دې ډول ده هغه مریض چي په سختو تکلفیونو کي مبتلا وي او د ماهرو ډاکټرانو د اندازې مطابق یې د صحت کوم امید پاته نه وي یا داسي کوچني چي له پیدایښته معذور وي هغه ته د همېشه له پاره د تکلیف څخه د نجات ورکولو له پاره دوا یا پیچکاری ورکړل سي چي د ده ژوند ختم سي او قربان یې د همېشني غم او تکلیف څخه خلاص سي یو تینیز پر دوه ډوله دئ.

۱ـ داسي دواګاني استعمالول چي ژوند ختم کړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲_ له داسي دوا ګانو او علاجونو څخه پرهېز کول چي ژوند اوږد وي .

یوتــهینیزیا (EUTHANASIA) یعنـی الـمریض الـذي هـو فـی ألـم دائـم وعـذاب مستمر ولایرجی شفائه منه أو الطفل الذي یکون معذوراً إلی حد غیر عـادی ویکـون کـلاً علی أبویـه فقـتلهم شـفقة لتخلیـصهم مـن الألـم وإراحـة الآخـرین، لـیعلم أن لیوتـهینیزیا طـریقتین وأسلوبین .

۱_ العملی الـمباشر (Active).

۲_ وغیر الـمباشر (Passie).

انګرېزي الفاظ وګورئ:

Euthanasia (literally" qood death") practice of endinq a lifa so as to relcase an individual trom an incurable dlsease or intolerable sufferinq also called "mercy killinq ". The term is sometimes used qeneraly to rafar fo an easy or painless death. Volunfary euthanasia involves a request by a dying patient or that persons leqal represenfifive passlve or neqative euthanasia irvolves involves not doinq somethinq to preveht drevent –that is. Allowinq someone to die: actve or bosifive euthanasia invoes tahinq deliberale action to cause a death.

حکم یې وګورئ:

د شریعت له نظره یو تینیز روا نه دئ بلکي د قتل نفس مترادف دئ او که مریض اجازه وکړل نو د خود کشي په درجه کي دئ او قتل د نفس او خود کشي دواړه ګناه کبیره دي له مبارکو احادیثو څخه معلومیږي چي له درو صورتونو څخه علاوه د یو چا وژنه حرامه او ناروا ده:

۱_ واده لرونکي نارینه یا ښځه زنا وکړي.

۲_ یو څوک ناحقه قتل کړي .

۳_ مرتد سي .

په حديث شريف کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ : لايحل دم امرئ مسلم يشهد أن لا إله إلا الله وأني رسول الله إلا بأحدى ثلاث النفس بالنفس والثيب الزاني والمارق لدينه التارك للجماعة . متفق عليه. (مشكاة:۲/ ۲۹۹، كتاب القصاص).

وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنه أن النبي ﷺ قال: لزوال الدنيا أهون على الله من قتل رجل مسلم، رواه الترمذي والنسائي ووقفه بعضهم وهو الأصح ورواه ابن ماجة عن البراء بن عازب رضي الله عنه .(مشكوة شريف:۲/ ۳۰۰).

عن أنس عن النبي ﷺ فى الكبائر قال: الشرک بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس وقول الزور .(رواه مسلم :۱/ ٦٤).

عن أبى هريرة قال قال رسول الله ﷺ : من قتل نفسه بحديدة فحديدته فى يده يتوجأ بها فى بطنه فى نار جهنم خالدًا مخلدًا فيها أبدًا ومن شرب سمًا فقتل نفسه فهو يتحساه فى نار جهنم خالدًا مخلدًا فيها أبدًا ومن تردى من جبل فقتل نفسه فهو يتردى فى نار جهنم خالدًا مخلدًا فيها أبدًا . (رواه مسلم:۱/ ۷۲).

وعن جندب بن عبد الله رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ : كان في من كان قبلكم رجل به جرح فجزع فأخذ سكيناً فحز بها يده فما رقأ الدم حتى مات قال الله تعالى: بادرني عبدي بنفسه فحرمت عليه الجنة . (متفق عليه، مشكوة شريف:۲/ ۳۰۰).

په عالمګیري کي يې د طبيب او ډاکټر د علاج حدود ښودلي دي، وې ګورئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

ولا بأس بشق المثانة إذا كانت فيها حصاة وفي الكيسانيات في الجراحات المخوفة والقروح العظيمة والحصاة الواقعة في المثانة ونحوها إن قيل قد ينجو وقد يموت أو ينجو ولا يموت يعالج وإن قيل لا ينجو أصلًا لا يداوى بل يترك كذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٦٠، باب في جراحات بنى آدم).

د ماهرو ډاکټرانو ذمه داري دا ده چي د علاج فکر وکړي ځکه داسي يوه مريضي نه سته چي د هغې علاج ممکن نه وي په پخوا زمانه کي څه امراض بې علاجه ګڼل کېدل خو اوس د ترقۍ په زمانه کي دا خبره نه سته او همدا ډول د شريعت مطهره منشاء هم همدا ده چي علاج او شفاء له ناممکنو کارو څخه نه دي.

په حديث شريف کي هم د هغه وطرفته اشاره سوي ده:

عن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ : ما أنزل الله داء إلا أنزل له شفاء، رواه البخارى . وعن جابر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ : لكل داء دواء فإذا أصيب دواء الداء برأ بإذن الله تعالى . رواه مسلم .(مشكوة شريف:٢/ ٣٨٧، باب لطب).

بل دا چي د مسلمان مريضي د مسيئاتو کفاره او د درجو د پورته کېدو لامل وي لهذا مريضي هم رحمت دئ البته همېشه دي د عافيت دعاء کوي او مريضي دي نه غواړي خو که راسي د صبر څخه دي کار اخلي او د دنيا قاعده ده چي الله تعالى پر خپلو مقبولو بندګانو څه ناڅه تکاليف مسلطوي .

په حديث شريف کي راځي:

عن مصعب بن سعد عن أبيه قال : قلت : يا رسول الله : أي الناس أشد بلاء ؟ قال : ((الأنبياء ثم الأمثل فالأمثل فيبتلى الرجل على حسب دينه فإن كان دينه صلباً اشتد بلاؤه وإن كان في دينه رقة ابتلى على حسب دينه فما يبرح البلاء بالعبد حتى يتركه يمشى على الأرض ما عليه

خطيئة . قال أبو عيسى : هذا حديث حسن صحيح وفي الباب عن ابي هريرة رضي الله عنه. (ترمذی شریف:۲/ ٦٥، باب ماجاء فی الصبر علی البلاء).

عن عبد الله ، قال : دخلت على رسول الله ﷺ وهو يوعك ، فقلت : يا رسول الله إنك لتوعك وعكًا شديدًا قال : أجل إني أوعك كما يوعك رجلان منكم قلت : ذلك أن لك أجرين قال : أجل ذلك كذلك ما من مسلم يصيبه أذًى شوكة فما فوقها إلا كفر الله بها سيئاته كما تحط الشجرة ورقها. (صحيح البخاری:۲/ ۸٤٣، باب اشد الناس بلاء الانبياء ثم الامثل فالامثل، کتاب المرضی).

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه أن رجلًا قال: يا رسول الله أرأيت هذه الأمراض التي تصيب أبداننا ، ما لنا بها ؟ قال: " الكفارات " قال أبي بن كعب رضي الله عنه : وإن قل ذلك يا رسول الله ؟ قال: " وإن شوكةً فما وراءها ". (مشكل الآثار للطحاوی :٥/ ٢٠٥/ ١٨٤٧، باب بيان مشكل ماروی عن رسول الله ﷺ فی حط الخطايا).

لهذا د امراضو او تکاليفو څخه دي نه نااميده کيږي بلکي له صبر سره دي د ثواب اميد وساتل سي.

د يو تهينيز (EUTHANASIA) د دوهم صورت حکم :

حضرت مولانا مفتي نظام الدين صاحب فرمايي:

دغه تکاليف د ګناهونو کفاره او په آخرت کي د درجو ذريعه ګرځي او بيا د همېشني راحت ذريعه ګرځي ځکه نو د مخکينو دوو تدبيرونو څخه د يو تدبير حکم يا اجازه هيڅکله په شريعت مقدسه کي نه سته، البته د دواړو په حکم کي به دا فرق وي چي په :

۱ _ کي به غير طبعي مرګ د دوا وغيره په ذريعه په واقع کولو کي به د قتل ګناه ورباندي راځي دېر وختونه په شريعت کي ديت او ضمان وغيره هم لازميږي .

۲_ او په دوهم کي دا حکم (د قتل ګناه وغیره) خوبه نه وي خو د تدبیر پرېښودل او د صحت له پاره کوښښ نه کول بد عمل او د شریعت له منشاء څخه خلاف دي او که يې په سستي او بې پروايي سره داسي وکړل نو پر هغه به مواخذه وي. (منتخبات نظام الفتاوى: ۱/ ۳۹۲). والله تعالى اعلم.

فقه المشکلات کي راځي:

فالامتناع عن المعالجة في هذه المسألة عمل والقد منه إهلاک النفس وإنهاء الحياة فقتل النفس فى (Actve) بإعطاء الدواء عمل جسماني. وفي (۲) (Passive) قتل النفس بالامتناع عن الدواء هو عمل نفسي، وكلتا الصورتان محرمتان شرعاً. (فقه المشکلات از مولانا قاضي مجاهد الاسلام صاحب: ۱۸۵).

په عالمګيري کي راځي:

إذا احترقت السفينة أو غلب على ظنهم أنهم لو ألقوا أنفسهم في البحر خلصوا بالسباحة يجب عليهم ذلك ولو كانوا بحال لو ألقوا أنفسهم فيه غرقوا ولو لم يلقوا أحرقوا فهم بالخيار بين الإقامة والإلقاء من قتل نفسه كان إثمه أكثر من أن يقتل غيره كذا في السراجية. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۶۱، باب فى جراحات بنى آدم).

په حديث شريف کي راځي:

عن أسامة بن شريک رضي الله عنه قال: قالوا: يا رسول الله! افنتداوي قال: نعم، يا عباد الله تداووا فإن الله لم يضع داء إلا وضع له شفاء غير داء واحد الهرم. رواه أحمد والترمذى، وأبو داؤد. (مشکوة شريف: ۲/ ۳۸۸).

په فتاوی هندیه کې راځي:

أما الأكل فعلى مراتب : فرض ، وهو ما يندفع به الهلاك ، فإن ترك الأكل والشرب حتى هلك فقد عصى . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٣٦، باب فی الاکل ومايتصل به).

(نظام الفتاوی:١/ ٣٩٠-٣٩٢ -- وفقه المشكلات بحوث فقهية مختارة، بعنوان ((القتل بدافع الرحم والشفقة)) از قاضی مجاهد الاسلام قاسمی، ص:١٥٥ تا ١٨٥، ادارة القرآن – وجديد فقهی مسائل:١/ ٢٠٨). والله ﷻ اعلم.

له سائنسي تحقيقاتو څخه د حد او قصاص حکم

سوال: د فور نسک سائنس (Forensicscience) حکم څه دئ؟ يعني د مثال په ډول د زنا بالجبر يا قتل مقدمي په داسي ډول حل کړل سي چې (DNA) يې د وينې يا ناوړو يا مني په ذريعه را وايستل سي بيا د هغه تحقيق وکړي په اسلام کې يې حيثيت څه دئ؟

الجواب: د فور نسک سائنس (Forensicscience) لنډه پېژندګلوي:

فور نسک سائنس (عدالتي سائنس) د يو خاص جماعت يو ضروري رکن دئ چې د هغه نور غړي د امراضو ماهرين او پوليس وي د دغه جماعت مقصد د مرګ حقيقي وجه معلومول وي د دې مختلف ښاخونه دي يو ښاخ يې د مجرمانو د دعوو پلټنه او څېړنه کوي او يو بل جماعت د امراضو د ماهرينو په مرسته د بدن اجزاء د مثال په ډول ورېښتان، مني، ناوړي، وينه، د توارثي عناصرو وغيره په ذريعه د مجرم صحيح معلومات کوي.

انګرېزي الفاظ وګورئ:

The forensic scientist is an inteqral member of a team that also comprises of the forensic patholoqist and the police brouqht toqetht toqether to investiqate the cause of a death thouqht to have occurred in suspicious circumstances. The forensic scientist assists the patholoqist in idenfification of the body throuqh the determinafion of blood type. DNA profile and in the idenfifscatiom offibras hairs

Maktaba Tul Ishaat.com

semen amd othr body substances that that may hay have been deposifed by the assailant as in the case of homicide. Foremsic scientists usually work at a specialized instialised insfifufion that deals only with such work. Their evidence is crucial for conviction in cases of homicide.

د فورنسک سائنس (Forensicscience) حکم:

کوم جرم چي د فورنسک سائنس په ذريعه ثابت وي اوپر هغه شرعي شاهد موجود نه وي بلکي يوازي د ساينسي تحقيق په ذريعه ثابت وي نو يوازي د تحقيق پر بنياد حدود او قصاص نه جاري کيږي، البته هغه به بيخي له نظره هم نه غورځول کيږي بلکي قاضي به د مناسب تعزير اجازه لري لامل يې دا دئ چي د شريعت منشاء او مقصد دا دئ چي دامکان تر حده به حد ساقطوي.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن عائشة قالت رضي الله عنها: قال رسول الله ﷺ: ادرءوا الحدود عن المسلمين ما استطعتم فإن كان له مخرج فخلوا سبيله فإن الإمام أن يخطئ في العفو خير من أن يخطئ في العقوبة .(رواه الترمذي: ١/ ٢٦٣).

په الاشباه والنظائر کي راځي:

وفي فتح القدير: أجمع فقهاء الأمصار على أن الحدود تدرأ بالشبهات، والحديث المروي في ذلك متفق عليه، وتلقته الأمة بالقبول، والشبهة ما يشبه الثابت، وليس بثابت.

(الاشباه والنظائر: ١/ ٣٣٦، القاعدة السادسة، الحدود تدرأ بالشبهات).

په شرح المجله کي راځي:

القرينة القاطعة هي الأمارة البالغة حد اليقين مثلاً إذا خرج أحد من دار خالية خائفاً مدهوشاً في يده سكين ملوثة بالدم فدخل في الدار ورؤي فيها شخص مذبوح في ذلک الوقت

فلا يشتبه في كونه قاتل ذلك الشخص ولا يلتفت إلى الاحتمالات الوهمية الصرفة كأن يكون الشخص المذكور ربما قتل نفسه، فالقول بأنه ذبحه آخر ثم تسور الحائط أو أنه ذبح نفسه، احتمال بعيد لا يلتفت إليه إذ لم ينشأ عن دليل ـ والقرينة القاطعة هي التي تصير الأمر في حيز المقطوع وفي معين الحكام: قال بعض العلماء على الناظر أن يلحظ الأمارات والعلامات إذا تعارضت فما ترجع منها قضى بجانب الترجيح وهو قوة التهمة ولاخلاف في الحكم بها وفي تبصرة الحكام قال الله تعالى: ﴿ تعرفهم بسيماهم ﴾ دل على السيما المراد بها حال يظهر على الشخص، والأمارات مأخوذة من الشريعة قال الله تعالى : ﴿ وجاءوا على قميصه بدم كذب ﴾ قال عبد المنعم بن الفرس : روى أن إخوة يوسف عليه السلام لما أتوا بقميص يوسف عليه السلام إلى أبيهم يعقوب عليه السلام تأمله فلم يجد فيه خرقاً ولا أثر ناب فاستدل بذلك على كذبهم وقال: متى كان الذئب حليماً يأكل يوسف ولايخرق قميصه. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي:٥/ ٣٩٠، المادة ١٧٤١، مكتبة الرشيدية).

په درر الحكام كي راځي:

القرينة القاطعة هي الأمارة البالغة حد اليقين وبتعبير آخر هي القرينة الواضحة بحيث يصبح الأمر في حيز المقطوع به ، والعمل بالقرينة القاطعة يجري في أبواب الفقه المختلفة وأمثلة ذلك على الوجه الآتي :.... يجوز في حال ظهور أمارة حبس المتهم بالقتل أو بالجرائم الأخرى .(درر الحكام شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر:٤/ ٤٣٢،المادة ١٧٤١ – وكذا فى معين الحكام:ص ١٦٦، الباب الحادى والخمسون، دار الفكر).

Maktaba Tul Ishaat.com

په تکمله فتح الملهم کي راځي:

قد ذكر بعض الفقهاء أن الشبهة تسقط الحد دون التعزير فالتعزير يثبت مع الشبهات والحقيقة أن الشبهة على قسمين: الأول: ـ ماكان مانعاً من غلبة الظن بأن المتهم قد ارتكب مالايحل له فهذا القسم يستوي فيه الحد والتعزير وأن هذا النوع من الشبهة يسقط الحد والتعزير كليهما، والثاني: ـ ما لم يكن مانعاً من ذلک فهذا النوع من الشبهة فهي شبهة فنية تعرض في صدق تعريف مايوجب الحد وهي الشبهة التي ذكرها الفقهاء باسم الشبهة فی المحل والشبهة فی الفعل فإن هذه الشبهة تسقط الحد ولاتسقط التعزير. (تكملة فتح الملهم: ۲/ ۲٦۷).

په فتاوی حقانیه کي راځي:

نوي آلات په اوس وخت کي ښځي له نظره نه غورځول کيږي او دغه ذرائع د جرم دا ثبات له پاره تر ډېره حده کار هم کوي په دې شرط چي نور ذرائع او قرائن يې تائيد وکړي.

بل ځای ليکي:

د مقتول وينه او د قاتل پر جسم د لګېدونکي ويني يو والي د قتل د اثبات قرينه ده نو که د مقتول او د قاتل د جامو او پر خنجر د لګېدونکي ويني يو والي ثابت سي نو په شريعت کي دغه کس مجرم ګڼل کيږي او که يې نور شواهد هم تائيد وکړي نو پر قاتل به حد جاري کيږي که نه قاضي ورته تعزير ورکولای سي. (فتاوی حقانیه: ۵/ ۵۱۷). والله تعالیٰ اعلم.

د شرابو پر حرمت شبهات

سوال: ځيني ګمراهان وايي چي د شرابو حرمت په قرآن کريم کي نه دئ يوازي په احاديثو کي دئ ايا د دوی دا خبره صحيح ده او که نه؟

الجواب: د شرابو حرمت په قرآن کي دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه ﴾. (سورة المائدة، الآية: ۹۰).

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! بېله شکه شراب، قمار، بتان، د قمار غشي دا ټول نجس دي د شيطاني اعمالو څخه دي نو له دغو شيانو څخه ليري سي چي تاسو کامياب سي شيطان خو دا غواړي چي د شرابو او خمار په ذريعه ستاسو په منځ کي بغض او عداوت پيدا کړي او د الله له ياده او لمانځه څخه مو راوګرځوي نو ايا تاسو به منع سي.

په پورتنی آيات کي شراب، قمار، بتان د قمار غشي نجس او شيطاني عمل بنودل سوی دئ چي د هغه مطلب دا دئ چي دا شيان مردار دي د انساني ژوندانه له پاره مناسب او حلال نه دي او دا شيان شيطاني اعمال دي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په اند خوښ نه دي د مسلمانانو له پاره ضروري ده چي د شيطان او شيطاني عمل څخه ليري سي د الله ﷻ او د رسول ﷺ اطاعت وکړي ځکه نو الله ﷻ پورتنی شيان حرام ګرځولي دي.

د شرابو پر حرمت يو څو شبهې او د هغو جوابونه:

۱_ په قرآن کريم کي د حرام لفظ موجود نه دئ.

الجواب: الزامي جواب خو دا دئ چي د زنا له پاره هم د حرام لفظ په قرآن کي ذکر سوي نه دئ حال دا چي د زنا حرمت ټول مني.

۲_ تحقيقي جواب: په تفسي حقاني کي راځي: صاحب د کشاف ليکي چي په دغه آيت کي يې د شرابو حرمت په څو وجوهاتو ټينګ کړي دي.

۱_ د جملې په شروع کي يې ((انما)) راوړي دي.

۲_ له بت پرستي سره يې يو ځای کړي دي.

۳_ هغه ته يې د رجس يعني ناپاک ويلي دي.

۴_ د شيطان عمل يې ګڼلي دئ چي د ټولو خرابيو سرچينه ده.

۵_ له هغه څخه يې د ځان ساتلو حکم کړی دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦_ له هغه ځخه په ځان ساتلو كې يې فلاح بيان كړي ده نو په كولو كې يې فلاح چيري ده؟.

٧_ د تحريم علت يې دانسان د حواسو معطل كېدل دي چې د ده په معاش او معاد كې خلل را ولي په ژوندانه كې خو خپل منځي دښمني او په معاد كې له لمانځه او د خداى له ياده ځخه غفلت را ولي له دې ځخه وروسته يې په ﴿ أطيعوا الله ﴾ سره تر ﴿ المبين ﴾ پوري نور هم د دغه حكم تاكيد وكړ او س د حرام د لفظ اطلاق د هغه د حرمت له پاره ضروري نه وو . (تفسير حقانى:٤٠٥٤).

په ايات الاحكام كې شيخ صابوني فرمايي:

التعبير بقوله تعالى : ﴿ فاجتنبو ﴾ (المائدة، الآية:٩٠) أبلغ في النهي والتحريم من لفظ حرم لأن معناه البعد عنه بالكلية فهو مثل قوله تعالى : ﴿ ولا تقربوا الزنى ﴾ (الإسراء : ٣٢) لأن القرب منه إذا كان حراماً فيكون الفعل محرماً من باب أولى فقوله ﴿ فاجتنبو ﴾ معناه : كونوا في جانب آخر منه ، وكلما كانت الحرمة شديدة جاء التعبير بلفظ الاجتناب كما قال تعالى : ﴿ فاجتنبوا الرجس من الأوثان قول الزور ﴾ (الحج : ٣٠) ومعلوم أنه ليس هناك ذنب أعظم من الإشراك بالله .(آيات الأحكام للصابونى: مأخوذ من فتاوى الشبكة:٤/ ٩٣٦).

همدا ډول د نبي كريم ﷺ بابركته ذات د قرآن له پاره د شرح او تفسير پر منزله وو لهذا په احاديثو كې نبي كريم ﷺ هغه حرام ګڼلي دي چې هغه د قرآن بيان دئ دا خبره ناممكنه ده چې له قرآن ځخه دي اباحت واخيستل سي او رسول الله ﷺ دي هغه حرام وګرځوي په قرآن كې د الله تعالى ارشاد دئ :

﴿ وأنزلنا إليك الذكر لتبين للناس ما نزل إليهم ﴾. (سورة النحل، الآية:٤٤).

په معارف القرآن كې مفتي محمد شفيع وايي:

په دغه آيت كې له ذكر ځخه مراد بالاتفاق قرآن كريم دئ او رسول الله ﷺ ته په دغه آيات كې امر سوي دئ چې د قرآن كريم د نازل سوو آياتونو بيان او وضاحت د خلكو په وړاندي وكړي دلته په ډاګه ثابته سوه چې د قرآن كريم حقائق او معارف او احكام صحيح فهمول د رسول الله ﷺ پر بيان موقوف

دي که چیري هر انسان یوازي له عربي ژبي څخه په خبرتیا د قرآن په احکامو پوهیدای نو رسول الله ﷺ ته د بیان او توضیح د خدمت ورسپارلو له پاره کومه معنا نه وه . (معارف القرآن:٥/ ٣٣٦).

لکه څنګه چي دی مبارک د ذکر سوو آیاتونو په وضاحت کي فرمایي:

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ : إن الله تعالى حرم الخمر فمن أدركته هذه الآية وعنده منها شيء فلا يشرب ولا يبع قال : فاستقبل الناس بما كان عنده منها في طريق المدينة فسفكوها.(رواه مسلم:٢/ ٢٢).

له حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ فرمایي، چي شراب الله تعالی حرام ګرځولي دي له چا سره چي شراب وي او ده ته د حرمت آیات ورسیږي نو دی دي نه شراب چښي او نه دي شراب خرڅوي، ابو سعید خدري رضي الله عنه وایي چي له چا سره چي شراب وه هغوی د مدینې پر لارو وبهول .

٢_ عن جابر بن عبد الله أنه سمع رسول الله ﷺ يقول عام الفتح وهو بمكة : إن الله ورسوله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والأصنام . (مسلم:٢/ ٢٣).

٣_ عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله حرم الخمر والميسر والكوبة .... (مشكوة:٢/ ٣٨٦).

له حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي الله تعالی شراب او سود او ډول وهل حرام ګرځولي دي .

٤_ عن ابن عمر رضي الله عنهما، قال : خطب عمر رضي الله عنه على منبر رسول الله ﷺ فقال : إنه قد نزل تحريم الخمر .... (رواه البخاري).

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمایي، چي حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر منبر خطبه ویل او ویې فرمایل، چي په یقیني ډول د شراب حرمت نازل سوی دئ له پورتنیو نصوصو څخه د شرابو حرمت په قطعي توګه ثابتیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په هدايه كي يې د شرابو د حرمت انكار كفر او حجود ګڼلي دئ:

ومن الناس من أنكر حرمة عينها .... وهذا كفر لأنه جحود الكتاب فإنه تعالى سماه رجساً والرجس ما هو محرم العين وقد جاءت السنة متواترة أن النبي ﷺ حرم الخمر وعليه انعقد الإجماع . (هدايه آخرين، ۴۹۳).

دوهمه شبه دا ده چي له ځيني آياتونو څخه د شرابو حلت معلوميږي د مثال په ډول:

۱ــ ﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون ﴾. (سورة النساء، الآية: ۴۳).

۲ــ ﴿ ومن ثمرات النخيل والأعناب تتخذون منه سكرًا ورزقًا حسنًا ﴾. (سورة النحل، الآية:۶۷).

۳ــ ﴿ يسألونك عن الخمر والميسر قل فيهما إثم كبير ومنافع للناس ﴾. (سورة البقرة، الآية:۲۱۹).

الجواب: د شرابو احكام په كراره نازل سوي دي لهذا د اسلام په پيل كي شراب حلال وه بيا په بېلو واقعاتو كي په كراره حرام سوه له دې امله كوم آياتونه چي يې د حلت په هكله ذكر سوي دي هغه د اسلام پر ابتداء حمل دئ بيا نسخ راغله.

وګورئ علامه ابن كثير رحمه الله فرمايي:

قال الإمام أحمد: .... عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أنه قال: لما نزل تحريم الخمر قال: اللّهم بين لنا في الخمر بيانًا شافيًا. فنزلت الآية التي في البقرة: ﴿ يسألونك عن الخمر والميسر قل فيهما إثم كبير ﴾ فدعي عمر رضي الله عنه فقرئت عليه، فقال: اللّهم بين لنا في الخمر بيانًا شافيًا. فنزلت الآية التي في النساء: ﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى ﴾

(النساء: ٤٣)، فدعي عمر رضي الله عنه فقرئت عليه، فقال: اللّٰهم بين لنا في الخمر بيانًا شافيًا، فنزلت الآية التي في المائدة، فدعي عمر رضي الله عنه، فقرئت عليه، فلما بلغ: ﴿فهل أنتم منتهون﴾ (المائدة: ٩١)؟ قال عمر رضي الله عنه: انتهينا، انتهينا. (ابن كثير:٢/ ١٠٤، وابن عربی:٢/ ١٦٣).

خو ځيني کسان وايي چي په قرآن مجيد کي نسخ ممکنه نه ده له نسخ څخه انکاريې يوازي له دې امله وکړ چي د نسخ حقيقت او حکمت ته دوی رسېدلي نه دي.

په معارف القرآن کي حضرت مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

يو درېيم صورت دا دئ چي حکم ورکونکي ته له ابتداء څخه معلومه وه چي حالات بدلیږي او هغه وخت به دا حکم مناسب نه وي دوهم حکم به ورکوي په دغه له پوهيدلو سره سره يې نن يو حکم ورکړ او چي کله يې د خپل علم مطابق حالات بدل سو نو د خپل مخکني قرارداد مطابق حکم هم بدل سو د دې مثال داسي دئ چي د مريضي اوسنيو حالاتو ته په کتلو سره حکيم يا ډاکټر يوه دوا تاکي او دی پوهيږي چي دوې ورځي وروسته د مريض حالت بدليږي هغه وخت به زه بله دوا ټاکم نو په لومړی ورځ داسي دوا ټاکي چي له هغې ورځي سره مناسب وي دوې ورځي وروسته د حالاتو له بدلون سره سم بله دوا ټاکي د الله جل جلاله په احکامو کي يوازي د نسخ دغه اخيراني صورت کېدای سي. (معارف القرآن:١/ ٢٨٣).

درېيمه شبه:

په آيت کريمه کي د فاجتنبوه مطلب او منشاء يوازي دومره ده چي په څښلو کي يې احتياط وکړي چي مفاسد لازم نه سي يا دا د دوی په اند يوازي نصيحت دئ؟

الجواب: د مفسرينو اتفاق دئ چي د اجتنبوه معنا ده پوره پرېښودل او ليري کېدل لکه څنګه چي محقق ابن کثير رحمه الله فرمايي، فاجتنبوه ای ترکوه. (١/ ١٠٤، وکذا في التفسير السمرقندی:١/ ٤٥٧).

امام ابو بکر جصاص رازي رحمه الله په احکام القرآن کي فرمايي:

Maktaba Tul Ishaat.com

اقتضت هذه الآية تحريم الخمر من وجهين : - أحدهما قوله رجس لأن الرجس اسم في الشرع لما يلزمه اجتنابه .... والوجه الآخر قوله تعالى فاجتنبوه وذلك أمر والأمر يقتضى الإيجاب فانتظمت الآية تحريم الخمر من هذين الوجهين . (أحكام القرآن:۲/ ٤٦١).

ابن عربي رحمه الله فرمايي:

قوله تعالى : ﴿ فاجتنبوه ﴾ يريد أبعدوه ، واجعلوه ناحيةً ؛ وهذا أمر باجتنابها ، والأمر على الوجوب لا سيما وقد علق به الفلاح . (احكام القرآن لابن العربى:۲/ ١٦٥).

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي:

قوله تعالى : ﴿ فاجتنبوه﴾ يريد ابعدوه واجعلوه ناحية ؛ فأمر الله تعالى باجتناب هذه الأمور ، واقترنت بصيغة الأمر مع نصوص الأحاديث وإجماع الأمة ، فحصل الاجتناب في جهة التحريم ؛ فبهذا حرمت الخمر، ولا خلاف بين علماء المسلمين أن سورة المائدة نزلت بتحريم الخمر ، وهي مدنية من آخر ما نزل ، وورد التحريم في الميتة والدم ولحم الخنزير في قوله تعالى : ﴿ قل لا أجد ﴾، وغيرها من الآي خبرا ، وفي الخمر نهياً وزجراً ، وهو أقوى التحريم وأوكده. (الجامع لأحكام القرآن:٦/ ١٨٦).

په لسان العرب کي راځي:

جنب الشيء.... واجتنبه : بعد عنه، وهذا مفهوم عدم القرب. (لسان العرب:١/ ٢٧٨).

په قاموس الوحيد کي راځي:

اجتنب الشئ ، ځان ساتل، ليري کېدل، بغل ورڅخه خالي کول . (قاموس الوحيد:١/ ٢٨٤).

او همدا ډول دآيت له سياق او سباق څخه هم معلومېږي چي امر د وجوب له پاره دئ او تحريم مواد دئ .

د تفصيل له پاره وګورئ: (صفوة التفاسير: ۱/ ۳٦٦ - وأحكام القرآن للجصاص: ۲/ ٤٦۱ - ومعارف القرآن: ۲/ ۵۸۳).

څلورمه شبه:

په قرآن کې دي: ﴿إنما حرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما أهل به لغير الله﴾. (سورة البقرة، الآية ۱۷۳).

له دغه آيت کريمه څخه معلوميږي چي يوازي دغه شيان حرام دي او څنګه چي په دغو شيانو کي د خمر لفظ نه سته څکه نو حلال دي ګوياکه انما د حصر له پاره دئ؟

الجواب: مفسرينو ډېر جوابونه ورکړي دي يو څو يې په لاندي ډول دي.

۱_ انما د تاکيد له پاره راغلي د حصر له پاره نه دئ.

۲_ دا حصر اضافي دئ حقيقي حصر نه دئ يعني فقط دا شيان حرام دي او سائبه، بحيره، وصيله او حام چي تاسو حرام ګڼي هغه حرام نه دي.

۳_ دا مطلب نه دئ چي حرمت يوازي له دې شيانو سره مخصوص دئ بلکي د هغه مطلب دا دئ چي په دې شيانو کي د حرمت او نجاست څخه پرته څه نه سته يعني کومه فائده نه لري.

۴_ د دې شيانو حرمت د نجاست له امله دئ که په نورو شيانو کي نجاست وي نو حرمت به هم وي.

۵_ په دې کي قصر قلب دئ يعني تاسو دغه شيان حلال ګڼي حال دا چي همدغه شيان حرام دي.

د شرابو اقسام او د هغو احکام:

د درو امامانو په اند هر مسکر حرام دي او حد واجبوي که هغه لږ وي او که ډېر وي او امام محمد رحمه الله په حرمت کي له ائمه ثلاثه سره متفق دئ خو د حد په وجوب کي له شيخينو سره دئ يعني د خمر څخه علاوه د سکر اعتبار سته د شيخينو په اند شرابه درې ډوله دي:

۱_ الخمر: ني من ماء العنب إذ اغلا واشتد وقذف بالزبد.

Maktaba Tul Ishaat.com

د هغه قليل او كثير حرام دئ او د هغه چښل حد واجبوي كه څه هم لږ وي.

۲_ د انګورو پخه شيره چي كله له دوه ثلثه څخه لږيږ ولاړ سي او د خرما يعني د منقى پاخه سوي شراب چي كله څک وكړي د هغه چښل حرام دي كه څه هم لږ وي، البته د حد سكر څخه وروسته حد لازميږي.

۳_ څلور ذكر سوي شراب يعني د انګور اومه شراب، د انګورو پاخه شراب د خرما پاخه شراب او د منقى د شرابو علاوه لكه نبيذ التمر والزبيب مطبوخ ادنى طبخة او عصير العنب چي د هغه دوه ثلثه په پخيدو سره تللي وي او د غنمو وريجو شعير وغيره شراب د هغه لږ غير مسكر مقدار چښل د قوت د عبادت له پاره د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په اند حلال دي او د مستي لهو او لعب په توګه ناروا دي او كه مستي پيدا سوه خو د راجح قول مطابق حد دئ، البته د دواء په ډول روا دي په عامو حالاتو كي د امام محمد رحمة الله عليه پر قول فتوى ده چي خوراک يې روا نه دئ او د علاج په باب كي د شيخينو پر قول فتوى ده يعني غير مسكر مقدار چي په دواګانو كي ګډيږي حلال دي .

د بهيمي سره د وطي كولو حكم

سوال: يو چا له يوې بوزي سره جماع وكړي په شريعت كي د ده حكم څه دئ او له دې بوزي سره بايد څه وسي؟

الجواب: پر دغه كس تعزير لازم دئ او بوزه دي ذبح كړي يا دي هغه دفن كړي او يا دي وسوځي .

په كتاب الاثار كي راځي:

أخبرنا أبو حنيفة عن عاصم بن أبى النجود .... عن ابن عباس رضي الله عنه، قال من أتى بهيمة فلاحد عليه، أبو حنيفة عن الهيثم بن الهيثم .... عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أنه أتى برجل وقع على بهيمة فدرأ عنه الحد وأمر بالبهيمة فاحرقت . (كتاب الآثار:۱/ ۱۰۸).

قال محمد رحمة الله عليه: وهذا قول.... وقال أبو حنيفة رحمة الله عليه ومحمد رحمة الله عليه إذا كانت البهيمة له ذبحت واحترقت ولا تحترق بغير ذبح فإنها مثلة . (كتاب الآثار:۱/ ۱۰۸، مجيديه).

په هدايه کي راځي:

ومن وطئ بهيمة فلا حد عليه لأنه ليس في معنى الزنا في كونه جناية وفي وجود الداعي لأن الطبع السليم ينفر عنه والحامل عليه نهاية السفه أو فرط الشبق ولهذا لا يجب ستره إلا أنه يعزر لما بينا والذي يروى أنه تذبح البهيمة ويحرق فذلك لقطع التحدث به وليس بواجب . (الهداية:٢/ ٥١٧).

وفي تبيين الحقائق: لا يجب الحد بوطى بهيمة .... وما روي عن عمر رضي الله عنه أنه أتي برجل وقع في بهيمة فعزر الرجل وأمر بالبهيمة فأحرقت ، كان لقطع التحدث به ، لأنه ما دامت باقيةً يتحدث الناس به فيلحقه العار بذلك لا لأن الإحراق واجب . ثم إن كانت الدابة مما لا يؤكل لحمها تذبح وتحرق لما ذكرنا وإن كانت مما يؤكل لحمها تذبح وتؤكل عند أبي حنيفة رحمه الله وقالا تحرق هذه أيضًا هذا إن كانت البهيمة للفاعل وإن كانت لغيره يطالب صاحبها أن يدفعها إليه بقيمتها ثم تذبح هكذا ذكروا . (تبيين الحقائق:٣/ ١٨٢ – والبحر الرائق:٥/ ١٧٠ – ورد المحتار:٤/ ٢٦ – النهر الفائق:٣/ ١٤٠).

په احسن الفتاوى کي راځي:

پر دغه کس تعزير دئ چي اندازه يې د حاکم په راى موقوفه ده او ګاميښه ذبح کول او دفن کول يې يا سوځل مستحب دي بد فعلي کونکي به د مالک له پاره د ګاميښي د قيمت ضامنت وي ذبح کول او د هغه دفن کول واجب او ضروري نه ده يوازي د دې امله مندوب ده چي د ګناه يادونه ختمه سي او د بد فعلي کونکي څخه عار ليري سي که يې ذبح نه کړل نو هم څه باک نه سته د هغه غوښه او شيدې وغيره بيله شکه حلال دي. (احسن الفتاوى:٥/ ٥٠٣). والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com



قال الله تعالی : ﴿ لنحرقنه ثم لننسفنه في اليم نسفًا ﴾. (سورة طه، الآية:۹۷).

وقال رسول الله ﷺ : من أخذتموه يقطع من الشجر شيئاً يعني شجر حرم المدينة فلكم سلبه لايعضد شجرها لايقطع . (رواه البيهقى).

دوهم ...... باب

د تعزيراتو بيان

قال رسول الله ﷺ: ضالة الإبل المكتومة غرامتها ومثلها معها . (رواه ابو داؤد).

﴿ رساله ﴾

تنقيح المقال فى حكم التعزير بالمال

په شريعت مطهره کي د تعزير بالمال حکم

سوال: اکثره حکومتونه که مسلمان وي او که غير مسلم وي د قوانينو پر مخالفت مالي جرمانه لګوي د مالي سزا دوه صورتونه وي يو دا چي مال ورڅخه اخيستل کيږي او کله د هغه مال ضائع کوي يا يې سوځي دغه جرمانې په شريعت کي څه حکم لري؟

الجواب: په مالي جرمانه کي د فقهاؤ اختلاف دئ د امام ابو حنفيه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په اند روا نه ده او د امام ابو يوسف په اند روا ده علامه شامي وعدم جواز ته ترجيح ورکړي ده ځينو فقهاؤ د امام ابو يوسف رحمه الله قول وضاحت په دي ډول کړی دئ چي په اصل کي دغه جرمانه په وقتي توګه يوه تنبيه او خبرتياوي نه يې پادشاه اخيستلای سي او نه قاضي نه په بيت المال کي جمع کېدای سي بلکي هغه دي وساتي او کله چي له جرم څخه منع سي بيا دي واپس کړي د اوسني وخت د علماوو او مفتيانو تر منځ هم اختلاف موندل کيږي اکثره حضرات يې منع کوي خو ځيني يې د

جواز قائل دي لهذا كه د جواز قول په نظر كي ونيول سي په پورتني صورت كي د مالي جرمانې گنجائش معلوميږي .

۞ د تعزير بالمال دلائل وګورئ:

۞ له احاديثو څخه د تعزير بالمال ثبوت :

١ــ عن سعد رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال : من أخذتموه يقطع من الشجر شيئًا يعنى شجر حرم المدينة فلكم سلبه لا يعضد شجرها ولا يقطع . قال : فرأى سعد رضي الله عنه غلمانًا يقطعون فأخذ متاعهم فانتهوا إلى مواليهم فأخبروهم أن سعدًا رضي الله عنه فعل كذا وكذا فأتوه فقالوا : يا أبا إسحاق إن غلمانك أو مواليك أخذوا متاع غلماننا ، قال : بل أنا أخذته، سمعت رسول الله ﷺ يقول :« من أخذتموه يقطع من شجر الحرم فلكم سلبه ولكن سلوني من مالي ما شئتم ».

(رواه البيهقي في سننه الكبرى:٥/ ١٩٩، باب ماورد فى سلب من قطع من شجر حرم المدينة، بيروت).

٢ــ عن بهز بن حكيم عن أبيه عن جده أن رسول الله ﷺ قال : فى كل سائمة إبل فى أربعين بنت لبون ولا يفرق إبل عن حسابها من أعطاها مؤتجرًا قال ابن العلاء : مؤتجرًا بها فله أجرها ومن منعها فإنا آخذوها وشطر ماله عزمةً من عزمات ربنا عز وجل ليس لآل محمد منها شيء . (رواه ابو داؤد:١/ ٢٢١، باب فى زكوة السائمة).

وكذا رواه النسائي فى باب عقوبة مانع الزكوة:١/ ٣٣٥ – وابن خزيمة فى صحيحه:١/ ١٠٨٥، وقال الاعظمى: اسناده حسن – واخرجه الحاكم فى المستدرک فى كتاب الزكوة:١/ ٥٢٢/ ١٤٤٨، وقال: هذا حديث صحيح الاسناد – ووافقه الذهبى – ووالدارمى فى سننه:١/ ٤٨٦، وعلى هامشه: اسناد حسن – واحمد فى مسنده، وقال شعيب الارنؤط: اسناده حسن:٥/ ٢/ ٢٠٠٣٠).

Maktaba Tul Ishaat.com

۳_ عن يحيى بن عبد الرحمن بن حاطب أن غلمة لأبيه عبد الرحمن بن حاطب سرقوا بعيراً فانتحروه ، فوجد عندهم جلده ورأسه فرفع أمرهم إلى عمر بن الخطاب رضي الله عنه فأمر بقطعهم فمكثوا ساعة وما نرى إلا أن قد فرغ من قطعهم ، ثم قال عمر رضي الله عنه : علي بهم ثم قال لعبد الرحمن : والله إني لأراك تستعملهم ثم تجيعهم وتسيء إليهم حتى لو وجدوا ما حرم الله عليهم لحل لهم ، ثم قال لصاحب البعير : كم كنت تعطى لبعيرك ؟ قال : أربع مئة درهم ، قال لعبد الرحمن : قم فاغرم لهم ثمان مائة درهم . (المصنف لعبد الرزاق: ۱۰/ ۲۳۹/ ۱۸۹۷۸).

٤_ عن سليمان بن أبي عبد الله قال : رأيت سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه أخذ رجلاً يصيد فى حرم المدينة الذى حرم رسول الله صلى الله عليه وسلم فسلبه ثيابه فجاء مواليه فكلموه فيه فقال : إن رسول الله صلى الله عليه وسلم حرم هذا الحرم وقال : من وجد أحدًا يصيد فيه فليسلبه فلا أرد عليكم طعمةً أطعمنيها رسول الله صلى الله عليه وسلم ولكن إن شئتم دفعت إليكم ثمنه. (السنن الكبرى للبيهقى:٥/ ١٩٩، باب ماورد فى سلب من قطع من شجر حرم المدينة).

وكذا في اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة للعلامة البوصيرى: (٤/ ١٥٩) باب في أسماء المدينة المشرفة وماجاء في صيدها، مكتبة الرشد، الرياض).

٥_ عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه سئل عن الثمر المعلق فقال : من أصاب بفيه من ذى حاجة غير متخذ خبنةً فلا شىء عليه ومن خرج بشىء منه فعليه غرامة مثليه والعقوبة ..... (رواه ابو داؤد:١/ ٢٤٠، كتاب اللقطة).

٦_ وعن معمر عن عمرو بن مسلم عن عكرمة أحسبه عن أبى هريرة رضي الله عنه أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ضالة الإبل المكتومة غرامتها ومثلها معها . (رواه ابو داؤد:١/ ٢٤١، كتاب اللقطة).

◉ له فقهي عبارتونو څخه د تعزير بالمال ثبوت :

١_ علامه علاء الدين طرابلسي رحمه الله په معين الحكام كي فرمايي:

يجوز التعزير بأخذ المال وهو مذهب أبي يوسف رحمه الله وبه قال مالك رحمه الله، ومن قال: إن العقوبة المالية منسوخة فقد غلط على مذهب الأئمة نقلاً واستدلالاً وليس بسهل دعوى نسخها، فعل الخلفاء الراشدين وأكابر الصحابة لها بعد موته صلى الله عليه وسلم مبطل لدعوى نسخها، والمدعون للنسخ ليس معهم سنة ولا إجماع يصحح دعواهم .... (معين الحكام فيما يتردد بين الخصمين من الاحكام:١٩٥، فصل فى التعزير، دار الفكر).

٢_ علامه ابن نجيم مصري رحمه الله په البحر الرائق كي فرمايي:

وفي الخلاصة سمعت عن ثقة أن التعزير بأخذ المال إن رأى القاضي ذلك أو الوالي جاز ومن جملة ذلك رجل لا يحضر الجماعة يجوز تعزيره بأخذ المال له. (البحر الرائق:٤/ ٤١، فصل فى التعزير، كوئته).

٣_ په فتاوى بزازيه كي راځي:

والتعزير بأخذ المال أن المصلحة فيه جائزة .... قالوا: ومن جملة من لا يحضر الجماعة يجوز تعزيره بأخذ المال . (الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية:٦/ ٤٢٦، كتاب الحدود).

Maktaba Tul Ishaat.com

۴_ په فتاوى تاتار خانيه کي راځي:

ولـم يـذكر مـحمد رحمه الله في شيء مـن الكتـب التعزيـر بأخـذ الـمـال، وقيـل: روي عـن أبي يوسف رحمه الله أن التعزير والزجر من السلطان بأخذ الـمـال جائز .... وفى الفتاوى الـخلاصة : التعزير بأخذ الـمـال إن رأى القاضي أو الولي جاز، ومن جـملة ذلک الرجل لايـحضر الـجمـاعة يـجوز تعزيره بأخذ الـمـال. (الفتاوى التاتار خانية:٥/ ١٤٠، كتاب الحدود، التعزير، ادارة القرآن).

٥_ په خلاصه الفتاوى کي راځي:

الـجنس السادس فى السعاية: ـ وفي نسخة القاضى الإمـام أبى اليسير رحمه الله من الـمبسـوط فى كتاب اللقيط : ((من سعى رجـلاً إلـى الـسلطان حتـى غرمـه لايـخلو مـن وجـوه ثلاثـة .... الثالـث: ـ إذا وقـع في قلبـه أن فلانـاً يـجيئ إلـى امرأتـه أو جاريتـه، فرفـع إلـى الـسلطان، فغرمـه الـسلطان، ثـم ظهـر كذبـه، عندهـمـا لايـضمن الـساعي، وعنـد مـحمد رحمه الله يـضمن قـال: والفتوى على قول مـحمد رحمه الله لغلبة السعاية في زماننا. (خلاصة الفتاوى:٤/ ٢٦٠).

د پورتنۍ عبارت خلاصه دا ده چي که يو چا دا فکر وکړ چي فلاني کس زما له ښځي او يا مينځي سره ناروا تعلقات ساتي دا شکايت يې حاکم ته وکړ نو پادشاه پر هغه تاوان کښېښودئ بيا معلومه سوه چي دا شکايت يې په دروغو وو نو د امام محمد د قول مطابق پر شکايت کونکي تاوان راځي او دغه قول مفتى به دئ.

د خلاصي له عبارت څخه معلوميږي چي د مالي جرمانې د لازمولو ګنجائش سته.

٦_ حضرت مولانا شمس الحق افغانى رحمه الله په معين القضاة والمفتيين کي د معين الاحکام په حواله سره د تعزير بالمال د جواز قول نقل کړی دئ او د منسوخ کېدو سره يې اتفاق نه دئ کړي.

(معين القضاة والمفتيين: ص ٧).

٧_ حكيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي:

که کافر حکومت د کافر پر مال قبضه وکړي او بیا یې په قانوني ډول مسلمان وارث ته ورکړي نو مسلمان یې مالک ګرځي ځکه استیلاء د کافر زموږ په اند سبب د ملک ګرځي که تعزیر بالمال روا نه وای نو د وارث مال اخیستل به کله صحیح وای ؟ .

وګورئ په امداد الاحکام کي راځي:

یجوز للمسلم أن یرث من الکافر بسبب استیلاء الحکومة الکافرة علی مال الکافر أولاً ثم دفعها إلی المسلم بقانونها واستیلاء الکافر سبب للملک عندنا والله أعلم. (امداد الاحکام:٤/ ٦٢٨، الفرائض).

مفتي تقی عثماني مدظله په تقریر ترمذي کي وایي:

د اکثره فقهاوو قول دا دئ چي تعزیر بالمال روا نه ده یوازي د جسماني سزا په ذریعه تعزیر کول روا دي، البته امام احمد بن حنبل تعزیر بالمال روا ګڼلی دي په احنافو کي د امام ابو یوسف رحمه الله یو روایت دئ چي تعزیر بالمال روا ده خو د تعزیر بالمال پر عدم جواز ما ته کوم صریح دلیل نه دئ معلوم سوي لکه څنګه چي ځینو متاخرینو په احنافو کي د امام ابو یوسف رحمه الله قول راجح ګڼلی دئ فرمایي چي تعزیر بالمال روا ده . (تقریر ترمذی:٢/ ١١٨).

۹ _ مولانا مجیب الله ندوی صاحب اسلامي فقه کي فرمایي:

امام ابو حنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله هغه ناجائز ګڼي او امام ابو یوسف رحمه الله وایي که مصلحت وو نو جائز دي د راقم الحروف په اند د امام ابو یوسف رحمه الله او کوم فقهاوو چي د مالي جرماني یا اتلاف په ذریعه د تعزیر قائل دي د هغو رای د ترجیح وړ ده لکه څنګه چي په احادیثو او آثارو کي د هغه له پاره متعد د مثالونه سته. (اسلامی فقه:٣/ ٢٨٠).

۱۰ _ مولانا خالد سیف الله رحماني صاحب په قاموس الفقه کي فرمایي:

په دې وخت کي د حدودو او تعزیراتو د اسلامي قانون د نشتوالي له امله چي کومي مسئلي په ټولنیز ډول حلیږي او کوچني اتحادیې د ځینو منکراتو مقابله کوي د هغه له پاره پرته له دې څخه چاره نه سته چي د مالي جرمانو په ذریعه د هغو جرائمو د مخنیوي کوښښ وکړل سي هسي هم په

Maktaba Tul Ishaat.com

عملي دول په اوس وخت کي مالي تعزير زيات سوي دي او ريل گاډي، بس، ترافيکو وغيره کي يې رواج زيات دئ د راقم الحروف رجحان د هغه د جواز طرف ته دئ چي د هغه اجازه دي ورکول سي .

(قاموس الفقه، جلد دوهم: ص: ٤٧٩).

مولانا خالد سيف الله صاحب په جديد فقهي مسائل کي د هغه له پاره څو نظائر وړاندي کړي دي:

۱ _ په حقوق الله کي پر تعدي او زياتونه د مالي تعزير نظير کفارات دي چي په قصده سره د روژې ماتولو او د قسم په خوړلو کي او د قتل خطاء په صورت کي واجبيږي چي په هغو کي يو مريې ازادول يا څو مسکينانو ته ډوډئ ورکول مالي سزا گڼل کيږي .

۲ _ د يو انسان پر داسي تعدي چي له جسم سره تعلق ولري د مالي تعزير نظير ديت دئ چي په هغو ټولو صورتونو کي واجبيږي چي دواړه طرفونه په خپل منځي رضا سره ودغه ته اماده سي يا کله چي د قصاص اجراء ممکنه نه وي .

۳ _ په غير مادي حقوقو کي تعدي د مالي تعزير نظيرېي د ظهار کفاره ده چي په هغه کي غلام آزادول او يا مسکينانو ته ډوډئ ورکول هم شامله ده.

۴ _ په مالي حقوقو کي د تعدي له امله د مالي سزا نظير دا دي چي که يو انسان د بل سامان غلا کړي او هغه له ده سره هم پاته نه سو نو د فقهاوو اتفاق دئ چي اصلي سزا خويې دا ده چي لاس يې پرې سي خو که داسي نه سو نو د دې غلا سوي سامان تاوان دي ورڅخه واخلي ((والغرم اذا لم يجب القطع)).

۵ _ پر آبرو ريزي او بې حرمتي د مالي تاوان نظير دا دي چي که يو څوک له يوې ښځي سره په زور زنا وکړي نو هغې ښځي ته به د مهر پيسې ورکوي . (ملخص از جديد فقهى مسائل: ۳/ ٢٤٦).

حافظ ابن قيم حنبلي هم مالي جرمانه روا بللي ده.

وګورئ په اعلام الموقعين کي ليکي:

وأما تغريم المال وهو العقوبة المالية فشرعها في مواضع منها : تحريق متاع الغال من الغنيمة، ومنها : حرمان سهمه ، ومنها : إضعاف الغرم على سارق الثمار المعلقة ومنها : إضعافه على كاتم الضالة الملتقطة ، ومنها : أخذ شطر مال مانع الزكاة ومنها : عزمه ﷺ على تحريق دور من لا يصلي في الجماعة لولا ما منعه من إنفاذه ما عزم عليه من كون الذرية والنساء فيها فتتعدى العقوبة إلى غير الجاني وذلك لا يجوز كما لا يجوز عقوبة الحامل ، ومنها : عقوبة من أساء على الأمير في الغزو بحرمان سلب القتيل لمن قتله حيث شفع فيه هذا المسيئ وأمر الأمير بإعطائه فحرم المشفوع له عقوبة للشافع الآمر، التغريم نوعان : مقدر وغير مقدر، .... وأما النوع الثاني غير المقدر فهذا الذي يدخله اجتهاد الأئمة بحسب المصالح ولذلك لم تأت فيه الشريعة بأمر عام وقدر لا يزاد فيه ولا ينقص كالحدود ولهذا اختلف الفقهاء فيه هل حكمه منسوخ أو ثابت والصواب أنه يختلف باختلاف المصالح ويرجع فيه إلى اجتهاد الأئمة في كل زمان ومكان بحسب المصلحة إذ لا دليل على النسخ وقد فعله الخلفاء الراشدون من بعدهم من الأئمة .... وأما التعزير ففي كل معصية لا حد فيها ولا كفارة . (اعلام الموقعين:۲/ ۱۱۷ ، فصل فی تغريم المال، بيروت).

۞ د عدم جواز پر دلائلو يو نظر :

هغه کسان چي جائزيې نه ګڼي په عام ډول له درو دلائلو څخه استدلال کوي .

۱ _ مالي جرمانه د اسلام په پيل کي روا وه وروسته منسوخ سوه .

په حديث شريف کي راځي:

لايحل مال امرئ مسلم إلا بطيب نفسه .(رواه مسلم).

Maktaba Tul Ishaat.com

مالي جرمانه له دې حديث څخه بېخي خلاف ده لهذا روا نه ده .

۞ د دلائلو جوابونه:

د لومړی دليل جواب:

۱_ علامه علاء الدين طرابلسي حنفي (۸۴۴) په معين الحكام كې د نسخې دعوه غلطه ګڼلې ده وېي ګورئ:

ومن قال: إن العقوبة المالية منسوخة فقد غلط على مذهب الأئمة نقلاً واستدلالاً وليس بسهل دعوى نسخها، فعل الخلفاء الراشدين وأكابر الصحابة لها بعد موته صلى الله عليه وسلم مبطل الدعوى نسخها، والمدعون للنسخ ليس معهم سنة ولا إجماع يصحح دعواهم.... (معين الحكام فيما يتردد بين الخصمين من الاحكام:۱۹۵، فصل فی التعزير، دار الفكر).

او همدا ډول حافظ ابن تيميه او د ده شاګرد حافظ ابن القيم رحمه الله او دكتور وهبه زحيلي رحمه الله فرمايي، چې د نسخ دعوه بې دليله ده ځكه له ده مبارک ﷺ څخه وروسته خلفاء راشدينو او امامانو په هغه عمل كړی دئ لهذا د نسخ دعوه درسته نه ده.

وګورئ حافظ ابن تيميمه حنبلي رحمه الله فرمايي:

ومن قال : إن العقوبات المالية منسوخة وأطلق ذلك عن أصحاب مالك رحمه الله وأحمد رحمه الله فقد غلط على مذهبهما ، ومن قاله مطلقًا من أي مذهب كان : فقد قال قولًا بلا دليل، ولم يجئ عن النبي ﷺ شيء قط يقتضي أنه حرم جميع العقوبات المالية ؛ بل أخذ الخلفاء الراشدون وأكابر أصحابه بذلك بعد موته دليل على أن ذلك محكم غير منسوخ . (مجموع فتاوى شيخ الاسلام ابن تيمية:۲۸/ ۱۱۱، فصل فی التعزير بالعقوبات المالية).

دکتور وهبه زحیلی شافعي په الفقه الاسلامي وادلته کي لیکي:

وقد اختلف الفقهاء فيه هل حكمه منسوخ أو ثابت والصواب أنه يختلف باختلاف المصالح ويرجع فيه إلى اجتهاد الأئمة في كل زمان ومكان بحسب المصلحة إذ لا دليل على النسخ وقد فعله الخلفاء الراشدون ومن بعدهم من الأئمة. (الفقه الإسلامی وأدلته:٦/ ٢٠٥، التعزير بالمال، دار الفكر).

د دوهم دلیل جواب:

۲_ مفتي محمد تقي صاحب د حدیث جواب ورکوي فرمایي، چي په حدیث کي یې فرمایلي دي ((لایحل مال امرئ مسلم الابطیب نفس منه)) یعني د یو مسلمان مال د ده د ځان د خوښي پرته روا نه دئ په دې حدیث کي د هغه مسلمان یادونه ده چي د یوې ګناه او جرم مرتکب نه وي خو که کوم مسلمان جرم وکړي نو پر ده لکه څنګه چي جسماني سزا راځي همدا ډول مالي سزا هم ورباندي راتلای سي ځکه د یو مسلمان مال خو په طیب نفس حلالیږي مګر ځان یې په طیب نفس نه حلالیږي لهذا کله چي یو مسلمان کوم جرم وکړی وي بیا د سزا په ډول د ده وځان ته کوم نقصان رسول کیږي نو دا د ټولو اند روا دئ نو بیا مال چي په طیب نفس حلال ګرځي هغه به د جرم دارتکاب په صورت کي په طریقه اولی حلال وي. (تقریر ترمذی:۲/ ۱۱۸).

همدا ډول که پر بدن کوم مصیبت راسي نو د مال په ذریعه یې د دفاع حکم سوی دئ داسي نه چي د مال ساتلو له پاره دې ځان هلاک کړي.

وګورئ په موقوف روایت کي راځي:

.... فإن عرض بلاء فقدم مالک دون نفسک فإن تجاوز البلاء فقدم مالک ونفسک دون دينک ....، هذا إسناد رواته ثقات وهو موقوف. (اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة للعلامة البوصيری:٨/ ٢٣٩/ ٧٩٧٣، باب فضل القرآن، مكتبة الرشد الرياض).

Maktaba Tul Ishaat.com

له دې روایت څخه معلومیږي چي د جسم حرمت د مال له حرمت څخه زیات دئ چي کله پر بدن د فقهاوو په اتفاق تعزیر روا ده نو تعزیر بالمال ولي روا نه ده؟ .

د دریيم دلیل جواب:

۳_ کومو فقهاوو چي ناروا بللي دي او د هغه علت یې د حاکمانو ظلم بللي دئ نو دغه رای یې د یوه مصلحت له مخي وړاندي کړي ده لهذا که د ظلم اړخ نه وي بلکي د یوه مصلحت له مخي یا په یوه جرم کي یې پر مال قبضه وکړه نو د دوی په اند به هم روا وي لکه چي مولانا مجیب الله ندوی په اسلامي فقه کي لیکلي دي.

وګورئ په اسلامي فقه کي راځي:

کومو فقهاوو چي ناروا بللي دي د هغه وجه یې د حاکمانو ظلم بللي دئ هغوی دغه رای د یوه مصلحت پر بنیاد وړاندي کړي ده که چیري ظلم نه وي نو د دوی رایه به هم همدغه وي . (اسلامی فقه:۳/ ۲۸۱).

همدا ډول د تعزیر بالمال حکم د شریعت خلاف نه دئ بلکي سیاسة یې د مصلحت او فائدي له مخي ور کړي وو .

وګورئ علامه علاو الدین طرابلسی حنفي فرمایي:

قال القرافي: واعلم أن التوسعة على الحكام فى الأحكام السياسية ليس مخالفاً للشرع، بل تشهد له الأدلة المتقدمة. (معين الحكام فيما يتردد بين الخصمين من الاحكام:۱۷٦، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د تعزیر دوهم صورت د تعزیر باهلاک المال حکم

سوال: که یوه مدرسه یا مشر یا یو بل څوک پرته له حاکم څخه د یو چا د موسیقي آلات یا د لهو او لعب آلات چي د موسقي څخه علاوه هم استعمالیږي لکه راډیو، ټیپ وغیره ورمات کړي نو پر ده تاوان راځي او که نه؟ د حاکم او غیر حاکم فرق سته ؟

الجواب: که د موسقي او لهو لعب آلات يو چا مات کړل نو تاوان لازميږي او که يې د حاکم په حکم مات کړل يا حاکم مات کړل نو تاوان لازم نه دئ خو د اجزاء غير مرکبه وو تاوان سته، البته که ديوې اداري قانون داوي چي داسي شيان مه ايږدي او بيا يې هم له قانونه مخالفت وکړ او هغه يې کښېښودل او د هغه اداري مشر او يا منتظمينو هغه مات کړل نو پر دوی ضمان نه راځي ځکه دوی د حاکم په شان دي طالبانو او د دوی سر پرستانو د مدرسې د قوانينو پابندي منلي ده او د مدرسې مهتممين يې د حاکم په ډول منلي دي.

قاعده : الحکم کالقاضی (قواعد الفقه ٧٩) او د هغه په ماتولو کي د فساد کومه خاصه خطره نه سته او پلار او استاذ ته د تعزير حق سته په حدودو کي د کوچنی وهل تعزير دئ بلکي وروسته د عيني او لامع وغيره له عبارتونو څخه معلوميږي چي غير د حاکمه هم تعزير بالمال ورکولای سي زموږ د ځينو اکابرو له طريقې څخه هم معلوميږي چي غير له حاکمه بل څوک تعزير بالمال کولای سي اکابرو ځيني وختونه په يوه شی ناراضي ښکاره کړي وي او هغه يې څيرلی وي که څه هم په خپله به هغه کار روا وو خو د اکابرو د رضا خلاف وو .

په آپ بيتي کي راځي :

حضرت شيخ ته په پيل کي د هديې اخيستلو څخه نفرت وو د ځينو هديه ورکونکو نوتونه يې څيرلي هم دي يوه دوست حاجي جان محمد صاحب پشاوي د چايو يوه ډبه راوړه حضرت شيخ په زور سره له ډېوال څخه ووهل او هغه يې څيري کړه چای ليري وپاشل سوي . (آپ بيتی ٤ برخه ص ٨٨).

۞ **د تعزير باهلاک المال دلائل وګورئ:**

١ـ د حضرت موسی عليه السلام په قصه کي ذکر سوی دي چي هغه وسامري ته د جرم په سزا کي دوی سزاګاني ورکړي الله تعالی په قرآن کريم کي بيان کوي .

١ـ ﴿ فإن لك في الحياة أن تقول لا مساس ﴾. (سورة طه، الآية:٩٧).

چي ته به ټوله ژوند دا وايي چي ما ته لاس مه راوړي.

٢ـ ﴿ لنحرقنه ثم لننسفنه في اليم نسفًا ﴾. (سورة طه، الآية:٩٧).

Maktaba Tul Ishaat.com

چي تا چي د زېوراتو څخه کوم سخندر جوړ کړی دئ هغه به هم موږ وسوځو په درياب کي به يې وغورځوو لکه څنګه چي حضرت موسی ﷺ هم همداسي وکړل .

په تفسير ابن کثير کي راځي :

قال الضحاک عن ابن عباس رضي الله عنه والسدي: سحله بالمبارد وألقاه على النار، وقال قتادة : استحال العجل من الذهب لحماً ودماً فحرقه بالنار، ثم ألقى رماده في البحر .(تفسير ابن كثير:۳/ ۱۸۲ – وتفسير عثماني:٤٢٤).

خلاصه دا ده چي په دغه قصه کي د تعزير باهلاک المال دليل موجود دي .

۲ _ منافقينو د اسلام او مسلمانانو پر خلاف د خپلو مقصدونو له پاره د مسجد په نامه يو ځای جوړ کړي وو الله تعالى د وحي په ذريعه د منافقينو په ناپاکو اغراضو خبر کړ نو ده مبارک ﷺ مالک بن د خشم او معن بن عدی ته حکم وکړ چي دغه مکان دي ونړوي هغه فوراً حکم عملي کړ هغه يې وسوځاوه او له خاورو سره يې برابر کړ . (تفسير عثماني).

الله تعالى فرمايي: ﴿ والذين اتخذوا مسجدًا ضرارًا وكفرًا وتفريقًا بين المؤمنين وإرصادًا لمن حارب الله ورسوله من قبل وليحلفن إن أردنا إلا الحسنى والله يشهد إنهم لكاذبون ﴾. (سورة التوبة، الآية:۱۰۷).

له دې قصې څخه هم معلومه سوه چي تعزير باهلاک المال روا ده .

۞ له مبارکو احاديثو څخه يې دلائل وګورئ:

۱ _ عن رافع بن خديج قال : كنا مع رسول الله ﷺ بذى الحليفة من تهامة فأصبنا غنمًا وإبلاً، فعجل القوم فأغلوا بها القدور فأمر بها فكفئت .... (رواه مسلم:۲/ ۱۵۷، كتاب لاضاحى).

د پورتنی حديث په شرح کي علامه نووي رحمه الله فرمايي :

وقال المهلب بن أبي صفرة المالكي رحمه الله: إنما أمروا بإكفاء القدور عقوبة لهم لاستعجالهم في السير وتركهم النبي ﷺ في أخريات القوم . (شرح النووی:۲/ ۱۵۷، کتاب الاضاحی).

په دې قصه کې نبي کريم ﷺ ديو حاکم په توګه د کټو د چپه کولو حکم وکړ .

۲_ عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنه قال رأى النبی ﷺ على ثوبين معصفرين فقال : أمك أمرتك بهذا ؟ قلت : أغسلهما ؟ قال: لا، بل أحرقهما . (رواه مسلم:۲/ ۱۹۳، باب النهی عن لبس الرجل الثوب المعصفر).

علامه نووي رحمه الله فرمايي:

وأما الأمر بإحراقهما، فقيل: هو عقوبة وتغليظ لزجره وزجر غيره عن مثل هذا الفعل. (الشرح الكامل للامام النووی:۲/ ۱۹۳).

۳_ عن عمران بن حصين قال بينما رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فى بعض أسفاره وامرأة من الأنصار على ناقة فضجرت فلعنتها فسمع ذلك رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فقال « خذوا ما عليها ودعوها فإنها ملعونة ». قال عمران فكأنى أراها الآن تمشى فى الناس ما يعرض لها أحد .(رواه مسلم:۲/ ۳۲۳).

په دغه قصه کې يې د تنبيه په ډول دا وښې د پرېښودلو حکم وکړ :

قال النووي رحمه الله: إنما قال هذا زجراً لها ولغيرها، وكان قد سبق نهيها ونهى غيرها عن اللعن، فعوقبت بإرسال الناقة. (شرح النووی علی مسلم:۲/ ۳۲۳).

Maktaba Tul Ishaat.com

٤ــ عن سالم أنه سئل عن الغال فی الغنيمة، فقال: سمعت أبي يحدث عن عمر بن الخطاب ﷺ عن النبی ﷺ قال : إذا وجدتم الرجل قد غل فأحرقوا متاعه واضربوه . (رواه ابو داؤد:۲/ ۳۷۱ – والترمذی:۱/ ۲۷۰).

په دغه حديث کي نبي کريم ﷺ دغنيمت له مال څخه دغلا کونکو په هکله وفرمايل چي د ده سامان وسوځي او دی ووهي.

٥ــ عن أنس ﷺ عن أبي طلحة ﷺ : أنه قال يا نبي الله ! إني أشتري خمراً لأيتاما في حجري، قال: أهرق الخمر واكسر الدنان . رواه الترمذی، وقال : وفی الباب عن جابرو عائشة وابی سعيد وابن مسعود وابن عمر (۱/ ۲٤۲، باب ماجاء فی بيع الخمرو النبی عن ذلک).

په دې حديث کي ده مبارک ﷺ د شرابو د توېولو او د هغو د منګيانو د ماتولو حکم وکړ .

٦ــ عن سلمة بن الأكوع ﷺ قال : خرجنا مع رسول الله ﷺ إلى خيبر ثم إن الله فتحها عليهم فلما أمسى الناس اليوم الذی فتحت عليهم أوقدوا نيرانًا كثيرةً فقال رسول الله ﷺ: ما هذه النيران على أی شیء توقدون ، قالوا : على لحم. قال : على أی لحم ، قالوا على لحم حمر إنسية، فقال رسول الله ﷺ : أهريقوها واكسروها . (رواه مسلم:۲/ ۱٤۹، باب تحريم اكل لحم الحمر الانسية).

په دې حديث کي يې هم د خرو د غوښو چيه کولو او لوښو د ماتولو حکم وکړ .

٧ــ عن أبی هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ : لقد هممت أن آمر بالصلاة فتقام ثم آمر رجلاً فيصلی بالناس ثم أنطلق معی برجال معهم حزم من حطب إلى قوم لا يشهدون الصلاة فأحرق عليهم بيوتهم بالنار . (رواه ابو داؤد:۱/ ۸۱، کتاب الصلاة، باب التشديد فی ترک الجماعة).

نبي كريم ﷺ په دغه حديث شريف كي د جماعت پرې بنوونكو د كور سوځولو اراده كړي ده ځكه هم سوځل يې ثابت نه دي علامه ابن القيم رحمه الله د هغه وجه دا بيان كړي ده چي په كورونو كي ښځي او كوچنيان وي نو سزا به غير مجرم ته هم ورسيږي او دا روا نه ده .

قال ابن القيم رحمه الله: لو لا ما منعه من إنفاذه ما عزم عليه من كون الذرية والنساء فيها فتتعدى العقوبة إلى غير الجاني وذلك لا يجوز كما لا يجوز عقوبة الحامل . (اعلام الموقعين:۲/ ۱۱۷، فصل فی تغريم المال، بيروت).

علامه عيني رحمه الله فرمايي:

چي دغه روايت د تعزير بالمال په باب كي د اصل او بنياد حيثيت لري .

وقد هم الشارع بتحريق دور من يتخلف عن صلاة الجماعة، وهذا أصل فی العقوبة فی المال إذ رأى ذلک . (عمدة القاری:۹/ ۲۴۳، باب هل تکسر الدنان التی فيها الخمر، ملتان).

همدا ډول علامه عينی رحمه الله فرمايي، چي د تعزير باهلاک المال كي د امام محمد رحمه الله په اند تاوان راځي او د امام ابو يوسف په اند تاوان نه راځي او فتوى د امام ابو يوسف رحمه الله پر قول ده وګورئ:

فإن كان زق الخمر لمسلم يضمن عند محمد رحمه الله .... وعند أبي يوسف رحمه الله لايضمن لأنه من جملة الأمر بالمعروف.... والفتوى على قول أبي يوسف رحمه الله خصوصاً في هذا الزمان. (عمدة القاری:۹/ ۲۴۲، باب هل تکسر الدنان التی فيها الخمر، ملتان).

حضرت شيخ هم د لامع الدراري په حاشيه كي د علامه عيني رحمه الله څخه د امام ابو يوسف رحمه الله پر قول فتوى نقل كړي ده . وګورئ . (لامع الدراری:۲/ ۳۹۱).

همدا ډول علامه عينی رحمه الله د نسخ قول د قيل په لفظ سره نقل كړي او د هغه د ضعف وطرف ته يې اشاره كړي لكه څنګه چي فرمايي:

Maktaba Tul Ishaat.com

وقيل هذا كان في صدر الأول ثم نسخ . (عمدة القارى:۹/ ۲٤۲، باب هل تكسر الدنان التى فيها الخمر، ملتان).

۸ـ عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده أن رسول الله ﷺ وأبا بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه حرقوا متاع الغال وضربوه . (رواه ابو داؤد:۲/ ۳۷۱، باب فى عقوبة الغال).

علامه ابن تيميه رحمه الله په خپله فتاوی کي ځو اثار نقل کړی دي وبه ګوري:

۹ـ ومثل تحريق أمر عمر بن الخطاب رضي الله عنه وعلي بن أبي طالب رضي الله عنه بتحريق المكان الذي يباع فيه الخمر .

۱۰ـ ومثل تحريق عثمان بن عفان رضي الله عنه المصاحف المخالفة للإمام .

۱۱ـ وتحريق عمر بن الخطاب رضي الله عنه لكتب الأوائل .

۱۲ـ وأمره (أى أمر عمر بن الخطاب رضي الله عنه) بتحريق قصر سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه الذي بناه لما أراد أن يحتجب عن الناس ؛ فأرسل محمد بن مسلمة رضي الله عنه وأمره أن يحرقه عليه ؛ فذهب فحرقه عليه . وهذه القضايا كلها صحيحة معروفة عند أهل العلم بذلك ونظائرها متعددة . (مجموع فتاوى ابن تيمية:۲۸/ ۱۱۰، فصل فى التعزير بالعقوبات المالية).

عرض دا چي له دغو ټولو احاديثو او آثارو څخه معلوميږي چي تعزير باهلاک المال جائز او درست دئ .

فقهي عبارات وګورئ:

قال في الدر المختار: وضمن بكسر معزف بكسر الميم آلة اللهو ولو لكافر ، ابن كمال قيمته خشبًا منحوتًا صالحًا لغير اللهو ، و ضمن القيمة لا المثل بإراقة سكر ومنصف .... وقالا : لا يضمن ولا يصح بيعها ، وعليه الفتوى ، ملتقى ودرر وزيلعي وغيرها ، وأقره

المصنف ، وأما طبل الغزاة ، زاد في حظر الخلاصة : والصيادين ، والدف الذي يباح ضربه في العرس فمضمون اتفاقًا .وفی الشامية: (وقالا لايضمن....) هذا الاختلاف فی الضمان دون إباحة إتلاف المعازف، وفيا يصلح لعمل آخرو إلا لم يضمن اتفاقاً، وفيما إذا فعل بلا إذن الإمام، وإلا لم يضمن اتفاقاً ..... (الدر المختار مع فتاوى الشامی:٦/ ٢١٢، سعيد).

په هدايه کي راځي:

ومن كسر لمسلم بربطاً أو طبلاً أو مزمارا! أو دفاً .... فهو ضامن .... وهذا عند أبی حنيفة، وقال أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله : لايضمن.... وقيل الفتوى فی الضمان على قولهما... لهما أن هذه الأشياء أعدت للمعصية فبطل تقومها كالخمر ، ولأنه فعل ما فعل آمرا بالمعروف وهو بأمر الشرع فلا يضمنه كما إذا فعل بإذن الإمام ، ولأبي حنيفة رحمه الله أنها أموال لصلاحيتها لما يحل من وجوه الانتفاع وإن صلحت لما لايحل فصار كالأمة المغنية ، وهذا لأن الفساد بفعل فاعل مختار فلا يوجب سقوط التقوم . وجواز البيع والتضمين مرتبان على المالية والتقوم والأمر بالمعروف باليد إلى الأمراء لقدرتهم وباللسان إلى غيرهم ، وتجب قيمتها غير صالحة للهو . (الهداية:٣/ ٣٨٨، باب الغصب).

وفي الفتاوى الهندية: ويقال: الأمر بالمعروف باليد على الأمراء وباللسان على العلماء وبالقلب لعوام الناس وهو اختيار الزندويستي، كذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٣).

په تکمله البحر الرائق کي راځي:

والفتوى في زماننا على قولهما لكثرة الفساد . (تكملة البحر الرائق:٨/ ١٢٥).

خلاصه دا چي حاکم يا د حاکم قائم مقام د مثال په ډول خاوندان د مدارسو که د چا يو شی مات کړي د دې امله چي د قانون څخه يې سرغړونه کړي وي نو تاوان وربانديې نه سته لکه چي پلار او

Maktaba Tul Ishaat.com

استاذ او لادونه او شاګردان تر ټلای سي همدا ډول خاوندان د مدارسو هم دغه حکم لري، البتة د هر چا له پاره به د تعزير اجازه نه وي که نه د فساد د خپرېدو بېره ستته .

د غير امير له پاره د اتلاف يو نظير :

په درمختار کي راځي :

وضمن المتلف المسلم قيمتها ؛ أي الخمر والخنزير لأن الخمر في حقنا قيمي حكمًا أى وإن كانت من ذوات الأمثال لو كانا لذمي والمتلف غير الإمام أو مأموره يرى ذلك عقوبةً فلا يضمن بإن كان مجتهداً أو مقلداً لمجتهد يراه . (الدر المختار مع الشامی:٦/ ٢١٠، سعيد).

ياده دي وي چي دلته د ذمي خمر چي بايد چپه نه سي غير د امير شخه يې د تعزير په ډول تلفولای سي .

اشکال: ديو چا د مال د هلاکولو په هکله که دا اشکال وسي چي رسول الله ﷺ د مال د ضائع کولو شخه منع کړي ده .

په بخاري شريف کي حديث دئ:

قال رسول الله ﷺ : إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات ووأد البنات ومنعا وهات وكره لكم القيل والقال وكثرة السؤال وإضاعة المال. (رواه البخاری:١/ ٣٢٤).

الله تعالی د ميندو له نافرماني او د نجونو له ژونديو ښخولو او د ورکړي د شی له منع کولو شخه او د ممنوع شي له غوښتلو شخه منع کړي ده او ستاسو له پاره يې بې ځايه خبري او ډېر سوال او د مال ضائع کول مکروه بللي دي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي د مال ضائع کول هغه دي چي په هغه کي کومه فائده او مصلحت نه وي او په دغه کار کي خو د تاديب او اصلاح مصلحت موندل کيږي لکه چي يو شوک په توپک نښه ولي که شه په ظاهره خو د ګوليو ضائع کول وي خو د نښي زده کولو فائده تر لاسه سوه د منطق او فلسفي ويل په ظاهره وخت ضائع کول دي خو په هغه سره استعداد قوي کيږي شکه نو اکابرو هغه ويلي دي . والله ﷻ اعلم .

د تعزیر بالمال دریېم صورت التغییر حکم

سوال: که د کوم طالب سره په سي ډي او یا میموري کارډ کي غلط پروګرانو نه وي دی یې ګوري یا یې په ټلیفون کي دا نجونو تصویرونه ساتلي وي یا صنف ته په داسي اوږده جامه کي راځي چي بجلکي یې پټي کړي وي نو د دې ټولو منکراتو درستول صحیح دي او که نه؟ یعني دا چي ناجائز پروګرامونه. صفا کول قمیص پرې کول مدرسه اختیار لري او که نه؟ که یې داسي وکړل نو تاوان لامیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د دې ټولو منکراتو ختمول د مدرسې د خاوندانو له پاره روا دي او دا د تعزیر دریېم صورت دئ چي مال په پوره ډول هلاک نه سي بلکي یوازي معصیت یې ختم سي د دوهم صورت په شان د دغه له پاره هم ګنجائش سته خو حاکم او یا چي د حاکم په حکم دي هغه یې کولای سي د هر چا له پاره ګنجائش نه سته که داسي نه وي فتنه به پیدا سي .

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن أبي طلحة الأنصاری ﷺ قال: سمعت رسول الله ﷺ یقول: لاتدخل الملائکة بیتاً فیه کلب قال أو تماثیل فأتیت عائشة ﷺ فقلت : إن هذا یخبرنی أن النبی ﷺ قال : لا تدخل الملائکة بیتًا فیه کلب ولا تماثیل فهل سمعت رسول الله ﷺ ذکر ذلك ؟ فقالت : لا، ولکن سأحدثکم ما رأیته فعل رأیته خرج فی غزاته فأخذت نمطًا فسترته علی الباب فلما قدم فرأی النمط عرفت الکراهیة فی وجهه فجذبه حتی هتکه أو قطعه وقال : إن الله لم یأمرنا أن نکسو الحجارة والطین قالت : فقطعنا منه وسادتین وحشوتهما لیفًا فلم یعب ذلك علی. (رواه مسلم:۲/ ۲۰۰ – والبخاری:۲/ ۸۸۰، مختصراً).

قال العلامة العیني رحمه الله : ستر عائشة ﷺ فیه تصاویر فهتکه صلی الله علیه وسلم فجعلته قطعتین فاتکأ علی إحداهما. (عمدة القاری:۸/ ۳۸۱، دار الحدیث، ملتان).

Maktaba Tul Ishaat.com

وقال العلامة النووي رحمه الله : أتلف الصورة التي فيه .... فيستدل به لتغيير المنكر باليدو هتک الصور المحرمة. (شرح النووی:۲/ ۲۰۰).

قال الملا علي القاري : وإن إتلافها أمر الشارع به، لقوله صلى الله عليه وسلم : من رأى منكم منكراً فليغيره بيده . (أخرجه مسلم) وإنكارها باليد إتلافها، وهو لو أتلفها بأمر أولى الأمر لايضمن فبأمر الشارع أولى، وفی الجامع الصغير، لصدر الإسلام الفتوى في عدم الضمان على قولهما، لكثرة الفساد بين الناس حتى ذكر الصدر الشهيد أن البيت يهدم على من اعتاد الفسق وأنواع الفساد، وأنه لابأس بالهجوم على بيت المفسدين، وبإراقة العصير قبل أن يشتد على من اعتاد الفسق .(فتح باب العناية فی شرح كتاب النقاية:۳/ ۳۶۷، كتاب الغصب).

قال الدكتور وهبة الزحيلی: (۲) التغيير: قد تقتصر العقوبة المالية على تغيير الشيء، مثل نهي النبي ﷺ عن كسر العملة الجائزة بين المسلمين، كالدراهم والدنانير، إلا إذا كان بها بأس، فإذا كان بها بأس كسرت . ومثل فعل النبي ﷺ في التمثال الذي كان في بيته، والستر الذي به تماثيل، إذ أمر بقطع رأس التمثال فصار كهيئة الشجرة، وبقطع الستر، فصار وسادتين يوطآن، وهكذا اتفق العلماء على إزالة وتغيير كل ما كان من العين أو التأليف المحرم، مثل تفكيك آلات الملاهي، وتغيير الصورة المصورة. (الفقه الاسلامی وادلته:۶/ ۲۰۳، التعزير بالمال، دار الفكر – وكذا في فتاوی ابن تيميه :۲۸/ ۱۱۷). والله تعالى اعلم.

د کافر یا منافق په ویلو د تعزیر حکم

سوال: که یو چا بل کس ته کافر یا منافق وویل نو په شریعت کي د هغه له پاره تعزیر سته او که نه؟ او آیا په تعزیر کي د مرګ ګنجائش سته او که نه؟

الجواب: په ځينو کتابونو کي د کافر یا فاسق په ویلو عدم تعزیر لیکلي دئ خو د فقهي په اکثره کتابو کي د تعزیر حکم ذکر دئ او په اوسنی وخت کي د فتنې او فساد او د بد رد ویلو د زیات والي له امله د غلطي ګټي اخیستني امکان سته نو باید تعزیر یې وکړل سي، البته پر قاضي موقوف دي د حالاتو او اشخاصو اعتبار دي وکړل سي بیا دي هغه جاري کړي خو یوازي د بد رد ویلو له امله د تعزیر بالقتل ګنجائش نه سته، البته فی نفسه تعزیر بالقتل مشروع دي.

وګورئ په تاتار خانیه کي راځي:

وإذا قال لغيره: « يافاجر » فعليه التعزير وكذلک إذا قال لغيره: « ياخبيث »، « يا فاسق »…. وفى الأجناس: وإذا قال: « يا كافر »، « يا زنديق »، « يالص »…. وفى السرجية: « يابې لمانځه » فعليه التعزير، وفى المضرمات: قال بعضهم: من قال لآخر: « يا كافر » لا يجب التعزير ما لم يقل: يا كافر بالله، لأن الله سمى المؤمن كافراً بالطاغوت قال: ﴿ فمن يكفر بالطاغوت ﴾. فيكون محتملاً. (فتاوى تاتار خانية: ٥/ ١٤٥-١٤٦، كتاب الحدود والتعزير).

په کنز الدقائق کي راځي:

ومن قذف…. أو مسلماً بـ« يافاسق » يا كافر ياخبيث …. عزر. (كنز الدقائق: ١٩٠، فصل فى التعزير، مكتبة امدادية).

په البحر الرائق کي راځي:

وفي شرح الطحاوي: والأصل في وجوب التعزير أن كل من ارتكب منكرًا أو آذى مسلمًا بغير حق بقوله أو بفعله وجب عليه التعزير إلا إذا كان الكذب ظاهرًا. (البحر الرائق: ٥/ ٤٣- وبدائع الصنائع: ٧/ ٦٤).

Maktaba Tul Ishaat.com

په تعزیر کي به د حالاتو او اشخاصو اعتبار وي:

وګورئ په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

وفي فتاوى الخلاصة : التعزير على أربع مراتب: (۱) تعزير أشراف الأشراف : كالفقهاء والعلوية . (۲) تعزير الأشراف : كالدهاقنة . (۳) وتعزير أوساط الناس . (٤) وتعزير الخساس . فتعزير أشراف الأشراف : الإعلام لا غير، وهو أن يقول القاضي : بلغني أنک تفعل كذا وكذا . وتعزير الأشراف : الإعلام والجر إلى باب القاضي. وتعزير الأوساط وهم السوقية: الإعلام والجر إلى باب القاضي والحبس، وتعزير الخساس: الإعلام والجر والضرب والحبس مع ذلک .... وقد يكون بالصفع (**چاپلاخه**) وتعريک الأذن، وقد يكون بالكلام العنيف، وقد يكون بالضرب، وفى الخانية: وعن محمد رحمه الله : رجل يشتم الناس وهو محترم له مروءة : يوعظ ولايحبس، وإن كان دون ذلک: يؤدب وإن كان شتاماً: يضرب ويحبس. وفى الظهيرية: وقد يكون التعزير بنظر القاضي إليه بوجه عبوس .... ولا خلاف بين العلماء أنه لا يبلغ التعزير الحد.... فأما أدناه مفوض إلى رأي القاضي يقيم بقدر مايرى من المصلحة فيه، وفى الظهيرية: أقل التعزير لاينقص عن ثلاث جلدات، .... فالتعزير مفوض إلى رأي الإمام. (الفتاوى التاتار خانية:٥/ ١٤٠، كتاب الحدود، والتعزير – وكذا فى الدر المختار مع فتاوى الشامى:٤/ ٦٠، باب التعزير، سيعد). والله تعالى اعلم.

د تعزیر بالتقل حکم:

په درمختار کي راځي:

يكون التعزير بالقتل كمن وجد رجلاً مع امرأة لاتحل له، ولو أكرهما فلها قتله ودمه هدر .... وفى شامية (قوله ويكون التعزير بالقتل) رأيت في (الصارم المسلول) للحافظ ابن

تیمیة أن من أصول الحنفیة أن ما لا قتل فیه عندهم مثل القتل بالمثقل والجماع في غیر القبل إذا تکرر فللإمام أن یقتل فاعله ، وکذلك له أن یزید على الحد المقدر إذا رأى المصلحة في ذلك ، ویحملون ما جاء عن النبي صلی ﷺ وأصحابه من القتل في مثل هذه الجرائم على أنه رأى المصلحة في ذلك ویسمونه القتل سیاسةً ، وکان حاصله أن له أن یعزر بالقتل في الجرائم التي تعظمت بالتکرار وشرع القتل في جنسها .... قلت: وقد ظهر لي فی التوفیق وجه آخر وهو أن الشرط المذکور إنما هو فیما إذا وجد رجلاً مع امرأة لاتحل له قبل أن یزنی بها فهذا لایحل قتله إذا علم أنه ینزجر بغیر القتل سواء کانت أجنبیة عن الواجد أو زوجة له أو محرماً منه، أما إذا وجد یزنی بها فله قتله مطلقا. (الدر المختار مع فتاوی الشامی:٤/ ٦٢، مطلب یکن التعزیر بالقتل، سعید). والله ﷻ اعلم.

د تعزیر په ډول له یو چا سره تعلقات ختمول

سوال: زموږ په ځینو علاقو کي دا رواج دئ چي که یو څوک کوم جرم وکړي نو د تعزیر له پاره دمحلي خلک له ده سره تعلق ختموي او ډېر وختونه یې په مسجد کي د لمانځه کولو او جنازه کي د شرکت کولو څخه هم منع کوي ایا په شریعت کي د دې کنجائش سته او که نه؟

الجواب: د تعزیر له پاره تعلق ختمول روا دي خو په مسجد کي یې د جماعت د لمانځه وغیره څخه بندول روا نه دي په شریعت مطهره کي ډېري داسي واقعي سته چي په هغو کي د تعلق ختمول راغلي دي خو د مسلمانانو له اجتماعي عباداتو د مثال په ډول په مسجد کي د جماعت د لمانځه یا جنازه وغیره کي د شرکت کولو څخه منع کول یې ثابت نه دي .

وګورئ په قرآن کریم کي الله تعالی فرمایي:

﴿ ومن أظلم ممن منع مساجد الله أن یذکر فیها اسمه وسعى في خرابها ﴾. (سورة البقرة، الآیة:١١٤).

Maktaba Tul Ishaat.com

په پورتنی آیات کي مفتي محمد شفیع په معارف القرآن کي لیکي:
مسئله دا معلومه سوه چي په مسجد کي چي د ذکر او لمانځه څخه د بندېدو څومره صورتونه دي هغه ټول ناروا او حرام دي په هغو کي خو یو ښکاره صورت دا دئ چي یو څوک مسجد ته د تللو یا هلته د لمانځه او تلاوت څخه صراحة منع سي . (معارف القرآن:۱/ ۲۹۹).

۱_ د حضرت کعب بن مالک ﷺ او د ده دوو ملګرو سره چي تعلقات ختم سوي وه چي په هکله یې دغه آیات کریمه :

﴿ وعلى الثلاثة الذين خلفوا حتى إذا ضاقت عليهم الأرض بما رحبت ﴾. (سورة التوبه، الآية:۱۱۸).

نازل سوي وو بیا هم د پنځه وخته جماعت له لمانځه څخه هغوی منع سوي نه وه .
وګورئ په بخاري شریف کي روایت دي:
.... وأما أنا فكنت أخرج فأشهد الصلاة مع المسلمين وأطوف في الأسواق ولايكلمني أحد ....الخ .(رواه البخاری:۲/ ٦۳٥، حديث كعب).

له مبارکو احادیثو څخه د تعلق د ختمولو ثبوت:
۱_ حضرت کعب بن مالک ﷺ او د هغه له دوو ملګرو سره پنځوس ورځي تعلقات ختم سوي وه .
وګورئ په بخاري شریف کي راځي:
... فلبث بعد ذلک عشر ليال حتى كملت لنا خمسون ليلة من حين نهى رسول الله ﷺ عن كلامنا.... (رواه البخاری:۲/ ٦۳٦).

۲_ حضرت عبد الله بن مغفل ﷺ له خپل وراره سره کلام پرې ایښي وو.

وګورئ په ابن ماجه کي راځي:

عن سعيد بن جبير رضي الله عنه، عن عبد الله بن مغفل رضي الله عنه، أنه كان جالسًا إلى جنبه ابن أخ له، فخذف، فنهاه، وقال: إن رسول الله ﷺ نهى عنها، وقال: إنها لا تصيد صيدًا، ولا تنكي عدوا، وإنها تكسر السن، وتفقأ العين، قال: فعاد ابن أخيه يخذف، فقال: أحدثك أن رسول الله ﷺ نهى عنها، ثم تخذف، لا أكلمك أبدًا. (رواه ابن ماجة: ص ٣).

يعني رسول الله ﷺ د ډبرو له ويشتلو څخه منع کړي وه چي نه په هغه سره ښکاره کيږي نه په هغه سره دښمني زخمي کيږي، البته ديو چا غاښ وباسي يا يې سترګه ور وباسي راوي وايي چي وراره يې بيا هم ويشتل شروع کړل نو حضرت عبد الله بن مغفل رضي الله عنه وفرمايل، زه وايم چي نبي کريم ﷺ د ډبرو ويشتلو څخه منع کړي ده او ته يې ولي زه به هيڅکله خبره در سره ونه کړم.

۳_ حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه له خپل زوی سره خبري منع کړی وي.

وګورئ په مشکوة شريف کي راځي:

عن مجاهد عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه أن النبي ﷺ قال: لا يمنعن رجل أهله أن يأتوا المساجد فقال ابن عبد الله بن عمر رضي الله عنه: فإنا نمنعهن، فقال عبد الله: أحدثك عن رسول الله ﷺ وتقول هذا، قال: فما كلمه عبد الله حتى مات. (رواه أحمد، مشكوة شريف: ١/ ٩٧).

ژباړه: حضرت عبد الله بن عمر وويل چي رسول الله ﷺ وفرمايل، چي يو څوک دي خپله ښځه له مسجد څخه نه منع کوي نو د حضرت عبد الله بن عمر يو زوی وويل چي موږ خو يې منع کوو حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه وفرمايل، چي زه حديث بيانوم او ته دغه وايي راوي وايي چي حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه د وفات تر وخته له زوی سره بيا خبري کړی نه دي.

۴_ حضرت عائشې رضي الله عنها له حضرت عبد الله ابن زبير رضي الله عنه سره خبري پرې ايښي وي.

.... أن عائشة رضي الله عنها حدثت أن عبد الله بن الزبير قال في بيع، أو عطاء أعطته عائشة رضي الله عنها والله لتنتهين عائشة، أو لأحجرن عليها، فقالت: أهو قال هذا، قالوا: نعم، قالت: هو لله علي نذر

Maktaba Tul Ishaat.com

أن لا أكلم ابن الزبير أبدًا فاستشفع ابن الزبير ﷺ إليها حين طالت الهجرة .... الخ . (رواه البخاری:۲/ ۸٦۷، کتاب الادب، باب الهجرة).

خلاصه دا ده چي د حضرت عائشې ﷺ د زيات سخاوت له امله حضرت عبد الله بن زبير ﷺ وويل كه له دې څخه منع نه سوه نو زه به وباندي پابندي ولګوم حضرت عائشه ﷺ خبره سو ويې ويل چي ايا ده داسي وويل زه دا نذر منم چي د ابن زبير ﷺ سره به هيڅکله خبري نه کوم بيا حضرت عبد الله بن زبير ﷺ حضرت عائشه ﷺ په ډېر مشکل سره راضي کړل .

په مشکوة شريف کي راځي:

عن أبي أيوب الأنصاری ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ : لايحل للرجل أن يهجر أخاه فوق ثلاث ليال. (مشكوة شريف:۲/ ٤۲۷، باب ماينهی من لتهاجر).

د پورتنی حديث په شرح کي ملا علي قاري ليکي :

قال الخطابي : رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته، ولايجوز فوقها إلا إذا كان الهجران فی حق من حقوق الله تعالی، فيجوز فوق ذلک، وفي حاشية السيوطی على المؤطا: قال ابن عبد البر رحمه الله.... وأجمع العلماء على أن من خاف من مكالمة أحد وصلته مايفسد عليه دينه، أو يدخل مضرة في دنياه يجوز له مجانبته وبعده .... وإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مر الأوقات ما لم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق فإنه صلى الله عليه وسلم لما خاف على كعب بن مالک ﷺ وأصحابه النفاق حين تخلفوا عن غزوة تبوک أمر بهجر انهم خمسين يوماً. ... (مرقات المفاتيح شرح مشكاة المصابيح:۹/ ۲٦۲).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

که له داسي کسانو سره عام مسلمانان د څه ورځو له پاره د خبرتیا په ډول تعلقات قطع کړي په غم او ښادي کي یې شریک نه سي نو دا روا ده بلکي مستحسن ده. کما فی اتحاد البصائر فی ترتیب الاشباه والنظائر، ص: ۹۲. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۲/ ۲۲۸).

او همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی:۵/ ۵۲۹ – وفتاوی محمودیه:۱۸/ ۵۰۷). والله ﷻ اعلم

په شریعت مطهره کي د تادیب حکم

سوال: په شریعت مطهره کي د ښځي کوچینانو او شاګردانو د وهلو ګنجائش سته او که نه؟ او که سته نو تر کومه حده؟

الجواب: د شریعت په حدودو کي په ځینو صورتونو کي تادیبا د وهلو ګنجائش سته.

۞ تأدیب الزوجة: (د ښځي رټنه).

په قرآن مجید کي فرمایي:

﴿ واللاتي تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن في المضاجع واضربوهن ﴾. (سورة النساء، الآیة:٣٤).

یعني که د ښځي له طرفه د نافرماني بېره وي نو د اصلاح لومړی درجه یې دا ده چي په نرمۍ سره یې وپوهوي که یوازي په پوهولو منع نه سي نو دوهمه درجه دا ده چي درې ورځي یې بستره له خپلي بستري څخه جلا کړه چي له دغه بېلتون څخه د خاوند ناراضي محسوس کړي پر خپل فعل پښېمانه سي او یوازي په بستره کي جلا والي وکړي په مکان کي دي جلا والي نه کوي ځکه په هغه کي تکلیف زیات دئ او د فساد د زیاتیدو بېره پکښي زیاته ده او څوک چي په دغه شرافتمندانه سزا سره هم منع نه سي نو بیا یې د معمولي وهلو اجازه هم سته چي له هغو څخه یې پر بدن اثر رانه سي او د هډوکي د ماتیدو یا زخمي کېدو بېره یې نه وي او پر مخ له وهلو څخه مطلقا منع سوي ده. (معارف القرآن:۲/ ۳۹۹).

Maktaba Tul Ishaat.com

په قاموس الفقه كي راځي:

د قرآن كريم له دغه هدايت څخه معلوميږي چي يو خو د جسماني سزا اجازه هغه وخت ده چي كله نصيحت او په وختی ډول د بستري جلا والي د ښځي د اصلاح له پاره كافي ثابت نه سي كه په اصلاح سره كار وسي نو هيڅكله دي لاس نه وربانديپورته كوي. (قاموس الفقه: ٤/ ٢٠٨).

احاديث وګورئ:

عن إياس بن عبد الله بن أبي ذباب قال: قال رسول الله ﷺ لا تضربوا إماء الله فجاء عمر رضي الله عنه إلى رسول الله ﷺ فقال: ذئرن النساء على أزواجهن. فرخص في ضربهن فأطاف بآل رسول الله ﷺ نساء كثير يشكون أزواجهن فقال رسول الله ﷺ: لقد طاف بآل محمد نساء كثير يشكون أزواجهن ليس أولئك بخياركم. (رواه ابو داؤد: ١/ ٢٩٢، باب ضرب النساء – والنسائي – وابن ماجة).

عن عائشة رضي الله عنها، قالت: ما ضرب رسول الله ﷺ خادمًا له، ولا امرأةً، ولا ضرب بيده شيئًا. و عن عبد الله بن زمعة رضي الله عنه، قال: خطب النبي ﷺ، .... ثم قال: إلى ما يجلد أحدكم امرأته جلد الأمة ولعله أن يضاجعها من آخر يومه. (رواه ابن ماجة: ١٤٢، باب ضرب النساء).

معلومه سوه چي د مجبوري په وخت كي هم ده مبارك ﷺ د ښځي وهل نه دي خوښ كړي، البته د نشوز په وخت كي د لږ وهلو ګنجائش سته او پر هغه مواخذه نه سته.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

عن الأشعث بن قيس، قال: ضفت عمر رضي الله عنه ليلةً، فلما كان في جوف الليل، قام إلى امرأته يضربها، فحجزت بينهما، فلما أوى إلى فراشه قال لي: يا أشعث، احفظ عني شيئًا سمعته عن رسول الله ﷺ: لا تسأل الرجل فيم يضرب امرأته. (رواه ابن ماجة: ص ١٤٢).

قال في انجاح الحاجة: قوله فيما يضرب امرأته أى إذا راعى شرط الضرب وحدوده.
(انجاح الحاجة:١٤٢).

په کومو صورتونو کي چي د ښځي د وهلو ګنجائش وي يو څو يې په لاندي ډول دي:

قال في تنوير الأبصار : يعزر المولى عبده والزوج زوجته على تركها الزينة وغسل الجنابة، والخروج من المنزل وترک الإجابة إلى الفراش، وقال فى الدر المختار: ويلحق بذلك ما لو ضربت ولدها الصغير عند بكائه أو ضربت جاريته غيرة ولاتتعظ بوعظه أو شتمته ولو بنحو يا حمار أو ادعت عليه أو مزقت ثيابه أو كلمته ليسمعها أجنبي أو كشفت وجهها لغير محرم أو كلمته أو شتمته أو أعطت ما لم تجر العادة به بلا إذنه والضابط: كل معصية لاحد فيها فللزوج والمولى التعزير . وقال الشامي: لكن على القول بأنه لايضربها لترک الصلاة يخص الجواز بما لاتقتصر منفعته عليها. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٤/ ٧٧).

په فتاوى لکهنوي کي راځي:

الاستفار: هل بجوز للزوج أن يضرب امرأته في خصلة من الخصال ؟

الاستبشار: نعم، قالوا: يجوزله أن يضربها في أربعة أمور وما في معناها، أحدها: ـ على ترک الزينة للزوج . وثانيها : ـ على عدم إجابتها إذا دعاها إلى فراشه، وهي طاهرة من الحيض والنفاس. وثالثها : ـ على خروجها من منزله بغير إذنه. ورابعها : ـ على ترک الصلاة، وترک الغسل من الجنابة، كذا فى مجمع البركات عن القنية. ثم الضرب على ترک الصلاة رواية، وعليه مشى فى الكنز تبعاً للكثيرين وفى النهاية تبعاً للحاكم : أنه لايجوز لأن المنفعة لاتعود إليه، ومعنى قولهم : وما في معناها : أنها إذا ارتكبت معصية ليس لها فى الشرع تعزير

Maktaba Tul Ishaat.com

مقرر لـه أن يـضربـها فيهـا، فيجـوز إذا ضربـت جاريـة زوجهـا غـيرة، ولـم تـتعظ بوعظـه لـه أن يضربـها، كما فى القنية . وينبغي أن يلحق به ما إذا ضربت الولد الذي لايعقل عند بكائه، لأن ضرب الدابة إذا كان ممنوعاً، فهذا أولى، منه : ما إذا شتمته أو مزقت ثيابه، أو أخذت لحيته أو قالت له: يا حمار، يا أبله، ونحوه. ومنه : ما إذا كشفت وجهها لغير محرم، ومنه : ما إذا شتمت أجنبياً، ومنه ما إذا أسمعت صوتـها للأجنبي. كذا فى البحر الرائق:٥/ ٥٣، فى فصل التعزير. (نفع المفتى والسائل:ص ٤٠٩-٤١٠، ما يتعلق باطاعة الزوجات للازواج).

وعن جابر ﷺ أن رسول الله ﷺ قال:..... فاضربوهن ضرباً غير مبرح . (رواه مسلم:١/ ٣٩٧).

قال الفقهاء: هو أن لايكسر فيها عضواً ولايؤثر فيها شيئاً. (ابن كثير:١/ ٥٣٨).

وعن معاوية بن حيدة القشيرى عن أبيه قال : يا رسول الله ! ما حق زوجة أحدنا عليه ؟ قال: أن تطعمها إذا طعمت وتكسوها إذا اكتسيت ولا تضرب الوجه ولا تقبح ولا تهجر إلا فى البيت . (رواه ابو داؤد:١/ ٢٩١، باب حق المرأة على زوجها).

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ يې يوازي په مسواک سره د ترټنې اجازه کړې ده . (قاموس الفقه:٤/ ٣٠٩).

۞ تأديب الأولاد الصغار (د نابالغو اولادونو د وهلو حكم)

مولانا خالد سيف الله فرمايي، چې د کوچنيانو په وهلو کې هم د هغو حدودو او قيودو لحاظ ضروري دئ چې د ښځې د ترټنې په هکله ذکر سوي دي که له اعتدال څخه تجاوز وسي نو ترټونکي په خپله د رټنې ور دئ . (قاموس الفقه:٤/ ٣٠٩).

په درمختار کي راځي:

ومنه أی (من المباح) ضرب الأب ابنه تأديبًا أو الأم أو الوصي ومن الأول (أی الواجب) ضرب الأب أو الوصي أو المعلم بإذن الأب تعليمًا فمات لا ضمان .... ومحله في الضرب المعتاد، وفي الشامية: قوله بإذن الأب أي أو بإذن الوصي ولو ضرب بغير إذنهما يضمن، قوله ومحله في الضرب المعتاد) أي كماً وكيفاً ومحلا فلو ضربه على الوجه أو على المذاكير يجب الضمان بلا خوف ولو سوطاً واحداً لأنه إتلاف . (الدر المختار مع فتاوى الشامی:٦/ ٥٦٦، سعيد).

وفی الدر المختار : وإن وجب ضرب ابن عشر عليها بيد لا بخشبة. وقال الشامي: ولايجاوز الثلاث وكذلک المعلم ليس له أن يجاوزها.... وظاهره أنه لايضرب بالعصا في غير الصلاة أيضاً. (الدر المختار مع فتاوی الشامی:١/ ٣٥٢، كتاب الصلاة، سعيد – ٤/ ٧٨، سعيد).

وعن أبی بردة رضي الله عنه قال: كان النبي ﷺ يقول: لا يجلد فوق عشر جلدات إلا في حد من حدود الله. (رواه البخاری:٢/ ١٠١٢).

په فتح الباري کي راځي:

الصواب في الجواب أن المراد بالحدود هنا الحقوق التي هي أوامر الله ونواهيه وهي المراد بقوله: ومن يتعد حدود الله فأولئك هم الظالمون ، فلا يزاد على العشر في التأديبات التي لا تتعلق بمعصية كتأديب الأب ولده الصغير. (فتح الباری:١٢/ ١٧٨).

يعني د الله تعالى د احکامو د مخالفت په صورت کي له لسو ځخه زياتي درو د وهلو سزا ورکول کېداى سي د يو انساني قانون د مخالفت په صورت کي وي داسي سخته سزا نه ورکول کيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

په شرح عمدة الاحكام كي راځي:

المراد جلد التأديب كان يؤدب الرجل ولده أو يؤدب خادمه دو يؤدب زوجته. (عمدة الاحكام:٨/ ٧٠).

محمد بن صالح عثيمين سلفي سعودي په شرح د رياض الصالحين كي وايي:

قوله صلى الله عليه وسلم: « واضربوهم عليها وهم أبناء عشر سنين » المراد بالضرب الذي يحصل به التأديب بلا ضرر، فلا يجوز للأب أن يضرب أولاده ضرباً مبرحاً، ولا يجوز أن يضربهم ضرباً مكرراً لا حاجة إليه بل إذا احتاج إليه مثل ألا يقوم الولد للصلاة إلا بالضرب فإنه يضربه ضرباً غير مبرح، بل ضرباً معتاداً، لأن النبي ﷺ إنما أمر بضربهم لا لإيلامهم ولكن لتأديبهم وتقويمهم، وفي هذا الحديث: إشارة إلى أن ما ذهب إليه بعض المتأخرين ممن يدعون أنهم أصحاب تربية من أن الصغار لا يضربون في المدارس إذا أهملوا. ففي هذا الحديث الرد عليهم، وهو دليل على بطلان فكرتهم، وأنها غير صحيحة، لأن بعض الصغار لا ينفعهم الكلام في الغالب، ولكن الضرب ينفعهم أكثر، فلو أنهم تركوا بدون ضرب لضيعوا الواجب عليه وفرطوا في الدروس وأهملوا، فلابد من ضربهم ليعتادوا النظام .... إلا أنه كما قلنا لابد أن يكون الضرب للتأديب لا للإيلام والإيجاع فيضرب ضرباً يليق بحاله، ضرباً غير مبرح. (شرح رياض الصالحين:١/ ٦٨٦/ ٣٠٢، دار السلام).

حضرت مفتى محمود حسن صاحب وايي:

كوچني هلكان بېله لبنتي وغيره يوازي په لاس سره هغه هم د دوى د برداشت موافق دري څپلاخي وهلا سي هغه به يې هم پر سر او مخ نه وي له دې څخه زياته اجازه نه سته كه نه كوچنيان په قيامت كي قصاص اخلي له كوچنيانو سره دي نرمي او شفقت وسي اوس تقريباً د وهلو دور ختم دئ

او د هغه اثرات ښه نه دي د وهلو سره عادت سي درس نه ياد وي او اکثره خو درس پرېږدي. (فتاوی محموديه:۱۴/ ۱۲۹).

۞ تأديب الأولاد الكبار:

د بالغانو د وهلو ګنجائش هم سته وګوري په بخاري شريف کي راځي:

فقال أبو بكر ﷺ أحبست رسول الله ﷺ والناس ليسوا على ماء وليس معهم ماء، فقالت عائشة ﷺ فعاتبني أبو بكر ﷺ وقال: ماشاء الله أن يقول وجعل يطعنني بيده في خاصرتي. (رواه البخاري:۱/ ۴۸، باب التيمم).

قال العيني: فيه تأديب الرجل ابنته ولو كانت متزوجة كبيرة خارجة عن بيته ويلتحق بذلك تأديب من له تأديبه وإن لم يأذن له الإمام. (عمدة القاري:۳/ ۱۹۷).

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

والأب يعزر الابن عليه أي على ترك الصلاة .... والظاهر أن المراد بالابن الصغير أما الكبير فكالأجنبي نعم قدم الشارح في الحضانة عن البحر أنه إذا لم يكن مأموناً على نفسه فله ضمه لدفع فتنة أو عار وتأديبه إذا وقع منه شيء. (فتاوى الشامي:۴/ ۷۸، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

بالغو اولادونو ته هم تعزير ورکول کېدای سي بلکي که يې پلار نه وي د نورو قريبانو هم تعزير ورکولای سي. الظاهر أن الجد كذلك بل غيره من العصبات كالأخ والعم. (رد المحتار:۲/ ۶۹۷).

استاد خپلو شاګردانو ته تعزير ورکولای سي شاګرد که بالغ وي او که بالغ نه وي نابالغ ته د دې امله چي د هغه قريب استاذ د تاديب مالک ګرځولي دي او بالغ په خپله استاذ ته اختيار ورکړی دي.

(احسن الفتاوی:۵/ ۵۰۸). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

په تاديب کي د لاسونو او پښو د ماتولو حکم

سوال: معلم د وهلو په وخت کي د کوچني لاس او يا پښه ماته کړه نو تاوان به وي او که نه ؟

الجواب: په دې صورت کي که يې د پلار په اجازه وهلي وي نو تاوان نه لازميږي او که يې بېله اجازې وهلي وي نو تاوان به ورکوي او دا حکم هغه وخت دئ چي که يې په معتاد ډول وهلي وي که يې په غير معتاده طريقه وهلي وي نو په هر صورت تاوان لازميږي .

وګورئ مجمع الضمانات کي راځي:

المعلم إذا ضرب صبيا، أو الأستاذ المحترف إذا ضرب التلميذ ، قال أبو بكر محمد بن الفضل رحمه الله : إن ضربه بأمر أبيه أو وصيه ضربًا معتادًا في الموضع المعتاد لا يضمن ، وإن ضربه غير معتاد ضمن . فإن ضربه بغير أمر أبيه أو وصيه فمات ، ضمن تمام الدية في قولهم ، سواء ضربه معتادًا ، أو غير معتاد ، من فصل البقار من قاضي خان . (مجمع الضمانات:١/ ١٥٩ ،النوع الثامن عشر، دار السلام).

په درمختار کي راځي:

ضرب الأب أو الوصي أو المعلم بإذن الأب تعليما فمات لاضمان .... ومحله فى الضرب المعتاد وأما غيره فموجب للضمان . وفى الشامية: قوله بإذن الأب أى أو بإذن الوصي ولو ضرب بغير إذنهما يضمن .... قوله ومحله فى الضرب المعتاد أى كماً وكيفاً ومحلاً فلو ضربه ولى الوجه أو على المذاكير، يجب الضمان بلاخوف ولوسوطاً واحداً لأنه إتلاف. (الدر المختار مع الفتاوى الشامى:٦/ ٥٦٦، باب القود فيما دون النفس، سعيد).

په حاشيه الطحطاوي کي راځي:

الوصي والزوج إذا ضرب اليتيم أو زوجته تأديباً وكذا المعلم إذا ضرب الصبي بإذن الأب أو الوصي لتعليم القرآن أو عمل آخر مثل ما يضرب فيه لايضمن هو ولا الأب والوصي

بالإجماع.... ولو ضرب المعلم بدون إذنه فمات يضمن. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار: ٤/ ٢٧٥. باب القود فيما دون النفس). والله ﷻ اعلم.



قال سبحانه وتعالى: ﴿ فمن اعتدى عليكم فاعتدوا عليه بمثل ما اعتدى عليكم ﴾. (سورة البقرة، الآية: ١٩٤).

وقال عليه الصلاة والسلام: لاضرر ولا ضرار فی الإسلام.

احكام الضمان

دریيم .... باب

كه يې په موټر اس وواهه نو د تاوان حكم

سوال: يو كس پريوه لويه لاره موټر چلاوه د شپې ورته معلومه نه وه چي پر لاره يو آس راوتلي دئ موټريې په آس كي ولګېدئ او هغه زخمي سو اوس به تاوان پر چا وي؟

الجواب: په دې صورت كي د موټر د خاوند قصور وي نو پر ده به تاوان راځي.

مولانا محمد تقی صاحب په تكمله فتح المهلم كي ليكي:

إن جناية البهيمة لاتخلو من حالين إما أن تكون متفلتة ليس معها أحد أو يكون معها را كب أو سائق أو قائد فإن كانت متفلتة ليس معها أحد فأتلفت شيئاً فلا ضمان على صاحبها عند الحنفية مطلقاً سواء كان الوقت وقت النهار أو وقت الليل عملاً بإطلاق حديث الباب.....

وذكر شيخنا التهانوی رحمه الله فی إعلاء السنن : (١٨/ ٢٤٢) عن الطحاوی: أن تحقيق مذهب أبي حنيفة رحمه الله أنه لاضمان إذا أرسلها مع حافظ وأما إذا أرسلها من دون حافظ ضمن،

Maktaba Tul Ishaat.com

والخلاصة أن الحكم عند أبي حنيفة رحمه الله لايدور مع النهار أو الليل وإنما يدور على التقصير فى الحفظ فإن قصر المالک في حفظ البهيمة بالنهار ضمن، وإن لم يقصر بالليل لم يضمن وحمل حديث ناقة البراء على التقصير فى الحفظ واستدل شيخنا التهانوی رحمه الله لمذهب أبي حنيفة رحمه الله بما أخرجه الدارقطني عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده عن النبي ﷺ قال: ما أصابت الإبل بالليل ضمن أهلها وما أصابت بالنهار فلا شيء فيه، وما أصابت الغنم بالليل والنهار غرم أهلها قال شيخنا : ويدل إيجاب الضمان على أهل الغنم بالليل والنهار على أنه لا دخل للنهار في إسقاط الضمان وإنما بنائه على عدم التقصير ولما كان حفظ الغنم متيسراً دل إفسادها على ترک الحفظ من الرعاة بخلاف الإبل فإن ضبطها متعسر، هذا هو الفرق.... ثم لم يذكر الفقهاء حكم السيارة لعدم وجودها في عصرهم والظاهر أن سائق السيارة ضامن لما أتلفته من القدام أو من الخلف ووجه الفرق بينها وبين الدابة على قول الحنفية إن الدابة متحركة بإرادتها فلا تنسب نفحتها إلى راكبها بخلاف السيارة فإنها لاتتحرک بإرادتها فتنسب جميع حركتها إلى سائقها فيضمن جميع ذلک، والله سبحانه وتعالى أعلم . (فتح الملهم:۲/ ٥٢١-٥٢٣، احكام جناية البهيمة).

همدا ډول وګورئ: (اسلامی فقه:۲/ ٦٤١). والله تعالی اعلم.

د موټر پر ټکر کولو یا چپه کېدو د تاوان حکم

سوال: که موټروان موټر یا بس روان کړي وو د هغه یو شی مات سو او یا چپه سو یا یې له بل موټر سره ټکر وکړ او پکښي ناست خلک څه زخمیان او څه یې مړه سو او موټروان ژوندی پاته سوه نو تاوان یا دیت وغیره لازمیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې که موټروان په قصده کومه زیاتونه وکړه د مثال په ډول په غلطه لاره ولاړي او چپه سو یا یې موټر ډېر زیات تیز روان کړي وو نو په دې صورتونو کې دی ذمه دار دئ او پر ده تاوان راځي خو که یې داسي ونه کړل بلکي موټریې په پوره ذمه داري سره چلاوه او ناڅا په کومه حادثه پېښه سوه نو موټروان یې ذمه دار نه دئ او پر ده کوم تاوان نه راځي، البته که یې دباندي یو څوک په وواهه نو بیا به دیت واجب وي دغه مسائل مولانا مجیب الله ندوی صاحب په تفصیل سره بیان کړي ده وېې وګورئ:

بې روحه سواري د مثال په ډول بایسکل یا موټر، ریل ګاډي، طیاره وغیره حکم دا دئ چي که په قصده له هغه څخه کوم مالي نقصان ورسیږي یا د غفلت له امله بې قصده وي نو د هغه تاوان د موټر له مالک څخه نه بلکي د ډریور، کلینر او یا محافظ څخه اخیستل کیږي د مثال په ډول د سګنل د اشارو پرته یې موټر روان کړ او موټریې وجنګاوه یا یې پر غلط طرف موټر چلاوه یا یې د ټاکلي سپیډ څخه تیز چلاوه نو په دغو صورتونو کي پر ده د مالي نقصان ذمه داري سته، البته که یې بل څوک د سواري په وړاندي خنبته یا ډېره واچوي دی یې ونه ویني او کومه حادثه پېښه سي یا یو پیاده کس پر غلطه لاره روان وو او موټر سائکل ورسره لګېدئ یا نابېره د سواري په مخکي پرېوزي نو په داسي صورت کي موټروان یا حکومت ذمه دار نه دئ خو که موټر نابېره ټکر سي یا د طیاري کومه حادثه پېښه سي او خلک پکښي مړه سي نو د هغه نقصان به پر چلونکي نه وي بلکي هغه به پر حکومت یا کمپنۍ وي ځکه د داسي اتفاقي حادثاتو د دیت ذمه داري فقهاء پر عاقله وو اچوي د اسلام په پیل کي پر اهل دیوان یعني د یوه صنف د خلکو له پاره چي به کوم دفتر وو هغه ټول یو د بل عاقله وه بیا له هغه څخه وروسته د خاندان او قبیلې وغیره باندي د هغه ذمه داري اچول سوي وه خو اوس به دغه ذمه داري پر کمپنۍ، کارخانه او یا حکومت وي که څه هم فقهاوو هغه پر قتل خطاء حمل کړی دئ کمپنۍ یا کارخانه یا حکومت موټروان یا پیلوټ ته خو سزا ورکولای سي خو پر دوی د دیت ذمه داري نه سي اچولای خو دا نوي مسئلې دي فقهاء باید نور هم غور وربانديو وکړي. (اسلامی فقه: ۲/ ٦٤٢).

Maktaba Tul Ishaat.com

په مجمع الضمانات کي راځي:

ولو اصطدم فارسان حران فماتا فعلى عاقلة كل واحد منهما الدية للأخرى كما في الهداية ، قال في إصلاح الإيضاح وهاهنا شرط مذكور في الفتاوى الظهيرية وهو أن يقع كل واحد منهما على قفاه .... وشرط آخر مذكور في المحيط وهو أن لا يكونا عامدين في ذلك الاصطدام فإنهما لو كانا عامدين فيه ضمن كل نصف الدية للآخر .... ولو اصطدم دابتان فعطبت إحداهما ولكل منهما سائق فضمان التي عطبت على الآخر، من قاضي خان. (مجمع الضمانات:١/ ٤٢٣، الفصل الخامس فى جناية البهيمة، للعلامة ابى محمد البغدادى – والهداية: ٤/ ٣٤٨).

وانظر للاستزادة : (تكملة فتح الملهم، حكم السيارة:٢/ ٥٢٣). والله ﷻ اعلم.

بېله کوتاهي د حيوان پر هلاکت د تاوان حکم

سوال: که موټر چلونکي غلطي ونه کړه بلکي د حيوان يا د هغه مالک غلطي وکړه چي لاره بنده ده بيا هم حيوان هلاک سو او په موټر کي هلاک سو نو تاوان به ورباندي راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که کوتاهي د موټروان له طرفه نه وي بلکي کوتاهي د حيوان د مالک د طرفه وي چي موټروان د حيوان د ساتلو څخه قاصر وو نو پر ده تاوان نه راځي .

وګورئ په هدايه کي راځي:

ومن سار على دابة في الطريق فضربها رجل أو نخسها فنفحت رجلا أو ضربته بيدها أو نفرت فصدمته فقتلته كان ذلك على الناخس دون الراكب هو المروي عن عمر رضي الله عنه وابن مسعود رضي الله عنه ولأن الراكب والمركب مدفوعان بدفع الناخس فأضيف فعل الدابة إليه كأنه فعله بيده ، ولأن الناخس متعد في تسببه والراكب في فعله غير متعد فيترجح جانبه في التغريم للتعدي . (الهداية:٤/ ٦١٥، كتاب الديات) وكذا فى الدر المختار مع الشامى:٦/ ٦٠٨).

وفي الدر المختار: انفلتت دابة بنفسها فأصابت مالًا أو آدميا نهارًا أو ليلًا لا ضمان في الكل لقوله صلى الله عليه وسلم: العجماء جبار أي المنفلتة هدر كما لو جمحت الدابة به أي بالراكب، ولو سكران ولم يقدر الراكب على ردها فإنه لا يضمن كالمنفلتة لأنه حينئذ ليس بمسير لها فلا يضاف سيرها إليه حتى لو أتلفت إنسانًا فدمه هدر عمادية. (الدر المختار مع الشامي:٦/ ٦٠٨، باب جناية البهيمة).

په احسن الفتاوی کي راځي:

چي کله سواري د مستي له امله بې قابو سي يعني سپور د هغه درا ګرځولو څخه عاجز وي نو پر سپاره يې ضمان نه سته هغه که ځاني نقصان وي او که مالي وي ځکه په دې صورت کي به هغه کارد حيوان روانونکي وطرفته منسوب نه وي او دا حکم به هغه وخت وي چي کله سپور سړي آس په عادي رفتار سره روان کړي او که يې په غير معتاد ډول په چلاخه وغيره سره وواهه يا يې په قصده ډېر تيز وځغلاوه نو پر ده به ضمان وي. لانه متعد كنا خس الدابة. (احسن الفتاوی:٨/ ٥١٢). والله ﷻ اعلم.

د موټرانو په ټکر کي د تاوان حکم

سوال: که ټکر وسي يو پر غلطه وي او بل بې ګناه وي کوم چي پر غلطي وو هغه ته تاوان ورسېدئ نو ايا پر هغه بې ګناه به تاوان راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي پر بې قصوره او بې ګناه تاوان نه راځي ځکه تاوان پر زياتي کونکي راځي.

په درمختار کي راځي:

ومن ضرب دابةً عليها راكب أو نخسها بعود بلا إذن الراكب فنفحت أو ضربت بيدها شخصًا آخر غير الطاعن أو نفرت فصدمته وقتلته ضمن هو أي الناخس لا الراكب. (الدر المختار مع الشامي:٦/ ٦٠٨).

Maktaba Tul Ishaat.com

وفي الشامية: قوله لا الراكب : لانه غير متعد فترجح جانب الناخس في التغريم للتعدى وتمامه في الهداية . (فتاوى الشامى:٦/ ٦٠٨، جناية البهيمة – وكذا فى الهداية:٤/ ٦١٥، كتاب الديات).

موټر د دابې په حکم کې دئ، البته په دواړو کې څه فرق سته:

والظاهر أن سائق السيارة ضامن لما أتلفته فى الطريق سواء أتلفته من القدام أو من الخلف، ووجه الفرق بينهما وبين الدابة على قول الحنفية أن الدابة متحركة بإرادتها فلا تنسب نفحتها إلى راكبها بخلاف السيارة فإنها لاتتحرك بإرادتها وتنسب جميع حركاتها إلى سائقها فيضمن جميع ذلک. (تكملة فتح الملهم:٢/ ٥٢٣). والله ﷻ اعلم.

كه يې بېله اجازې موټر وايستي او هغه يې ټكر كړ نو د تاوان حكم

سوال: يو چا بېله اجازه دبل كس موټر وايستي او بيا يې بل موټروان ته وركړ هغه ټكر كړ اوس به تاوان پر چا وي؟

الجواب: په دې صورت كې مالک اختيار لري چې له هر يوه څخه تاوان اخلي كه يې له موټر ايستونكي څخه واخيست هغه به يې له چلونكي څخه واخلي او كه مالک له چلونكي څخه واخيست نو دى به يې له اول څخه نه اخلي ځكه هغه مسبب دئ پر هغه ضمان نه سته.

وګورئ په شرح مجله كې راځي:

لو أتلف واحد مال آخر أو نقص قيمته تسببيا يعنى لو فعل ما كان سببا مفضيا إلى تلف مال أو نقصان قيمته كان ضامنا بشرط أن يكون متعمدا أو متعديا. (ص ۹۲۲).

په بدائع الصنائع كې راځي:

فلا شك أن الإتلاف سبب لوجوب الضمان عند استجماع شرائط الوجوب ؛ لأن إتلاف الشيء إخراجه من أن يكون منتفعًا به منفعةً مطلوبةً منه عادةً ، وهذا اعتداء وإضرار ، وقد قال

الله سبحانه وتعالى : فمن اعتدى عليكم فاعتدوا عليه بمثل ما اعتدى عليكم . وقال عليه الصلاة والسلام : لا ضرر ولا إضرار في الإسلام ، وقد تعذر نفي الضرر من حيث الصورة، فيجب نفيه من حيث المعنى بالضمان ليقوم الضمان مقام المتلف فينتفي الضرر بالقدر الممكن ، ولهذا وجب الضمان بالغصب فبالإتلاف أولى . (بدائع الصنائع:٧/ ١٦٤).

یہ شرح المجلہ کی رائے ہے:

إذا اجتمع المباشر والمتسبب يضاف الحكم إلى المباشر.... لو فتح باب غيره فدخل آخر وسرق البيت فالضمان على السارق لأنه مباشر لا على فاتح الباب لأنه متسبب وكذا إذا لو دفع إلى صبى سكينا ليمسكه له فقتل به نفسه لا ضمان على الدافع . قلت: إن عدم إيجاب الضمان فى هذه الصورة بالاجماع أنه تخلل بين فعل فاعل مختار هو ذو عقل . (شرح المجلة:ص ٥١٤).

وفى الشامى: غصب شيئاً ثم غصبه آخر منه فأراد المالک أن يأخذ بعض الضمان من الأول وبعضها من الثانى له ذلک سراجية. والمالک بالخيار فى تضمين أيهما شاء وفى الهندية: إن ضمن الأول يرجع الأول على الثانى بما ضمن وإن ضن الثانى لايرجع على الأول .(فتاوى الشامى:٦/ ١٩٧، سعيد).

ہمذا دول وگوری: (الفتاوى الهندية:٥/ ١٢٠ – وشرح المجلة:ص: ٥٠٨، المادة ٩١٢، والمادة:٩٢، ص ٦٠). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

که بېله کوتاهي تر موټر لاندي سو نو د تاوان حکم

سوال: یو چا موټر چلاوه چي په غلطي يې دري کسان په يوه وخت کي تر موټر لاندي کړه او مړه سوه پر ده تاوان او کفاره لازم ده او که نه؟

الجواب: کفاره او ديت دواړه لازم دي خو په کفاره کي به تداخل وي او يوازي يوه به لازمه وي خو ديت له حقوق العباد څخه دئ نو تداخل پکښي نه سته ځکه نو دري ديته اداء کول به لازم وي.

وګوري په هدايه کي راځي:

قال الراكب ضامن لما أو طات الدابة بيدها أو رجلها أو رأسها أو كدمت أو خبطت وكذا إذا صدمت. (الهداية:٤/ ٦١٠).

إلا أن على الراكب الكفارة فيما أو طئته الدابة بيدها أو برجلها .(الهداية:٤/ ٦١١).

وقتل الخطأ تجب به الدية على العاقلة والكفارة على القاتل. (الهداية:٤/ ٥٨٤ – والجوهرة النيرة:١/ ١٧٣).

په فتاوى شامي کي راځي:

والحاصل أنا لم نقل بالتداخل في الحكم في العبادات لما يلزم عليه من الأمر الشنيع وهو ترك العبادة المطلوب تكثيرها مع قيام سببها فجعلنا الكل سبباً واحداً لدفع ذلك لأنه أليق بها أما العقوبات فإن مبناها على الدرء والعفو فلا يلزم من تركها مع قيام سببها الأمر الشنيع بل يحصل المقصود منها في الدنيا وهو الزجر بعقوبة واحدة ..(فتاوى الشامي:٢/ ١١٥ – والبحر الرائق:٢/ ١٢٥ – والفتاوى الهندية:٢/ ٢٧٧).

وأما الجناية إذا تعددت بقطع عضوه ثم قتله فانها لايتداخل فيها إلا إذا كانا خطائين على واحد .... الخ. (الاشباه والنظائر:١/ ٣٥٠).

په فتاوي هنديه کي راځي:

وإن كان صاحب الدابة راكباً على الدابة والدابة تسيران وطئت بيدها اورجلها يضمن وعلى عاقلته الدية وتلزمه الكفارة. (الفتاوى الهندية:٦/ ٥٠).

وكفارتهما اى الخطأ وشبه العمد عتق قن مؤمن فان عجز عنه صام شهرين ولاء ولا إطعام فيهما إذ لم يرد به النص والمقادير توقيفية. (الدر المختار مع الشامى:٦/ ٥٧٤، كتاب الديات، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په اوسني وخت کي به ديت پر چا لازم وي

سوال: ديت به پر چا لازم وي او حال دا چي په اوس وخت کي د عاقله وو نظام نه سته؟

الجواب: ديت پر عاقله وو دئ، البته که مجرم اقرار وکړي چي دا کار ما کړی دئ او عاقله وو يې تصديق ونه کړ نو بيا د مړي په مال کي دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولا ما لزم بصلح أو اعتراف إلى قوله إلا أن يصدقوه في إقراره أو تقوم حجة وإنما قبلت بالبينة هنا مع الإقرار مع أنها لا تعتبر معه لأنها تثبت ما ليس بثابت بإقرار المدعى عليه.

(الدر المختار مع الشامى:٦/ ٦٤٣، كتاب المعاقل، سعيد).

د عاقله جوړېدو دار ومدار پر تعاون او همکاري دئ لهذا د کومو کسانو په منځ کي چي تعاون وي هغه د ده عاقله دي لهذا چيري چي قبيله وي او هغه قبائل منظم وي او هر چا ته معلومه وي چي د ده فلاني قبيله ده نو هغه د ده عاقله ده او د ده ديت به اداء کوي او که قبيله نه وي نو بيا لکه څنګه چي نن سبا تجارتي اتحاديي دي د هغوی په خپل منځ کي تعاون او همکاري وي نو هغه د ده عاقله کېدای سي خو که دا هم نه وي نو بيا به په هر حال کي ديت د قاتل په مال کي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي :

قلت وفي زماننا بخوارزم لا يكون إلا في مال الجاني إلا إذا كان من أهل قرية أو محلة يتناصرون لأن العشائر فيها قد وهت ورحمة التناصر من بينهم قد رفعت وبيت المال قد انهدم . (فتاوى شامى:٦/ ٦٤٥، سعيد). والله ﷻ اعلم.

كه يو شى تر يو انسان لاندي سي نو د هغه حكم

سوال: كه يو څوك غوځار سي او ديو چا چرګ يا بوزه تر ده لاندي سي نو ايا پردغه غوځارېدونكي تاوان ستنه او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي پر غورځارېدونكي تاوان لازميږي ځكه غوځارېدونكي مباشر دئ او مباشر ضامن دئ كه څه هم بېله قصده وي همدا ډول كه يو انسان تر ده لاندي سي او مړ سي نو جاري مجراى خطاء بلل كيږي او په هغه كي كفاره او ديت لازميږي، البته ديت پر عاقله وو دئ او په پوښتل سوي صورت كي د مباشر په مال كي تاوان لازميږي .

په كفايه شرح هدايه كي راځي:

وما أجري مجرى الخطأ مثل النائم ينقلب على رجل فيقتله فحكمه حكم الخطأ في الشرع ، لكنه دون الخطأ حقيقة فانه ليس من اهل القصد اصلاً وانما وجبت الكفارة لترک التحرز عن نومه فى موضع يتوهم ان يصير قاتلاً والكفارة فى قتل الخطأ انما تجب لترک التحرز ايضاً .... والذي سقط من سطع فوقع على إنسان فقتله أو كان في يده لبنة أو خشبة فسقط ووقع على إنسان فقتله.... مثل النائم ينقلب على رجل فيقتله لكونه قتلاً للمعصوم من غير قصد فكان جارياً مجرى الخطأ كذا فى الأوضح. (الكفاية شرح الهداية على هامش فتح القدير:٩/ ١٤٨، مكتبة الرشيدية).

په هدايه کي راځي:

ومن حفر بيراً فی طريق المسلمين أو وضع حجراً فتلف بذلک إنسان فديته علی عاقلته وإن أتلف بهيمة فضمانها فی ماله.... إن العاقلة تتحمل النفس دون المال فكان ضمان البهيمة فی ماله .(الهداية:٤/ ٦٠٣).

په شرح المجله کي راځي:

المباشر ضامن وإن لم يتعمد لأن المباشرة علة للتلف اسماً لإضافة الحكم إليها ومعنى لأنها موثرة فيه، وحكماً لعدم تراخی الحكم عنها ، فيضمن وإن كان مخطئا.... تعلق برجل وخاصمه، فسقط من المعلق به شیء فضاع قالوا: يضمن المتعلق وينبغی أن يكون الجواب علی التفصيل: إن سقط بقرب من صاحبه وهو يراه وأمكنه أخذه، لا يكون ضامناً، وإلا كان ضامناً ....: صبي بال علی سطح فنزل من الميزاب وأصاب ثوباً فأفسده، غرم الصبي (فصولين) لأنه مباشر .(شرح المجلة:١/ ٢٥٦، المادة:٩٢). والله ﷻ اعلم.

د طبيب په غلطي کي د تاوان حکم

سوال: يو ډاکټر په غابښ کښلو کي غلطي وکړل او د ده غلطي ښکاره سوه هغه طبيب د خپلې غلطي د پټيدو او پر هغه د پردې اچولو له پاره لس زره روپۍ مريض ته ورکړي ايا مريض دغه پيسې اخيستلای سي او که نه؟

الجواب: کوم ډاکټر چي په قانوني ډول د علاج او معالجي اجازه ولري هغه که د مريض علاج وکړ خو طبي احتياط يې په نظر کي ونه نيوي نو ډاکټر مريض ته رسېدونکي نقصان يا د هغه جسم د تاوان ضامن دئ ځکه ده شرط نه دئ پوره کړي د ده ذمه واري وه چي د مريض په علاج کي يې ټول طبي رعايتونه په نظر کي نيولي وا او د هغه ضروري تقاضي يې پوره کړي وای خو ده داسي ونه کړل غلطي يې وکړل ځکه نو دی به ضامن وي. (طبی اخلاقيات:ص ۱۲۸ ، قاضی مجاهد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په هدايه كي راځي:

وإذا فصد الفصاد أو بزغ البزاغ ولـم يتجاوز الـموضع الـمعتاد فلا ضمـان وعلى هامشه ولـو تـجاوز الـموضع الـمعتاد ضمن. (الهداية مع الحاشية:۳/ ۳۱۰).

په مجمع الضمانات كي راځي:

الفـصاد والبـزاغ والـحجام والـختان لا يـضمنون بسراية فعلهـم إلى الـهلاك إذا لـم يـجاوز الـموضع الـمعتاد الـمعهود الـمأذون فيه وهـي معروفـة .... قـال في الفـصولين : هـذا إذا فعلـوا فعلًا معتادًا ولـم يقصروا في ذلك العمل ..... أما لـو فعلـوا بخـلاف ذلـك ضـمنوا .... استأجر حجاما ليقلع له سنا فقلع فقال صاحب السن: ما أمرت بقلع هـذا، كـان القـول قولـه، ويـضمن القالع إرش السن. (مجمع الضمانات:۱/ ۱۴۵-۱۴۶، الفرع العاشر، دار السلام).

په اهمو فقهى فيصلو كي ذكر سوي دي:

كه كوم مستند ډاكټر په علاج كي كوتاهي وكړل او د هغه له امله مريض ته كوم ضرر ورسېدئ نو معالج به ضامن وي.

خلاصه دا ده چي د ډاكټر د غلطي له امله د ډاكټر څخه لس زره روپۍ اخيستل درستي دي. والله ﷻ اعلم.

د متروك التسميه عمدا په هلاكولو كي د ضمان حكم

سوال: يو شافعي مذهبه د بسم الله پر ته حيوان حلال كړ او هغه يې پوخ كړ يوه حنفي د درد په حالت كي هغه ضائع كړ ايا پر حنفي تاوان لازميږي او كه نه؟

الجواب: د فقهي په اكثرو كتابونو كي ليكلي دي چي تاوان نه سته خو ځينو محققينو تاوان ليكلي دئ لهذا فتوى دي پر دغه وركول سي.

وګورئ په شرح عنايه کي راځي:

وقوله (بخلاف متروك التسمية) يعني لما أمرنا أن نترك أهل الذمة على ما اعتقدوه من الباطل وجب علينا أن نترك أهل الاجتهاد على ما اعتقدوه مع احتمال الصحة فيه بالطريق الأولى وحينئذ يجب أن نقول بوجوب الضمان على من أتلف متروك التسمية عامدًا لأنه مال متقوم في اعتقاد الشافعي رحمه الله . (شرح العناية: ۸/ ۲۸۸).

مولانا عبد الحي لكهنوي رحمه الله د هدايې په حاشيه کي فرمايي:

وههنا بحث وهو أن ولاية المحاجة وإن كانت ثابتة لكنا لا نقطع بخطأ مذهب الشافعية فى هذه المسألة كيف والحق دائر بين مذاهب المجتهدين وكلهم آخذون عن ينبوع الشريعة .... غاية ما فى الباب أن يكون دليل مذهبنا فى هذه المسألة أرجح وأقوى وهو لا يستلزم كون مذهبهم خطا قطعا خصوصا إذا كان مذهب الخصم مبنيا بدليل شرعى عنده وإن كان باطلا عندنا فثبوت ولاية المحاجة لايستلزم أن لايجب الضمان. (حاشية هداية:۳/ ۳۸۵).

وانظر المزيد : (تكملة فتح القدير:۸/ ۲۸۸، مكتبة الرشيدية – وحاشية سعدى چلپى:۸/ ۲۸۸، مكتبة الرشيدية).

همدا ډول د مولانا عبد الحی لکهنوي د عبارت تائيد په يوه بله مسئله سره کيږي او هغه دا دئ چي د متروک التسميه عامدا د حلت فيصله جاري کيږي او که نه؟

علامه شامی رحمه الله فرمايي چي نافذه به وي وګورئ:

قلت : لكن قد علمت أن عدم النفاذ في متروك التسمية مبني على أنه لم يختلف فيه السلف ، وأنه لا اعتبار بوجود الخلاف بعدهم .... نعم على ما يأتي من تصحيح اعتبار اختلاف من بعدهم يقوي هذا البحث ، ويؤيده ما في الخلاصة من القضاء بحل متروك التسمية عمدًا جائز

Maktaba Tul Ishaat.com

عندهما لا عند أبي يوسف رحمه الله ، وكذا ما في الفتح عن المنتقى من أن العبرة في كون المحل مجتهدًا فيه اشتباه الدليل لا حقيقة الخلاف قال في الفتح : ولا يخفى أن كل خلاف بيننا وبين الشافعي أو غيره محل اشتباه الدليل .... والذي حققه في البحر أن صاحب الهداية أشار إلى القولين ، فإنه ذكر أولًا عبارة القدوري ، وهي إذا رفع إليه حكم حاكم أمضاه إلا أن يخالف الكتاب أو السنة أو الإجماع ، وذكر ثانيًا عبارة الجامع الصغير : وهي وما اختلف فيه الفقهاء فقضى به القاضي ثم جاء قاض آخر يرى غير ذلك أمضاه .... والأوجه ما في الجامع ولذا رجحه في الفتح . (فتاوى الشامي:٥/ ٤٠٠، سعيد).

علامه ظفر احمد عثماني یوه قصه نقل کړي ده چې یوه شافعي د پادشاه په مجلس کې د حنفي امامانو په وړاندې د متروک التسمیه عامدا د حلت دلائل بیان کړل د هغه وروسته لیکي :

وظهر أن سكوت جملة الأئمة الحنفية فى مجلس السلطان لم يكن لقوة تلك الوجوه ومتانتها بل لأمر آخر وهذا الكلام كان مع الشافعى وتبين منه أن كلامه فى هذه المسألة من جهة الاجتهاد، والمسألة من المسائل التى للاجتهاد فيها مجال كسائر الاجتهاديات وليس من القطعيات التى لامجال فيها للاجتهاد حتى يجعل كلامه فيها من الأباطيل، والقول بأنه مخالف للإجماع ليس بما ينبغى لأن الشافعى أعرف بالإجماع وأهله فلا يظن به أنه خرق الإجماع. (إعلاء السنن:١٧/ ٦٢).

علامه سید احمد طحطاوي رحمه الله فرمایي:

وبحث الأكمل فيه بأنه لما أمرنا أن نترك أهل الذمة على ما اعتقدوه من الباطل وجب علينا أن نترك أهل الجتهاد على ما اعتقدوه مع احتمال الصحة بالطريق الأولى فحينئذ يجب

أن نقول بموجب الضمان على من أتلف متروك التسمية عمداً لأنه مال متقوم في اعتقاد الشافعي وتمامه في الحموي . (حاشية الطحطاوي:٤/ ١١٤). والله ﷻ اعلم.

د ملازم د کوتاهي له امله د تاوان حکم

سوال: ځيني ملازمين چي د پټرولو په پمپ کي کار کوي ډېره بې احتياطي کوي او په تلوار ډېر زيات وراچوي ايا اد دوی د دې بې احتياطي له امله تاوان ورباندي لازميږي ؟

الجواب: که يې د غفلت او بې احتياطي له امله زيات پټرول ور واچول نو پر ده تاوان لازميدای سي خو که د پټرولو مشين داسي وي چي د احتياط سره سره بې اختياره څه ورلوېده نو پر ملازم تاوان اچول درست نه دي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي :

لو تلف المستأجر فيه بتعدى الأجير وتقصيره يضمن وتعدى الأجير هو أن يعمل عملا أو يتصرف تصرفا مخالفين لأمر الموجر صراحة كان أو دلالة .(شرح المجلة، ص ٣٢٦).

الأجير الخاص أمين حتى أنه لايضمن المال الذى تلف فى يده بغيره صنعه وكذا لا يضمن المال الذى تلف بعمله بلا تعد أيضا .(شرح المجلة، ص ٣٢٩). والله ﷻ اعلم.

که يې مخي ته اينبول سوي شی مات سو

سوال: يو چا خپل مخ ته عينکي اينبي دي لمونځ يې شروع کړ مخته يې څوک تير سو او ده قيمتي عينکي يې ماتي کړي نو ايا پر تېردونکي تاوان لازم دئ او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي لمونځ کونکي په لمانځه مشغول دي او تېرېدونکي د سجدې په ځای کي تير سو هغه مات سو نو تاون به ورباندي راځي ځکه دا د تېرېدونکي تجاوز دئ ځکه چي شريعت د سجدې په ځای کي تېرېدل منع کړی دي او که په لمانځه مشغول نه وي نو بيا به تاوان نه لازميږي ځکه د ده د لمانځه د نه مشغوليت له امله د تېرېدو حق حاصل وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

په شرح قواعد الفقهیه کي راځي:

ما لو تلف بمروره بالطريق العام شيء أو أتلف دابته، بالطريق العام شيئا، بيدها أو فمها وهو راكبها أو سائقها أو قائدها فيضمن لأن مروره وإن كان مباحا لكنه مقيد بشرط السلامة.

(شرح قواعد الفقهية، ص: ٤٥٠). والله ﷻ اعلم.

له قفس څخه د مرغه پر الوتلو د تاوان حکم

سوال: له يو چا سره په قفس کي مرغه وو بل کس د قفس دروازه خلاصه کړه او مرغه والوتي نو اوس پر دغه کس تاوان راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي په ضمان کي اختلاف دئ امام محمد رحمه الله فرمايي چي تاوان راځي او د شيخينو په اند تاوان نه راځي او فتوی د امام محمد رحمه الله پر قول ده چي تاون به راځي.

په اصول الشاشي کي راځي:

الحكم يتعلق بسببه ويثبت بعلته ويوجد عند شرطه .... فتح باب الإصطبل والقص .... فإنه سبب للتلف بواسطة توجد من الدابة والطير .... والسبب مع العلة إذا اجتمعا يضاف الحكم إلى العلة دون السبب إذ إذا تعذرت الإضافة إلى العلة فيضاف إلى السبب حينئذ.

(اصول الشاشي: ۱/ ۹٦).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو فتح باب قفص فطار الطير منه وضاع لم يضمن في قولهما وقال محمد رحمه الله يضمن. (بدائع الصنائع: ۷/ ۱٦٦).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

فتح باب قفص فطار الطير .... لا يضمن عندهما خلافا لمحمد رحمه الله. (الفتاوى البزازية: ٦/ ۱۷۷، - والشامي: ٦/ ۲۱٦).

په شرح الاشباه والنظائر کي راځي:

يضاف الحكم إلى حفر البئر وشق الزق، وقطع حبل القنديل، وفتح باب القفص على قول محمد رحمه الله وعندهما لاضمان وفى البزازية الفتوى على قول محمد رحمه الله. (۱/ ٤٠٦).

که رنګريز د مالک مخالفت وکړ نو د تاوان حکم

سوال: رنګريز ته يې جامه ورکړه مګر هغه د مالک د وينا مطابق رنګ ورنه کړ بلکي بل رنګ يې ورکړ نو ايا تاوان ورباندي راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي مالک دوه اختيار لري که وغواړي جامه دي رنګريز ته پرېږدي او دبې رنګه جامې قيمت دي واخلي او که يې خوښه سي نو هغه رنګ سوي جامه دي واخلي او اجر مثل دي اداء کړي خو تر مسمى دي زيات نه ورکوي.

په عالمګيري کي راځي:

ولو أمر رجلًا ليصبغ ثوبه بالزعفران أو بالبقم (سور رنګ جامې) فصبغه بصبغ من جنس آخر كان لرب الثوب أن يضمنه قيمة ثوبه أبيض وترك ثوبه عليه، وإن شاء أخذ الثوب وأعطاه أجر مثله لا يزاد على المسمى. (عالمگيرى: ٤/ ٤٩٥، مسائل الضمان). والله تعالى اعلم.

د جامې پر خرابولو د تاوان حکم

سوال: جامه يا موټر يې رنګريز ته ورروستی، هغه ورته مطلوب رنګ ورکړ خو هغه يې خراب کړ سم رنګ يې ورنه کړ نو ايا ضمان راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي مالک ته دوه اختيار دي يو دا چي جامه دي رنګريز ته پرېږدي او د سپيني جامې قيمت دي واخلي او دوهم دا دی چي هغه جامه دي واخلي او اجرت مثل دي اداء کړي خو پر مسمى به يې نه زياتوي په موټر کي هم اجرت مثل ورکولای سي او خپل موټر اخيستلای سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په عالمګیري کي راځي:

وإذا دفع ثوبًا إلى صباغ ليصبغه بعصفر من عنده فصبغه بما سمى إلا أنه خالف في صفة ما تعين به، فإن أشبع أو قصر في الأصباغ حتى تعيب الثوب فصاحبه بالخيار إن شاء ترك الثوب عليه وضمنه قيمة ثوبه أبيض ، وإن شاء أخذ الثوب وأعطاه أجر مثل عمله لا يجاوز به المسمى . (الفتاوى الهندية:٤/ ٥٢١) . والله ﷻ اعلم.

که له دوبي څخه جامه ورکه سوه نو پر هغه د تاوان حکم

سوال: که له دوبي څخه جامه ورکه سوه یا غلا سوه نو پر ده تاوان راځي او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي درې صورتونه دي:

۱_ د دوبي په عمل سره ضائع سوه د مثال په ډول د ټکولو له امله نو مطلقا ضمان لازمیږي .

۲_ د دوبي په عمل سره ضائع نه سوه خو د یو عمومي آفت له امله هلاک سوه مثلاً ټول ښار اور واخیستي وغیره نو په دې صورت کي بالاتفاق ضمان نه سته .

۳_ عام آفت نه وو مګر ضائع سوه نو په ضمان کي اختلاف دئ د صاحبینو په اند ضمان سته او د امام صاحب په اند ضمان واجب نه دئ، عالمګیري د صاحبینو پر قول فتوی نقل کړي ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله ولا يضمن الخ) اعلم أن الهلاك إما بفعل الأجير أو لا، والأول إما بالتعدي أو لا، والثاني إما أن يمكن الاحتراز عنه أو لا، ففي الأول بقسميه يضمن اتفاقاً، وفي ثاني الثاني لا يضمن اتفاقاً، وفي أوله لا يضمن عند الإمام مطلقاً ، ويضمن عندهما مطلقاً، وأفتى المتأخرون بالصلح على نصف القيمة مطلقاً، وقيل إن مصلحا لا يضمن وإن غير مصلح ضمن .... وإن مستور الحال فالصلح .(فتاوى شامى:٦/ ٦٥، باب ضمان الاجير، سعيد).

وفی الهندية: وفي الإبانة أخذ الفقيه أبو الليث رحمه الله تعالى في هذه المسألة بقول أبي حنيفة رحمه الله تعالى وبه أفتى، كذا في التتارخانية . وبقولهما يفتى اليوم لتغير أحوال الناس وبه يحصل صيانة أموالهم .كذا في التبيين . (الفتاوى الهندية:٤/ ٥٠٠). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com



قال الله تعالى : ﴿ لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون وما تنفقوا من شيء فإن الله به عليم ﴾. (سورة آل عمران، الآية: ٩٢).

كتاب الوقف

مطلق وقف بيان

قال عمر رضي الله عنه يا رسول الله إني أصبت أرضًا بخيبر لم أصب مالاً قط أنفس عندي منه فما تأمر به ؟ قال رسول الله ﷺ: إن شئت حبست أصلها وتصدقت بها، قال : فتصدق بها عمر رضي الله عنه أنه لا يباع ، ولا يوهب ، ولا يورث وتصدق بها في الفقراء وفي القربى وفي الرقاب وفي سبيل الله وابن السبيل والضيف ، لا جناح على من وليها أن يأكل منها بالمعروف ويطعم غير متمول. (رواه البخاری:١/ ٣٨٢ – ومسلم:٢/ ٤١).

اول......... باب

د مطلق وقف بيان

د وقف پېژندنه او په خير القرون كي د وقف ثبوت

سوال: وقف وڅه ته وايي؟ او په خير القرون كي صحابه كرامو وقف كړي وو او كه نه؟

الجواب: يو شى د خپل ملک څخه ايستل او د الله تعالى په ملكيت كي يې وركول او د هغه منفعت د فقراء او غناء د لحاظ څخه پرته د همېشه له پاره د الهى رضا په نيت د اشخاصو او افرادو او ادارو يا مساجدو او يا مقبرو له پاره ځانګړي كول وقف بلل كيږي .

وګورئ په درمختار كي راځي:

.... هو حبسها على حكم ملك الله تعالى وصرف منفعتها على من أحب ولو غنيا قوله على حكم الله تعالى قدر لفظ حكم ليفيد أن المراد أنه لم يبق على ملك الواقف ولا انتقل إلى ملك غيره، بل صار على حكم ملك الله تعالى الذي لا ملك فيه لأحد سواه، وإلا فالكل ملك لله تعالى... قوله وصرف منفعتها على من أحب عبر به بدل قوله والتصدق بالمنفعة لأنه أعم، وإلى التعميم أشار بقوله ولو غنياً، أفاده ح لكن علمت أن الوقف على الأغنياء وحدهم لايجوز، فالمناسب التعبير بالتصدق بالمنفعة إلا أن يراد صرف منفعتها على وجه التصدق .

(الدر المختار: ٤/ ٣٣٩، كتاب الوقف، سعيد).

په خير القرون كي د وقف ثبوت:

په وقف كي اصلي بنياد د حضرت عمر رضي الله عنه روايت دئ.

وګورئ په بخاري شريف كي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنهما أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أصاب أرضًا بخيبر فأتى النبي ﷺ يستأمره فيها ، فقال : يا رسول الله إني أصبت أرضًا بخيبر لم أصب مالاً قط أنفس عندي منه فما تأمر ني به ؟ قال : إن شئت حبست أصلها وتصدقت بها، قال : فتصدق بها عمر رضي الله عنه أنه لا يباع ، ولا يوهب ، ولا يورث ، وتصدق بها في الفقراء وفي القربى وفي الرقاب وفي سبيل الله وابن

Maktaba Tul Ishaat.com

السبیل والضیف ، لا جناح علی من ولیها أن یأکل منها بالمعروف ویطعم غیر متمول. (رواه البخاری:۱/ ۳۸۲ – ومسلم:۲/ ٤۱).

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه روایت بیانوي چي حضرت عمر چي په خیبر کي څه جائداد تر لاسه کړ نو ده هغه ځمکه د خیر په کارونو کي د استعمال په غرض له رسول الله ﷺ سره مشوره وکړه ده مبارک ﷺ وفرمایل، که ته غواړي نو داسي کولای سي چي اصلي ځمکه وساتي او د هغه نفع صدقه کړي اصلي ځمکه دي نه خرڅوي او نه دي هبه کوي او نه په هغه کي میراث جاري کیږي نو حضرت عمر رضي الله عنه هغه پر فقیرانو، قریبانو، مریې، مسافر او مېلمنو وقف کړه او دا شرط یې هم ولیکي چي څوک چي د وقف متولي وي هغه ته به پر سمه طریقه خپل خوراک او دوستانو ته د ورکولو اجازه وي او د جمع کولو اجازه به یې نه وي د حضرت عمر رضي الله عنه دغه وقف د اسلام په تاریخ کي تر ټولو لومړنی وقف ګڼل کیږي له دې وروسته نورو صحابه وو هم وقف وکړ او دا سلسله روانه سوه د حضرت جابر څخه روایت دئ چي هیڅ داسي صحابه نه سته چي ګنجائش دي درلودئ او وقف دي کړي نه وي لکه څنګه چي حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه خپل کور زوی ته وقف کړي وو د حضرت عمر رضي الله عنه یو کور له مروا سره وو نو ده هغه خپلو زامنو ته وقف کړ حضرت علي رضي الله عنه په ینبع نومي ځای کي خپله ځمکه وقف کړي وه د حضرت زبیر رضي الله عنه چي په مصر او مکه کي کوم ځای وو هغه یې وقف کړي وو او د مدینې مال یې خپلو زامنو ته وقف کړي وه حضرت سعد بن وقاص رضي الله عنه په مدینه منوره کي وقف کړي وو او د مصر یو مکان یې خپلو زامنو ته وقف کړي وو همدا ډول حضرت عثمان رضي الله عنه، حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه او حضرت حکیم بن حزام رضي الله عنه وغیره هم مختلف جائدادونه وقف کړي وه.

وګورئ په سنن کبری بیهقي کي راځي:

ثنا أبو بکر : عبد الله بن الزبیر الحمیدی قال : وتصدق أبو بکر الصدیق رضي الله عنه بداره بمکة علی ولده فهی إلی الیوم وتصدق عمر بن الخطاب رضي الله عنه بربعه عند المروة وبالثنیة علی ولده فهی إلی الیوم وتصدق علی بن أبی طالب رضي الله عنه بأرضه بینبع فهی إلی الیوم وتصدق الزبیر بن

العوام رضي الله عنه بداره بمكة فى الحرامية وداره بمصر وأمواله بالمدينة على ولده فذلك إلى اليوم وتصدق سعد بن أبى وقاص رضي الله عنه بداره بالمدينة وبداره بمصر على ولده فذلك إلى اليوم، وعثمان بن عفان رضي الله عنه برومة فهي إلى اليوم وعمرو بن العاص رضي الله عنه بالوهط من الطائف وداره بمكة على ولده فذلك إلى اليوم وحكيم بن حزام رضي الله عنه بداره بمكة والمدينة على ولده فذلك إلى اليوم .وعن أنس رضي الله عنه أنه وقف داراً بالمدينة فكان إذا حج مر بالمدينة فنزل داره . (السنن الكبرى للبيهقى:٦/ ١٦١ ، كتاب الوقف، دار المعرفة، بيروت).

قال الخطاف رحمة الله عليه في أحكام الأوقاف: حدثنا محمد بن عمر الواقدي قال: حدثني قدامة بن موسى بن بشير مولى المازنيين، قال: سمعت جابر بن عبد الله يقول: لما كتب عمر بن الخطاب رضي الله عنه صدقته في خلافته دعا نفراً من المهاجرين والأنصار فأحضرهم وأشهدهم على ذلک فانتشر خبرها قال جابر: فما أعلم أحداً ذا مقدرة من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم من المهاجرين والأنصار إلا حبس مالاً من ماله صدقة موقوفة لاتشترى، ولاتورث، ولاتوهب. قال قدامة بن موسى : وسمعت محمد بن عبد الرحمن بن سعد بن زرارة يقول: ما أعلم أحداً من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم من أهل بدر من المهاجرين والأنصار إلا وقد وقف من ماله حبساً لايشترى ولايورث ولايوهب حتى يرث الله الأرض ومن عليها. (كتاب الأوقاف،ص ١٥، ما روى فى الجملة من صدقات رسول الله صلى الله عليه وسلم، بيروت، لبنان).

دنبي كريم صلى الله عليه وسلم داوقافو او دصحابه وو داوقافو دزيات تفصيل له پاره وګورئ. (كتاب الاوقاف للامام ابى بكر احمد بن عمرو الخطاف(٢٦١، م)، از ٥-١٧، بيروت).

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دا ده چې وقف کول مستحب دي او پر هغه ګویا که د صحابه وو اجماع ده لکه چې ابن قدامه حنبلي فرمايي: (المغنی:٦/ ١٨٧).

د مسلم شریف په یو مرفوع روایت کې هم د وقف ثبوت سته:

عن أبی هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: إذا مات الإنسان انقطع عنه عمله إلا من ثلاثة، إلا من صدقة جارية أو علم ينتفع به أو ولد صالح يدعو له. (رواه مسلم:٢/ ٤١ - والترمذی:١/ ٢٥٦).

يعني رسول الله ﷺ فرمايي: چې د انسان د مرګ څخه وروسته د هغه عمل قطع کيږي، البته درې اعمال داسي دي چې د هغو اجر د هغه د مرګ څخه وروسته هم ورسيږي صدقه جاريه، علم نافع چې له هغه څخه تر ده وروسته خلک نفع اخلي صالح اولاد چې د ده له پاره دعاوي کوي د پورتنی حديث څخه د وقف اهميت معلوميږي. والله ﷻ اعلم.

د وقف کولو الفاظ

سوال: د وقف کولو الفاظ کوم دئ؟

الجواب: د وقف له پاره داسي الفاظ ذکر کول چې فوراً پر وقف کولو دلالت کوي په هغو سره وقف ثابيږي او که فوراً پر وقف کولو دلالت نه کوي په هغو الفاظ وقف نه ثابتيږي د وقف الفاظ په لاندي ډول دي:

هغه الفاظ چې پر تابيد او دوام دلالت کوي د مثال په ډول د کور کرايه دي همېشه پر مسکينانو مصرف سي د امام ابو يوسف رحمه الله څخه نقل سوی دئ چې که يوازي دومره ووايي چې داشی د فلاني مقصد له پاره وقف کوم او که د همېشه والي صراحت ونه کړي بيا هم د عرف له امله وقف درست دئ.

علامه شامي رحمه الله ليکلي دي چې د بلخ مشائخو او صدر الشريعة وغيره هم د عرف له امله د امام ابو يوسف رحمه الله پر قول فتوی ورکول، البته د وقف له پاره خاص د وقف ويل ضروري نه دي بلکي هر يو داسي لفظ کافي دئ چې د وقف پر معنا او مقصود دلالت کوي لکه صدقه وغيره.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله في الدر المختار: وركنه الألفاظ الخاصة كأرضي هذه صدقة موقوفة مؤبدة على المساكين ونحوه من الألفاظ كموقوفة لله تعالى أو على وجه الخير أو البر واكتفى أبو يوسف رحمه الله بلفظ موقوفة فقط ، قال الشهيد : ونحن نفتي به للعرف .

وقال العلامة الشامي : (قوله واكتفى أبو يوسف رحمه الله بلفظ موقوفة)، أي بدون ذكر تأبيد أو ما يدل عليه كلفظ صدقة ، أو لفظ المساكين ونحوه كالمسجد، وهذا إذا لم يكن وقفاً على معين كزيد أو أولاد فلان ، فإنه لا يصح بلفظ موقوفة لمنافاة التعيين للتأبيد ، ولذا فرق بين موقوفة وبين موقوفة على زيد حيث أجار الأول دون الثاني، نعم تعيين المسجد لا يضر لأنه مؤبد .... قال في البحر : لا يصح أي موقوفة فقط إلا عند أبي يوسف رحمه الله فإنه يجعلها بمجرد هذا اللفظ موقوفة على الفقراء وإذا كان مفيداً لخصوص المصرف أعني الفقراء لزم كونه مؤبدا لأن جهة الفقراء لا تنقطع . قال الصدر الشهيد رحمه الله: ومشايخ بلخ يفتون بقول أبي يوسف رحمه الله ونحن نفتي به أيضاً لمكان العرف لأن العرف إذا كان يصرفه إلى الفقراء كان كالتنصيص عليهم . (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣٤٠، كتاب الوقف، سعيد).

په عالمگيري كي رائے:

فأما ركنه فالألفاظ الخاصة الدالة عليه .... بأن قال : جعلت أرضي هذه صدقةً موقوفةً مؤبدةً أو أوصيت بها بعد موتي فإنه يصح حتى لا يملك بيعه ولا يورث عنه، لكن ينظر إن خرج من الثلث والوقف فيه بقدر الثلث كذا في محيط السرخسي . (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٥٢، كتاب الوقف).

Maktaba Tul Ishaat.com

قال الإمام السرخسي رحمه الله في المبسوط : فإن قال: هي صدقة موقوفة على الفقراء والمساكين .... فهذه صدقة جائزة ، وليس له أن يرجع فيها لاستجماع شرائط الوقف .... ومقصود الواقف أن تكون الصدقة جاريةً له إلى يوم القيامة كما قال عليه الصلاة والسلام كل عمل ابن آدم ينقطع بموته إفلا ثلاثة علم علمه الناس فهم يعملون به بعد موته وولد صالح يدعو له وصدقة جارية له إلى يوم القيامة. (المبسوط للامام السرخسی:١٢/ ٣٢، کتاب الوقف، ادارة القرآن). والله تعالیٰ اعلم.

که يې آخرني جهت متعين نه کړ نو د وقف حکم

سوال: يو چا وويل چي زما مکان زما د مرګ څخه وروسته زما پر اولاد وقف دئ او بيا زما پر لمسيانو د هغه وروسته يې څه يادونه ونه کړه نو دا مکان وقف سو او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي وقف صحيح او ثابت نه دئ ځکه د وقف د صحت له پاره بايد اخرني جهت فقيران او مسکينان وي چي هغه جهت يې قطع نه سي ځکه په وقف کي همېشه والی ضروري دي له دې پرته وقف صحيح نه دئ، البته که وقف کونکي د صدقې لفظ ويلي وي نو د امام ابو يوسف رحمه الله په اند وقف صحيح دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وقال في الإسعاف : لو قال وقفت أرضي هذه على ولد زيد وذكر جماعة بأعيانهم لم يصح عند أبي يوسف رحمه الله أيضاً لأن تعيين الموقوف عليه يمنع إرادة غير بخلاف ما إذا لم يعين لجعله إياه على الفقراء، ألا ترى أنه فرق بين قوله موقوفة وبين قوله موقوفة على ولدي فصحح الأول دون الثاني ، لأن مطلق قوله موقوفة يصرف إلى الفقراء عرفاً، فإذا ذكر الولد صار مقيداً، فلا يبقى العرف ، فظهر بهذا أن الخلاف بينهما في اشتراط ذكر التأبيد وعدمه إنما هو في التنصيص عليه أو على ما يقوم مقامه كالفقراء ونحوهم .... لكن ذكر في البحر أن ظاهر

المجتبى والخلاصة أن الروايتين عنه فيما إذا ذكر لفظ الصدقة ، أما إذا ذكر لفظ الوقف فقط لا يجوز اتفاقاً إذا كان الموقوف عليه معينا ، قلت : ويشهد له ما في الذخيرة لو قال: أرضي هذه صدقة موقوفة فهي وقف بلا خلاف إذا لم يعين إنساناً فلو عين وذكر مع لفظ الوقف لفظ صدقة بأن قال: صدقة موقوفة على فلان جاز ويصرف بعده إلى الفقراء . (فتاوى الشامي:٤/ ٣٤٩، مطلب فى الكلام على اشتراط التابيد، سعيد).

خلاصه دا ده چي د تعيين په صورت كي كه د وقف سره د صدقې لفظ هم ووايي نو وقف صحيح كيږي او د موقوف عليه ځخه وروسته به پر فقيرانو وقف وي خو كه يې د تعيين په صورت كي يوازي وقف ووايه صدقه يې ونه ويل نو وقف به صحيح نه وي ځكه په وقف كي تابيد او همېشه والى شرط دئ او تعيين د تابيد سره ضد دئ مګر صدقه تابيد ثابتوي او وقف صحيح كيږي لهذا په پورتنى صورت كي كه يې په ظاهره د وقف لفظ استعمال كړي وي د صدقې لفظ يې نه دئ ويلي ځكه نو مكان وقف نه سو . والله ﷻ اعلم.

د وقف ((على الأ والاد او أولاد الأولاد)) حكم

سوال: يو چا خپل سراي وغيره پر ((أولاد الأولاد الى آخره)) وقف وكړ دلته دوه سواله دي:

١ _ په ((وقف على الأولاد واولاد الأولاد)) كي لوڼى او د لوڼو اولادونه داخل دي او كه نه؟

٢ _ د ((الى اخره)) قيد لګول درست دي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي لوڼي او د زوى لوڼي خو بالاتفاق شاملي دي، البته د لوڼو د اولاد د دخول او عدم دخول كي د فقهاوو سخت اختلاف دئ، قاضي خان ، امام خصاف رحمه الله ، شمس الائمه رحمه الله ، سرخسي رحمه الله وغيره حضراتو د دخول قول ته ترجيح وركړي او علامه شامي رحمه الله وغيره د عدم د دخول قول اختيار كړي دئ او پر همدغه فتوى ده ممكنه ده چي دغه اختلاف دي پر عرف بناوي لكه ځنګه چي په وصيت كي عرف ته اعتبار دئ .

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

اعلم أنهم ذكروا أن ظاهر الرواية المفتى به عدم دخول أولاد البنات في الأولاد مطلقاً، أي سواء قال على أولادي بلفظ الجمع أو بلفظ اسم الجنس كولدي، وسواء اقتصر على البطن الأول كما مثلنا أو ذكر البطن الثاني مضافاً إلى البطن الأول المضاف إلى ضمير الواقف كأولادي وأولاد أولادي .... (فتاوى الشامى:٤/ ٤٦٣، مطلب فى تحرير الكلام على دخول اولاد البنات، سعيد).

علامه شامي رحمه الله په تنقيح الفتاوى الحامديه کي فرمايي:

.... وقد كنت عزمت على أن أضع فيها رسالةً لما وقع فيها من الاضطراب، فاستغنيت عن ذلك بما أحرره هنا فأقول قد ذكر هذه المسألة الإمام الطرسوسي في أنفع الوسائل ثم قال بعدما أطال في النقول ما حاصله إن في دخول أولاد البنات في لفظ الأولاد وأولاد الأولاد اختلاف الرواية ففي رواية الخصاف وهلال يدخلون وفي ظاهر الرواية لا يدخلون وعليه الفتوى . (تنقيح الفتاوى الحامدية:١/ ١٧٥).

په فتاوی سراجیه کي راځي:

رجل وقف ضيعته على أولاده وأولاد أولاده أبداً ما تناسلوا وله أولاد وأولاد أولاد قسم بينهم بالسوية لايفضل الذكور على الإناث ولايدخل أولاد البنات في ظاهر الرواية وعليه الفتوى. (الفتاوى السراجية: ٩٢، مير محمد كتب خانه).

په محیط البرهاني کي راځي:

.... وهل يدخل فيه ولد البنت ؟ ذكر هلال أنه لايدخل وهكذا ذكر محمد فى السير الكبير .(المحيط البرهانى:٧/ ٦٦، مكتبة الرشيدية).

وللاستزادة انظر : (الفتاوى الهندية:۲/ ۳۷۳، و ۳/ ۳۱۹ – والفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ۲۷۲ – واحكام الاوقاف للامام ابى بكر احمد بن عمرو الخصاف(م ۲٦۱) از ص ۲۵-۲۷ ط بيروت).

۲_ قاضي مجاهد الاسلام قاسمي صاحب رحمه الله فرمايي:

پر خپل اهل عيال او قربانو وقف صحيح دئ په دې شرط چي آخري مصرف يې يو همېشني د ثواب كار د مثال په ډول فقيران، مسكينان يا مدرسې ګرځولي وي . (مجموعه قوانين اسلامى:۲۵۷، ماده۱۷).

وګورئ په فتاوى هنديه كي راځي:

وكذا لو قال على ولدي وعلى من يحدث لي من الولد، فإذا انقرضوا فعلى المساكين هكذا فى المحيط .(الفتاوى الهندية:۲/ ۳۷۱).

وأيضاً فيه : وإن قال على ولدي وولد ولدي وولد ولد ولدي ذكر البطن الثالث فإنه تصرف الغلة إلى أولاده أبداً ما تناسلوا . (الفتاوى الهندية:۲/ ۳۷٤).

په فتاوى بزازيه كي راځي:

وقف على أولاده وأولاد أولاده يصرف إلى أولاده وأولاد أولاده أبداً ما تناسلوا ولا يصرف إلى الفقراء ما دام واحد منهم باقياً وإن سفل . (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ۲۷٤ –وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ۳۵۰ – والمحيط البرهانى:۷/ ٦۸).

خلاصه دا ده چي وقف على الاولاد او اولاد الاولاد صحيح دئ خو دا ضروري ده چي آخري مصرف به يې يو د خير كار وي د مثال په ډول كله چي درېيم پښت ختم سي نو د فقيرانو يا مسكينانو يا مدراسو له پاره به سي . والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

په مذکر او مونث کي د تقسيم حکم

سوال: يو چا خپله يوه لويه مځکه خپل اولاد ته وقف کړل چي تر څوېې اولادونه وي او د اولاد اولاد وي له دې مځکې څخه به فائده اخلي وروسته د فلاني مدرسې لـه پـاره وقـف ده اوس د دې مځکي ګټه د نارينه وو او ښځو تر منځ برابره تقسيمېږي او که به يې فرق وي؟

الجواب: چي کله واقف کوم صراحت کړې نه وي نو د وقف په ګټه کي به نارينه او ښځي سره برابري وي يعني ګټه به د دوی تر منځ نيمې کيږي.

وګورئ په فتاوی سراجيه کي راځي:

رجل وقف ضيعته على أولاده وأولاد أولاده أبداً ما تناسلوا وله أولا وأولاد أولاده قسم بينهم بالسوية لايفضل الذكور على الإناث . (الفتاوى السراجية:۹۲، مير محمد كتب خانه).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل قال: أرضي هذه صدقة موقوفة على ولدي كانت الغلة لولد صلبه يستوي فيه الذكر والأنثى لأن اسم الولد مأخوذ من الولادة والولادة موجودة فى الذكر والأنثى .(فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۳/ ۳۱۹).

ولو قال: أرضي صدقة موقوفة على بني وله بنون وبنات قال هلال: هم جميعاً فى الوقف سواء .(المحيط البرهانى:۷/ ٦٥).

همدا ډول وګورئ: (كفايت المفتى:۱/ - وامداد الاحكام:۳/ ٦٤). والله ﷻ اعلم.

د وقف على الزوجه حکم

سوال: که يو چا خپلي ښځي ته مکان وقف کړ نو د ښځي له مړيني څخه وروسته به يې هغه مکان وارثانو ته ورکول کيږي او که به د بل چا وي ؟

الجواب: د وقف د صحيح والي له پاره شراط دا دئ چي آخرني جهت به يې مصرف غير منقطع يعني فقيران يا مسجدونه يا مدرسې وغيره وي لهذا د وقف على الزوجه په صورت کي که د فقيرانو

او مسکينانو يا دونه موجوده وي نو وقف صحيح کيږي او د بنځي د وفات څخه وروسته به د سراي ګټه پر فقيرانو او مسکينانو تقسيمېږي قاضي مجاهد الاسلام قاسمي صاحب فرمايي، پر خپل اهل عيال، او قريبانو وقف صحيح دئ په دې شرط چې آخرني مصرف يې يو همېشنی د ثواب کار وي.

(مجموعه قوانين اسلامی: ۳۵۷، ماده ۱۷).

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولو وقف أرضاً على أولاده وآخره للفقراء فمات بعض الأولاد فإن الغلة تصرف إلى الباقي، وإن ماتوا صرفت الغلة إلى فقراء المسلمين، لأن ههنا وقف على أولاده وقد بقي بعد موت واحد منهم أولاده فلا تصرف إلى الفقراء ما بقي أو لاده ولو وقف ضيعة على امرأته وأولاده فماتت المرأة وأحد الورثة ولد المرأة لم يكن نصيب المرأة لولدها خاصة بل يكون مردوداً إلى جميع الورثة إذا لم يكن الواقف شرط في الوقف أنها إذا ماتت كان نصيبها لولدها خاصة. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۳/ ۳۲۱، فصل فى لوقف على الاولاد).

په دړمختار کي راځي:

(ولو على امرأته وأولاده) المناسب ثم أولاده ليتناسب الكلام والمراد أنه جعل الاستحقاق بعدها لأولاده فلايختص ولدها بنصيبها (قوله لم يختص ابنها) أى المتولد من الواقف حلبي من الدرر أما ابنها من غيره فلا دخل له لأنه إنما وقف على زوجته وأولاده (قوله إذا لم يشترط) أما إذا اشترطه يكون لأولاده منها فقط . (الدر المختار مع الطحطاوى:۲/ ۵۷۰، فصل فيما يتعلق لوقف الاولاد، كوئته) . والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دراهمو او دنانيرو د وقف حکم

سوال: د دراهمو او دنانيرو وقف صحيح دئ او که نه مفتی به قول کوم دئ؟

الجواب: د امام ابو يوسف رحمه الله په اند د دراهمو او دنانيرو وقف صحيح نه دئ ځکه دا شيان د اموال منقوله څخه دي او د اموال منقوله وو وقف د ده په اند صحيح نه دئ، البته د امام محمد رحمه الله او امام زفر رحمه الله په اند د کومو شيانو وقف چې په عرف کي وي د هغو وقف صحيح او درست دئ او د دراهمو او دنانيرو وقف معروف دئ ځکه نو دا وقف د ده په اند صحيح دئ او پر همدغه فتوی ده.

په درمختار کي راځي:

وكما صح وقف كل منقول قصداً فيه تعامل للناس كفأس وقدوم بل ودراهم ودنانير .

وفى الشامية: قوله بل ودراهم ودنانير عزاه في الخلاصة إلى الأنصاري وكان من أصحاب زفر رحمه الله، وعزاه في الخانية إلى زفر رحمه الله حيث قال : وعن زفر رحمه الله شرنبلالية وقال المصنف رحمه الله في المنح : ولما جرى التعامل في زماننا في البلاد الرومية وغيرها في وقف الدراهم والدنانير دخلت تحت قول محمد رحمه الله المفتى به في وقف كل منقول فيه تعامل كما لا يخفى فلا يحتاج على هذا إلى تخصيص القول بجواز وقفها بمذهب الإمام زفر رحمه الله من رواية الأنصاري .....وبهذا ظهر صحة ما ذكره المصنف رحمه الله من إلحاقها بالمنقول المتعارف على قول محمد رحمه الله المفتى به وإنما خصوها بالنقل عن زفر رحمه الله لأنها لم تكن متعارفة إذ ذاك، ولأنه هو الذي قال بهاابتداءً . (الدر المختار مع رد المحتار: ٤/ ٣٦٣، مطلب فى وقف الدراهم والدنانير، سعيد).

په مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر کي راځي:

وكذا صح وقف المنقول المتعارف وقفه عند محمد رحمه الله وبه أى بقول محمد رحمه الله وقد ذكر فى المجتبى الخلاف على خلاف هذا المنقول .... ولما جرى التعامل في وقف

الدنانير والدراهم في زمان زفر رحمه الله بعد تجويز صحة وقفهما في رواية دخلت تحت قول محمد رحمه الله المفتى به في وقف كل منقول فيه تعامل كما لايخفى . (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:۱/ ۷۳۸).

همدا ډول وګورئ: (خلاصة الفتاوى:٤/ ٤١٧ – ومعين الحكام مع لسان الميزان، ص: ٢٩٤).

مفتي محمد شفيع صاحب ليکي:

په کومو ښارونو کي چي د نقدو پيسو وقف کول رواج وي هلته جائز دي او چيري چي رواج نه وي هلته روا نه دي په اوس وخت کي دغه وقف په عامو ښارونو کي روا دئ لهذا روا ده . (امداد المفتيين، جلد دوهم ٦٣١). والله تعالىٰ علم .

د وقف سوو درهمونو او دينارونو د مصارفو حکم

سوال: که يې درهمونه يا نوري پيسې وقف کړي نو د استعمال طريقه يې څه ده؟ يعني مصارف يې څه دئ؟

الجواب: د وقف سوو درهمونو يا پيسو سرمايه دي وساتل سي او د هغه ګټه دي د خير په کار کي مصرف سي د مثال په ډول په مضاربت کي دي ولګوي اصلي سرمايه دي وساتي او ګټه دي مصرف کړي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

وعن الأنصاري وكان من أصحاب زفر رحمه الله فيمن وقف الدراهم أو ما يكال أو ما يوزن أيجوز ذلك قال: نعم، قيل : وكيف ! قال : يدفع الدراهم مضاربة ثم يتصدق بها في الوجه الذي وقف عليه وما يكال أو يوزن يباع ويدفع ثمنه مضاربة أو بضاعة . (فتاوى الشامي:٤/ ٣٦٤، سعيد – وكذا في خلاصة الفتاوى:٤/ ٤١٨ – وكذا في مجمع الانهر:١/ ٧٣٩).

Maktaba Tul Ishaat.com

په احسن الفتاوی کي راځي:

د درهمونو او دينارونو وقف صحيح دئ مګر څنګه چي په وقف کي عين پاتـه وي او پر منافعو يې ګټه اخيستل کيږي نو د دراهمو په وقف کي شرط دا دئ چي اصلي دراهم دي نه مصرفوي بلکي د هغه ګټه دي مصرف کړي يا دي په هغه سره څه شی رانيسي او د هغه ګټه دي پر فقيرانو مصرف کړي. (احسن الفتاوی:٦/ ٤١٦). والله ﷻ اعلم.

که وارث له وقف څخه منکر وي؟

سوال: د يو چا لوی دوکان وو د هغه له مرګه وروسته يې دوه زامن پاته سوه يوه وويل چي پلار مو ويلي وه چي دا دوکان زما له مرګه وروسته وقف دئ بل زوی يې انکار کوي د شريعت له نظره يې حکم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د دوکان وقف صحيح دئ، البته کوم څوک چي منکر دئ له هغه څخه به قسم واخيستل سي که دی قسم واخلي چي زه خبر نه يم يعني زما پلار دوکان نه دئ وقف کړي نو د هغه د حصې په اندازه وقف نه جاري کيږي د ده حصه به ده ته ورکول کيږي او د بل ورور حصه به وقف کيږي ځکه د ده اقرار د هغه بل خلاف حجت نه دئ.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ومن مات وترک ابنين وله على آخر مائة درهم فأقر أحدهما أن أباه قبض منها خمسين لا شيء للمقر وللآخر خمسون. (الهداية:٣/ ٢٤٥، باب القرار المريض).

قال في الدر المختار: التحليف على فعل نفسه يكون (على البتات أي القطع بأنه ليس كذلک والتحليف على فعل غيره يكون على العلم أی إنه لا يعلم أنه كذلك لعدم علمه بما فعل غيره ظاهرًا. (الدر المختار:٥/ ٥٥٢، كتاب الدعوى، سعيد).

له دې عبارت څخه معلومه سوه چي څوک چي انکار کوي له هغه څخه به قسم واخيستل سي داسي چي ده ته معلومه نه ده چي پلار يې دوکان وقف کړي وو چي کله يې قسم واخيستئ نو دی خپله حصه اخيستلای سي او د بل حصه به وقف وي.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

ولو أن رجلين بينهما أرض فوقف أحدهما نصيبه جاز في قول أبي يوسف رحمه الله عليه. (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٦٧، فصل فى وقف المشاع).

په فتاوى تاتار خانيه کي راځي:

وفى الذخيرة : ذكر الخصاف في وقفه تفريعاً على قول أبي يوسف رحمه الله عليه فقال: إذا كانت الأرض بين رجلين، وقف أحدهما نصيبه منها، وهو النصف، له أن يقاسم شريكه، فيفرز حصة الوقف، لأن ولاية الوقف إليه . (الفتاوى التاتار خانية: كتاب الوقف:٥/ ٦٩٩، ادارة القرآن).

والله تعالى اعلم.

تر ژونده د وقف سوي شي څخه د ګټي اخيستني د شرط حکم

سوال: ښځه او خاوند وقف کول غواړي نو ايا دا شرط ايښودلای سي چي زموږ تر ژونده به موږ دواړه له دغه جائداد څخه ګټه اخلو او زموږ د وفات څخه وروسته به دغه ټول جائداد وقف وي ؟

الجواب: دا شرط يې درست دئ لهذا په دې صورت کي به ښځه او خاوند تر خپله ژونده د دې جائداد څخه ګټه اخلي بيا د دوی د وفات څخه وروسته د دوی جائداد وقف سي .

وګورئ په عالمګيري کي راځي:

في الذخيرة : إذا وقف أرضًا أو شيئًا آخر وشرط الكل لنفسه أو شرط البعض لنفسه ما دام حيا وبعده للفقراء، قال أبو يوسف رحمه الله تعالى : الوقف صحيح ومشايخ بلخ أخذوا بقول أبي يوسف رحمه الله تعالى وعليه الفتوى ترغيبًا للناس في الوقف وهكذا في الصغرى والنصاب كذا في المضمرات . (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٩٧، الباب الرابع فيما يتعلق بالشروط فى الوقف).

وأيضاً فيه : ولو قال صدقة موقوفة لله تعالى تجري غلتها علي ماعشت ولم يزد على ذلك جاز وإذا مات تكون للفقراء . (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٩٨، الباب الرابع فيما يتعلق بالشروط فى الوقف).

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی شامي کي راځي:

قولـه : وجـاز جعـل غلـة الوقـف لنفسه إلـخ) أي كلهـا أو بعـضها عنـد الثـاني (أى عنـد أبي يوسف رحمه الله) قوله وعليه الفتوى كذا قاله الصدر الشهيد وهو مختار أصحاب المتون ورجحه في الفتح واختار مشايخ بلخ وفي البحر عن الحاوي أنه المختار للتفوى ترغيباً للناس في الوقف وتكثيراً للخير . (فتاوى الشامي:٤/ ٣٨٤، مطلب في اشتراط الغلة، سعيد).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

وقف کونکي که د وقف سوي شی څخه د خپل ټول ژوند له پاره په جزي یا کلي ډول د ذاتي ګټي اخیستنی شرط ایښودل صحیح دي . (مجموعه قوانین اسلامی:٣٥٥) .

او همدا ډول وګورئ: (فتاوى محموديه: ١٤/ ٢٣٣). والله تعالی اعلم.

د منقوله شیانو د وقف حکم

سوال: یو څوک دیو مکتب پالنه کوي نو ایا د مکتب په سامان کي د مشین کمپیوټر او کتابونو وغیره وقف کول صحیح دئ او که نه؟ یعني د منقوله شیانو وقف روا دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مکتب د سامان وقف صحیح دئ او همدا ډول د منقوله شیانو چي وقف یې رواج وي د هغو وقف هم صحیح دئ .

وګورئ په درمختار کي راځي:

وصح وقف كل منقول قصدًا فيه تعامل للناس كفأس وقدوم بل ودراهم ودنانير قلت : بل ورد الأمر للقضاة بالحكم به كما في معروضات المفتي أبي السعود ومكيل وموزون فيباع ويدفع ثمنه مضاربةً أو بضاعةً .... وقدر وجنازة وثيابها ومصحف وكتب لأن التعامل يترك به القياس لحديث : ما رآه المسلمون حسنًا فهو عند الله حسن . وفي الشامية : (قوله كل منقول قصداً) .... وعند محمد رحمه الله يجوز ما فيه تعامل من المنقولات واختاره أكثر

فقهاء الأمصار كما في الهداية وهو الصحيح كما في الإسعاف، وهو قول أكثر المشايخ كما في الظهيرية ، لأن القياس قد يترك بالتعامل ونقل في المجتبى عن السير جواز وقف المنقول مطلقاً عند محمد رحمه الله وإذا جرى فيه التعامل عند أبي يوسف رحمه الله وتمامه في البحر والمشهور الأول . (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٤/ ٣٦٣، مطلب في وقف المنقول قصداً، سعيد).

په الفتاوى الهندية کي راځي:

وأما وقف المنقول مقصودًا فإن كان كراعًا أو سلاحًا يجوز فيما سوى ذلك إن كان شيئًا لم يجر التعارف بوقفه كالثياب والحيوان لا يجوز عندنا وإن كان متعارفًا كالفأس والقدوم والجنازة وثيابها وما يحتاج إليه من الأواني والقدور في غسل الموتى والمصاحف لقراءة القرآن .... وقال محمد رحمه الله تعالى : يجوز ، وإليه ذهب عامة المشايخ رحمهم الله تعالى منهم الإمام السرخسي رحمه الله كذا في الخلاصة، وهو المختار والفتوى على قول محمد رحمه الله تعالى ، كذا قال شمس الأئمة الحلواني كذا في مختار الفتاوى .... واختلف الناس في وقف الكتب جوزه الفقيه أو الليث وعليه الفتوى كذا في فتاوى قاضي خان . (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٦١، الباب الثاني فيما يجوز وقفه).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

په منقوله شيانو کي يوازي د هغو شيانو وقف صحيح دئ چي د هغو د قوف رواج وي د مثال په ډول د مسجدونو، مدرسو او کتاب خانو له پاره قرآن مجيدونه، کتابونه، لوښې، ساعت، مصلې، برقي پنکي او داسي نورو وقف . (مجموعه قوانين اسلامى:ص، ٣٤٨، كتاب الوقف). والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د وقف عمارت نړول او له سره یې د جوړولو حکم

سوال: یو چا یوه داسي مځکه وقف کړه چي پر هغه تعمیر جوړ وو اوس هغه عمارت نړول او بل وربانديي جوړول د واقف د اجازي پرته صحیح او درست دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي کله چي مځکه متولي ته حواله کړي او متولي د مصلحت له مخي په هغه کي بدلون وکړي یا بل عمارت وربانديي جوړ کړي نو دا درسته ده او د عمارت نړولو وروسته به د هغه خښتي او سامان په دوهم عمارت کي ولګوي او صدقه جاریه به وساتي او همدا ډول د عمارت په نړولو سره یې صدقه جاریه نه ختمیږي لکه د اوداسه د اوبو له وچولو سره د اوداسه ثواب نه ختمیږي همدا ډول د نبي کریم ﷺ جوړ کړي مسجد چي کله د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کي نوي جوړ سو نو چا دا اشکال ونه کړ چي د تعمیر کونکو ثواب به ختم سي بلکي د هغه ثواب ولیکل سو که چا ته د الله جل جلاله په لار کي ګرد ولګیږي نو ده ته د جهنم اور نه رسیږي .

من اغبرت قدماه في سبيل الله لم تمسه النار. (رواه الترمذي:١/ ٢٩٢).

خو د هغه دا مطلب نه دئ چي پښي دي نه مینځي هغه ثواب په عمل نامه کي لیکل کیږي که څه هم هغه شی پاته نه سي . (مجموعه قوانين اسلامی:٣٥٦).

د زیات تفصیل له پاره وګوري: (امداد الاحکام:٣/ ٥٥ – وفتاوی محمودیه:١٤/ ٢٦٠ – قاموس الفقه:٥/ ٢٩٦). والله تعالیٰ اعلم.

په مرض الموت کي د وقف کولو حکم

سوال: که چا د سختي مریضي په حالت کي خپله مځکه د مدرسې له پاره وقف کړل نو دا وقف صحیح سو او که نه؟

الجواب: په مرض الموت کي وقف صحیح دئ خو د وصیت په درجه کي دئ یعني له وفات څخه وروسته د مال له دریمي څخه وقف جاري کیږي مګر دا چي وارثان اجازه وکړي نو صحیح دي لهذا په دې صورت کي که مځکه د مال له دریمي څخه پوره کېده نو ښه که نه یوازي د مال د دریمي برخي په اندازه وقف صحیح کیږي مګر که وارثان ټول مځکه وقف کړي نو د ټولي مځکي وقف صحیح دئ .

وګورئ په هدایه کي راځي:

ولو وقف في مرض موته قال الطحاوي هو بمنزلة الوصية بعد الموت . (الهداية:۲/ ۶۳۸).

وفي فتح القدير: هو كالوصية بعد الموت حتى يلزم بعد الموت ؛ لأن تصرفات المريض مرض الموت في الحكم كالمضاف إلى ما بعد الموت حتى يعتبر من ثلث ماله .... وفي فتاوى قاضي خان: مريض وقف وعليه ديون تحيط بماله يباع وينقض الوقف . (فتح القدير:۶/ ۲۰۸، دار الفكر).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

مريض وقف دارًا في مرض موته فهو جائز إذا كان يخرج من ثلث المال وإن كان لم يخرج فأجازت الورثة فكذلك وإن لم يجيزوا بطل فيما زاد على الثلث . (الفتاوى الهندية:۲/ ۴۵۱، الباب العاشر في وقف المريض).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

هغه وقف چي واقف یې په مرض الموت کي وکړي واقف یې نه سي منسوخ کولای خو که وقف سوی شی د ټولي ترکي له دریمي ځخه زیات وي نو په زائد کي وقف نه جاري کیږي . (مجموعه قوانین اسلامی:۳۵۶).

او همدا ډول وګورئ: (امداد الاحکام:۳/ ۵۵، او فتاوی محمودیه:۱۴/ ۲۶۰، قاموس الفقه:۵/ ۲۹۶).

والله ﷻ اعلم.

په وقف کي د اوږدي اجارې حکم

سوال: د وقف ځمکه د سلو کلونو یا دوو سوو کلونو له پاره په کرایه ورکول درست دي او که نه؟

الجواب: په اوقافو کي د اجاري د مدې په هکله مختلف اقوال دي خو متقدمینو فقهاوو د اجاري مده ټاکلي نه ده، البته متاخرینو فقهاوو د وقف د ضائع کېدو ځخه د خلاصیدو له پاره د مدې د تعیین قول غوره کړي دئ د مثال په ډول ځمکه جائداد وغیره دي له درو کلونو ځخه زیات په کرایه

Maktaba Tul Ishaat.com

نه وركوي او د اوسېدلو سراى وغيره له يوه كال ځخه زيات په كرايه وركول درست نه دي، البته د مصلحت له مخي لږ والي او ډېر والي روا دئ خو په پورتني صورت كي د سلو يا دوو سوو كلونو له پاره يې په كرايه وركول روا نه دي ځكه په هغه كي د وقف د ضائع كېدو بېره ده او ممكنه ده چي د وخت په تېرېدو د مستاجر اولاد پر ځكه مالكانه قبضه وكړي او په ميراث كي يې تقسيم كړي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

بالسنة يفتى فى الدار وبثلاث سنين فى الأرض إلا إذا كانت المصلحة بخلاف ذلك وهذا مما يختلف زماناً وموضعاً . وفى الشامية : واعلم أن المسألة فيها ثمانية أقوال ذكرها العلامة قنالي زاده في رسالته أحدها : قول المتقدمين عدم تقدير الإجارة بمدة ورجحه في أنفع الوسائل، والمفتى به ما ذكره المصنف رحمه الله خوفاً من ضياع الوقت كما علمت، قوله (إلا إذا كانت المصلحة بخلاف ذلك ..... لأن أصل عدول المتأخرين عن قول المتقدمين بعدم التوقيت إلى التوقيت إنما هو بسبب الخوف على الوقف فإذا كانت المصلحة الزيادة أو النقص اتبعت وهو توفيق حسن . (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٤٠١، كتاب الوقف، سعيد) . والله سبحانه اعلم.

د وقف سوي جائداد د خرڅولو حكم

سوال: الف _ وقف سوي جائداد چي اباد سوي نه وي خرابه وي د هغه خرڅول څنګه دي په داسي حال كي چي واقف يې د خرڅولو شرط نه وي ايښي ؟

باء _ په كومو صورتونو كي يې د خرڅولو اجازه سته ؟

الجواب: الف _ واقف چي د وقف په وخت كي كوم شرط ايښي نه وي نو اوس د وقف سوي جائداد خرڅول روا نه دي؟

باء _ يوازي په دوو صورتونو كي د وقف سوي جائداد خرڅول روا دي.

١ _ واقف د وقف په وخت كي د خپل ځان او يا بل كس له پاره د خرڅولو شرط ايښي وي.

۲_ وقف سوی جائداد بېخي د انتفاع وړ نه وي .

په بخاري شريف کي راځي:

قال عمر رضي الله عنه يا رسول الله إني أصبت أرضًا بخيبر لـم أصب مالاً قط أنفس عنـدي منه فما تأمر به ؟ قال رسول الله ﷺ: إن شئت حبست أصلها وتصدقت بـها، قـال : فتـصدق بـهـا عمر رضي الله عنه أنه لا يباع ، ولا يوهـب ، ولا يورث، وتصدق بـهـا في الفقـراء وفي القربـى وفي الرقـاب وفي سبيل الله وابن السبيل والضيف ، لا جناح على من وليها أن يأكل منهـا بالـمعروف ويطعـم غير متمول. (رواه البخاری:۱/ ۳۸۲ – ومسلم:۲/ ٤١).

په درمختار کي راځي:

فإذا تم ولزم لايملک ولا يملک ولايعارولايرهن . وفی الشامية : قوله لا يملك أي لا يكون مـملوكاً لصاحبه ولا يملك أي لا يقبل التمليك لغيره بالبيع ونحوه لاستحالة تـمليك الـخارج عن ملکه . (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣٥٢، سعيد).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

وعندهـمـا حبس العين على حكم ملک الله تعالى على وجه تعـود منفعتـه إلـى العبـاد فيلـزم ولايباع ولايوهب ولايورث كذا فی الـهداية. (الفتاوی الهندية:۲/ ۳۵۰).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

د وقف سوي شی خرڅول يا رهن اېښودل يا د هغه په بدل کي يو بل شی په رهن اخيستل يا په خواست ورکول روا نه دئ او لکه څنګه چي وقف سوي شی د واقف له ملکيت څخه وزي او د بل چا ملکيت هم نه ورباندي ثابتيږي څکه نو ديو چا له پاره په هغه کي مالکانه تصرف، بيع، شراء، هبه، عاريت او رهن وغيره روا نه دي که چا داسي وکړل نو باطل به وي . (مجموع قوانين اسلامی:۳۵۰).

Maktaba Tul Ishaat.com

پہ درمختار کې راځي:

و جاز شرط الاستبدال به أرضًا أخرى حينئذ أو شرط بيعه ويشتري بثمنه أرضًا أخرى إذا شاء فإذا فعل صارت الثانية كالأولى في شرائطها وإن لم يذكرها ثم لا يستبدلها بثالثة لأنه حكم ثبت بالشرط والشرط وجد في الأولى لا الثانية وأما الاستبدال ولو للمساكين آل بدون الشرط فلا يملكه إلا القاضي درر وشرط في البحر خروجه عن الانتفاع بالكلية وكون البدل عقاراً والمستبدل قاضى اللجنة المفسر بذى العلم والعمل .... وفى الشامية : قوله : وجاز شرط الاستبدال به) اعلم أن الاستبدال على ثلاثة وجوه : الأول : أن يشرطه الواقف لنفسه أو لغيره ، فالاستبدال فيه جائز على الصحيح وقيل اتفاقًا . والثاني : أن لا يشرطه سواء شرط عدمه أو سكت لكن صار بحيث لا ينتفع به بالكلية بأن لا يحصل منه شيء أصلًا ، أو لا يفي بمؤنته فهو أيضًا جائز على الأصح إذا كان بإذن القاضي ورأيه المصلحة فيه ، والثالث : أن لا يشرطه أيضًا ولكن فيه نفع في الجملة وبدله خير منه ريعًا ونفعًا ، وهذا لا يجوز استبداله على الأصح المختار كذا حرره العلامة قنالي زاده في رسالته الموضوعة في الاستبدال ، وأطنب فيها عليه الاستدلال . (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٤/ ٣٨٤، مطلب فى استبدال الوقف، سعيد – وكذا فى احكام الاوقاف للخصاف: ٢٢، بيروت – وقانون العدل والانصاف للقضاء على مشكلات الاوقاف:٩٦، الفصل الرابع فى استبدال الوقف، لمحمد قدرى باشا الحنفى، المكتبة المكية).

پہ فتاوی محمودیه کې راځي:

که هغه مکان بېخي د انتفاع وړ نه وي او کومه ګټه ورڅخه په لاس نه راځي او د مرمت او تعمیر توان يې هم نه وي نو د هغه بدلول درست دي همدا دول هغه مکان دي خرڅ کړي او د هغه په عوض کې دي بل مکان واخلي او مدرسه ته دي د واقف په شرائطو وقف کړي . (فتاوی محمودیه:١٤/ ٢٩٢).

په مجموعه قوانين اسلامي كې راځي:

كه په خپله د موقوف عليهم د استفادې له پاره كوم جائداد وقف سوی وي او اوس هغه د انتفاع وړ نه وي نو ديوه نېک قاضي په اجازه سره يې په بل جائداد بدلول يا په نقدو خرڅول او هم دا ډول دوهم جائداد ورباندې رانيول صحيح دي او دغه دوهم جائداد به د لومړی جائداد پر ځای وقف سي.

۲ _ كه وقف كوونكي دا شرط ايښي وي چې د وقف سوي جائداد ګټه دې پر موقوف عليهم مصرف كړي او وقف سوي جائداد د انتفاع وړ نه دئ نو په بل ګټور جائداد يې بدلول او يا يې خرڅول او بل يو رانيول به روا وي او دغه دوهم جائداد به د لومړی جائداد په ډول وقف وګرځي. (مجموعه قوانين اسلامی: ۳۵۲). والله ﷻ اعلم.

د وقف سوي جائداد د خرڅولو د تلافي حكم

سوال: يو چا وقف سوي جائداد خرڅ كړ اوس يې د قانوني مجبوری له امله بېرته اخيستل ممكن نه دي د مثال په ډول پر يو غير مسلم يې خرڅ كړي چې هغه د وقف احكام نه پېژني؟

الجواب: كوم جائداد چې وقف سوی وي هغه د همېشه له پاره وقف دئ اوس يې خرڅول روا نه دي او كه يو چا خرڅ كړي نو بيع به يې نافذه نه وي او جائداد به د پخوا په شان وقف وي خو كه يې د قانوني مجبوری له امله استردا د ممكن نه وي نو د هغه په ثمن دې بل جائداد رانيسي او د واقف په شرائطو سره سم دې هغه وقف كړي لكه څنګه چې فقهاوو ليكلي دي كه جائداد بېخي د انتفاع وړ نه وي نو هغه خرڅول او د هغه پر ځای بل رانيول او وقف كول روا دي.

قال في الهداية: وإذا صح الوقف لم يجز بيعه ولا تمليكه، قال ابن همام لم يجز بيعه ولاتمليكه هو بإجماع الفقهاء أما امتناع التمليك فلما بينا، من قوله عليه الصلاة والسلام تصدق بأصلها لايباع ولايورث ولايوهب .(فتح القدير مع الهداية:٦/ ٢٢٠، دار الفكر – ومثله فى لادر المختار مع فتاوى الشامى:٤/ ٣٥٢، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

قال فی الدر: وفيها لايجوز استبدال العامر إلا في أربع، قال ابن عابدين : قوله إلا في أربع الأول : لو شرطه الواقف، الثانية إذا غصب غاصب، وأجرى عليه الماء حتى صار بحراً فيضمن القيمة ويشتري المتولي بها أرضاً بدلاً، والثالثة : أن يجحده الغاصب ولا بينة أي وأراد دفع القيمة فللمتولي أخذها ليشتري بها بدلاً، الرابعة : أن يرغب إنسان فيه ببدل أكثر غلة وأحسن صقعاً فيجوز على قول أبي يوسف وعليه الفتوى ، كما في فتاوى قارىء الهداية . (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣٨٨).

وفيه: وجاز شرط الاستبدال به أرضا أخرى حينئذ أو شرط بيعه ويشترى بثمنه أرضا أخرى إذا شاء فإذا فعل صارت الثانية كالأولى في شرائطها وإن لم يذكرها ثم لايستبدلها بثالثة . (الدر المختار:٤/ ٣٨٤، سعيد).

په قانون العدل والانصاف کي راځي:

من غصب وقفاً داراً كانت أو حانوتاً أو أرضاً، فعيله رده بعينه، فإن هلك في يده ولو بآفة سماوية، ضمن قيمته، وإن كان دخل نقص، ضمن النقصان. (قانون العدل والانصاف:٢٤٥، فی غصب الوقف).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٩٩ – والبحر الرائق: ٢٢٠ – والشامی: ٤/ ٣٦٠). والله تعالیٰ اعلم.

پر وقف سوي مځکه د تعمير حکم

سوال: يوه مځکه د مسجد له پاره وقف سوي وي خو پر هغه کوم تعمير وغيره نه وي چي د هغه له امله له مځکي څخه کوم حاصلات په لاس نه راځي او نه کومه ګټه لري نه د مسجد پيسي سته چي تعمير ورباندي جوړ سي نو د مسجد متوليان پرېشان وي يو چا ورته وويل چي زه په خپلو پيسو

دوکان ورباندي جوړوم خو هغه به وقف نه وي بلکي زما ملکيت به وي او د مځکي کرايه به مسجد ته ورکوي ايا داسي تعمير جوړول روا دي؟

الجواب: پر خرابه جائداد تعمير جوړول يوازي روا نه بلکي افضل دي خو کله چي له مسجد سره دومره مال نه وي نو د مسجد متولي بل چا ته اجازه کولای سي او هغه تعمير به د هغه وي او مياشتنۍ کرايه به مسجد ته اداء کوي خو دا دي په ليکلي بڼه وساتي چي وروسته يې وارثان د ملکيت دعوه ونه کړي.

په قانون العدل والانصاف کي راځي:

وإذا بنى الواقف بناء في الوقف، أو غرس فيها أشجاراً، فإن كان البناء والغراس من مال الوقف، أو كان من مال الواقف، وذكر أنه بناه أو غرسه للوقف، فإنه يكون وقفاً، وإن كان من ماله، ولم يذكر أنه للوقف يكون ما بناه أو غرسه ملكاً له . (قانون العدل والانصاف، ص ١٤٢، مادة :٢٠٧، البناء والغراس فى ارض الوقف).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

د ملکيت د دعوې يا غاصبانه قبضې د بېري د منځه وړلو له پاره په وقف سوي مځکه کي کرايې ورکونکي ته د عمارت جوړېدو اجازه بايد ورنه کول سي خو که متولي د ذاتي مکان جوړولو اجازه ورکړي يا ده په خپله جوړ کړ او د کرايې مده يې ختمه سوه نو که څه هم دی د مروجي کرايې د ورکولو له پاره تيار وي او د قبض کولو غالب ظن هم موجود نه وي بيا هم متولي ته د دې کرايه دار پرېښودل لازم نه دي که دې وقف سوي مځکي ته د نقصان رسېدو بېره نه وي نو پر عمارت جوړېدلو دي مجبور کړي او که د نقصان رسېدو بېري وي نو بيا دي د سرای جوړېدو اجاره نه ورکوي او چي تر څو له دغو څخه يو صورت ممکن نه وي وقف سوي مځکه او عمارت دي بل چا ته په کرايه ورکړي تر داسي بريده چي عمارت يې ونړېږي او د هغه سامان بېر ته مالک ته ورسيږي او په دغه مده کي دي د وقف او عمارت مالک دواړه هغه د خپلو برخو په لحاظ تقسيم کړي .(مجموعه قوانين اسلامی:٣٦٦، ماده ٤٠).

Maktaba Tul Ishaat.com

په درمختار کي راځي:

ففي المنية حانوت لرجل في أرض وقف فأبى صاحبه أن يستأجر الأرض بأجر المثل أن العمارة لو رفعت تستأجر بأكثر مما استأجره، أمر برفع العمارة، وتؤجر لغيره، وإلا تترك في يده بذلك الأجر. وفي الشامية: والحاصل: أن مستأجر أرض الوقف إذا بنى فيها ثم زادت أجرة المثل زيادةً فاحشةً فإما أن تكون الزيادة بسبب العمارة والبناء أو بسبب زيادة أجرة الأرض في نفسها ففي الأول لا تلزمه الزيادة لأنها أجرة عمارته وبنائه، وهذا لو كانت العمارة ملكه .... قوله: وإلا تترك في يده بذلك الأجر لأن فيها ضرورةً بحر عن المحيط وظاهر التعليل تركها بيده ولو بعد فراغ مدة الإجارة؛ لأنه لو أمر برفعها لتؤجر من غيره يلزم ضرره، وحيث كان يدفع أجرة مثلها لم يوجد ضرر على الوقف، فتترك في يده لعدم الضرر على الجانبين وحينئذ فلو مات المستأجر كان لورثته الاستبقاء أيضًا إلا إذا كان فيه ضرر على الوقف بوجه ما. (الدر المختار مع رد المحتار: ٤/ ٣٩١، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د وقف د منافعو د مصارفو حکم

سوال: يو چا ديوه اسلامي مکتب له پاره يو کور وقف کړي وو د دې کور ګټه به د اسلامي مکتب پر منافعو تقسيميده د ډېرو څلورو کلونو څخه دغه کور د دې ادارې د منتظمينو په قبضه کي دئ اوس د کور د ګټي مصارف څه دئ؟

الجواب: د وقف د شرائطو مطابق دي د وقف ګټه مصرفوي، البته متولي د وقف د مصالحو په نظر کي نيولو سره د وقف په انتظاماتو او د هغه په مصارفو کي داسي بدلون کولای سي چي له هغه څخه د وقف مقاصد فوت نه سي او که د واقف له طرفه کوم شرط نه وي نو تر ټولو لومړی دي د مکان ګټه پر مکان او د مڅکي پر اصلاح او مرمت مصرف کړي له دې وروسته دي پر مهمو مصالحو مصرف

كړي بيا پر مستحقينو د مثال په ډول د مكتب پر استاذانو او د كار كونكو پر تنخواګانو مصرفيداى سي، غرض دا چي د ضرورت او مصلحت له مخي دي مصرف كړي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

ويبدأ من غلته بعمارته ثم ما هو أقرب لعمارته كإمام مسجد ومدرس مدرسة يعطون بقدر كفايتهم ثم السراج والبساط كذلك إلى آخر المصالح وتمامه في البحر . وفي الشامية : قوله ويبدأ من غلته بعمارته أي الصرف إلى المستحقين ..... وذكر في البحر أن كون التعمير من غلة الوقف إذا لم يكن الخراب بصنع أحد .... قوله ثم ما هو أقرب لعمارته أي فإن انتهت عمارته وفضل من الغلة شيء يبدأ بما هو أقرب للعمارة وهو عمارته المعنوية التي هي قيام شعائره .... والحاصل أن الوجه يقتضي أن ماكان قريباً من العمارة يلحق بها في التقديم على بقية المستحقين ..... (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣٦٧-٣٦٨).

په قانون العدل والانصاف كي راځي:

إذا جعل وقفه على مسجد معين، أو على مدرسة معينة وشرط أنه إن ضاق ريعه واحتاج المسجد أو المدرسة لعمارة ضرورية فتقدم ما هو أقرب لها وأهم للمصلحة من أرباب الشعائر على غيره من المستحقين، صح شرطه، ووجب العمل به سواء عين قدراً معلوماً لهم أو لم يعين، وإذا شرط الواقف أن يسوى بين جميع المستحقين من أرباب الشعائر وأصحاب الوظائف وضاق ريع الوقف، واحتاج المسجد أو المدرسة للعمارة الضرورية، فلا يعتبر شرطه بل يقدم بعد العمارة الأهم فالأهم، من أرباب الشعائر الذين يترتب على انقطاعهم ضرر، وتعطيل لإقامة الشعائر بالمسجد والمدرسة وكذلك إذا شرط الاستواء بين أرباب الشعائر والعمارة وضاق ريع الوقف فلايراعى شرطه، وتقدم العمارة على سائر الجهات

Maktaba Tul Ishaat.com

والضرورية لانتظام مصالح المسجد أو المدرسة. (قانون العدل والانصاف، ٨٥، تقديم عمارة المسجد على مصالح الاخرى).

په مجموعه قوانين اسلامي كي راځي:

د واقف د شرائطو حيثيت د نص په ډول دئ ځکه نو د وقف څخه استفاده او د وقف انتظامات دي د واقف د شرطونو مطابق وکړل سي خو که قاضي د مصالحو په نظر کي نيولو سره د وقف په انتظاماتو او مصارفو کي داسي بدلون را وړاي سي چي له هغه څخه د وقف مقاصد له منځه ولاړ نه سي او کوم جائداد چي يې د وقف په ګټه رانيولي وي د هغه جائداد منافع دي هم پر وقف مصرف کړي او د وقف د مصلحتونو له امله د وقف په ګټه سر رانيول سوي جائداد خرڅېدلای سي .

(مجموعه قوانين اسلامی: ٣٥٤). والله ﷻ اعلم.

د واقف له پاره د وقف په شرائطو کي د بدلون حکم

سوال: يوې ښځي وقف نامه ليکلي وه او په هغه کي ي څو شرائط ليکلي وه اوس په هغو شرائطو کي بدلون راوستل غواړي ايا دا يې اختيار لري او حال دا چي په وقف نامه کي يې د بدلون کوم شرط موجود ن دي؟

الجواب: واقف چي يو ځل وقف نامه وليکل او د خپل ځان له پاره يې د بدلون اختيار ونه ساتي نو وروسته په وقف نامه کي د بدلون اجازه نه لري، لهذا په دې صورت کي به هم د تغير او تبديل اختيار ورته نه وي .

وګورئ په فتاوى الشامي كي راځي:

وفي الإسعاف : ولا يجوز له أن يفعل إلا ما شرط وقت العقد ، وفيه : لو شرط في وقفه أن يزيد وظيفة من يرى زيادته أو ينقص من وظيفة من يرى نقصانه أو يدخل معهم من يرى إدخاله أو يخرج من يرى إخراجه جاز ، ثم إذا فعل ذلك ليس له أن يغيره لأن شرطه وقع على فعل يراه ، فإذا رآه وأمضاه فقد انتهى ما رآه ، وفي فتاوى الشيخ قاسم : وما كان من شرط

معتبر في الوقف فليس للواقف تغييره ولا تخصيصه بعد تقرره، ولا سيما بعد الحكم، فقد ثبت أن الرجوع عن الشروط لا يصح إلا التولية ما لم يشرط ذلك لنفسه فله تغيير المشروط مرةً واحدةً، إلا أن ينص على أنه يفعل ذلك كلما بدا له وإلا إذا كانت المصلحة اقتضته. فاغتنم هذا التحرير. (فتاوى الشامي: ٤/ ٤٥٩، مطلب لايجوز الرجوع عن الشراط، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

وفيه (منظومة ابن وهبان) أيضًا فرع مهم وقع السؤال بالقاهرة بعد سنة سبعين أن الواقف إذا جعل لنفسه التبديل والتغيير والإخراج والإدخال والزيادة والنقصان هل يكون صحيحًا وهل تكون له ولاية الاستبدال، والشيخ الإمام الوالد سقى الله عهده صوب الرضوان، أفتى بصحة ذلك. (البحر الرائق: ٥/ ٢٢٤، كوئته).

همدا ډول وګوري: (قانون العدل والانصاف، ص ٨٩ – وفتاوى محموديه: ١٤/ ٢٣٥). والله ﷻ اعلم.

د متولي له پاره تنخواه اخيستل

سوال: څه فرمايي علماء كرام په دې مسئله کې چې ديوه اسلامي مکتب د شورى په رياست کې د يوه ديني عالم په مقررولو کې ځيني کسان دا اعتراض کوي چې دغه عالم خو د دې مکتب څخه تنخواه اخلي او رئيس به يو داس کس وي چې تنخواه نه اخلي ايا په شريعت کې تنخواه لرونکې کس رئيس کېدای شي؟

الجواب: د اسلامي مکتب د چلولو او انتظام له پاره هغه څوک زيات مناسب دي چې په ديني علومو کې مهارت ولري چې په مکتب کې اسلامي روح جاري کړي او د تعليم نظام د دين او شريعت موافق کړي بيا د دې ديني عالم د ګذاري له پاره دې تنخواه وټاکل سي چې په فارغه زړه د مکتب د انتظام د ښه والي لوري ته متوجه سي ياده دې وي چې د مشر توب کولو سره تنخواه اخيستل باک نه لري بلکې خلفای راشدينو به د مشر توب سره سره تنخواه اخيستل.

Maktaba Tul Ishaat.com

علامه سیوطي په تاریخ الخلفاء کي لیکي:

چي کله حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه خلیفه سو نو سهار یې د کالو غوټه واخیسته د بازار طرف ته روان سو حضرت عمر رضي الله عنه ورځخه پوښتنه وکړه چیري ځي؟ وریې فرمایل، د مسلمانانو خلیفه سوم مګر د عیال مصرف له کومه ځایه وکړم؟

حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل، درځه چي ابو عبیده ته ورسو چي ستا له پاره تنخواه مقرره کړي هلته ولاړه ابو عبیده وفرمایل،زه ستا له پاره دیوه مهاجر د مصرف په اندازه تنخواه ټاکم او دیخ او ګرمي جامه به هم درکوم.

وګورئ په تاریخ الخلفاء کي:

و أخرج ابن سعد من عطاء بن السائب قال : لما برجع أبو بكر رضي الله عنه أصبح و على ساعده أبراد و هو ذاهب إلى السوق فقال عمر رضي الله عنه : أين تريد قال إلى السوق قال: تصنع ماذا وقد وليت أمر المسلمين قال فمن أين أطعم عيالي فقال: انطلق يفرض لک أبو عبيدة فانطلق إلى أبي عبيدة فقال: أفرض لك قوت رجل من المهاجرين ليس بأفضلهم و لا أوكسهم و كسوة الشتاء و الصيف . (تاريخ الخلفاء: ٧٨).

له دې ځخه وروسته لیکي چي غالباً د کاله یې دوه زره وټاکلي چي پر هغه ابو بکر صدیق وفرمایل، چي د اهل او عیال له پاره دا لږ دي نو پنځه سوه یې نوري ور زیاتي کړي.

وأخرج ابن سعد عن ميمون قال: لما استخلف أبو بكر رضي الله عنه جعلوا له ألفين، فقال: زيدوني فإن لي عيالاً وقد شغلتموني عن التجارة، فزاده خمس مائة . (تاريخ الخلفاء: ٧٨).

په مشکوة شریف کي راځي:

وعن عائشة رضي الله عنها قالت : لما استخلف أبو بكر رضي الله عنه قال : لقد علم قومي أن حرفتي لم تكن تعجز عن مؤونة أهلي وشغلت بأمر المسلمين فسيأكل آل أبي بكر رضي الله عنه من هذا المال

ويحترف للمسلمين فيه . (رواه البخاري). وعن عمر ﷺ قال: عملت على عهد رسول الله ﷺ فعملني . رواه ابو داؤد، وقال التوربيشتي: أي أعطاني عمالتي وأجرة عملي . (حاشية مشكوة بحواله مرقات). وعن المستورد بن شداد قال سمعت النبي ﷺ يقول: من كان لنا عاملاً فليكتسب زوجة فإن لم يكن له خادم فليكتسب خادماً فإن لم يكن له مسكن فليكتسب مسكناً. رواه ابو داؤد . (مشكوة شريف:۲/ ۳۲۶، باب رزق الولاة وهداياهم). والله ﷻ اعلم.

د وقف د متولي وظائف

سوال: د وقف د متولي شرائط او ذمه داري كومي دي؟

الجواب: د وقف د متولي ذمه داري په لاندي ډول دي:

۞ متولي به عاقل، بالغ امين او ديندار كس وي، خائن كس متولي ګرځول روا نه دي.

۞ د وقف حفاظت او ورسپارل سوي فرائض به په خپله سر ته رسوي يا به يې د يو نائب په واسطه كوي.

۞ د وقف سوو املاكو حفاظت او د قدرت تر حده د وقف د مقاصدو د پوره كېدو كوښښ كول.

۞ د واقف د جائزو شرائطو يا د مخكينو متوليانو د دستور مطابق د وقف ټول انتظامي امور سر ته رسول.

۞ جائداد وغيره په اجاره وركول او مياشتنى ګټه يې په صحيح مصارفو كي لګول.

۞ كوم اوقاف چي د خيريه كارونو له پاره ځانګړي سوي وي د مثال په ډول مسافرخانې، هدېره، سقايه، كتب خانې. انجمنونه وغيره هغوى د ناروا استعمال څخه راګرځول او د جائز استعمال اجازه وركول.

۞ داسي اسباب او ذرائع اختيارول چي له هغو څخه اوقاف د خرابۍ له خطره وژغورل سي.

۞ ګټه تر لاسه كول او د هغه پر مصارفو يې مصرفول.

۞ له خاصو صورتونو څخه پرته د وقف جائداد خرڅول يا يې په غير منقوله جائداد د بدلولو اجازه نه سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

۞ د وقف مځکي تر درو کلونو او د اوسېدو سرايونه تر يوه کاله په کرايه ورکول کېداى سي له دې څخه زيات د وقف ساتنه په خطره کي د لوېدو ېېره سته، البته کي مصلحت وي نو هغه دي اختيار سي.

۞ د وقف جائداد په رهن کي ايښودل او قرض پر اخيستل روا نه دي.

۞ د متولي له پاره د وقف د مصالحو پر ته قرض اخيستل روا نه دي که متولي د وقف له مصلحت پرته داسي وکړل نو قرض به يې ذاتي ذمه داري وي.

۞ وقف سوي شيان په اجرت مثل سره په کرايه ورکول پر متولي لازم دي که ده له اجرت مثل څخه ډېر څه کم کړل نو بيا به هم پر کرايه دار اجرت مثل لازم وي.

په درمختار کي راځي:

وينزع وجوبًا لو الواقف (فغيره بالأولى) غير مأمون أو عاجزًا أو ظهر به فسق كشرب خمر ونحوه فتح ، أو كان يصرف ماله في الكيمياء نهر . وفي الشامية : قوله غير مأمون قال في الإسعاف : ولا يولى إلا أمين قادر بنفسه أو بنائبه لأن الولاية مقيدة بشرط النظر وليس من النظر تولية الخائن لأنه يخل بالمقصود ، وكذا تولية العاجز لأن المقصود لا يحصل به ، ويستوي فيه الذكر والأنثى وكذا الأعمى والبصير وكذا المحدود في قذف إذا تاب لأنه أمين ، وقالوا : من طلب التولية على الوقف لا يعطى له وهو كمن طلب القضاء لا يقلد ، والظاهر : أنها شرائط الأولوية لا شرائط الصحة وأن الناظر إذا فسق استحق العزل ولا ينعزل كالقاضي إذا فسق لا ينعزل على الصحيح المفتى به، ويشترط للصحة بلوغه وعقله لا حريته وإسلامه لما في الإسعاف لو أوصى إلى الصبي تبطل في القياس مطلقًا وفي الاستحسان هي باطلة ما دام صغيرًا ، فإذا كبر تكون الولاية له ولو كان عبدًا يجوز قياسًا واستحسانه لأهلية في ذاته بدليل أن تصرفه الموقوف لحق المولى ينفذ عليه بعد العتق الزوال المانع بخلاف الصبي .(الدر

المختار مع رد المحتار: ٤/ ٣٨٠، مطلب فی شروط المتولی، سعید – وکذا فی قانون العدل والانصاف، ص ١٠٧، الفصل الاول فی ولایة الوقف، بیروت).

په فتاوی شامي کي راځي:

شرائط الواقف معتبرة إذا لم تخالف الشرع . (فتاوی الشامی: ٤/ ٣٤٣، مطلب شرائط الواقف).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

إذا وقف داره علی الفقراء فالقیم یؤاجرها ویبدأ من غلتها بعمارتها ولیس للقیم أن یسکن فیها أحداً بغیر أجر کذا فی التاتار خانیة. (الفتاوی الهندیة: ٤/ ٤١٨).

وفی الدر المختار: یراعی شرط الوقف في إجارته فلو أهمل الواقف مدتها قیل تطلق ... وقیل تقید بسنة مطلقاً وبها أي بالسنة یفتی فی الدار وبثلاث سنین فی الأرض إلا إذا كانت المصلحة بخلاف ذلک وهذا مما یختلف زماناً وموضعاً، وفي فتاوی الشامیة : قوله وقیل تقید بسنة لأن المدة إذا طالت تؤدي إلی إبطال الوقف ، فإن من رآه یتصرف بها تصرف الملاك علی طول الزمان یظنه مالکا إسعاف . (قوله وبثلاث سنین في الأرض) أي إذا كان لا یتمکن المستأجر من الزراعة فیها إلا في الثلاث کما قیده المصنف تبعاً للدرر حیث قال: یعني أن الأرض إن کانت مما تزرع في کل سنتین مرة، أو في کل ثلاث کان له أن یؤجرها مدة یتمکن فیها من الزراعة ، ومثله في الإسعاف، وکذا في الخانیة لکن ذکر فیها بعد ذلك قوله وعن الإمام أبي حفص البخاري أنه کان یجیز إجارة الضیاع ثلاث سنین ، فإن آجر أکثر اختلفوا فیه وأکثر مشایخ بلخ لا یجوز .... وظاهره جواز الثلاث بلا تفصیل تأمل . وأن مختار الفقیه جواز الأکثر .... واعلم أن المسألة فیها ثمانیة أقوال ذکرها العلامة قنالي زاده

Maktaba Tul Ishaat.com

في رسالته أحدها : قول المتقدمين عدم تقدير الإجارة بمدة ورجحه في أنفع الوسائل، والمفتى به ما ذكره المصنف خوفاً من ضياع الوقف كما علمت . (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٤٠٠، كتاب الوقف).

په فتح القدیر کي راځي:

ليس على الناظر أن يفعل إلا ما يفعله أمثاله من الأمر والنهي المصالح.... والأخذ والإعطاء . (فتح القدير:٦/ ٢٤٢، دار الفكر).

په عالمګیري کي راځي:

وإن كان في الأرض الموقوفة نخل وخاف القيم هلاكها كان للقيم أن يشتري من غلة الوقف فصيلًا فيغرسه كي لا ينقطع كذا في فتاوى قاضي خان . (الفتاوى الهندية:٢/ ٤١٣).

(مجموعه قوانین اسلامی مع الحاشیة:٣٥٧-٣٦٥ -وقاموس الفقه:٥/ ٣٠٣ -وفتاوی محمودیه:١٤/ ٣٤٢، باب ولاية الوقف). والله ﷻ اعلم.



﴿ وأن المساجد لله فلا تدعوا مع الله أحدًا ﴾. (سورة الجن، الآية:۱۸).

عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال : سمعت النبي ﷺ يقول من بنى مسجدا بنى الله له مثله في الجنة .

(رواه الترمذی).

لومړی .... فصل

د مساجدو د احکامو بیان

د مسجد ذاتي ملک او د قانون شخصي حکم

سوال: ایا مساجد او مدارس د مالک جوړېدو صلاحیت لري او که نه؟ یعني که یو چا مسجد ته غالي او داسي نور شیان ورکړل او وقف یې نه کړل یا مدرسه ته یې کتابونه وغیره ور واستول او وقف یې نه کړل نو دغه شیان وقف دي او که د مدرسي ذاتي ملکیت دئ، همدا ډول که یې د قرباني پوستونه مسجد او یا مدرسې ته ورکړل نو مسجد یا مدرسه یې مالک ګرځي او که نه؟

که د قربانۍ د څرمي قیمت د استاذانو په تنخواګانو کي مصرفول وغواړي نو مصرف ولای یې سي او که نه؟

الجواب: مساجد او مدارس د ذاتي ملک او شخصي قانون حیثیت لري لهذا که یو چا کوم شی مسجد یا مدرسې ته ورکړ او وقف یې نه کړ نو مسجد او یا مدرسه یې مالک ګرځي او متولي ته په هغه شی کي د تصرف حق حاصل دئ له دې له امله که د قربانۍ پوست که څوک مسجد او یا مدرسې ته ورکړي نو مسجد یا مدرسه د هغه مالک ګرځي او د هغه خرڅول او د هغه قیمت د استاذانو پر تنخواګانو مصرفیدای سي.

دغه مسئله د فقهاوو په اصطلاح کي په قانون شخصي سره نامداره کیږي او د هغه څرګند نظیر د بیت المال نظام دئ چي په بیت المال کي وقف سوي مالونه نه وي بلکي د بیت المال ذاتي ملکیت دئ له هغه څخه اخیستل کیږي او ورکول کیږي لهذا مساجد او مدارس هم د بیت المال په حکم کي

Maktaba Tul Ishaat.com

د کېدو له امله د ذاتي ملک صلاحيت لري که نه کومو کسانو چي مساجد او مدارسو ته خپل اموال ورکړی دي چي وقف سوي نه وي نو هغه مالونه بايد د دوی د انتقال څخه وروسته د ميراث په ډول تقسيم سي حال دا چي په هغوی کي ميراث نه جاري کيږي، همدا ډول دا خبره دي هم په نظر کي وي چي د وقف له پاره خاص الفاظ دي له هغو پرته وقف نه کيږي.

وګورئ په طحطاوي کي راځي:

قوله وركنه الألفاظ الخاصة قال في الشرح الملتقى ناقلاً عن القهستاني: إنما قيد بالقول لأنه لو كتب صورة القضية مع الشرائط بلا تلفظ لم يصر وقفاً بالاتفاق ثم قال: إنه لم يصر وقفاً عند الطرفين إلا إذا كتب بيده وقال للشهود أشهدوا بمضمونه فإنه إقرار بأني وقفت كما ذكرت فيه أو كلاماً نحوه فحينئذ يصير وقفاً. (كذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۵۲۹).

د مساجدو او مدارسو د ملکيت دلائل وګوري:

په اعلاء السنن کي راځي:

عن عائشة ﵂، قالت: سمعت رسول الله ﷺ يقول: لولا أن قومک حديثو عهد بجاهلية أو قال: بكفر لأنفقت كنز الكعبة في سبيل الله ولجعلت بابها بالأرض، ولأدخلت فيها من الحجر . (رواه مسلم – ونيل الاوطار:۵/ ۲۷٤).

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني ﷫ فرمايي:

التمليک للمسجد صحيح: ـ قلت : وفى الحديث دليل لما قاله علماؤنا من أن التمليک للمسجد صحيح ففى الهندية : رجل أعطى درهماً في عمارة المسجد أو نفقة المسجد، أو مصالح المسجد صح، لأنه إن كان لايمكن تصحيحه وقفاً يمكن تصحيحه تمليكاً بالهبة للمسجد وإثبات الملک للمسجد على هذا الوجه صحيح، فيتم بالقبض كذا فى الواقعات،

وقال: وهبت داري للمسجد أو أعطيتها له صح ويكون تمليكاً، ويشترط التسليم كما لو قال وقفت هذه المائة للمسجد يصح بطريق التمليک إذ سلمه للقيم كذا في الفتاوى العتابية (۳/ ۲٤۰)؛ (إعلاء السنن:۱۳/ ۲۰۰، باب الوقف على مصالح المسجد، ادارة القرآن).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

ولو قال: وهبت داري للمسجد أو أعطيتها له صح ويكون تمليكاً فيشترط التسليم كما لو قال: وقفت هذه المائة للمسجد، يصح بطريق التمليک إذا سلم للقيم. (الفتاوى التاتار خانية:٥/ ۸٥۳، كتاب الوقف. ومسائل وقف المساجد، ادارة القرآن).

په عالمګیري کي راځي:

ذكر الصدر الشهيد رحمه الله في باب الواو : إذا تصدق بداره على مسجد أو على طريق المسلمين تكلموا فيه والمختار أنه يجوز كالوقف ، كذا في الذخيرة . (الفتاوى الهندية:۲/ ٤٦۰).

يعني لکه څنګه چي د مسجد او نورو د خير د کارونو له پاره وقف کيږي همدا ډول يې د صدقې په ډول ورکول هم صحيح دي.

بل ځای ليکي:

رجل أعطى درهمًا في عمارة المسجد أو نفقة المسجد أو مصالح المسجد صح ؛ لأنه إن كان لا يمكن تصحيحه تمليكًا بالهبة للمسجد فإثبات الملك للمسجد على هذا الوجه صحيح، فيتم بالقبض ، كذا في الواقعات، ولو قال : وهبت داري للمسجد أو أعطيتها له ، صح ويكون تمليكًا ، فيشترط التسليم ، كما لو قال : وقفت هذه المائة للمسجد يصح

Maktaba Tul Ishaat.com

بطريق التمليك إذا سلمه للقيم كذا في الفتاوى العتابية . (الفتاوى الهندية:۲/ ٤٦٠، الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد – وكذا فی الفتاوی الولو الجية:۳/ ۹۰، الفصل الاول فی المسجد).

دعالمګیري له دغه عبارت څخه معلومیږي چي بیت المال قانون شخصي دئ. وګورئ:

فعلى الإمام أن يجعل بيت المال أربعةً لكل نوع بيتًا ؛ لأن لكل نوع حكمًا يختص به لا يشاركه مال آخر فيه فإن لم يكن في بعضها شيء فللإمام أن يستقرض عليه مما فيه مال فإن استقرض من بيت مال الخراج فإذا أخذ الخراج يقضي المستقرض من الخراج إلا أن يكون المقاتلة فقراء ؛ لأن لهم حظا فيها فلا يصير قرضاً . (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۹۱، فصل فيما یوضع فی بيت المال اربعة انواع).

یعني د امام له پاره ضروري ده چي بیت المال پر څلورو برخو تقسیم کړي ځکه د هري برخي حکم يې بيل دئ چي له ده سره خاص دي بل مال پکښي شريک نه دئ خو که په ځينو برخو کي مال نه وي نو له بلي برخي څخه دي قرض واخلي د مثال په ډول د صدقې له اموالو څخه يې د خراج اموالو ته څه قرض ورکړ نو چي کله خراج ورسيږي هغه قرضه دي ځيني واخلي يعني بيت المال دائن او مديون جوړيدای سي چي دغه قانون شخصي دئ حضرت عمر ﷺ به د کعبې غلاف پر حاجيانو تقسيماوه ځکه هغه وقف نه وو.

وګورئ علامه ابو الوليد محمد بن عبد الله بن احمد ازرقی فرمايي:

حدثنا أبو الوليد قال: حدثنا جدي وإبراهيم بن محمد الشافعي، عن مسلم بن خالد ، وعن ابن أبي نجيح، عن أبيه، أن عمر بن الخطاب ﷺ كان ينزع كسوة البيت في كل سنة فيقسمها على الحاج، فيستظلون بها على السمر بمكة. (اخبار مكة، وماجاء فيها من الآثار للازرقی:۱/ ۲۱۷، باب ماجاء فی تجريد الكعبة، و اول من جردها، مكتبة الثقافة الدينية).

په عمدة القاري کي علامه عيني رحمه الله فرمايي:

وقال ابن الصلاح : الأمر فيها إلى الإمام يصرفه في مصارف بيت المال بيعاً وعطاءً واحتج بما ذكره الأزرقي أن عمر رضي الله عنه كان ينزع كسوة البيت كل سنة .... الخ، وعن الأزرقي عن ابن عباس رضي الله عنه وعائشة رضي الله عنها أنهما قالا : ولا بأس أن يلبس كسوتها من صارت إليه من حائض وجنب وغيرهما، وكذا قالته أم سلمة رضي الله عنها، وذكر ابن أبي شيبة عن ابن أبي ليلى، وسئل عن رجل سرق من الكعبة، فقال : ليس عليه قطع، ويقال : الظاهر جواز قسمة الكسوة العتيقة إذ بقاؤها تعريض لفسادها بخلاف النقدين . (عمدة القارى:۷/ ۱٦۲ – وكذا فى شرح اللباب: ص ٥٤٥).

همدا ډول حضرت عمر رضي الله عنه کعبې ته دورکول سوو هديو د تقسيم اراده وکړه تر هغه لاندي علامه عيني رحمه الله ليکي:

وإنما أراد الكنز الذي بها وهو ماكان يهدى إليها فيدخر ما يزيد على الحاجة. (عمدة القارى:۷/.۱٦۱).

له دې څخه معلومه سوه چي هغه شيان د کعبې ملکيت وو.

وأما الحلي فمحبسة عليها كالقناديل فلا يجوز صرفها إلى غيرها. (عمدة القارى:۷/ ۱٦۱).

په کفايت المفتي کي راځي:

رجل وقف أرضا له على مسجد ولم يجعل آخره للمساكين تكلم المشايخ فيه والمختار: إنه يجوز في قولهم جميعاً كذا فى الواقعات الحساميه . (فتاوى عالمگيرى:۲/ ٤٤۷). إذا غرس شجراً فى المسجد فالشجر للمسجد . (فتاوى عالمگيرى:۲/ ٤٥٥).

رجل غرس تالة في مسجد فكبرت بعد سنين فأراد متولى المسجد أن يصرف هذه الشجرة إلى

Maktaba Tul Ishaat.com

عمارة بئر فی هذا السكة والغارس يقول هي لي فأت ما وقفتها على المسجد قال الظاهر أن الغارس جعلها للمسجد فلا يجوز صرفها إلى البئر ولايجوز للغارس صرفها إلى حاجة نفسه كذا فی المحيط. (فتاوی عالمگیری:ص ٤٥٦). مسجد فيه شجرة تفاح يباح للقوم أن يفطروا بهذا التفاح قال الصدر الشهيد رحمه الله المختار أنه لايباح كذا فی الذخيرة. (عالمگیری:ص ٤٥٦). مسجد له أوقاف مختلفة لابأس للقيم أن يخلط غلته كلها إن خرب حانوت منها فلا باس بعمارته من غلة حانوت آخر لأن الكل للمسجد ولو كان مختلفاً لأن المعنى يجمعها، (شامية، كتاب الوقف : مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه:٤/ ٣٦١، ط، سعيد – مثله فی البزازية كتاب الوقف الفصل الرابع:٣/ ٢٦٩–٢٧٠،ط ماجديه).

هر هغه شی چي موقوف عليه جوړېدای سي او متعين وي هغه قانون شخصي دئ او مسجد موقوف عليه جوړايدای سي .

هر هغه شی چي مالک جوړېدای سي هغه قانون شخصي دئ او د هغه د ملک حفاظت د حکومت فريضه ده او هغه ته د خپل د ملک د حفاظت له پاره د دعوی حق سته .

شخصي ملک د زوال او انتقال څخه مخکي دي، مالکانه حيثيت چي د زوال او انتقال قابل دئ چي کله هغه خپل مالک ته د قانوني شخصي حيثيت ورکوي نو د مسجد ملک چي د زوال او انتقال وړ نه دي خپل مالک (مسجد) ته په طريق اولی د قانوني شخصي درجه ورکوي . (کفايت المفتی:٧/ ٩٨).

اشکال:

خو دلته يو اشکال پيدا کيږي چي مساجد او مدارس چي د ذاتي ملکيت حيثيت لري نو بايد د زکوة په ورکولو سره زکوة اداء سي او حال دا چي د علماوو اتفاق دئ چي مسجدونو او مدرسو ته د زکوة په ورکولو سره زکوة نه اداء کيږي د دغه جواب به څه وي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چې د زكوة مصارف متعين دئ او په دغو مصارفو كې د مدارسو او مساجدو يادونه نه ده سوې لهذا زكوة نه اداء كيږي . والله ﷻ اعلم .

د كعبې شريفې د ذاتي ملک او قانون شخصي حكم

سوال: كه يو څوک كوم شي كعبې ته هبه كړي نو هغه شى د كعبې په ملكيت كې راځي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كې بيت الله شريفې ته هبه سوي شى د بيت الله په ملكيت كې راځي.

وګورئ په عالمګيري كې راځي:

ولو قال وهبت داري للمسجد أو أعطيتها له صح ويكون تمليكاً فيشترط التسليم .

(الفتاوى الهندية:۲/ ٤٦٠).

په اعلاء السنن كې راځي:

التمليک للمسجد صحيح :ـ قلت: وفي الحديث دليل لما قاله علماؤنا من أن التمليک للمسجد صحيح ففي الهندية : رجل أعطى درهماً في عمارة المسجد أو نفقة المسجد، أو مصالح المسجد صح، لأنه إن كان لايمكن تصحيحه وقفاً يمكن تصحيحه تمليكاً بالهبة للمسجد وإثبات الملک للمسجد على هذا الوجه صحيح، فيتم بالقبض كذا في الواقعات.

(إعلاء السنن:۱۳/ ۳۰۰، باب الوقف على مصالح المسجد، ادارة القرآن).

همدا ډول وګورئ: (عمدة القارى:۷/ ۱٦۲ – وكذا فى شرح اللباب: ص ٥٤٥).

په محيط برهاني كې راځي:

وفي مجموع النوازل: سئل شيخ الإمام أبو الحسن عن رجل قال: وقفت داري على مسجد كذا، ولم يزد على هذا وسلمها إلى المتولي صح، ولم يشترط التأبيد، يجعل آخره للفقراء، قال: وهذا يكون تمليكاً للمسجد وهبة، فيتم بالقبض . (المحيط البرهانى:۳/ ۱٥۲).

Maktaba Tul Ishaat.com

وإثبات الملك على هذا الوجه يصح، فإن المتولي إذا اشترى من غلة دار المسجد يصح، وكذا من أعطى دراهماً في عمارة المسجد ونفقة المسجد أو مصالح المسجد يصح، وكذا إذا اشترى المتولي عبداً لخدمة المسجد يصح كل ذلك، فيصح هذا بطريق التمليك بالهبة، وإن كان لا يصح بطريق الوقف .... الخ. (المحيط البرهاني:۷/ ۱۳۷).

لنډه دا چي کله په کوم شی کي د وقف جوړېدو ورتيا نه وي نو هغه د هبې په ډول تمليک کړئ. والله ﷻ اعلم.

د مسجد د پراخولو حکم

سوال: يو چا خپله مځکه وقف کړه او هغه مځکه له مسجد سره متصل ده د خلکو د تعداد د زياتوالي له امله مسجد پراختيا ته ضرورت لري پوښتنه دا ده چي دغه وقف سوي مځکه په مسجد کي داخليدای سي او که نه؟ حال دا چي واقف د خير په کارونو لکه مسجد، مدرسه وغيره ته صرف کړي وه؟

الجواب: په دېصورت کي وقف سوي مځکه په مسجد کي شاملول او د پراخولو ګنجائش سته که مځکه د خير له پاره وقف سوی وي بيا يې هم په مسجد کي شاملول درست دي د مسجد پراخوالي هم د خير کار او د شريعت له مهمو کارونو څخه دئ او د اسلام له شعائرو څخه دئ.

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله وتؤخذ أرض في الفتح ولو ضاق المسجد وبجنبه أرض وقف عليه أو حانوت جاز أن يؤخذ ويدخل فيه، زاد في البحر عن الخانية بأمر القاضي وتقييده بقوله وقف عليه أي على المسجد يفيد أنها لو كانت وقفاً على غيره لم تجز لكن جواز أخذ المملوكة كرهاً يفيد الجواز بالأولى لأن المسجد لله تعالى. (فتاوى الشامي:٤/ ٣٧٩ – وكذا في قانون العدل والانصاف، ٨٥، تقديم عمارة المسجد على مصالح الاخرى، بيروت).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

وإن ضاق المسجد عن أهله جاز للمتولي أن يدخل بعض منازل الوقف . (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ٢٨٥).

وفيه : أرض وقف على مسجد وبجنبه أرض فأرادوا إلحاق شيء من الأرض بالمسجد جاز ولكن يرفع إلى الحاكم ليأذن له في ذلك . (الفتاوى البزازية:٦/ ٢٦٨، الرابع فى المسجد و ما يتصل به). والله ﷻ اعلم.

له مسجد څخه د زېر خانې د جلا والي حکم

سوال: يو څوک د مسجد له پاره يوه مځکه رانيول غواړي او له رانيولو څخه مخکي دا نيت کوي چي د هغه زير خانه يا لاندي منزل د موټرانو پارک يا کوم بل شی وي او مسجد به په لوړ منزل کي وي ايا د داسي کولو اجازه سته ؟

الجواب: په دې صورت کي د رانيولو څخه مخکي د لاندني منزل د مستثنی کولو نيت معقول دئ او د هغه مطابق له مسجد څخه استثناء کول صحيح او درست دي لهذا د تعمير څخه وروسته به لوړ منزل د مسجد له پاره وي او لاندي منزل به د مسجد د نورو مصالحو له پاره وي .

په درمختار کي راځي:

إذا جعل تحته سرداباً لمصالحه أى المسجد جاز كمسجد القدس . وفى الشامية : قوله وإذا جعل تحته سرداباً جمعه سراديب بيت يتخذ تحت الأرض لغرض تبريد الماء وغيره، قال في البحر وحاصله أن شرط كونه مسجدا أن يكون سفله وعلوه مسجداً لينقطع حق العبد عنه لقوله تعالى: ﴿ وأن المساجد لله ﴾ بخلاف ما إذا كان السرداب والعلو موقوفاً لمصالح المسجد فهو كسرداب بيت المقدس هذا هو ظاهر الرواية وهناك روايات ضعيفة، فرع : لو

Maktaba Tul Ishaat.com

بنی فوقه بیتاً للإمام لایضر لأنه من المصالح أما لو تمت المسجدیة ثم أراد البناء منع ولو قال عینت ذلک لم یصدق . (الدر المختار مع فتاوی الشامی:٤/ ٣٥٧ – والبحر الرائق:٥/ ٢٥١).

په تقریرات رافعي کي راځي:

قول المصنف رحمه الله لمصالحه لیس بقید بل الحکم کذلک إذا کان ینتفع به عامة المسلمین علی ما أفاده في غایة البیان حیث قال: أورد الفقیه أبو اللیث سوالاً جواباً فقال: فإن قیل ألیس مسجد بیت المقدس تحته مجتمع الماء والناس ینتفعون به قیل إذا کان تحته شيء ینتفع به عامة المسلمین یجوز لأنه إذا انتفع به عامتهم صار ذلک لله تعالی. (التحریر المختار:٤/ ٨٠). والله تعالی اعلم.

د مسجد په عمارت کي د بدلون حکم

سوال: که د مسجد په شاو خوا کي ابادي ختمه سي او مسجد خراب سي نو هغه خرڅولای سي بل ځای مسجد جوړولای سي او که نه؟ د مثال په ډول په یوه ښار کي یو مسجد دئ او هلته مسلمانان اباد دي د یو څه وخت له تېرېدو وروسته د حکومت په امر سر هغه خلک بل ځای ته نقل سوه او هلته یوازي یوه کورنۍ یا څو مسلمانان پاته سي یا مسجد شاړ پاته سي نو په دې صورت کي په مسجد سره څه کیږي؟ ایا دغه مسجد شهیدول او مځکه یې خرڅول او په پیسو یې بل ځای د مسجد جوړولو اجازه سته او که نه؟ د مسجد پنکي، قرآنونه وغیره بل مسجد ته نقل کول روا دي او که نه؟ که روا دي چیري به یې نقل کړي ایا په دیني مدرسو کي یې استعمال روا دئ؟

الجواب: مسجد شهیدول یا یې د مځکي خرڅول یا یې مځکه خرڅول د مفتی به قول مطابق درسته نه ده بلکي هغه دي مسجد وساتل سي او هلته نژدې چي کوم افراد او سیږي هغه دي مسجد اباد وساتي، البته که هلته نژدې کوم مسلمان نه وي نو د ضرورت له امله دي د مسجد ټول سامان سره د دېواله بل ځای ته نقل کړي او د مسجد مځکه دي نه خرڅوي، ځکه د راجح قول مطابق هغه ځای هر څه چي وي د مسجد په حکم کي دي .

فی الدر المختار: ولو خرب ما حوله واستغني عنه يبقى مسجداً عند الإمام والثاني، أبداً إلى قيام الساعة وبه يفتى .(الدر المختار:٤/ ٣٥٨، سعيد).

وفيه : وعن الثاني ينقل إلى مسجد آخر جزم به فی الإسعاف حيث قال: ولو خرب المسجد وما حوله وتفرق الناس عنه لايعود إلى ملك الواقف عند أبي يوسف رحمه الله فيباع بإذن القاضي ويصرف ثمنه إلى بعض المساجد .(الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣٥٩، مطلب فيما لو خرب المسجد، سعيد).

وفيه : قال الشامي: قلت :.... والذي ينبغي متابعة المشايخ المذكورين في جواز النقل بلا فرق بين مسجد أو حوض ، كما أفتى به الإمام أبو شجاع والإمام الحلواني وكفى بهما قدوةً ، ولا سيما في زماننا، فإن المسجد أو غيره من رباط ، أو حوض إذا لم ينقل يأخذ أنقاضه اللصوص والمتغلبون كما هو مشاهد وكذا أوقافه يأكله النظار أو غيرهم ، ويلزم من عدم النقل خراب المسجد الآخر المحتاج إلى النقل إليه ، وقد وقعت حادثة سئلت عنها في أمير أراد أن ينقل بعض أحجار مسجد خراب في صفح قاسيون بدمشق ليبلط بها صحن الجامع الأموي فأفتيت بعدم الجواز متابعةً للشرنبلالي ، ثم بلغني أن بعض المتغلبين أخذ تلك الأحجار لنفسه ، فندمت على ما أفتيت به ، ثم رأيت الآن في الذخيرة ، قال وفي فتاوى النسفي : سئل شيخ الإسلام عن أهل قرية رحلوا وتداعى مسجدها إلى الخراب ، وبعض المتغلبة يستولون على خشبه ، وينقلونه إلى دورهم هل لواحد من أهل المحلة أن يبيع الخشب بأمر القاضي ، ويمسك الثمن ليصرفه إلى بعض المساجد أو إلى هذا المسجد ؟ قال : نعم وحكى أنه وقع مثله في زمن سيدنا الإمام الأجل في رباط في بعض الطرق الخرب ، ولا ينتفع المارة به

Maktaba Tul Ishaat.com

وله أوقاف عامرة فسئل هل يجوز نقلها إلى رباط آخر ينتفع الناس به قال : نعم ، لأن الواقف غرضه انتفاع المارة ، ويحصل ذلك بالثاني . (فتاوى الشامى:٤/ ٣٦٠، مطلب فى نقل انقاض المسجد، ط: سعيد).

وانظر للمزيد : (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ٢٧٠، الرابع فى المسجد .... نوع آخر).

په امداد الفتاوی کي راځي:

اصل او راجح خو عدم جواز نقل سوی دئ خو ځيني علماوو يې د ضرورت له امله د جواز قائل دي نو بيله سختې ضرورته دې اصلي مذهب پرېښودل روا نه دي او په سخت ضرورت کي ګنجائش سته او دا هم معلومه سوه چي کله يو مسجد مستغني سي نو د هغه وقف په بل مسجد کي مصرفول روا دي . (امداد الفتاوى:٢/ ٦٩٩). والله تعالىٰ اعلم.

په مسجد کي د زړو غاليو حکم

سوال: په يوه مسجد کي نوي غالي هواري سوي په زړو غاليو دي څه وکړي په دې هلکه د متولي حضراتو څو نظرونه دي:

۱_ پر لمونځ کونکو دي تقسيم کړي؟

۲_ هغه دي خرڅي کړي په هغو پيسو دي قرم واخلي او په مسجد کي دي استعمال کړي؟

۳_ يو بل مسجد ته دي دغه غالي ورکړي په دغو کي کوم قول صحيح دئ؟

الجواب: د زړو غاليو په هکله دا چي د لمونځ کونکو په منځ کي دي تقسيم کړي دا قول صحيح نه دئ ځکه دا د وقف مال دئ.

۲_ زړي غالي خرڅول او قيمت يې په مسجد کي استعمالول صحيح او درست دي .

۳_ که بل مسجد ضرورت ولري او محتاج وي نو هلته يې ورکول هم روا دي .

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

متولی المسجد لیس له أن یحمل سراج المسجد إلی بیته وله أن یحمله من البیت إلی المسجد . (الفتاوی الهندیة:۲/ ٤٦٢، کتاب الوقف – وفتاوی قاضي خان:۳/ ۲۹٤ – والفتاوی البزازیة:٦/ ۲۷۰).

په درمختار کي راځي:

حشیش المسجد وحصره مع الاستغناء عنهما و کذا الرباط والبئر إذا لم ینتفع بهما، فیصرف وقف المسجد والرباط والبئر والحوض إلی أقرب المساجد أو رباط أو بئر أو حوض إلیه . (الدر المختار:٤/ ۳٥۹، سعید).

په کفایت المفتي کي راځي:

د مسجد زوړ سامان چي د دغه مسجد په نوي تعمیر کي په کار نه راځي خرڅول یې روا دي ښه دا دي چي پر مسلمان دي خرڅ کړي او د هغه قیمت دي د همدغه مسجد په ضروري تعمیر کي مصرف کړي . (کفایت المفتی:۷/ ٦۷).

په عزیز الفتاوی کي راځي:

د مسجد سامان دي په نژدې مسجد کي مصرف سي که یې اوس ضرورت نه وي نو سامان دي ورته وساتل سي او یا دي هغه خرڅ کړي او په نژدې مسجد کي دي مصرف کړي . (عزیز الفتاوی:ص ٥٦۷).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

که په مسجد کي زیاتي چټایاني موجودي وي او د حفاظت صورت یې نه وي خرابیږي او ضائع کیږي نو اضافه چټایاني په داسي مسجدونو کي غوړول درست دي چیري چي ضرورت وي متولي او نور د رای خاوندان مشوره ورکولای سي بېله مشوري دي نه ورکوي چي فتنه پیدا نه سي . (فتاوی محمودیه:۱٤/ ٥۸۸). **او همدا ډول وګورئ:** (فتاوی الشامی:٤/ ۳٥۹، سعید – وحاشیة الطحطاوی علی

Maktaba Tul Ishaat.com

الدر المختار: ۲/ ۵۳۷، كتاب الوقف – وامداد الاحكام: ۲/ ۲۲-۲۳۴ – وامداد المفتين: ۲/ ۶۴۱ – وفتاوى رحيميه: ۹/ ۱۲۹).

البته په پورتنۍ مسئله کې يوه دغور وړ خبره دا ده چې علامه شامي رحمه الله او علامه طحاوي رحمه الله وغيره د مسجد په زړو سامانونو کې دا فرق بيان کړي دئ چې د امام محمد رحمه الله په اند د مسجد له استغناء څخه وروسته د مالک ملکيت په هغه کې را ګرځي او د امام ابو يوسف رحمه الله په اند په بل مسجد ته نقل کيږي بيا فرمايي چې د مسجد په الاتو کې فتوی د امام محمد رحمه الله پر قول ده او په نورولو کې يې فتوی د امام ابو يوسف رحمه الله پر قول ده .

مفتي رشيد احمد په احسن الفتاوی کې همدغه اختيار کړي ده. (احسن الفتاوى: ۵/ ۴۲۵).

د علامه شامي رحمه الله عبارت وګورئ:

قوله مثله حشيش المسجد أي الحشيش الذي يفرش بدل الحصر ، كما يفعل في بعض البلاد كبلاد الصعيد كما أخبرني به بعضهم ، قال الزيلعي رحمه الله: وعلى هذا حصير المسجد وحشيشه إذا استغنى عنهما يرجع إلى مالكه عند محمد رحمه الله وعند أبي يوسف رحمه الله ينقل إلى مسجد آخر ، وعلى الخلاف الرباط والبئر إذا لم ينتفع بهما، وصرح في الخانية بأن الفتوى على قول محمد رحمه الله، قال في البحر : وبه علم أن الفتوى على قول محمد رحمه الله في آلات المسجد وعلى قول أبي يوسف رحمه الله في تأبيد المسجد، والمراد بآلات المسجد نحو القنديل والحصير، بخلاف أنقاضه لما قدمنا عنه قريباً من أن الفتوى على أن المسجد لا يعود ميراثاً ولا يجوز نقله ونقل ماله إلى مسجد آخر . (فتاوى الشامي: ۴/ ۳۵۹، مطلب فيما لوخرب المسجد او غيره).

خو د اکابرو د فتوی څخه معلوميږي چې هغوی مطلقاً د امام ابو يوسف پر قول فتوی ورکړي ده چې اسباب او سامان که آلات وي او که ټوټې وي په هيڅ يوه کې د مالک ملکيت نه راګرځي بلکې د

وقف د مالونو په شان به وي او همدا ډول د منقوله شيانو د وقف په هکله متقلمين د عدم جواز فتوی ورکوي لهذا د مالک د ملک ته راګرځېدو مسئله هم پر دغه بنا ده خو متاخرين فقهاء بالاتفاق په اشياء منقوله کي د وقف د جواز فتوی ورکوي لهذا د مالک وملک ته د راګرځېدو سوال نه پيدا کيږي. والله تعالیٰ اعلم.

يوازي په تعمير د شرعي مسجد د جوړېدو حکم

سوال: د يوه مسجد تعميراتي سلسله ختم سوي ده خو د ځينو مصلحتونو له امله متوليانو په هغه کي د جماعت لمونځ نه دئ شروع کړي څه نور کسان لمونځ پکښي کول غواړي نو ايا دا درسته ده او که نه؟ او يوازي د تعمير په پوره کېدو د شرعي مسجد احکام جاري کيږي او که نه؟

الجواب: د شرعي مسجد د جوړېدو له پاره درې شيان په کار دي:

۱_ ځکه به د مسجد له پاره وقف وي.

۲_ وقف سوي ځکه به وقف کونکي د خپل ملکيت او يا د بل چا د ملک څخه داسي جلا کړې وي چي د ده يا د بل حق به ورسره اړوند نه وي.

۳_ د متولي په اجازه سره به په هغه کي يو ځل د جماعت لمونځ سوی وي که دغه درې شيان وموندل سي نو د شرعي مسجد احکام وربانديې جاري کيږي که نه، نه به وي په پورتني صورت کي څنګه چي د جماعت لمونځ پکښي سوي نه دئ لهذا شرعي مسجد نه دئ ګرځېدلي او څوک چي لمونځ پکښي کول وغواړي هغه يې د متولي په اجازه سره کولای سي.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

من بنى مسجدًا لـم يزل ملكه عنه حتى يفرزه عن ملكه بطريقة ويأذن بالصلاة أما الإفراز فلا ؛ لأنـه لا يـخلص لله تعـالى إلا بـه ، كـذا في الـهداية .... التـسليم في الـمسجد أن تـصلي فيه الـجماعة بإذنه وعن أبي حنيفة رحمه الله فيه روايتان في رواية الحسن عنه يشترط أداء الصلاة فيه بالجماعة بإذنه اثنان فصاعدًا ، كما قال محمد رحمه الله والصحيح رواية الحسن ، كذا في فتاوى قاضي خان، ويشترط مع ذلك أن تكون الصلاة بأذان وإقامة جهرًا لا سرا ، حتى لو صلى

Maktaba Tul Ishaat.com

جماعة بغير أذان وإقامة سرا لا جهرًا لا يصير مسجدًا عندهما ، كذا في المحيط والكفاية .... وذكر الصدر الشهيد رحمه الله في الواقعات في باب العين من كتاب الهبة والصدقة : رجل له ساحة لا بناء فيها أمر قومًا أن يصلون فيها بجماعة فهذا على ثلاثة أوجه : إما أن أمرهم بالصلاة فيها أبدًا نصا ، بأن قال : صلوا فيها أبدًا ، أو أمرهم بالصلاة مطلقًا ونوى الأبد، ففي هذين الوجهين صارت الساحة مسجدًا لو مات لا يورث عنه ، وإما أن وقت الأمر باليوم أو الشهر أو السنة، ففي هذا الوجه لا تصير الساحة مسجدًا لو مات يورث عنه ، كذا في الذخيرة. (الفتاوى الهندية:۲/ ٤٥٤- ٤٥٥).

په کفایت المفتي کي راځي:

۱_ واقف چي په صحيح ډول د ځمکي مالک وو او د وقف کولو شرعي اختیارېې درلود هغه به د مسجد له پاره وقف کړی وي هغه ځمکه کي خالي عن العمارة وي او که په عمارت کي وي.

۲_ هغه به يې د خپل ملک څخه داسي جلا کړي وي چي د بل چا یا د واقف حق به اړه نه پوري لري وقف کړی به يې وي او متولي به يې سپارلي وي، متولي ته به يې سپارلي وي یا به د واقف په اجازه یو ځل د جماعت لمونځ پکښي سوی وي. (کفایت المفتی:۷/ ٦١). والله تعالی اعلم .

د مسجد له پیسو څخه د لاري د مرمت حکم

سوال: د یوه مسجد لاره ډېره خرابه سوي ده او په عام ډول لمونځ کونکي پر همدغه لاره مسجد ته ځي راځي نو ایا د مسجد له مد څخه دغه لاره جوړېدای سي ؟

الجواب: د مسجد لار د مسجد له مصالحو څخه شمېرل کیږي او د مسجد له مد څخه د مسجد پر مصالحو خرڅ کول روا دي لهذا د لاري اصلاح هم د مسجد له مد څخه روا ده.

په درمختار کي راځي:

ويبدأ من غلته بعمارته ثم ما هو أقرب لعمارته .... وفی الشامية: أی فإن انتهت عمارته وفضل من الغلة شيء يبدأ بما هو أقرب للعمارة .(الدر المختار مع الفتاوی الشامی:٤/ ٣٢٧، سعيد).

په عالمګيري کي راځي:

والأصح ما قال الإمام ظهير الدين إن الوقف على عمارة المسجد وعلى مصالح المسجد سواء، كذا فی فتح القدير. (الفتاوی الهندية:٢/ ٤٦٢ –وفتح القدير:٦/ ٢٤١، دار الفكر).

وفی السراجية: مسجد بابه على مهب الريح فيصيب المطر باب المسجد فيفسد الباب ويشق على الناس الدخول فی المسجد كان للقيم أن يتخذ ظلة على باب المسجد من غلة الوقف إذا لم يكن في ذلک ضرر لأهل الطريق. (الفتاوی السراجية، باب العمارة، ص:٣٥٤ – وكذا فی البزازية:٦/ ٢٦٠).

وفی البزازية: وفی الصغری أنفق المتولي على قناديل المسجد من مال المسجد جاز . (الفتاوی البزازية على هامش الهندية:٦/ ٢٦٩). والله تعالی اعلم.

د مسجد د پراخي له پاره د نژدې ځمکي د شاملولو حکم

سوال: يوه مسجد ته نژدې ځمکه ده او مسجد تنګ وي خو مالک يې نه ورکوي ايا په زور ورځخه هغه ځمکه رانيول کېدای سي؟

الجواب: که د فتنې او فساد بېره نه وي او مسجد ته سخت ضرورت وي داسي چي نژدې بل پراخ مسجد نه وي نو د مجبوری له امله يې په قېمت ورځخه اخيستلای سي .

Maktaba Tul Ishaat.com

په البحر الرائق کې راځي:

كذا إذا ضاق المسجد على الناس وبجنبه أرض لرجل تؤخذ أرضه بالقيمة كرهًا لما روي عن الصحابة رضي الله عنهم لما ضاق المسجد الحرام أخذوا أرضين بكره من أصحابها بالقيمة وزادوا في المسجد الحرام . (البحر الرائق:٥/ ٢٥٥، كوئتة – وكذا فی الفتاوی البزازية على هامش الهندية:٦/ ٢٦٨ – ورد المحتار:٤/ ٣٧٩، سعيد).

وفی الشامية : قال في نور العين ولعل الأخذ كرهاً ليس في كل مسجد ضاق بل الظاهر أن يختص بما لم يكن في البلد مسجد آخر إذ لو كان فيه مسجد آخر يمكن دفع الضرورة بالذهاب إليه نعم فيه حرج لكن الأخذ كرها أشد حرجاً منه ويؤيد ما ذكرنا فعل الصحابة رضي الله عنهم إذ لا مسجد في مكة سوى المسجد الحرام . (فتاوی الشامی:٤/ ٣٧٩، سعيد).

په تاریخ مکه کې راځي:

حدثنا أبو الوليد عن ابن جريج قال: كان المسجد الحرام ليس عليه جدرات محاطة، إنما كانت الدور محدقة به من كل جانب .... فضاق على الناس، فاشترى عمر بن الخطاب رضي الله عنه دورًا فهدمها، وهدم على من قرب من المسجد، وأبى بعضهم أن يأخذ الثمن، وتمنع من البيع فوضعت أثمانها في خزانة الكعبة، حتى أخذوها بعد .... ثم كثر الناس في زمان عثمان بن عفان رضي الله عنه فوسع المسجد فاشترى من قوم وأبى آخرون أن يبيعوها فهدم عليهم فصيحوا به فقال: إنما جرأكم على حلمي عنكم . (تاريخ مكة للازرقی :٤/ ٤٥٠).

خو پر دغه علامه رافعي رحمه الله دا اشکال کړی دئ چې د مکې د ځمکو بیع صحیح نه ده.

وګورئ په تقریرات رافعي کي راځي:

في شرح الوهبانية: في الاستدلال بما ذكر على قول أبي حنيفة رحمه الله نظر فإنه لا يجيز بيع أراضي مكة في الصحيح ولا إجارتها أيضاً عنده فالباني أما غاصب أو مستعير فيؤمر بأخذ عمارته وتضاف إلى المسجد لعدم تملكه. (التحرير المختار:٤/ ٨٤، سعيد).

خو څنګه چي د مکې د ځمکو د بيع په هکله فتوى د صاحبينو پر قول ده ځکه نو د علامه رافعي رحمه الله دا اشکال صحيح نه دئ.

قال في الدر المختار: وصح بيع دور مكة فتجب الشفعة فيها وعليه الفتوى أشباه قال الشامي: أفاد أن وجوبها فرع عن جواز أرضها على قولهما المفتى به وإلا فمجرد البناء لا يوجب الشفعة. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٦/ ٢٢٢، سعيد).

وأيضاً فيه: وجاز بيع بناء بيوت مكة وأرضها بلا كراهة وبه قال الشافعي رحمه الله وبه يفتى عيني. قال الشامي: قوله وأرضها، جزم به في الكنز وهو قولهما وإحدى الروايتين عن الإمام لأنها مملوكة لأهلها بظهور آثار الملكة فيها وهو الاختصاص بها شرعاً. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٦/ ٣٩٢، سعيد). والله تعالى اعلم.

د مسجد يوه حصه په لار د بدلولو حکم

سوال: ايا د مسجد يوه برخه د مسجد څخه خارجول په لاره يا سائبان يې بدلولای سي او که نه؟

الجواب: د مفتى به قول مطابق چي کله يو ځل شرعي مسجد جوړ سي نو بيا يې تر قيامته مسجديت نه ختم کيږي او نه يې څوک ختمولای سي لهذا په دې صورت کي هم د مسجد يوه برخه نه وزي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په درمختار کي راځي:

لو بنى فوقه بيتاً للإمام لايضر لأنه من المصالح أما لو تمت المسجدية ثم أراد البناء منع ولو قال عنيت ذلک لم يصدق تاتار خانية، فإذا كان هذا فى الواقف فكيف بيغره .... (الدر المختار مع فتاوى الشامي: ٤/ ٨).

وأيضاً فيه : ولو خرب ماحوله واستغنى عنه يبقى مسجداً عند الإمام والثاني أبداً إلى قيام الساعة وبه يفتى .(الدر المختار مع فتاوى الشامي: ٤/ ٣٥٨، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

چي کومه مځکه یو ځل په مسجد کي داخله سوه هغه به تر قیامته پوري مسجد وي د هیڅ ضرورت له امله د مسجد څخه نه وزي . (احسن الفتاوی: جلد٦).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

څلورم مهم او اساسي فرق د مسجدونو او نورو وقف سوو مځکو تر منځ دا دئ چي مسجد به د همېشه له پاره مسجد وي که څه هم خراب او د استعمال وړ پاتـه نه وي یا ظالمانه قبضه وربانـدي سوی وي په هر صورت کي به تر قیامته مسجد وي. (جديد فقهی مسائل: ۲)

مفتي محمد شفیع صاحب لیکي:

کوم ځای چي مسجد وګرځي اوس تر قیامته پوري مسجد دئ په هیڅ ډول یې په بل کار کي لګول حلال نه دي که څه هم د یوه مسجد په بدل کي لس مسجدونه جوړول وغواړي بیا هم دا مسجد له مسجدیت څخه نه وزي . (امداد المفتين: ٢/ ٦٣٦). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د پائپ لګولو حکم

سوال: په یوه کلي کي د باران اوبه د یو چا په مځکه کي تېرېدي اوس ده هلته دېوال او کوټه جوړ کړه او دعوه یې وکړل اوس مسجد ورنږدې دئ ځیني کسان وایي چي تر مسجد لاندي دي پائپ وایستل سي مسجد ته څه تاوان نه رسیږي د اوبو لار به جوړه سي په دې هکله شرعي فتوی څه ده؟

الجواب: د مسجد په لاندي برخه کي پائپ لګول او لوړ فرش جوړول روا نه دي يو ځل چي مسجد جوړ سو نو تر قيامته يې مسجديت نه ختم کيږي او مسجد لاندي تر تحت الثرى او لوړ تر فوق السماء پوري دئ لهذا داسي کار چي د مسجد د احترام سره منافي وي په شريعت کي اجازه نه لري.

په عالمګيري کي راځي:

قيم المسجد لا يجوز له أن يبني حوانيت في حد المسجد أو في فنائه ؛ لأن المسجد إذا جعل حانوتًا ومسكنًا تسقط حرمته وهذا لا يجوز ، والفناء تبع المسجد فيكون حكمه حكم المسجد ، كذا في محيط السرخسي . (الفتاوى الهندية:۲/ ٤٦۲).

په درمختار کي راځي:

لو تمت المسجدية ثم أراد البناء منع ولو قال عنيت ذلك لم يصدق تاتارخانية ، فإذا كان هذا في الواقف فكيف بغيره فيجب هدمه ولو على جدار المسجد ، ولا يجوز أخذ الأجرة منه ولا أن يجعل شيئًا منه مستغلا ولا سكنى ، بزازية . (الدر المختار:٤/ ۳٥۸، سعيد – وفتاوى قاضي خان على هامش الهندية:۳/ ۲۹۳).

په کفايت المفتي کي راځي:

د مسجد د صحن اطلاق پر دوو معناګانو کيږي لومړی د مسجد هغه غير مسقف برخې ته صحن ويل کيږي چي مهيا للصلاة وي يعني د جماعت د لمانځه له پاره جوړه سوی وي خو بېله چته پرېښودل سوي وي دوهم صحن هغې برخي ته هم ويل کيږي چي د لمانځه د ځای څخه وروسته د خالي ځکي او يا فرش په صورت کي پرېښودل کيږي مګر د لمانځه او جماعت د اداء کولو له پاره نه جوړيږي، د لومړني معنا په لحاظ سره صحن د مسجد برخه ده او احکام يې د مسجد په شان دي په هغه کي حوض او د اوداسه لښتي وغيره جوړول روا نه دي ځکه کوم ځای چي يو ځل مسجد سي او هغه د لمانځه له پاره ځانګړي سي بيا هغه په بل کار کي نه سي استعمالولای. (کفايت المفتى:۳/ ۱۸۲). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مسجد په احاطه كي مېوه داره درختي لګول

سوال: د مسجد په احاطه كي مېوه داره درختي په دې نيت لګول چي مېوه به يې خرڅه كړي او پيسې به يې د مسجد پر مصارفو ولګوي درست دي او كه نه؟ همدا ډول هغه مځكي چي فى الحال د مسجد په احاطه كي وي د هغو حكم څه دئ؟

الجواب: د مسجد فارغه احاطه چي خلك لمونځ نه پكښې كوي خو هغه ځاى د مسجد وي په هغه كي دوكانونه، ماركيټ، ميوه داره درخته، هوټل د مسجد د كرايې او فائدي له پاره جوړولاى سي ځكه نو د درختو اېښودل او يا د موجودو درختو څخه مېوه شكول او خرڅول روا ده .

په فتح القدير كي راځي:

وأن يبني بيوتاً يستغلها إذا كانت الأرض متصلة ببيوت المصر ليست للزراعة، فإن كان زراعتها أصلح من الاستغلال لا يبنى .(فتح القدير: كتاب الوقف:٦/ ٢٤١، دار الفكر).

قال فى البحر الرائق: مسجد فيه شجرة التفاح قال بعضهم : يباح للقوم أن يفطروا بهذا التفاح والصحيح أنه لايباح لأن ذلك صار وقفاً للمسجد يصرف إلى عمارته .(البحر الرائق، كتاب الوقف:٥/ ٢٠٤ ،كوئته – وكذا فى الفتاوى الهندية:٢/ ٤٦٠). والله ﷻ اعلم.

د مدرسې سره نژدې د مسجد جوړولو حكم

سوال: ايا د مدرسې سره نژدې د مسجد جوړولو اجازه سته ځيني كسان ودغه ته مسجد ضرار وايي د دې حكم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت كي له مدرسې سره نژدې مسجد جوړول ښه او د خير كار دئ بيا چي كله هلته نژدې بل مسجد نه وي نو د مسجد اهميت نور هم زيا تيږي د مدرسې له پاره خپل يو نظم وي د مثال په ډول د مابنام د لمانځه وروسته د مطالعي او ډوډۍ له امله د ماخوستن لمونځ په مدرسه كي ډېر ناوخته كيږي پر طالبانو د ګرځيدو او پابندلو له امله هم د مسجد جوړېدل ضروري دي نو دا مسجد يو ضرورت دئ څوك چي ورته مسجد ضرار وايي هغه پر سخته غلطي دئ دوى دي توبه وكاږي حضرت مفتي عزيز الرحمن صاحب په يوه فتوى كي ليكي:

بنه گمان ما مور به دئ لهذا کوم مسجد چي مسلمان جوړ کړي وي هغه ته د مسجد ضرار حکم نه ورکول کیږي ځکه داسي یقین نه سي کېدای چي د بل مسجد د ضرر په غرض او د ریا له پاره دي جوړ کړي وي پر خلاف د مسجد ضرار چي د هغه د بناء فساد او د جوړونکو د نیت فساد په قطعي وحي سره سوي وو . (عزیز الفتاوی:١/ ٦٠٩).

او په پورتني صورت کي د نیت فساد نه سته بلکي د ضرورت له امله دوهم مسجد جوړیږي او همدا ډول د مسجد د نړیدو اراده ډېره بده ده . والله ﷻ اعلم.

محراب د مسجد برخه ده؟

سوال: ایا محراب د مسجد جزء دئ او که نه؟ که امام په اعتکاف کي وي په محراب کي درېدل یې څنگه دي ؟

الجواب: محراب د مسجد یوه برخه او جزء دئ په محراب کي ولاړ کس په مسجد کي ولاړ بلل کیږي او په عرف کي هم په مسجد کي شمېرل کیږي .

فقهي عبارات و گورئ:

قال في البحر الرائق: وإن لم يضق المسجد بمن خلف الإمام لاينبغي للإمام أن يقوم في الطاق .... وإن كان المحراب من المسجد كما هی العادة المستمرة. (البحر الرائق:٢/ ٢٦، كوئته).

په فتاوی شامي کي راځي:

لأن المحراب إنما بني علامة المحل قيام الإمام ليكون قيامه وسط الصف كما هو السنة، لا لأن يقوم في داخله فهو وإن كان من بقاع المسجد، لكن أشبه مكاناً آخر فورثت الكراهة.

(فتاوى الشامي:١/ ٦٤٦، سعيد).

همدا ډول و گوري: (فتاوی محمودیه:١٤/ ٤٥٠، فاروقیه). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د رسول الله ﷺ د منبر د ځای تحقیق

سوال: رسول الله ﷺ فرمايي، چي زما د كور او منبر په منځ كي د جنت د باغچو څخه يوه باغچه ده په مسجد نبوي كي مونږ وينو چي منبر شريف د نبوي محراب څخه ډېر ليري دئ د نبي كريم ﷺ مصلى يا محراب خو به د مسجد په منځ كي وي نو منبر هم بايد له هغه سره وي ځكه منبر هم د مسجد په منځ كي وي او حال دا چي اوسنى منبر د مصلي څخه ډېر ليري دي دا خبره هم ليري ده چي منبر دي وروسته ليري سوى وي پر اوسني ځاى دي ايښودل سوى وي ځكه له منبر سره د رياض الجنة حدود تعلق لري د رسول الله ﷺ د مصلي سره د خرما د تني نښان لګيدلي دئ نو منبر به هم هلته وي د دغه اشكال جواب څه دئ؟

الجواب: د احاديثو د كتابو له شروحاتو څخه معلوميږي چي د رسول الله ﷺ منبر د ده مبارك له مصلي سره متصل او نژدې وو له دې څخه بحث نه دئ چي محراب وو او كه نه .

حافظ ابن حجر رحمه الله ليكي:

قال الكرماني : فقال من حيث أنه صلى الله عليه و سلم كان يقوم بجنب المنبر.... وأوضح من ذلك ما ذكره بن رشيد أن البخاري أشار بهذه الترجمة إلى حديث سهل بن سعد رضي الله عنه الذي تقدم في باب الصلاة على المنبر والخشب فإن فيه أنه صلى الله عليه و سلم قام على المنبر حين عمل فصلى عليه، فاقتضى ذلك أن ذكر المنبر يؤخذ منه موضع قيام المصلي . (فتح البارى للعسقلانى:۱/ ۵۷۵).

علامه ابن رجب الحنبلي رحمه الله فرمايي:

وأما حديث سلمة بن الأكوع رضي الله عنه، فتخريج البخاري له في هذا الباب يدل على أنه فهم منه أن المنبر كان بإزاء موقف النبي ﷺ في صلاته أو متقدماً عليه ، متنحياً عن جدار قبلة المسجد. (فتح البارى، لابن رجب الحنبلى:۲/ ۶۲۳).

وقال العلامة العينى رحمه الله: مطابقة للترجمة ظاهرة من حديث أنه صلى الله عليه وسلم كان يقوم بجنب المنبر. (عمدة القارى شرح صحيح البخارى:۳/ ۵۷۵).

په سنن ابن ماجه كي حديث دئ:

كان رسول الله ﷺ يصلي إلى جذع إذ كان المسجد عريشًا، وكان يخطب إلى ذلك الجذع .... فلما وضع المنبر، وضعوه في موضعه الذي هو فيه، فلما أراد رسول الله ﷺ أن يقوم إلى المنبر، مر إلى الجذع الذي كان يخطب إليه، فلما جاوز الجذع، خار حتى تصدع وانشق، فنزل رسول الله ﷺ لما سمع صوت الجذع، فمسحه بيده حتى سكن، ثم رجع إلى المنبر، فكان إذا صلى، صلى إليه. (رواه ابن ماجه:ص ۱۰۲).

رسول الله ﷺ به د خرما له تني سره لمونځ كاوه او له هغه سره به يې خطبه ويل بيا چي كله صحابه وو منبر كښېښودئ نو هغه يې د خرما د تني پر ځاى كښېښودئ بيا چي كله رسول الله ﷺ د منبر اراده وكړه او د خرما له تني څخه تېر سو چي پر هغه به يې خطبه ويل نو هغې اوازونه شروع كړل تر داسي اندازې چي هغه وچاودل ده مبارک ﷺ چي كله د هغې اواز واورېدئ نو راكښته سو او پر هغه يې لاس مبارک راكش كړي بيا منبر ته راغلي بيا چي كله به يې لمونځ كاوه نو د منبر سره به يې كاوه او همدا ډول د مسلمانانو په مساجدو كي دامام د مصلي سره د راسته طرفته د ايښودلو رواج دئ كه منبر دومره ليري واى چي په مسجد نبوي كي دي نو بيا به د منبر ليري كول سنت او يا مستحب واي او بل دا چي په منځ كي د منبر ايښودل معقول دي چي امام د ټولو لمونځ كونكو په منځ كي وي.

البته حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد كي ليكي:

ولم يوضع المنبر في وسط المسجد وإنما وضع في جانبه الغربي قريبًا من الحائط وكان بينه وبين الحائط قدر ممر الشاة. وكان إذا جلس عليه النبي ﷺ في غير الجمعة أو خطب

Maktaba Tul Ishaat.com

قائمًا في الجمعة استدار أصحابه إليه بوجوههم وكان وجهه صلى الله عليه وسلم قبلهم في وقت الخطبة . (زاد المعاد فی هدی خیر العباد:۱/ ۴۳۰).

دغه قول د هغو اقوالو خلاف دئ چي مخکي ذکر سوي دي.

علامه شنقیطي رحمه الله په الدر الثمین کي لیکي:

فلما تحول النبي ﷺ إلى المنبر عن الجذع قام الجذع بحنين إلى النبي ﷺ.... فاختار الجذع أن يكون من غراس الجنة وسكت عن الحنين ودفن هذا الجذع فيما بعد تحت المنبر من جهة القبلة. (الدر الثمين للشنقيطى، ص ۳۵).

او مولانا عبد الحی رحمه الله په مجموعة الفتاوی کي له وفاء الوفاء څخه نقل کوي فرمايي:

موضع المنبر لم يغير ويبعد كل البعد أن يجعل النبي ﷺ موضع منبره في طرف مسجده ولايتوسط أصحابه.

د منبر ځای نه دئ بدل سوي او دا خبره ډېره لیري ده چي نبي کریم ﷺ دي د خپل منبر ځای د مسجد په ژی کي ټاکلي وي او داصحابه وو په منځ کي دي هغه نه وي ایښي . (مجموعة الفتايو:۲۰۵).

یو بل ځای فرمايي:

وهو موافق لما روي أنه كان مائة ذراع كما سنبينه ويرجحه عندي أن المنبر الشريف يكون حينئذ متوسطاً للمسجد . (وفاء والوفاء:۱/ ۳۴۸) وبين المنبر والدرجة التي ننزل عنها إلى الحفرة التي هو مصلى رسول الله ﷺ عن يمين الإمام تسعة أذرع وقيراط وسعة الحفرة ذراع وحرر السمهودي أن المسافة بين المنبر ومكان صلاته أربعة عشر ذرعاً هكذا حرره في. (۱/ ۳۷۴)- (والبحر العميق الى بيت العتيق:۵/ ۲۸۰۸).

له پورتنی عبارت څخه معلومه سوه چي نبوي منبر د رسول الله ﷺ له مصلي سره وو خو د حافظ ابن قیم رحمه الله او د وفاء الوفاء وغیره له مشاهدې څخه معلومیږي چي منبر له محراب څخه لیري واقع

وو او تر هغه ځایه ریاض الجنة وو چي د هغه فضیلت پر یو مسلمان پټ نه دئ تطبیق یې داسي دئ چي د خطبې په وخت کي خو منبر له مصلي سره وو او کله کله به لنه اینبودل کېدئ چیري چي اوس موجود دئ چي د مصلي او محراب سره خلاص ځای پاته وي چي کله صحابه د حلقي په شکل کي موجود وي نو د رسول الله ﷺ د جمال او د صحابه وو په منځ کي به کوم حائل نه وي چي کله دی مبارک پر خپله مصلي ناست وي او مابین بیتی ومنبري روضة من ریاض الجنة د منبر د اوسني ځای طرف ته اشاره ده. والله ﷻ اعلم.

په مساجدو کي د منار تحقیق

سوال: په مساجدو کي منار له کومه وخته څخه دئ او د هغه مقصد څه دئ؟ ایا بدعت خو به نه وي؟

الجواب: مولانا سر فراز خان صاحب په راه سنت کي لیکي، چي د هغه خلاصه دا ده چي منار په اصل کي د دې لپاره جوړېږي چي پر هغه اذان وسي او تر لیري د اذان اواز اورېدل سي امام ابو داؤد رحمه الله یو ځانګړي باب قائم کړي وو باب الاذان فوق المنارة . (ابو داؤد:۱/ ۷۷).

او حضرت ابو برزه اسلمي المتوفی (٦٥) وغیره فرمايي:

من السنة الأذان في المنارة والإقامة في المسجد . (نصب الراية للعلامة الزيلعي:۱/ ۲۹۳، كتاب الصلاة، بيروت، ومصنف ابن أبي شيبة:۱/ ۲۲٤).

د اصول حدیث مسئله ده چي د مطلق سنت څخه د نبي کرمي ﷺ سنت مرادیږي . (راه سنت، ص ۳۰۵).

په الاصابه فی تمیز الصحابه کي حافظ ابن حجر رحمه الله د یوه صحابي مسلمه بن مخلد په حالاتو کي لیکي:

وقال ابن السكن : وهو أول من جعل على أهل مصر بنيان المنار. (الإصابة في تمييز الصحابة:٦/ ٩٢، حرف الميم).

Maktaba Tul Ishaat.com

ځنګه چي منار مقصود نه دئ بلکي د مسجد د پېژند ګلوي علامه او په پخوا زمانو کي د اذان د لیري رسولو علامه وه ځکه نو دا بدعت هم نه دئ خصوصا کوم شی چي د صحابه وو څخه ثابت وي. والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د مؤذن د ځای د ټاکلو حکم

سوال: په مسجد کي د امام تر شا د مؤذن له پاره مصلي هوارول ځای ټاکل په شریعت کي روا دي او که نه؟

الجواب: حضرت مفتي رشید احمد لدهیانوي هغه درست نه ګني په احسن الفتاوی کي راځي:

همدا حکم د موذن له پاره دئ د هغه له پاره د ځای خاصول او بېله مصلي هوارول صحیح نه دي مسجد ته چي هر څوک ورسیږي هر ځای چي کښېني دی یې حقدار دئ. (احسن الفتاوی:٦/ ٤٥٧).

او حال دا چي مولانا فتح محمد صاحب د مولانا عبد الحی لکهنوي صاحب شاګرد هغه صحیح ګني د حلال او حرام په احکام کي چي مشهور په عطر الهدایه سره دئ لیکي:

۲_ مباح الانتفاع د مال وقف په حکم کي دئ لکه مساجد، ځیني ځاهان، پل، لاره وغیره په هغو کي د ځینو ضروري شیانو سره د عامو خلکو حق اړه لري د مثال په ډول هر څوک په لمانځه کي د اول صف حق لري مګر امام د خطیب یا مکبر یا موذن د خصوصیاتو لحاظ ضروري دئ. (حلال حرام کی احکام: ص ٣١٦).

او همدا ډول د لیلنی منکم اولوا الاحلام والنهی څخه هم معلومیږي چي امام ته نژدې ځیني خاص کسان زیات حقدار دي.

دوهم .... فصل

د مساجد د آدابو بيان

په مسجد کي د فاتحې له پاره د کښېناستلو حکم

سوال: په مسجد کي د فاتحې له پاره د ناستي اجازه سته او که نه ايا دا د مسجد د ادابو خلاف دي؟

الجواب: اکثره کسان په مسجد کي د فاتحې له پاره جمع کيږي هلته مجلسونه کوي او غيبتونه کوي او بې ځايه خبري کوي دغه د مسجد د آدابو او د شريعت د مزاج څخه خلاف عمل دئ، البته که په مسجد کي د فاتحه اخيستونکو له پاره د وعظ، نصيحت، دعوت او تبليغ سلسله روا نه وي او د مسجد د ادابو خيال وساتل سي نو بيا په تعزيت فى المسجد کي څه باک نه سته همدا ډول هغه کسان چي فاتحې ته راځي هغوى ته د تحية المسجد ترغيب ورکړل سي او خلک په مسجد کي تحية المسجد کوي دا به يوه زياته فائده وي ځکه تحية المسجد د يوه قول مطابق سنت موکد دئ د فقهي په کتابونو کي په ځينو کي جواز او په ځينو کي عدم جواز ليکلي دئ.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

وأما الجلوس في المسجد للمصيبة فمكروه، لأنه لم يبن له وعن الفقيه أبي الليث أنه لا بأس به لأن النبي ﷺ حين بلغه قتل جعفر رضي الله عنه وزيد بن حارثة رضي الله عنه جلس في المسجد والناس يأتونه ويعزونه . (البحر الرائق:٢/ ٣٦).

په خلاصة الفتاوى کي راځي:

والجلوس فى المسجد لغير الصلاة جائز وللمصيبة. (خلاصة الفتاوى:١/ ٢٣٠).

په فتاوى شامي کي راځي:

(في غير مسجد) أما فيه فيكره كما في البحر عن المجتبى، وجزم به في شرح المنية والفتح، لكن في الظهيرية : لا بأس به لأهل الميت في البيت أو المسجد والناس يأتونهم ويعزونهم، قلت : وما في البحر من أنه صلي الله عليه وسلم جلس لما قتل جعفر رضي الله عنه وزيد

Maktaba Tul Ishaat.com

بن حارثة ﷺ والناس يأتون ويعزونه، يجاب عنه بأن جلوسه صلى الله عليه وسلم لم يكن مقصودا للتعزية، .... قلت : وهل تنتفي الكراهة بالجلوس في المسجد وقراءة القرآن حتى إذا فرغوا قام ولي الميت وعزاه الناس كما يفعل في زماننا، الظاهر، لا، لكون الجلوس مقصوداً للتعزية لاللقراءة ولا سيما إذا كان هذا الاجتماع والجلوس في المقبرة فوق القبور المدثورة، ولا حول ولا قوة إلا بالله . (فتاوى الشامي:٢/ ٢٤١، سعيد).

په حاشيه الطحطاوى كي راځي:

(قوله في غير مسجد) اعلم أن صاحب البحر تضارب كلامه فأفاد أولاً جوازه فى المسجد وآخراً كراهته وعبارته قال البقالي : ولا بأس بالجلوس للعزاء ثلاثة أيام في بيت أو مسجد وقد جلس رسول الله ﷺ أى فى المسجد لما قتل جعفر ﷺ وزيد بن حارثة ﷺ والناس يأتونه ويعزونه والتعزية فى اليوم الأول أفضل والجلوس فى المسجد ثلاثة أيام للتعزية مكروه . (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:١/ ٣٨٣، كوئته).

وللاستزادة انظر : (شرح الحموى على الاشباه والنظائر:٣/ ١٨٨ – وفتح باب العناية فى شرح النقاية:٢/ ٦٤ – والفتاوى التاتار خانية:٢/ ١٨٣). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د نکاح تړلو حکم

سوال: په مسجد کي نکاح تړل مباح ده او که مستحب؟

الجواب: په مسجد کي نکاح افضل او ښه ده خو که يې څوک ونه کړي پر هغه دي ملامتي نه وايي.

په حديث شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت : قال رسول الله ﷺ : أعلنوا هذا النكاح واجعلوه في المساجد واضربوا عليه بالدفوف . هذا حديث غريب، و عيسى بن ميمون الأنصاري يضعف في الحديث . (رواه ترمذی شریف:۱/ ۲۰۷).

په تحفة الاحوذي كي راځي:

(هذا حديث حسن غريب) كذا في النسخ الحاضرة وأورد هذا الحديث الشيخ ولي الدين في المشكاة وقال: رواه الترمذي ، وقال : هذا حديث غريب ولم يذكر لفظ حسن، وكذلك أورد الشوكاني هذا الحديث في النيل وقال : قال الترمذي : هذا حديث غريب ولم يذكر هو أيضًا لفظ حسن ، فالظاهر أن النسخة التي كانت عند صاحب المشكاة وعند الشوكاني هي الصحيحة ، ويدل على صحتها تضعيف الترمذي عيسى بن ميمون أحد رواة هذا الحديث، وقد صرح الحافظ في الفتح بضعف هذا الحديث .... قال البخاری: منكر الحديث، وقال ابن حبان: يروى أحاديث كلها موضوعات . (تحفة الاحوذی: ۸/ ۲۱۹).

قوله وهو سنة.... وأشار المصنف رحمه الله بكونه سنة أو واجباً إلى استحباب مباشرة عقد النكاح فى المسجد لكونه عبادة. (البحر الرائق:۳/ ۸۰، کتاب النکاح، کوئته).

په فتح القدير كي راځي:

ويستحب مباشرة عقد النكاح فى المسجد لأنه عبادة. (فتح القدير:۳/ ۱۸۹، دار الفكر).

په درمختار كي راځي:

ويندب إعلانه وتقديم خطبة وكونه في مسجد يوم جمعة . وفى الشامي : قوله في مسجد للأمر به فى الحديث. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۸، کتاب النکاح، سعید).

د مسجد څخه پرته بل ځای د نکاح د جواز څو دلائل وګورئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

عن أنس بن مالك ﷺ، أن عبد الرحمن بن عوف جاء إلى رسول الله ﷺ وبه أثر صفرة فسأله رسول الله ﷺ فأخبره أنه تزوج امرأةً من الأنصار . (بخارى شريف:۲/ ۷۷٤، باب الصفرة للمتزوج).

وفى رواية له عن جابر بن عبد الله ، قال : كنا مع النبي ﷺ في غزوة فلما قفلنا كنا قريبًا من المدينة تعجلت على بعير لي قطوف .... فالتفت فإذا أنا برسول الله ﷺ، فقلت : يا رسول الله إني حديث عهد بعرس، قال : أتزوجت ؟ قلت : نعم .... (بخارى شريف:۲/ ۷۸۹).

د بخاري شريف له ذكر سوو دواړو روايتونو څخه معلوميږي چي د حضرت عبد الرحمن بن عوف او حضرت جابر بن عبد الله نكاح په مسجد كي سوي نه وه كه نه د رسول الله ﷺ څخه به پټه نه واى كه څه هم دا ممكنه ده چي د مدينې منورې په كوم بل مسجد كي دي سوى وي .

وګورئ په مصنف عبد الرزاق كي راځي :

عبد الرزاق عن ابن جريج وإبراهيم بن محمد عن صالح مولى التوأمة قال: رأى رسول الله ﷺ جماعة في المسجد فقال: ما هذا ؟ قالوا : نكاح ، قال: هذا النكاح ليس بالسفاح . (مصنف عبد الرزاق:٦/ ١٨٧، باب النكاح فى المسجد).

حضرت مفتي محمود حسن صاحب ديو سائل په جواب كي چي ايا نبي كريم ﷺ د ټولو صحابه وو نكاح په مسجد كي كړي وه دى فرمايي، چي ما ته د دغه تحقيق نه سته، البته فقهاوو ليكلي دي چي د نكاح تړل په مسجد كي مستحب ده بيا وايي، چي د نبي كريم ﷺ په زمانه كي د دغه اهتمام نه كېدئ (دا چي نكاح دي په مسجد كي وي) د احاديثو له كتابو څخه معلوميږي چي د حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷺ نكاح نبي كريم ﷺ نه وه تړلي بلكي دى مبارک ﷺ وروسته خبر سوى وو همدا ډول د حضرت جابر ﷺ د نكاح معلومات هم ده مبارک ﷺ ته د جهاد څخه د راتلو وروسته سوى وو نو كه په مسجد كي نكاح سوي واى خامخا به يې ده مبارک ﷺ ته معلومات سوى واي.

(ملفوظات مفتى محمود حسن گنگوهى:ص، ٣٠).

مولانا خالد سیف الله لیکي:

چي تر کومه ځایه چي په خپله د ده مبارک ﷺ د نکاح خبره ده نو د حضرت خدیجې رضي الله عنها، حضرت سوده رضي الله عنها او حضرت عائشې رضي الله عنها نکاح خو په مکه کي سوي وه چي په مسجد کي د کېدو سوال يې نه پیدا کیږي د حضرت صفیې رضي الله عنها نکاح د خیبر د غزا څخه په راتلو کي سوي وه د حضرت ام حبیبې رضي الله عنها نکاح په حبشه کي د حضرت خالد بن سعید بن عاص په وکالت سره سوي وه نو هغه هم په مسجد کي نه وه د حضرت زینب بنت جحش رضي الله عنها او حضرت زینب بنت خزیمه رضي الله عنها نکاح په مدینه کي وه خو د دوی د نکاح په هکله د حدیث او سیرت په کتابو کي تفصیل نه سته چي نکاح يې چیري سوي وه؟

همدغه حال د ده مبارک د بنات طاهرات د نکاح هم دئ ما اصابه، اسد الغابه، طبقات ابن سعد او د سیرت او رجالو مهم کتابونه وکتل مګر د نکاح د مجلس په هکله راته معلومات ونه سو چي دا په مسجد کي سوي وه او که له مسجد څخه دباندي. (کتاب الفتاوی:٤/ ٢٧٤). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د خوب او د مسجد د شیانو د استعمال حکم

سوال: ځیني کسان په مسجد کي بیدیږي او پنکي او ایر کندیشن چلوي ایا دغه په شریعت کي روا دي او که نه؟

الجواب: د احادیثو او فقهي له عبارتونو څخه معلومیږي چي بېله ضرورته په مسجد کي بېدیدل مکروه دي، البته د ضرورت په وخت کي د خوب ګنجائش سته او همدا ډول هغه معتکف او مسافر چي د هغه له پاره ځای نه وي دی به د مسجد د ادابو لحاظ ساتي بیا ورته اجازه سته، لکه څنګه چي د ځینو صحابه کرامو څخه په مسجد کي بیدیدل ثابت دي او برق او پنکها وغیره د لمانځه په اوقاتو کي استعمالولای سي د تولي شپې له استعمال څخه دي ځان وساتي که ضرورت سي نو مصرف دي د مسجد وخاوندانو ته ورکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په سنن دارمي کي راځي:

عن أبي ذر ﷺ قال : أتاني نبي الله ﷺ وأنا نائم في المسجد، فضربني برجله، قال : ألا أراك نائماً فيه ؟ قلت : يا نبي الله غلبتني عيني. (سنن دارمی:١/ ٣٧٩/ ١٣٩٩، باب النوم فى المسجد).

په ترمذي شريف کي راځي:

وقال ابن عباس ﷺ : لايتخذه (المسجد) مبيناً ومقيلاً . (ترمذی شریف:١/ ٧٣، باب ماجاء فی النوم فی المسجد).

په درمختار کي راځي:

ويكره الإعطاء مطلقاً وأكل ونوم إلا لمعتكف وغريب. قال الشامى: وإذا أراد ذلک ينبغي أن ينوي الاعتكاف فيدخل ويذكر الله تعالى بقدر ما نوى ثم يفعل ماشاء. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:١/ ٦٦١، سعيد).

په شرح منية المصلي کي راځي:

والنوم فيه لغير المعتكف مكروه وقيل : لا بأس للغريب أن ينام فيه والأولى أن ينوي الاعتكاف ليخرج عن الخلاف . (شرح منية المصلى: ص ٦١٢).

له ځينو رواياتو څخه د مسافر له پاره جواز معلوميږي:

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن ابن عمر ﷺ قال : كنا ننام على عهد رسول الله ﷺ في المسجد ونحن شبان . قال أبو عيسى حديث ابن عمر ﷺ حديث حسن صحيح. (ترمذی شریف:١/ ٧٣).

وفى رواية البخارى: عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه أنه كان ينام وهو شاب أعزب لا أهل له في مسجد النبي ﷺ. (بخارى شريف:۱/ ٦۳).

وأيضاً رواه ابن ماجة في باب النوم فى المسجد (ص ٥٤).

وقال الشيخ عبد الغنى المجددى الدهلوى في إنجاح الحاجة: وهذه رخصة لابن السبيل والمسافر فإن ابن عمر رضي الله عنه ما كان له حينئذ أهل وأما لغيره فيكره الاعتياد بالنوم فيه ولو دخل أحد للصلاة فنام هنا فلا بأس به لأن الصحابة رضي الله عنهم كانوا يفعلون ذلك. (انجاح الحاجة: ٥٤).

په عالمګيري کي راځي:

ولو وقف على دهن السراج للمسجد لا يجوز وضعه جميع الليل بل بقدر حاجة المصلين ويجوز إلى ثلث الليل أو نصفه إذا احتيج إليه للصلاة فيه، كذا في السراج الوهاج ولا يجوز أن يترك فيه كل الليل إلا في موضع جرت العادة فيه بذلك كمسجد بيت المقدس ومسجد النبي ﷺ والمسجد الحرام، أو شرط الواقف تركه فيه كل الليل كما جرت العادة به في زماننا، كذا في البحر الرائق. (الفتاوى الهندية:۲/ ٤٥۹، الباب الحادى عشر فى المسجد ومايتعلق به).

حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوي وايي:

د مسجد برق وغيره دي د لمانځه په اوقاتو کي استعمال سي په نورو وختو کي يې چنده کونکي منع کولای سي په مسجد کي بيديدل د معتکف او مسافر له پاره روا دي د نورو له پاره مکروه دي کوم کسان چي په مسجد کي بيديږي هغوی دي لاندي يوه جامه هواره کړي چي په خوله يې د مسجد فرش خراب نه سي او د خوب په حالت کي يې د ناپاکي بېره نه وي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۲/ ۱٤۱).

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی محمودیه کې راځي:

کوم څوک چې معتکف وي او یا مسافر وي او ځای نه لري هغه ته په مسجد کې د پاته کېدلو اجازه سته او څوک چې د تهجد او د سهار د لمانځه له پاره په مسجد کې پاته کیږي هغه ته هم اجازه سته خو مسجد به د ځان له پاره د آرام ځای نه جوړ وي د مسجد پنکها او رڼا په حقیقت کې د لمانځه له پاره ده چې تر څو لمونځ کونکي عام لمونځ کوي تر هغه وخته دې استعمال کړي که یې د لمانځه څخه علاوه د نورو مقاصدو له پاره استعمالوي نو د هغه په معاوضه دې د مسجد خدمت کوي په فتاوی عالمگیري کې د مسجد د څراغ په اړه مسئله ذکر سوې ده . (فتاوی محمودیه:۱۵/ ۲۳۸). والله ﷻ اعلم.

ناپوهه کوچنیان مسجد ته راوستل

سوال: ځیني کسان وایي چې ناپوهه کوچنیان مسجد ته راوستل صحیح دي ځکه حضرات حسنین به مسجد ته راتلل او دوی به ښه تللای هم نه سوه؟

الجواب: که د کوچینانو د شور بغارو بولو غیره بېره نه وي نو مسجد ته یې د راوستلو اجازه سته که نه بیا دې ځای ورڅخه وساتي.

په حدیث شریف کې راځي:

عن واثلة بن الأسقع ، أن النبي ﷺ قال : جنبوا مساجدكم : صبيانكم ، ومجانينكم ، وشراءكم ، وبيعكم ، وخصوماتكم ، ورفع أصواتكم ، وإقامة حدودكم ، وسل سيوفكم ، واتخذوا على أبوابها المطاهر ، وجمروها في الجمع. (رواه ابن ماجة: ص ٥٤).

که د پورتنیو شیانو بېره نه وي نو په نفس جواز کې یې خبره نه سته .

په حدیث شریف کې راځي:

أن النبي ﷺ قال: إنی لأقوم فی الصلاة أريد أن أطول فيها فأسمع بكاء الصبي فأتجوز في صلاتي كراهية أن أشق على أمه . (صحيح البخاری:۱/ ۹۸).

په درمختار کي راځي:

ويحرم إدخال صبيان ومجانين حيث غلب تنجيسهم وإلا فيكره . وفى الشامية: والمراد بالحرمة كراهة التحريم لظنية الدليل ....وإلا فيكره أى تنزيهاً. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:١/ ٦٥٦، مطلب فى احكام المسجد، سعيد). والله ﷻ اعلم.

مسجد ته د ننوتلو په وخت کي د سلام کولو حکم

سوال: چي کله خلک د لمانځه ځخه مخکي مسجد ته ننوزي نو ځيني کسان سلام اچوي او ځيني يې سلام نه اچوي حکم يې څه دئ؟

الجواب: که په مسجد کي لمونځ کونکي په ذکر او تلاوت مشغول وي نو سلام دي نه کوي او که د لمانځه په انتظار کي ناست وي بيا هم سلام نه کول بنه دي، البته که لمونځ سوي وي يا خلک په خبرو مشغول وي نو سلام دي کوي.

وګورئ په عالمګيري کي راځي:

السلام تحية الزائرين والذين جلسوا فى المسجد للقراءة والتسبيح أو لانتظار الصلاة ما جلسوا فيه لدخول الزائرين عليهم، فليس هذا أوان السلام، فلا يسلم عليهم . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٢٥، الباب السابع فى السلام – وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٤/ ٢٠٦).

وفى الشامية: قال: وإذا جلس القاضي ناحية من المسجد للحكم لا يسلم على الخصوم، ولايسلمون عليه، لأنه جلس للحكم والسلام تحية الزائرين. (فتاوى الشامى:٦/ ٤١٥، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی سراجیه کې راځي:

إذا دخل المسجد بعضهم في غير الصلاة يسلم قال السيد الإمام أبو القاسم رحمه الله ولترک السلام لایکون تارکاً للسنة أشار إليه في أدب القاضي .(الفتاوى السراجيه:ص ۲۸۳، وکذا فی فتاوی الشامی:٦/ ٤١٣، کتاب الحظر والاباحة، سعید).

په کتاب الفتاو کې راځي:

په مسجد کې د داخلېدو په وخت کې سلام کول درست دي، البته په دومره لوړ اواز دې نه کوي چې که یو څوک په لمانځه کې وي نو په هغه کې خلل راسي. (کتاب الفتاوی:٤/ ٢٥٤، او فتاوی رحیمیه:٩/ ٦٨).

لهذا سلام کونکو او نه کونکو دواړو ته دي په ملامتي نه وایي. والله ﷻ اعلم.

په مسجد کې د اشعارو ویلو حکم

سوال: په مسجد کې اشعار ویل روا دي او که مکروه؟ په یوه حدیث کې په مسجد کې د اشعارو ویلو ممانعت راغلی دئ؟

الجواب: په اسلام او شریعت مطهره کې د بدو اشعار وویل په مسجد کې یا د مسجد دباندي په هر صورت کې ممنوع او ناروا دي، البته د حمد، ثناء او نعت وغیره ښه اشعار په مسجد کې ویل روا او صحیح دي.

په بخاري شریف کې راځي:

عن الزهري، قال: أخبرني أبو سلمة بن عبد الرحمن بن عوف أنه سمع حسان بن ثابت الأنصاري رضي الله عنه يستشهد أبا هريرة رضي الله عنه أنشدك الله هل سمعت النبي ﷺ يقول: يا حسان أجب عن رسول الله ﷺ اللّهم أيده بروح القدس قال أبو هريرة رضي الله عنه نعم. (صحیح البخاری:١/ ٦٤، باب الشعر فی المسجد).

په ترمذي شریف کي راځي:

عن هشام بن عروة عن أبيه عن عائشة رضي الله عنها قالت : إن النبي ﷺ يضع لحسان منبرا في المسجد يقوم عليه قائماً يفاخر عن رسول الله ﷺ .... ويقول رسول الله ﷺ : إن الله يؤيد حسان بروح القدس ما يفاخر أو ينافح عن رسول الله ﷺ. (جامع الترمذی:۲/ ۱۱۱، باب ماجاء فی انشاد الشعر – وکذا فی سنن ابی داؤد:۲/ ۲۳۸).

خو د ترمذي شریف له بل روایت څخه معلومیږي چي په مسجد کي د اشعارو ویلو څخه نبي کریم ﷺ منع کړي ده.

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده عن رسول الله ﷺ أنه نهى عن تناشد الأشعار فی المسجد .... (ترمذی شریف:۱/ ۷۳ – وکذا فی سنن النسائی:۱/ ۱۱۷ – وابن ماجة،ص ٥٤).

په دواړو روایاتو کي تطبیق وګوری:

علامه عیني رحمه الله په عمدة القاري کي فرمایي:

أن الشعر الحق لا يحرم في المسجد، والذي يحرم فيه ما فيه الخناء والزور والكلام الساقط ، يدل عليه ما رواه الترمذي مصححاً من حديث عائشة رضي الله عنها (كما مر آنفا) .... فإن قلت: روى ابن خزيمة في صحيحه .... عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده : نهى رسول الله ﷺ عن تناشد الأشعار في المساجد وحسنه الحافظان : الطوسي والترمذي ، .... قلت: .... وقد جمع ابن خزيمة في (صحيحه) بين الشعر الجائز إنشاده في المسجد وبين الممنوع من إنشاده فيه . وقال أبو نعيم الأصبهاني في كتاب التوحيد: نهى عن تناشد أشعار الجاهلية والمبطلين فيه، فأما أشعار الإسلام والمحقين فواسع غير محظور . (عمدة القاری:۳/ ٤٨٩، باب الشعر فی المسجد، ملتان – وکذا فی فتح الباری:۱/ ٤٥٩).

Maktaba Tul Ishaat.com

شاه صاحب کشمیري رحمه الله فرمایي:

وأما الأشعار ففي كتاب الطحاوي : جوازها في المسجد أي لتحصيل الأدب واللغة بشرط أن لا يتخذ لجة ، ويفصل شيء في الأشعار الأدبية في فتح القدير ، أيضاً . (العرف الشذي على هامش الترمذي:۱/ ۸۰).

وفي حاشية الترمذي للمحدث أحمد على السهارنبوري رحمه الله: والمراد المذمومة الباطلة وإلا فلا منع . (حاشية الترمذي: ص ۷۳).

په درس ترمذي کي رائحي:

په دواړو کي تطبيق دا دئ چي که اشعار د حمد، ثناء او د اسلام د دفاع له پاره وي نو د هغو ويل روا دي په بل صورت کي مکروه دي. (درس ترمذی:۲/ ۱۰۸). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د ښځو د اعتکاف حکم

سوال: د احنافو په اند ښځې په خپلو کورونو کي اعتکاف کوي حال دا چي د نبي کريم ﷺ په زمانه کي اعتکاف په مسجد کي کيدئ نو ښځې به چيري اعتکاف کوي؟

الجواب: له رواياتو څخه معلوميږي چي نبي کريم ﷺ په مسجد کي د ښځو اعتکاف ناخوښه وګاڼه او هغه يې له مسجد څخه ختم کړ ځکه نو ښځو په کور کي اعتکاف شروع کړ لهذا اوس د مسجد اعتکاف ختم سو او په کور کي اعتکاف پاته سو چي هغه حنفي فقهاوو غوره کړي دئ.

په بخاري شريف کي رائحي:

عن عائشة رضي الله عنها، أن النبي ﷺ أراد أن يعتكف فلما انصرف إلى المكان الذي أراد أن يعتكف إذا أخبية خباء عائشة رضي الله عنها وخباء حفصة رضي الله عنها وخباء زينب رضي الله عنها، فقال : آلبر تقولون بهن ثم انصرف فلم يعتكف حتى اعتكف عشرًا من شوال . (بخاری شریف:۱/ ۲۷۲).

علامه عيني رحمه الله فرمايي:

وفي رواية أبي معاوية : فأمر بخبائه فقوض أى نقض، وقال القاضي عياض : إنما قال صلى الله عليه وسلم هذا الكلام إنكاراً لفعلهن ....أن المسجد يجمع الناس ويحضره الأعراب والمنافقون وهن محتاجات إلى الدخول والخروج فيبتذلن بذلك .... وقال إبراهيم بن عبلة في قوله: آلبر يردن ؟ دلالة على أنه ليس لهن الاعتكاف في المسجد ، إذ مفهومه ليس ببر لهن، وقال بعضهم : وليس ما قاله بواضح . قلت : بلى، هو واضح لأنه إذا لم يكن براً لهن يكون فعله غير بر، أي غير طاعة، وارتكاب غير الطاعة حرام، ويلزم من ذلك عدم الجواز . (عمدة القاري: ٨/ ٢٧٦-٢٧٧، باب اعتكاف النساء، ملتان).

علامه سرخسي رحمه الله په مبسوط کي فرمايي:

ولنا: أن موضع أداء الاعتكاف في حقها الموضع تكون صلاتها فيه أفضل كما في حق الرجال وصلاتها في مسجد بيتها أفضل فإن النبي ﷺ لما سئل عن أفضل صلاة المرأة، فقال: "في أشد مكان من بيتها ظلمة". (المبسوط للسرخسى:٢٤/ ٢٣٥).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ونحن نقول : بل هذه قربة خصت بالمسجد لكن مسجد بيتها له حكم المسجد في حقها في حق الاعتكاف ؛ لأن له حكم المسجد في حقها في حق الصلاة ....لأن كل واحد منهما في اختصاصه بالمسجد سواء . (بدائع الصنائع:٢/ ١١٣، كتاب الاعتكاف، سعيد).

په تحفة الاخيار کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت: لو رأي رسول الله ﷺ ما أحدث النساء بعده لمنعهن المساجد كما منعت نساء بني إسرائيل . قال أبو جعفر :.... وإذا كن كذلك في حياة عائشة رضي الله عنها كن

Maktaba Tul Ishaat.com

بعد موتها من ذلک أبعد فإذا کان ذلک کذلک عقلنا أنه إن کان لهن أن یعتکفن فإنما یکون ذلک منهن في خلاف المساجد لا فی المساجد . (تحفة الاخیار:۳/ ۸۱/ ۱٤۹۹، کتاب الصوم).

په بخاري شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها، زوج النبي ﷺ أن النبي ﷺ کان یعتکف العشر الأواخر من رمضان حتی توفاه الله ثم اعتکف أزواجه من بعده. (بخاری شریف:۱/ ۲۷۱).

ملا علي قاري رحمه الله فرمایي:

(قوله ثم اعتکف أزواجه) أي في بیوتهن لما سبق من عدم رضاءه علیه الصلاة والسلام لفعلهن، ولذا قال الفقهاء : یستحب للنساء أن یعتکفن في مکانهن . (مرقات:٤/ ۳۲٦). والله ﷻ اعلم .

په مسجد کي سائل ته د څه ورکولو حکم

سوال: په مسجد کي سائل مستحق ګڼل او څه ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: د مسجد د ادابو په لحاظ سائلو سره په ناځاپي ډول یو چا سوال وکړ او څه یې ورکړل نو روا دي، البته که سائل سوال کول خپل عادت ګرځولي وي نو نه دي ورکوي ځکه دا د مسجد د ادابو خلاف دئ.

وګورئ په سنن ابی داود کي راځي:

عن عبد الرحمن بن أبی بکر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « هل منکم أحد أطعم الیوم مسکینًا ». فقال أبو بکر رضي الله عنه : دخلت المسجد فإذا أنا بسائل یسأل فوجدت کسرة خبز فی ید عبد الرحمن فأخذتها منه فدفعتها إلیه. (سنن ابی داؤد:۱/ ۲۳۵).

په فتح الملهم کي راځي:

قلت: .... وقد قال بعض السلف: لايحل إعطاءه فيه لما في بعض الآثار «ينادى يوم القيامة ليقم بغيض الله فيقول سوال المسجد» وفصل بعضهم بين من يوذى الناس بالمرور ونحوه فيكره إعطاءه لأنه إعانة له على ممنوع وبين من لايوذى فيسن إعطاءه لأن السوال كانوا يسالون على عهد رسول الله ﷺ في المسجد. (فتح الملهم:٤/ ١٦١).

په فتاوی شامي کي راځي:

والمختار أن السائل إن كان لا يمر بين يدي المصلي ولا يتخطى الرقاب ولا يسأل إلحافاً بل لأمر لا بد منه فلا بأس بالسؤال والإعطاء ومثله في البزازية وفيها ولا يجوز الإعطاء إذا لم يكونوا على تلك الصفة المذكور. (فتاوى الشامي:٢/ ١٦٤، سعيد – وكذا في بذل المجهود:٨/ ٢١٨ – والفتاوى البزازية:١/ ٧٦ – والفتاوى الحمادية:٤/ ٧٦).

په الدر المنضود کي راځي:

د جمهورو په اند سوال في المسجد روا او ورکړه يې هم روا ده مګر که سائل کومه بې ادبي وکړي نو بيا سوال او ورکړه دواړه ناروا دي دا د جمهورو مسلک دئ او د احنافو په اند سوال في المسجد مطلقاً حرام دئ او په ورکړه کي يې دوه قوله دي.

۱_ مطلقا کراهت.

۲_ په ورکړه کي يې کراهت هلته دئ چي کله سائل تخطي رقاب وکړي که نه نه دي او اصح همدغه قول دئ. (الدر المنضود:٣/ ١٢٦). والله ﷻ اعلم.

په لوی مسجد کي د صفونو د اتصال پر ته د لمانځه حکم

سوال: په لويو مساجدو کي ډېر وخت داسي کيږي چي د صفونو د اتصال پر ته خلک لمونځ کوي يعني په منځ کي يې ډېره خلا پاته وي په دې صورت کي د شريعت حکم څه دئ، په حرمينو کي اکثره داسي کيږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: د پورتنی مسئلې په هکله په فتاواوو کې مختلف عبارتونه موندل کېږي په ځینو فتاواوو کې لیکي چې په لوی مسجد کې ډېر فصل له اقتداء څخه مانع ګرځي او په ځینو نورو کې دا قید نه سته د اوسنی زمانې حالاتو ته په کتلو سره په لوی مسجد کې بېله قیده لمونځ درست دئ ځکه د حرمینو مساجد، مسجد حرام او مسجد نبوي ډېر پراخ دي او په عامو ورځو کې یې د صفونو اتصال نه وي نو د زرګونو انسانانو لمنځونه به خراب سي بیا علامه طحاوي د دې له پاره یوه ښه توجیه کړې ده چې کله د امام حالت مقتدیانو ته څرګند وي نو د اتحاد د مکان له امله اقتداء صحیح ده.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

والمسجد وإن كبر لا يمنع الفاصل إلا في الجامع القديم بخوارزم فإن ربعه كان على أربعة آلاف أسطوانة، وجامع القدس الشريف أعني ما يشتمل على المساجد الثلاثة الأقصى والصخرة والبيضاء. (فتاوى الشامى:١/ ٥٨٥، سعيد).

په فتاوی عالمګیري کې راځي:

والمسجد وإن كبر لايمنع الفاصل فيه .... ولو اقتدى بالإمام في أقصى المسجد والإمام في المحراب فإنه يجوز. (الفتاوى الهندية:١/ ٨٨، الباب الخامس فى الامامة).

په امداد الفتاح کې راځي:

والمسجد وإن كبر لايمنع الفاصل ... (امداد الفتاح:ص ٣٣٥).

په حاشیة الطحطاوي کې راځي:

والفضاء الواسع فى المسجد لايمنع وإن وسع صوفاً لأن له حكم بقعة واحدة كذا فى الأشباه من الفن الثاني، فلو اقتدى بالإمام في أقصى المسجد، والإمام فى المحراب جاز كما فى الهندية، قال البزازى: المسجد وإن كبر لايمنع الفاصل فيه إلا فى الجامع القديم بخوارزم فإن ربعه كان على أربعة آلاف أسطوانة، وجامع القدس الشريف أعني ما يشتمل

على المساجد الثلاثة، الأقصى والصخراء، والبيضاء كما فى الحلبي والشرح، والظاهر ان ذلک لاشتباه حال الإمام على المأموم لا لاختلاف المكان . (حاشية الطحطاوى على مراقي الفلاح: ۲۹۳).

وللاستزادة انظر: (الدرر على الغرر:١/ ٩٢ – وشرح منية المصلى: ص ٥٢٤ – والفتاوى البزازية: ٤/ ٥٥). والله ﷻ اعلم.

د مسجد څخه د څپلي پورته کولو حکم

سوال: په مساجدو یا حرمینو کې د یو چا څپلې بدله سوه بل چا ده څپلې یو وړه او د هغه څپلې پاته سوه نو د هغه د څپلیو استعمال څنګه دئ؟

الجواب: که د ده په زړه کې داوي چې د څپلیو د خاوند له طرفه به په ظاهره د استعمال اجازه وي نو د هغه استعمال روا دئ که نه ځان دي ځیني وساتي .

په فتاوی سراجیه کې راځي:

قوم أصابوا مذبوحاً في طريق البادية وقد وقع في قلبه أن صاحبه قد فعل إباحة للناس لا بأس بأكله. (الفتاوى السراجية:ص ٣٠٧). والله ﷻ اعلم.

د مسجد د امام یوه مسئله

سوال: د مسجد یوه امام ته دېرش کاله مخکې د لمانځه په منځ کې د بولو د څاڅکي د لوېدو احتمال او یا غالب ګمان سوی وه خو هغه وخت یې مُقتدیانو ته خبر ورکړي نه وو اوس به یې تلافي څنګه کوي؟

الجواب: په دې صورت کې باید چې هغه وخت امام اعلان کړی وای چې خلکو لمونځ راګرځولي وای د احنافو اصلي مذهب خو دا دئ چې د امام لمونځ د مقتدی لمانځه ته متضمن دئ د دغه تشریح په دوهم جلد، تېره سوي ده خو په اوسنی حالت کې مشکلاتو ته په کتلو سره د فقهاوو په اند یوه جزئیه موندل کیږي چې له هغه څخه دا معلومیږي چې اعلان ضروري نه دئ.

وګوري په تحفة الملوک کې راځي:

Maktaba Tul Ishaat.com

ولو ظهر حدث الإمام أعاد المأموم لقوله صلى الله عليه وسلم : أيما رجل صلى بقوم ثم تذكر جنابةً أعاد، وأعادوا. (فصل فی الجماعة:۱/ ۸٤٦).

دغه په شرح کي محمد بن عبد اللطيف بن عبد العزيز بن ملک ليکي:

هذا إذا علم المأموم حدث إمامه وإن لم يعلموا لايجب عليهم الإعادة ولا على الإمام بأنه صلى على غير طهارة ولايأثم بتركه الإعلام . (شرح تحفة الملوک:۱/ ۸٤۷، بتعليق عبد المحيد الدويش).

درمختار او شامي هم د عدم اخبار قول د ځينو فقهاوو څخه نقل کړی دئ:

وصحح في مجمع الفتاوى عدمه أي الإخبار مطلقاً لكونه عن خطأ معفو عنه لأنه لم يتعمد ذلک . (۱/ ۵۹۱).

په متن کي چي د کوم حديث حواله ورکول سوي ده: ((أيما رجل صلى بقوم ثم تذكر جنابةً أعاد، وأعادوا)) **له نصب الرايه څخه نقل کوي چي دغه روايت غريب دئ او ابن حجر** لم اجده مرفوعاً **ليکلي دي:**

البته د سعيد بن مسيب څخه مرسلا مروي دئ:

أن رسول الله ﷺ صلى بالناس وهو جنب وأعاد وأعادوا .

دغه روايت مرسل دئ او د هغه په سند کي ابو جابر البياض متروک دئ يحيى بن معين هغه کذاب بللي دئ او د دې په مقابل کي په دار قطني کي له براء بن عازب څخه مروي دئ.

قال رسول الله ﷺ : أيما إمام سها فصلى بالقوم وهو جنب فقد مضت صلاتهم ثم ليغتسل هو ثم ليعد صلاته الخ .

مګر دغه روایت هم ضعیف دئ په هغه کي جویبر متروک دئ. (تعلیق عبد المجید الدرویش علی شرح تحفة الملوک:۱/ ۸٤٦).

د شرح تحفة الملوک مصنف محمد بن عبد الطیف المتوفی، (۸۵۴) چي د ابن ملک په نامه سره مشهور دئ سائد بکداش د منية الصيادين په مقدمه کي د هغه حالات ليکي او فرمايي:

هو الإمام المحدث الفقيه الحنفى المعتبر محمد بن عز الدين عبد اللطيف بن عبد العزيز بن أمين الدين بن فرشته الرومى .

چي د تصاينفو خاوند عالم وه چي يو څو تصانيف يې دا دي:

۱_ شرح مصابيح السنة للبغوى .

۲_ شرح الوقاية .

۳_ شرح تحفة الملوک للرازي .

٤_ منية الصيادين في تعلم الاصطياد واحكامه .

٥_ روضة المتقين في مصنوعات رب العلمين فى المواعظ والعبادات .

د ده د حالاتو حواله يې د منية الصيادين په تعليقاتو کي له دغو کتابو څخه ورکړي ده:

۱_ کتاب العلام الاخيار من فقهاء مذهب النعمان المختار للكفوى رحمه الله.

۲_ الشقائق النعمانية في علماء الدولة العثمانية .

۳_ کشف الظنون لحاجي خليفة .

٤_ الفوائد البهية فى تراجم الحنفية لعبد الحي اللكنوي رحمه الله، السعاية، وعمدة الرعايه

٥_ هدية العارفين لاسماعيل باشا البغداى .

٦_ الاعلام للزركلى .

Maktaba Tul Ishaat.com

۷_ معجم المؤلفين لعمر رضا كحالة وغيره . (مقدمة منية الصيادين لسائد بكداش، ص ۱۱).

د هغه والد عز الدين عبد اللطيف هم صاحب د تصايفو محقق عالم تېر سوی دئ د شرح تحفة الملوک په مقدمه کي هم محقق د هغه حالات ليکلي دي.

دا تعارف د دې امله وليکل سو چي يو ځل په يوه فتوی کي بنده د شرح تحفة الملوک حواله ورکړل نو ځينو مفتيانو دا اشکال وکړ چي د غير مشهور (کتاب حوالي له کومه ځايه راغلي د مصنف ځيني تصنيفات لکه منية الصيادين خو د اعلی تصانيفو څخه شمېرل کيږي ياده دي وي چي د تحفة الملوک متن د محمد بن ابی بکر الرازي المتوفی: (٦٦٦) کتاب دي حاصل دا دئ چي تر کومه ځايه چي ممکنه وي لمونح کونکي دي خبر کړي که ښځي مشکله وي نو پر دغه قول عمل کېدای سي . والله ﷻ اعلم.

امام ته د لمونځ کونکو طرف ته د ګرځېدو حکم

سوال: په فتاوی دار العلوم زکريا کي دا مسئله ليکل سوي ده چي ښه دا ده چي امام راسته طرف ته د مقتديانو پر طرف وګرځي ايا د راسته څخه د لمونځ کونکو راسته طرف مراد دئ يا د قبلي راسته طرف مراد دئ چي د فقهاوو په اند د لمونځ کونکو چپه طرف دئ؟

الجواب: ياده دي وي چي يو جانب پر خپل ځان لازمول درست نه دي بلکي دواړو طرفونو ته ګرځېدل درست دي د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په روايت کي ذکر سوی دي چي چا يو جانب لازم کړ يعني راسته طرف هغه په خپل لمانځه کي د شيطان برخه وساتل نبي کريم ﷺ چپه او راسته دواړو طرفو ته يې مخ اړ وي او بيا به تلي . (مسلم شريف:۱/ ۲٤۷، شرح مسلم:۱/ ۲٤۷).

د بيهقي په سنن کبری کي راځي:

چي ده مبارک بيله ځپليو او په ځپليو کي او په ولاړي او په ناستي لمونځ کاوه او د راسته او چپه طرف څخه به تلی . (سنن کبری:۲/ ۲۹۵).

په ابن ماجه: (ص ٦٦) کي هم همدغه مضمون دئ د حضرت انس رضي الله عنه همدغه عمل وو او چا
چي به راسته طرف ته ډېر همیت ورکاوه پر هغه به یې اعتراض کاوه. (بخاري شریف: ۱/ ۱۱۸)

واسع بن حبان وایي چي ابن عمر به دېواله ته تکیه لګول او کېناستي به زه چي د لمانځه څخه فارغ سوم د چپه طرفه وګرځېدم او ده ته راغلم پوښتنه یې وکړه ولي د راسته طرف څخه نه راغلې ما ورېل ستا طرف ته مو د راګرځېدو اراده وه ابن عمر وویل ښه دي وکړل ځیني کسان راسته طرف لازم ګڼي دا خو ستا خوښه وه که راسته طرف ته ګرځي او که چپه طرف ته. (مؤطا مالک: ۱۵۵).

په ترمذي کي هم همدغه ذکر سوي دي: (۱/ ٦٦).

خو د دې ټولو سره سره ښه دا دي چي یمین ته ترجیح ورکړي حضرت انس رضي الله عنه فرمایي، چي رسول الله ﷺ به اکثره راسته طرف ته ګرځېدئ. (مسلم: ۱/ ۲٤۷).

امام نووي رحمه الله د هغه په شرح کي لیکي چي یمین ښه ده ځکه د عامو احادیث مدلول همدغه دي. (شرح مسلم: ۱/ ۲٤۷).

په اوجزء کي راځي چي حسن به د لمانځه څخه راسته طرفته ګرځېدل خوښول. (اوجزء: ۳/ ٤۹۷).

اوس د یمین څخه کوم جانب مراد دئ نو د شامي د عبارت څخه معلومیږي چي د مصلي د یمین اعتبار دئ.

في شرح المنية: أن انحرافه عن يمينه أولى وأيده بحديث في صحيح مسلم. (شامي: ۱/ ۵۳۱).

په مسلم شریف کي راځي:

عن البراء رضي الله عنه قال: كنا إذا صلينا خلف رسول الله ﷺ أحببنا أن نكون عن يمينه يقبل علينا بوجهه. (مسلم: ۱/ ۲٤۷).

Maktaba Tul Ishaat.com

په مراقي الفلاح کي راځي:

وإن شاء انحرف عن يمينه وجعل القبلة عن يساره، وهذا أولى. (مراقى الفلاح:ص ۱۱۷).

له دې ځخه وروسته که کور ته تلل وغواړي نو له کوم طرف ځخه به ځي امام نووی رحمه الله ليکلي دي چي که دواړه طرفونه ورته برابر وي يوه طرف ته يې ضرورت نه وي نو يمين ښه ده او شامي هغه نقل کړي دي او هغه يې منلي ده. (۱/ ۵۳۱).

احسن الفتاوى هم ليکلي دي چي ده مبارک به په تللو کي او د مقتديانو طرف ته په مخ گرځولو کي راسته طرف خوښاوه. (احسن الفتاوى:۳/ ۳٦۸).

مولانا ظفر احمد عثماني فرمايي:

چي نبي کريم ﷺ به د مقتديانو طرف ته د مخ گرځولو په وخت کي راسته طرف ته گرځېدئ او کور ته د تشريف وړلو په وخت کي به يې چپه طرف يعني د لمونځ کونکو چپه طرف غوره کاوه څنګه چي سرايونه د هغه طرف ته وه او همدغه د قبلې يمين او د مصلي چپه طرف دئ او همدغه د قبلې يمين او د مصلي يسار دئ نو د حضرت راى دا ده چي که چا په کور کي سنت کول غوښتل نو د نبي کريم ﷺ مشابهت دي اختيار کړي د قبلې يمين چي د لمونځ کونکو يسار دئ د هغه اختيارول ښه دي. (اعلاء السنن: ۳/ ۱۸٦). والله ﷻ اعلم.

په مساجدو کي د جهري دعاء حکم

سوال: په مساجدو کي کله کله امام په جهر سره دعاء کوي په دعاء کي ښه طريقه کومه ده او کله کله د جهر دعاء حکم څه دئ؟

الجواب: په دعاء کي کرار والي افضل دئ، البته کله کله په جهر سره دعاء کول هم روا او صحيح دي په خاصه توګه د عوامو په مسجدونو کي په جهر دعاء کول زياته مناسبه معلوميږي چي عوام د خپلو امامانو څخه طريقه زده کړي او د قرآن او حديث پر دعاګانو د آمين ويلو سعادت تر لاسه کړي خو کله کله دي دعاء کراره کوي چي خلک جهري دعاء ضروري ونه ګڼي.

قال الله تعالى : ﴿ ادعوا ربكم تضرعًا وخفيةً ﴾.... قال العلامة الآ لوسى البغدادى الحنفي رحمه الله: الإخفاء أفضل عند خوف الرياء والإظهار أفضل عند عدم خوفه ، وأولى منه القول بتقديم الإخفاء على الجهر فيما إذا خيف الرياء أو كان في الجهر تشويش على نحو مصل أو نائم أو قارئ أو مشتغل بعلم شرعي ، وبتقديم الجهر على الإخفاء فيما إذا خلا عن ذلك وكان فيه قصد تعليم جاهل أو نحو إزالة وحشة عن مستوحش أو طرد نحو نعاس أو كسل عن الداعي نفسه أو إدخال سرور على قلب مؤمن أو تنفير مبتدع عن بدعة أو نحو ذلك ، ومنه الجهر بالترضي عن الصحابة رضي الله عنهم والدعاء لإمام المسلمين في الخطبة. (تفسير روح المعانى:۸/ ۱٤۰).

اعلاء السنن كي راځي:

عن النبي ﷺ أنه قال: خير الدعاء الخفي. رواه ابن حبان في صحيحه . وعن أنس رضي الله عنه مرفوعاً دعوة فى السر تعدل سبعين دعوة فى العلانية.... (اعلاء السنن:٦/ ۱۱۱).

په عمل اليوم والليله كي راځي:

عن صهيب رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ كان يحرك شفتيه بعد صلاة الفجر بشيء ، فقلت : يا رسول الله ، إنك تحرك شفتيك بشيء ما كنت تفعل ، ما هذا الذي تقول ؟ قال : « أقول : اللّٰهم بك أحاول ، وبك أصاول ، وبك أقاتل ». (عمل اليوم والليلة:۱/ ۳۲).

أخرج ابن المبارك .... عن الحسن قال : لقد كان المسلمون يجتهدون في الدعاء وما يسمع لهم صوت إن كان إلا همسا بينهم وبين ربهم وذلك أنه تعالى يقول : ﴿ ادعوا ربكم تضرعاً وخفيةً ﴾ وأنه سبحانه ذكر عبداً صالحا فرضي له فعله فقال تعالى : ﴿ إذ نادى ربه نداءً

Maktaba Tul Ishaat.com

خفیا ﴾ وفي رواية عنه أنه قال : بين دعوة السر وبين دعوة العلانية سبعون ضعفاً. وجاء من حديث أبي موسى الأشعري ﷺ أنه صلى الله عليه وسلم قال لقوم يجهرون : «أيها الناس اربعوا على أنفسكم إنكم لا تدعون أصم ولا غائباً إنكم تدعون سميعاً بصيراً وهو معكم وهو أقرب إلى أحدكم من عنق راحلته» والمعنى ارفقوا بأنفسكم واقصروا من الصياح في الدعاء.

(روح المعانى:٨/ ١٣٩).

مولانا ادریس صاحب لیکي:

د خپل پروردګار څخه دعاء وغواړي په عاجزي او په پټه سره يعني د دعاء ادب دا دئ چې په عاجزي به وي او په کراره به وي معلومه سوه چې په دعاء کي د کرار والي په نسبت جهر اولی دئ .

(معارف القرآن:٣/ ١٣٧).

خو کله د مصلحت له امله جهر کول صحيح دي .

د مطلق دعاء بالجهر احاديث وګورئ:

عن ابن عباس ﷺ قال: قال النبي ﷺ: وهو في قبة يوم بدر : اللّٰهم إني أنشدك عهدك ووعدك اللّٰهم إن تشت إن لم تعبد بعد اليوم فأخذ أبو بكر ﷺ بيده، فقال: حسبك يا رسول الله، فقد ألححت على ربك وهو في الدرع فخرج وهو يقول : سيهزم الجمع ويولون الدبر . بل الساعة موعدهم والساعة أدهى وأمر. (رواه البخارى:١/ ٤٠٩).

عن أبي هريرة ﷺ، قال: كان النبي ﷺ يدعو في القنوت اللّٰهم أنج سلمة بن هشام اللّٰهم أنج الوليد بن الوليد اللّٰهم أنج عياش بن أبي ربيعة اللّٰهم أنج المستضعفين من المؤمنين .... الخ. (رواه البخارى:١/ ٤١١، باب الدعاء على المشركين).

دغه دعاء جهراً وه صحابه کرامو واوریده؛

عن حبيب بن مسلمة الفهري و كان مجاب الدعوة أنه أمر على جيش فدرب الدروب فلما أتى العدو قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول : لا يجتمع ملأ فيدعو بعضهم و يؤمن البعض إلا أجابهم الله ثم إنه حمد الله و أثنى عليه ثم قال : اللّٰهم احقن دمائنا و اجعل أجورنا الشهداء .... (المستدرک علی الصحیحین:٣/ ٤٢٨/ ٥٤٧٨).

قال الهیثمی : رواه الطبرانی ورجاله رجال الصحیح غیر ابن لهیعة وهو حسن الحدیث. (مجمع الزوائد:١/ ١٧٠، باب التأمین علی الدعاء، دار الفکر).

حضرت حبیب بن مسلمه فهري مستجاب الدعوات صحابي وو دی دیوه لښکر امیر وګرځېدئ ده روم ته د تلو تیاري وکړه چې کله له دښمن سره مخامخ سو نو ده خلکو ته وویل چې ما د نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چې کوم جماعت چې پریوه ځای جمع سي او په هغو کې یو تن دعاء کوي او نور ټول آمین وایي نو الله تعالی خامخا دعاء قبلوي بیا حضرت حبیب د الله حمد او ثناء بیان کړل او دغه دعاء یې وغوښته اې الله ! زموږ د وینو حفاظت وکړې او د شهیدانو اجر راکړې . (حیاة الصحابه مترجم:٣/ ٣٥٣).

حضرت مفتي محمود حسن صاحب فرمایي له دغه حدیث څخه معلومیږي چې اجتماعي دعاء یوازې مشروع نه ده بلکې اقرب الی الاجابة ده . (ملفوظات:ص ١٧).

قوله تعالى: ﴿ قد أجيبت دعوتكما ﴾ قال أبو العالية، وأبو صالح، وعكرمة، ومحمد بن كعب القرظي، والربيع بن أنس: دعا موسى عليه السلام وأمن هارون عليه السلام، أي: قد أجبناكما فيما سألتما من تدمير آل فرعون، وقد يحتج بهذه الآية من يقول: إن تأمين المأموم على قراءة الفاتحة ينزل منزلة قراءتها؛ لأن موسى عليه السلام دعا وهارون عليه السلام أمن". (تفسير القرآن العظيم:٢/ ٤٧٠).

Maktaba Tul Ishaat.com

وعن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ رفع رأسه بعد ما سلم وهو مستقبل القبلة، فقال: "اللّٰهم خلص سلمة بن هشام وعياش بن أبي ربيعة والوليد بن الوليد وضعفة المسلمين الذين لا يستطيعون حيلة ولا يهتدون سبيلاً، قلت: في الصحيح أنه قنت به. رواه البزار وفيه علي بن زيد وفيه خلاف، وبقية رجاله ثقات. (مجمع الزوائد: ۱۰/ ۱۵۲).

۱_ أخرج الطبراني في الأوسط عن قيس المدني أن رجلاً جاء زيد بن ثابت رضي الله عنه فسأل عن شيء فقال له زيد: عليک بأبي هريرة رضي الله عنه فبينا أنا وأبو هريرة رضي الله عنه وفلان في المسجد ندعو ونذكر ربنا عزوجل إذخرج إلينا رسول الله ﷺ حتى جلس إلينا فسكتنا فقال: « عودوا للذي كنتم فيه ». فقال زيد: فدعوت أنا وصاحبي قبل أبي هريرة رضي الله عنه وجعل النبي ﷺ يؤمن على دعائنا، ثم دعا أبوهريرة رضي الله عنه فقال: اللّٰهم! إني سائلک بمثل ما سالک صاحباى وأسالک علماً لاينسى، فقال النبي ﷺ: سبقكما بها الغلام الدوسي ». قال الهيثمي (۹/ ۳٦۱): وقيس هذا كان قاص عمر بن عبد العزيز لم يروعنه غير ابن محمد، وبقية رجاله ثقات.

انتهى.

ترجمه: حضرت قيس مدني وايي، يو څوک د حضرت زيد بن ثابت په خدمت کي حاضر سو د يوه شي په هکله يې پوښتنه وکړه هغه وفرمايل، ته ولاړ سه دا خبره د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه وپوښته ځکه يو ځل ما او حضرت ابو هريره او فلاني کس دري واړو په مسجد کي دعاء کول او د خپل رب ذکر مو کاوه چي په دغه وخت کي نبي کريم ﷺ راغلي او زموږ سره کښيناستی نو موږ پټه خوله سو نو ده مبارک وفرمايل، چي څه مو کول هغه کوي نو ما او زما ملګري د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه مخکي دعاء وکړل او ده مبارک زموږ پر دعاء آمين وايه بيا حضرت ابو هريره رضي الله عنه داسي دعاء وکړل چي اې الله! زما دواړو ملګرو چي ستا څخه څه غوښتي دي زه هغه هم ستا څخه غواړم او داسي علم هم غواړم چي کله مو هم هير نه سي، ده مبارک ورباندي آمين ووايه موږ عرض وکړيا

رسول الله ! موږ هم د الله ﷻ څخه هغه علم غواړو چي کله يې هم هير نه کړو ده مبارک وفرمايل، چي دغه د دوسي قبيلې ځوان يعني حضرت ابو هريره رضي الله عنه ستاسو څخه وړاندي سو .

وأخرج ابن سعد (۳/ ۲۷۵) عن جامع بن شداد عن ذی قرابة له قال: سمعت عمر بن الخطاب رضي الله عنه يقول: ثلاث كلمات إذا قلتها فهيمنوا عليها! اللّٰهم إني ضعيف فقوني! اللّٰهم انی غليظ فليني! اللّٰهم إني بخيل فسخني . (په دغه کي ذی قرابت معلوم نه دئ خو د روايت يوازي د تائيد له پاره وړاندي سوی دئ)

د جامع بن شداد يو قريب وايي چي ما د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه واورېدل چي درې دعاګاني داسي دي چي کله يې زه غواړم نو تاسو پر هغه آمين ووايـاست، اې الله ! زه کمزوري يم ما ته قوت راکړه، اې الله ! زما زړه سخت دئ ما نرم کړه، اې الله زه بخيل يم ما سخي کړه.

وأخرج أيضاً (۳/ ۳۲۱) عن السائب بن يزيد قال: نظرت إلى عمر بن الخطاب رضي الله عنه يوماً فی الرمادة غداً متبذلاً متضرعاً عليه برد لايبلغ ركبتيه يرفع صوته بالاستغفار وعيناه تهرقان علی خديه، وعن يمينه العباس بن عبد المطلب رضي الله عنه فدعا يومئذ وهو مستقبل القبلة رافعاً يديه إلى السماء وعج إلى ربه فدعا ودعا الناس معه ثم أخذ بيد العباس رضي الله عنه فقال: اللّٰهم إنا نستشفع بعم رسولک إليک، فما زال العباس رضي الله عنه قائماً إلى جنبه ملياً والعباس رضي الله عنه يدعو وعيناه تهملان .

حضرت سائب بن يزيد وايي چي د قحطۍ په زمانه کي حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه وليدئ چي د سهار په وخت کي يې ساده جامي اغوستي وي په عاجزي او مسکنت سره روان وو او د ده پر بدن يو کوچني پټو وو چي تر ځنګنو هم نه رسېدئ په لوړ اواز يې د الله ﷻ څخه معافي غوښته او د سترګو اوښکي يې پر مخ بهيدي او د ده راسته طرف ته عباس بن عبد المطلب وو په هغه ورځ يې د قبلې لوري ته مخ کړل لاسونه يې د اسمان طرف ته پورته کړ ډېر په عاجزي يې دعاء غوښته خلکو هم ورسره دعاء غوښته بيا يې د حضرت عباس رضي الله عنه لاس ونيوی وېې ويل، اې الله ! موږ ستا د رسول اکا

Maktaba Tul Ishaat.com

متا په وړاندي شفاعت كونكي جوړ وو بيا حضرت عباس ﷺ تر ډېره د حضرت عمر ﷺ څنګ ته ولاړ وو دعاء يې كول د هغه له سترګو څخه هم اوښكي بهيدي.

وأخرج ابن سعد (۳/ ۲۹٤) عن أبي سعيد مولى أبي أسيد قال: كان عمر بن الخطاب ﷺ يعس المسجد بعد العشاء فلا يرى فيه أحدا إلا أخرجه إلا رجلاً قائما يصلي، فمر بنفر من أصحاب رسول الله ﷺ فيهم أبي ابن كعب ﷺ فقال: من هؤلاء؟ فقال أبي: نفر من أهلك يا أمير المؤمنين! قال: ما خلفكم بعد الصلاة؟ قالوا: جلسنا نذكر الله، قال: فجلس معهم ثم قال لأدناهم إليه: خذ! قال فدعا فاستقرأهم رجلاً رجلاً يدعون حتى انتهى إلي وأنا إلى جنبه فقال: هات! فحضرت وأخذني من الدعاء إفكل حتى جعل يجد مس ذلک مني فقال: ولو أن تقول: اللّٰهم اغفرلنا! اللّٰهم ارحمنا! قال: ثم أخذ عمر ﷺ فما كان فى القوم أكثر دمعة ولا أشد بكاء منه ثم قال: أيها الناس الآن! فتفرقوا.

د حضرت ابو اسيد ازاد سوي مريې حضرت ابو سعيد وايي چي حضرت عمر بن خطاب ﷺ به د ماخوستن څخه وروسته مسجد ته تلي پيره به يې كول او څوک چي به يې وليدئ هغه به يې له مسجد څخه ايستي او څوک چي به يې د ولاړي په حالت كي پر لمانځه وليدئ هغه به يې پرېښودئ يوه شپه دى د نبي كريم ﷺ پر څو صحابه وو تېر سو چي په هغو كي ابى بن كعب هم وو حضرت عمر ﷺ وپوښتل دا څوک دي؟ حضرت ابى ورېل اې امير المؤمنين! ستا د كور څو كسان دي ورېې فرمايل، چي د لمانځه وروسته تر اوسه دلته ولي ناست ياست؟

حضرت ابى ﷺ وفرمايل، موږ ناست يو د الله ﷻ ذكر كوو نو حضرت عمر ﷺ هم ورسره كښېناستي او په هغو كي چي څوک ورته نژدې وو هغه ته يې ورېل ته دعاء وكړه هغه دعاء وكړه تر داسي وخته چي زما نوبت راغى زه د ده وڅنګ ته ناست وم ورېې فرمايل، اوس ته دعاء وكړه نو زما ژبه بنده سوه او زه ورپيدم چي د هغه ده ته هم اندازه وسوه نو يې وفرمايل، نور كه نه وي دومره دعاء وكړ اللّٰهم اغفرلنا اللّٰهم ارحمنا بيا حضرت عمر ﷺ دعاء شروع كړل نو په قوم كي تر ده ډېر اوښكي

توپونکي او ژړا کونکي نه وو بیا حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل، چي اوس تاسو ټول خاموش سي او سره ولاړ سي .

وأخـرج أحـمد والطـبراني عـن عقبة بـن عـامر رضي الله عنه أن النبـي ﷺ قـال لرجـل يقـال لـه ذوالبجادين: إنه أواه، وذلك أنه كثير الذكر لله عزوجل في القرآن، وكان يرفع صوته في الدعاء . قال الهيثمي(٩/ ٣٦٩). وإسنادهـما حسن . (حياة الصحابة:٤/ ١٣٠، الدعاء في الجماعة ورفع الصوت والتامين، المكتبة التجارية).

حضرت عقبه بن عامر فرمایي یو صحابي ذوالبجادین بلل کېدئ د ده په هکله نبي کریم ﷺ وفرمایل، چي دی ډېر ژړا کونکي دئ او دا یې د دې امله وفرمایل، چي دغه صحابي زیات تلاوت او ذکر کونکي وو او په لوړ اوازیې دعاء کول . (حیاة الصحابه مترجم:٣/ ٣٥٢).

فقهي عبارات وګورئ:

په فتاوی بزازیه کي راځي:

واعظ يدعو كل أسبوع بدعاء مسنون جهراً لتعليم القوم ويخافته القوم إذا تعلم القوم خالت هو أيضاً. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٤٢).

په فتاوی هندیه کي راځي

والسنة أن يخفى صوته بالدعاء كذا في الجوهرة النيرة . (الفتاوى الهندية:١/ ٢٢٩ – والجوهرة النيرة:١/ ١٩٣ – ورد المحتار:٢/ ٥٧، سعيد).

په امداد الفتاوی کي راځي:

اعلم أنه لاخلاف بدن المذاهب الأربعة في ندب الدعاء سراً للإمام والفذ وأجاز المالكية والشافعية جهر الإمام به لتعليم المأمومين أو تأمينهم على دعائه . (امداد الفتاوی:١/ ٥٦٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی رشیدیه کې راځي:

سوال: له فرضو څخه وروسته دعاء په جهر سره کول روا ده او که نه؟

جواب: له فرضي لمانځه څخه وروسته په جهر سره دعاء کول روا ده که کوم مانع موجود نه وو.

(فتاوی رشیدیه:۱۰۶).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

په پټه دعاء ښه ده که لمونځ کونکي ته تکلیف نه وي نو کله کله دي په زوره دعاء کوي روا ده همېشه د جهري دعاء عادت جوړول مکروه دي.

بل ځای لیکي:

په کرار اواز سره دعاء غوښتل ښه دي د دعاء یادولو یا د امین ویلو په غرض که څه په زور دعاء وغوښتل سي نو هم څه باک نه سته هغه هم په دې شرط چي لمونځ کونکي په تکلیف نه سي.

(فتاوی رحیمیه:٦/ ٥٥، وفتاوی محمودیه:٥/ ٦٩٢). والله ﷻ اعلم.

په دعاء کي دلاس پورته کېدو طریقه

سوال: د دعاء په وخت کي دي دواړه لاسونه سره یو ځای کړي او که دی په منځ کي څه فاصله وساتي؟

الجواب: د دعاء له پاره د لاسونو د پورته کېدو په وخت کي څه فاصله ساتل ښه ده.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

قال : وسئل أنس رضي الله عنه : هل كان رسول الله ﷺ يرفع يديه في الدعاء ؟ قال : نعم ، بينما هو ذات يوم جمعة يخطب الناس ، فقيل : يا رسول الله ! قحط المطر ، وأجدبت الأرض ، وهلك المال ، فادع الله ، قال : فرفع يديه حتى رأيت بياض إبطيه ، فاستسقى وما أرى في السماء سحابةً ، فما قضينا الصلاة حتى إن الشاب القريب الدار يهمه الرجوع إلى أهله ، فدامت جمعةً ، فلما كانت الجمعة الثانية ، قالوا : يا رسول الله ! تهدمت البيوت ، واحتبس

الركبان ، وهلك المال، قال : فتبسم رسول الله ﷺ، ثم قال بيده ففرج بينهما ، ثم قال : اللّٰهم حوالينا ولا علينا ، وفرق بين يديه ، قال : فكشفت عن المدينة . (مسند ابی يعلى:٤/ ٧١/ ٣٨٥١).

په درمختار کي راځي:

فيبسط يديه حذاء صدره نحو السماء لأنها قبلة الدعاء ويكون بينهما فرجة . وفی الشامية: قوله ويكون بينهما فرجة أی وإن قلت، قنية . (الدر المختار مع رد المحتار:١/ ٥٠٧، سعيد).

په عالمګيري کي راځي:

والأفضل فی الدعاء أن يبسط كفيه ويكون بينهما فرجة، وإن قلت. (الفتاوی الهندية:٥/ ٣١٨).

وللاستزادة انظر: (نفع المفتی والسائل:ص ٤٩٣، بيروت – وحاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ٣١٧ – وفتاوی محموديه:٥/ / ٧١٠، فاروقيه).

خو پر دغه يو سوال کيږي چي له ځيني احاديثو څخه معلوميږي چي د دعاء په وخت کي دي دواړه لاسونه يو ځای کوي.

په احياء علوم الديني کي راځي:

وقال ابن عباس رضي الله عنهما كان صلى الله عليه وسلم إذا دعا ضم كفيه وجعل بطونهما مما يلی وجهه . وقال العراقي : إسناده ضعيف .(احياء علوم الدين مع تخريج العراقی:١/ ٣١٣).

په مرعات شرح مشکاة کي راځي:

وفي الحديث دلالة على استحباب رفع اليدين في الدعاء ويكونان مضمومتين ، لما روى الطبراني في الكبير عن ابن عباس رضي الله عنهما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا دعا ضم كفيه

Maktaba Tul Ishaat.com

وجعل بطونهما مما يلي وجهه ذكره ابن رسلان كذا في السراج المنير، وقال في هامش تحفة الذاكرين نقلاً عن عدة الحصن الحصين بعد ذكر حديث ابن عباس رضي الله عنهما هذا وسنده ضعيف، انتهى. (مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح للمباكفوری:٧/ ٣٦٣).

که څه هم پورتنی روایت ضعیف دئ خو قوي روایت هم موجود دئ وګورئ دعبد الله بن مبارک په کتاب الزهد والرقاق کي راځي:

أخبرنا عبد العزيز بن أبي رواد قال : حدثني علقمة بن مرثد ، وإسماعيل بن أمية ، أن رسول الله ﷺ كان إذا فرغ من صلاته رفع يديه وضمهما ، وقال : رب اغفر لي ما قدمت ، وما أخرت ، وما أسررت ، وما أعلنت ، وما أسرفت ، وما أنت أعلم به مني ، أنت المقدم ، وأنت المؤخر ، لا إله إلا أنت ، لك الملك ، ولك الحمد . (الزهد والرقائق لابن المبارک:٣/ ١٨٩/ ١٤١، باب فضل ذكر الله عزوجل).

قال محققه أحمد فريد: مرسل وإسناده حسن وورد مرفوعاً عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه.

(استحباب الدعاء بعد الفرائض لمولانا عبد الحفيظ المكی، ص ١٠٦).

د دې جواب دا دئ چي د ضم یعني یو ځای والي مطلب فقهاوو په محاذات سره کړی دئ لکه د ضم العقبین د روایت شرح هم په محاذات سره کوي.

وګورئ په سعایه کي راځي:

قلت: لعله أراد من الإلصاق المحاذات وذلک بأن يحاذي كل من كعبيه لآخر فلا يتقدم أحدهما على الآخر . (السعاية:٢/ ١٨٠).

په حاشية الطحطاوی کي راځي:

وان أريد بالضم في كلام القرب التام لاينافي وجود الفرجة القليلة وأما قوله جمع بين كفبه لاينافيه أيضاً لأن المعنى جمع بينهما فى الرفع ولم يفرد أحدهما به . (حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح:٣١٧). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د ذکر يا تلاوت په وخت کي څه کسان حرکت کوي

سوال: په مسجد کي د ذکر يا تلاوت په وخت کي ځيني کسان ښوري ايا داسي ښورېدل او حرکت کول روا دي او که نه؟

الجواب: که يو څوک د کوم مصلحت د مثال په ډول د زړه د حضور له پاره شوق د پيدا کېدو په حفظ کي د سهولت له پاره د ذکر يا تلاوت په وخت کي حرکت کوي نو دا مباح او روا دئ خو که د حرکت پرته يې کار کېدای سي نو بايد ويې نه کړي ځکه عبادت سکون او وقار غواړي او حرکت د سکون او وقار سره منافات لري، البته که د رقص شکل جوړ سي يا يې عبادت وګڼي او ويې کړي نو دا ناروا دي.

وګورئ په فتاوی واحدي کي راځي:

سوال: د قرائت ويونکو د قرآن ويلو په وخت کي لکه څنګه چي په مدرسو کي رواج دي چي ښيله هغه يې تشويق نه راځي روا دي او که ممنوع او اصل لري او که نه او هغه چي وايي چي حرکت د تلاوت په وخت کي د يهودو عادت دئ معتبر دئ او که نه؟

الجواب: الظاهر أن قراءة القرآن بالسكون والوقار أفضل لأنه أدل على التعظيم والتحرك ينافيه ثم المنع عن التحرك لم يتعرض له فى الكتب المعتبرة المتداولة كالبحر والدر وغيرهما نعم ذكر فى الدر المختار فى الصلاة على النبي ﷺ وإزعاج الإعضاء برفع الصوت جهل وإنما هي دعاء والدعاء يكون بين الجهر والمخافتة، انتهى، فقراءة القرآن أولى بأن لاتيحقق فيها إزعاج الأعضاء لكن لوعدل عن هذه الأولوية لغرض صحيح كتفربح

Maktaba Tul Ishaat.com

الـخاطر وحـصول النشاط فـی القـراءة الـحاصل بالتحريـک بالنسبة إلـی الـبعض کالـصبيان ونحوهـم فالظاهر عدم الـذم لأن الـمقـصود الأصـلی هـو التعلـيم وضـبط القـرآن بـالقراءة فبـأی طريق يـحصل ينبغی السعي فيه کما لايـخفی علی الـمنصف ألاتری أن الـمحدث مـمنوع عـن مس الـمصحف وجوزوا للصبي للضرورة وحصول الـحفظ فی الصغر قال فی الـدر الـمختار: ولايکره مس صبي الـمصحف ولـوح، ولابـأس بدفعـه إليـه وطلبـه منه للـضرورة إذ الحـفظ فـی الصغر کالنقش فی الـحجر، ولايـخفی أن التحرک من الصبي في حالة القراءة للـتعلم أدون مـن الـــمس حالــة الــحدث، وأمــا القــول بتــشبيه اليهــود فلــم يثبــت بنقــل صــحيح .... (فتــاوی واحدی:١٤٧).

په فيض القدير کي راځي:

فائدة : سئل جدي شيخ الإسلام يـحيی الـمناوي رحـمه الله : هل الاهـتزاز في القـرآن مکـروه أو خلاف الأولی ؟ فأجاب بأنه في غير الصلاة غير مکروه ولکن خـلاف الأولی ، ومـحله إذا لـم يغلب الـحال واحتاج إلی نحو النفي في الذکر إلی جهة اليمين والإثبات إلی جهة القلب ، وأما في الصلاة فمکروه إذا قل من غير حاجة. (فيض القدير: ٢/ ٦٢).

په بريقه محموديه کي راځي:

وأما تـحريک الـرأس فقـط يمنـة ويسرة تـحقيقاً لـمعنی النفي والإثبـات في « لا إلـه إلا الله » فالظن الغالـب جوازه بل استحبابه إذا کان مع النية الـحاصلة الصالـحة فيخرج عـن حـد العبث واللعب، لان العبث مالا فائدة فيه والتحقيق الـمذکور من أعظم فوائد. (بريقة محموديه فی شرح طريقة محمدية: ٤/ ١٣٩).

په بخاري شريف کي راځي:

عن البراء ﷺ قال: كان رجل يقرأ سورة الكهف وإلى جانبه حصان مربوط بشطنين، فتغشته سحابة فجعلت تدنو، وجعل فرسه ينفر، فلما أصبح أتى النبي ﷺ فذكر ذلك له، فقال: تلك السكينة تنزلت بالقرآن. (رواه البخاری:۲/ ۷۴۹/ ۵۰۱۱).

په مجالس ذکر کي راځي:

شاه عبد القادر رای پوري فرمايي، د ذکر د تاثير د زياتولو له پاره او د طبيعت يوه طرف ته کولو له پاره د ضرب طريقه رواج سوي ده نو له دغو ځخه هريوه مقصوده او مامور به نه ګڼل کيږي بلکي دا تول د علاج او تدبير له مخي کيږي ځکه نو د مقصد د حاصلېدو وروسته دا ټول شيان پرېښودل کيږي. (مجالس ذکر، ص ۱۱۷).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (بوا در النوادر، ص ۴۴۶).

خو ځيني حضرات پر هغه ځو اعتراضات کوي، د ذکر او تلاوت په وخت کي دا ډول حرکت کول بدعت دئ او ناروا ددئ؟

الجواب: دا بدعت فی الدين نه دئ بلکي للدين دئ يعني په وسائلو کي دئ په مقاصدو کي نه دئ چي د شريعت له نظره ناروا نه دئ.

حکيم الامت رحمه الله فرمايي:

د بدعت حقيقت دا دئ چي هغه خلک دين ګڼي که يې د علاج په غرض اختيار کړي نو بدعت به ځنګه سي نو يو احداث للدين دئ او يو احداث فی الدين احداث للدين سنت دئ او احداث فی الدين بدعت دئ. (تحفة العلماء:۲/ ۱۴۰).

۲ـ په دغه کي د يهودو مشابهت دئ ځکه دا د يهودو پخواني عبادت دئ چي هغوی به د تورات ويلو په وخت کي يا د خپل عبادت په وخت کي حرکت کاوه د دوی په اصطلاح کي سو کلنګ ورته ووايي چي معنا يې حرکت کول دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

علامه زمخشري ليكي:

﴿ وإذ نتقنا الجبل فوقهم ﴾ ولما نشر موسى الألواح وفيها كتاب الله. لم يبق جبل ولا شجر ولا حجر إلا اهتز ، فلذلك لا ترى يهودياً تقرأ عليه التوراة إلا اهتز وأنغض لها رأسه. (التفسير الكشاف:٢/ ١٢٩).

دا طريقه تر ننه پوري په دوى كي جاري ده اوس سوال دا دئ چي په كومو علاقو كي چي دغه قانون ګرځېدلي وي د مثال په ډول مصر، اندلس وغيره نور د مشابهت له امله به دا طريقه ممنوع وي او كه نه؟

د علامه زمخشري د عبارت نقل كولو وروسته صاحب د بحر محيط ليكي:

وقد سرت هذه النزعة إلى أولاد المسلمين فيما رأيت بديار مصر تراهم في المكتب إذا قرؤوا القرآن يهتزون ويحركون رؤوسهم وأما في بلادنا بالأندلس والغرب فلو تحرك صغير عند قراءة القرآن أدبه مؤدب المكتب وقال له : لا تتحرك فتشبه اليهود في الدراسة . (تفسير البحر المحيط:٤/ ٤٢٠).

الجواب: علماوو ليكلي دي چي د كفارو سره د مشابهت حرام والي دومره عام نه دئ بلكي په هغو امرو كي چي د دوى مذهبي خصوصيات دي روا نه دئ د مثال په ډول په غاړه كي صليب ځړول د هندو زنار اغوستل وغيره او همدا ډول داسي امور هم ناروا دي چي په هغو كي مشابهت پيدا كيږي او په احاديثو كي يې قباحت راغلي وي لكه پرتوګ او پتلون له بجلكو ځخه كښته كول يا نارينه وو ته د ښځو جامه وراغوستل، خو ځيني امور داسي وي چي له يوه طرفه مشابهت وي او بل طرف ته ځه مصلحت هم وي ځكه نو هغه ته ناروا نه ويل كيږي كه كم څوک د عاشورا په ورځ يوه روژه ونيسي نو هغه ناروا نه ده ځكه د نيونكي مقصد د يهودو سره مشابهت نه دئ بلكي د حضرت موسى عليه السلام او د نبي كريم ﷺ اتباع ده په محرم او ربيع الاول كي د وعظ او نصيحت مجلسونه جوړول د اهل بدعت

سره مشابهت ده مګر څنګه چي مقصد د خرافاتو ترديد او د صحيح مضامينو بيان وي لهذا علماء يې جائز بولي په دې شرط چي د خرافاتو او پابنديو څخه خالي وي.

خلاصه دا ده كه كوم شی عام سي او د يوه خاص قوم سره ځانګړتيا ونه لري نو مشابهت ختم كيږي همدا ډول دا روايت په ظاهره د كوم حديث روايت نه دئ بلكي يو تاريخي روايت دئ د حنفي فقهي په اصولو او ضوابطو كي راځي، د مشابهت د ختم كېدو پېژندل دا دي چي په ليدلو سره د عامو خلكو په ذهن كي دا ور ونه ګرځي چي دا شی خو د فلانيو كسانو دئ مګر تر څو چي دا خصوصيت وي تر هغو پوري به منع كيږي لكه زموږ په ملک كي كوټ پتلون اغوستل، البته چيري چي كوټ پتلون عام سي د ذهن څخه دا خصوصيت ليري سي نو بيا به ناروا نه وي تر څو چي په زړه كي تريد وي تر هغو به د مشابهت له امله ناروا وي. (فقه حنفی كی اصول وضوابط: ١٥٤، از افادات حكيم الامت).

په تكمله فتح الملهم كي راځي:

اعلم أن التشبه بأهل الكتاب لايكره في كل شيء، فإنا نأكل ونشرب كما يفعلون إنما الحرام هو التشبه فيما كان مذموماً وفيما يقصد به التشبه كذا ذكره قاضی خان فی شرح الجامع الصغير فعلى هذا لو لم يقصد التشبه لايكره عندهما، وقال هشام فی نوادره: رأيت على أبي يوسف رحمة الله عليه نعلين محفوفين بمسامير الحديد، فقلت له: أترى بهذا الحديد باساً؟ فقال: لا، فقلت له: إن سفيان وثوربن يزيد كرها ذلک لأنه تشبه بالرهبان، فقال أبو يوسف رحمة الله عليه: كان رسول الله ﷺ يلبس النعال التي لها شعور وإنما من الباس الرهبان، فقد أشار إلى أن صورة المشابهة فيما يتعلق به صلاح العباد لاتضر وقد تعلق بهذا النوع من الأحكام صلاح العباد ... (تكملة فتح الملهم:٤/ ٨٨). **همدا ډول وګورئ:** (تقرير ترمذی:١ /٣٣١).

Maktaba Tul Ishaat.com

په مسلم شریف کي روایت دئ:

عن أبی هریرة رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ يسير في طريق مكة فمر على جبل يقال له جمدان، فقال: سيروا هذا جمدان سبق المفردون، قالوا : وما المفردون يا رسول الله قال: الذاكرون الله كثيرًا والذاكرات ». قال الإمام النووي رحمه الله: وجاء في رواية هم الذين اهتزوا في ذكر الله أي لهجوا به. (الصحيح لمسلم مع شرح النووی:٢/ ٣٤١-٣٤٢).

د ((هز)) اصلي معنی حرکت کول یا ښورول دي:

په لسان العرب کي راځي: واهتز إذا تحرك . (لسان العرب:٥/ ٤٢٤).

په لغات الحدیث کي راځي:

((اهتزوا في ذكر الله)) **دالله جل جلاله په یاد کي حرکت وکئ او خوشحاله سي.** (لغات الحدیث:٤/ ٢٩).

او همدا ډول وګوري: (ذکر اجتماعی وجهری شریعت کی ائینه مین:ص ١٧٠). والله تعالی اعلم.

په نجسه جامه کي مسجد ته د راتلو حکم

سوال: دیو چا پرتوګ ناپاک وي دمثال په ډول بولي او یا مني وربانديوچ سوی وي نو په دغه پرتاګه کي مسجد ته راتلل روا دي او که نه؟

الجواب: که په نجاست سره لړلي جامو سره د مسجد د ککړ تیا بېره وي نو ناروا دي که نه خلاف اولی به وي ځکه فقهاوو ناپاک تېل په مسجد کي له سوځلو او په هغه سره د څراغ لګول مکروه ګڼلي دي خو له بله طرفه مسجد ته د مستحاضي د داخلیدو یادونه هم سته لهذا که د مسجد د ککړ تیا بېره نه وي نو مکروه تحریمي به یې نه ګڼي ښه نه دي.

قال الله تعالی: ﴿ وطهر بيتي للطائفين ﴾.(سورة الحج، الآية:٢٦).

مفتي محمد شفيع وايي:

په دغه کي د بيت الله د پاکولو حکم دئ چي په هغه کي د ښکاره نجاستونو او مرداري څخه پاکي هم داخله ده او د دغه حکم د طهارت له پاره په بيتي کي دغه طرف ته هم اشاره ده چي دا حکم ټولو مساجدو ته عام دئ ځکه ټول مساجد بيوت الله دي لکه څنګه چي فرمايي:

في بيوت اذن الله ان ترفع. (معارف القرآن:۱/ ۳۲۳).

په حديث شريف کي راځي:

إن هذه المساجد لاتصلح لشيء من هذا البول ولا القذر. (مسلم شريف:۱/ ۱۳۸).

جنبوا مساجد کم صبيانکم ومجانينکم وبيعکم... (ابن ماجه شريف:٥٤).

په بخاري شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت: اعتكفت مع رسول الله ﷺ امرأة من أزواجه مستحاضة فكانت ترى الحمرة والصفرة فربما وضعنا الطست تحتها وهي تصلي. (رواه البخارى:۱/ ۲۷۳/ ۱۹۹۱، باب اعتكاف المستحاضة).

د دې حديث په شرح کي علامه عيني رحمه الله فرمايي:

چي که يې جامې يا مسجد ککړ نه سو نو صحيح ده همدا ډول چي د مستحاضي په معنا کي وي يعني معذورو غيره د هغو له پاره هم په مسجد د داخليدو او اعتکاف کولو اجازه سته.

وګورئ په عمدة القاري کي راځي:

ومما يستنبط منه: جواز اعتكاف المستحاضة، وجواز صلاتها لأن حالها حال الطاهرات وأنها تضع الطست لئلا يصيب ثوبها أو المسجد وأن دم الاستحاضة رقيق ليس كدم الحيض، ويلحق بالمستحاضة ما في معناها كمن به سلس البول والمذي والودي ومن

Maktaba Tul Ishaat.com

بـه جـرح يـسيل في جـواز الاعتكـاف . (عمـدة القـارى:۳/ ۱۳۰، كتـاب الحيض، بـاب الاعتكـاف اللمستحاضة دار الحديث، ملتان).

وفى البحر الرائق مع الكنز : كره استقبال القبلة .... والبول والتخلى.... والـمراد بالكراهة كراهة التحريم .... وأشار الـمصنف رحمه الله إلى أنه لايـجوز إدخال النجاسة الـمسجد وهو مصرح به. (البحر الرائق مع الكنز :۲/ ۳٤، كوئته).

یہ فتاوی شامی کی رائے:

ولايدخله (الـمسجد) من على بدنه نجاسة. (رد المحتار: ۱/ ۱۷۲، سعيد).

وفيه : (قوله وإدخال نجاسة فيه) عبارة الأشباه : وإدخال نجاسة فيه يخاف منها التلويث، ومفـاده الـجواز لـو جافـه . (شـامى:۱/ ٦٥٦، سـعيد – وكـذا فـى حاشـية الطحطـاوى علـى الـدر المختار: ۱/ ۲۷۷ – والفتاوى الهندية:٥/ ۳۲۱ – والفقه الحنفى فى ثوبه الجديد: ۱/ ۲۷۷).

وفى التجنيس والـمزيد : لـمن أراد دخول الـمسجد أن يتعاهد النعـل والـخف عـن النجاسة ثـم يـدخل فيـه، احـترازاً عـن تلويـث الـمسجد. (التجنيس والمزيد:۱/ ۳۷۰ – وكـذا فـى شرح منية المصلى: ٦١١).

یہ بحر الرائق کی رائے:

ذكر العلامة قاسم في بعـض فتاويه أن قولـهم : إن الـدهن الـمتنجس يـجوز الاسـتصباح بـه مقسد بغير الـمساجد فإنه لايـجوز الاستصباح به. (البحر الرائق:۲/ ۳٤- وكذا فـى الـدر المختـار مع فتاوى الشامى: ۱/ ۳۳۰، سعيد).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

نجسه جامه دې په مسجد کې نه ایږدي که په دغه وخت کې یې دباندې ایښودل مشکل وي نو د مجبورۍ له امله دې په مسجد کې داسې کښېږدي چې مسجد ککړ نه سي. (فتاوی محمودیه: ۱۵/ ۱۹۳).

مولانا محمد یوسف لدهیانوي وایي:

که څپلي وچې وي نو مسجد نه ناپاکه کیږي. (آپ کی مسائل اور کا حل: ۲/ ۱۳۸). والله ﷻ اعلم.

د غیر مسلم له پاره په مسجد کې د عبادت کولو حکم

سوال: که په کوم مسجد کې د عیسایانو پادري راسي عبادت کوي دا به روا وي او که نه؟ او د هغه اجازه به وي او که نه؟ په کومو روایاتو کې چې د نجران د وفد مسجد ته راتلل او هلته عبادت کول ذکر دي د هغه حیثیت څه دئ؟

الجواب: د کفارو د مسجد ته د داخلیدو په هلکه د مجتهدینو اختلاف دئ خو په مسجد کې د عبادت کولو اجازه د هیچا په اند مروي نه ده بلکې د دوی عبادت په حقیقت کې عبادت نه بلکې شرک او خرافات دي د عبادت له پاره نیت ضروري دئ او په کفارو کې د نیت صلاحیت نه سته او کوم روایت چې په دې هلکه مروي دئ هغه متکلم فیه دئ یو خو پر محمد بن اسحاق کلام دئ دوهم د ده داستاذ محمد بن جعفر روایت معضل دئ ځکه په هغه کې د صحابي او تابعي یادونه نه سته، د احنافو په اند که څه هم په خیر القرون کې انقطاع ضرر نه لري خو دغه روایت د اصولو یعني د قرآن کریم له آیاتونو خلاف دئ.

ملا علي قاري رحمه الله فرمایي:

ومنها: مخالفة الحديث لصريح القرآن كحديث مقدار الدنيا. (موضوعات كبير، ص ۱۶۲).

یعني کوم حدیث چې د قرآن مخالف وي او په سند کې یې هم کلام وي هغه حدیث قبول نه دئ بلکې د هغه د موضوعیت علامه ده په دې حدیث کې دا برخه چې نصاری وو په مسجد کې عبادت کړي وو د قبول وړ نه ده او همدا ډول دا حدیث د اصولو خلاف هم دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي:

ومنها : أن يكون الحديث مما تقوم الشواهد الصحيحة على بطلانه كحديث عوج بن عنق. (موضوعات الكبير، ص ١٦٠).

د دې حديث پر عدم صحت هم صحيح شواهد دلالت كوي لهذا د دغه روايت دومره برخه چي هغوى د مشرق وطرفته په مسجد كي لمونځ وكړي واجب الرد ده يا به په هغه كي تاويل كيږي چي د مسجد څخه هغه برخه مراد ده چي په حقيقت كي مسجد نه دئ بلكي هغه برخه ده چي په هغه كي به حبشو بازي كولي او كله كله به ځينو كسانو په هغه كي اوښان تړل او د مسجد پر دباندي ميدان هم ډېر ځله د مسجد اطلاق كيږي .

وګورئ په تفسير قرطبي كي راځي:

صدر هذه السورة (أى سورة آل عمران) نزل بسبب وفد نجران فيما ذكر محمد بن إسحاق عن محمد بن جعفر بن الزبير ، وكانوا نصارى وفدوا على رسول الله ﷺ بالمدينة في ستين راكباً ، فيهم من أشرافهم أربعة عشر رجلاً ، في الأربعة عشر ثلاثة نفر إليهم يرجع أمرهم : العاقب أمير القوم وذو آرائهم واسمه عبدالمسيح ، والسيد ثمالهم وصاحب مجتمعهم واسمه الأيهم ، وأبو حارثة بن علقمة أحد بكر بن وائل أسقفهم وعالمهم ؛ فدخلوا على رسول الله ﷺ أثر صلاة العصر ، عليهم ثياب الحبرات جبب وأردية، فقال أصحاب النبي ﷺ: ما رأينا وفداً مثلهم جمالا وجلالة. وحانت صلاتهم فقاموا فصلوا في مسجد النبي ﷺ إلى المشرق. فقال النبي ﷺ : "دعوهم" .... (تفسير القرطبى: ٤/ ٥).

وللاستزادة انظر: (السيرة النبوية لابن هشام:٢/ ٢٢٤).

وفى فتح القدير للشوكانى : ماكان للمشركين أن يعمروا مساجد الله، والمراد بالعمارة إما المعنى الحقيقي أو المعنى المجازي ، وهو ملازمته والتعبد فيه ، وكلاهما ليس للمشركين ، أما الأول : فلأنه يستلزم المنة على المسلمين بعمارة مساجدهم ، وأما الثاني : فلكون الكفار لا عبادة لهم مع نهيهم عن قربان المسجد الحرام .(فتح القدير:۲/ ٦٦٢، الرياض).

وفي تفسير الكريم الرحمن : أن الله تعالى إنما جعل بيته الحرام ليقام فيه دينه، وتخلص له العبادة، فالمؤمنون هم الذين قاموا بهذا الأمر، وأما هؤلاء المشركون الذين يصدون عنه، فما كانت صلاتهم فيه التى هي أكبر أنواع العبادات ﴿إلا مكاء وتصدية ﴾ أى صفيراً وتصفيقاً، فعل الجهلة الأغبياء، الذين ليس في قلوبهم تعظيم لربهم، ولا معرفة بحقوقه ولا احترام لأفضل البقاع وأشرفها، فإذا كانت هذه صلاتهم فيه، فكيف ببقية العبادات؟!! (تيسر الكريم الرحمن فى تفسر كلام المنان:ص ۲۸۲).

وللاستزادة انظر : (التفسر المظهرى:٤/ ١٤٦ – وفتح القدير للشوكانى:١٠٤ ، الرياض – وكذا فى تفسير المنار:١٠/ ٢٠٦ ــ والتفسير المنير:١٠-١٣٧). والله ﷻ اعلم.

مسجد پرېښودل او په ميدان کي د جماعت حکم

سوال: ځيني کسان پر تبليغي جماعت اعتراض کوي چي دا خلک د مسجد پر ځای د اجتماع په ځای کي جماعت کوي دوی وايي چي په مسجد کي جماعت سنت مؤکد دئ په دباندي جماعت کي فضيلت نه سته ايا د دوی خبره درسته ده او که نه؟ او د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه يو روايت وړاندي کوي چي د مسجد جماعت يې سنن هدی ګڼلی دئ؟

الجواب: که د مسجد څخه دباندي جماعت اداء سي نو د جماعت ثواب نه سته، البته په مسجد کي د جماعت ثواب له دې څخه زيات دئ .

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی سراجیه کي لیکي:

قوم تخلفوا عن المسجد وصلوا فی البیت بجماعة فإنهم ینالون فضل الجماعة لکن دون ما ینالون فی المسجد. (الفتاوی السراجیة: قبیل باب الامامة، ص، ۷۸).

په طحطاوي علي مراقی الفلاح کي راځي:

حتی لو صلی في بیته بزوجته أو جاریته أو ولده فقد أتی بفضیلة الجماعة، کذا فی الشرح، لکن فضیلة المسجد أتم . (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۲۸۸، باب الامامة).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

والصحیح أن للجماعة فی البیت فضیلة وللجماعة فی المسجد فضیلة أخری فإذا صلی فی البیت بجماعة فقد حاز فضیلة أدائها بالجماعة وترک الفضیلة الأخری(**دا خبره هغوی د تراویحو په هلکه لیکلي ده وروسته فرمایي**) . وکذلک فی المکتوبات . (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة: ۱/ ۲۳۳، باب التراویح).

په شرح منیة المصلي کي راځي:

لو صلی جماعة فی البیت علی هیئة الجماعة فی المسجد نالوا فضیلة الجماعة وهي المضاعفة بسبع وعشرین درجة لکن لم ینالوا فضیلة الجماعة الکائنة فی المسجد فالحاصل أن کل ما شرع فیه الجماعة فالمسجد فیه أفضل لما اشتمل علیه من شرف المکان وإظهار الشعائر وتکثیر سواد المسلمین . (**دا خبره هغوی د تراویحو په هکله لیکلي ده خو له هغه څخه یې مخکي لیکلي دي**) وهکذا فی المکتوبات أی الفرائض . (شرح منیة المصلی:ص ۴۰۲، ابواب التراویح، سهیل).

له پورتني فقهي عبارت څخه څرګندیږي چي تبلیغي جماعت ته د اجتماع په ځای کي هم د جماعت ثواب ورکول کیږي او سنت یې اداء کیږي، البته مسجد ښه دئ خو د ځینو مصالحو له امله ټول مسجد ته نه سي تلای او د اجتماع خلک په مسجد کي نه ځاییږي پاته سوه دا خبره چي د مسجد فضائل کوم دي د مسجد په فضائلو کي یې په آساني سره کتلای سي د مثال په ډول اوه کسان به د عرش په سایه کي وي په هغو کي به هغه کسان هم وي چي زړه یې له مسجد سره اړوند وي چي کله وزي نو د بیا راتلو فکر کوي او د هغو دوو صحابه وو واقعه خو مشهوره ده چي په مسجد کي د لمانځه کولو وروسته په سخته تیاره کي د دوی لکړو رڼا کول او څوک چي سهار او ماښام مسجد ته ځي الله تعالی د ده له پاره په جنت کي د مېلمستیا انتظام کوي او چي یوازي د لمانځه په نیت مسجد ته ځي نو د هغه درجي لوړیږي او ګناه یې ختم کیږي بیا چي کله د لمانځه څخه فارغ سي نو ملکي د ده له پاره د رحمت دعاء غواړي دا ټول فضائل د احادیثو په کتابو کي مذکور او مشهور دي، د حضرت عبد الله بن مسعود د روایت هم همدغه مطلب دئ چي جماعت سنت دئ د هغه پرېښودل د نفاق علامه ده .

لکه څنګه چي فرمایي :

من سره أن يلقى الله غدا مسلماً فليحافظ على هؤلاء الصلوات الخمس حيث ينادى بهن فإن الله شرع لنبيكم صلى الله عليه وسلم سنن الهدى وأنهن « أى الصلوات الخمس بالجماعة (فتح الملهم) من سنن الهدى « أى من طريق الهدى » (فتح الملهم) ولو أنكم صليتم فى بيوتكم كما يصلى هذا المختلف في بيته لتركتم سنة نبيكم ولو تركتم سنة نبيكم لضللتم . (رواه مسلم:۱/ ۲۳۲).

په دغه روایت کي د ((كما يصلي هذا المتخلف)) څخه معلومیږي چي ابن مسعود رضي الله عنه منفرد متخلف د وعید ور ګڼي چي د هغه په مقابل کي په جماعت سره لمونځ کول د مدح او ستاینې وړ دئ، البته په دوهم روایت کي چي په مسلم شریف کي ذکر دئ په هغه کي دا الفاظ ذکر سوي دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

لقد رأيتنا وما يتخلف عن الصلاة إلا منافق قد علم نفاقه أو مريض إن كان المريض ليمشى بين رجلين حتى يأتى الصلاة، وقال : إن رسول الله ﷺ علمنا سنن الهدى وإن من سنن الهدى الصلاة فى المسجد الذى يؤذن فيه. (رواه مسلم:١/ ٢٣٢).

دغه روايت په پيل کي هم د متخلف منافق يادونه سوي ده چي هغه جماعت پرېږدي نو د هغه په مقابل کي د جماعت لمونځ د مدح او ثواب لائق دئ، البته څنګه چي جماعت په ښارونو او باديو کي په عامه توګه په مسجد کي کيږي نو بناء پر غالب يې د مسجد يادونه وکړه لهذا په ظاهره دا قيد احترازي نه دئ په بل روايت کي رسول الله ﷺ د جماعت لمونځ د منفرد د لمانځه څخه (۲۷) درجي افضل ګڼلي دئ په هغه کي د مسجد يادونه نه سته او همدا ډول په حديث کي راځي:

الصلاة مع الإمام أفضل من خمس وعشرين صلاة يصليها وحده. (مسلم:١/ ٢٣١).

د لته د منفرد په مقابله کي د جماعت فضيلت راغلي دئ . والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د چوکۍ د ناستي حکم

سوال: په مسجد کي د وعظ له پاره پر چوکۍ د ناستي حکم څه دئ؟

الجواب: په مسجد کي د وعظ له پاره او يا دغسي کښېناستل پر چوکۍ روا دي.

وګورئ په مجمع الزوايد کي کي راځي:

وعن أبي سعيد رضي الله عنه قال: كان لرسول الله ﷺ خشبة يقوم إليها فجاء رجل فأمره أن يجعل له كرسياً ، فقام النبي ﷺ يخطب عليه .... رواه البزار من رواية محمد بن أبي ليلى عن عطية وكلاهما مختلف في الاحتجاج به. (مجمع الزوائد:٢/ ١٨١).

دغه روايت ضعيف دئ او د چوکۍ څخه منبر مراد دئ ځکه په عامو صحيح رواياتو کي د منبر يادونه ده، البته د جواز تر حده چوکۍ پر منبر قياسېداى سي .

په مسلم شریف کي راځي:

قال أبو رفاعة رضي الله عنه انتهيت إلى النبي ﷺ وهو يخطب ..... فأقبل على رسول الله ﷺ وترك خطبته حتى انتهى إلى فأتي بكرسي حسبت قوائمه حديدًا قال: فقعد عليه رسول الله ﷺ وجعل يعلمني مما علمه الله. (مسلم شریف:۱/ ۲۸۷)

قال القاضي عياض: وفيه جواز الجلوس على الكراسي ولاسيما في مثل ذلك.... وارتفع على الكرسي ليسمع كلامه غيره ويشاهدوا محاورته إياه. (اکمال المعلم:۳/ ۲۸۱).

همدا ډول وګورئ: (دلائل النبوة:۲/ ۵۶۳ – وجامع الاحاديث:۲۰/ ۲۳۱ – ومسند احمد:۱/ ۵۳۳).

د بخاري شریف په روایت کي د حضرت جبرئیل علیه السلام پر چوکۍ ناسته ثابته ده:

.... فرفعت بصري فإذا الملك الذي جاءني بحراء جالس على كرسي بين السماء والأرض. (رواه البخاری:۱/ ۳).

په قرآن کریم کي د حضرت سلیمان علیه السلام په قصه کي د چوکۍ یادونه سته:

قال الله تعالى: ﴿ ولقد فتنا سليمان وألقينا على كرسيه جسدًا ثم أناب ﴾. (سورة ص: ۳٤).

د صحابه کرامو ښځه هم د چوکۍ استعمال ثابت دئ:

دلائل النبوة کي راځي:

عن زيد بن صوحان أن رجلين من أهل الكوفة كانا صديقين لزيد بن صوحان أتياه ..... فأقبلا معه حتى لقوا سلمان رضي الله عنه.... وإذا هو على كرسي قاعد .... فقال له زيد .... إن هذين لي صديقان .... وقد أحبا أن يسمعا حديثك .... (دلائل النبوة:۲/ ۸۲).

په نسائي شریف کي راځي:

عن علي رضي الله عنه أنه أتى بكرسي فقعد عليه ثم دعا بتور فيه ماء..... (نسائی:۱/ ۲۷).

Maktaba Tul Ishaat.com

چې كله د اوداسه له پاره پر چوكۍ ناسته ثابته ده نو د وعظ له پاره به هم روا وي او د خوراک له پاره هم روا ده.

په هدايه كې راځي:

ويجوز .... والجلوس على الكرسي المفضض .... إذا كان يتقي موضع الفضة.... وقال أبو يوسف رحمه الله يكره ذلک . (الهداية:٤/ ٤٥٣).

مفتي كفايت الله صاحب فرمايي:

پر چوكۍ ناسته د وعظ له پاره روا ده. (كفايت المفتي:٩/ ٧٢- وفتاوى محموديه:١٥/ ٢٧٩، فاروقيه). والله تعالى اعلم.

دریيم .... باب

د مدرسو د احكامو بيان

د يوې مدرسې له يوه مد څخه په بل مد كې د مصرف حكم

سوال: كه يوې مدرسې ته په يوه مد كې پيسې راغلي نو هغه په بل مد كې مصرفولای سي او كه نه؟ د مثال په ډول پيسې د كتابونو په مد كې راغلي وي نو هغه د تعمير په مد كې يا بالعكس مصرفولای سي او كه نه؟ چې دواړه ځايه نفلي صدقې وي؟

الجواب: په دې صورت كې د مدرسې د يوه مد پيسې بل ځای مصرفول صحيح نه دي ځكه د مؤكل د وكالت لحاظ ساتل ضروري دي او په هغه عمل كول لازم دي لهذا چې يو چا د كتابو له پاره پيسې وركړي وي نو په بل مد كې يې مصرفول درست نه دي.

په فتاوى شامي كې راځي:

الوكيل إنما يستفيد التصرف من الموكل وقد أمره بالدفع إلى فلان فلا يملك الدفع إلى غيره، كما لو أوصى لزيد بكذا ليس للوصي الدفع إلى غيره فتأمل . (فتاوی الشامی:۲/ ۲٦٦، سعید).

په مدرسه کي چي کله يو چا څه پيسې په يوه مد کي ورکړي نو د مدرسې مهتمم د ورکونکي وکيل دئ او مؤکل چي په کوم مد کي د مصرف کولو ووايي وکيل به يې هلته مصرفوي نو چي کله ده د کتابو په مد کي پيسې ورکړي نو په تعمير کي يې مصرفول خيانت او وعده خلافي ده .

په فتاوی محموديه کي راځي : ؛

په کوم ځای کي د مصرف له پاره چي يې روپۍ ورکړي وي هلته يې مصرفول لازم دي که يې بل ځای مصرف کړي نو ضمان به لازم وي ځکه متولي امين او وکيل دئ د ورکونکي د وينا پر خلاف د مصرف حق نه لري. (فتاوی محموديه:١٥/ ٤٧٤، و امداد الفتاوی:۳/ ۳۱۵).

همدارنګه ليکلي دي که د چندي ورکونکو خوښه وي او څه نيوکه ورباندي نه لري نو داسي کول په شريعت کي روا دي . (فتاوي محموديه: ١٥/ ٤٧٤). والله ﷻ اعلم.

د يوې مدرسې چنده په بله کي د مصرفولو حکم

سوال: يو چا د مدرسې له پاره چنده وکړه اوس بله مدرسه ډېره محتاجه ده ايا پر بله مدرسه يې مصرفولای سي او که نه؟ رسېديې ورکړي نه دئ؟

الجواب: که چنده کونکو د چندي په وخت کي دا ويل چي د فلاني مدرسې له پاره چنده کوم نو بيا چي تر څو پوري دغې مدرسې ته د چندي ضرورت وي يا يې په نژدې وخت کي ضرورت راځي تر هغه وخته يې بلي مدرسې ته ورکول صحيح نه دي، البته که دغه مدرسه نه اوس او نه په راتلونکي نژدې وخت کي ضرورت لري او د بلي مدرسې ضرورت زيات وي نو په دغه صورت کي ځينو فقهاوو په مدرسه کي د مصرف اجازه ورکړي ده، البته د احتياط طريقه دا ده چي که له ورکونکي سره رابطه کېدای سوه نو د هغه څخه دي اجازه وغوښتل سي بيا دي په بله مدرسه کي مصرف کړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی محمودیه کې راځي:

په کوم ځای کې د مصرف له پاره چې یې پیسې ورکړې وې هلته یې مصرف لازمي دي که یې پل ځای مصرف کړي نو ضمان لازم دي ځکه متولي امین او وکیل دئ د ورکونکي د وینا خلاف دي حق نه لري. (فتاوی محمودیه: ۱۵/ ٤٧٤).

او همدا ډول لیکلي دي که د چندي ورکونکو خوښه وي او پر هغه کوم اعتراض نه وي نو داسې کول په شریعت کې صحیح دي. (فتاوی محمودیه: ۱۵/ ٤٧٤).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کې راځي:

کومو کسانو چې خپل جائداد یا روپۍ نغدي مسجد ته ورکړي وي که یې د وقف په وخت کې دا شرط ایښي وي چې کومې پیسې چې د مسجد له مصرف څخه زیاتې وي هغه دي په یوه اسلامي مدرسه او یا په کوم بل مصرف کې ولګوي بیا خو دغه زیاتې پیسې پر مدرسه مصرفیدای سي که په دغه وخت کې وقف کونکي ورته اماده وي او که نه او که وقف کونکو د وقف په وخت کې دا شرط ایښي وي چې موږ د دغه جائداد او پیسو د مصرف د بدلولو اختیار لرو بیا هم یې وقف کونکي بل ځای مصرفولای سي، که د وقف په وخت کې له دغو دواړو شرطونو څخه یو شرط نه وي نو بیا د مسجد زیاتې روپۍ پر مدرسه مصرفول روا نه دي، البته کوم بل مسجد که چندي ته محتاج وي د سخت ضرورت په وخت کې د جواز فتوی د متاخرینو پر قول ورکول کېدای سي او هغه هغه وخت چې د کوم مسجد روپۍ چې وي هغه نه فی الحاله محتاج وي او نه یې په ائنده کې کوم حاجت معلومیږي او د زیاتو پیسو د ضائع کېدو بېره وي. (امداد المفتین: ۲/ ۷٦٨). والله ﷻ اعلم.

که د مدرسې استاذان د مدرسې د شرائطو مخالفت کوي

سوال: یوه متولي دوه استاذان د خپلې مدرسې له پاره وټاکل او دا شرط یې کښېښودئ چې د غرمې په وخت کې به زموږ په مدرسه کې درس ورکوي او سهار به هیڅ کار نه کوي چې د غرمې په وخت کې په پوره توجه درس ورکړي او دغو استاذانو شرط ومنې د دې امله متولي ورته (۳۵) فیصده په تنخواه کې زیات والي وکړ له دې وروسته هغه استاذان د سهار په وخت کې بل ځای درس ورکوي ایا د دوی دغه فعل درست دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د مدرسې د شرائطو د منلو وروسته د هغه مخالفت روا نه دئ د امکان ترحده به د مدرسې د شرائطو پابندي کوي اوس متولي حق لري چې دوی د سهار په وخت کې د درس څخه منع کړي یا یې تنخواه ورکمه کړي، البته که هغوی د غرمي په وخت په درس ورکولو کي کوتاهي وغیره نه کوي ډېر په اخلاص او مینه درس ورکوي نو بیا دي متولي د سهار په وخت کي درس ویلو اجازه ورکړي د الله تعالی ارشاد دئ:

﴿ يا أيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود ﴾. (سورة المائده، الآية:۱).

اې د ایمان خاوندانو وعدې پوره کړي.

امام ابو بکر جصاص رازي تر دغه آیت لاندي د حضرت عبد الله بن عباس مجاهد ابن جریج، ابو عبید او څو نورو کسانو څخه نقل کړي دئ چې د عقود څخه مراد عهد یعني معاهدې او وعدې دي ښکاره خبره ده چې جائز شرطونه هم د عهد له جملې څخه وي په خپله جصاص وړاندي لیکلي دي:

وكذلک كل شرط إنسان على نفسه في شيء يعمله في المستقبل فهو عقد .

دراتلونکي وخت په اړوند چې یو انسان پر خپل ځان کوم شرطونه لازم کړي هغه عقد دئ بیا دا چې د آیات غوښتنه څه ده: فرمايي:

وهو عموم في إيجاب الوفاء بجميع مايشترط الإنسان على نفسه ما لم تقم دلالة تخصصه.

انسان چې پر خپل ځان کوم شرطونه عائد کړل دغه ایت د هغو ټولو په هکله پوره کول واجبوي پرته له دې چې کوم داسي دلیل موجود وي چې په هغه کي د تخصیص غوښتنه کوي:

همدا ډول مضمون قرآن مجید بل ځای داسي فرمایلي دي ﴿ وأوفوا بالعهد ﴾. د الله (جَلَّ جَلَالُهُ) عهد پوره کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

مفسر قرطبی رحمه الله تر هغه لاندي ليکي: لفظ عام لجميع ما يعقد باللسان ويلتزمه الإنسان من بيع أو صلة أو مواثقة في أمر موافق للديانة .

عقد هغو ټولو خبرو ته شامل وي چي په ژبه فيصله سي او انسان يې پر خپل ځان لازم کړي خرڅول او رانيول وي د صله رحمي يا يوې داسي معاملي معاهده وي چي د دين سره موافق وي.
(جديد فقهی مسائل:۳/ ۳۷).

او همدا ډول د شرط د قبلېدو له امله استاذان اجير خاص دي او د اجير خاص له پاره بل ځای کار کول درست نه دي.

په درمختار کي راځي:

والثاني وهو الأجير الخاص ويسمى أجير وحد وهو من يعمل لواحد عملًا مؤقتًا بالتخصيص ويستحق الأجر بتسليم نفسه في المدة وإن لم يعمل كمن استؤجر شهرًا للخدمة أو شهرًا لرعي الغنم المسمى بأجر مسمى بخلاف ما لو آجر المدة بأن استأجره للرعي شهرًا حيث يكون مشتركًا إلا إذا شرط أن لا يخدم غيره ولا يرعى لغيره فيكون خاصا وتحقيقه في الدرر : وليس للخاص أن يعمل لغيره ، ولو عمل نقص من أجرته بقدر ما عمل . (قوله وتحقيقه في الدرر) ونصه : اعلم أن الأجير للخدمة أو لرعي الغنم إنما يكون أجيرًا خاصا إذا شرط عليه أن لا يخدم غيره أو لا يرعى لغيره أو ذكر المدة أولًا ، (قوله وليس للخاص أن يعمل لغيره) بل ولا أن يصلى النافلة . (الدر المختار مع الشامی:٦/ ٦٩-٧٠). والله ﷻ اعلم.

د مدرسې له پاره د مکان د وقف کولو حکم

سوال: يو چا په خپله محُکه کي د وقف سرای جوړ کړ او دا شرط يې کښېښودئ چي زما وروسته دا مکان د مدرسې له پاره وقف دئ فلاني استاذ به پکښې اوسيږي اوس که په هغه مکان کي کوم بل استاذ واوسيږي نو په شريعت کي درست دي او که نه؟ او د وقف کونکي ته شرعاً د اعتراض حق سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي به د شريعت له نظره د واقف د شرائطو اعتبار کيږي لهذا هغه استاذ چي واقف ياد کړی دئ هغه به پکښې اوسيږي که يې بل استاذ پکښې واوساوه نو واقف ورباندي اعتراض کولای سي، البته که واقف وروسته عامه اجازه ورکړه نو بيا بل څوک هم پکښې اوسول روا دي.

په قانون العدل الانصاف کي راځي:

کل شرط لايخل بحكم الوقف ولايوجب فساده فهو جائز معتبر..... شرط الواقف المعتبر كنص الشارع في الفهم والدلالة ووجوب العمل به. (قانون العدل والانصاف، ص ٧٤-٧٥، الفصل الاول فى الشرط على العموم).

وفى الدر المختار: شرط الواقف كنص الشارع أى فى المفهوم والدلالة ووجوب العمل به فيجب عليه خدمة وظيفته أو تركها لمن يعمل وإلا أثم لا سيما فيما يلزم بتركها تعطيل الكل، وفى الشامية: وبه صرح فى الخيرية أيضاً أى فإذا قال وقفت على أو لادى الذكور يصرف إلى الذكورمنهم بحكم المنطوق . (الد المختار مع فتاوى الشامى:٤/ ٤٣٣، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

شرائط الواقف معتبرة إذا لم تخالف الشرع وهو مالك فله أى يجعله ماله حيث شاء مالم يكن معصية وله أن يخص صنفاً من الفقراء . (فتاوى الشامى:٤/ ٣٤٣).

Maktaba Tul Ishaat.com

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

د واقف شرائط د نص جلي حیثیت لري ځکه نو د وقف څخه استفاده او د وقف انتظامات به د واقف د شراطونو مطابق سر ته رسیږي. (مجموعه قوانین اسلامی: ص ۳۵٤). والله ﷻ اعلم.

د وقف له پوره کېدو وروسته د شرط ایښودلو حکم

سوال: که واقف د وقف په وخت کي شرط نه کښېښودئ وروسته یې ووېل چي په وقف سوي سراي کي به فلاني استاذ اوسیږي نو دا شرط به لازم وي او که نه؟

الجواب: د واقف وروسته شرط به د مشوري درجه لري د مدرسې د خاوندانو له پاره به لازم او ضروري نه وي واقف ته به د شرائطو د بدلون اختیار هغه وخت وي چي کله هغه د خپل ځان له پاره په وقف نامه کي د بدلون اختیار ایښي وي که نه د بدلون او زیاتوني اختیار نه لري.

قال فی الدر المختار: ولكن يجوز الرجوع عن الموقوف عليه المشروط .... وفی الشامية: وفي الإسعاف : ولا يجوز له أن يفعل إلا ما شرط وقت العقد ، وفيه : لو شرط في وقفه أن يزيد وظيفة من يرى زيادته أو ينقص من وظيفة من يرى نقصانه أو يدخل معهم من يرى إدخاله أو يخرج من يرى إخراجه جاز ، ثم إذا فعل ذلك ليس له أن يغيره لأن شرطه وقع على فعل يراه ، فإذا رآه وأمضاه فقد انتهى ما رآه ، وفي فتاوى الشيخ قاسم : وما كان من شرط معتبر في الوقف فليس للواقف تغييره ولا تخصيصه بعد تقرره، ولا سيما بعد الحكم (فتاوی الشامی: ٤/ ٤٥٩، مطلب لايجوز الرجوع عن الشراط، سعيد).

په عالمګیري کي راځي:

وإذا قال أرضي صدقة موقوفة لله تعالى أبداً على أن أضع غلتها حيث شئت جاز وله أن يضع غلتها حيث شاء فإن وضع فی المساكين أو فی الحج أو في إنسان بعينه فليس له أن يرجع عنه. (الفتاوى الهندية: ٢/ ٤٠٢).

په قانون العدل والانصاف کي راځي:

إذا كان الوقف مرسلاً لم يشترط الواقف فيه الاستبدال لنفسه ولا لغيره فليس له بيعه واستبداله. (قانون العدل:۹۸، مادة ۱۳۳). والله ﷻ اعلم.

په وقف سوي مځکه کي د مکان د تعمير حکم

سوال: که مځکه د مدرسې وي او يو چا د وقف په نيت پر هغه سرای جوړ کړ نو اوس به دغه سرای د مدرسې په اختيار کي وي او که د واقف؟

الجواب: چي مځکه د مدرسې وي نو مکان به د مځکي تابع وي او په هغه کي به د مدرسې د متولي خبره چليږي د عمارت د وقف کونکي اختيار به نه وي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

وفي المجتبى لا يجوز وقف البناء بدون الأصل وهو المختار . وفي الفتاوى السراجية : سئل هل يجوز وقف البناء والغرس دون الأرض ؟ أجاب ، الفتوى على صحة ذلك، وظاهره أنه لا فرق بين أن تكون الأرض ملكًا أو وقفًا .... قال في الظهرية ..... وإن كانت (الشجرة) في أرض موقوفة فوقفها على تلك الجهة جاز كما في البناء. (البحر الرائق:۵/ ۲۰٤).

په معين الحکام کي راځي:

وإذا كان أصل القرية وقفاً على جهة قرية فبنى عليها رجل بناء ووقف بنائها على جهة قرية أخرى اختلفوا فيه فأما إذا وقف البناء على جهة القرية التي كانت البقعة وقفاً عليها فيجوز بالإجماع ويصير وقفاً تبعاً للقرية هذا هو الذي استقر عليه فتاوى أئمة خوارزم . (معين الحكام مع لسان الحكام: ۲۹٤، الفصل العاشر في الوقف).

Maktaba Tul Ishaat.com

په امداد الفتاوی کي ديوه سوال په جواب کي فرمايي:

د سوال عنوان دا دئ د بناء وقف په ټولو احکامو کي د مځکي تابع دئ چي پورتنی صورت کي دا ټول مکانات وقف سوي دي، البته که د دوی استثناء سوی وای نو وقف سوی به نه وای مګر اوس په وقف کي څنګه چي نور شيان تبعا للارض وقف دي نو د مصارفو په شرائطو کي به هم د مځکي تابع وي د مثال په ډول د وقف سوي مځکي منافع که ديوې مدرسې يا مسجد يا مسکينانو وقف وي نو دغه سرايونه به هم په کرايه ورکوي او که ګټه به يې پر همدغه مصارفو مصرفوي. (امداد الفتاوی:۲/ ۶۰۷).

معلومه سوه چي د مدرسې وقف سوي مځکه د مدرسې د خاوندانو په تصرف کي ده ځکه مکان د مځکي تابع دئ له دې امله به د واقف دا شرط معتبر نه وي چي په دغه مکان کي به فلاني اوسيږي نو که مځکه د مدرسې د طالبانو له پاره وقف وي او په هغه کي څوک درختي ولګوي د مسافرينو له پاره يې وقف کړي نو دا به درسته نه وي. والله ﷻ اعلم.

د ضرورت پر ختم کېدو د بيرته اخيستلو حکم

سوال: يو چا د انجونو د مدرسې له پاره يوه مځکه وقف کړه بيا يې د مدرسې د ضرورت له امله يو بل اپارتمان ورکړ وروسته معلومه سوه چي د مدرسې له پاره هغه دوهم اپارتمان ضروري نه دئ دا معلومول غواړو چي هغه دوهم اپارتمان چي د هغه لمبر او حدود بېل وه وقف سو او که نه؟ او هغه بېرته اخيستلای سي او که نه؟

الجواب: د مدرسې د ضرورت له امله که اپارتمان مدرسې ته وسپاري او دا لفاظ ووايي چي ما دغه اپارتمان مدرسې ته ورکړ نو د مدرسې تمليک سو اوس يې بېرته نه سي اختسيلای.

ولو قال: وهبت داري لمسجد أو أعطيتها له صح ويكون تمليكاً فيشترط التسليم كما لو قال: وقفت الخ. (الفتاوی الهندية:۲/ ۴۶۰، وكذا فی الفتاوی التاتار خانية:۵/ ۸۳۵).

او که ده د وقف الفاظ ويلي وي بيا هم هغه اپارتمان نه سي واپس کولای.

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

وجعله أبو يوسف رحمه الله كالإعتاق فلذلک لم يشترط القبض والإفراز أى فيلزم عنده بمجرد القول كالإعتاق بجامع إسقاط الملک. (فتاوى الشامى:٤/ ٣٤٩).

والأخذ بقول الثاني أحوط وأسهل بحر، وفي الدرر وصدر الشريعة وبه يفتى وأقره المصنف رحمه الله. (الدر المختار:٤/ ٣٥١، كتاب الوقف، سعيد).

له دغو عباراتو څخه روښانه سوه چي وقف دمفتى به قول موافق دمتولي په قبضه کي ورکول او د وقف ځمکه بېلول ضروري نه ده د وقف د پوره کېدو وروسته هغه په قيمت سره خرڅول خو ښخي ممنوع دي، البته ځمکه په ځمکه بدلول په ځينو صورتو کي ګنجائش لري په پورتنۍ صورت کي يې ګنجائش نه سته.

اعلم أن الاستبدال على ثلاثة وجوه: الأول: أن يشرطه الواقف لنفسه أو لغيره، فالاستبدال فيه جائز على الصحيح وقيل اتفاقًا. والثاني: أن لا يشرطه سواء شرط عدمه أو سكت لكن صار بحيث لا ينتفع به بالكلية بأن لا يحصل منه شيء أصلًا، أو لا يفي بمؤنته فهو أيضًا جائز على الأصح إذا كان بإذن القاضي ورأيه المصلحة فيه، والثالث: أن لا يشرطه أيضًا ولكن فيه نفع في الجملة وبدله خير منه ريعًا ونفعًا، وهذا لا يجوز استبداله على الأصح المختار. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٤/ ٣٨٤، سعيد).

د دې عبارت خلاصه دا ده چي د وقف د بدلولو درې صورتونه دي:

۱_ واقف د مخکي څخه د خپل ځان يا بل چا له پاره دا شرط ولګاوي چي ده ته به د فلاني وقف د بدلون اختيار وي.

۲_ يا وقف ښخي بې کاره سي چي هيڅ دول فائده نه ورکوي يا خپله خرڅه هم نه سي پوره کولای نو بيا د قاضي په حکم سره بدليدای سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳_ د بدلون شرط يې ذكر نه كړ خو بدل يې له ده څخه ښه دي يعني ګټه يې زياته ده نو په دغه صورت كي يې بدلون روا نه دئ، له دغه بيان څخه معلومه سوه چي دغه وقف سوي اپارتمان واپس كول يا خرڅول روا نه دئ بلكي د مدرسې په ملكيت كي به وي ياده دي وي چي دوقتي ضرورت په ختم كېدو سره وقف نه ختم كيږي. والله ﷻ اعلم .

د مدرسې د مځكي په بل كار كي د استعمال حكم

سوال: كه يو چا د مدرسې له پاره مځكه وقف كړه نو د هغې پر يوه برخه مسجد او يا هدېره جوړول روا دي او كه نه؟

الجواب: هغه مځكه چي مدرسې ته وقف سي نو د مسجد د جوړېدو نيت پكښې وي ځكه په عام ډول په مدرسه كي مسجد وي لهذا د مسجد په جوړېدو كي څه باک نه سته، البته د هدېري په جوړېدو كي د علماوو درې اقوال دي:

۱_ عدم جواز .

۲_ جواز .

۳_ په كرايه سره جواز يعني د هدېري له طرفه دي مدرسې ته څه مياشتنى كرايه وركول سي او دا صورت ښه دئ .

په جديد فقهي مسائل كي دا مسئله ذكر سوي ده، لنډيزيې په دې ډول دئ په دغه مسئله كي د علماوو درې اقوال دي: عدم جواز، جواز، د كرايې په صورت كي جواز هغه كسان چي د جواز قول كوي هغوی هم د كرايې صورت ښه بللي دئ هغه كسان چي د عدم جواز قول كوي دلائل يې په دې ډول دي:

۱_ شرط الواقف كنص الشارع. (شامی).

۲_ الصرف هو إلى ما هو أقرب إلى العمارة كالإمام ونحوه إنما هو فيما إذا لم يكن الوقف معيناً على جماعة معلومين كالمسجد والمدرسة . (شامی).

۳_ وظاهره أنه لايجوز صرف وقف مسجد خرب إلى حوض وعكسه وفى شرح الملتقى يصرف وقفها لأقرب مجانس لها . (شامى).

همدا ډول وګورئ: (عالمګیری:۲/ ٣٦٤).

د جواز قائلینو دلائل وګورئ:

۱_ لو أن مقبرة من مقابر المسلمين عفت فبنى قوم عليها مسجداً لم أر بذلك بأساً وذلك لأن المقابر وقف من أوقاف المسلمين .... فإذا درست واستغنى عن الدفن فيها جاز صرفها إلى المسجد لأن المسجد أيضاً وقف من أوقاف المسلمين. (عمدة القارى:۳/ ٤٣٥، باب هل تنبش قبور مشركى الجاهلية ويتخذ مكانها مساجد، ملتان).

په معارف السنن کي راځي:

قال الراقم: ومما تبين لي بعد فحص وبحث كثير أنه إذا اجتمعت أموال كثيرة تزيد على إعادة بناء المسجد إن احتيج إليه فيجوز صرف الزائد إلى إنشاء مدرسة ونشر علم وإن لم يكن من شرط الواقف .(معارف السنن:۳/ ۳۰۱).

همدا ډول وګورئ: (فتاوى رحيميه:۲/ ۱۸۷ – وامداد الفتاوى:۲/ ٥٧٩ – واحسن الفتاوى:٦/ ٤٠٩ – کفایت المفتی:۷/ ۱۰۰).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

ليس للقيم أن يسكن فيها أحد بغير أجر . (الفتاوى التاتار خانية:٥/ ٧٤٩).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مباحث: ج ۱۲ – وفتاوی محمودیه:۱۷/ ۲۳۱، و ۱۸- ۲۲۰). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مدارسو د کلني جلسي حکم

سوال: په مدرسو او یا مکتبونو کي د کلني جلسو حکم څه دئ؟ او په هغه کي طالبانو ته د انعام ورکولو حکم څه دئ؟

الجواب: په مدارسو کي کلني جلسي روا دي خو شرط دا دئ چي د شریعت خلاف کارونه به نه وي د ښځو او نارینه وو ګډون به نه وي او نجوني به د نارینه وو په وړاندي نظمونه وغیره نه وایي که د شریعت د حدودو لحاظ وسي نو دا سلسله ګټوره ده په کوچنیانو کي شوق پیدا کیږي او مور او پلار یې د دین طرف ته تشویقیږي او همدا ډول ختم بخاري وغیره هم په مدارسو کي د دې له پاره وي چي خلک دین ته نژدې کړي او غوږونو ته یې د دین خبره ورسیږي .

۲_ کوچنیانو ته که په انعام کي داسي شی ورنه کړل سي چي د ذی روح تصویر ورباندي وي نو په انعام ورکولو کي څه باک نه سته . والله ﷻ اعلم.

د مدرسې له مطبخ څخه د ډوډئ وړلو حکم

سوال: یو طالب علم په مطبخ کي ډوډئ د خوړل او بیا هم ډوډئ کوټي ته وړي ایا دا صحیح ده او که نه؟ او که یې نه وي خوړلي وړل یې څنګه دي؟

الجواب: دا ټول کارونه له انتظامي امورو سره تعلق لري او د مدرسې نظام دا دئ چي طالبان ټول یو ځای ډوډئ وخوري او په عام ډول د دفتر اهتمام له طرفه یې د کوټو د وړلو اجازه نه وي خو که مریض وي یا کوم بل عذر وي نو د ذمه دارو کسانو په اجازه یې وړلای سي همدا ډول که یوه طالب ډوډئ خوړلي نه وي او د مطبخ والاوو په اجازه یوازي ډوډئ یوسي نو ګنجائش سته خو دا مکان تر حده د مدرسې د قوانینو پابندي ضروري ده ځکه پر قوانینو په دستخط سره یې وعده وکړه او د وعدې د شرائطو لحاظ په احادیثو کي ثابت دئ نبي کریم ﷺ فرمایي، المسلمون عند شروطهم، او په عملي ډول هم ده مبارک ﷺ د حدیبې د صلحي پر موقع پابندي وکړه او صحابه وو ته یې هم ښودنه وکړه.

په مدرسو کي د زنګ وهلو حکم

سوال: په اسلامي مدرسو کي د طالبانو د وخت د بدلون له پاره زنګ وهل درست دي او که نه، ځيني کسان وايي چي د حديث له مخي روا نه دي؟

الجواب: د صحيح مقصد له پاره روا دي په ديني مدارسو کي د طالبانو د وختونو د بدلون او نورو امورو له پاره يې وهل په صحيح غرض کي داخل دي لکه اسپيکر چي په مساجدو وغيره کي د اواز رسولو له پاره استعماليږي او په حديث کي چي ممانعت راغلی دئ علماوو يې مختلف توجيهات بيان کړي دي .

په حديث شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: إن رسول الله ﷺ قال: لاتصحب الملائكة رفقة فيها كلب ولاجرس . وفي رواية له عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: الجرس مزامير الشيطان. (رواهما مسلم:٢/ ٢٠٢).

وقال شيخ مشايخنا السهارنبوري رحمه الله في بذل المجهود (١٢/ ٥٣) « وهذا (أي كراهة الكلب والجرس) إذا خليا عن المنفعة وأما ما احتيج إليه منهما فمرخص فيه » والذي يظهر لهذا العبد الضعيف عفا الله عنه أن الكراهة المذكورة في الحديث إنما تنصرف إلى كلب وجرس قصد منهما اللهو والغنا كما كان يعتاده بعض أهل القوافل ويدل عليه قوله عليه الصلاة والسلام في الرواية الآتية « الجرس مزامير الشيطان » أما الكلب إذا كان للحراسة والتحرز من اللصوص فهومرخص فيه ككلب زرع وماشية وكذلك الجرس إذا كان لمقصود مباح فلا بأس به . (تكملة فتح الملهم :٤/ ٤٧٩).

Maktaba Tul Ishaat.com

په عالمګيري کي راځي:

واختلف العلماء في كراهة تعليق الجرس على الدواب فمنهم من قال بكراهته في الأسفار كلها الغزو وغيره في ذلك سواء .... قال محمد رحمه الله تعالى : فأما ما كان في فيه منفعة لصاحب الراحلة فلا بأس به، قال وفي الجرس منفعة جمة منها : إذا ضل واحد من القافلة يلحق بها بصوت الجرس ومنها : أن صوت الجرس يبعد هوام الليل عن القافلة كالذئب وغيره ومنها : أن صوت الجرس يزيد في نشاط الدواب فهو نظير الحداء كذا في المحيط .

(الفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٤).

په نفع المفتي والسائل کي راځي:

الاستفسار: تعليق القلادة التي فيها الأجراس، الجلاجل في عنق الفرس، كما تروج فى بلادنا هل يجوز؟

الاستبشار : لايجوز فى « مطالب المؤمنين » قال محمد رحمه الله: إذا كان في دار الإسلام منفعة لصاحب الراحلة فلا بأس بالجرس .

وفى الجرس منافع :

منها: إذا ضل واحد من القافلة يلتحق بصوت الجرس .

ومنها : أن صوت الجرس يبعد هوام الليل .

ومنها : أنه يزيد في نشاط الدواب . كذا فى « متفرقات استحسان المحيط».

وان جعل الأجراس في غير الإبل، والحمار الذى يحمل عليه الأثقال لا أحب أن يفعل ذلک، لمكان النهى.

سئل علی بن أحمد عن القلادة التی فیها الأجراس تجعل علی عنق الفرس، هل یجوز، کما هو العادة فی بلادنا؟

قال: نعم، کذا أجاب أبو حامد.

وسألت والدی عن هذا فقال: لایجوز، لأنه لامنفعة فیه، کذا فی « الیتیمیة ». انتهی . (نفع المفتی والسائل:ص ۹۴۱-۹۴۲، بیروت).

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فتح الباري كي فرمايي:

(قوله مثل صلصلة الجرس) في رواية مسلم في « مثل صلصلة الجرس » والصلصلة في الأصل صوت وقوع الحديد بعضه على بعض، ثم أطلق على كل صوت له طنين، .... والجرس الجلجل الذي يعلق في رؤس الدواب، .... فإن قيل المحمود لا يشبه بالمذموم إذ حقيقة التشبيه الحاق ناقص بكامل والمشبه الوحي وهو محمود والمشبه به صوت الجرس وهو مذموم لصحة النهي عنه، والتنفير من مرافقة ما هو معلق فيه والاعلام بأنه لا تصحبهم الملائكة كما أخرجه مسلم وأبو داود وغيرهما، فكيف يشبه ما فعله الملك بأمر تنفر منه الملائكة ؟ والجواب : أنه لا يلزم في التشبيه تساوي المشبه بالمشبه به في الصفات كلها ، بل ولا في أخص وصف له بل يكفي اشتراكهما في صفة ما، فالمقصود هنا بيان الجنس، فذكر ما ألف السامعون سماعه تقريباً لأفهامهم، والحاصل أن الصوت له جهتان : جهة قوة وجهة طنين فمن حيث القوة وقع التشبيه به، ومن حيث الطرب وقع التنفير عنه وعلل بكونه مزمار الشيطان . (فتح الباری:۱/ ۲۰).

Maktaba Tul Ishaat.com

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: په مساجدو کي زنګ وهونکي ساعت ځړول لکه چي نن سبا رواج دي ایا مکروه نه دي ځکه د ږنګولي داواز سره مشابهت لري او بل دا چي د سلفو څخه يې نقل نه دئ راغلي ؟

الجواب: د خلاف اولی بللو ګنجائش يې سته خو ناروا ورته نه سو ویلای ځکه دا هغه ممنوع جرس نه دئ بلکي د وخت د پېژندلو آله ده فقهاوو د پیشلمي د ډول وهلو اجازه لیکلي ده او په مسجد کي يې کېدل د دي امله مصلحت دئ چي هلته د وخت معلومیدو ته زیات ضرورت وي . (امداد الفتاوی:۲/ ۷۱۸). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل إلا أن تكون تجارةً عن تراضٍ منكم ﴾ . (سورة النساء، الآية:۲۹).

عن المقداد بن معديكرب رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « ما أكل أحد طعاما قط خيرا من أن يأكل من عمل يديه وأن نبي الله داؤد عليه السلام كان يأكل من عمل يديه». (رواه البخاري).

كتاب .... البيوع

باب .... ﴿۱-۲-۳﴾

د روا او ناروا رانيولولو او خرڅولو احكام

عن النعمان بن بشير رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « الحلال بين والحرام بين وبينهما مشتبهات لايعلمهن كثير من الناس فمن اتقى الشبهات استبرأ لدينه وعرضه ومن وقع في الشبهات وقع في الحرام. (متفق عليه).

Maktaba Tul Ishaat.com

په بیع کي تر هوکړه سوي قیمت د زیات غوښتلو حکم

سوال: یوه کس پر ټلیفون له یو چا سره عقد وکړ او موټر یې ورڅخه واخست، شا وخوا ته یې سفر وکړ او چي کله راغلئ نو د موټر د تر لاسه کولو له پاره بائع لس زره روپۍ زیاتي وغوښتي اوس د دې څه حکم دئ ایا دا بیعه صحیح ده او که نه؟

الجواب: د عقد تر پوره کېدو وروسته مشتري د دې موټر مالک وګرځېدئ او بائع د هغه هوکړه سوي قیمت د وصول حقدار دئ او تر دې د زیات څه غوښتنه کول صحیح نه ده، البته که مشتري له ځانه څخه څه شی زیات ورکړي نو صحیح دئ، همدارنګه په بیعه کي د طرفینو رضایت ضروري دئ.

وګورئ علامه ابن نجیم مصري (٩٢٦ هـ ٩٧٠ هـ) فرمایي:

إذا كان الإيجاب من المشتري فقبل البائع بأنقص من الثمن أو كان من البائع فقبل المشتري بأزيد انعقد ، فإن قبل البائع الزيادة في المجلس جازت كما في التتارخانية .... وأما شرائط اللزوم بعد الانعقاد والنفاذ فخلوه من الخيارات الأربعة المشهورة ويزاد خيار الكمية وخير الغبن إذا كان فيه غرور....(البحر الرائق:٥/ ٢٥٨، ٢٦١، كتاب البيوع، كوئته).

په هدایه کي راځي:

وإذا حصل الإيجاب والقبول لزم البيع ولاخيار لو احد منهما إلا من عيب أو عدم رؤية.

(الهداية:٣/ ٢٠).

البته که عقد مکمل او پوره سوی نه وو، نو بائع د زیاتو غوښنه کولای سي او مشتري ته اختیار دئ چي اخلی یې او که یې نه اخلی په دې سبب چي د طرفینو رضایت شرط دئ او په دې صورت کي مشتري راضی نه دئ.

الله ﷻ فرمايي:

﴿يا أيها الذين آمنوا لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل إلا أن تكون تجارةً عن تراضٍ منكم﴾.(سورة النساء، الآية:۲۹).

په كنز الدقائق كي راځي:

(البيع) هو مبادلة المال بالمال بالتراضي ويلزم بإيجاب وقبول. (كنز الدقائق:۲۲۷، امداديه).

يو چا ته دوكه وركول د نبي كريم ﷺ له تعليماتو څخه خلاف كار دئ او له دې څخه پرهېز كول لازم او ضروري دئ. نبي كريم ﷺ فرمايي: چي دوكه وركونكى كس زموږ څخه نه دئ. ترمذي شريف.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ مر على صبرة من طعام فأدخل يده فيها، فنالت أصابعه بللاً، فقال: يا صاحب الطعام ! ما هذا ؟ قال أصابته السماء يا رسول الله ! قال: أفلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس، ثم قال: « من غش فليس منا » قال المحشي: أى ليس من اخلاقنا ولا على سنتنا، قال أبو عيسى: والعمل على هذا عند أهل العلم وقالوا: الغش حرام.

(ترمذى شريف مع الحاشية:۱/ ۲٤٥، باب ماجاء فى كراهية الغش فى البيوع). والله ﷻ اعلم.

د بائع له طرفه په بيعه كي شرطونه لګول او د هغو حكم

سوال: ايا بائع ته د لاندينو شرطونو لګول جائز دي او كه نه؟

۱_ د تړو كر تر پرېكولو وروسته هيڅ دعوه د قبول وړ نه ده.

۲_ د بيرته راوړلو په صوّرت كي د انوائس يا كوډ لمبر ذكر كول ضروري دي.

۳_ د تړو كر تر پرېكولو وروسته صرف اوه ورځي د بيرته راوړل كېدلو اختيار سته.

۴_ سامان به تر هغه وخته د بائع (دوكاندار) په لاس كي وي تر څو چي مشتري پوره پيسې ادا كړي نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: اول شرط صحیح دئ، د بائع په خپله خبره کي مطلب دا دئ چي د تو کر یا تان تر پرېکولو وروسته یې زه له هره عیبه خلاص یم او له هره عیبه څخه د بری الذمه کېدو شرط لګول صحیح دئ.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ومن باع عبداً وشرط البراءة من كل عيب فليس له أن يرده بعيب وإن لم يسم العيوب بعددها. (الهداية، كتاب البيوع، باب خيار العيب،۳/ ٤٨، وكذا فى المبسوط للامام السرخسى:١٢/ ٩١).

په شرح المجله کي راځي:

إذا باع ماله بشرط براءة ذمته من دعوى كل عيب فلا يكون للمشتري خيار عيب. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى، البيوع، الفصل السادس فى خيار العيب، ٢/ ٣٠٥، رشيديه).

د دوهم شرط په اړه:

نن سبا زمانه پر پر مختک روانه ده او د ځینو سامانو له پاره خاص او ځانګړي کوډ لمبروي چي هغه ته (بل، انوائس) کوډ وایي او دا کوډ هغه شی دئ چي له ده سره پر سامان قیمت ایښودل کېږي او له سامان سره ورکول کېږي او د هغه ساتنه ضروري ده ولي د سامان د بیرته راوړلو په صورت کي د دې رسېد وجود ضروري دئ چي زموږ په اصطلاح کي (wanm) ورته ویل کېږي او په عرف کي د اسانۍ په خاطر دا رواج دئ، لهذا دا صحیح ده او د عدم جواز له پاره یې کومه وجه او دلیل نسته.

وګورئ علامه ابن نجیم مصري رحمه الله په الاشباه کي فرمایي:

العادة المطردة هل تنزل منزلة الشرط قال في إجارة الظهيرية: المعروف عرفًا كالمشروط شرعًا. انتهى. (الاشباه والنظائر: القاعدة السادسة، العادة محكمة:١/ ٢٧٨).

درېیم شرط په اړه:

درېیم شرط بعینه د اول شرط په ډول دي چي بایع تر اوو ورځو وروسته له هر عیبه څخه بری الذمه دئ او دا شرط صحیح دئ.

د ځلورم شرط په اړه:

د عقد له پوره کېدو وروسته مشتري د مبيعې يا سامان پوره مالک وګرځېدئ لهذا د بائع له طرفه د ملکيت شرط لګول په بيعه بالتقسيط کي صحيح نه دئ، البته په عقد معجل کي داسي شرط لګولای سي تر څو چي مشتري ټولي پيسې ادا کړي نه وي مبيعه به د بائع په لاس کي وي.

په شرح مجله کي محمد خالد اتاسي ليکلي دي:

لو باع بشرط أن يحبس المبيع إلى أن يقبض المثن فهذا الشرط لايضر بالبيع بل هو بيان لمقتضى البيع، فإن للبائع حبس المبيع إلى أن يقبض الثمن ولو لم يشترط ذلک فی العقد.

(شرح المجلة للأتاسيف البيوع، الباب الاول فی بيان المسائل المتعلقة بعقد البيع، الفصل الرابع فی حق البيع بشرط:۲/ ٦١، رشيديه). والله ﷻ اعلم.

په عقد بيع کي د مفت سروس شرط لګولو حکم

سوال: ډېري وختونه کمپنۍ والا وايي چي موږ مفت سروس کوو مګر وروسته د سروس ضرورت پيدا کيږي او پوره اجرت اخلی د دې حکم څه شی دئ ايا د سروس کولو شرط لګول جائز دئ او که نه؟

الجواب: د اکابرينو له عباراتو څخه معلوميږي چي د سروس شرط لګول داسي دي لکه څوک چي له دوکاندار څخه پوستوکی په دې شرط واخلي چي بائع به له هغه څخه چوټي، مچړي او څپلی جوړه وي او دا د فقهاوو په اتفاق روا او صحيح ده، لهذا په دې عمل کول په کار دي، البته که چيري مشتري د دې مشين کومه پرزه ماته کړي نو بائع يا کمپنۍ ذمه دار نه ګرځي.

په شرح مجله کي راځي:

و حاصل ما ذكره الفقهاء في البيع مع الشرط أن الشرط الذي يقترن به البيع إما أن يقتضيه العقد، وإما أن لايقتضيه العقد لكن يلا يمه، وإما أن لا يقتضيه العقد ولا يلايمه لكن قد جرى العرف باشتراطه، وإما أن لايقتضيه العقد ولا يلايمه ولا جرى العرف باشتراطه، لكن لامنفعة

Maktaba Tul Ishaat.com

فيه لأحد، فالبيع في هذه الوجوه الأربعة صحيح والشرط معتبر في الوجوه الثلاثة الأولى منها، ويلغو في الوجه الرابع. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:۲/ ۵۹، الفصل الرابع فی حق البيع بشرط).

مفتي تقي عثماني صاحب په تکمله کي فرمايي:

وخلاصة مذهب الحنفية في ذلک أنه إن كان شرطاً يقتضيه العقد، أو يلائم العقد أو شرطاً جرى به التعامل بين الناس، فهو جائز ولا يفسد به البيع.... ومثال الشرط الذي جرى به التعامل ما إذا اشترى نعلاً على أن يحذوه البائع أو جراباً عل أن يخرزه له خفاً، قال السرخسي رحمه الله في المبسوط: وإن كان شرطاً لا يقتضيه العقد، وفيه عرف ظاهر فذلک جائز أيضاً، كمالو اشترى نعلاً وشراكاً بشرط أن يحذوه البائع، لأن الثابت بالعرف ثابت بدليل شرعي، ولأن في النزع عن العادة الظاهرة حرجاً بيناً، وقال الكاساني: في «البدائع:۵/ ۱۷۲» والقياس أن لايجوز وهو قول زفر رحمه الله، وجه القياس أن هذا شرط لايقتضيه العقد وفيه منفعة لأحد العاقدين، وإنه مفسد .... ولنا أن الناس تعاملوا هذا الشرط في البيع، كما تعاملوا الاستصناع فسقط القياس بتعامل الناس، كما سقط في الاستصناع. (تكملة فتح الملهم:۱/ ۶۲۹، مسئلة الشرط في البيع).

په هدايه کي راځي:

ومن اشترى نعلاً على أن يحذوه البائع أو يشر كه بالبيع فاسد.... وفي الاستحسان يجوز للتعامل فيه. (الهداية:۳/ ۶۱).

په جديد فقهي مسائل نومي کتاب کي راغلي دي:

نن سبا ځيلو مصنوعاتو ته د شهرت ورکولو په خاطر او د مشتري د راجلبولو په خاطر وخريدار ته تريو وخته د سامان د اصلاح او مرمت يقين ورکول کيږي دا مسئله له دې کبله مهمه ده چي شريعت

په رانیولو او خرڅولو کي د داسي اضافي شرطونه لګول منعه کړي دي، له همدې کبله فقهاوو په بیعه کي د داسي شرطو له وجي هغه معاملې ته د فاسدي بیعي حکم ورکړی دئ چي په هغه کي داسي شرط راغلی وي.

د دې تقاضی دا ده چي د دارنګه ګرنتۍ له سببه دا بیعه ناروا ګرځي مګر د فقهاوو په نزد د شریعت (د شریعت مقصد دا دئ چي د نزاع (شخړي) د امکان دروازه بنده سي) هر کله چي معروف او مروج شرطونه وي هغه د نزاع باعث نه ګرځي، لهذا منل سوي او مروج شرطونه جائز او د اعتماد وړ بلل سوي دي لکه څرنګه چي د هدایې ملا مستثنی کړي دي او فرمایي:

« إلا أن يكون متعارفاً ». (الهداية:۳/ ۵۹، باب البيع الفاسد). (ماخوذ از جدید فقهی مسائل:۱/ ۳۸٦، وكذا في تقرير الترمذي:۱/ ۱۰۹).

لنډه دا ده چي هر شرط عقد ته مفسد نه وي هغه شرطونه چي ونزاع ته مفضی وي هغه دعقد مفسد دي، البته کوم شرطونه چي عقد د هغو شرطو تقاضا کوي او هغه شرط موافق او ملائم وي د هغو شرطونو په ایښودلو کي ګنجائش سته او نن ورځ چي کوم شرطونه دي هغه په عرف کي رائج او د عقد له تقاضی سره موافق هم دي، لهذا د عقد د فاسدېدو حکم نه ورکول کېږي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ثم جملة المذهب فيه أن يقال كل شرط يقتضيه العقد كشرط الملك للمشتري لا يفسد العقد لثبوته بدون الشرط، وكل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لأحد المتعاقدين أو للمعقود عليه وهو من أهل الاستحقاق يفسده كشرط أن لا يبيع المشتري العبد المبيع لأن فيه زيادة عارية عن العوض فيؤدي إلى الربا أو لأنه يقع بسببه المنازعة فيعري العقد عن مقصوده إلا أن يكون متعارفا لأن العرف قاض على القياس .... (الهداية:۳/ ۵۹، باب البيع الفاسد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په کفايه کي راځي:

وكذا كل شرط لايقتضيه إلا أنه يلائم البيع أي يؤكد موجبه كالبيع بشرط أن يعطى المشترى بالثمن رهناً أو كفيلاً وهو معلوم بالإشارة أو التسمية لايفسد العقد أيضاً. ..(الكفاية على هامش فتح القدير:٦/ ٧٧، كتاب البيوع، مكتبة الرشيديه).

په مبسوط کي راځي:

وإن كان شرطًا لا يقتضيه العقد وليس فيه عرف ظاهر، فذلك جائز أيضًا .... لأن الثابت بالعرف ثابت بدليل شرعي، ولأن في النزع عن العادة الظاهرة حرجًا بينًا .(المبسوط للامام السرخسی:١٣/ ٤١).

وللا ستزادة انظر: (الدر المختار مع ردالمحتار:٥/ ٨٧، ٨٨، مطلب فی البيع بشرط فاسد، سعيد، وبدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع:٥/ ١٧٢، كتاب البيوع، سعيد – والفتاوی الهندية:٣/ ١٣٣، كتاب البيوع – وحاشية الطحطاوی على الدر المختار:٣/ ٧٧، كتاب البيوع، كوئته).

د بيع بالشرط پر جواز سوال؟

سوال: د بيع بالشرط پر جواز سوال واردېږي هغه دا چي په حديث شريف کي راځي (نهی رسول الله ﷺ عن بيع وشرط) د دې حديث تقاضی دا ده چي داسي عقد بايد ناروا سي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي دا حديث په علت سره معلول دئ بلکي د حديث مطلب دا دئ چي په کوم ځای کي د جنګ او جګړي احتمال وي هلته عقد فاسدېږي مګر که چيري د نزاع احتمال نه وو نو هلته عقد نه فاسدېږي ګواکي د حديث شريف مطلب دا دئ (نهی عن بيع وشرط اذا ادی الی النزاع).

وګورئ په درمختار کي راځي:

فإن قلت: نهى النبي ﷺ عن بيع وشرط، فيلزم أن يكون العرف قاضياً على الحديث. قلت: ليس بقاضٍ عليه، بل على القياس، لأن الحديث، معلول بوقوع النزاع المخرج للعقد عن المقصود به، وهو قطع المنازعة، والعرف ينفي النزاع فكان موافقاً لمعنى الحديث، فلم يبق من الموانع إلا القياس والعرف قاضٍ عليه .... قلت: وتدل عبارة البزازية والخانية، وكذا مسألة القبقاب على اعتبار العرف الحادث، ومقتضى هذا أنه لو حدث عرف في شرط غير الشرط في النعل والثوب، والقبقاب أن يكون معتبراً إذا لم يؤد إلى المنازعة. (الدر المختار مع ردالمحتار:٥/ ٨٨، كتاب البيوع، سعيد).

(وكذا في العناية: على الهداية على هامش فتح القدير:٦/ ٤٤٢، دار الفكر – والفقه الحنفى فى ثوابه الجديد:٤/ ٦٤، الاصل الجامع فى بيان الشرط الفاسد).

(نشر العرف فى بناء بعض الاحكام على العرف، وعمدة القارى:٣/ ٥٠٠، باب ذكر البيع والشراء على المنبر فى المسجد، ط: ملتان).

په تکملة فتح الملهم کي راځي:

وقد كثرت في عهدنه أنواع الشروط في البيوع والإجارات وغيرها فكل ماجرى به التعامل العام كان جائزاً، مثل ما تعورف فى العالم كله أن مشترى الثلاجات، والدافئات، والماكينات الأخرى يشترط على البائع القيام بتصليحها كلما عرضها فساد في حدود مدة معلومة، كالسنة أو السنتين مثلاً، فإن هذا الشرط جائز لشيوع التعامل بها. (تكملة فتح الملهم:١/ ٦٣٥، مسئلة الشرط فى البيع). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حشرات الارض د تجارت حکم

سوال: د چینجیانو، مارانو او داسې نورو حشراتو رانیول او خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: د شریعت مطهره اصول دا دي چي کوم شی د ګټي وړ وي د هغه رانیول او خرڅول روا دي، لهذا د چینجي او مار له پوستکي او د جسم له نورو اعضاوو څخه ګټه اخیستل کیږي نو د دوی رانیول او خرڅول هم روا دي.

وګورئ په فتاوی درمختار کي راځي:

ويباع دود القز وبيضه والنحل المحرز ، وهو دود العسل.... بخلاف غيرهما من الهوام إلا السمك وما جاز الانتفاع بجلده أو عظمه ..... والحاصل أن جواز البيع يدور مع حل الانتفاع. وفى الشامية: في الحاوي الزاهدي: يجوز بيع الحيات إذا كان ينتفع منها للأدوية وما جاز الانتفاع بجلده أو عظمه أي من حيوانات البحر أو غيرها. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٥/ ٦٨، مطلب فى بيع دودة القرمز).

په شرح عنايه کي راځي :

قوله ولا يجوز بيع دود القز وبيضه ..... وجاز عند محمد رحمه الله لكونه منتفعًا به ولمكان الضرورة في بيعه ، قيل: وعليه الفتوى . (شرح العناية:٦/ ٤٢٠ – وكذا فى البحر الرائق:٦/ ٧٨، باب البيع الفاسد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وفي النوازل ويجوز بيع الحيات إذا كان ينتفع بها في الأودية وإن كان لا ينتفع بها لا يجوز والصحيح أنه يجوز بيع كل شيء ينتفع به كذا في التتارخانية . (الفتاوى الهندية:٣/ ١١٤، فصل فى بيع الحيوانات). والله تعالى اعلم.

د زمري د فضلاتو د تجارت حکم

سوال: په ځینو هیوادو کي د پیشانو د رفع کولو له پاره د کورونو مخ ته د زمری ګندګي اچوي او بیا دا ګندګي په بازار کي خرڅیږي ایا د دې فضلاتو رانیول روا دي او که نه لکه څرنګه چي زموږ په سیمه کي د باغونو له پاره انبار خرڅیږي او رانیول کیږي ایا دا بیع روا ده او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي مسئله کي که چیري د زمری فضلات یا ګندګي له خاورو یا دوا سره ګډه سوي وي نو بیا یې بیع روا ده او د یوه قول سره سم پرته له ګډون څخه د هم روا دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

لایکره بل یصح بیع السرقین أي الزبل وصح بیعها مخلوطةً بترابٍ أو رمادٍ غلب علیها في الصحیح کما صح الانتفاع بمخلوطها .... وفی الشامیة: قوله الزبل وفي الشرنبلالیة هو رجیع ما سوی الإنسان قوله غلب علیها کذا قیده في موضعٍ من المحیط والکافي والظهیریة ، وأطلقه في الهدایة والاختیار والمحیط فإما أن یحمل المطلق على المقید أو یحمل على الروایتین ، أو على الرخصة والاستحسان . (الدر المختار مع فتاوی الشامی:٦/ ٣٨٥، فصل فی البیع).

وفی تقریرات الرافعي: قوله أو على الرخصة ولاستحسان أی المطلق على الرخصة والمقید على الاستحسان. (تقریرات الرافعی:٦/ ٣٠٨).

په فتاوي عالمګیریه کي راځي:

ویجوز بیع السرقین والبعر والانتفاع بیهما. (الفتاوی الهندیة:٣/ ١١٦، فصل فی بیع المحرمات).

وفي البحر الرائق: کره بیع العذرة لا السرقین لأن المسلمین یتمولون السرقین وانتفعوا به في سائر البلاد والأمصار من غیر نکیر. (البحر الرائق:٨/ ١٩٩، کوئته).

Maktaba Tul Ishaat.com

په کتاب الفتاوي کي راځي:

هغه شیان چي ناپاک وي او له دوی څخه ګټه اخستل کیږي د هغو اخستل او خرڅول درسته خبره ده او صحیح دي له دې سببه چي فقهاوو د خالص امبار خرڅول هم روا بللی دي له دې سببه چي د حیواناتو ګندګي که بل شی ورسره ګډ نه وي بیا هم ګټه ورڅخه اخیستل کېدای سي. (کتاب الفتاوی: ۵/ ۲۷۲، تجارت سی متعلق). والله ﷻ اعلم.

د حیواناتو په تاله او وزن کولو سره خرڅول او د هغه حکم

سوال: د حیواناتو تول کول او بیا خرڅول روا دي که نه، له دې وجې چي حیوان کله خپل ځان دوروند او کله سپک کړي چي له هغه څخه مکمل وزن پیدا کول مشکل وي او په عرف کي د هغوی وزن کول مروج دي لهذا شرعی حکم یې بیان کړئ. الله ﷻ دي اجر عظیم درکړي؟

الجواب: په تاله سره حیواناتو د خرڅولو په سلسله کي د هدایې د مؤلف د یوه عبارت څخه عدم جواز (نه روا کېدل) ثابتیږي. قال في الهدیة: لأن الحیوان لایوزن عادة ولایمکن معرفة ثقله بالوزن لأنه یخفف نفسه مرة ویثقل أخری. (الهدایة: ۳/ ۸۳، باب الربوا).

یعنی په عام عرف کي حیوانات نه تلل کیږي او د هغو د دروند والي او سپک والي پیژندل په تللو سره ممکن نه دي ولي حیوان کله ځان ایله کړي چي ثقالت (دروند والي) ځنی پیدا کیږي او کله ځان راګیر کړي چي سپکوالی ځنی پیدا کیږي، مګر په اوسنی زمانه کي د حیواناتو په تاله سره خرڅول عام عرف دئ او د صحیح ضخامت نه معلومېدل جهالت یسره دئ او په تجارت کي جهالت یسره کوم چي ((مضضی الی النزاع)) ته نه وي قابل تحمل دئ او عقد ته مفسد نه دئ لکه څنګه چي د شاه صاحب له عباراتو څخه معلومیږي، چي کوم جهالت چي مفضی الی النزاع نه وي هغه جهالت د عقد مفسد نه ګرځي.

حضرت شاه صاحب (۱۳۵۲ هـ) عبارت وګورئ:

قلت: إن الناس یتعاملون في أشیاء تکون جائزةً فیما بینهم علی طریق المروءة والإغماض، فإذا رفعت إلی القضاء یحکم علیها بعدم الجواز. وذلك لأن العقود علی نحوین: ـ نحوٍ یکون

معصيةً في نفسه، وذا لا يجوز مطلقًا، ونحوِ آخر: لا يكون معصيةً، وإنما يحكم عليه بعدم الجواز لإفضائه إلى المنازعة، فإذا لم تقع فيه منازعة جاز. (فيض الباري:۳/ ۲۸۹، كتاب الوكالة).

علامه اکمل الدين بابرتی رحمه الله فرمايي:

په ربويه اموالو کي جهالت که لږ وي يا ډېر عقد ته مفسد دئ د سود د احتمال په سبب مګر په غيرر ربويه اموالو کي جهالت يسره وعقد ته مفسد نه دئ.

قال فى العناية: وهذا إنما يستقيم إذا لم تكن الأعراض ربويةً ، أما إذا كانت ربويةً فجهالة المقدار تمنع الصحة لاحتمال الربا. (شرح العناية على هامش فتح القدير:٦/ ٢٦٠، دار الفكر).

په جديد معاملات کی شرعی احکام کي راځي:

که چيري رانيونکی او خرڅونکی حيوان تلي (وزن) کوي يې او په رانيولو او خرڅول باندي راضی وي، نو حيوان تلل په نغدو پيسو او يا غير جنس يې خرڅول او رانيول روا دي په دې شرط چي حيوان د کېلو په حساب خرڅ سوی وي او همدارنګه تر وزن کولو وروسته د هغه قيمت معلوم کړل سوی وي چي د هغه صورت داسي جوړېږي يو کس مثلاً ويوه پسه ته ضرورت لري او ديوه تجار د مال څخه يې يو پسه خوښ کړ، تاجر ده ته ووېل د دې پسه نرخ پنځوس افغانی دئ فی يو کيلو او دا پسه يې د رانيوونکی په وړاندي تول کړ او وې ويل، مثلاً دا شل کيلو دئ اوس که خريدار قبول کړ بيع پوره سوه او همدارنګه بيع کول شرعاً روا ده.

د پاکستان مخکني مفتي اعظم مفتي ولي حسن ټونکی وايي:

په اوسنی زمانه کي د امام محمد رحمه الله رايه ډېره بهتره ده ځکه چي نن سبا حيوانات موزونی شيان وګرځېدل، د چرګانو او نورو حيواناتو بيعه په وزن او تاله سره کيږي ځکه چي اصل د تاله يا وزن کولو مقصد د بيعي په وخت کي د نامعلومو شيانو معلومول دي ځکه چي د مجهول شی بيعه فاسده ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

مفتي نظام الدين صاحب وايي:

كه چيرې چرگان داسي خرڅيږي يعنى په وزن سره خرڅيږي په دې وخت كي ضرور ده چي په دې نيت سره رانيول سي چي دا چرگ دئ او زه يې رانيسم، نه دغوښي په نيت چي كله دچرگ په نيت سره واخستل سي مبيعه چرگ وگرځيږي او هغه معلوم متعين ومشاهده كړل سوى شى دئ بيا بيعه روا وگرځيده.

مفتي رشيد احمد لدهيانوي وايي:

دچرگ ساه دومره فرق نه را ولي لهذا داجهالت يسره دئ او مفضى الى النزاع نه سي گرځېداى او د چرگانو بيعه عرف عام گرځېدلې ده په دې كي دنزاع او جنجال احتمال هم نسته نو ځكه دا بيعه روا ده.

په ايضاح المسائل كي راځي:

كبان، چرگان، غوايان او نور په ژوندى حالت كي تلل او وزن كول او د پيسو په بدل كي يې خرڅول او رانيول روا او صحيح دي.

مطلب دا چي د حيواناتو په وزن او تاله سره خرڅولو او رانيولو پر بيعه درې اشكاله واريديږي:

۱_ حيوانات عددى شيان دي او موزونى نه دي.

جواب: دا چي دسلفو په زمانه كي موزونى نه وو او زموږ په زمانه كي موزونى دي لكه څنگه چي له پورتنيو فتواوو څخه معلوميږي.

۲_ كله كله حيوان خپل ځان دروند او كله كله سپک وي.

جواب: دا جهالت يسره دئ، كوم چي مفضى الى النزاع ته نه دئ البته په ربويه اموالو كي جهالت يسره مضر دئ او هر كله چي په دې صورت كي دلته بيع الجنس بالجنس نه ده.

۳_ اشكال پر وزن او تاله كي جهالت دئ:

جواب: دعاقدينو له حضور څخه دا جهالت نيستي كيږي او له دې حضور څخه دعاقدينو نزاع رفعه كيږي. والله تعالىٰ اعلم.

د غرر او د مبيعې د جهالت تر منځ فرق

سوال: فقهاوو ځينې بيعې او معاملات د غرر په سبب ناروا ګرځولي دي اوس تاسو وواياست چې د غرر او د مبيعې د جهالت په منځ کې څه فرق دئ؟

الجواب: ظاهراً داسې معلوميږي چې غرر وهغه بيعې ته ويل کيږي چې د عقد په وخت کې د مبيعې يا سامان په وجود کې شک وي چې ايا لاسته به راسي او که نه؟ او جهالت البيع دا دئ چې سامان وجود ولري خو په صفت او کيفيت کې يې شک وي يا يې په تعين کې شک وي مثلاً بيع السمک فى الماء (په اوبو کې د ماهيانو بيعه) په دې کې غرر دئ ځکه چې معلومه نه ده چې د ماهيانو نيولو ته لاس رسى کيږي او که نه؟او په بيع واحد من عبدين کې جهالت دئ.

وګورئ په درمختا مع فتاوى شامي کې راځي:

وبيع الحمل أى الجنين .... لنهيه ﷺ عن المضامين والملاقيح وحبل الحبلة ولما فيه من الغرر.... وهو الشک فى وجوده .... ولؤلؤ فى صدف للغرر لأنه لايعلم وجوده. (الدر المختارمع فتاوى شامى:٥/ ٦٢، باب البيع الفاسد، سعيد).

وفى الدر المختار: وبيع ثوب من ثوبين أو عبد من عبدين لجهالة المبيع. (الدر المختار:٥/ ٦٦، سعيد).

په شرح العنايه کې راځي:

ولايجوز بيع الحبل.... لأن فيه غررًا وهو ما طوي عنك علمه، قال المغرب: في الحديث : « نهى ﷺ عن بيع الغرر » : وهو الخطر الذي لا يدري أيكون أم لا كبيع السمك في الماء والطير في الهواء . (شرح العناية:٦/ ٤١١، دار الفكر).

په بدائع الصنائع کې راځي:

الغرر هو الخطر الذي استوى فيه طرف الوجود والعدم بمنزلة الشک. (بدائع الصنائع:٥/ ١٦٣، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په جمهرة القواعد الفقيه کي راځي:

كل بيع كان المقصود منه مجهولاً غير معلوم، ومعجوزاً عنه غير مقدور عليه فهو غرر، وذلک مثل أن يبيعه سمكاً فی الماء، أو طيراً فی الهواء، أو لؤلؤاً فی البحر، أو عبداً آبقاً، أو جملاً شارداً، أو ثمر شجرة في جراب لم يره ولم ينشره، أو طعاماً في بيت لم يفتحه، أو ولد بهيمة لم يولد، أو ثمر شجرة لم تثمر في نحوها من الأمور التي لاتعليم، ولايدري هل تكون أم لا، فإن البيع مفسوخ فيها. (جمرة القواد الفقهية:۱/ ۳۰۹).

مفتي ولي حسن صاحب وايي:

د حيوان په غولانځه کي چي کومي شيدې وي هغه تر لوشلو وړاندي خرڅېدلای نه سي ځکه چي په دې کي غرر دئ او د غرر سبب يې دا دئ چي په ځينو وختو کي د هوا څخه ډک وي او د شيدو لوشل د بائع او مشتری د نزاع سبب جوړيږي او د کوم شی چي وجود او عدم معلومه نه وي د سود د حرمت وجه او دليل هم دا دئ چي په هغه کي غرر وي چي هغه ته خطر ويل کيږي يعنی چي د هغه ولاس ته راوړل او نه راوړل معلوم نه وي.

د جهالت يسيره حکم

سوال: که مبيع مجهول وي يا کار مجهول وي مګر جهالت غير مفضی الی النزاع تـه وي ايا معامله جائز ده او که نه؟

الجواب: په تجارت کي هغه جهالت وعقد ته مفسد ګرځي کوم جهالت چي مضضی الی النزاع وي مګر کوم جهالت چي مفضی ونزاع ته نه وي او په عام عرف او دود کي رواج او مروج وي د تحمل وړ دئ او وعقد ته مفسد نه دئ.

د هدايې مصنف رحمه الله فرمايي:

والأثمان المطلقة لا تصح إلا أن تكون معروفة القدر والصفة لأن التسليم والتسلم واجب بالعقد وهذه الجهالة مفضية إلى المنازعة فيمتنع التسليم والتسلم، وكل جهالة هذه صفتها تمنع لجواز هذا هو الأصل. (الهداية:۳/ ۲۰).

د هدايې د مصنف له الفاظو ځخه دېر ښه معلوميږي، چي هر جهالت د عقد مفسد نه دئ بلکي هغه جهالت د عقد مفسد وي چي د هغه جهالت په سبب نزاع رامنځ ته کيږي او هغه خاص جهالت دئ چي وعقد ته مفسد ګرځي.

په شرح المجله کي راځي:

وفي الهندية: (۳/ ۱۲۲): جهالة المبيع أو الثمن مانعة لجواز البيع إذا كان يتعذر معها التسليم وإن كان لايتعذر لا يفسد العقد كما لو باع صبرة معينة ولم يعرف قدر كيلها أو باع أثواباً معينة ولم يعرف عددها، وإنما يفسد البيع بالجهالة الفاحشة إذا كان محتاجاً إلى تسليم المبيع وإلا فلا يفسد. (شرح المجلة، لسليم رستم باز:۱/ ۱۰۲، دار الكتب العلمية).

په حاشيه طحطاوي کي راځي:

قوله معرفة قدر هو في المصنف منون يشمل قدر المبيع والثمن قال فى البحر: وأشار بالمعرفة إلى أن الشرط العلم بهمادون ذكرهما كما في الإيضاح فلو كان المبيع مجهولاً جهالة فاحشة ولم يجزبها العرف لايصح البيع. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۳/ ۱۲، كوئته).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

فإن كان مجهولاً جهالة مفضية إلى المنازعة يمنع صحة العقد، وإلا، فلا. (الفتاوى الهندية:٤/ ٤١١، كتاب الاجارة).

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله وشرط صحته معرفة قدر مبيع وثمن ككر حنطة وخمسة دراهم أو أكرار حنطة فخرج ما لو كان قدر المبيع مجهولاً أي جهالة فاحشة، فإنه لا يصح وقيدنا بالفاحشة لما قالوه لو باعه جميع ما في هذه القرية أو هذه الدار والمشتري لا يعلم ما فيها لا يصح لفحش الجهالة، أما لو باعه جميع في هذا البيت أو الصندوق أو الجوالق فإنه يصح لأن الجهالة يسيرة. (فتاوى الشامي:٤/ ٥٢٩، كتاب البيوع، سعيد).

علامه عيني رحمة الله عليه (٧٦٢–٨٥٥هـ) فرمايي:

وكل جهالة هذه صفتها تمنع الجواز أي جواز العقد هذا أي كون الجهالة المفضية إلى منازعة مانعة هو الأصل أى في كتاب البيوع بالإجماع لأن شرعية المعاملات لقطع المنازعات المفضية إلى الفساد. (البناية فى شرح الهداية:٣/ ١٥).

شاه صاحب رحمة الله عليه په فيض الباري کي فرمايي:

قلت: إن الناس يتعاملون في أشياء تكون جائزةً فيما بينهم على طريق المروءة والإغماض، فإذا رفعت إلى القضاء يحكم عليها بعدم الجواز. وذلك لأن العقود على نحوين: ـ نحوٍ يكون معصيةً في نفسه، وذا لا يجوز مطلقًا، ونحوٍ آخر: لا يكون معصيةً، وإنما يحكم عليه بعدم الجواز لإفضائه إلى المنازعة، فإذا لم تقع فيه منازعة جاز.(فيض البارى:٣/ ٢٨٩، كتاب الوكالة).

علي احمد الندوي په ((جمهرة القواعد الفقهية)) کي فرمايي:

الجهالة ليست بمانعة لذاتها، بل لكونها مضية إلى النزاع، وهذا أصل مهم ينبغى التعويل عليه فى الأحكام، فإن به حل كثير من المشكلات، وليعلم أن أحكام المعاملات الشرعية مبنية على أصلين عادلين:

الأول: منع كل ما فيه ظلم وأكل لأموال الناس بالباطل.

الثاني: منع ما يؤدي إلى الاختلاف والنزاع بسبب الجهالة، فإذا انتفى ما يؤدي إلى الظلم والنزاع بسبب الجهالة، صح التعامل، والعرف أصل عظيم يرجع إليه في ذلک بعد الشرع.

(جمهرة القواعد الفقهية فى المعاملات المالية:۱/ ۳۱۹، تحت القاعدة: الجهالة انما توجب الفساد إذا كانت مفضية الى النزاع المشكل).

حضرت مفتي ولي حسن صاحب وايي:

کليه قاعده دا ده، کوم جهالت چي د نزاع سبب ګرځي هغه منعه دئ او کوم جهالت چي د نزاع سبب نه ګرځي هغه منعه نه دئ.

تر درو ورځو زيات د خيار شرط حکم

سوال: که بايع ايجاب د فاکس په ذريعه ارسال کي او په دې فاکس کي يې ليکلي وه چي د فاکس د استولو له وخته پنځه ورځي ما ته اختيار دئ مشتري چي کله دا فاکس ولوست ايا اوس بايع ته تر پنځه ورځو پورې اختيار پاتيږي که صرف د مشتري د تر لاسه کولو وروسته اختيار ختميږي؟ بينوا توجروا.

الجواب: په ياد پوښتل سوي صورت کي چي کله بايع ومشتري ته فاکس وکړ او د ځان له پاره يې پنځه ورځي خيار کښېښود اوس چي کله مشتري ته فاکس وصول سو بايع ته درې ورځي د عقد د فسخ کولو اختيار پاتيږي، البته که د ضرورت له وجي پنځه ورځي اختيار شرط کړي نو په عامو کتابو کي تر درو ورځو زيات د اختيار شرط لګول خيار شرط فاسده وي، مګر ملا علي قاري رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

په شرح نقايه کې (۹۳۰_ ۱۰۱۴هـ) ذکر کړي چې پر کومو شيانو چې په درو ورځو کې علم نه سي راتلای د هغو صفات ډېر يا مختلف وي روا ده چې په هغو کې تر درو ورځو زيات وخت شرط کړي.

وګورئ په شرح نقايه کې راځي:

وإن كان فيه صفة لايمكن الوقوف عليها في ثلاثة أيام يجوز أن يشترط فيه أكثرمن ثلاثة أيام لأنه شرع للحاجة التأمل وهي تندفع بذلک. (شرح النقاية:۲/ ۱۲، کتاب البيوع).

د مجله الاحکام العدليه څخه هم داسي معلوميږي چې تر درو ورځو زيات شرط ايښودل صحيح دي.

وګورئ په مجله او شرح مجله کې راځي:

المادة: ۳۰۰: يجوز أن يشترط الخيار بفسخ البيع أو إجازته مدة معلومة لكل من البائع والمشترى ...؛ قوله مدة معلومة أعم من أن تكون مدة الخيار ثلاثه أيام أو أكثر وهذا اختيار من المجلة لقول الإمامين، وبه قال أحمد رحمه الله لأنه شرع نظراً للمتعاقدين للاحتراز عن الغبن وقد لايحصل ذلک في الثلث فيكون مفوضاً إليهما. (عينى على الكنز:۲/ ۱۱). (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي:۲/ ۲۳٤). والله تعالى اعلم.

و مشتري ته يو شی د کتلو له پاره ښکاره کول، بل شی ورکول چې هغه هم د هغه د جنس څخه وي د دې حکم څنګه دئ؟

سوال: که چا ورانيونکي ته يو ماشين ښکاره کړ او د رانيولو له پاره خو مشتري قيمت ادا نه کړ لهذا ماشين يې له ځان سره يو نه وړ بايع هغه ماشين بل کس ته ورکړ په دې فکر چې مخکني رانيوونکی که راسي له ګدام څخه به بل ماشين ورکړم ايا داسي وچا ته شی ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: که مشتري ووېل چې زما همدغه ماشين خوښ دئ بل نه اخلم نو بائع يې نه سي خرڅولای مګر که بايع د مشتري له راتګ څخه مايوس سي او له يوه طرفه فسخه وکړي او ماشين خرڅ کړي.

او که چیري بایع صرف د نمونې په ډول ماشین ښکاره کړ او اصلي مبیعه یې ورښکاره کړې نه وو، نو بیا دا بیعه نه ده بلکي د بیعې وعده ده او که یې عقد هم وکړ نو چي کله حاضر سي بایع دي بل ماشین ورکړي، البته که مبیعه لیدل سوې نه وه، نو مشتري ته خیار روایت سته او کوم ماشین یا سامان چي د نمونې په ډول ښکاره کړل سوی دئ د هغه بیعه نه ده سوې.

وګورئ په هدایه کي راځي:

قال ومن اشترى عبداً فغاب والعبد في يد البائع وأقام البائع البينة أنه باعه إياه فإن كانت غيبته معروفة لم يبع في دين البائع لأنه يمكن إيصال البائع إلى حقه بدون البيع وفيه إبطال حق المشتري وإن لم يدر أي هو بيع العبد وأوفى الثمن لأن ملك المشتري ظهر بإقراره فيظهر على الوجه الذي أقر به مشغولاً بحقه وإذا تعذر استيفاؤه من المشتري يبيعه القاضي فيه كالراهن إذا مات والمشتري إذا مات مفلساً والمبيع لم يقبض . (الهداية:۳/ ۱۰۳).

وفي الهندية: من اشترى شيئًا لم يره فله الخيار إذا رآه إن شاء أخذه بجميع ثمنه وإن شاء رده سواء رآه على الصفة التي وصفت له أو على خلافها كذا في فتح القدير هو خيار يثبت حكمًا لا بالشرط كذا في الجوهرة النيرة . (الفتاوى الهندية:۳/ ۵۷-۵۸).

تنبیه: دیو طرفه فسخي نور تفصیل مخته را روان دئ. والله ﷻ اعلم.

د اصلي شي په نامه دوهم لمبر شی ورکول او د هغه حکم

سوال: یوه کس له دوکاندار څخه د ټلیفون اصلی بټرۍ وغوښته دوکاندار هغه سړی ته ورکړه او تاسو ته معلومه ده چي اصلی بیټرۍ نرمه وي او دوهم لمبر بیا پنډ والی لري رانیونکي چي بېټرۍ یو وړه شپږ میاشتي وروسته خریدار ته دبل دوکاندار لخوا وویل سول چي دا بېټرۍ دوهم لمبر او نقلي ده اوس خریدار له بایع څخه څه شی غوښتلای سي او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي بایع د اصلی او جدیدي بېټرۍ قیمت اخستی دئ او نقلي او جعلی شی یې ورکړئ دئ، لهذا اوس د خریدار حق اصلی بېټرۍ ده. د قانون او قاعدې سره سم دي نقلي

Maktaba Tul Ishaat.com

بېتړی واپس کړي او اصلي دي ځنی لاس ته کړي مګر که چیري نقلي بېتړی قریب الاختتام (ختم ته نژدې) وي او د هغې طاقت ختم کېدونکی وي یا بې درکه استعمال سوې وي بیا د ګراک (مشتري او رانیونکي) هغه فرق حق دئ کوم چي د اصلي او جعلي په منځ کي دئ هغه زیاتي پیسې دي له بایع څخه تر لاسه کړي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ومن له على آخر عشرة دراهم جياد فقضاه زيوفاً وهو لا يعلم فأنفقها أو هلكت فهو قضاء عند أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله وقال أبو يوسف رحمه الله يرد مثل زيوفه ويرجع بدراهمه. (الهداية:۳/ ۱۰۳).

وفي فتح القدير: وذكر فخر الإسلام وغيره أن قولهما قياس وقول أبي يوسف رحمه الله هو الاستحسان. (فتح لقدير:۷/ ۱۳۰).

په درمختار کي راځي:

ولو قبض زيفاً بدل جيد كان له على آخر جاهلاً به..... فلو قائماً رده اتفاقاً. (الدر المختار:۵/ ۲۳۳، سعيد).

وفي الهداية: وإذا حدث عند المشتري عيب واطلع على عيب كان عند البائع فله أن يرجع بالنقصان ولا يرد المبيع لأن في الرد إضراراً بالبائع لأنه خرج عن ملكه سالماً ويعود معيباً فامتنع ولا بد من دفع الضرر عنه فتعين الرجوع بالنقصان .(الهداية:۳/ ۴۱، باب خيار العيب). والله تعالى اعلم.

د موجود عيب په پټوالي سره د شي د خرڅولو حکم

سوال: سعيد غواړي چي يو موټر سايکل واخلي او له احمد سره يو موټر سائکل دئ او هغه ډېر ارزانه دئ سعيد له احمد څخه پوښتنه وکړه ايا په دې کي کومه خرابي سته، احمد جواب ورکړ نه په دې کي هيڅ خرابي وجود نه لري او د موټر سائيکل يې ډېري ښېګني او صفتونه ور وکړل سعيد د احمد په خبره باور وکړ او په کم قيمت يې واخست، وروسته په هغه کي خرابي پيدا سوه، همدارنګه سعيد ته مستيري (موټر سائيکل جوړولو والا) خبر ورکړ او ورته وې ويل چي احمد ته معلومه وه، د جوړولو کوښښ يې هم کړی وو خو جوړ نه سو، اوس سوال دا دئ چي د پوښتنی باوجود د مبيعې عيب نه ويل درست او صحيح خبره ده او که نه او رسول الله ﷺ په دې اړه څه فرمايلي دي؟

الجواب: د مبيعې عيب پټول ناروا دي، نبي کريم ﷺ د داسي شخص په اړه فرمايي: څوک چي موږ ته دوکه راکوي له موږ څخه نه دئ . لهذا د احمد له پاره داسي معامله کول روا نه ده، اوس سعيد اختيار لري که غواړي چي موټر سائيکل بيرته ورکړي کولای سي او که سعيد له عيب سره سره رضايت وښيي نو بيا يې نه سي بيرته ورکولای.

په ترمذي شريف کي راځي:

عن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ مر على صبرة من طعام فأدخل يده فيها، فنالت أصابعه بللاً، فقال: يا صاحب الطعام ! ما هذا ؟ قال أصابته السماء يا رسول الله ! قال: أفلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس ؟ ثم قال « من غش فليس منا » قال المحشي: أي ليس من أخلاقنا ولا على سنتنا، قال أبو عيسى: والعلم على هذا عند أهل العلم كرهوا الغش وقالوا: الغش حرام. (ترمذى شريف مع الحاشية: ١/ ٢٤٥، باب ماجاء فى كراهية الغش فى البيوع).

وفي الدر المختار: لايحل كتمان العيب فى مبيع أو ثمن لأن الغش حرام. (الدر المختار: ٥/ ٤٧، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

وقال في المبسوط: قال: اشتره فإنه لاعيب به ثم وجد به عيباً كان له أن يخاصم فيه بائعه.

(المبسوط للامام السرخسی:۱۳/ ۹۲، باب العیوب فی البیوع، ادارة القرآن).

په هدایه کي راځي:

وإذا اطلع المشتري على عيب في المبيع فهو بالخيار إن شاء أخذه بجميع الثمن وإن شاء رده. (الهداية:۳/ ٤٠ف باب خيار العيب).

په جدید معاملات کی شرعی احکام نومي کتاب کي راځي:

که چا معیوب سامان بېله خبر ورکولو پر مشتري خرڅ کړ هغه سخته ګناه وکړه.

لقوله عليه السلام: من باع معيباً لم ينبه لم يزل في لعنت الله ويلعنه الملائكة.

نبي کریم ﷺ فرمایي، چا چي رانیونکي ته عیب لرونکی شی د هغه د عیب د ښکاره کولو پرته ورکړ هغه به همېشه د الله ﷻ په غضب او د ملکو په لعنت کي مبتلا وی.

دا شخص په داسي عمل سره فاسق ګرځي او رانیونکي د مبیعې په عیب باندي تر خبرېدو وروسته د بیرته ورکولو حق لري.

په احسن الفتاوی کي راځي:

د مبیعې عیب پټول حرام دي. والله ﷻ اعلم.

له ټولو عیبو څخه د برائت حکم

سوال: که چیري بایع څرګنده کړي چي دا شی نه واپس کیږي که په هغه کي هر عیب پیدا هم سي زه د هغه ذمه دار نه یم ایا دا روا ده او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي چي بایع خپل ځان له ټولو عیبو څخه پاک او بری کړ دا صحیح او درسته خبره ده او که چیري بائع ووایي چي زه د هر عیب ذمه دار یم خو له عیبه پرته به نه واپس کیږي او بې له عیبه یې نه اخلم نو دا له اقالې څخه انکار دئ چي د دې هم ګنجائش سته که څه هم خلاف الاولی کړنه ده.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ومن باع عبدا وشرط البراءة من كل عيب فليس له أن يرده بعيب وإن لم يسم العيوب بعددها. (الهداية، كتاب البيوع، باب خيار العيب: ۳/ ٤۸ – وكذا في المبسوط للاما السرخسي: ۱۲/ ۹۱).

په شرح المجله کي راځي:

إذا باع ماله بشرط براءة ذمته من دعوى كل عيب فلا يكون للمشتري خيار عيب. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسيف البيوع، الفصل السادس في خيار العيب: ۲/ ۳۰۵، رشيديه). والله ﷻ اعلم.

د خيار غبن تحقيق او د هغه حکم

سوال: خيار غبن څه ته وايي او د هغه حکم څه دئ؟ ايا په خيار غبن کي مبيعه بيرته ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: د غبن معنا دوکه ده.

فقهاوو په دې ځای کي هغه ته غبن وايي چي يو شی تر مناسب قيمت په زيات اندازه سره مبيعه وګرځيږي. د غبن دوه ډولونه دي:

۱ _ غبن يسير: دا هغه قيمت دئ چي د قيمت لګونکو (قيمت معلومونکی) د اندازې په دائره کي راتلای سي لکه يو کس چي په لس ورپی شی رانسي او د هغه قيمت څوک اته، څوک نه او څوک لس ورپی لګوي نو دا غبن يسير بلل کيږي.

۲ _ غبن فاحش: هغه ته ويل کيږي چي د قيمت لګونکو له اندازي څخه بهر وي لکه يو شی چي په لس روپی رانيول سي خو د هغه قيمت شپږ يا اوه روپی تاکل کيږي او له شپږ او اوو څخه يې هيڅوک زيات نه لګوي دې ته غبن فاحش ويل کيږي.

ځيني حضراتو عددي تحديد د غبن فاحش داسي کړی دئ چي په منقولو اشياوو کي تر مناسب قيمت پنځه سلنه زيادت، په حيواناتو کي لس په سلو کي او په ځمکه او کورو کي شل سلنه غبن فاحش دئ او له دې څخه کم غبن يسير دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوس که په غبن سره يو څوک دوکه کړل سي معنا تر مناسب قيمت په ډېر لوړ قيمت سره ورکړل سي د بيرته ورکولو حق لري او که نه؟

نو صحيح او د مفتی به قول مطابق که په غبن کي دوکه کړل سوي وه نو د بيرته ورکولو يا د رد کولو حقدار دئ او که چيري دوکه نه وو ورکړل سوې بيا يې بيرته ورکول ښه خبره نه ده.

په شرح مجله کي راځي:

الغبن الفاحش هو ما لايدخل تحت تقويم المقومين هو الصحيح كما فی البحر و ذلک كمالو وقع البيع بعشرة مثلاً ثـم أن بعض المقومين يقول إنه يساوي خمسة وبعضهم ستة وبعضهم سبعة، فهذا غبن فاحش لأنه لم يدخل تحت تقويم أحد بخلاف ما إذا قال بعضهم ثمانية وبعضهم تسعة وبعضهم عشرة، فهذا غبن يسير.

إذا وجد غبن فاحش في البيع ولم يوجد تغرير فليس للغبون أن يفسخ البيع... إذا غر أحد المتبايعين وتحقق أن فی البيع غبناً فاحشاً فللبغبون أن يفسخ البيع حينئذٍ. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی: ۲/ ۳۳۵-۳۳۷، الفصل السابع فی الغبن والتغرير).

وفي الفقه الحنفي فی ثوبه الجديد: قال: ثم حدد المتأخرون من الفقهاء الغبن الفاحش للتيسير فی الفتوی والقضاء والتطبيق أنه ما بلغ خمس القيمة فی العقار وعشرها في الحيوان ونصف العشر فی العروض وسائر المنقولات. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجديد: ٤/ ١٩٣، خيار التغرير).

قال في ردالمحتار: قوله لارد بغبن فاحش.... وبه أفتى بعضهم مطلقا، أي سواء كان الغبن بسبب التغرير أو بدون لكن هذا الإطلاق لم يذكره في القنية وإنما حكي في القنية الأقوال الثلاثة، فيفهم منه أن هذا غير مقيد بالتغرير أو بدونه، ولكن نقل في الفتح أن الإمام علاء الدين

السمرقندي ذكر في تحفة الفقهاء أن أصحابنا يقولون في المغبون إنه لا يرد لكن هذا في مغبون لم يغر أما في مغبون غر يكون له حق الرد استدلالا بمسألة المرابحة ....

قلت: ويؤيده أيضاً عدم التصريح بالإطلاق في القولين الأولين، وحيث كان ظاهر الرواية محمولاً على هذا القول المفصل، يكون هو ظاهر الرواية إذا لم يذكروا أن ظاهر الرواية عدم الرد مطلقاً، حتى ينافي التفصيل فلذا جزم في التحفة بحمله على التفصيل وحينئذ لم يبق لنا إلا قول واحد هو المصرح بأنه ظاهر الرواية وبإنه المذهب وبأنه المفتى به وبأنه الصحيح فمن أفتى في زماننا بالرد مطلقاً فقد أخطأ خطأ فاحشاً لما علمت من أن التفصيل هو المصحح المفتى به، ولا سيما بعد التوفيق المذكور، وقد أوضحت ذلك بما لا مزيد عليه في رسالة سميتها تحبير «تحبير التحرير في إبطال القضاء بالغبن الفاحش بلا تغرير» . (فتاوى الشامي: ۵/ ۱۴۳، مطلب في الكلام على الرد بالغبن الفاحش، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د دوکې ورکولو په صورت کي د بيعي د فسخ کولو حکم

سوال: که زيد پر عمر يو شی خرڅ کړ مګر په هغه شی کي يې وعمر ته دوکه ورکړه، داعلی پر ځای يې ادنی شی ورکړ يا يې په قيمت کي دوکه ورکړه چي د دې شی قيمت په بازار کي زر روپۍ دئ ته يې په نه سوه واخله حال دا چي په بازار کي د هغه شي قيمت اوه سوی وي ايا اوس په دې دواړو صورتو کي مشتري ته دا اختيار سته چي بيعه فسخ کړي او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي چي د اعلی پر ځای يې ادنی ورکړل سوی، مشتري دوکه سوا ځنګه چي اعلی او ادنی د مبيعې اوصاف دي او د وصف په مقابل کي ثمن نه وي لهذا د قيمت د کموالي اختيار نه سته، البته د وصف مرغوب د فوت کېدلو له کبله مشتري ته اختيار دئ که يې خوښه وي سامان دي د پوره پيسو په مقابل کي لاسته راوړي او که نه بيرته دي ورکړي ځکه چي صفت هغه شی دئ چي د پيسو مقابله نه سي کولای.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دوهم صورت كي مشتري ته د زيات قيمت په وجه دوكه وركړل سوې لهذا مشتري اختيار لري چي د ټولو پيسو په مقابل كي سامان ولاس ته راوړي (وايې خلي) يا يې بيرته وركړي مګر د قيمت د كموالي اختيار نه لري.

وګورئ په هدايه كي راځي:

ومن اشترى ثوباً على أنه عشرة أذرع بعشرة دراهم، أو أرضاً على أنها مائة ذراع بمائة درهم فوجدها أقل فالمشترى بالخيار إن شاء أخذها بجملة الثمن وإن شاء ترك لأن الذرع وصف في الثوب ألا ترى أنه عبارة عن الطول والعرض والوصف لا يقابله شيء من الثمن كأطراف الحيوان، فلهذا يأخذه بكل الثمن..... إلا أنه يتخير لفوات الوصف المذكور التغير المعقود عليه فيختل الرضا. (الهداية:٣/ ٢٣).

فإن اطلع المشتري على خيانة في المرابحة فهو بالخيار عند أبي حنيفة رحمه الله إن شاء أخذه بجميع الثمن وإن شاء تركه .... والتولية والمرابحة ترويج وترغيب فيكون وصفاً مرغوباً فيه كو صف السلامة فيتخير بفواته. (الهداية:٣/ ٧١-٧٢).

وفي شرح العناية: قال لأن مطلق العقد يقتضي وصف السلامة : أي سلامة المعقود عليه عن العيب لما روي أن رسول الله ﷺ اشترى من عداء بن خالد بن هوذة عبدًا وكتب في عهدته « هذا ما اشترى محمد رسول الله ﷺ من العداء بن خالد بن هوذة عبدًا لا داء ولا غائلة ولا خبثة، بيع المسلم من المسلم » ..... وفي هذا تنصيص على أن البيع يقتضي سلامة المبيع عن العيب ، ووصف السلامة يفوت لوجود العيب ، فعند فواته يتخير لأن الرضا داخل في حقيقة البيع ، وعند فواته ينتفي الرضا فيتضرر بلزوم ما لا يرضى به . (شرح العناية على هامش فتح القدير:٦/ ٣٥٤، دار الفكر).

په فيض الباري کي راځي:

في «فتح القدير»، في باب الإقالة: أن الغرر، إما قولي، أو فعلي، فإن كان الغرر قوليا، فالإقالة واجبة بحكم القاضي، وإن كان الثاني تجب عليه الإقالة ديانةً، ولا يدخل في القضاء كيف! وأن الخدعات أشياء مستورة، ليس إلى علمها سبيل، فلا يمكن أن تدخل تحت القضاء. (فيض الباري:۳/ ۲۳۱، كتاب البيوع). والله تعالى اعلم.

د پيسو د نه ادا کېدو په صورت کي د مبيعې د بېرته ورکول کېدو حکم

سوال: زيد له عمر څخه يو ماشين په قسطو سره رانيوئ چي توله مده يې پنځه مياشتې ده، زيد دوې يا درې مياشتې قسطونه ادا کړل، خو نور قسطونه نه ورکوي چي له امله يې بائع بېرته ورڅخه ماشين واخيستي اوس له مشتري څخه اخستل سوي روپۍ بېرته ورکول کيږي او که نه، يعنى بايع به هغه قسطونه چي اخستي وي بيرته ومشتري ته ورکوي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي مشتري اولاً د ماشين مالک ګرځېدلی اوس له هغه څخه ماشين اخستل جائز نه دي، البته که بايع د مشتري په خوښه ماشين واخلي او بيرته يې په خپل ملک کي راولی نو دا د اقالى په حکم کي ده او په اقاله کي حکم دا دئ چي د مبيعې د واپس کېدو سره ثمن هم واپس کول لازم او ضروري دي. ولي که داسي ونه سي نو بدلين يعنى پيسې او ماشين به دواړه ديوه شخص په ملک کي راسي چي دا جمع والى د شريعت له قانون څخه خلاف دئ.

وګوري په شرح المجله کي راځي:

البيع مع تأجيل الثمن وتقسيطه صحيح . أى والتأجيل لازم، فليس للبائع حبس المبيع حتى يقبضه ولا المطالبة به قبل حلول الأجل. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى:۲/ ۱۶۶).

معلومه سوه چي په بيع بالتسقيط کي مشتري د مبيعې مالک ګرځي لهذا بايع پر مبيعه قبضه نه سي کولای مګر که چيري مبيعه ورڅخه واخيستل سي، نو بيا اقاله ځني جوړيږي چي په هغه صورت کي د ثمن بيرته ورکول لازم دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په هدایه کي راځي:

الإقالة جائزة فی البیع بمثل الثمن الأول.... فإن شرطا أکثر منه أو أقل فالشرط باطل ویرد مثل الثمن الأول. (الهدایة:٣/ ٦٩).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د نغدي او پور په قیمت کي فرق کول منعه نه دي مګر که قسطونه معلوم کړل سي بیا دا نه سي کېدای چي ومشتري ته ووېل سي چي د قسط پر معلوم وخت د نه وصول کېدو له کبله په قسط کي زیادت کیږي یا دا چي وصول کړل سوی رقم ضبط تیږي او سامان هم د مشتري له لاسه څخه وځي په داسي صورت کي معامله شرعاً جائز نه ده او په دې دواړو صورتو کي سود او ربوا راځي. (فتاوی محمودیه:١٦/ ٤٦).

په اپ کی مسائل نومي کتاب کي راځي:

داسي شرط چي که چیري د څه مشکل له وجي د درو میاشتو قسطونه ادا نه کړل سي نو سامان بیرته د بایع په قبضه کي راځي او د مشتري ادا کړل سوی قسطونه سوځل کیږي دا شرط غلط دئ او د بایع دا حق دئ چي قسطونه د قانوني زرائعو په واسطه وصول کړي مګر د سامان د اخیستلو اجازه او نه دادا کړل سوي قسطو د خوړولو اجازه نه سته. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٦/ ١٥٤).

په احسن الفتاوی کي مفتي صاحب لیکلي دي:

د پور په سبب لوړ قیمت اخستل روا دي یعني په لوړ قیمت سره د پور په وخت کي شی ورکول روا دي مګر د ټولو قسطو د نه اداء کېدو په صورت کي قبض کړل سوي قسطونه ضبطول او سامان یا مبیعه واپس کولو شرط لګول فاسد دي، نو ځکه دا معامله جائز نه ده، البته د ځینو علماوو قول دا دي چي که مشتري ثمن نه ادا کوي نو بایع یو طرفه فسخه کولای سي چي مبیع بیرته واخلي او په اوسنی زمانه کي دا اسانه قول دئ او پر دې قول فتوی ورکول ډېر مناسب کار دئ. (احسن الفتاوی:٦/ ٥١٩).

وګورئ په هدايه کي راځي:

ومن قال لآخر اشتريت مني هذه الجارية فأنكر الآخر إن أجمع البائع على ترك الخصومة وسعه أن يطأها لأن المشتري لما جحده كان فسخاً من جهته إذ الفسخ يثبت به كما إذا تجاحدا فإذا عزم البائع على ترك الخصومة تم الفسخ وبمجرد العزم وإن كان لا يثبت الفسخ فقد اقترن بالفعل وهو إمساك الجارية ونسلها وما يضاهيه ولأنه لما تعذر استيفاء الثمن من المشتري فات رضا البائع فيستبد بفسخه. (الهداية:٣/ ١٤٥، باب التحكيم).

مګر د هدايې مصنف دوهم قول د دې خلاف معلوميږي.

قال ومن اشترى عبداً فغاب والعبد في يد البائع وأقام البائع البينة أنه باعه إياه فإن كانت غيبته معروفة لم يبع في دين البائع لأنه يمكن إيصال البائع إلى حقه بدون البيع. (الهداية:٣/ ١٠٣، مسائل منثورة).

يعنی که مشتري د ثمن تر اداء کولو وړاندي غائب سو، البته ځای يې معلومه دئ په دې صورت کي مبيعه خرڅول او ثمن تر لاسه کول روا نه دي، ځکه مبيعه خو د مشتري ملکيت ګرځېدلی دئ او د مشتري ځای معلوم دئ، بائع کولای سي چي د قاضي په ذريعه خپل حق تر لاسه کړي، مګر د دې جواب دا دئ چي په مذکوره صورت کي وصول د ثمن ممکن دي ځکه قاضي ته دعوه وړل او ثمن تر لاسه کول اسانه دي مګر په نن زمانه کي دا صورت مشکل بلکي ناممکن کار دئ که چيري مقدمه دائره او ثبت هم سي نو کلونه انتظار غواړي او له دې سره سره پر مقدمه اخراجات هم راځي نو ځکه بهتر صورت دا دئ چي د مخکني عبارت پر بناء يو طرفه فسخه وکړل سي او بائع مبيع بيرته لاس ته راوړي.

حضر مفتي ولي حسن صاحب رحمه الله هم پر دې فتوا ورکړې ده.

د دې مسئلې نور تفصيل مخکي را روان دئ.

لاندني مسئله هم په دې اړه کتلای سي. والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ثمن د نه ادا کېدو په صورت کې بایع د یو طرفه فسخي حکم

سوال: یو شخص خپله قېمتي مځکه پر مشتري په ټاکلي سوي پیسو خرڅه کړه مشتري له بایع سره وعده وکړه چې شپږ میاشتې وروسته به ثمن ادا کوي د ثمن یو څه حصه یې په ډول د ډپازټ (امانت، ګرو، ذخیره) ادا کړه شپږ میاشتې وروسته له مشتري څخه څو ځله مطالبه وسوه مګر مشتري روپۍ نه ورکوي او اقاله هم نه کوي له څه مودې وروسته بائع یو طرفه فسخه وکړه او مځکه یې پر کوم بل کس خرڅه کړه ایا دا معامله روا ده او که نه؟

الجواب: په داسي واقعه کي مفتي ولي حسن صاحب او مفتي رشید احمد صاحب د یو طرفه د فسخي کولو فتوی ورکوله کله چې مشتري اقاله نه کوي او ثمن هم نه ادا کوي نو بایع کولای سي چې د یو طرفه فسخه وکړي.

یو وار د بنوري ټاون په دار الافتاء کي د حضرت حکیم اختر صاحب دامت برکاتم په واسطه یوه استفتاء راغله چې په هغه کي ودې ته نژدې سوال لیکل سوي وو د مستفتي نوم په کنایاتو سره لیکل سوی وو حضرت مفتي ولي حسن صاحب د هغه سوال جواب په مختصر ډول بې له حوالې څخه لیکلی وو چې جواب یې دا وو چې بایع کولای سي چې یو طرفه فسخه وکړي یوه یا دوې ورځي وروسته بیا سوال راغی چې څنګه چې زید مفتي دئ لهذا د حوالې ضرورت دئ چې ذکر سي حضرت مفتي ولي حسن صاحب د دریم جلد هدایې لاندي عبارت ورته ولیکلي:

ولأنه لما تعذر استیفاء الثمن من المشتري فات رضا البائع فیستبد بفسخه.

(الهدایة:۳/ ۱۴۷، کتاب ادب القاضی، مسائل شتی من کتاب القضاء).

تر دې وروسته کوم سوال راغلی نه دئ په اصل کي دا سوال د مفتي رشید صاحب له طرف څخه وو او هغه له دې جواب سره موافقت وکړ او دغه مسئله یې په احسن الفتاوی: ۵۰۶/۶، کي ولیکله دا عبارت اګر چې د هدایې مصنف د یو خاصي مسئلې په ثبوت کي ذکر کړي دي مګر دا عبارت د یو اصل درجه لري.

یو اشکال او د هغه جواب:

اشکال: پر دې یو سوال واردیږي هغه دا چي په کومه مسئله کي چي یو طرفه فسخه ذکر سوې په هغه کي مشتري له بیعي څخه منکر دئ نو ځکه بائع یو طرفه فسخه کولای سي ځکه چي د مشتري له طرفه ختم سوه او حال دا چي د هدایې مصنف په دغه صفحه کي لیکلي دي:

لأن أحد المتعاقدين لايتفرد بالفسخ. (الهداية:٣/ ١٤٧، مسائل شتى من كتاب القضاء).

همدارنګه په شرح مجله للاتاسي جلد ۲ صفحه ۲۵۸ کي لیکلي دي:

هر ځای چي دووه فریقه د عقد اقرار کوي مګر ثمن یې نه ادا کاوه، نو فریق اخر فسخ نه سي کولای.

په بدائع الصنائع کي راځي:

ونوع لا يرتفع إلا بإقالةٍ وهو حكم كل بيعٍ لازمٍ وهو البيع الصحيح الخالي عن الخيار.

(بدائع الصنائع:٥/ ٣٠٦، سعيد).

حضرت مولانا محمد تقی همداسي موافقت ښودلی دئ یعنی یو طرفه فسخه کېدای نه سي.

الجواب: که د هدایې عبارت په غوره سره وکتل سي او د محشیانو حضراتو د عباراتو لحاظ ورسره وکړل سي نو دا خبره به لکه سپینه ورځ داسي وځلیږي چي اصل دار مدار د ثمن پر اخیستلو باندي دئ کله چي ثمن وصول نه وي یا نه کیږي یا انتهایي مشکل وي نو د یوه طرفه فسخه روا ده.

په عنایه کي راځي:

لما تعذر استيفاء الثمن وهمنا لما أقر المشتري فی مكانه بالشراء لم يتعذر الاستيفاء فلا يستبد بالفسخ. (العناية على هامش فتح القدير:٧/ ٣٣٤، دار الفكر).

یعنی مشتري چي د ثمن اقرار کوي نو د ثمن وصول ممکن دئ لهذا یو طرفه فسخ نه سي کولای او څرنګه چي په مخکنیو زمانو کي اسلامي نظام او اسلامي قضاوي موجودي وې او د مظلوم لاس رسی په اسانی ورته کېدئ نو ثمن وصول کېدئ مګر په اوسنی زمانه کي د بهانو کولو په سبب د

Maktaba Tul Ishaat.com

ثمن وصول کول ناممکن دي او عدالت او قضاء ته تګ پښېماني ده او کلونه انتظار غواړي او په خپل لاس خپل ځان په پرېشاني اخته کول دي.

همدارنګه د بدائع خبره، چې وايي په بيع لازم کي له اقالې ځخه پرته بل کوم صورت نه جوړيږي دا په عامو حالاتو کي قابل عمل ده مګر په کوم ځای کي چې د ثمن وصول ممکن نه وي هلته يو طرفه فسخه کېدای سي، لکه څنګه چې په بيع کي غلام د مشتري تر قبضې وړاندي تېښته وکړي قاضي د عقد د مکمل کېدو باوجود کولای سي چې عقد فسخه کړي. (كما فى الدر مع الرد:٤/ ٣٩٢، سعيد).

حضرت مفتي محمد تقي صاحب دام فضله په ياده مسئله کي يو طرفه فسخه صحيح نه ده بللې مګر د هغه په دوهم کتاب کي څه ناڅه ګنجائش معلوميږي.

وګورئ په تکمله فتح الملهم کي راځي:

فإن الخادع يجب عليه ديانة أن يفسخ البيع أو يقيل المخدوع إذا طلب منه الإقالة وقد صرح به فى الدر المختار والشامى. (تكملة فتح الملهم:١/ ٣٣٣).

تقي عثماني په تقرير ترمذي کي وايي:

د متاخرينو حنفيه او مالکيه وو پر قول فتوی ورکول کيږي له دې وجه چې نن سبا فرېب او دوکه ډېره او عامه ده لهذا کوم کس ته چې دوکه ورکول سوې وي هغه ته خيار فسخه بايد ورکړل سي لکه څنګه چې د امام مالک رحمه الله مذهب دئ، چې نن سبا پر دې فتوی ده، لهذا کوم چا ته چې دوکه ورکړل سوې ده هغه ته خيار مغبون حاصل دئ يعنی لکه له کوم چا سره چې غبن فاحش سوی وي هغه ته خيار غبن حاصل وي نو ده ته هم خيار مغبون حاصليږي. (تقرير ترمذى:١/ ١٦٩).

په فيض الباري کي علامه انور شاه کشميري رحمه الله وايي:

أن الغرر، إما قولي، أو فعلي، فإن كان الغرر قوليا، فالإقالة واجبة بحكم القاضي. وإن كان الثاني تجب عليه الإقالة ديانةً،....... وهكذا فيما إذا أفلس المشتري سلعة فلم يؤد ثمنها حتى

أفلس، أنه يكون فيه أسوة للغرماء عندنا قضاءً، ويجب عليه أن يرد المبيع إلى البائع خفيةً ديانةً، فإنه أحق به، لكنه حكم الديانة دون القضاء. (فيض الباری:۳/ ۲۳۲). والله ﷻ اعلم.

تر قبض وړاندي د مبيعې د هلاک حکم

سوال: يوه سړي يو شی رانيوئ او خپل استوګنځای ته تر رسېدو وړاندي په لاره کي مړ سو او س تاوان پر چا راځي؟

الجواب: په پورتني صورت کي تر کومه وخته چي عرفاً مبيع يا سامان د مشتري په قبضه کي نه وي راغلې او د مشتري پوره تصرف او قبضه حاصله سوې نه وي مبيع د بايع په ملکيت کي بلل کيږي او د هلاک په صورت کي تاوان پر بايع لازميږي او تاوان به ورکوي، البته که عرفاً قبضه مشتري ته حاصله سي نو بيا مشتري د دې ذمدار دئ.

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

تفيد الملک بالقبض أی يثبت بالبيع أو بالشراء. (فتاوى الشامی:٦/ ١٣٠، کتاب الاکراه).

يعنې په قبضې سره ملکيت تاميږي که له قبضې پرته مړ سي نو د بايع په ملک کي مړه سوه.

په شرح مجله کي راځي:

المبيع إذا هلک في يد البائع قبل أن يقبضه المشتري يكون من مال البائع ولاشيء على المشتري.... وإذا هلک المبيع بعد القبض هلک من مال المشتري ولا شيء على البائع.

(شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:۲/ ۲۲۳-۲۲۵).

په جديد فقهی مباحث نومي کتاب کي ليکلي دي:

په قرآن کريم او سنت کي د قبضې کوم خاص حقيقت نه دئ ذکر سوی بلکي په احاديثو کي د قبضې مختلف کيفيتونه ذکر سوي دي.

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه په يو روايت کي د رانيولو له ځای څخه کوم بل ځای ته د سامان منتقل کولو حکم دئ چي دې ته قبضه ويل کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت زید بن ثابت ﷛ په روایت کې راغلي کله چې تاجر اخستل سوی مال په خپل کجاوه کې منتقل کړي نو دا قبضه ده.

له هم دې کبله د فقهاوو اتفاق دئ چې د قبضې پېژندنه د خلکو عرف ته سپارل سوې دومره اندازه دخل په یوه شی کې چې د خلکو په عرف کې ور ته قبضه ویل سوې وي بس هغه قبضه بلل کیږي.

علامه کاسائي رحمه الله فرمايي:

ولا يشترط القبض بالبراجم ؛ لأن معنى القبض هو التمكين ، والتخلي ، وارتفاع الموانع عرفًا وعادةً حقيقةً. (بدائع الصنائع:۵/ ۱۴۸، سعيد – الفتاوى الهندية:۳/ ۱۶ (جديد فقهى مباحث:۱۵/ ۱۲).

په فقهی مقالات نومي کتاب کې راځي:

په شریعت مطهره کې راغلي دي چې په صرف بیعه کولو او ملکیت نقل کېدو سره ضمان نه نقل کیږي تر څو چې د مشتري پوره قبضه نه وي راغلې لهذا له پوره قبضې څخه پر ته مشتري د مبیعې مالک نه بلل کیږي البته قبضه عامه ده که حقیقي یا عرفي وي یا مشتري یا وکیل یا نمائنده د مشتري قابض وي. (فقهی مقالات:۳/ ۷۳).

اسلام اور جدید معاشی مسائل نومي کتاب کې راځي:

که چیري بایع تخلیه وکړه او مشتري ته یې وویل چې دا ستا غنم دي زما په گدام کې وي کوم وخت چې ستا خوښه وي گدام خالی کړه او یویې سه نور زه د غنمو ذمه دار نه یم ستا پر ذمه دي اوس غنم د مشتري په ذمه کې راغله او مشتري ضامن بلل کیږي اگر چې په حسي ډول د بایع په قبضه کې دي مگر حقیقت کې مشتري د نقصان ضامن گرځي.

د امام ابو حنیفه رحمه الله په مسلک کې حسي قبضه ضروري نه ده صرف تخلیه کافي ده او تخلیه و دې ته وایي چې بایع ومشتري ته پر قبض کولو قدرت ورکړي او مشتري ته به د مبیعې په قبض کولو کې خنډ او مشکل نه وي چې کله مشتري ته په قبض کولو کې مانع نه وو نو تخلیه راغله. مثلاً یو بکس دئ په هغه کې ډېر شیان دي کله چې د هغه کیلي و چا ته تسلم کړل سي اوس د هغه خوښه ده چې له بکس څخه شی اخلی او که نه؟ او قبضه متحققه سوه.

امام بخاري رحمه الله په دې ځای کې د امام ابو حنیفه رحمه الله مسلک اختیار کړی دی او د حضرت جابر رضي الله عنه کیسه او واقعه یې موصولاً روایت کړې ده چې له حضرت جابر رضي الله عنه څخه نبي کریم ﷺ اوښ رانیوی او حضرت جابر رضي الله عنه تر مدینې منورې پورې پر هغه اوښ سفر وکړ او حضرت جابر رضي الله عنه تر مدینې منورې له اوښ څخه کښته سوی هم نه دی، مګر تخلیه متحققه سوه. امام بخاري رحمه الله فرمايي: معلومه سوه چې له تخلیې څخه قبضه راځي. (اسلام او معاشی مسائل: ۲/ ۹۸_۱۰۰).

د نور تفصیل له پاره وګوري: (عطر هدایه: ۸۸ـ۹۱، او جدید معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۴۰-۴۲، او قاموس الفقه: ٤/ ٤٦٦_٤٦٧).

لنډه دا ده چې د مبیعې په قبضه کولو مشتري ضامن جوړیږي او تر قبضې وروسته بایع ذمه دار نه دی او د قبضې حقیقت پر عرف مبني دی، همدارنګه د اجناسو په اعتبار سره هم فرق راځي. والله تعالی اعلم.

د نابالغ د مځکې خرڅولو حکم

سوال: که چیري ولي د نابالغ مځکه د کوم سبب پرته خرڅه کړه ایا دا روا ده او که نه؟

الجواب: که چیري د ولي شفقت مشهور وو یا د ولي حالت مستور وو چا ته نه معلومېده او په خرڅولو کې یې ګټه وه، نو بیا یې خرڅول روا دي.

په درمختار کې راځي:

ولو البائع أباً فإن محموداً عند الناس أو مستور الحال يجوز، ابن كمال، وقال في الشامية: قوله ويجوز فليس للصغير نقضه بعد بلوغه إذ للأب شفقة كاملة ولم يعارض هذا المعنى آخر فكان هذا البيع نظراً للصغير وإن كان الأب فاسداً لم يجز بيعه العقار فله نقضه بعد بلوغه هو المختار إلا إذا باعه بضعف القيمة إذ عارض ذلك المعنى معنى آخر، تنبيه: ظاهر كلامهم هنا أنه لا يفتقر بيع الأب عقار ولده إلى المسوغات المذكورة في الوصي ونقل

Maktaba Tul Ishaat.com

الحموي في حواشي الأشباه من الوصايا أن الأب كالوصي لا يجوز له بيع العقار إلا في المسائل المذكورة كما أفتى به الحانوتي . ثم رأيت في مجموعة شيخ مشايخنا منلا علي التركماني قد نقل عبارة الحموي المذكورة ثم قال ما نصه: وهو مخالف لإطلاق ما في الفصول وغيره ولم يستند الحانوتي في ذلك إلى نقل صحيح ولكن إذا صارت المسوغات في بيع الأب أيضا كما في الوصي صار حسناً مفيدا أيضا لأن الأخذ بالاتفاق أوفق هكذا أفادنيه شيخنا الشيخ محمد مراد السقامينی رحمه الله . (الشامی:٦/ ٧١١، سعيد).

په هدايه کي راځي:

ولا يجوز بيع الوصي ولاشراؤه إلا بما لا يتغابن الناس في مثله لأن لا نظر في الغبن الفاش بخلاف اليسير لأنه لا يمكن التحرز عنه ففي اعتبار انسداد بابه. (الهداية:٤/ ٦٩٨، باب الوصی وما يملكه).

وفی الشامي: قوله ولو مصلحاً إنما ذكره لأنهم صرحوا بأن شرط بيع الأب عقار الصغير بمثل القيمة كونه محموداً أو مستوراً فلو كان مفسداً لا يجوز إلا بضعف القيمة. (فتاوى الشامی:٥/ ٤٢٦، سعيد).

وفيه أيضاً: قوله على قول المتأخرين أي في وصي اليتيم أنه ليس له بيع العقار إلا في المسائل السبع الآتية وهو المفتى به وعند المتقدمين له البيع مطلقاً، واختاره الإسيبجابي وصاحب المجمع وكثير كما في التحفة المرضية قوله سبع مسائل ونصه وجاز بيعه عقار صغير من أجنبي لا من نفسه بضعف قيمته أو لنفقة الصغير أو دين الميت أو وصية مرسلة لا

إنفاذ لها إلا منه أو تكون غائبة، لا تزيد على مؤنته أو خوف خرابه أو نقصانه أو كونه في يد متغلب (فتاوى الشامي: ٤/ ١٨٣، باب العشر والخراج، سعيد).

وللاستزادة انظر: الفتاوى الخانية على هامش الهندية: ٣/ ٥١٧ – وشرح العناية: ١٠/ ٥٨٨).

حکیم الامت د شامی د عبارتونو وروسته فرمايي: له دې روايت څخه ثاتبيږي چي مور د کوچني جايداد فی نفسه نه سي خرڅولای بلکي د ضرورت په وخت کي به مسلمان حاکم ته رجوع کوي او د مسلمان حاکم د نه شتون په صورت کي کومه جزئيه زما تر نظر تېره سوې نه ده مګر څنګه چي حاجت متحقق دئ او حرج مرفوع دئ لهذا د ضرورت په ډول روا معلوميږئ. (امداد الفتاوی: ٣/ ٢٥).

والله تعالیٰ اعلم.

د ګريټينګس کارډ د تجارت حکم

سوال: د اختر د کارډ په ډول په عسيايانو کي د کليزي کارډ او هم د مور د ورځي کارډ چي په ګريټينګس کارډ سره ياديږي رواج دئ ايا مسلمان دا کارډ رانيولای سي او که نه؟ سره له دې په کارډ کي کوچني تصويرونه هم دي؟

الجواب: په پورتني صورت کي فتوا دا ده چي د داسي کارډونو اخيستل او خرڅول روا دي ځکه چي په دې کارډ کي تصوير مقصد نه وي بلکي تابع وي لکه په اوسني زمانه کي چي پر ډېرو شيانو تصويرونه وي خو په بيعه کي مقصود نه وي فقهاوو وداسي تجارت ته بېله کراهتيه جواز ورکړئ دئ، البته په کور يا دوکان کي دي تصوير لرونکي شيان پټ کښيږدي چي د حديث له ظاهر څخه خلاف ورزي رانسي.

قال في رد المختار: لكن في الخزانة إن كانت الصورة مقدار طير يكره وإن كانت أصغر فلا.

(ردالمحتار: ١/ ٦٤٨، سعيد).

د فقهاوو مشهوره قاعده ده. «الأمور بمقاصدها». (الاشباه والنظائر: ١/ ١٠٢).

د دې قاعدي سره سم په دې صورت کي د کارډ تجارت مقصد دئ نه تصوير (عکس) لهذا د دې کارډ د تجارت روا دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

همدارنګه فقهاوو د بیع العصیر په اړه ویلي:

«فتاواه» أن بیع العصیر ممن یتخذ خمراً إن قصد به التجارة فلا یحرم وإن قصد به لأجل التخمیر حرم. (الاشباه والنظائر:۱/ ۱۰۲).

په کفایت المفتی کي راځي:

د تصویرونو خرڅول او اخیستل روا نه دي که غټ یا هم کوچني وي، د کوچنیانو د ساتیري له پاره وي یا د بل غرض له پاره، البته داسي شیان چي په هغو کي به د تصویر رانیول او خرڅول مقصد نه وي لکه لاسي بکس چي پر هغه کوم تصویر وي هغه په بیع کي مقصد نه دئ نو د داسي اشیاوو رانیول او خرڅول مباح دي. (کفایت المفتی:۹/ ۲۳۵).

بل ځای ذکر سوي دي:

سوال: د کالو پر تان چي له کمپنۍ څخه کوم کاغذ موښتی وي پر هغه د حیوان عکس وي یا بکس کوم چي پر هغه د ساه کښ حیوان تصویر لګېدلی وي او په هغه کي د رانیولو او خرڅولو سامان وي، د داسي عکس درلودونکی شی په دوکان کي ایښودل څرنګه دي ایا دا د تصویر حکم لري او که نه؟

الجواب: په دې کي د تصویر او عکس د رانیول او خرڅول مقصد نه دئ نو ځکه ګنجائش یې شته. (کفایت المفتی:۹/ ۲٤۱، عطر هدایه).

په عطر هدایه کي راځي:

داسي تصویرونه که پر کتاب، لوښی یا کوم بل شی باندي وي او د هغه تصویر له وجي د هغه پر قېمت اثر لوېږي دا مکروه دي او که د هغه تصویر په سبب پر قېمت اثر نه لوېږي بیا هم له کراهت څخه نه خالي کېږي، البته که له هغوی څخه ځان ساتنه مشکل وه لکه د روپیو کاغذ، ټکیټ کارډ او نور پر کومو چي تصویر موښتی وي په دې کي هغه مبتلونکی ګناه ګار دئ او عام خلک په ګناه ګار نه دي. (عطر هدایه:٤/ ۱٥۳-۱٥٤، تصاویر کی احکام).

په آپ کی مسائل نومې کتاب کې راځي:

سوال: هغه ورځ پاڼې چې په هغو کې تصویرونه وي د هغو کور ته را وړل څرنګه دي؟

الجواب: د ځينو اکابرينو دا معمول وو چې تر لوستلو وړاندې به يې عکسونه ځني پرېکړل او پر ځينو تصويرو به يې لاس ايښودئ زموږ له پاره دا هم غنيمت ده چې تر لوستلو وروسته اخبار بند کړو. (اپ کی مسائل اور ان کا حل:۷/ ٦٨).

په کتاب الفتاوی کې راځي:

بد قسمتي دا ده چې نن سبا پر داسې شيانو عکسونه لګول کيږي چې د هغو هيڅ تعلق له دې تصوير سره نه وي او د ليبل تر خرڅولو سامان مشتبه ګرځي او د هغه په خرڅولو کې تصوير مقصد نه وي بلکې اصل شی مقصد وي، لهذا په اوسنی زمانه کې د هغو شيانو رانيول او خرڅول صحيح دئ چې پر هغو تصويرونه چسپ کړل سوي وي، البته د مسلمانانو صنعت کارانو له پاره لازم ده چې د خلکو توجه د سامان په کوالټی او کيفيت سره راجلب کړي نه په داسې بې ارزښته شيانو کې چې هغه صرف پرکنده وي نور د استفادې وړ شی نه وي. والله ﷻ اعلم.

تانونه چې پر هغو د ذي روح تصوير لګېدلی وي د هغه د رانيولو او خرڅولو حکم

سوال: د ذي روح تصوير درلودونکی تانونه پر غير مسلم خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: په شريعت مطهره کې تصوير او مجسمه جوړونه او د هغو راينول او خرڅول ممنوع ګرځېدلي دي لهذا د مجسمې خرڅول او رانيول روا نه دي همدارنګه هغه تصويرونه چې هغه مقصد وي د هغو رانيول او خرڅول ناروا دي، البته د کالو پر تانو او د نورو شيانو پر کارتنانو چې کوم تصويرونه وي هغه په عام ډول مقصد نه وي اصلاً تان يا هغه سامان مقصد وي لهذا دې کار وبار ته ناروا نه سي ويل کېدای علاوه پر دې چې هغه د کافر په لاس خرڅوليږي ځکه چې کافر په فروعاتو سره مخاطب نه دئ، البته په ځينو تصوير درلودونکی جامو کې لوی تصويرونه راځي او هغه د نېش په ډول اغوستل کيږي له هغو څخه پرهيز کول په کار دي چې بايد د هغو تجارت ونه کړل سي.

عن جابر رضي الله عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن الصورة في البيت ونهى أن يصنع ذلك،

حديث جابر رضي الله عنه حديث حسن صحيح. (رواه الترمذی فی باب ماجاء فی الصورة:١/ ٣٠٥).

Maktaba Tul Ishaat.com

په عطر هدایه کې راځي:

د هر ذی روح پر تصویر جوړونکي لعنت واریدیږي او جناب نبي کریم ﷺ فرمایي: په کوم کور کې چې سپی یا تصویر وي هغه کور ته د رحمت ملکې نه داخلیږي. (مشکوة شریف).

او فرمایي: الله تعالی خپله فرمایي، تر هغه چا لوی ظلم به څوک وي چې هغه زما سره په تخلیق کې مشابهت کوي هغوی دې یوه زره (کوچنی میږې) دې پیدا کړې یوه داوربشی دانه دې پیدا کړي او موږ ته دې ښکاره کړي. (مشکوة شریف د بخاري شریف او مسلم شریف په حواله).

او حضرت عائشه ﷺ فرمایي: نبي کریم ﷺ په کور کې هیڅ کوم تصویر لرونکی شی نه پریښوئ. (بخاري او مسلم).

مسئله: تصویر جوړول، خرڅول او اخیستل قلمي وي که مجسم عکس وي. که منقش وي، که صرف مخ وي او که پوره جسم دا ټول لویه ګناه او حرامه کړنه ده.

که چیرې داسې عکسونه پر کوم کتاب یا لوبنی وي او د هغه عکس په سبب د هغه په قیمت کې زیادت یا رغبت راځي مکروه ده او که چیرې رغبت نه وي بیا هم له کراهیت څخه نه خالي کیږي، البته که له هغو څخه ځان ساتنه مشکل وي لکه پر پیسو، ټکټ کارډ او نورو، نو بیا عکس مبتلونکی ګناه ګار دئ او د عوامو له پاره کومه ګناه نسته. (عطر هدایه:۱۵۳-۱۵٤).

ځینو حضراتو د جامع ترمذي له دې روایت څخه استدلال کړی دئ.

عن عبید الله بن عبد الله بن عتبة أنه دخل على ابي طلحة الأنصاري رضي الله عنه يعوده فوجدت عنده سهل بن حنيف رضي الله عنه قال فدعا أبو طلحة رضي الله عنه إنساناً ينزع نمطاً تحته فقال له سهل لم تنزعه، قال: لأن فيها تصاوير و قال فيه النبي ﷺ ما قد علمت، قال سهل رضي الله عنه أو لم يقل إلا ما كان رقماً في ثوب قال: بلى ولكنه أطيب لنفسي، هذا حديث حسن صحيح. (رواه الترمذي:١/ ٣٠٥).

قال ابن بطال: اختلف العلماء في الصور: فكره ابن شهاب مانصب منها ومابسط كان رقمًا أو لم يكن، على حديث نافع عن القاسم عن عائشة رضي الله عنها، وقال طائفة: إنما يكره من التصاوير ماكان في حيطان البيوت، وأما ماكان رقمًا في ثوب فهو جائز على حديث زيد بن خالد عن أبي طلحة رضي الله عنه، وسواء كان الثوب منصوبًا أو مبسوطًا. وبه قال القاسم. (شرح صحيح البخاري لابن بطال:۹/ ۱۷۹، كتاب اللباس، باب من كره القعود على الصور).

په فتاوی محمودیه کي ذکر سوي دي:

په کومو رسالو کي چي د ذی روح تصویرونه وي او هغوی تصویرونه د رغبت او میني په سبب اخیستل کیږي د هغو رسالو رانیول او خرڅول روا نه دي. « لأن الأمور بمقاصدها»

البته که په بیعه سره د صحیحو مضامینو مقصد وي بیا یې اخیستل روا دي او تصویرونه تابع دي هغه دي محوه کړي نو بیعه صحیح ده. (فتاوی محمودیه:۵/ ۱۰۷، غیر مبوب).

په تصویر کی شرعی احکام نومي کتاب کي راځي:

په بیعه کي که چیري تصاویر خپل مقصد نه وي بلکي د نورو شیانو په تبع په بیعه کي راغلي وي لکه نن سبا چي په کالو، لوښو او داسي نورو سامانو کي عام رواج دئ، نو بیا یې رانیول او خرڅول تبعاً روا دي.

كما يستفاد من بلوغ القصد والمرام معزياً للهيثمي (بلوغ المرام:ص ۱۸). ولما هو من القواعد المسلمة من فقه الأحناف أن كثيراً من الأفعال لايجوز قصداً ويجوز تبعاً كما صرحوا في جواز بيع الحقوق تبعاً للدار ولا إصالة وقصداً.

او که چیري خپله تصاویر په بیعه کي مقصد وي نو بیا یې خرڅول او رانیول دواړه ناروا دي.

او که چیري تصویرونه د خاورو څخه جوړ سوی وي بیا د هغه څه قیمت پر چا نه لازمیږي البته که تصویر د کوم فلز یا کوم لرګی وو بیا دومره قیمت لازمیږي له که څومره قیمت چي د لرګي دئ یا

Maktaba Tul Ishaat.com

د فلز دي يعنى د لرګي قيمت د تصوير د قيمت څخه صرف نظر . (تصویر کی شرعی احکام،ص:۸۸، از مفتی محمد شفیع). د نور تفصیل له پاره وګوري: (کتاب الفتاوی:۵/ ۲٦۵ – وامداد الاحکام:۳/ ۳۸٤ – وجواهر الفتاوی:۳/ ۲۱۰-۲۲۷، از مفتی محمد عبد السلام صاحب چاټگامی). والله ﷻ اعلم.

د ترياکو د تجارت حکم

سوال: د ترياکو تجارت روا دئ او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي د ترياکو تجارت روا دئ ځکه چي هغه بعينه د شرابو په حکم کي نه دئ ځکه چي له هغو څخه منفعت حاصليږي لکه په دوا کي استعماليږي او دا قاعده ده چي د کوم شي استعمال چي په روا ډول ممکن وي د هغه تجارت هم روا دئ، البته د کوم چا په اړه چي غالب ګمان وي چي هغه يې په ناروا طريقه استعمال وي نو پر هغه باندي يې خرڅول مکروه دي.

د درمختار عبارت وګوري:

وصح بيع غير الخمر ومفاد صحة بيع الحشيشة والأفيون. وفي الشامية: قوله وصح بيع غير الخمر أي عنده خلافاً لهما في البيع والضمان، لكن الفتوى على قوله في البيع. (الدر المختار مع الفتاوى الشامي:٦/ ٤٥٤، كتاب الاشربة، سعيد).

وفي حاشية الطحطاوي على الدر: ويجوز بيعها ويضمن متلفها قيمتها عنده وقالا: لايجوز البيع ولايضمن المتلف وعن أبي يوسف رحمه الله، يجوز بيعها إذا طبخ فذهب أكثر من النصف وأقل من الثلثين والفتوى على قوله في البيع. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٤/ ٢٢٥، كوئته).

په کفايت المفتي کي راځي:

د ترياکو رانيول او خرڅول روا دي اګر چي قانوناً د هغو لايسنس ضروري دئ مګر شرعاً بغير لايسنسه هم د هغو رانيول او خرڅول روا دي او له هغو څخه لاس ته راوړل سوي پيسې حلالي دي.

(كفايت المفتى:٩/ ١٢٤، الحضر والاباحة).

په احسن الفتاوى كي راځي:

په تېره زمانه كي ترياک په دومره كثرت په دوا كي نه استعمالېدل صرف د نشې په ډول كار ځنې اخستل كېدئ نو ځكه فقهاوو د هغو رانيول او خرڅول مكروه بللى وو مګر په ننۍ زمانه كي د ترياكو استعمال په دوا كي ډېر دئ او علاج او معالجه كي زيات دخل لري بلكي د سخت ضرورت حد ته رسېدلى دي نو ځكه د دوى بيعه بلاكراهته روا ده، البته د كوم شخص په اړه چي غالب ګمان دا وي چي هغه يې د نشې كولو له پاره كاره وي نو پر هغه يې خرڅول مكروه تحريمى دي. (احسن الفتاوى:٦/ ٤٩٤).

مفتي تقى عثماني صاحب وايي:

د كوم شي چي روا استعمال ممكن وي د هغه بيعه روا ده كه څه هم هغه شى په عام ډول په ناروا كار كي استعمالېږي يعنى اوس د مشتري كار دئ چي هغه په روا كار كي استعمال وي او كه نه؟.
(اسلام اور جديد معاشى مسائل:٤/ ١٧).

په بل ځاى كي وايي:

ترياک نشه درلودونكى دي او په عامو حالاتو كي د هغو استعمال روا نه دئ مګر د هغو بيعه روا ده د دې وجه دا ده چي د ترياكو روا استعمال ممكن دئ يعنى هغه په دواوو كي استعمالېږي همدارنګه د دباندينو امراضو له پاره استعمالېدى سي. نو ځكه يې بيعه روا ده. (اسلام اور جديد معاشى مسائل:٤/ ١٣). (فتاوى محموديه:١٦/ ١٢٣، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

خپل ځان ته د ځيني مبيعې د مخصوص كولو حكم

سوال: كه چيري يو كس له بل څخه شاپيګ مول دوكانونو په قيمت واخلى او بايع د عقد په وخت كي شرط ولګوي چي د دوكانونو په دې لړ كي به ما ته يو دوكان پرته له كرايې څخه راكول كيږي ايا داسي شرط لګول روا دي او كه نه؟

الجواب: د عقد له مقتضى څخه خلاف شرط لګول عقد ته مفسد ګرځي نو ځكه په ياد صورت كي عقد صحيح نه دئ، البته د جواز صورت يې دا دئ چي په پوره كمپلكس (لړ) كي يو

Maktaba Tul Ishaat.com

مخصوص دوکان مستثنی کړي او دا ذکر وکړئ چې دا یو مخصوص دوکان د بایع په ملکیت کې دئ او مشتري یې په کرایه نه سي ورکولای پاته دوکانونه د مشتري ملکیت او په اختیار کې دي، لکه د مېوي له خرې ځخه چې لس منه د بیع او عقد په وخت کې مستثنی کړي چې دا د بائع دي، نو دا روا دہ.

وګورئ هدایه کې راځي:

ولا يجوز أن يبيع ثمرة ويستثني منها أرطالاً معلومة خلافاً لمالك رحمه الله لأن الباقي بعد الاستثناء مجهول بخلاف ما إذا باع واستثنى نخلا معينا لأن الباقي معلوم بالمشاهدة قال: قالوا: هذه رواية الحسن رحمه الله وهو قال الطحاوي رحمه الله، أما على ظاهر الرواية ينبغي أن يجوز لأن الاصل أن ما يجوز إيراد العقد عليه بانفراده يجوز استثناؤه من العقد وبيع قفيز من صبرة جائز فكذا استثناؤه . (الهداية:۳/ ۲۷، كتاب البيوع).

وللاستزادة: انظر فتاوى الشامي:٤/ ٥٥٨، ٥٥٩، سعيد – والقول الراجح:٢/ ١٠).

د جواز له پاره یې یو بل صورت علامه شامي رحمه الله له جامع الفصولین ځخه نقل کړئ:

هغه دا چې تر عقد وروسته بایع له مشتري ځخه وعده واخلی چې ته ما ته یو دوکان بیله کرایه راکړه که مشتري د بایع درخواست منظور کړي نو بیا پر مشتري دوکان ورکول لازم دي ځکه چې داسي وعدې واجب الوفاء ګرځي.

وقال في شرح المجلة: فلو ألحق الشرط الفاسد بالعقد، قيل: يلتحق عند الإمام وقيل: لا، وهو الصحيح.... نقل (ابن عادين رحمه الله) عن جامع الفصولين أيضاً أنه لو ذكر البيع بلا شرط، ثم ذكر الشرط على وجه العدة جاز البيع ولزم الوفاء بالوعد، إذا المواعيد قد تكون لازمة، فيجعل لا زماً لحاجة الناس، ويظهر لي أنه متى وقع الشرط بعد العقد لايكون إلا على

وجه العدة، وحكمه أنه يجب الوفاء به. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی، فصل فی حق البيع بشرط: ۲/ ٦٠). والله ﷻ اعلم.

د مبيعې د قېمت د پورته کېدو په سبب د فسخه کولو حکم

سوال: يو شخص خپل سرای د سخت ضرورت له کبله په دوه لکه معجل قېمت سره ورکړ معامله البرکة بانک ته ورسېده هغه کاغذات طلب کړل مګر د کاغذاتو د نه ورکولو له وجې البرکة بانک معامله رد کړه. مشتري او بايع خپل په منځ کي معامله طی کړه. مشتري ۵۰ زره افغانۍ په نقدي ډول ورکړې او هو کړه يې ورسره وکړه چي نوري پيسې به د مشتري له توان سره سم قسطونه ورکوي. اته مياشتې وروسته اسناد پيدا سو او قسطونو ډېري پيسې پوره کړي وې صرف ۵۰ زره د مشتري پر ذمه پاته دي اوس مشتري غواړي د بايع پيسې ورکړي او اسناد تر لاسه کړي مګر بايع له قېمت اخستلو څخه انکار کوي ځکه چي اوس د سرای قېمت لوړ سوی دئ او بايع په مخکنی قېمت راضی نه دئ او غواړي چي پر مشتري قېمت زيات کړي، اوس د سرای مالک څوک دئ او بايع د فسخي اختيار لري او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي د جانبينو په رضايت ايجاب او قبول سوی دئ لهذا بيعه تامه سوې او مشتري د سرای مالک وګرځېدئ، بايع ته د فسخي اختيار نسته او کوم قېمت چي معجل وو هغه بايع په خپله رضا په قسطو بدل کړ ځکه چي البرکة بانک کاغذات طلب کړل او هغه له بايع سره موجود نه وو لهذا پوره قيمت وصول نه سو.

دوهمه خبره دا ده چي جائداد څه نور چي د ضرورت شيان بلکي د خوراک او څښاک توکي ورځ په بله پسي ګرانيږي د دې مطلب دا نه دئ چي د قېمت د لوړوالي په سبب دي خرڅ کړل سوی سرای واپس کړل سي بلکي کوم قېمت چي طی سوی دئ عقد پر هغه قېمت قرار لري او پر مشتري لازمه ده چي پوره قېمت ادا کړي.

۳_ همدارنګه به عقد کي د عاقدينو لخوا هغه قېمت چي د عقد په وخت کي وو د اعتبار وړ دئ او له عقد څخه وروسته که قېمت لوړ او يا هم ټيټ سي دا پر عقد باندي کوم اثر نه اچوی، بلکي عاقدينو چي کوم قېمت طی کړی دئ هغه د اعتبار وړ دئ اګر چي بازاري قېمت تر هغه زيات يا کم

Maktaba Tul Ishaat.com

وي كه چيري قسطونه وي هغه هم د طى سوي قېمت مطابق وركول كيږي او تبديلي نه سي پكښې كېداى، البته كه مشتري په خپله رضا له خپله جانبه وبايع ته څه شى وركړي دا د هغه د طرفه احسان دئ كه نه بايع تر طى سوى قېمت زيات غوښتلاى نه سي او نه مشتري حق لري چي له طى سوي قېمت څخه كم وركړي.

۴_ كله چي بائع مشتري د قسطو په ادا كولو كي وخپلي رضا ته پرېښود يعنى مشتري به ثمن د قسطو په ډول ادا كوي، البته د مشتري د توان مطابق دا جائز ده يعنى مشتري ته اختيار دئ چي د مياشتي څومره ادا كوي، البته څه نه څه شى به ضرور ادا كوي.

د عقد په وخت پوره قېمت معلومول ضرور دي تر څو په ورسته كي د جنګ او جګړې مخه ډب سي لكه په مخكني صورت كي چي دوه لكه قېمت ټاكل سوى وو دا بالكل صحيح دئ.

۵_ كوم رقم چي په قسطو سره وصول كړل سوي دي او اوس صرف ۵۰ زره پاته دي نو د بايع دا خبره چي زه راضى نه يم صحيح نه ده او له دې څخه پر عقد كوم اثر نه لوېږي.

دلائل وګورئ:

په قرآن كريم كي راځي:

﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل إلا أن تكون تجارةً عن تراضٍ منكم﴾. (سورة النساء، الآية:۲۹).

په بخاري شريف كي راځي:

حدثنا أبو النعمان قال حدثنا حماد بن زيدٍ ، قال حدثنا أيوب عن نافعٍ ، عن ابن عمر رضي الله عنهما ، قال : قال النبي ﷺ: « البيعان بالخيار ما لم يتفرقا ، أو يقول أحدهما لصاحبه اختر، وربما قال: أو يكون بيع خيارٍ. (صحيح البخارى:۱/ ۲۸۳، باب من لم يوقت الخيار هل يجوز البيع، كتاب البيوع).

پہ عمدة القاري کې راځي:

أي بخيار البيعين ما لم يتفرقا، قال عبد الله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنه وقد مضى أن ابن عمر رضي الله عنه كان إذا اشترى شيئاً يعجبه فارق صاحبه، وروى الترمذي من طريق ابن فضيل عن يحيى بن سعيد: وكان ابن عمر رضي الله عنه إذا ابتاع بيعاً وهو قاعد قام ليجب له، وقد ذكرنا عن مسلم نحوه. (عمدة القارى:۸/ ۳۸۵، كتاب البيوع، دار الحديث، ملتان).

پہ ترمذي شريف کې راځي:

ومعنى قول النبي صلى الله عليه وسلم إلا بيع الخيار معناه أن يخير البائع المشتري بعد إيجاب البيع فإذا خيره فاختار البيع فليس له خيار بعد ذلك في فسخ البيع وإن لم يتفرقا هكذا فسره الشافعي رحمه الله وغيره. (ترمذى شريف:۱/ ۱۵۰، باب ماجاء البيعان بالخيار مالم يتفرقا).

مخکنۍ ذکر سوی روايت او د هغه له شرحې څخه معلوميږي چې پہ رضا او خوښه سره تر عقد کولو وروسته بايع او مشتري ته د فسخې اختيار نه سته.

د هدايې مصنف فرمايي:

وأذا حصل الإيجاب والقبول لزم البيع ولا خيار لواحد منهما إلا من عيب أو عدم رؤية.

(الهداية:۳/ ۲۰، كتاب البيوع).

بل ځای کې د هدايې قول دی:

ولا يجوز البيع إلى قدوم الحاج وكذلك إلى الحصاد والدياس.... إلى قوله بخلاف ما إذا باع مطلقاً ثم أجل الثمن إلى هذه الأوقات حيث جاز لأن هذا تأجيل فى الدين وهذه الجهالة فيه متحملة. (الهداية:۳/ ۶۱، باب البيع الفاسد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په شرح مجله کي راځي:

وفي جامع الفصولين: الرواية المحفوظة أنه لو باع مطلقاً ثم أجل الثمن إلى حصاد ودياس لايفسد ويصح الأجل، ووجهوه بأن التأخير بعد البيع تبرع فيقبل التأجيل إلى الوقت المجهول. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:۲/ ۱۶۸، الفصل الثانی في بيان المسائل المتعلقة بالبيع بالنسية والتأجيل، کوئته).

په فقهي مقالات کي راځي:

په قسطو سره بيعه کول دا مطلب دي چي بايع سامان ومشتري ته په همدغه وخت کي تسليم کړی مګر مشتري د شی قيمت فی الحال ادا نه کړئ بلکي هغه د طی سوي قسطونو په ډول د طی سوی قيمت مطابق ادا کړي نو ځکه د دغي بيعي ته بيع بالتقسيط ويل کيږي که څه هم بازاري قيمت يې له فيصله سوي قيمت سره برابر وي او که زيات يا کم وي. (فقهی مقالات:۱/ ۸۲).

په جديد فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

کوم رقم چي قرض وي هغه قسطوار هم کېدای سي او په يو ځل هم کېدای سي يعنی چي يو ځای ورکړل سي صرف ضرور دا ده چي اجل او ثمن (قيمت او وخت) معلوم کړل سي د دې له پاره چي نزاع رانه سي، په اوسنی وخت کي رانيول او خرڅول په قسطو سره دومره ډېر دي شايد چي په پخوا زمانه کي به دومره ډېر نه وو بيا هم دفقهاوو په اقوالو کي داسي قولونه پيدا کيږي چي اداينې په قسطونو سره کېدای سي.

علامه شامي د داسي يو واقعې ذکر په دې الفاظو کي کړی دئ:

« ومن باع سلعة بثمن.... على أن تعطينى كل يوم درهماً وكل يوم درهمين». (منحة الخالق:۵/ ۲۸۰).

علامه شامي د داسي نورو معاملاتو ذکر هم کړی دئ، د امام شافعي رحمه الله قول دئ:

« ومـن كـانـت علیـه دنـانیر منجمـة أو دراهـم فـأراد أن يقبـضها جملـة فـذلک لـه. (كتاب الام:٣/ ٣٣).

مطلب دا چي په قسطو سره راینول او خرڅول د شریعت مطهره د اصولو په رڼا کي بلاشبه روا دئ او ظاهراً د فقهاوو اختلاف هم نه پکښي لیدل کیږي. والله ﷻ اعلم.

د هغو وښو د رانیولو او خرڅولو حکم چي خپله راشنه سوي وي

سوال: دیو چا مځکه ده په هغه کي په طبعي ډول واښه شنه سوي دي او یو بل شخص و دې وښو ته ضرورت لري او غواړي چي دا واښه په قیمت واخلی ایا په مځکه کي را شنه سوی واښه خرڅېدلای سي او که نه او بیعه یې روا ده او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي د واښو بیعه روا نه ده ځکه چي نبي کریم ﷺ فرمایي: « النـاس شركاء في ثلث فی الـمـاء والكلأ والنار».

ټول خلک په درو شیانو کي یو د بل سره شریک دي او هر یو کولای سي چي ګټه څني پورته کړي هغه اوبه، اور او اوښه دي.

مګر که چیري مځکه د دې له پاره اوبه کړل سوی وي چي واښه شنه سي یا مځکه د وښو د شنه کېدلو له پاره برابره کړل سوې وي نو بیا یې بیع روا ده.

په بلوغ المرام کي راځي:

وعن رجل من الصحابة رضي الله عنهم قال: غزوت مع النبي ﷺ فسمعته يقول: النـاس شركـاء في ثلاثة: في الكلإ والـمـاء والنار» رواه أحمد وأبو داود ورجاله ثقات. (بلوغ المرام:ص ٢٧٢، باب احياء الموات).

Maktaba Tul Ishaat.com

په مجمع الانهر کي راځي:

ولا يجوز بيع المراعي .... والمراد بالمرعى الكلأ النابت في أرضٍ غير مملوكةٍ أو في أرض البائع بدون تسببٍ منه، قيدنا به لأنه لو تسبب في ذلك بأن سقى الأرض أو هيأها للإنبات جاز له بيع كلئها لأنه ملكه. (مجمع الانهر:۲/ ۵۷).

په هدايه کي راځي:

ولا يجوز بيع المراعي ولا إجارتها، المراد الكلأ أما البيع فلأنه ورد على ما لا يملكه لاشتراك الناس فيه بالحديث. (الهداية:۳/ ٥٤).

د هدايې په حاشيه کي مولانا عبد الحی الکنوي وايي:

أما الحشيش الذي أنبته صاحب الأرض بأن سقى أرضه وكربها فأنبت الحشيش فيها الدونه فهو أحق بذلک وليس لأحد أن ينتفع به إلا برضاه لأنه حصل بكسبه والكسب للمكتسب. (حاشية الهداية:٤/ ٤٨٥، رقم الحاشية ٥).

وللا ستزادة انظر: الفتاوى الهندية:۳/ ۱۰۹ – والمحيط البرهانی:۷/ ۲۹۱ – وتبيين الحقائق٤/ ۳۷۱ – والبحر الرائق:٦/ ۱۲۷، رشيديه – وفتح القدير:٦/ ٥٦، دار الفكر).

حضرت مولانا محمد شفيع صاحب وايي:

هغه وابنه چي په طبعی ډول د اسمان له طرفه شنه کيږي هغه تر رېبلو وړاندي د مځکي د مالک نه دي او هغه ته روا نه ده چي له هغو وابنو څخه خلک منع کړي يا د هغه وابنو حفاظت وکړي او د رېبلو څخه يې وساتي هر کله چي د هغه ملکيت نه سو نو ځکه هغه ته يې بيعه هم روا نه ده، البته د رېبلو وروسته يې خرڅولای سي او داسي صورت هم جوړېدای سي چي مځکه په اجاره ورکړل سي او د وښو د قيمت اندازه د اجارې په ډول له مځکي څخه پوره کړي. قال فی الد المختار فی البيوع

الفاسدة.... ثم قال وحيلته أن يستأجر الأرض لضرب قسطاطه أو لإيقاف دوابه أو لمنفعة أخرى. (امداد المفتين: جلد دوهم: ۶۹۰).

په فتاوی محموديه کي راځي:

كوم واښه چي په طبعي ډول شنه سوي وي ببله ربېلويې خرڅول روا نه دي مثلاً چي هغه داسي خرڅ كړل سي چي هلته به حيوانات (څاروي) وڅرول سي او د هغه معاوضه واخستل سي دا معامله ناروا ده. (فتاوی محموديه: ۱۶/ ۱۰۷، مبوت ومرتب). والله ﷻ اعلم.

د خيار وصف حكم

سوال: كه يو چا طوطي يا منى په دې شرط چي دا خبري كوي رانيوله او هغه داسي نه سوه؟ ايا مشتري منى واپس كولاى سي او كه نه؟ او كه چيري مشتري په قيمت كي كموالى غواړي ايا دا درسته ده او كه نه؟

الجواب: په مبيعه كي د وصف مرغوب د فوت كېدو له كبله مشتري ته اختيار دئ كه غواړي چي د ټولو پيسو په مقابل كي مبيعه واخلى دا روا ده او كه غواړي په قيمت كي كموالى راولي نو دا ناروا ده ځكه چي ثمن د وصف په مقابل كي نه سي راتلاى.

د هدايې مصنف رحمه الله فرمايي:

ومن باع عبداً على أنه خباز أو كاتب وكان بخلافه فالمشتري بالخيار إن شاء أخذه بجميع الثمن وإن شاء ترك لأن هذا وصف مرغوب فيه فيستحق في العقد بالشرط ثم فواته يوجب التخيير.... وإذا أخذه بجميع الثمن لأن الأوصاف لا يقابلها شيء من الثمن. (الهداية: ۳/ ۳۵).

په شرح مجله كي راځي:

إذا باع مالا بوصف مرغوب فيه فظهر المبيع خالياً عن ذلك الوصف كان المشترى مخيراً إن شاء فسخ البيع وإن شاء أخذه بجميع الثمن المسمى ويسمى هذا الخيار خيار الوصف، مثلاً: لو باع بقرة على أنها حلوب فظهرت غير حلوب يكون المشتري مخيراً و كذا لو باع

Maktaba Tul Ishaat.com

فصاً ليلاً على أنه ياقوت أحمر فظهر أصفر يخير المشتري. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، فى بيان خيار الوصف:۲/ ۲۵۳).

وللا ستزادة انظر: (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ۵۸۷، سعيد – وشرح العناية على هامش فتح القدير:۵/ ۵۲۸).

په عطر هدايه کي راځي:

د خيار وصف معنى دا ده چي بائع د مبيعې کوم اوصاف بيان کړي وه هغه غلط وختل نو اوس رانيونکي ته اختيار دئ که يې خوښه وي پوره قيمت دي ادا کړي او که نه بيرته دې ورکړي. (عطر هدايه:۱۰۱). **والله ﷻ اعلم.**

د عسلو د مچمچيو او د وربښمو د چينجي د بيعي حکم

سوال: د عسلو مچې او د وربښو چنجيو بيع روا ده او که نه؟

الجواب: د مچيو او وربښمو د چنجيو بيعه بلا کراهت روا ده.

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

ويباع دود القز أي الإبريسم وبيضه أي بزره، وهو بزر الفيلق الذي فيه الدود والنحل المحرز، وهو دود العسل، وهذا عند محمد رحمه الله، وبه قالت الثلاثة، وبه يفتى عيني وابن ملك وخلاصة وغيرها. قوله المحرز قال فى البحر: وهو معنى ما فى الذخيرة إذا كان مجموعاً لأنه حيوان منتفع به حقيقة وشرعاً فيجوز بيعه، وإن كان لايؤكل كالبغل والحمار.

(الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ٦۸، مطلب فى بيع القرمز، سعيد).

فتاوی عالمګیري کي راځي:

بيع النحل يجوز عند محمد رحمه الله وعليه الفتوى، كذا في الغياثية .... وبيع دود القز وهو دود الفيلق يجوز عند محمد رحمه الله أيضًا وعليه الفتوى كذا في الواقعات. (الفتاوى الهندية:٣/ ١١٤، الفصل الرابع في بيع الحيوانات). والله تعالى اعلم.

د يوه شي پر اخيستلو د بايع مجبورولو حکم

سوال: موږ د يوه شرکت څخه رنګ اخلو او له رنګ څخه موږ پخپلو مصنوعاتو کي ګټه پورته کوو اوس موږ شرط پر لګولی دئ چي شرکت به زموږ مصنوعات راڅخه اخلي او هغوی وعده وکړه چي رنګ به په قيمت راڅخه اخلی او ستاسو مصنوعات به شرکت در څخه اخلی مګر بيا هم شرکت زموږ مصنوعات نه دي اخستی اوس موږ غواړو د رنګ له اخستلو څخه انکار وکړو او بيعه موقوفه کړو اوس سوال دا دئ چي دا روا ده چي موږ شرکت مجبور د مصنوعاتو پر اخيستلو مجبور کړو يا بر بېښنا موقوفه کړو صرف په دې وجه چي زموږ مصنوعات نه اخلی؟

الجواب: په شريعت مطهره کي د عاقدينو رضايت او خوښي ته ډېر لوی اهميت ورکړل سوی دئ نو ځکه د عاقدينو د رضايت پرته عقد صحيح کېدای نه سي په دې وجه چي رضايت شرط سو نو څوک چي پر رانيولو مجبوره کېدلای نه سي.

د الله جل جلاله فرمان دئ:

﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل إلا أن تكون تجارةً عن تراضٍ منكم﴾. (سورة النساء الآية:٢٩).

اې مؤمنانو! په خپل منځ کي خپل مالونه په ناحقه سره مه خورئ مګر په مباح طريقه سره.

مثلاً هغه تجارت چي د طرفينو په رضايت سره وي چي په دې کي څه حرج نه سته نو لهذا تاسو هغه شرکت مجبور کولای نه سئ چي ستاسو مصنوعات واخلی او دا شرط چي شرکت به ستاسو مصنوعات اخلی دا له بيعي سره ملائم شرط نه دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

په حدیث شریف ـ کي راځي:

عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده أن النبي ﷺ نهی عن بیع وشرط. (المعجم الاوسط للطبران: ٤/ ٣٣٥، القاهرة).

په شرح مجله کي راځي:

وأما أن لایقتضیه العقد ولا یلایمه ولاجری العرف باشتراطه وفیه نفع لأحد العاقدین أو لغیرهما من أهل الاستحقاق، فالبیع في هذه الصورة فاسد، قال فی النهر: وإنما فسد البیع بهذا الشرط لأنهما إذا قصدا المقابلة بین المبیع والثمن فقد خلا الشرط عن العوض وقد وجب البیع بالشرط فکان الشرط زیادة مستحقة بعقد المعاوضة خالیة عن العوض فیکون ربا، وکل عقد بشرط الربا یکون فاسداً. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی، فصل فی حق البیع بشرط: ٢/ ٦٠ – وکذا فی الهدایة: ٣/ ٥٩).

البته که شرکت والا وعده کړې وه او وروسته له کوم سببه وعده پوره نه کړي نو بیا هم پر دوی کومه ګناه نه سته او کومه د رنګ مسئله چي ده هغه تاسو کولای سئ چي کوم ځای کي مو خوښه وي هلته رنګ رانیسئ. والله ﷻ اعلم.

هغه بیعه څه حکم لري چي ثمن پکښي مجهول وي؟

سوال: نن سبا په تجارت کي یوه نوې طریقه رواج سوې هغه دا چي د ځمکي مالک یو کس ته ځمکه ورکړه حال دا چي ثمن موجود نه وي او بیعه داسي کوي چي مشتري به پر ځمکه بلډنګ جوړ وي او په بلډنګ کي به یو دوکان وبایع ته د ثمن په ډول ورکول کیږي نور دوکانونه مشتري په خپله قبضه کي اخلی داسي معامله د شریعت له نګاه څخه څنګه ده ایا روا ده او که نه؟

الجواب: په یاد سوې مسئله کي معامله صحیح نه ده ځکه چي ثمن چي دوکان دئ تر اوسه معلوم نه دئ حتی په هغه کي جهالت فاحشه دئ چي مفضی الی النزاع ته دئ ځکه چي دوکان جوړ نه دئ

چي کله جوړ سي دا معلومه نه ده چي د بايع خوښه ده او که نه، او دا معلومه نه ده چي د دوکان تعمير په پوره اهتمام سره دئ او که نه او داسي نور.

لهذا دا ټولي خبري د جنګ او جګړې د پيدا کولو سبب ګرځي اګر چي د دوکان څه نه څه معلومات له نقشې څخه کيږي مګر پوره تفصيل يې معلومول مشکل دئ.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

يلزم أن يكون الثمن معلوماً، أى بالإشارة إليه أو ببيان مقداره ووصفه لأن التسلم والتسليم واجب بالعقد وجهالة ما ذكر مفضية للمنازعة فيمتنع التسليم والتسليم وكل جهالة هذه صفتها تمنع الجواز. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى، الباب الثالث:۲/ ۱۵۸ – وكذا فى شرح المجلة لسليم رستم باز:۱/ ۱۲۲).

وفي حاشية الطحطاوي: وكذا لايصح البيع إذا كان الثمن مجهولاً كما إذا باع شيئاً بقيمته. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۳/ ۱۳، كوئته).

وفي الفتاوى الشامي: وخرج أيضاً ما لو كان الثمن مجهولاً كالبيع بقيمته أو برأس ماله أو بما اشتراه أو بمثل ما اشتراه فلان، فإن علم المشتري بالقدر في المجلس جاز ومنه أيضاً ما لو باعه بمثل ما يبيع الناس إلا أن يكون شيئاً لا يتفاوت، نهر. قوله ووصف ثمن لأنه إذا كان مجهول الوصف تتحقق المنازعة فالمشتري يريد دفع الأدون والبائع يطلب الأرفع فلا يحصل مقصود شرعية العقد، نهر. (فتاوى الشامى:٤/ ٥٢٩، سعيد).

البته که ته غواړي چي بيعه صحيح وګرځي ښه صورت يې دا دئ چي ثمن مؤجل کړل سي او د ثمن له پاره پيسې مقرري کړل سي، وروسته چي کله دوکانونه تيار سول نو د پيسو په بدل کي دي دوکان ورکړي. والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

په بیع مؤجل کي د ثمن پر تعجیل رعایت کولو حکم

سوال: یو دوکاندار دئ چي په بیع مؤجله سره کار وبار کوي مثلاً هغه په پور تانونه ورکوي او د بیع په وخت کي نېټه معلومه نه وي مشتري ته صرف یو رسېد ورکوي چي په هغه کي لیکلي وي که چیري په یوه میاشت کي پیسې ادا کړل سي دومره اندازه رعایت کیږي او که په دوو میاشتو کي ادا کړل سي دومره رعایت کیږي دا معامله شرعاً څنګه ده؟

الجواب: ١ـ په دې معامله کي له ثمن سره اخیري تاریخ لیکل ضروري دي یعنی دا ثمن دي مثلاً تر درو میاشتو پوري ادا کړل سي.

په شرح مجله کي راځي:

يلزم أن تكون المدة معلومة في البيع بالتأجيل والتقسيط، لأن جهالته تفضي إلى النزاع فالبائع يطالب فى مدة قريبة، والمشترى يأباها، فيفسد البيع (بحر). (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى:٢/ ١٦٧).

پر رسېد چي کومه نېټه ده چي که په یو میاشت کي ادا کړل سي دا رعایت او که په دوو میاشتو کي ادا کړل سي دا رعایت کیږي دا ډول د وعدې دئ چي انشاء الله تعالی زموږ وعده ده چي که په یوه میاشت کي ادا کړل سي دومره رعایت او که په دوو میاشتو کي ادا کړل سي دومره رعایت کیږي او څنګه چي پر رسېد د مشتري دستخط نسته لهذا دا یوه جانبه وعده ده او صلح نه ده.

د صلح تعریف:

« عقد يرفع النزاع ». (الدر المختار:٨/ ٢١٦، سعيد).

دلته عقد سوی نه دئ ځکه مشتري هیڅ نه دي ویلي او نه یې څه لیکلي دي لهذا دا له یو طرفه څخه وعده ده.

٣ـ نو د مؤجل پر ځای په معجل صلح کول او په پور کي کموالي راوستل اسبیجابي د کاف په شرح کي روا بللي دي:

وذكر في شرح الكافي للاسبيجابي: جواز هذا الصلح مطلقاً على قياس قول أبي يوسف رحمه الله لأنه إحسان من المديون فى القضاء بالتعجيل وإحسان من صاحب الدين فى الاقتضاء بحط بعض حقه. (تكملة رد المحتار، لمحمد علاء الدين الشامى:۸/ ۲۵۳، فصل فى دعوى الدين).

يعنى په شرح كافي كي يې دغي صلح ته د امام ابو يوسف رحمه الله پر قول روا ويلي ځكه چي مديون د ژر ور كولو احسان وكړ او داين احساناً د خپل حق څه حصه معاف كړل.

په شرح عقود رسم المفتى كي راځي:

د قضا والا په مسئلو كي امام ابو يوسف رحمه الله پر قول فتوى وركول په كار دي، ځكه چي د قاضى القضات د مرتبې سمبالولو په وجه د معاملاتو تجربه ورته حاصله سوې ده هدارنګه د پور ادا كولو په وخت كي او د پور د وصول كولو پر وخت د احسان كولو فضيلت په حديث شريف كي راغلى دئ.

په مشكوة شريف كي راځي:

قال: وخياركم من إذا كان عليه الدين أحسن القضاء وإن كان له أجمل فى الطلب. (مشكوة شريف:۲/ ۴۳۷، باب الامر بالمعروف). والله تعالى اعلم.

د لى باى سودا كولو حكم

سوال: په اوسنى زمانه كي له مروجه بيعو څخه يوه مشهوره بيعه (لى باى) بيعه ده د دغې طريقه دا ده مثلاً مشتري د يوه شى رانيول غواړي چي د هغه قيمت ۵۰۰ مبلغ دئ مګر له مشتري سره فى الحال ۵۰۰ مبلغ نسته لهذا مشتري ۱۰۰ روپۍ اداء كوي او ۴۰۰ روپۍ به په قسطو سره وركوي يا خوله مشترى سره ۴۰۰ روپۍ سته چي مشتري يې وبايع ته وركړي مګر فى الحال به مبيع د بايع په لاس كي پاته وي ايا دارنګه سودا كول روا ده او كه نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت كي د ثمن تر لاسه كولو په خاطر په بيع كي مبيع په خپله قبضه كي ساتل روا نه دي په دې سبب چي بيع بالتسقيط بيع مؤجله ده او په بيع مؤجله كي بائع ته دا حق نسته

Maktaba Tul Ishaat.com

چي د ثمن د تر لاسه کولو له پاره مبيع د حبس په ډول په لاس کي ولري، بائع ته د حبس مبيع حق هغه وخت سته چي بيع بالنقد وي او په پور کي دا حق بايع ته نسته.

په شرح مجله کي راځي:

البيع مع تأجيل الثمن وتقسيطه صحيح. أي والتأجيل لازم، فليس للبائع حبس المبيع حتى يقبضه ولا المطالبة به قبل حلول الأجل.... وفيه (البحر) عن المحيط: وإذا رضي البائع بالتأجيل فقد أسقط حقه في حبس المبيع فلوحل الإجل قبل قبضه فللمشتري قبضه قبل نقد الثمن. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:٢/ ١٦٦).

په فتاوی هنديه کي راځي:

قال أصحابنا رحمهم الله تعالى للبائع حق يحبس المبيع لاستيفاء الثمن إذا كان حالا، كذا في المحيط، وإن كان مؤجلًا فليس للبائع أن يحبس المبيع قبل حلول الأجل ولا بعده كذا في المبسوط، ولو كان بعض الثمن حالا وبعضه مؤجلًا فله حبسه حتى يستوفي الحال ولو بقي من الثمن شيء قليل (فی البيع المجعل) كان له حبس جميع المبيع كذا في الذخيرة .(الفتاوى الهندية:٣/ ١٥، الباب الرابع، كتاب البيوع).

البته د ثمن په عوض کي د مبيعې حبس کول په دې صورت کي کېدای سي چي مشتري يو ځل مبيعه قبض کړي او خپل ملکيت يې وګرځوي او بيا يې د رهن (ګرو) په ډول بائع ته کښېږدي چي د اکثر فقهاوو په نزد دا صورت روا دئ.

همدارنګه امام محمد رحمه الله په جامع الصغير کي فرمايي:

ومن رجل اشترى شيئا بدرهم فقال للبائع : أمسك هذا الثوب حتى أعطيك الثمن فالثوب رهن. (الجامع الصغير، كتاب الرهن، ص ٤٨٨ – وكذا فی الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ٥٥).

د هدایې په شرح کفایه کي راځي:

قال: لأن الثوب لما اشتراه وقبضه كان هو وسائر الأعيان المملوكة سواء في صحة الرهن. (الكفاية على هامش فتح القدير:٩/ ٩٩، رشيدية).

په درمختار کي راځي:

و لو كان ذلك الشيء الذي قال له المشتري: أمسك هو المبيع الذي اشتراه بعينه لو بعد قبضه، لأنه حينئذٍ يصلح أن يكون رهنًا بثمنه ولو قبله لا يكون رهنًا، لأنه محبوس بالثمن، وقال في ردالمحتار: قوله لأنه حينئذٍ يصلح، أي لتعين ملكه فيه حتى لو هلك يهلك على المشتري ولا ينفسخ العقد. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٤٩٧، كتاب الرهن).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مسائل:٤/ ٢٦٥-٢٦٨ – وفقهی مقالات:١/ ٨٨-٩٠).

د غرر فعلي حکم

سوال: که چا بزه خرڅه کړه او وروسته مشتري ووېل چي تا د بزې په غولانځه (تیو) کي شیدې پرایښي وې او ما ته دي دوکه راکړه، بایع اقرار وکړ چي هو ما داسي کړي اوس به قاضي دا سواد بیرته واپس کوي او که نه؟

د غرر تحقیق څه دئ. د غرر څو دوله دئ او که په معاملاتو کي غرر وکړل سي څه حکم یې دئ.

الجواب: په یاد سوي صورت کي تصریه غرر فعلي دئ او په غرر فعلي کي یې صرف دیانةً واپس کولای سي او قضاءاً یې نه سي واپس کولای که څه هم بایع اقرار کړی وي بلکي د مفتي د فتوی په وجي یې دیانةً واپس کولای سي، البته که چیري زباني دول ویل سوی وي چي دوه لېتره شیدې کوي حال دا چي هغه دوه لېتره نه سي پوره کولای نو بیا یې قضاءاً واپسي کولای سي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

والحاصل كما في الحقائق أنه إذا اشتراها فحلبها فوجدها قليلة اللبن ليس له أن يردها عندنا. (رد المحتار:٥/ ٤٤، مطلب في مسألة المصراة، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

یہ مبسوط کی رائے:

وأما إذا اشتراها بغير شرط خيارٍ فليس له أن يردها بسبب التحفيل عندنا.... والتصرية ليست بعيب عندنا. (المبسوط للامام السرخسی:١٣/ ٣٨، باب الخيار فی البيع).

یہ تکملہ فتح الملہم کی رائے:

وخالفهم أبو حنيفه رحمه الله ومحمد رحمه الله فقالا: التصرية ليست بعيب عندنا حتى يجوز الرد، وإنما يجوز للمشتري أن يرجع بنقصان قيمة المبيع، ولاخيار له فی الرد. (تكملة فتح الملهم:١/ ٣٤٠).

یہ فیض الباری کی رائے:

والجواب عندي: أن الحديث محمول على الديانة دون القضاء لما في فتح القدير-في باب الإقالة: أن الغرر، إما قولي، أو فعلي، فإن كان الغرر قوليا، فالإقالة واجبة بحكم القاضي، وإن كان الثاني تجب عليه الإقالة ديانةً، ولا يدخل في القضاء كيف! وأن الخدعات أشياء مستورة، ليس إلى علمها سبيل، فلا يمكن أن تدخل تحت القضاء فالتصرية أيضًا خديعة، ويجب فيها على البائع أن يقيل المشتري ديانةً، وإن لم يجب قضاءً وحينئذٍ فالحديث متأت على مسائلنا أيضًا، ولم أر أحدًا منهم كتب أنه موافق لنا، وادعيت من عند نفسي: أن الحديث لا يخالف مسائلنا أصلاً، لأن التصرية غرر فعلي، وفيه الرد ديانةً على نص. (فيض الباري:٣/ ٢٣١، كتاب البيوع).

فالحاصل: أنه لوباع المصراة ولم يرض بها المشترى يردها ويرد معها صاعاً من تمر عند الائمة الثلاثة خلافاً للاحناف والاحناف يقولون ان شاء المشترى ردها مع صاع من تمر فلوردها يجب على البائع قبولها ديانةً وإن لم يجب قضاءً لأن هذا لايدخل فی دائرة القضاء

غالباً إذ للبائع ان يقول كانت عندي كثيرة اللبن وصارت عندک قليلة اللبن لأجل تبدل المكان أو لأجل ترک المراقبة نعم يجب عليه أن يقبلها فيما بينه وبين الله تعالى وإن شاء المشتري أخذ النقصان.

د غرر تحقيق او حکم:

علماء د غرر مختلف تعريفونه بيان کړي دي چې له هغو څخه څه په لاندې ډول دي:

علامه سرخسی رحمه الله فرمايي: الغرر مايكون مستور العاقبة. (المبسوط:۱۲/ ۱۹٤، ادارة القرآن).

علامه عينی رحمه الله په عمدة القاري کې فرمايي:

الغرر وهو في الأصل الخطر، والخطر هو الذي لا يدري أيكون أم لا، وقال ابن عرفة: الغرر هو ما كان ظاهره يغر وباطنه مجهول، قال والغرور ما رأيت له ظاهراً تحبه وباطنه مكروه أو مجهول، وقال الأزهري: بيع الغرر ما يكون على غير عهدة ولاثقة، قال صاحب المشارق: بيع الغرر بيع المخاطرة وهو الجهل بالثمن أو المثمن أو سلامته أو أجله. (عمدة القاری:۸/ ٤۳۵، ملتان).

وقال في إكمال المعلم: فأما الغرر فما تردد بين السلامة والعطب أوما في معنى ذلک، وذلک أنه يحلق بمعنى إضاعة المال، لأنه قد لايحصل المبيع ويكون بذل ماله باطلاً.

(اكمال المعلم:۵/ ۱۳۳، باب بطلان بيع الحصاة والبيع الذى فيه الغرر).

وقال ابن العربي فی القبس: فأما الغرر فهو كل أمر خفيت علانيته وانطوى أمره.

(القبس:۲/ ۷۹۲).

وقال ملک العلماء: الغرر هو الخطر الذي استوى فيه طرف الوجود والعدم بمنزلة الشک.

Maktaba Tul Ishaat.com

(بدائع الصنائع:٥/ ١٦٣، سعيد).

علامه کاساني رحمه الله فرمايي:

غرر هغه غير يقيني حالت دئ چي په هغه کي وجود او عدم برابر وي چي د شک په درجه کي وي او د غرر په ممانعت کي په کثرت سره نصوص وارد دي.

قال العلامة العيني رحمه الله: وقد وردت أحاديث كثيرة في النهي عن بيع الغرر: منها: ما رواه مسلم في صحيحه من حديث أبي هريرة رضي الله عنه قال نهى رسول الله ﷺ عن بيع الحصاة، وعن بيع الغرر، وأخرجه الأربعة أيضاً، ومنها: حديث ابن عمر رضي الله عنه رواه البيهقي من حديث نافع عنه، قال: نهى رسول الله ﷺ عن بيع الغرر. ومنها حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه ابن ماجه من حديث عطاء عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن بيع الغرر، ومنها حديث أبي سعيد أخرجه ابن ماجه أيضا من حديث شهر بن حوشب عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن شراء ما في بطون الأنعام حتى تضع وعما في ضروعها إلا بكيل، وعن شراء العبد وهو آبق وعن شراء المغانم حتى تقسم وعن شراء الصدقات حتى تقبض، وعن ضربة القانص . ومنها حديث علي رضي الله عنه أخرجه أبو داود وفيه: قد نهى النبي ﷺ عن بيع المضطر وبيع الغرر .... ومنها: حديث ابن مسعود رضي الله عنه أخرجه أحمد عنه قال: قال رسول الله ﷺ لا تشتروا السمك في الماء فإنه غرر ومنها: حديث عمران بن الحصين رضي الله عنه أخرجه ابن أبي عاصم في كتاب البيوع: أن النبي ﷺ نهى عن بيع ما في ضروع الماشية قبل أن تحلب وعن بيع الجنين في بطون الأنعام وعن بيع السمك في الماء وعن المضامين والملاقيح وحبل الحبلة وعن بيع الغرر. (عمدة القاري:٨/ ٤٣٦، باب بيع الغرر).

د ټولو ذکر سوو نصوصو لنډیز او حاصل دا دئ چي نبي کریم ﷺ له داسي رانیولو او خرڅولو څخه منع فرمایلې ده چي په هغه کي غرر وي او د اسلام تر دین وړاندي ډېر معاملات مروج وه چي نبي کریم ﷺ د غرر په اساس منعه کړه.

لکه څنګه چي راځي:

بیع حبل الحبله ، بیع المضامین، بیع الملاقیح، بیع الملامسه، بیع المنابذه، بیع الحصاة، بیع عسب الفحل، بیع الثمر قبل بدو صلاحه، بیع السمک فی الماء الکثیر، بیع الطیر فی الهواء، بیع اللبن فی الضرع، بیع ضربة الغائص وغیرها من البیاعات التي تتضمن الغرر الفاحش المؤذي إلی النزاع المشکل بین العاقدین.

په عام ډول د غرر او جهالت پیدا کولو څو اسباب دي:

۱_ چي د مبیعې وجود یقیني نه وي لکه تښتېدلی غلام.

۲_ د مبیعې وجود یقیني وي مګر حصول یې غیر یقیني وي لکه د هوا مرغان او د اوبو ماهیان.

۳_ د مبیعې جنس معلوم نه وي.

۴_ جنس یې معلوم وي مګر د سامان نوعیت معلوم نه وي.

۵_ مقدار یې معلوم او متعین نه وي.

٦_ بقاء یې یقیني نه وي لکه مېوه تر پخېدو وړاندي (تر هغه مخکي چي د استفادې وړ نه وي).

۷_ اجل معلوم نه وي.

د غرر دوه ډولونه دي:

۱_ غرر کثیر، فاحش.

۲_ غرر یسیر، قلیل، حقیر.

د غرر حکم:

د فقهاوو او محدثینو له عباراتو څخه معلومیږي، چي هر غرر وبیع ته مفسد او مبطل نه دئ، بلکي غرر کثیر ممنوع او مفسد دئ او غرر یسیر معاف دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

شیخ مولانا زکریا رحمه الله په اوجزء المسالک کي لیکي:

وقال الباجی: هو ما كثر فيه الغرر، وغلب عليه حتى صار البيع يوصف ببيع الغرر، فهذا الذي لاخلاف في المنع منه، وأما يسير الغرر، فإنه لايؤثر في فساد عقد بيع فإنه لايكاد يخلو عقد منه. (اوجز المسالک، باب بيع الغرر:۱۳/ ۸۸، دمشق).

علامه عینی رحمه الله فرمايي:

وروى الطبري عن ابن سيرين بإسناد صحيح، قال: لا أعلم ببيع الغرر بأساً، وقال ابن بطال: لعله لم يبلغه النهي، وإلا فكل ما يمكن أن يوجد وأن لا يوجد لم يصح وكذلك إذا كان لا يصح غالباً، فإن كان يصح غالباً كالثمرة في أول بدو صلاحها أو كان يسيراً تبعاً كالحمل مع الحامل جاز لقلة الغرر، ولعل هذا هو الذي أراد ابن سيرين رحمه الله. (عمدة القارى، باب بيع الغرر وحبل الحبلة:۸/ ٤٣٨، ملتان:

په جمهرة القواعده الفقهيه کي راځي:

وهذا النهى الوارد منصب على الغرر الكثير الفاحش إذ اليسير منه معفو عنه باتفاق العلماء إذا هو من قبيل مالايستطيع الأحتراز منه فى المعاملات، فهناک نصوص فقهية كثيرة تطرقت إلى هذا المفهوم. (جمهرة القواعد الفقهية:۱/ ۳۰۹).

په زاد المعاد کي راځي:

.... ليس كل غرر سبباً للتحريم، والغرر إذا كان يسيراً أولا يمكن الاحتراز منه لم يكن مانعاً من صحة العقد. (زاد المعاد:٥/ ۸۲۰، بيع المغيبات).

په الموافقات کي امام شاطبي رحمه الله ليکي:

أصل البيع ضروري، ومنع الغرر والجهالة مكمل، فلو اشترط نفي الغرر جملة لانحسم باب البيع. (الموفقات:۲/ ۷، كتاب المقاصد، المسألة الثالثة، دار الفكر).

وقال الإمام النووي رحمه الله في شرح مسلم: أجمع المسلمون على جواز أشياء فيها غرر حقير. (شرح مسلم:۲/ ۲، كتاب البيوع).

په تکمله دفتح الملهم کي راځي:

فأما الغرر بمعني جهالة المبيع فربما يحتمل إذا كان يسيراً دعت الحاجة إليه، ولم يكن مفضياً إلى المنازعة فى العرف،.... قال العبد الضعيف عفا الله عنه: ويخرج على هذا كثير من المسائل في عصرنا، فقد جرت العادة في بعض الفنادق الكبيرة أنهم يضعون أنواعاً من الأطعمة في قدور كبيرة ، ويخيرون المشتري في أكل ماشاء بقدر ماشاء، ويأخذون ثمناً واحداً معيناً من كل أحد، فالقياس أن لايجوز البيع لجهالة الأطعمة المبيعة وقدرها، ولكنه يجوز لأن الجهالة يسيرة غير مفضية إلى النزاع، وقد جرى بها العرف والتعامل..... (تكملة افتح الملهم:۱/ ۳۲۰ – وكذا فى جمهرة القواعد الفقهية:۱/ ۳۲۰).

په اکمال المعلم کي راځي:

ولما رأيناهم أجمعوا على جواز المسائل التى عددناها ، قلنا : ليس ذلك إلا لأن الغرر فيها نزر يسير غير مقصود ، وتدعو الضرورة إلى العفو عنه . (اكمال المعلم شرح صحيح مسلم للقاضى عياض، باب بطلان بيع الحصاة والبيع الذى فيه غرر:۵/ ۱۳٤، دار الوفاء).

Maktaba Tul Ishaat.com

په جدید فقهی مسائل نومي کتاب کي راځي:

دغرر دائره ډېره وسیع ده نو ځکه فقهاوو غرر ته درجې ټاکلي دي. غرر کثیر په معامله کي منع دئ او بیع فاسد وي البته غرر یسیر منعه نه دئ. (جدید فقهی مسائل:٤/ ٢٠٩).

د زیات تفصیل له پاره (مالی معاملات پر غرر کی اثرات) چي صمداني ته منسوب دئ مطالعه کړئ. والله تعالیٰ اعلم.

متعین وزني شیان پر ته له تاله څخه د خرڅولو حکم

سوال: که چیري دوهم مشتري له اول مشتري څخه لس کېلو غنم یا وریجي په قیمت واخلی نو د فقهاوو د قول مطابق د دوهم ځل له پاره تول کول ضرور دي او اول مشتري به یې د ځان له پاره تول کوي؟

دوهم مشتري چي له اول مشتري څخه رانیسي بیا یې تول کول ضروري دي البته که د اول مشتري په حضور د دوهم مشتري کي د ځان له پاره تول او وزن وکړ بیا دوهم وار د وزن کولو ضرورت نشته او یو وار تلل کافي دي؟

اوس سوال دا دئ چي موږ شیان له دوکاندارانو څخه اخلو حال دا چي هغه په ډبه کي بند وي یا کارټن بسته وي هغه نه اول مشتري (دوکاندار) او نه دوهم مشتري (خریدار) تلي ایا اوس د لکونو انسانانو رانیول او خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کي هغه وزني شیان چي د هغو وزن معلوم وي نو په هغو کي دوهم وار وزن او تول کولو ضرورت نشته او بېله وزن کولو یې رانیول او خرڅول روا دي ځکه چي په اصطلاح کي هر هغه ظرف (ډبه یا کارټن) چي په هغه کي له کمپنۍ څخه پټ او بسته سوی وي د وزن یو آله ده همدا ډول وزني شیان د عددي متقاربه په درجه کي سوه او په وزني شیانو کي د کمۍ او زیاتۍ امکان ډېر کم وي، د دې وجه دا ده چي نن سبا وزن او تول اکثریت په ماشینی الاتو سره د کمپنۍ له خوا کیږي او په هغه کي د لږ او ډېر ګنجائش نه لیدل کیږي او په اوسنی دور کي د خلکو اعتماد هم پر مشین الاتو ډېر زیات دئ لهذا په هیڅ لاره معامله مشکوکه نه پاته کیږي.

د دې مسئلې اصل اساس د ابن ماجه په یو حدیث دئ.

عن جابرٍ رضي الله عنه قال : نهى رسول الله ﷺ عن بيع الطعام حتى يجري فيه الصاعان ، صاع البائع ، وصاع المشتري. (رواه ابن ماجه:۱/ ۱۶۱).

د هدايې مصنف رحمه الله هغه ممانعت چي په حديث شريف كي راغلى دئ داسي تشريح كوي، چي علت د ممانعت احتمال د زياتوالي سته او هغه حق د بايع دي او د بل په مال كي د هغه د اجازې پرته تصرف حرام دئ.

قال في الهداية: ولأنه يحتمل أن يزيد على المشروط وذلک للبائع والتصرف في مال الغير حرام فيجب التحرز عنه. (الهداية:۳/ ۷۵، باب المرابحة والتولية).

لكه چي بيهقى د سنن كبرى روايت ذكر كړي دئ:

« فيكون للبائع الزيادة وعليه النقصان ». (السنن الكبرى:۵/ ۳۱۶، دار المعرفة، بيروت).

مګر په اوس وخت كي دا احتمال مشكل دئ ځكه چي تر ليكل سوى وزن زيات او كم نه ليدل كيږي، ځينى شرحي وايي وزن او تول د دې له پاره اعاده كيږي چي مبيعه مجهوله پاته نه سي.

قال في الكفاية: وإنما شرط ذلک لأن المبيع يتناول مايحويه الكيل أو الوزن وهو مجهول فربما يزيد وينقص فما لم يكل لنفسه أو لم يزن لايمتاز المبيع عن غيره فكان المبيع مجهولاً. (الكفاية شرح الهداية على هامش فتح القدير:۶/ ۱۴۱، رشيدية).

وفي شرح العناية: ومعناه أن المانع من التصرف هو احتمال الزيادة .... وأنه معلول باحتمال الزيادة على المشروط وذلك بما يتصور إذا بيع مكايلةً فلم يتناول ما عداه .... وفيه ذكر جريان الصاعين ، وليس ذلك إلا لتعيين المقدار وتعيين المقدار إنما يحتاج إليه عند توهم زيادةٍ أو نقصانٍ فكان في النص ما يدل على أنه معلول بذلك . (شرح العناية على هامش فتح القدير:۶/ ۵۱۶، ۵۱۷، دار الفكر).

Maktaba Tul Ishaat.com

وفي فتح القدير: قال عامتهم كفاه ذلك حتى يحل للمشتري التصرف فيه قبل كيله ووزنه إذا قبضه، وعند البعض لا بد من الكيل أو الوزن مرتين احتجاجا بظاهر الحديث، والصحيح قوله العامة لأن الغرض من الكيل والوزن صيرورة المبيع معلوماً وقد حصل بذلك الكيل واتصل به القبض، ومحمل ظاهر الحديث إذا وجد عقدان بشرط الكيل بأن يشتري المسلم إليه من رجل كراً لأجل رب السلم أمر رب السلم بقبضه اقتضاء عن سلمه فإن في ذلك يشترط صاعان: صاع للمسلم إليه، وصاع لرب السلم فيكيله للمسلم إليه، ثم يكيله لنفسه. (فتح القدير:٦/ ٥١٧، دار الفكر).

په اعلاء السنن کي راځي:

نقول إن البائع إذا كال الطعام بعد البيع بحضرة المشتري يكون ذلک الصاع هو صاع المشتري....فعندنا قوله « حتى يجري فيه الصاعان » أعم من أن يكون جريان الصاعين حقيقة أو حكماً ويرشد إليه قوله: .... « فيكون لصاحبه الزيادة وعليه النقصان» لأنه يدل أن العلة في النهي.... إنما هو امتياز حق البائع عن حق المشتري. (اعلاء السنن:١٤/ ٢٣٩).

له مخکنیو تولو عباراتو څخه څرګندیږي چي علت د ممانعت په حدیث شریف کي د مبیعې مجهول پاته کېدل او د غیر له حق سره مختلط کېدل دي اوس په اوسنی زمانه کي د مبیعې تعین او وزن پر هغه لوړ لیکل کیږي او هغه د وروستنیو له پاره د حکمي وزن درجه ورکوي چي د هغه په سبب په مبیعه کي هیڅ شبه نه پاته کیږي او د حدیث شریف منشاء او مقصد هم حاصلیږي.

حضرت مفتي ولي حسن صاحب فرمايي:

پاته سو جواب د هغه چا چي هغه په ظاهر د حدیث عمل کوي هغه دا دئ چي اصل په بیعه کي دا دئ چي په مبیعه کي به جهالت نه وي مګر د مشتري په حضور کي چي کله د بایع تول وسو په هغه

سره جهالت رفع سوا و مشتري ته علم حاصل سو او د باقي جديث محمل په كتاب السلم كي راځي.(درس الهدايه: ۲۵۲).

د تبين الحقائق په حاشيه كي راځي:

قال الأتقاني: وصورة المسألة في الجامع الصغير محمد عن يعقوب عن أبي حنيفة رحمه الله قال إذا اشتريت شيئًا مما يكال أو يوزن أو يعد فاشتريت ما يكال كيلًا أو ما يوزن وزنًا أو ما يعد عدا فلا تبعه حتى تكيله أو تزنه أو تعده فإن بعته قبل أن تفعل وقد قبضته فالبيع فاسد .... وإن كاله أو وزنه بعد العقد بحضرة المشتري مرةً فيه اختلاف المشايخ قال عامتهم كفاه ذلك حتى يحل للمشتري التصرف فيه قبل الكيل والوزن ثانيًا .... والصحيح قول العامة ؛ لأن الغرض من الكيل أو الوزن إعلام المبيع وإفرازه وذلك يحصل بالواحد فلا حاجة إلى الإعادة قالوا: الحديث ورد فيما إذا وجد عقدان بشرط الكيل . (حاشية الشيخ الشلبى على تبين الحقائق: ٤/ ٨١، امدادية ملتان).

علامه رافعی رحمه الله فرمايي:

ثم لما كانت الدراهم والدنانير لازيادة فيها عن مقدارها المعلوم بين الناس جوزوا التصرف فيها بعد القبض قبل الوزن لعدم احتمال الزيادة في وزنها المانع من التصرف في غيرها. (تقريرات الرافعى على هامش الفتاوى الشامى: ٥/ ١٥٨، سعيد).

معلومه سوه چي د خلكو په عرف كي چي كوم وزن معلوم او متعين وو بيا په هغه كي پر ته له وزنه د تصرف گنجائش سته لكه دراهم او دنانيز چي په هغه زمانه كي د خلكو په منځ كي په معلوم مقدار سره پېژندل كېدل او مقدار يې معلوم او تعين وو لهذا د وزن شرط به يې نه لكوئ.

په اوسنی زمانه كي د كمپنی بسته كول د خلكو په منځ كي مشهور دي نو ځكه يې د وزن شرط ترک کړی دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

اشکال او د هغه جواب:

ځینی علماء وایي چي تول او وزن د قبض د اتمام څخه دئ لهذا وزن او تول کول ضروري دي.

وګورئ اعلاء السنن:

والدليل على أن الكيل والوزن.... من تمام القبض أن القدر في المكيل والموزون معقود عليه.... ولايعرف القدر فيهما إلا بالكيل أو الوزن. (اعلاء السنن:١٤/ ٢٤٣).

الجواب: د اشکال جواب دا دئ، چي له ليکل سوی وزن څخه مقدار معلوميږي او هغه مقدار چي په هغه سره قبض پوره کيږي او دا د جمهورو مذهب دئ، البته د حضرت شاه صاحب په اړه په فتح الملهم کي ذکر سوی دي چي هغه د ابن ماجه حديث پر استحباب حمل کړی دئ.(تکمله فتح الملهم:١/ ٣٥٩).

لکه څنګه چي د شاه صاحب رحمه الله په نزد نه په يوه صفقه او نه په دوو صفقو کي د تللو تعدد ضروري دئ يعنی شاه صاحب رحمه الله وايي بيع که په يوه صفقه کي سوې وي د تللو او وزن کولو تعدد ضروري نه دئ او که يې د دوو صفقو سوی وي هم يې تعدد ضروري نه دئ.

لو اعتبرنا مثل هذه الاحتمالات، لزم أن لا يجوز التصرف فيما إذا كان بحضرته أيضًا. فإن الاحتمال لا ينقطع .... فالذي تبين أن المشتري إن اعتمد على كيل البائع، جاز له أكله بدون إعادة الكيل، سواء كان بحضرته، أو بغيبته.... إذا كان هناك ثالث يشاهد الكيل، (يعني كيل البائع الأول) فاشتراه، كفاه عن إعادة الكيل عندي، لأن المطلوب كون المبيع معلومًا، وقد حصل. نعم إن كاله يستحب له ذلك، فلا حاجة إلى تعدد الكيل في الصفقتين أيضًا.(فيض الباري:٣/ ٢٢٠).

نو که چيري د شاه صاحب رحمه الله قول واخستل سي بيا به ظاهره زموږ د زمانې په معاملاتو کي هيڅ ډول مشکل هم نه پاته کيږي ځکه چي د کمپنۍ پر وزن د خلکو اعتماد دئ او د حضرت شاه صاحب رحمه الله په نظر د مشتري د حضور په وخت کي د وزن کولو هم ضرورت نسته.

همدارنګه د حضرت شاه صاحب رحمه الله په نزد په متعدد صفقو کي چي مبيع معلومه وي د وزن کولو ضرورت يې نه سته او د دې قول تائيد د علامه اکمل الدين بابرتی چي د عنائي مصنف دئ له دغه عباراتو څخه معلوميږي.

قال: وإذا نظرنا إلى التعليل وهو قوله ولأنه يحتمل أن يزيد على المشروط وذلك للبائع يقتضي أن يكتفى بالكيل الواحد في أول المسألة أيضًا كما ذكرنا ولو ثبت أن وجوب الكيلين عزيمة والاكتفاء بالكيل الواحد رخصة أو قياس أو استحسان لكان ذلك مدفعًا جاريًا على القوانين لكن لم أظفر بذلك . (شرح العناية:٦/ ٥١٨).

د حضرت عطا بن رباح هم دا قول دئ چي د تول او وزن کولو اعاده په مطلق ډول ضروري نه ده. په اعلاء السنن راځي:

وقال عطاء يجوز بيعه بالكيل الأول مطلقاً. (اعلاء السنن:١٤/ ٢٣٨، ادارة القرآن).

همدارنګه د دې تشريحاتو دار او مدار پر دې کيږي چي وزن او تول ضرور چي مورږ دا تسليم کړو چي په اوسنی دور کي معاملات د وزن او کيل په شرط سره دي حال دا چي دا خبره له مشاهدې څخه خلاف ده.

وفسر إمام الحرمين البيع مكايلة بأن يقول بعتک هذه الصبرة كل صاع بدرهم.... ومنها أن يقول بعتكها على أنها عشرة آصع ومنها أن يقول بعتک عشرة آصع. (اعلاء السنن:١٤/ ٢٤٥).

مګر نن سبا د مقدار په شرط سره معاملات سر ته نه رسيږي بوازي هغه پر مبيعه ليکل سوی وزن د صفت په درجه کي وي. « كالذرع في الثوب». وقال في الهداية: وبخلاف ما إذا باع مزارعة لأن الزيادة له إذا الزرع وصف فى الثوب. (الهداية:٣/ ٧٥).

قال فى العناية: ولو اشترى المعدود عدا فهو كالمذروع فيما يروى عن أبي يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله وهو رواية عن أبي حنيفة رحمه الله لأنه ليس بمال الربا ، ولهذا جاز بيع الواحد

Maktaba Tul Ishaat.com

بـالاثنين فكـان كالـمذورع، حكمـه أنـه لايـحتاج إلـى إعـادة الـذرع إذا بـاع مذارعـة. (شرح العناية:٦/ ٥١٨).

مطلب دا چي په اوسنۍ زمانه كي د عموم بلوى د ضرورت له كبله پر دې روايت فتوى وركول كيږي.

په احسن الفتاوى كي راځي:

د بايع او مشتري دواړو مقصد هغه خاص ډبه او لفافه وي پر هغه ليكلى وزن په بيعه كي مشروط نه وي لهذا د ډبې وزن كولو پرته تصرف پكښې روا دئ. (احسن الفتاوى:٦/ ٤٩٩)

مولانا فتح محمد صاحب په عطر هدايه كي ليكلي دي:

داسي ګونۍ، پارسل، ډبه او لوښى چي د هغه وزن تعين وي په هغو كي دوهم ځل له پاره وزن كولو ضرورت نسته ځكه هر هغه ظرف چي وي هغه اصطلاحاً او عرفاً تول دئ يعنى زر منه غنم چي په دوه لكه رانيسي په يوه ګونۍ كي لس منه راځي تولي ګونۍ سل دانې كيږي اوس چي سل ګونۍ حساب سوې او دا وويل سول چي سل ګونۍ كافي دي نو فوراً دا په فكر كي راځي چي يوه ګونۍ په دوه زر روپۍ كيږي. (عطر هدايه:١٧٩).

همدارنګه په اوس وخت كي اكثر بيع باالتعاطى كيږي، د ايجاب او قبول نوم او نښان هم نه وي.

په درمختار كي راځي:

(غير الدراهم والدنانير) لـجواز التصرف فيهمـا بعد القبض قبل الـوزن كبيـع التعـاطى فإنه لايـحتاج فى الـموزونات إلـى وزن الـمشتري ثانيـاً لأنـه صـار بيعـاً بـالقبض بعـد الـوزن، قنيـة. وقال ابن عابدين رحمه الله: عبارة البحر وهذا كله في غير بيع التعاطي .... وظاهر قوله وهذا كله أنه لا يتقيـد بالـموزونات بـل التعـاطي في الـمكيلات والـمعدودات كـذلك. (الـدر المختـار مع ردالمحتار:٥/ ١٥٠).

په احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: له يوه دوکاندار څخه هره ورځ معلوم مقدار شيدې وړم مګر دا شيدې مخامخ نه تلل کيږي بلکي تول کړل سوي شيدې راکوي او موږ دده پر وزن اعتماد کړی دئ؟

دوهم سوال دا چي: نن سبا ښاريانو دا طريقه غوره کړې چي دوکاندار ته ټيلفون کوي او خپل د اجناسو مقدار ورته ښيي هغه دوکاندار همداسي کوي او د خريدار له پاره شيان وزن کوي. د خريدار په غياب کي د هغه سامان په يو ظرف کي تر وزن کولو وروسته جمع کوي او بيا ديوه شي په وسيله رسول کيږي؟

الجواب: په دې دواړو صورتو کي بيع بالتعاطی ده لهذا پر خريدار دوهم ځل تول کول ضروري نه دي. (احسن الفتاوی:٦/ ٤٩٨).

لنډه دا ده چي تعين وزن والا شيان بېله وزن خرڅول دلاندي وجوهاتو پر بنياد روا او صحيح دي.

- د ماشن الاتو د ګرزانې او تول په وجه د جهالت او کمي يا زياتوالی امکان ډېر کم دئ.
- په اوسني زمانه کي اکثر معاملات بېله د وزن د شرط څخه سر ته رسيږي.
- د بيع بالتعاطی له وجه ګنجائش سته.
- د حضرت شاه صاحب رحمه الله په نزد د وزن اعاده صرف مستحب امر دئ.
- د متعين وزن شيان تقريباً د عدد متقارب په درجه کي راځي. والله ﷻ اعلم.

په بيع بالتعاطی کي د وزن د راګرځولو حکم

سوال: يوه کس له دوکاندار څخه پنځه منه وړه په قيمت واخستل او خريدار دوکاندار ته ورېل چي اوړه تول که او زما کور ته يې واستوه، هغه واستول خو خريدار يا د هغه وکيل د تللو په وخت کي حاضر نه وو ظاهراً خو د فقهاء د اقوالو په رڼا کي دا روا نه ده مګر د دې ډول بيعي رواج عام دئ د دې حکم شرعاً څه دئ.

د هدايې مصنف وايي:

قال ومن اشترى مكيلاً مكايلة أو موزونا موازنة فاكتاله أو اتزنه ثم باعه مكايلة أو موازنة لـم يـجز للمشتري منه أن يبيعه ولا أن يأكله حتى يعيد الكيل والوزن . (الهداية:٣/ ٧٥).

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: په یاد سوي صورت کي چي په دې کي بیع بالتعاطی ده او په بیع بالتعاطی کي کوم مشکل نسته (روا او درسته ده) او د وزن د اعادې ضرورت نسته.

همدارنګه محقق ابن همام رحمه الله په فتح القدير کي وايي، د فقهاوو په نزد د بائع وزن کافي دئ او مشتری ته د وزن د اعادې ضرورت نه سته.

په فتح القدير کي راځي:

قال عامتهم : كفاه ذلك حتى يحل للمشتري التصرف فيه قبل كيله ووزنه إذا قبضه ....

والصحيح قول العامة ؛ لأن الغرض من الكيل والوزن صيرورة المبيع معلومًا وقد حصل بذلك الكيل واتصل به القبض . (فتح القدير:٦/ ٥١٧، دار الفكر).

په فيض الباري کي راځي:

فالذي يتبين أن المشتري إن اعتمد على كيل البائع، جاز له أكله بدون إعادة الكيل، سواء كان بحضرته، أو بغيبته. (فيض الباری:٣/ ٢٢٠).

په شرح عنايه کي راځي:

قال: وإذا نظرنا إلى التعليل وهو قوله ولأنه يحتمل أن يزيد على المشروط وذلك للبائع يقتضي أن يكتفى بالكيل الواحد في أول المسألة أيضًا كما ذكرنا ولو ثبت أن وجوب الكيلين عزيمة والاكتفاء بالكيل الواحد رخصة أو قياس أو استحسان لكان ذلك مدفعًا جاريًا على القوانين لكن لم أظفر بذلك . (شرح العناية على هامش فتح القدير:٦/ ٥١٨، دار الفكر).

په احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: نن سبا بازاريانو دارنګه طريقه اختيار کړې چي دوکاندار ته ټيلفون کوي چي فلانی فلانی ډول شيان دومره دومره مقدار را تول کړه، وروسته تلل سوي شيان خپله يا د دوکاندار په واسطه رسول کيږي او مشتري بيا د وزن کولو فکر هم نه کوي دا طريقه شرعاً څنګه ده؟

جواب: دا بیع بالتعاطی ده لهذا پر خریدار دوهم ځل وزن کول ضروري نه دي. (احسن الفتاوی:۶/ ۴۹۷). والله ﷻ اعلم.

د بیع قبل القبض حکم

سوال: ځینی تاجران له خارج څخه سامانونه را وارد وي، له خارجي ممالکو والا سره چي کله معامله طی کړل سي تاجر د سامان تر واردولو وړاندي دوکاندارنو ته راځي، آډر اخلی او پیسې هم وصول کوي حال دا چي تر اوسه سامان د تاجر په لاس کي دئ او د دوکاندار قبض ته راغلی نه دئ او ځینی وختونه آډر اخلی او پیسې يې نه وي وصول کړي ایا دارنګه کول روا دي او که نه؟

الجواب: په یاد پوښتل سوي صورت کي معامله د بیع قبل القبض له قبیلې څخه ده په شریعت مطهره کي دې بیع ته جواز نه دئ ورکړل سوی. په بیع قبل القبض کي احتمال د غرر، ربح لم، یضمن، احتمال د ربا النسیه وي او د دې بنیادي وجوهاتو پر بنا له دې ډول معاملاتو څخه ځان ساتل ضروري او لازم دي.

البته د دا ډول معاملو د جواز له پاره مفتي رشید احمد دهیانوی رحمه الله څو صورتونه په احسن الفتاوی کي ذکر کړي دي.

په احسن الفتاوی کي راځي.

پر مال تر قبض کولو وړاندي د هغه مال بیع روا نه ده لهذا د هغه منافع هم حلال نه دي او د هغه د تصحیح له پاره دوه صورتونه دي:

۱ ـ کوم ځای کي چي مال اخستل کیږي هلته دي کوم بل کس یا کمپنی والا وکیل باالقبض جوړ کي او د هغه وکیل تر قبض وروسته بیع روا ده.

۲ ـ د مال تر را رونېدو وړاندي دي بیع نه کوي صرف وعده د بیع دي وکړي او بیع دي د مال تر را رسېدو وروسته وکړي په دې صورت کي هر یو له جانبینو که له بیع څخه انکار وکړي صرف د وعدې خلافي ګناه د هغه پر ذمه ده او بیعه به لازم نه سي، البته که چیري مال هلاک سي نو د مشتری مال نه بلکي د بائع مال هلاک سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

او که چیري کرایه اداء کول پر رانیونکي وي نو د ده له اجازې څخه وروسته که بائع هر مال رسونکي شرکت ته حال ورکړ نو د مشتري قبضه به ګڼل کیږي، که څه هم مشتري ځانګړې کمپنۍ ورته یاد کړې نه وي د شرکت د تر لاسه کولو وروسته بیع روا ده، په دې صورت کي که مال هلاک سي دا مال د مشتري بلل کیږي. (احسن الفتاوی:٦/ ٥٢٥).

وګورئ چي په حدیث شریف کي راځي:

عن ابن عباسٍ ﵁ أن رسول الله ﷺ قال: « من ابتاع طعامًا فلا يبعه حتى يستوفيه ». قال ابن عباسٍ ﵁ وأحسب كل شيءٍ مثله.(رواه مسلم:٢/ ٥، باب بطلان بيع المبيع قبل القبض).

په یوه بل روایت کي راځي:

عن ابن عمر ﵁ قال: كنا في زمان رسول الله ﷺ نبتاع الطعام فيبعث علينا من يأمرنا بانتقاله من المكان الذى ابتعناه فيه إلى مكانٍ سواه قبل أن نبيعه.(رواه مسلم:٢/ ٥، باب بطلان بيع المبيع قبل القبض).

داحنافو په نزد په دې احادیثو کي علت د ممانعت (غرر انفساخ) عقد دئ .

علامه ابن الهمام (٨٦١هـ) په فتح القدیر کي وایي:

ومن اشترى شيئًا مما ينقل ويحول لم يجز له بيعه حتى يقبضه، لأنه عليه الصلاة والسلام نهى عن بيع ما لم يقبض ولأن فيه غرر انفساخ العقد على اعتبار الهلاك .... ثم علل الحديث (لأن فيه غرر انفساخ العقد) على اعتبار هلاك المبيع قبل القبض فيتبين حينئذٍ أنه باع ملك الغير بغير إذنه وذلك مفسد للعقد ، وفي الصحاح أنه ﷺ نهى عن بيع الغرر . (فتح القدير:٦/ ٥١٠، ٥١٢، دار الفكر).

په تکمله د فتح الملهم کي راځي:

إن العلة فی النهي عن بیع المبیع قبل القبض هي أنه یستلزم ربح مالم یضمن وإنما یضمن الإنسان ما یخاف فیه الهلاک وأما العقار فلا یخشي فیه ذلک إلا نادراً حتی لوکان العقار علی شط البحر أو کان المبیع علواً لایجوز بیعه قبل القبض. (تکملة فتح الملهم:۱/ ۳۵۳).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

د بیع قبل القبض (تر قبض مخکي د بیع) ممانعت په متعددو احادیثو کي راغلی دئ او مجتهدینو امامانو هغه احادیث معلول بالعلة گرځولي دي که چیري علت موجود سي او د ممانعت حکم باقي پاتیږي او که علت موجود نه وي بیا حکم د ممانعت نه سته.

د مجهدینو په کلام کي تر غور کولو وروسته دا نتیجه لاس ته راځي.

د بیع قبل القبض د ممانعت دري علتونه دي.

۱_ احتمال غرر.

۲_ ربح مالم یضمن.

۳_ احتمال ربا النسیه. (په جدید فقهی مباحث :۱۵/ ۱٤۱).

په اهم فقهي فیصلی نومي کتاب کي ذکر سوي دي:

په اوسنی وخت کي د رانیولو او خرڅولو ډیر داسي معاملات سته چي تر قبضې وړاندي واخستل سي او پر دوهم کس خرڅیږي.

رسول الله ﷺ د بیع قبل القبض څخه منعه کړي ده د دې امله د داسي مروجه معاملاتو په اړه په اسلامک فقه اکېډمی کي د نویم سمینار په غونډه کي په جامعه الهدایه کي چي په (جی پور) کي موقیت لري لاندي خبري طی سوی:

Maktaba Tul Ishaat.com

په اصولي ډول د شي تر قبضه وړاندي د هغه کي خرڅول منعه او ناروا دي نو که تر قبضې وړاندي خرڅ کړل سي دا بيع فاسده ده، نه بيع باطل او تر قبضې وروسته ملکيت فائده کوي. (اهم فقهظ فيصلى: ۱۰۰).

په نئی مسائل اور علمائی هند کي فيصلى نومي کتاب کي راځي:

د بيع قبل القبض ممانعت د غرر انفساخ له کبله دئ يعني مبيعه چي د اول خرڅونکی ولاس ته نه وي ورغلې د دې خبرې انديښنه سته چي مبيعه دي د ده لاس ته ورنه سي لهذا چي دا بېره ليري نه سي اول خرڅوونکی د دوهم خرڅونکی يا مشتري ته د مبيعې پر حواله کولو قادر نه دئ. (نی مسائل اور علماء سی هند کی فيصلى:۱۰٦).

په فقهی مقالات کي راځي:

د شرعي احکامو له لحاظ څخه ضروري ده چي کوم شی ته خرڅوي هغه به ستا په لاس کي وي او ستا په ملکيت کي به وي او ته به قادر يې چي هغه حواله کي او په قبضه کي به دي وي البته قبضه که حقيقي يا حکمی او عرفي وي.

اوس مسئله دا ده چي يو شي زما سره موجود نه دئ او د هغه آېر او ما ته رسېدلی دئ نو په دې صورت کي موږ بيع نه سو کولای بلکي صرف وعده د بيع کوو. (فقهی مقالات:۳/ ۷٦).

په جديد فقهی مسائل نومي کتاب کي راځي:

د بيع فاسدېدو په سلسله کي دا خبره بايد په نظر کي ولرئ، چي که چيري په بيع کي فساد وي هغه هم د شرعيت د حقوقو پر بنياد او هغه پر کوم داسي کار مشتمل وي چي په هغه کي ګناه وي. هغه سودا په هر حال د ګناه باعث ده او که چيري په هغه کي احتمال د نزاع وي او عملاً نزاع نه وي نو قضاءً بيع فاسده ده مګر ديانةً صحيح ګرځي.

په دې اړه حضرت مولانا انور شاه کشميري رحمه الله لاندي عبارت ليکلي دي:

إن من البيوع الفاسدة ما لو أتى بها أحد جازت ديانةً، وإن كانت فاسدةً قضاءً. وذلك لأن الفساد قد يكون لحق الشرع، بأن اشتمل العقد على مأثم، فلا يجوز بحالٍ. وقد يكون الفساد

لمخافة التنازع، ولا يكون فيه شيء آخر يوجب الإثم، فذلك إن لم يقع فيه التنازع جاز عندي ديانةً، وإن بقي فاسدًا قضاءً، لارتفاع علة الفساد، وهي المنازعة. ويدل عليه مسائلهم في باب المضاربة، والشركة، فإنها ربما تكون فاسدةً مع أن الربح يكون طيبًا، وراجع «الهداية». ونبه الحافظ ابن تيمية رحمه الله (٧٢٨ م) في رسالته على أن من البيوع ما لا يقع فيه النزاع، فتكون تلك جائزةً، فإذا أدخلتها في الفقه وجدتها محظورةً، لأن أكثر أحكام الفقه تكون من باب القضاء، والديانات فيها قليلة. وإنما يصار إلى القضاء بعد النزاع، فإذا لم يقع النزاع، ولم يرفع الأمر إلى القاضي، نزل حكم الديانة لا محالة، فيبقى الجواز. (فيض الباری:۳/ ۲۵۸).

لهذا د ليکوال دا خيال دئ چې د بيع قبل القبض ممانعت د حق عبد پر بنياد دئ نه د شريعت د حق له امله او د هغه فساد قضاءً دئ نه ديانةً . (جديد فقهی مسائل:٤/ ٢١٣-٢١٤). والله تعالیٰ اعلم.

په غير مطعوماتو کې د بيع قبل القبض تحقيق

سوال: ځيني وختونه تاجران ځيني شيان د خارج ځخه راغواړي او تر رسېدو مخکې هغه پلوري ايا دارنګه بيع روا ده او که نه؟

الجواب: د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په منقولی شيانو کې بيعه تر قبضې وړاندې ناروا ده، البته که د مشتری سره وعده وکړل سي او تر رسېدو وروسته خرڅ کړل سي دا صحيح ده يا دي د مال راغوښتونکی په هغه ښهرني هيواد کي د ځان له پاره وکيل معلوم کړي نو د وکيل تر قبضې وروسته دي خرڅ کړي مګر د مشتري له پاره خيار رويت ثابت پاته دئ.

د امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد په غير مطعوماتو کي هم بيع قبل القبض روا او درسته ده.

که چيري عامه ابتلاء وه نو پر دې قول د فتوی ورکولو ګنجائش معلومېږي.

محدث العصر حضرت مولانا سيد محمد يوسف بنوری وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com

زموږ د وخت اکابرينو هم د نکاح د فسخ کولو مشکل داسي حل کړی او متاخرينو احنافو د مفقود الخبر په اړه داسي کړي البته د تلفيق څخه احتراز کول ضروري دي او تتبع د رخصت به مقصد نه ګرځوي مثلاً د معاملاتو په مسائل کي د بيع قبل القبض په مسئله کي نن سبا عام تجاران مبتلاء دي اوس د دې پر صورت حال غور کول په کار دي او پوره پلټنه يې ضروري ده چي په اوسنی زمانه کي ايا واقعي معاشره مبتلاء ده او واقعي معاشره په اضطراري حالت کي ده او پرته له دې کومه لار نه لري نو بيا دي پر مالکي مذهب فتوی ورکړل سي هغه داسي چي عدم جواز البيع قبل القبض خاص تر مطعوماتو پوري ده ځکه چي په حديث کي صراحتاً د طعام ذکر سوی دئ په دې مسئله کي حنبلي مذهب هم د مذهب مالکي په ډول دئ. «نهى رسول الله ﷺ عن بيع الطعام قبل أن يستوفيه» . (سنن).

امام ابو حنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله پر طعام باندي نور شيان هم قياس کړي او بيع قبل القبض يې منعه کړې ده. (بينات، ربيع الثاني: ۱۳۸۳/ دسمبر ۱۹۶۳، بعنوان فكر ونظر، ص ٤، ٥ – بحواله غير سودى بينكارى از حضرت مفتى تقى عثمانى صاحب، ص ۲۹۱).

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

د فاسدي بيعي په سلسله کي دا خبره بايد په ذهن کي وي چي په بيع کي فساد که د حق شرع له وجي وو او هغه کار پر ګناه مشتمل وو دا په هر حال باعث د ګناه دئ او که د نزاع له وجي وو او نزاع عملاً نه وي پيدا سوې نو که څه هم قضاء بيع فاسده وي مګر دياتناً صحيح ده لکه چي د علامه انور شاه کشميري رحمه الله عبارت دئ.

إن من البيوع الفاسدة ما لو أتى بها أحد جازت ديانةً، وإن كانت فاسدةً قضاءً. وذلك لأن الفساد قد يكون لحق الشرع، بأن اشتمل العقد على مأثم، فلا يجوز بحالٍ. وقد يكون الفساد لمخافة التنازع، ولا يكون فيه شيء آخر يوجب الإثم، فذلك إن لم يقع فيه التنازع جاز عندي ديانةً، وإن بقي فاسدًا قضاءً، لارتفاع علة الفساد، وهي المنازعة. ويدل عليه مسائلهم في باب

المضاربة، والشركة، فإنها ربما تكون فاسدةً مع أن الربح يكون طيبًا، وراجع «الهداية». ونبه الحافظ ابن تيمية رحمه الله (۷۲۸ م) في رسالته على أن من البيوع ما لا يقع فيه النزاع، فتكون تلك جائزةً، فإذا أدخلتها في الفقه وجدتها محظورةً، لأن أكثر أحكام الفقه تكون من باب القضاء، والديانات فيها قليلة. وإنما يصار إلى القضاء بعد النزاع، فإذا لم يقع النزاع، ولم يرفع الأمر إلى القاضي، نزل حكم الديانة لا محالة، فيبقى الجواز. (فيض الباری:۳/ ۲۵۸).

له دې سببه د ليكوال فكر دئ چي د بيع قبل القبض ممانعت د بنده د حق په سبب دئ د شرعي حق په اساس نه دئ او د هغه فساد قضاءً دئ نه ديانةً. والله ﷻ اعلم.

د حکومت له طرف د ليلام کړل سوي سامانونو د اخستلو حکم

سوال: که حکومت حکم وکړ چي د مديون (پوروړي) مال يا سامان ليلام کي په داسي حال کي چي مديون په راضي نه وي د دې رانيول روا دي او که نه؟

الجواب: د صاحبينو په نزد د دين او پور د اداء کولو له پاره د مديون مال خرڅول روا دي لهذا په پوښتل سوي صورت کي هم د دې مال رانيول صحيح او روا دي.

د علامه شامي رحمه الله عبارتو ته نظر وکړئ:

ولو له عقار يحبسه أي ليبيعه ويقضي الدين الذي عليه ولو بثمنٍ قليلٍ بزازية.... قال المصنف رحمه الله والشارح رحمه الله هناك والقاضي يحبس الحر المديون ليبيع ماله لدينه وقضى دراهم دينه من دراهمه يعني بلا أمره وكذا لو كانا دنانير وباع دنانيره بدراهم دينه وبالعكس استحساناً لاتحادهما في الثمنية لا يبيع القاضي عرضه ولا عقاره للدين خلافاً لهما وبه أي بقولهما ببيعهما للدين يفتى (اختيار) وصححه في تصحيح القدوري ويبيع كل ما لا يحتاجه للحال. وحاصله أنه إذا امتنع عن البيع يبيع عليه القاضي عرضه وعقاره وغيرهما وفي البزازية وفرع على صحة الحجر أنه يترك له دست من الثياب ويباع الباقي وتباع

Maktaba Tul Ishaat.com

الحسنة ويشتري له الكفاية ويباع كانون الحديد ويشتري له من طين ويباع في الصيف ما يحتاجه للشتاء وعكسه. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٥/ ٣٨٧، فصل فی الحبس).

وفی التصحيح والترجيح: ووقع في الاختيار ولا يبيع يعنى القاضى العروض ولا العقار لأنه حجر عليه، وهو تجارة لا عن تراض، وقالا : يبيع، وعليه الفتوى . وقال أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله: إذا طلب الغرماء المفلس الحجر عليه حجر القاضي عليه، وبيع ماله إن امتنع المديون من بيعه. وقال القاضي: (ای قاضي خان) ولا يبيع مال المديون في قول أبي حنيفة رحمه الله وفي قول صاحبية رحمه الله يبيع منقوله ولا يبيع عقاره عندهما.... وفی رواية يبيع كما يبيع المنقول وهو الصحيح . (التصحيح والترجيح، للعلامة قاسم بن قطلوبغا، ص ٢٤٤، وكذا فی الاختيار لتعليل المختار:٢/ ١٠٦، كتاب الحجر، بيروت).

په امداد الاحکام کي راځي:

سوال: که چيري زيد پور نه اداء کوي ايا د هغه جايداد چي محکمې ليلام کړ او حکومت د زيد قرض له هغه جايداد څخه ادا کوي ايا محکمې ته دا روا دي او که نه او ايا عمر کولای سي چي دغه جايداد رانيسي او که نه؟

الجواب: قال فی البدائع: فی دليل مسئلة الاستيلاء ولنا أنهم استولوا على مالٍ مباحٍ غير مملوكٍ ، ومن استولى على مالٍ مباحٍ غير مملوكٍ يملكه ، كمن استولى على الحطب والحشيش والصيد ، ودلالة أن هذا الاستيلاء على مالٍ مباحٍ غير مملوكٍ أن ملك المالك يزول بعد الإحراز بدار الحرب ، فتزول العصمة ضرورةً بزوال الملك ، والدليل على زوال الملك أن الملك هو الاختصاص بالمحل في حق التصرف ، أو شرع للتمكن من التصرف في المحل ، وقد زال ذلك بالإحراز بالدار ؛ لأن المالك لا يمكنه الانتفاع به إلا بعد الدخول (بدار

الحرب)، ولا يمكنه الدخول بنفسه لما فيه من مخاطرة الروح وغيرها وقد لا يوافقه غيره ولو وافقه فقد لا يظفر به ، ولو ظفر به قلما يمكنهم الاسترداد ؛ فإذا زال معنى الملك أو ما شرع له الملك يزول الملك ضرورةً، الخ. (بدائع الصنائع:۷/ ۱۲۸).

قلت: وإذا أمر المالک الحربي أو نائبه ببيع مال أحد من المسلمين بيع من يزيد لايقدر المالک على الامتناع منه لما فيه من مقابلة السلطان وفيه مخاطرة بالروح وإذا كان كذلك فقد زال ملكه وثبت الاستيلاء عليه لقوة السلطان.

په پوښتل سوي صورت کي په ظاهري ډول د استيلاء تحقق دئ لهذا د ليلام اخستل روا دي.

ولايعارضه ما في شرح السير الكبير في غصب مسلم مال مسلم في دار الحرب وترافعهما إلى ملک تلک الديار وتمليک الغاصب حيث قال لايحل للغاصب وإذا ظهرنا عليهم أخذه المغصوب منه بلا قيمة فإن هذا الحكم مخصوص بالغصب وغصب المسلم مسلماً ليس من الاستيلاء وتمكين الملک لم يكن إلا تأييداً لغصبه بظهوريده عليه وما كان حراماً ابتداءً لاينقلب حلالاً بخلاف ما إذا كان الاستيلاء ابتداءً فإنه يزيل ملک المالک عنه. (امداد الاحکام: جلد سوم: ۳۸۲-۳۸۳).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (البحر الرائق:۸/ ۸۳، کتاب الحجر، وفتاوى قاضي خان:۳/ ٦۳٤، کتا الحجر، والدر المختار مع فتاوى الشامي:٦/ ۱۵۰ – والفتاوى الهندية:۳/ ٤۱۹ – وامداد الاحكام:٤/ ٤۰۱، والبدائع:۷/ ۱۲۹، وفتاوى محموديه:۱٦/ ۱٤۸ – وامداد الفتاوى:۳/ ۱۲۲). والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

دری پوزیسټ مالونه اخستل څه حکم لري؟

سوال: یو کس له غیر مسلم بانک څخه پیسې د دې له پاره واخیستې چې موټر رانیسي، د بانک د طرفه شرط ولګول سو چې که په دومره وخت کې پیسې ادا نه کړل سوې موټر ضبطیږي. وروسته د یادسوي شرط پر اساس بانک موټر ضبط کړ ایا د بانک څخه د هغه موټر اخستل روا دي او که نه؟ او دې ته په عرف کې ری پوزیسټ(Repo ssessed) ویل کیږي؟

الجواب: کفري بانک که له مشتري سره وعده کړې وې چې د دومره قسطونو د نه ادا کېدو په صورت کې د بانک یا د کومي بلي ادارې لخوا موټر ضبطیږي دا د تعزیر بالمال په ډول دئ چې د ځینو علماوو په نزد د تعزیر بالمال ګنجائش سته او په دې صورت کې بانک یا کومه بله اداره د دې موټر تر ضبط وروسته د موټر مالک ګرځي او له هغه څخه اخیستل صحیح دي.

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله د حکومت استیلاء سبب د ملک بللی ده چې د هغه تفصیل مخکې تېر سوی دئ همدارنګه د تعزیر بالمال مسئله مخکې په څلورم جلد فتاوی دار العلوم زکریا کې تېر سوې ده.

مګر که چیري بانک پر کوم قرضدار د څه قسطونو د نه ادا کېدو په سبب هغه جرمانه کوي دا ناروا او سود دئ له دې سببه چې د جهالت په وخت کې به پر قرض نه ورکونکي د قرض د تاخیر په وجه جرمانه لګول کېده او دې ته ربا القراني ویل کیږي.

یعنی « زيادة القرض لزيادة الأجل».

په یاد سوي سوال کې یو صورت دا جوړیږي چې مشتري دې موټر واپس کې او خپله اصلي ثمن دې لاس ته راوړي چې د ځینو مشائخو له قول څخه د دې صورت جواز معلومیږي.

حضرت مفتي رشید احمد صاحب لیکلي دي:

د مشتري د ثمن د نه ادا کولو او نه اقاله کول بایع ته د فسخې اختیار ورکوي ځکه د مشتري له طرفه د ثمن نه ادا کول او نه اقاله کول د مشتري پر نه رضا او فسخ دلالت کوي نو فسخ د بایع فسخ د جانبینو ده. (احسن الفتاوی:٦/ ٥٠٦).

په بحر الرائق او هدایه کې راځي:

لما تعذر استيفاء الثمن من المشتري فات رضا البائع فيستقل بفسخه. (البحر الرائق: ٧/ ٣٦، كوئته – وكذا فى الهداية: ٣/ ١٤٧). والله تعالى اعلم.

Television خرڅولو حکم

سوال: د ذاتي ټلویزون خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: په شریعت مطهره کې لهو ولعب د آلاتو استعمال همدارنګه د موسیقۍ الات او داسې نور د ګناه باعث بللې او د تې وي غالب استعمال په دې کې وي لهذا په کور کې د تې وي ایښودل روا نه دي مګر د بیعې څخه یې تر لاسه سوې پیسې حلالې دي همدارنګه د ټلویزون له مرمت څخه لاس ته راغلې پیسې حلالې دي مګر که چیرې ټلویزون خرڅیږي نو باید پر کوم غیر مسلم (کافر) خرڅ سي ځکه چې ځینو علماوو د ټلویزون خرڅول ناروا بللې.

هغه الات چې هغه ابتداء د لهو لعب له پاره جوړ سوې وي لکه طبله، ستاره، رباب، هارمونیم او داسې نور د دې رانیول او خرڅول روا نه دي او هم د هغو جوړول روا نه دي، البته ټیپ او راډیو چې نه د هغو څخه د سروز او ساز کار في نفسه اخیستل کیږي یعني هغوی د سروز او ساز له پاره نه دي البته د ټلویزون او ویډیو ساخت د دې له پاره سوی دئ چې خلک د تقریر کونکی بازي کونکی سازنده رو تصویرونه هم وګوري ظاهره خبره ده چې په هغه کې د نامحرمه ښځو تصویرونه هم لیدل کیږي او ښکاره کیږي لهذا د هغوی په کور کې ایښودل او خرڅول رانیول هیڅ ډول روا نه دي که په خلکو کې هر څومره عام سي.

ولو أمسک في بيته شيئاً من المعازف والملاهي كره ويأثم وإن كان لايستعملها. (اسلامی فقه: ٢/ ٣٨٨).

مفتي رشید احمد صاحب په احسن الفتاوی کې وایي:

د دې شیانو پوره مشابهت له جاریې مغني سره ورکړی دئ بلکې دا شیان بعینه جاریه مغنیه دي لهذا د ریډیو او ټلویزون جوړول او مرمت کول او اخستل خرڅول د راجح قول مطابق مکروه

Maktaba Tul Ishaat.com

تحريمي دي او كه چيري په قول مرجوح سره عمل وكړل سي چي كراهيت تنزهيه دئ بيا هم دا كسب اختيارول مكروه تحريمي ده. (احسن الفتاوى:٦/ ٥٤٧).

٢_ ځينى نور علماء كرام فرمايي چي د ټلويزون خرڅول روا او له هغه ځخه لاس ته سوي پيسې هم حلالي دي البته دا كسب اختيارول ښه خبره نه ده او د هغو حضراتو قول راجح معلوميږي.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

قوله معزياً للنهر قال فيه من باب البغاة وعلم من هذا أنه لا يكره بيع ما لم تقم المعصية به كبيع الجارية المغنية والكبش النطوح والحمامة الطيارة والعصير والخشب ممن يتخذ منه المعازف وأما في بيوع الخانية من أنه يكره بيع الأمرد من فاسق يعلم أنه يعصي به مشكل.

(فتاوى الشامى:٦/ ٣٩١، فصل فى البيع، سعيد).

حضرت مولانا محمد تقى عثماني وايي:

هغه ټلويزون چي په هوايي ميدان كي لګېدلى وي هغه ټلويزون وي مګر هغه په ډول مانيټر (Monitor) يا كلوز سركټ (Close circuit) استعماليږي او دا د هغه روا استعمال دئ له دې سببه د ټلويزون بيع فى نفسه حرامه نه ده مګر چا ته دي د ټلويزون د رانيولو مشوره نه وركول كيږي چي ته دا رانيسه لكه چي تاسو د كسب الحجام په اړه ولوستل چي نبي كريم ﷺ د هغه په اړه فرمايي: «كسب الحجام خبيث» مګر ناروا نه دي ورته ويل سوى نو شرعاً روا ده خو له هغه سره دا كسب اختيارول ښه نه دي ځكه چي د ټلويزون ډېر استعمال په ناروا كارو كي دئ، لهذا د هغه دبيع كسب اختيارول ښه نه دي او يو مسلمان ته د هغه د رانيولو مشوره وركول نه ښايي مګر بالكل د حرام حكم لګول ورباندي كول چي د هغه په نتيجه كي امدنى هم حرام وګرځي دا وېنا صحيح نه ده.

(اسلام اور جديد معاشى مسائل:٤/ ١٤).

په فقه المعاملات كي راځي:

په دې اړه شرعي حكم دا دئ ځنګه چي د ټلويزون غالب استعمال په ناجايزو طريقو كي دئ او پر بې شمېره دينى او دنياوي مفاسدو مشتمل دئ لهذا اصل حكم دا دئ چي ټلويزون نه په كور كي

ایښودل روا دي او نه د هغه رانیول او خرڅول روا دي او همدارنګه په اوسنۍ زمانه کې د هغه روا استعمال هم ممکن دئ مثلاً لکه غیر ذي روح شیانو کتل، عمارتونه، مقامات، پارکونه، دریابونه، نقل حرکت طلوع او غروب او داسې نور لکه مناظر یا د سامانو تلاښی کول د هوایي طیارې او نور و د نظام الاوقات معلومولو له پاره همدارنګه د اعلاناتو له پاره استعمالیږي او د فوجي انتظاماتو له پاره لهذا که د ذکر سوو روا وو مقاصدو له پاره یو کس تلویزون رانیسي او پر خرڅ کړل سي بیع یې روا ده او د هغه قیمت حلال دئ.

البته که تلویزون داسي یو شخص طلب کړي چي د هغه په اړه غالب ګمان دا کیږي چي هغه یې په ناروا کارو کي استعمالوي نو بیا هغه پر داسي شخص خرڅول ناروا دي او ګناه ده ځکه چي دا پر ګناه باندي تعاون دئ او په دې صورت کي هغه قیمت چي تر لاسه سوی وي له کراهیت سره سره حلال دئ.

« في خلاصة الفتاوی: (٣/ ١٠٠): وبيع الغلام الأمرد ممن يعلم أنه ممن يعصى الله يكره لأنه إعانة على معصية»

همدارنګه د تلویزون د خرڅولو له پاره یو روا صورت دا هم دئ چي هغه پرزه پرزه او تولي پرزې جلا کړل سي او هغه پرزې خرڅي سي چي دا طریقه روا ده. (جدید فقهی مسائل: ١/ ٢٣٧). و الله ﷻ اعلم.

له مرتد سره د تجارت کولو حکم

سوال: ایا له مرتد سره د رانیولو او خرڅولو معامله روا ده او که نه؟ او هغه شخص چي کفریه کلمات وایي او خپل ځان مسلمان بنيي له هغه سره بیع کول څه حکم لري؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي د صاحبینو په نزد بیع نافذه ګرځي او پر دې قول فتوی هم ده او کوم کس چي کفریه کلمات وایي هغه هم د مرتد په حکم کي دئ او که څه هم خپل ځان ظاهراً مسلمان بنيي لکه چي په فتاوی شامي کي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وبيع المرتد فإنه موقوف عند الإمام على الإسلام ولايوقف عندهما. (فتاوى الشامى:٥/ ١١١، فصل فى الفضولى، سعيد- وكذا في حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٣/ ٨٧، كوئته).

وفى الشامية: (اعلم أن تصرفات المرتد على أربعة أقسام).... (ويتوقف منه عند الإمام) بناء على زوام الملك (وينفذ عندهما كل ما كان مبادلة مالٍ بمالٍ أو عقد تبرعٍ)إلا أنه عند أبي يوسف رحمة الله عليه تصح كما تصح من الصحيح لأن الظاهر عوده إلى الإسلام وعند محمد رحمة الله عليه كما تصح من المريض لأنها تفضى إلى القتل ظاهراً، ط عن البحر. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٤/ ٢٤٩، ٢٥٠، مطلب حلمه من لايقبل اذا ارتد).

په البحر الرائق کي راځي:

وأما البيع الجائز الذي لا نهي فيه فثلاثة: نافذ لازم ونافذ ليس بلازمٍ وموقوف.... وبيع المرتد عند الإمام أي موقوف. (البحر الرائق:٦/ ٦٩، باب البيع الفاسد).

په فتاوی شامي کي راځي:

ثم قال في البحر والحاصل: أن من تكلم بكلمة الكفر هازلاً أو لاعباً كفر عند الكل ولا اعتبار باعتقاده كما صرح به في الخانية ومن تكلم بها مخطئاً أو مكرهاً لا يكفر عند الكل ومن تكلم بها عامداً عالماً كفر عند الكل . (فتاوى الشامى:٤/ ٢٢٤، مطلب مايشك فى انه ردة لايحكم بها، سعيد).

په امداد الاحکام کي راځي:

شراء او بيع له هغو سره روا ده، البته د هغوی مېلمستيا قبلول له هغو سره دار مدار کول روا نه دي ولي که د زړه له کومي دا امید وو چي ایمان به قبول کړي نو بيا راشه درشه ورسره کولای سي. (امداد الاحکام: ٤/ ٣٩٣).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د صاحبينو په نزد د عدم جواز سره سره دا عقد نافذ ګرځي او د عامي ابتلاء او سخت ضرورت په وخت کي په دې قول سره د عمل کولو ګنجائش سته.

قال العلامة السيد محمد أبو السعود المصري الحنفي رحمه الله: (قوله هذا عند أبي حنيفة رحمه الله) اعلم أن تصرفات المرتد يتوقف في الكسبين جميعاً وهو الصحيح وقال بعض المشايخ إن تصرفه في كسب الردة نافذ في ظاهر الرواية وموقوف في رواية الحسن والأول أصح وهذا كله عند الإمام وأما عندهما فتصرفاته نافذة في الكسبين قهستاني. (فتح المعين: ٢/ ٤٦٤). (ملخص از احسن الفتاوی: ٨/ ٢٥٠، ٢٥٢). والله تعالیٰ اعلم.

د بيع السرطان (چنګاښ) حکم

سوال: علامه شامي د فاسدي بيعي په باب کي وايي چي د ټولو حيواناتو رانيول او خرڅول روا دي پرته له خنزيره له دې څخه معلومېږي چي د چنګاښ بيع هم روا ده اوس که څيري روا وي نو دا ده احنافو د اصولو خلاف ده ځکه چي چنګاښ غير ماکول دئ نو مال متقوم به څنګه جوړ سي چي د هغه بيع روا سي؟

الجواب: د احنافو په مذهب کي د جواز او عدم جواز مدار پر ماکول اللحم کېدلو نه دئ بلکي اصل علت پر قابل انتفاع او غير قابل الانتفاع دئ که چيري هغه شی قابل الانتفاع وي او نجس العين هم نه وي نو د هغه بيع روا ده که څه هم هغه غير ماکول اللحم وي او د فقهاء د منعي وجه دا ده چي په مخکني زمانه کي که له هوام الارض څخه کومه ګټه نه پورته کېده او قابل الانتفاع نه بلل کېدل که حيات سرطان ضفدع او داسي نور مګر نن سبا قابل الانتفاع دي، په دواوو کي د هغوی استعمال او د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوا څخه پرته په نورو شیانو کي د هغوی استعمال دا د قابل الانتفاع ثبوت دئ لهذا د منتفع به کېدو په وجه د امام محمد رحمة الله علیه پر قول فتوی ورکول کیږي لکه چي په هدایه کي دي:

وګورئ په هدایه کي راځي:

ولا يجوز بيع النحل وهذا عند أبي حنيفة رحمة الله عليه وأبي يوسف رحمة الله عليه وقال محمد رحمة الله عليه يجوز إذا كان محرزاً وهو قول الشافعي رحمة الله عليه لأنه حيوان منتفع به حقيقة وشرعا فيجوز بيعه وإن كان لا يؤكل كالبغل والحمار. وفي شرح العناية: قال لأنه حيوان منتفع به حقيقة باستيفاء ما يحدث منه، وشرعاً لعدم ما يمنع عنه شرعاً، وكل ما هو كذلك يجوز بيعه وكونه غير ماكول اللحم لاينافيه كالبغل والحمار. ... (الهداية مع شرح العناية على هامش فتح القدير:٦/ ٤١٩، باب البيع الفاسد، دار الفكر).

وفي فتح القدير: والوجه قول محمد رحمة الله عليه للعادة الضرورية وقد ضمن محمد رحمة الله عليه متلف كل من النحل ودود القز، وفي الخلاصة في بيعهما قال: الفتوى على قول محمد رحمة الله عليه. (فتح القدير:٦/ ٤٢٠، دار الفكر).

وفي الدر المختار: بخلاف غيرهما من الهوام فلا يجوز اتفاقًا كحياتٍ وضب وما في بحرٍ كسرطانٍ، إلا السمك وما جاز الانتفاع بجلده أو عظمه والحاصل أن جواز البيع يدور مع حل الانتفاع مجتبى، واعتمده المصنف رحمة الله عليه، وفى الفتاوى الشامي: قوله كحيات في الحاوي الزاهدي: يجوز بيع الحيات إذا كان ينتفع منها للأدوية وما جاز الانتفاع بجلده أو عظمه أي من حيوانات البحر أو غيرها.... ونقل السائحاني عن الهندية: ويجوز بيع سائر

الحيوانات سوى الخنزيز وهو المختار، وعليه مشى في الهداية: وغيرها من باب المتفرقات. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٥/ ٦٨، مطلب في بيع دودة القرمز، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي: (يجوز بيع الحيات) هي وإن كان فيها نفع إلا أنه يحرم أكلها فليحرر حموي، سندي. (التحرير المختار:٥/ ١٤١، سعيد).

وللاستزادة انظر: (فتح القدير:٧/ ١١٨، مسائل منثورة، دار الفكر – والفتاوى الهندية:٣/ ١١٤).

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله وايي:

په کوم ځای کي چي چنګاښ او چونګښه قيمتي وو همدارنګه لکه چي نور بحري حيوانات په بازار کي قيمت لري دوی هم لکه هغه نور حيوانات قيمتي شمارل کيږي او بيع يې روا او ثمن يې حلال دي. (امداد الاحکام:٣/ ٣٧٧).

اشکال او جواب:

اشکال: پر بيع السرطان (د چنګاښ پر بيعه) يو اشکال وارديږي هغه دا چي په يوه حديث شريف کي نبي کريم ﷺ له بيع السرطان څخه منعه فرمايلې ده د دې څه جواب کېدای سي.

الجواب: حافظ ابن حجر رحمه الله د دې حديث په اړه فرمايي: «لم أجده» .(الدراية:٤/ ٢٤٢، كتاب الذبائع).

او علامه زيلعی په نصب الرايه کي وايي: «غريب جداً» **لهذا دا حديث ضعيف او قابل د اعتماد نه دئ. والله تعالى اعلم.**

د انټرنيټ په واسطه د تجارت حکم

سوال: که يو شخص د انټرنيټ په واسطه کار وبار کوي اوس چي ثمن د ده پر نامه درج کړل سي دا يې قبضه تسليم کېدای سي او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي چي کله ثمن د بائع اکاونټ ته منتقل سي او د مسيج په ذريعه بايع ته اطلاع ورکړل سوه دا قبضه شمارل کيږي ځکه قبض بالبراجم شرط نه ده تخلي کافي ده

Maktaba Tul Ishaat.com

له دې وجې چې قبضه ودې ته وايي چې د دوهم کس په اجازه سره په يو شی کي قدرت پر تصرف حاصل سي يعنی د يو بل کس په اجازه سره پر يو شی قدرت د تصرف حاصلول دا قبضه بلل کيږي.

په ردالمحتار کي راځي:

أن التخلية قبض حكماً لو مع القدرة عليه بلا كلفة لكن ذلك يختلف بحسب حال المبيع، ففي نحو حنطة في بيت مثلاً فدفع المفتاح إذا أمكنه الفتح بلا كلفة قبض، وفي نحو دار فالقدرة على إغلاقها قبض أي بأن تكون في البلد فيما يظهر، وفي نحو بقر في مرعى فكونه بحيث يرى ويشار إليه قبض وفي نحو ثوب، فكونه بحيث لو مد يده تصل إليه قبض وفي نحو فرس أو طير في بيت إمكان أخذه منه بلا معين قبض. (رد المحتار:٤/ ٥٦٢، مطلب فی شروط التخلية، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما تفسير التسليم ، والقبض فالتسليم ، والقبض عندنا هو التخلية ، والتخلي وهو أن يخلي البائع بين المبيع وبين المشتري برفع الحائل بينهما على وجهٍ يتمكن المشتري من التصرف فيه فيجعل البائع مسلمًا للمبيع ، والمشتري قابضًا له ، وكذا تسليم الثمن من المشتري إلى البائع. (بدائع الصنائع:٥/ ٢٤٤، فی حکم البيع، كتاب البيوع، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

ولو وهب لرجلٍ ثيابًا في صندوقٍ مقفلٍ ودفع إليه الصندوق لم يكن قبضًا وإن كان الصندوق مفتوحًا كان قبضًا لأنه يمكنه القبض كذا في المحيط. (البحر الرائق:٧/ ٢٨٦، كتاب الهبة، كوئته – وكذا فی محيط البرهاني:٧/ ١٦٩، الفصل الثاني فيما يجوز فی الهبة ومالايجوز).

وفي الدر المختار: والتكمن من القبض كالقبض فلو وهب لرجل ثياباً في صندوق مقفل....الخ. (الدر المختار:٥/ ٦٩٠، كتاب الهبة، سعيد).

په معاییر شرعیه نومي کتاب کي راځي، چي ۲۷ ارباب فتوی محققینو علماء مرتب کړې ده راځي:

إن كيفية قبض الأشياء تختلف بحسب حالها واختلاف الأعراف فيما يكون قبضاً لها، فكما يكون القبض حسياً في حالة الأخذ باليد أو النقل أو التحويل إلى حوزة القابض أو وكيله يتحقق أيضاً اعتباراً وحكماً بالتخلية مع التمكين من التصرف، ولو لم يوجد القبض حسياً، فقبض العقار يكون بالتخلية وتمكين اليد من التصرف، فإن لم يتمكن المشتري من المبيع فلا تعتبر اليخلية قبضاً، أما المنقول فقبضة بحسب طبيعته. (المعايير الشرعيه، ص ۱۲۲).

له دې عبارتو څخه معلومیږي چي د چا لاس ته رقم داسي منتقل کول چي هغه کولای سي تجارت په وکړي نو دا حکمي قبضه ده.

په عطر هدایه کي راځي:

قبضه: یعنی د کوم بل کس په اجازه سره پر یو شي د تصرف قدرت حاصلول دې ته قبضه ویل کیږي او که دا قدرت د مالک له اجازې څخه تر لاسه سوی وي او یا د شرعي حق له کبله تر لاسه سوی وي ودې ته قبضه جائز ویل کیږي. (عطر هدایه:۸۸).

په اسلام اور جدید معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

د امام ابو حنیفه رحمه الله په مسلک کي حسي قبضه ضروري نه ده بلکي صرف تخلیة کافي ده د تخلیې معنی دا ده چي مشتري ته پر دې قدرت ورکړل سي چي هغه څه وخت وغواړي او مبیع لاس ته راوړي یعنی د مبیعې په تر لاسه کولو کي به کوم مانع نه رامنځ ته کیږي مثلاً یو بکس دي په هغه کي څو ډولونه شیان دي بائع مشتري ته کیلي تسلیم کړه اوس د مشتري خوښه ده که شیان اخلي او که نه، اوس چي کله کیلي ورکړل سوه نو قبضه متحققه سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام بخاري رحمه الله په دې ځای کې د امام صاحب مسلک غوره کړی دئ او د حضرت جابر رضي الله عنه واقعه يې موصولا روايت کړې دئ چې د حضرت جابر رضي الله عنه څخه رسول الله ﷺ اوښ واخست او حضرت جابر رضي الله عنه پر هغه اوښ تر مدينې منورې سفر وکړ حضرت جابر رضي الله عنه له هغه اوښ څخه نه دئ کښته سوی مګر تخليه متحقق سوه. امام بخاري رحمه الله فرمايي چې له دې واقعې څخه معلومه سوه چې تخليې څخه قبضه راغله.(اسلام اور جديد معاشی مسائل:۲/ ۹۹ -۱۰۰).

په اهم فقهی قيصی نومي کتاب کې راغلی دي:

الف _ پر انټرنيټ هم بيع منعقده ګرځي که چيري عاقدين په يوه وخت کي موجود وه او تر ايجاب وروسته فوراً قبول ښکاره کړل سي نو په داسي صورت کي عاقدين متحد المجلس ګڼل کيږي.

باء _ که پر انټرنيټ يو کس د بيع درخواست وړاندي کړ او دوم نفر هم په دې وخت کي پر انټرنيټ حاضر نه وو او وروسته هغه ته پيغام ورسېدئ چي فلاني کس د بيعي وړانديزي کړی دئ په دې صورت کي د تحرير او کتابت په واسطه بيعه صحيح کيږي او هر وخت چي دوهم شخص دا وړانديز ولولي هغه وخت د هغه له جانب څخه د قبوليت اظهار ضروري ګرځي. والله تعالیٰ اعلم.

د عقد RCS حکم څه دئ؟

سوال: د RCS عقد روا دئ او که نه، د RCS حقيقت په لاندي ډول دئ:

مشتري په قرض سامان رانيول غواړي نو بايع و هغه ته وايي چي يو کمپنۍ rcs تا ته سامان دراخلي لکه دوکاندار چي د شيانو د نومونو يو لست مشتري ته ورکوي مشتري هغه لست يا پارم ټکمارک کوي او کمپنۍ ته يې استوي اوس که کمپنۍ درخواست منظور کړ بيا rcs کمپنۍ مشتري ته يو کارډ ورکوي د هغه کارډ په ذريعه مشتري سامان رانيسي کمپنۍ پر همدې سودا (مخامخ) دوکاندار ته پيسې ورکوي او مشتري تر درو مياشتو پوري کوم سودي رقم نه وصول کوي او مشتري به کمپنۍ ته دا پيسې ورکوي.

اوس سوال: دا دئ چي دوکاندار ته د دې سروس يا شيانو يا داسي رانيونه روا ده او که نه؟

الجواب: په ياده سوې مسئله كي كه داسي وي چي كمپنۍ له دوكاندار څخه شى رانيسي او بيا يې په لوړ قيمت ومشتري ته وركوي يعنى ضرورت مند ته هغه سامان په داسي قيمت وركړي چي د دوكاندار تر قيمت لوړ وي. مطلب دا چي كمپنۍ له پوره سره خپل سامان په لوړ قيمت وركړي نو دا معامله روا ده مګر په دې صورت كي دا سوال واردېږي چي كمپنۍ يا د كمپنۍ مالك پر دې مال قبضه نه ده كړې هغه څنګه كولاى سي دا مال تر قبضي وړاندي خرڅ كړي او د شى خرڅېدل تر قبضى وړاندي څنګه روا كېداى سي؟

د دې صورت د جواز دوه صورته كېداى سي:

۱_ دا چي كمپنۍ دوكاندار له خپله طرفه وكيل بالقبض جوړ كړي يعنى مالك دي ووايي چي كوم شى چي موږ ستا څخه رانيسو ته زموږ له طرفه وكيل بالقبض يې او وروسته دا شى و حاجتمند ته په دومره قيمت وركوه.

وګوري په بدائع الصنائع كي راځي:

ولو اشترى من إنسانٍ كرا بعينه ، ودفع غرائره ، وأمره بأن يكيل فيها ففعل صار قابضًا سواء كان المشتري حاضرًا ، أو غائبًا ؛ لأن المعقود عليه معين ، وقد ملكه المشتري بنفس العقد فصح أمر المشتري ؛ لأنه تناول عينًا هو ملكه فصح أمره ، وصار البائع ، وكيلًا له ، وصارت يده يد المشتري . (بدائع الصنائع:۵/ ۲۴۷، فصل فى حكم البيع، سعيد).

په دې صورت كي دا سوال نه كيږي چي يو كس څنګه بايع او مشتري كېدلاى سي ځكه چي دوكاندار وكيل بالقبض دئ نه وكيل بالشراء.

۲_ صورت دا دئ چي مشتري وكيل بالقبض وګرځوي، په دې صورت كي دا اشكال واردېږي چي د مشتري لومړى قبضه قبضه د امانت ده او دوهمه قبضه يې د شراء قضبه ده چي قبضه د معاوضې يا قبضه د ضمان هم ورته وايي او د فقهاوو په نزد قبضه د امانت د قبض ضمان قائم مقام نه سي كېداى؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: د قبض امانت قائم مقام کېدل د قبض ضمان کومه حرامه خبره نه ده بلکې د فقهاوو مطلب دا دئ چې که چېرې تر تصرف وړاندې هلاک سي نو تاوان پر مشتري نه دئ بلکې تاوان پر کمپنۍ دئ البته تر تصرف وروسته قبض امانت په خپله قبض د ضمان ګرځي او مشتري ذمه وار ګرځي او دا شرط چې که تر درو میاشتو دومره پیسې ادا نه کړل سي نو دومره رقم زائد اخستل کیږي دا سودي معامله ده او قرض په شرط فاسد نه فاسدیږي.

په بحر الرائق کې راځي:

وما لا يبطل بالشرط الفاسد القرض .... بأن قال أقرضتك هذه المائة بشرط أن تخدمني شهرًا مثلًا فإنه لا يبطل بهذا الشرط وذلك ؛ لأن الشروط الفاسدة من باب الربا وأنه يختص بالمبادلة المالية، وهذه العقود كلها ليست بمعاوضةٍ ماليةٍ فلا تؤثر فيها الشروط الفاسدة، ذكره العيني .... وفي البزازية: وتعليق القرض حرام والشرط لا يلزم .(البحر الرائق:٦/ ١٨٧، باب المتفرقات من كتاب البيوع، كوئته _ وكذا في تبيين الحقائق:٤/ ١٣٣ - والفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية:٤/ ٤٢٦).

لهذا باید په درې میاشتې کې پیسې ادا کړل سي که په درو میاشتو کې ادا نه کړل سي پر هغه اصلي سودي زائد رقم اخستل سخته ګناه ده مګر که چېرې داسي معاهده په غلطۍ سره وکړل سي بیا مشتري لازماً باید له سود څخه ځان وژغوري او په درو میاشتې کې رقم ادا کول ضروري دي یعنې دوکاندار ته په کار ده چې سودي رقم د وصول کولو څخه ځان وساتي او د مشتري او کمپنۍ په منځ کې که کومه سودي معامله وي نو دوکاندار ته لازمه ده چې له داسي سودې معاملې څخه ځان وژغوري. دا هم کېدای سي چې کمپنۍ له بایع او مشتري څخه پرته بل کوم کس وکیل با القبض وټاکی. والله تعالیٰ اعلم.

د تور رنګ د خرڅولو حکم

سوال: یو شخص تور رنګ جوړ وي او بیا یې خرڅوي ایا دا روا دي او که نه؟ دا سوال ځکه کیږي چي د تور رنګ استعمال ناروا دئ؟

الجواب: د تجارت د جواز او عدم جواز له پاره د شریعت مطهره اصول دا دي چي د کوم شي روا استعمال ممکن وي د هغه رانیول او خرڅول روا دي او د کوم شي چي روا استعمال ممکن نه وي بلکي صرف او صرف په معصیت کي استعمالیږي نو د هغه تجارت مصعیت دئ، بناء پر دې اصل د تور رنګ استعمال په روا مواقعو کي هم کېدای سي مثلاً په جهاد کي یو مجاهد پر کفارو د رعب په سبب تور رنګ استعمال کي یعنی چي هغه قوی او ځوان معلوم او ښکاره سي همدارنګه هغه بوډا یا سپین ږیري کس چي د هغه زوجه ځوانه وي د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد کولای سي چي تور خضاب ولګوي.

همدارنګه د کوم ځوان شخص ورېښتان چي د کوم عارض یا مرض په سبب تر وخت مخکي سپین سوی وي د عیب د لیري کولو په خاطر کولای سي تور خضاب استعمال کړي او ورته روا ده.

حضرت مولانا ظفر احمد رحمه الله فرمایي:

د تجارت له پاره تور خضاب جوړول او خرڅول روا دي.

لأن الحرمة ليست بقائمة بعينه وإنما الحرمة في الاستعمال إذا استعمله خادعاً ومن شاب قبل أو ان المشيب أو خضب لارهاب العدو في الحرب يجوز له الخضاب بالسواد كما صرح به في الهندية وغيرها. (امداد الاحکام:۳/ ۳۷۶).

په محیط برهاني کي راځي:

وأما الخضاب بالسواد: فمن فعل ذلك من الغزاة ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود منه، اتفق عليه المشايخ، ومن فعل ذلك ليزين نفسه للنساء، وليحبب نفسه إليهن فذلك مكروه عليه عامة المشايخ، وبنحوه ورد الأثر عن عمر رضي الله عنه، وبعضهم جوزوا ذلك من غير

Maktaba Tul Ishaat.com

كراهية، روي عن أبي يوسف رحمه الله أنه قال: كما يعجبني أن تتزين لي يعجبها أن أتزين لها، هذه الجملة من شرح «السير الكبير». (المحيط البرهاني:٦/ ١٢٢، فصل فی الزينة، رشيدية).

وفي فتاوي الشامي: قوله ويكره بالسواد، أي لغير الحرب، قال في الذخيرة: أما الخضاب بالسواد للغزو، ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود بالاتفاق.... الخ. (الشامی:٦/ ٤٢٢، كتاب الكراهية، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

تور خضاب (تور رنګ) تیارول او خرڅول جایز دي ځکه چي د هغه د جواز له پاره یو محل موجود دئ یعنی پر دښمن د هیبت اچولو په خاطر د غازي له پاره روا ده لهذا د هغه جوړول او خرڅول خلاف اولی ده مګر پر داسي شخص خرڅول چي د هغه په اړه یقین وي چي ناجایز یې استعمالوي روا نه دي. (احسن الفتاوی:٨/ ٣٧٥).

په اسلام اور جدید معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

د بیعي په اړه دا اصول دي، چي د کوم شي روا استعمال ممکن وي د هغه بیعه هم روا ده که څه هم هغه شی عام ډول په ناروا کارو کي استعمالیږي یعنی اوس د مشتري کار دئ چي په روا کار کي یې استعمالوي او که په ناروا کار کي؟ حضرت عائشې رضی الله عنها چي کومه جامه یا رخت رانیوئ پر هغه تصویر وو نبي کریم ﷺ ناخوښي څرګنده کړه مګر د بیعي د فسخي حکم یې نه دئ ورکړي معلوم سوه چي بیعه ناروا نه ده او وروسته حضرت عائشې رضی الله عنها له هغه تو کر څخه د بالښته پوښ جوړ کړ هغه هم د نبي کریم ﷺ په اشاره او په هغه کي استعمال سو. والله تعالی اعلم.

د عقد د اتمام له پاره د دولتي کاغذونو حکم

سوال: یو کال مخکي یو شخص خپله ځمکه پر کومه بل کس خرڅه کړه مګر دیوه کال تر تېرېدلو پوري په ښاروالی کي کاغذات د مشتري پر نامه نه دي جمع سوي، چي د دې مطلب دا کیږي چي ځمکه تر اوسه د بایع ملکیت بلل کیږي شرعاً د ځمکي مالک څوک بلل کیږي؟ همدا ډول د ځمکي اخراجات لکه اوبه، برق ساتنه، پر بایع او که پر مشتري دي؟

الجواب: په شريعت مطهره کي چي کله د طرفينو په رضايت سره ايجاب او قبول راسي دا عقد تامېدل دي او د مشتري په قبضې سره د مبيعې د ټول مالها وماعليها ذمدار ګرځي او په دولتي کاغذاتو کي چي د هر چا نوم ليکلي وي هغه ته اعتبار نسته.

وګورئ په هدايه کي راځي:

البيع ينعقد بالإيجاب والقبول.... وإذا حصل الإيجاب والقبول لزم البيع. (الهداية:۳/ ۲۰).

په بدائع الصنائع کي راځي:

المبيع إنما يدخل في ضمان المشتري بالقبض .... لأن المبيع خرج عن ضمان البائع بقبض المشترى فتقرر عليه الثمن. (بدائع الصنائع:۵/ ۲٤۰ -۲٤۱، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

الغرم بالغنم أى من ينال نفع شيء يتحمل ضرره. (شرح المجلة للبنانى:۱/ ۵۸، المادة ۸۷).

په بدائع الصنائع کي بل ځاى راځي:

وأما تفسير التسليم ، هو التخلية ، والتخلي وهو أن يخلي البائع بين المبيع وبين المشتري برفع الحائل بينهما على وجهٍ يتمكن المشتري من التصرف فيه فيجعل البائع مسلمًا للمبيع ، والمشتري قابضًا له ..... ولهذا يدخل المبيع فى ضمان المشتري بالتخلية نفسها بلاخلاف. (بدائع الصنائع:۵/ ۲٤٤، سعيد).

په امداد المفتين کي راځي:

په ښار والي يا دولتي کاغذاتو کي د نامه درج کولو په وجه شرعاً څوک ديو شي مالک نه ګرځي او نه چا ته ديوه شي ملکيت ثابتيږي نو لهذا تر څو چي د مالک رضايت او د مشتري قبضه حقيقتاً يا حکماً ثابته نه سي څوک د شي مالک نه سي ګرځېدلای. والله تعالیٰ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د سګرېټ د خرڅولو حکم

سوال: يو شخص د تجارت د سامان سره په څنګ کي سګرېټ هم خرڅوي ايا دا ورا دي او که نه؟ همدارنګه هغه پيسې چي د سګرېټو د رانيولو او خرڅولو څخه لاس ته راځي حلالي دي او که حرامي؟ همدا ډول د سګرېټ څکولو حکم څه دئ؟

الجواب: په اوسني عصر کي د روغتيا پوهانون پر دې اتفاق دئ چي سګرېټ څکول جسم ته مضر او ضرر رسونکی شی دئ لهذا په مخکنی زمانه کي هم علماوو سګرېټ څکول مکروه بللی وه، له همدې کبله د سګرېټو تجارت هم مکروه دئ او د هغه څخه اجتناب کول په کار دي.

البته له هغو څخه لاسه ته سوی پيسې حلالي دي او حرامي نه ورته ويل کيږي او د سګرېټ څکولو پر کراهت باندي علماوو کافی دلائل ذکر کړي دي چي څه يې لاندي ډول دي.

۱ _ په دې کي مال ضائع کول دي ځکه چي نه د ماکولاتو څخه دي او نه د مشروباتو څخه او نه هم د جسم کومه فائده د هغو سره تړلې بلکي نقصان دئ او اسراف او فضول خرڅي ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿ وكلوا واشربوا ولا تسرفوا ﴾. (سورة الاعراف، الآية:۳۱).

بل ځای کي فرمايي: ﴿ ولا تبذر تبذيرًا (۲٦) إن المبذرين كانوا إخوان الشياطين وكان الشيطان لربه كفورًا ﴾. (سورة بنی اسرائيل، الآية:۲٦-۲۷).

نبي كريم ﷺ فرمايي: « إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات ومنعاً وهات ووأد البنات وكره لكم قيل وقال وكثرة السؤال وإضاعة المال » . (صحيح البخاری:۲/ ۸۸٤، باب عقوق الوالدين).

۲ _ د جسمي صحت د بربادولو له پاره لوی سبب دئ، نن سبا روغتيا پوهان پر دې خبره متفق دي چي سګرېټ د صحت له پاره مضر تماميږي چي څه زيانونه يې په لاندي ډول دي:

په ګجرات کي يوه ورځ پاڼه خپريږي يې نوم يې (سنديش) دئ د هغې ورځ پاڼې د بيان سره سم د سګرېټ او بيړی له يوه کش سره لس لکه مکروبونه و بدن ته داخليږي او د انسان پر کلمو، د غذا لاره او داسي نورو دفاعي سستمونو قابض ګرځي او پر هغو مهلک اثرات اچول شروع کوي او په عام ډول

په تمباکوو کښې سوې زهریله شیان وي او هغه د سرطان د ناروغۍ چې کنسر هم ورته ویل کیږي سبب ګرځي. صرف سرطان نه بلکې د وینې ډېري ناروغۍ له دې څخه سرچینه اخلي همدارنګه د ساه بندۍ ناروغی او د نس ناروغۍ له دې څخه پیدا کیږي.

لنډه دا ده چې د سګرېټ او بیړیو څکول خپل ځان د مرګ کومي ته کشول یا کم تر کم ځان د ناروغیو ډیران ته ورغورځول دي. (سندیش: ص:۷، تاریخ: ۲۵/ ۱/ ۲۰۱۰).

التقدم العلمي:

د صحت د نړۍ والي اداري W.H.O په حواله سره لیکي چې هر کال په دنیا کې کم تر کمه ځلوېښت لکه نفر له سګرېټ او بیړۍ څکولو څخه مري.

د دنیا مشهورو او لویو تحقیقاتو ادارو او تجربو ثابته کړې چې په سګرېټو او نورو شیانو کې چې کوم ۴۷۰۰ مهلک اجزاء راځي له هغو څخه ۴۳ اجزاء داسي دي چې هغه سل سلنه د سرطان سبب جوړیږي چې له هغو څخه ځیني په لاندي دول دي:

۱_ نیکوټین. له دې څخه د تنفس ناروغۍ، دماغ او زړه کې ضعف راځي.

۲_ اکسد کربون. کوم چې د ډېرو مفاسدو حامل دئ.

۳_ زرنیج. د هغه شی دئ چې د (مځکینو حیواناتو د مړه کولو له پاره استعمالیږي مځکینو حیواناتو لکه چنجي، مار او لړم اونور).

۴_ کارمیون. چې په زهریله موادو لړلی شی دئ چې په عام ډول په بیړیو کې استعمالیږي.

۵_ فوز مالوهید. د مړ سوو اجسادو د تعفن څخه د بچ کولو له پاره استعمالیږي.

۶_ D.D.T دچنجو او نورو حشراتو د مړه کولو دوا.

۷_ امونیا. دا د مځکې او فرش او ټائلس د پاکولو له پاره استعمالیږي.

۸_ استیون. د رنګ ناخون پالش لیره کولو او صافولو له پاره استعمالیږي.

۹_ تولوین. په کمپنیو کې د ماشینونو د صفایي له پاره کار ورڅخه اخستل کیږي.

۱۰_ میتا تول. دا د باردو اجزاء دي چې په پټاکي (د کوچنیانو له پاره چې کوم بارو دي انفجار کونکي ټکان جوړیږي) په هغو کې استعمالیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱_ سیائید هیډرو. دا هم یو انتهایي زهري ماده ده.

د دې یادو مهلکو اجزاوو څخه صرف سګرېټ او بېړی څکولو والا ته نقصان نه رسیږي بلکې د دوی په اطرافو کې چې څوک موجود وي هغوی ته هم سخت نقصان په ځانګړي ډول وهغه جنین (هغه کوچنی ته چې د مور په نس کې وي) حتی چې ځیني وختونه د حمل د اسقاط سبب ګرځي ځیني وختونه جنین مړ او یا کم وزن پیدا سي یا داوي چې کوږ ووږ پیدا سي یا داوي چې کوچنی له مهلکو ناروغیو سره پیدا سي په هر حال پر جنین او کوچینیانو یعنی هغه کوچنیانو چې شیدې خوړونکی وي او کم عمره کوچنیانو له پاره انتهایي خطر ناک او مضر تمامیږي. (التقدم العلمی عدد:٦٨ فروری:۲۰۱۰).

دا د سګرېټ او نورو نشې توکو نقصانات وو. (ماهنامه الفاروق:صـ٥٦-٥٧، ذولحجة، ۱۴۳۱، طب او صحت سګرېټ څکول د مرګ وطرف ته وړاندي کېدل دي له مولانا حذیفه دستانوی څخه).

په حدیث شریف کې راځي: « لا ضرر ولا ضرار». (رواه ابن ماجة والدار قطني عن ابی سعید الخدری، وابن عباس وعبادة بن الصامت ﷺ مسنداً و مالک فی المؤطا مرسلاً). چې د دې یوه معنی دا ده. « لاضرر ابتداءً ولا ضرر للغیر انتقاماً وانتصاراً، فمن ذبح شاتک فلا تذبح شاته بل خذمنه القیمة» دوهمه معنی یې دا وه. :« لاضرر أی لاتنقص حق الغیر ولا ضرار أی لاتدخل ضرراً زائداً فی المجازات». درېیمه معنی یې دا ده « لاضرر لنفسک ولا ضرار للغیر». درېیمه معنی په دې ځای کې مقصد وه.

الله تعالی فرمایي: ﴿ ولا تقتلوا أنفسکم ﴾(سورة النساء:الآیة:۲۹). خپل ځانونه خپله مه قتل کوئ. معلومه سوه چې د هلاکت اسباب اختیارول هم صحیح نه دي.

بل ځای کې ارشاد دئ: ﴿ ولا تلقوا بأیدیکم إلی التهلکة ﴾. (سورة الاعراف، الآیة:۱۵۷).

۳_ خرابي یې دا ده چې د دوی بدبویي مضره او د نفرت وړ ده.

الله تعالی فرمایي: ﴿ ویحرم علیهم الخبائث ﴾. (سورة الاعراف، الایة:۱۵۷).

د دوی خباثت یقینی نه دي لهذا حرام نه ورته ویل کیږي مګر له کراهیت څخه خالي هم نه دئ.
ځیني حضرات وایي چې دوی مسکر او مفتر دي لهذا روا نه ده مګر محققین علماء د هغه په مسکر والی او مفتر والی کې شبه لري او فرمایي:

« الإسكار غيبوبة العقل مع حركة الأعضاء والتخدير غيبوبة العقل مع فتور الأعضاء»

اسکار د عقل هغه خرابي ده چې اعضاء حرکت کوي او تحذیر د عقل غائب والی دئ چې اعضاء سست او ساکت درانه سي مګر ډاکټرانو دوی د تنفس د لارو معده او کلمو د سرطان سبب بللی همدارنګه پښتورګي، د زړه د امراضو او د دید د کمزور والی سبب جوړیږي لکه چې بیان مو کړه.
حضرت مولانا عبد الرحیم لاجپوري رحمة الله عليه لیکلي دي:
کراهت که تحریمی وي یا تنزیهی د پرهېښولو وړ دي، د دې عادت نه جوړول په کار دي، د دې ډېر والی د اسراف سبب او موجب د ګناه دي ځوک چې د هغو هر وخت عادي وي د هغه خوله همېشه بدبویه وي او دا هغه شی دئ چې د انحضرت ﷺ له هغه څخه ډېر نفرت وو.
حضرت مولانا عبد الوحد مکي، د سګریټو په ممانعت کې یو رساله لیکلې ده د هغه په اخیر کې د حضرت مولانا عاشق الهی بلند شهری مدنی رحمة الله عليه چې د دار العلوم کراچې مخکنی مفتي وو د تقریظ الفاظ راوړي چې په لاندي ډول دي:
په اوسنیو حالاتو کې چې د سګریټو ضررونه ښکاره سول ډاکټرانو د هغو اقرار وکړ یعنی چې دا مضر دي او د دوی ضررونه پېژندل سوی دي او د ډاکټرانو دې تحقیق خاوندانو د فتوی ته جرائت ورکړ چې فتوی جاري کړي او امت ته لازمه ده چې له دې بدبویي او ضررونو او په دې سلسله کې له اسراف او تبذیر څخه ځان وژغوري ټول حضرات په دې کې باید غور وکړي.
د سګریټ څکولو دا ضرارو په وجه د حرمت د فتوی په ورکولو کې څه تامل نه سته د حضرت مولانا د حرمت فتوی خو د بنده په فکر کې نه راځي. زموږ په خیال د کراهیت فتوی مناسب معلومیږي.
لنډه دا چې تجارت یې مکروه خو ګټه یې حلاله ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

په در مختار کي راځي:

وصح بيع غير الخمر مما مر ومفاده صحة بيع الحشيشة والأفيون.وفى الشامية: قوله وصح بيع غير الخمر أي عنده خلافاً لهما في البيع والضمان، لكن الفتوى على قوله في البيع وعلى قولهما في الضمان .... قوله ومفاده أي مفاد التقييد بغير الخمر ولا شك في ذلك لأنهما دون الخمر وليسا فوق الأشربة المحرمة فصحة بيعها يفيد صحة بيعها فافهم .(الدر المختار مع ردالمحتار:٦/ ٤٥٤، كتاب الاشربة، سعيد).

وفي الشامية: نظمه الشرنبلالي فى شرحه على الوهبانية بقوله ويمنع من بيع الدخان وشربه وشاربه فى الصوم لاشک يفطر. (فتاوى الشامى:٢/ ٣٩٥، باب مايفسد الصوم ومالايفسده، سعيد).

وفى الدر المختار: قال شيخنا النجم: والتتن الذي حدث وكان حدوثه بدمشق في سنة خمسة عشر بعد الألف يدعى شاربه أنه لا يسكر وإن سلم له فإنه مفتر، وفى الشامية: قوله والتتن، أقول: قد اضطربت آراء العلماء فيه فبعضهم قال بكراهته، وبعضهم قال بحرمته، وبعضهم بإباحته، وأفردوه بالتاليف، وفي شرح الوهبانية للشرنبلالى: ويمنع من بيع الدخان وشربه. ... (الدر المختار مع ردالمحتار:٦/ ٤٥٩، كتاب لاشربة – وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص ٦٦٥، قديمى).

په کفايت المفتي کي راځي:

د سګرېټو او تمباکو تجارت روا دئ او د هغو ګټه چي لاس ته راځي حلاله ده. (كفايت المفتى:٩/ ١٤٨).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

سګرېټ او بیړی د صحت خرابونکی دي لهذا کم تر کم له کراهیت څخه خالي نه دي. والله ﷻ اعلم.

د تابوت (Coffim) د بیعي حکم

سوال: د تابوت تجارت روا دئ او که نه، همدارنګه پر کفارو د تابوت خرڅول څه حکم لري؟

الجواب: د تابوت استعمال که څه هم په عام حالاتو کي د مسلمان له پاره مکروه او نامناسب دئ مګر د ضرورت په وخت کي روا او درست دي مګر پر کفارو یې د خرڅولو ګنجائش سته ځکه چي هغوی په فروعو مکلف نه دي او دغه تجارت روا او صحیح دئ.

وګورئ په مبسوط کي راځي:

وكان الشيخ الإمام أبو بكرٍ محمد بن الفضل رحمه الله يقول: لا بأس به في ديارنا لرخاوة الأرض وكان يجوز استعمال رفوف الخشب واتخاذ التابوت للميت حتى قالوا: لو اتخذوا تابوتًا من حديدٍ لم أر به بأسًا في هذه الديار. (المبسوط للامام السرخسی: ۲/ ۶۲، باب غسل الميت —وكذا في بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع: ۱/ ۳۱۸، فصل فی الدفن، سعيد).

وفی تبيين الحقائق: وإذا كانت الأرض رخوةً فلا بأس بالشق واتخاذ التابوت من حجرٍ أو حديدٍ ويفرش فيه التراب. (تبيين الحقائق: ۱/ ۲٤٥، باب الجنائز، ملتان).

وفی الدر المختار: ولابأس باتخاذ تابوت ولومن حجر أو حديد له عند الحاجة كرخاوة الأرض. وفی الشامية: قال في الحلية عن الغاية: ويكون التابوت من رأس المال إذا كانت الأرض رخوة أو ندية مع كون التابوت في غيرها مكروها في قول العلماء قاطبة .... (قوله له) أي للميت كما في البحر أو للرجل، ومفهومه أنه لا بأس به للمرأة مطلقاً، وبه صرح في شرح المنية فقال: وفي المحيط واستحسن مشايخنا اتخاذ التابوت للنساء يعني ولو لم تكن

Maktaba Tul Ishaat.com

الأرض رخوة فإنه أقرب إلى الستر والتحرز عن مسها عند الوضع في القبر . (الدر المختار مع رد المحتار:٢/ ٢٣٤، مطلب فی دفن الميت، سعيد).

وفی الدر المختار: والحاصل أن جواز البيع يدور مع حل الانتفاع. (الدر المختار:٥/ ٦٩، سعيد).

حضرت مولانا خالد سيف الله په حلال او حرام نومي کتاب کي ليکلي:

د شی د بيعي په جواز او عدم جواز کي خاص تعلق د هغه تر قابل انتفاع او عدم انتفاع پوري مهم دئ د کومو شيانو چي له کتاب او سنت څخه د رانيولو او خرڅولو ممانعت ثابت نه وي او هغه په يو زمانه کي قابل انتفاع وګرځيږي فقهاوو د هغه خرڅول او رانيول روا بللي دي . (حلال او حرام: ص ٣٥٥). والله تعالیٰ اعلم.

د نيکټايي د خرڅولو حکم

سوال: د نيکټايي خرڅول روا دي او که نه؟ او له هغه څخه لاس ته سوی پيسې حلالي دي او که نه؟

الجواب: نيکټايي د کفارو او فاسقانو د استعمال شی دئ او د هغه تجارت مکروه دئ، د هغه له خرڅولو اجتناب کول په کار دي البته حاصل سوو پيسو ته يې حرام نه ويل کيږي.

لکه په ردالمحتار کي چي راځي:

وفي المحيط: لا يكره بيع الزنانير من النصراني والقلنسوة من المجوسي لأن ذلك إذلال لهما وبيع المكعب المفضض للرجل إن ليلبسه يكره، لأنه إعانة على لبس الحرام وإن كان إسكافا أمره إنسان أن يتخذ له خفا على زي المجوس إو الفسقة أو خياطاً أمره أن يتخذ له ثوباً على زي الفساق يكره له أن يفعل لأن سبب التشبه بالمجوس والفسقة .

(ردالمحتار:٦/ ٣٩٢، فصل فی البيع، سعيد).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

نیکتایي یو وخت د نصارا وو شعار وو، هغه وخت د هغې حکم هم سخت وو، په اوسنۍ زمانه کي غیر نصاری هم په کثرت سره هغه استعمالوي، نو اوس يې په حکم کي هم تخفیف دئ او وهغه ته شرک یا حرام نه سي ویل کېدای.

البته له کراهیت څخه اوس هم خالي نه ده، یو ځای يې کراهیت سخت وي او یو ځای څه تخفیف پکښې راسي په کوم ځای کي چي د نیکتایي استعمال عام وي هلته دي پر منع زور نه اچول کیږي.

البته ځینو حضراتو د عسیانو مذهبي شعار بللی دئ او د ناروا حکم يې باندي کړی دئ.

د فتاوی محمودیې حاشیه وګورئ، لاندنی عبارت پکښې لیکلي دي.

نیکتایي که څه هم اوس په مسلمانه ټولنه کي عامه سوې مګر بیا هم د انګریزي لباس برخه هغه رنګه ده لکه چي وه که څه د انګریزي لباس تصور نه ورباندي کیږي مګر د فساقو او فجارو لباس خو په هر حال دئ لهذا د تشبه بالفساق له وجي ممنوعه بلل کیږي.

دوهمه خبره دا ده چي اهل صلاح هغه نه خوښه وي ځکه چي دا د علماوو او صلحاوو له لباس څخه خلاف ده.

دریيمه خبره دا ده چي له دې څخه پرته په نیکتایي کي یوه بله خرابي هم سته هغه دا چي عیسویان له دې څخه د خپلي عقیدې د حضرت عیسی ﷷ د مصلوب کېدلو ته اشاره کوي چي هغه له قراني نص څخه خلاف ده لهذا د کفارو د مشابهت سره سره د عیسویانو د مذهبي یادګار او مذهبي شعار له وجي د هغې په غاړه کول روا نه دي، البته د ځیني علماوو په اند د هغې په مذهبي شعار او صلیبي نښان کېدلو کي خبري سته.

وعن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: « من تشبه بقوم » أي من شبه نفسه بالكفار مثلًا في اللباس وغيره، أو بالفساق أو الفجار أو بأهل التصوف والصلحاء الأبرار « فهو منهم »

Maktaba Tul Ishaat.com

في الإثم والخير، قال الطيبي رحمه الله: هذا عام في الخلق والخلق والشعارو لما كان الشعار أظهر فى التشبه.... (مرقاة المفاتيح، كتاب اللباس:۷/ ۱۵۵، رشيديه).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

سوال: د هندوانو مذهبي جشن یو اله ده چي د هندوانو په مذهبي رسوماتو کي کار ځني اخیستل کیږي ایا د هغو د جشن پر مهال یې خرڅول روا دي او که نه؟

جواب: د دغو سامانونو خرڅول ګواکی د هندوانو په مذهبي رسوماتو کي تعاون کول دي له دې شخه ځان ساتل په کار دي.

په فتاوی محمودیه کي دي د شریعت مطهر په نزد د کفارو شعارونه کوم د اعزاز شیان نه دي بلکي د اصل وضع په اعتبار په دې شعارونو کي د هغو تذلیل دئ نو موږ وایو چي د دې ډول تجارت شخه ځان ساتل بهتري دي. والله تعالی اعلم.

د ناوکیو د تجارت حکم

سوال: د کوچنیانو انجونو د بازیو کولو له پاره چي کوم مسالیي صورتونه چي د کوچنیانو په اصطلاح او ژبه ناوکی ورته وایي ایا د دې ناوکیو خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: د ناوکیو خرڅول او رانیول چي کله د هغه د بدن غړي لکه سر، سترګي، غوږونه، پزه او داسي نور اعضاء په ښکاره ډول موجود وي ناروا دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

اشترى ثوراً أو فرساً من خزف لأجل استئناس الصبي لا يصح و لا قيمة له . (الدر المختار:۵/ ۲۲۶، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

اشترى ثوراً أو فرساً من خزف لاستئناس الصبي لايصح ولاقيمة له ولايضمن متلفه كذا فى القنية. (الفتاوى الهندية:۳/ ۲۱۵).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

ناوکۍ او د بازۍ کولو نور شیان چي شکل او صورت یې د ذی روح نه وي په دې کي څه مضائقه نه سته، که د جاندار او ذی روح شی تصویرونه وي د هغو جوړول او په کور کي ایښودل منع دي، د کوچنیانو له پاره دې هم نه ایږدي او همدارنګه د داسي صورتونو تجارت دي هم نه کول کیږي.

په ایضاح المسائل کي راځي:

له خاوري، تېوکر او پلاستېک څخه ناوکۍ جوړول او خرڅول چي په هغه کي سر، سترګي، غوږنه، پزه او نور موجود وي دا ټول ناروا دي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د اوسنۍ عصر د ناوکۍ پر جواز دي حدیث د عائشې رضی الله عنها چي په مشکوة المصابیح کي راغلی دئ (دوهم جلد) دلیل جوړ نه سي ځکه چي په هغه کي ډېر احتمالات دي لهذا استدلال په هغه سره نه سي نیول کېدای لکه چي ملا علي قاري رحمه الله فرمایي:

ویحتمل أن یکون مخصوصاً من أحادیث النهي عن اتخاذ الصور، لما ذکر من المصلحة ویحتمل أن یکون قضیة عائشة رضی الله عنها هذه في أول الهجرة قبل تحریم الصورة.

(مرقاة المفاتیح:٦/ ٢٠٦، امدادیه). (فتاوی محمودیه:١٩/ ٥٠١، مبوب ومرتب).

د مشکوة شریف په حاشیه کي دي:

والمراد ههنا ما یلعب به الصبیة من الخرق والرقع ولم یکن لها صور مشخصة کالتصاویر المحرمة. (حاشیة مشکوة شریف:٢/ ٢٨٢، باب عشرة النساء).

په ایضاح المسائل کي راځي:

په حدیث شریف کي چي د حضرت عائشې رضی الله عنها په ناوکیو سره د بازۍ کولو ذکر سوی دئ، هغه د ذی روح تصویر او مجسمې د حرمت تر حکم وړاندي خبره ده یعنی د حرمت حکم هغه وخت نه وو نازل سوی.

بله خبره دا ده چي کله د حرمت حکم نازل سو حضرت عائشې رضی الله عنها ناوکۍ ختم کړې.

Maktaba Tul Ishaat.com

بله خبره دا ده چې د هغو ناوکیو سرونه نه وو او د حرمت حکم د سر له وجې وي.(ایضاح المسائل:ص ۱۵۷).

په عمدة القاري کې راځي:

وجزم ابن الجوزي بأن الرخصة لعائشة رضي الله عنها في ذلك كان قبل التحريم. (عمدة القارى:۱۵/ ۲٦٤، باب الانبساط الى الناس، ملتان). والله تعالیٰ اعلم.

د غیر شرعی لباس د تجارت حکم

سوال: د کالو خرڅول کوم چې غیري شرعی وي، په هغو کې د ښځینه وو جسم ښکاره کیږي اکثراً د هغو لستوني کم وي ایا دا تجارت روا دئ او که نه؟

الجواب: په یاد پوښتل سوي صورت کې د داسې لباس رانیول او خرڅول روا دي، البته اجتناب کول ورځخه اولا او بهتر دي.

په ردالمحتار کې راځي:

وفي المحيط: لا يكره بيع الزنانير من النصراني والقلنسوة من المجوسي لأن ذلك إذلال لهما وبيع المكعب المفضض للرجل إن ليلبسه يكره، لأنه إعانة على لبس الحرام وإن كان إسكافا أمره إنسان أن يتخذ له خفا على زي المجوس إو الفسقة أو خياطاً أمره أن يتخذ له ثوباً على زي الفساق يكره له أن يفعل لأن سبب التشبه بالمجوس والفسقة .

(ردالمحتار:٦/ ٣٩٢، فصل فى البيع، سعيد).

په عالمګیري کې راځي:

بيع الزنار من النصارى والقلنسوة من المجوس لا يكره . (الفتاوى الهندية:٣/ ٢١٠).

په فقهي مقالات کې راځي:

که چیري یو شی یا یو لباس داسې وي چې هغه په روا طریقه سره استعمالیدای سي او په ناروا طریقه سره هم استعمالیدای سي دا ډول لباس یا شی خرڅول او رانیول شرعاً روا دي.

اوس که یو څوک دا شی یا لباس رانیسي او په ناروا ډول یې استعمالوي ګناه په خپله د مشتري او خریدار پر ذمه ده نه د بایع پر ذمه.

په فتاوی محمودیه کې لیکلي دي:

داسي ټوکر خرڅول روا دي خو له داسي تجارت څخه اجتناب کول اولی او بهتر دي.

په محمود الفتاوی کې راځي:

سوال: یو مسلمان خیاط و هندو ته غیر شرعی لباس جوړ وي ایا داسي اجرت حاصلول روا دي او که نه؟

جواب: صحیح دي البته احتیاط کول ورڅخه اولی دي.

په کتاب الفتاوی کې راځي:

داسي ملبوسات د غیر محرم په وړاندي استعمالول ناروا دي مګر ځیني ملبوسات چي د هغو لستوڼي پوره نه وي د محرم په وړاندي په کار اچولو کې ګنجائش سته، البته د خاوند په وړاندي هر رنګه لباس استعمالولای سي لهذا خرڅونکی یې د دې مقصد د تلقین ورکولو له پاره نه پلوري چي بې حجابي روا ده او یا دي د غیر محرم ومخ ته واغوستل سي فی الجمله د ښځو له پاره دومره موقع پیدا کېدای سي چي توانېدلای سي داسي لباس استعمال کړي لهذا هغه پلورنکی ته د داسي ملبوساتو خرڅول روا دي.

البته د نادرسته او ناوړه ارادې په وجه یې خرڅول او رانیول او استعمالول ګناه کول دي. والله ﷻ اعلم.

د تمباکوو کښت او د تجارت کولو حکم یې؟

سوال: د تمباکوو کښت او تجارت روا دئ او که نه؟

الجواب: د تمباکوو کښت او تجارت کول روا دئ که څه هم تمباکو په سګرټو کې استعمالیږي مګر د سګرټو حرمت مسلم نه دئ همدارنګه په غیر مسلم ماحول کې ډېر څکول کیږي، البته ځان ورڅخه ساتل ښه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په ردالمختار کي راځي:

قلت: فيفهم منه « القاعدة: الأصل الإباحة» حكم النبات الذي شاع في زماننا المسمى بالتتن، فتنبه، وقد كرهه شيخنا العمادي في هديته إلحاقاً له بالثوم والبصل بالأولى فتدبر، وفي رد المحتار: قوله فيفهم منه حكم النبات « وهو الإباحة على المختار أو التوقف وفيه إشارة إلى عدم تسليم إسكاره وتفتيره وإضراره، وإلا لم يصح إدخاله تحت القاعدة المذكورة ولذا أمر بالتنبه: قوله وقد كرهه شيخنا العمادي في هديته، أقول: ظاهر كلام العمادي أنه مكروه تحريما ويفسق متعاطيه .... ورد عليه سيدنا عبد الغني في شرح الهدية .... فقول الشارح إلحاقا له بالثوم والبصل فيه نظر ، إذ لا يناسب كلام العمادي ، نعم إلحاقه بما ذكر هو الإنصاف، قال أبو السعود : فتكون الكراهة تنزيهيةً ، والمكروه تنزيهًا يجامع الإباحة، وقال ط : ويؤخذ منه كراهة التحريم في المسجد للنهي الوارد في الثوم والبصل وهو ملحق بهما ، والظاهر كراهة تعاطيه حال القراءة لما فيه من الإخلال بتعظيم كتاب الله تعالى .(الدر المختار مع ردالمحتار:٦/ ٤٦٠، ٤٦١، كتاب الاشربة، سعيد).

وفى الدر المختار: وصح بيع غير الخمر ومفاده صحة بيع الحشيشة والأفيون.وفى الشامية: قوله ومفاده أي مفاد التقييد بغير الخمر، ولا شك في ذلك لأنهما دون الخمر وليسا فوق الأشربة المحرمة فصحة بيعها يفيد صحة بيعها فافهم . (الدر المختار مع ردالمحتار:٦/ ٤٥٤، كتاب الاشربة، سعيد).

په تاليفات رشيديه کي راځي:

د تمباکوو خوړل يعنى نسوار کول او سګرېټ څکول، هغه تمباکو چي د نسوارو په ډول جوړېږي د سګرېټ په شکل څکول کيږي تجارت يې روا ولي خلاف الاولى دئ.

په کفايت المفتی کي راځي:

د تمباکوو تجارت روا دئ او د هغه ګټه او حلاله او روا ده.

په کتاب الفتاوی کي راځي:

د تمباکوو په اړه معتدله او درست رايه دا ده، چي استعمال يې مکروه او کوم شی چي خپله مکروه وي د هغه خرڅول هم مکروه دي لهذا تمباکو خرڅول حرام خو نه مګر له کراهيت څخه خالي هم نه دي.

په فتاوی محموديه کي راځي:

د تمباکوو کښت او تجارت يې روا او استعمال يې روا دئ که هغه نشه درلودونکی وي بيا منع دئ. د يادولو وړ ده چي کله و مسجد ته داخليږي بايد خوله صافه او له بدبويي څخه پر ته داخل سي.

په معلم الفقه کي راځي:

سوال: هغه تمباکو چي د نسوارو، پان او سګرټ په ډول استعماليږي ايا د ګټي حاصلو په غرض يې خرڅولای او رانيولای سي؟

الجواب: صحيح دئ علامه ابراهيم بن حسين رحمه الله چي مشهور په بيري زاده حنيفي مکي سره دي په خپله رساله کي رفع الالتباک فی حکم تعاطي شجرة التنباک کي ليکلي دي:

« أما بيعها وشراؤها فيجوز لإمكان الانتفاع بها في غير الشرب بدليل تقييد الأصحاب عدم الجواز في مثلها بما لاينتفع به»

روا دي ځکه چي له نشي څخه پر ته د نورو منافع له پاره هم استعمالېدلای سي او د جواز دليل يې دا دئ چي د عدم جواز ځانګړ تيا دا ده چي له هغه سره به د انتفاع ملګر تيا نه وي مطلب دا چي عدم جواز مقيد د عدم انتفاع په قيد سره دئ. (معلم الفقه:۲/ ۱۴۲).

بل ځای ليکي:

د تمباکوو تجارت روا دئ مګر څنګه چي يې د چلم د جواز په اړه اختلاف دئ اکثره يې مکروه ګڼي لهذا د نشې تمباکوو خرڅولو او رانيولو څخه پرهيز کول په کار دي. (معلم الفقه:۲/ ۱۴۰).

Maktaba Tul Ishaat.com

د بیعي په اړه اصل دا دئ چي د کوم شی روا استعمال ممکن وي د هغه بیعه روا ده، هغه که عام ډول روا استعمالیږي او که په ناروا شیانو کي استعمالیږي. (اسلام اور جدید معاشی مسائل: ٤/ ٢٧٢). والله تعالیٰ اعلم.

د بلیک مارکیټ د تجارت حکم

سوال: له حکومت څخه په پټه خارجي سامان چي په اوسنی اصطلاح اسمګلنګ یا بلیک مارکیټ ورته ویل کیږي البته زموږ او ستاسو په کندهاری اصطلاح خارجي سامان ورته ویل کیږي داسي تجارت روا دئ او که نه او د داسي خلکو سره معامله کول څنګه ده؟

الجواب: د هر مسلمان له پاره عزت نفس تر هر څه مقدم شی دئ او له قانون څخه خلاف طریقه یا مخالف مال خرڅولو د حکومت له لوري د ذلت اندېښنه ده نو ځکه د داسي تجارت څخه پرهېز کول په کار دي که څه هم فی نفسه تجارت مع الکراهیت روا دئ مګر که چیري په هغه کي دوکه او درواغ وي بیا بالکل ناروا ګرځي.

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

که چیري هغه مال فی نفسه نجس او ممنوع الاستعماله نه وو همدارنګه ممنوع البیع نه وو او له مالک څخه په قیمت اخستل سوی وو د هغه تجارت فی نفسه حلال دئ مګر څنګه چي هغه د حکومت له قانون څخه خلاف دئ او مجرم د سزا او ذلت مستحق وي او خپل ځان په خپله ذلیل کول روا نه دي نو ځکه باید دا معامله اختیار نه کړل سي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

هر هغه څوک چي کوم سامان واخلی هغه د دې سامان مالک ګرځي، هغه د خپل سامان حق دار او په هغه کي خود مختار دئ خپله یې استعمالولای سي او بل چا ته یې هم ورکولای سي او که یې خرڅوي او له دې ملکیت څخه ومال اخستونکی ته د دې مال استعمال روا دي ځکه چي هغه د دې مال مالک جوړ سو دئ مګر کوم څوک چي د کوم حکومت تر قانون لاندي اوسیږي هغه قانوناً د دې قانون پابند دئ یعنی پر هغه د دې قانون پابندي لازمه ده او له هغه څخه مخالفت کول قانوناً غلا ده

کوم چي له هغه شخصه عزت او مال په خطره کي اچول کيږي او خپل عزت او مال په خطره کي اچول له عقلمندی شخصه خلاف ده.

په جدید معاملات کي شرعی احکام نومي کتاب کي راځي:

د سمګلنګ معاملې حقیقت دا دئ چي یو کس حلال مال په شرعی اعتبار له ځان سره واخلي او له کوم خارجي ملک شخصه سفر پیل کي، هغه مال خپل ملک یا له خپله ملکه شخصه بل ملک ته یوسي او په وارد سوي ملک کي د حکومت لخوا پر دې مال بندیز وي اوس چي مال وارد سو له قانونه خلاف ورزی راغله د دې خلاف ورزی په تر سره کولو کي د ډېرو ګناهونو ارتکاب راغلی مثلاً د درواغو ویل، رشوت ورکول، ځان، مال، عزت او ابرو په خطر کي اچول کوم چي په شریعت کي د هغه خیال ساتلو ته ډېره توجه سوې ده او ډېری وختونه جسماني تکلیف، قید او بند واقع کیږي لهذا د حکومت د قانون پابندي کول په کار ده او له داسي کار وبار شخصه ځان ژغورل په کار دي که څه هم اسمګل کړل سوی سامان چي حلال او مباح شیان وي، تجارت یې روا او لاسته سوي حاصل یې روا او کار ور شخصه اخستل روا دي. والله ﷻ اعلم.

د (Fireworks) ټکانو د تجارت حکم

سوال: پټاکیو هغه بارودي ټکان چي د کوچنیانو د ساتیري او بازی کولو له پاره خرڅیږي د دې تجارت روا دئ او که نه؟ حال دا چي په یقیني ډول معلومه ده چي مشتري دغه شیان صرف د اسراف له پاره رانیسي او مال ضائع کوي او اسراف او مال ضائع کول فضول خرچي ده او شرعاً حرام او ناروا ده؟

الجواب: اسراف او فضول خرڅ حرام او ګناه کبیره ده لهذا له هغه شخصه ځان ساتل او توبه کول ضروري او لازمي ده او د ټکانو تجارت فی نفسه مکروه دئ ځکه چي په نفس تجارت کي د مال ضایع نه سته مګر چي کله یې مشتري رانیول کوي معلومه خبره ده چي هغه یې غلط استعمالوي او د شریعت مطهره له اصولو او قواعدو شخصه دا خبره هم ده چي د حکم نسبت و مباشر ته کیږي نه متسبب ته او تاجر صرف د سبب په درجه کي دئ لهذا د معصیت بار د مشتري مباشر پر اوږو دئ.

که څه هم دې وجي داسي تجارت ته حرام یا ناروا نه سو ویلای البته اجتناب کول اولی او بهتر دئ مګر د ټکانو په تجارت کي نن سبا ډېر مفاسد او خرابیاني دي مثلاً:

Maktaba Tul Ishaat.com

۱_ بې ګټې د مال ضایع کول او د مال په ضایع کولو کې مسلم او غیر مسلم دواړه شریک دي ځکه چې په اسلامي ممالکو کې د اخترونو پر موقع مسلمانان دا کار کوي او په غیر مسلم ممالکو کې د تهوار یا نوروز او نورو کې غیری مسلم دا کار کوي بیا په هغه کې په ځینو ممالکو کې مسلمان او کافر مقابله کوي چې نور خطرناک تمامیږي.

۲_ توله فضاء د بارودو له بدبویې څخه بوبویه او ککړه سي.

۳_ اکثر حکومتونه دې ته اجازه هم نه ورکوي بیا دېر ځایه د حکومت د قانون خلاف وي او د دوکی او چل جوړولو ضرورت پیدا سي.

۴_ د دې ټکانو له کبله د خلکو خوب او استراحت ته صدمه او ضرر رسیږي په غوږو کې یې سخت او تیز اوازونه راځي لهذا د دې له تجارت څخه په پوره ډول اجتناب کول په کار دي مګر لاسته راغلو پیسو ته یې حرام نه سي ویل کېدای.

۵_ حیوانات هم ډېر ځیني په تکلیف کیږي کله کله خو حیوان لېوني سي.

په شرح مجله کي راځي:

قد علمت أن من شروط ضمان المتسبب أن لايحل بين السبب والتلف فعل فاعل مختار، واشترط محمد رحمه الله أن يكون ذا عقل.

لو فعل أحد فعلاً يكون سبباً لتلف شيء ثم حال بين ذلك الفعل وبين التلف فعل اختياري يعني لو باشر إتلاف ذلك الشيء شخص أخريكون ذلك الفاعل المباشر الذي هو صاحب الفعل الاختياري ضامناً

إذا اجتمع المباشر والمتسبب أضيف الحكم إلى الباشر. (شرح المجلة للاتاسی: المادة ۹۲۲، ۹۲۵/۴۶۷-۴۷۴).

په شرح القواعد الفقهیه کي راځي:

أن الفاعل هو العلة المؤثرة، والأصل في الأحكام أن تضاف إلى عللها المؤثرة لا إلى أسبابها الموصلة، لأن تلك أقوى وأقرب، إذ المتسبب هو الذي تخلل بين فعله والأثر المترتب عليه، من تلف أو غيره فعل فاعل مختار والمباشر هو الذي يحصل الأثر بفعله من غير أن يتخلل بينهما فعل فاعل مختار، فكان أقرب لإضافة الحكم إليه من المتسبب، قال الرملي في حاشيته على جامع الفصولين (في الفصل ٣٣ صفحة ١٢٤) إذا اجتمع المباشر والمتسبب فالمباشر مقدم كالعلة، وعلة العلة والحكم يضاف إلى العلة لا إلى علة العلة.

شمس الدین قاضي زاده د صاحب د هدایه تر عبارت « من آجر بيتاً ليتخذ فيه بيت نار أو يباع فيه الخمر » **لاندی فرمایی:** إنما صحت عند أبي حنيفة رحمه الله لتخلل فعل فاعل مختار ولأن خطاب التحريم غير نازل في حقه. (نتائج الافكار، تكملة فتح القدير: ١٠/ ٦٠، دار الفكر).

علامه شامي رحمه الله فرمایي:

وعلم من هذا أنه لا يكره بيع ما لم تقم المعصية به كبيع الجارية المغنية والكبش النطوح والحمامة الطيارة والعصير والخشب ممن يتخذ منه المعازف . (فتاوى الشامى: ٦/ ٣٩١، كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع، سعيد).

کتاب الفتاوی کي راځي:

د شریعت د فروعو احکام مخاطب مسلمان دي نه کفار او اکثر د دې ټکانو رانیول او خرڅول غیر مسلم خلک کوي له دې وجي مسلمانانو ته د ټکانو د تجارت کولو ګنجائش سته مګر ځان ورڅخه ساتل بهتر دي. والله تعالی اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د غلا کړل سوی مال د تجارت کولو حکم

سوال: د یو دوکان په اړه یقین یا غالب ګمان دئ چي هلته غلا کړل سوی شیان خرڅیږي ایا له داسي دوکان څخه مال اخستل روا دي او که نه؟ ایا که له کوم کس سره د غلا مال وجود ولري ایا بل کس کولای سي چي دا مال په قیمت رانیسي او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي که یقین یا غالب ګمان وي چي غلا کړل سوی مال خرڅیږي نو له هغه څخه د دې مال رانیول ناروا دي ځکه چي دا ډول مال و اصلي مالک ت... ل ضروري او لازم دي.

وګورئ په مصنف دابن ابی شیبه کي راځي:

حدثنا وكيع ، قال : حدثنا سفيان ، عن مصعب بن محمدٍ ، عن رجلٍ من أهل المدينة ، قال : قال النبي ﷺ : « من اشترى سرقةً، وهو يعلم أنها سرقة ، فقد شرك في عارها وإثمها ».

قال الشيخ محمد عوامة: مصعب بن محمد بن عبد الرحمن العبدري، لابأس به، روى عن أمامة وغيره، لكن شيخه لم يسم، فالإسناد ضعيف به، والحديث عزاه فی المطالب العالية (١٣٤٦) واتحاف الخيرة (٣٦٤٢) إلى ابن عمر رضي الله عنه بمثل إسناد المصنف رحمه الله، وإلى أحمد بن منيع، عن قبيصة عن سفيان، عن مصعب بن ميناء، عن شيخ من الأنصار وزاد البوصيري فی مختصر اتحاف السادة المهرة (٣٢٤٨) عزوه إلى الطبراني أی: مرسلاً، قلت: ذكر ذلک البيهقی فی سننه الكبرى (٥/ ٣٣٦) ورواه الحاكم (٢/ ٣٥) وعن البيهقي (٥/ ٣٣٥) من طريق مسلم بن خالد الزنجی، عن مصعب بن محمد المدنی، عن شرحبيل وقال المنذری فی « الترغيب» (٢/ ٥٤٨) بعد ماعزاه للبيهقی فقط « إسناده محتمل للتحسين ويشبه أن يكون موقوفاً» وهو عند البيهقی فی « الشعب» (٥٥٠٠-٥١١٢) من وجه آخر عن الزنجی

به. (مصنف ابن ابی شیبة مع التعلیق: ۱۱/ ۳۳۷، رقم الحدیث ۲۲۳۹۵، باب من کره شراء السرقة، المجلس العلمی).

ژباړه: نبي کريم ﷺ فرمايي: کوم شخص چي غلا کړل سوی مال رانيسي حال دا چي دی په دې سره خبر وي چي دا مال د غلا دئ دغه شخص په ګناه او پيغور کي ورسره شريک دئ.

او که چيري په غلطۍ او نافهمي سره داسي وسول نو تر حقيقت څرګنديدو وروسته دي هغه مال اصلي مالک ته بيرته ورکړل سي او ادا کړل سوی قيمت دي له بايع (غاصب غلا کونکي) څخه بيرته واخستل سي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو باع السارق المسروق من إنسانٍ، أو ملكه منه بوجهٍ من الوجوه، فإن كان قائمًا فلصاحبه أن يأخذه؛ لأنه عين ملكه، وللمأخوذ منه أن يرجع على السارق. (بدائع الصنائع: ۷/ ۸۵، فصل فی حکم السرقة، سعید).

په درمختار کي راځي:

الحرام ينتقل، فلو دخل بأمان وأخذ مال حربي بلا رضاه وأخرجه إلينا ملكه وصح بيعه لكن لا يطيب له ولا للمشتري منه. وفي حاشية ابن عابدين: قوله ولا للمشتري منه. فيكون بشرائه منه مسيئاً لأنه ملكه بكسب خبيث وفي شرائه تقرير للخبث ويؤمر بما كان يؤمر به البائع من رده على الحربي لأن وجوب الرد على البائع، إنما كان لمراعاة ملك الحربي ولأجل غدر الأمان، وهذا المعنى قائم في ملك المشتري كما في ملك البائع الذي أخرجه. (الدر المختار مع ردالمحتار: ۵/ ۹۸، باب البیع الفاسد، سعید).

Maktaba Tul Ishaat.com

په حلال او حرام نومي كتاب كي يوسف قرضاوي ليكي:

لـم يـحل للمسلم أن يشتري شيئاً يعلم أن مغصوب أو مسروق أو مـأخوذ من صاحبه بغير حق، قال عليه السلام من اشترى سرقة أى مسروقاً وهو يعلم أنها سرقة، فقد اشترك في ثمنها وعارها. (الحلال والحرام فى الاسلام ليوسف القرضاوى، فصل فى المعاملات،ص ٢١٦)

د فقهاوو په نزد غالب گمان ملحق باليقين دئ.

علامه ابن نجيم په الاشباه والنظائر كي فرمايي:

وغالب الظن عندهم ملحق باليقين ، وهو الذي يبتنى عليه الأحكام يعرف ذلك من تصفح كلامهم في الأبواب . (الاشباه والنظائر:٦٣، الفائدة الثانية – وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص ٦٧٥، باب مايفسد الصوم ويوجب القضاء، قديمى).

په تاليفات رشيديه نومي كتاب كي راځي:

سوال: د غلا مال اخستل روا دي او كه نه؟

جواب: كه چيري دا معلومه وه چي دا مال د غلا دئ نو رانيول يې ناروا دي.

په كفايت المفتى كي راځي:

كه مشتري ته دا علم وو چي بايع غلا كړل سوى مال خرڅوي نو د هغه رانيول حرام دي اوس يې بيع او شراء دواړه حرام گرځي او د مشتري صلاحيت د دې فعل په وجه خراب گرځي او د دې مال نفع هم ده ته حلاله نه ده. (كفايت المفتى:٨/ ٣٣).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د كوم شي په اړه چي ډېر قرائن داسي معلومېدل چي دا شى د غلا دئ نو د هغه رانيول ناروا دي كه چيري اخستل سوى وي واپس دې كړ كه علم ورته حاصل سو چي د فلاني كس دئ هغه مالک ته دي حواله كړلي او هم كولاى سي چي تر حواله كولو وروسته يې له هغه اصلى مالک څخه رانيسي.(فتاوى محموديه:١٦/ ٨٦، مبوب ومرتب).

په جدید معاملات کي شرعی نومي کتاب کي راځي:
دیو شی په اړه که له قرائنو څخه معلومیږي چي د غلا مال دئ یا د غصب مځکه یا مال دئ نو د هغه رانیول شرعاً ناروا دي.

الله ﷻ فرمایي: ﴿ ولا تعاونوا على الإثم والعدوان ﴾. (سورة المائدة:۲).

ځکه چي دا پر ګناه تعاون دئ او پر ګناه تعاون کول شرعاً روا نه ده. (جدید معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۸۲، دار الاشاعت).

په جواهر الفتاوی کي راځي:
که چیري مال موجود وي، اصل مالک ته دي بیرته ورکړل سي او که مال موجود نه وي، هلاک یا ضایع سوی وي د هغه مال قیمت او ضمان دي اداء کړل سي که صاحب د استطاعت وي مګر ځینو وختونه د اصل مالک پته او درک نه لګیږي نو تر کوښښ وروسته دي د اصلي مالک په نیت د هغه له لوري صدقه کړي. (جواهر الفتاوی:۳/ ۲۹۶). والله تعالیٰ اعلم.

د وروښتانو د تجارت حکم

سوال: د وروښتانو د تجارت حکم څه دئ او د انسان او حیوان په وروښتانو کي کوم فرق سته او که نه؟

الجواب: د انسان د وروښتانو څخه ګټه اخیستل ممنوع او ناروا ده ځکه چي انسان له ټولو اجزاءوو سره مکرم دئ لهذا د انسان د اجزاوو هغه که وروښتان وي او یا کوم بل جزء وي تجارت ناروا دئ، البته د حیواناتو د وروښتانو رانیول او خرڅول روا دئ، همدارنګه له پلاستیک څخه د جوړ سوي وروښتانو اخیستل او هم خرڅول روا دي.

البته هغه مصنوعي وروښتان چي فاسق او فاجر یا کافریې استعمالوي د هغو له تجارت څخه دي اجتناب وکي همدارنګه د خنزیر د وروښتانو بیعه ناروا ده ځکه هغه نجس العین دئ لهذا د اهانت له امله یې بیع صحیح نه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

په هدایه کې راځي:

لا يجوز بيع شعور الإنسان ولا الانتفاع بها لأن الآدمي مكرم لا مبتذل فلا يجوز أن يكون شيء من أجزائه مهاناً ومبتذلا وقد قال عليه الصلاة والسلام لعن الله الواصلة والمستوصلة، الحديث، وإنما يرخص فيما يتخذ من الوبر فيزيد في قرون النساء وذوائبهن.... قال ولا يجوز بيع شعر الخنزير لأنه نجس العين فلا يجوز بيعه إهانة له. (الهداية:٣/ ٥٥، باب البيع الفاسد – وكذا في البحر الرائق:٦/ ٨١، كوئته – وتبيين الحقائق:٤/ ٥١، ملتان).

وفی شرح العناية: ولا بأس باتخاذ القر اميل وهي مايتخذ من الوبر ليزيد في قرون النساء، أي في أصول شعرهن بالتكثير وفي ذوائبهن بالتطويل . (شرح العناية على هامش فتح القدير:٦/ ٤٢٦، دار الفكر – وكذا فی فتح القدير:٦/ ٤٢٦).

وفی الجامع الصغير: ولا يجوز بيع شعر الإنسان . لأن الإنسان مكرم فلا يجوز أن يكون منه شيء مبتذل وهو طاهر عندنا على الصحيح. (الجامع الصغير مع النافع الكبير، ص ٣٢٩، بيروت).

وكذا فی حاشية الطحطاوی: قال والآدمی مكرم شرعاً وإن كان كافراً فايراد العقد عليه وابتذاله به وإلحاقه بالجمادات إذلال له وهو غير جائز. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار:٣/ ٦٦، كوئته). وكذا فی ردالمحتار:٥/ ٥٨، مطلب ان الآدمی مكرم شرعاً ولو كافراً، سعيد).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ (جدید معاملات کی شرعی احکام:١/ ٨٥). **والله ﷻ اعلم.**

د حیواناتو د خوراک د تجارت حکم

سوال: نن سبا د اکثرو حیواناتو خوراک په یو ځانګړي ډول تیاریږي او بیا په بازار کي خرڅیږي او په هغه کي مړه سوي چنجي هم ګډیږي ظاهراً دا د میتتي (مرداری) بیعه ده ایا دا بیعه روا ده او که نه؟ ځکه چي ځینی علماء د دې په اړه وایي چي د میتتي له پاره سپي ایله کول روا دي مګر هغه میتته یا مرداره و سپي ته راوړل روا نه ده؟

الجواب: د تجارت په اړه د شریعت مطهره اصل دا دئ چي کوم شی ممکن الانتفاع وي د هغه تجارت روا دئ او له کوم شی څخه چي ګټه نه سي پورته کېدای او ممکن الانتفاع نه وي د هغه تجارت هم ناروا دئ لهذا د حیواناتو په خوراکه کي چي کوم چنجیان ګډیږي که هغه مړه هم وي بیا هم هغه له نورو شیانو سره د ګډولو په وجه د رانیولو او خرڅولو جوګه ګرځي یعنی د هغه د بیعي ګنجائش سته.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

لم يذكروا حكم دودة القرمز أما إذا كانت حية فينبغي جريان الخلاف الآتي في دود القز وبزره وبيضه وأما إذا كامت ميتة وهو الغالب فإنها على ما بلغنا تخنق في الكلس أو الخل فمقتضى ما مر بطلان بيعها بالدراهم لأنها ميتة. وقد ذكر سيدي عبد الغني النابلسي في رسالة أن بيعها باطل، وأنه لا يضمن متلفها لأنها غير مال قلت: وفيه أنها من أعز الأموال اليوم، ويصدق عليها تعريف المال المتقدم ويحتاج إليها الناس كثيراً في الصباغ وغيره، فينبغي جواز بيعها كبيع السرقين والعذرة المختلطة بالتراب مع أن هذه الدودة إن لم يكن لها نفس سائلة تكون ميتتها ظاهرة كالذباب والبعوض وإن لم يجز أكلها وسيأتي أن جواز البيع يدور مع حل الانتفاع، وأنه يجوز بيع العلق للحاجة مع أنه من الهوام، وبيعها باطل، وكذا بيع

Maktaba Tul Ishaat.com

الحيات للتداوي، وفي القنية وبيع غير السمك من دواب البحر لو له ثمن كالسقنقور وجلود الخز ونحوها يجوز وآلا فلا، وجمل الماء قيل يجوز حياً لا ميتاً والحسن أطلق الجواز.

(ردالمحتار:٥/ ٥١، باب البيع الفاسد، سعيد).

په بهشتي زېور کي راځي:

هغه حيوانات چي مړه وي او داسي پاک وي چي بهېدونکې وينه ونه لري لکه حشرات الارض چنجي او دريابي حيوانات د دې بيعه روا ده. (بهشتی زیور:نهمه حصه:١٠٣).

وګورئ په فتاوی بزازيه کي راځي:

ولا يحمل الجيفة إلى الهرة ويحمل الهرة إلى الجيفة. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٨٢، فصل فی حکم المسجد).

په نفع المفتي والسائل کي راځي:

ثم إن كان لابد من سقي الخمر فرساً لايشربه بل يضع الخمر بين يديه ليشربه، كما أن لاينبغي أن يؤكل الميتة الكلب إلا بأن يضع الميتة بين يدى الكلب، فيأ كله بنفسه كما فى مطالب المؤمنين. (فنع المفتى والسائلف باب ما يتعلق بالحيوانات، ص ٤٧٢، بيروت).

په المحيط البرهاني کي راځي :

جل له امرأة ذمية، أو أب ذمي ليس له أن يقوده إلى البيعة، وله أن يقوده من البيعة إلى منزله؛ لأن الذهاب إلى البيعة معصية وإلى المنزل لا، ولا يحمل الخمر إلى الخل ولكن يحمل الخل إليها، وكذلك لا يحمل الجيفة إلى الهرة ويحمل الهرة إلى الجيفة. (المحيط البرهانی:٦/ ١٠٣، فصل فی معاملة اهل الذمة، کتاب الاستحسان، رشيديه).

مګر د ځينو فقهاوو له عباراتو څخه معلومېږي چي ناپاکي او نجسي اوبو وحيواناتو ته دورکولو ګنجائش سته يعنی چي د تندی ماتولو له پاره دي ورکړي.

په البحر الرائق کي راځي:

وفي الذخيرة: ولا بأس برش الماء النجس في الطريق ولا يسقى للبهائم وفي خزانة الفتاوى: لا بأس بأن يسقى الماء النجس للبقر والإبل والغنم. (البحر الرائق: ۱/ ۱۲۵، کوئته).

د ضرورت په وخت کي پر دوهم قول فتوی ورکول کېدای سي او اول قول پر کراهیت یعنی پر خلاف اولی حمل کیږي. والله تعالیٰ اعلم.

د تولیدي جوهر د تجارت حکم

سوال: په اوسنی زمانه کي د ښه او اعلی نسله نارینه حیواناتو ماده منویه په بازار کي خرڅیږي او خلک هغه اخلی بیا یې په یو خاصه طریقه خپلو ماده حیواناتو ته رسوي چي د هغه په نتیجه کي ښه نسل والا حیوانات پیدا کیږي ایا د دې مادې رانیول او خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: شریعت مطهره د بنی نوع انسان ته شرف د نسب ورکړی او دې نسب ته یې ډېر مهم حیثیت ورکړی او له اختلاط نسب څخه یې په مکمل ډول ساتلي دي مګر په حیواناتو کي د نسب لحاظ ته اهمیت نه دئ ورکړل سوی له هم دې وجي د حیواناتو د حلت او حرمت مسئله د حیوان پر مور بناء کړل سوې ده لهذا د حیوان ماده و رحم ته رسول د جودة النسل یا د زیادة نسل په غرض حاصلېدلو فی نفسه مباح او یو جائز الانتفاع کړنه ده او یو قسم د دې حاجت هم محسوسیږي همدارنګه په پراخه پیمانه عرف هم ګرځېدلی دئ نن سبا د دې تولیدي جوهر رانیول او خرڅول کیږي لهذا د مال متقوم حیثیت اختیارولو په سبب د هغه د تجارت ګنجائش پیدا کیږي.

همدارنګه په شریعت مطهره کي د تجارت له پاره د مبیع مال متقوم او قابل انتفاع کېدنه له او لینو شرائطو څخه ده او د مال متقوم او قابل انتفاع کېدلو له پاره اول شی عرف او عادت دئ.

په شرح مجله کي راځي:

وشرط المعقود عليه ستة، كونه موجوداً، مالاً متقوماً مملوكاً في نفسه وكون الملك للبائع فيما يبيعه لنفسه وكونه مقدور التسليم. (شرح المجلة للاتاسی، الباب الثانی: ۲/ ۸۷).

په بدائع الصنائع کي راځي:

Maktaba Tul Ishaat.com

وأما الذي يرجع إلى المعقود عليه فأنواع منها أن يكون موجودًا فلا ينعقد بيع المعدوم.... ومنها أن يكون مالا لأن البيع مبادلة المال بالمال.... ومنها أن يكو مملوكاً لأن البيع تمليک فلا ينعقد فيما ليس بمملوک. (بدائع الصنائع:٥/ ١٣٨، سعيد).

په الفقه اسلامی کي راځي:

وأما ما يشترط في المعقود عليه أي المبيع فهو أربعة شروط: (١) أن يكون المبيع موجوداً (٢) أن يكون المبيع مالا متقوماً (٣) أن يكون مملوكاً في نفسه (٤) أن يكون مقدور التسليم عند العقد. (الفقه الاسلامی وادلته:٤/ ٣٥٧، دار الفكر).

په ردالمحتار کي راځي:

المراد بالمال ما يميل إليه الطبع ويمكن ادخاره لوقت الحاجة، والمالية تثبت بتمول الناس كافةً أو بعضهم، والتقوم يثبت بها وبإباحة الانتفاع به شرعًا. (ردالمحتار:٤/ ٥٠١، مطلب فی تعريف المال، سعيد).

ځيني علماء وايي دمبيعې دجواز اصل دهغه قابل انتفاع علت دئ.

قال فی الدر المختار: والحاصل أن جواز البيع يدور مع حل الانتفاع. (الدر المختار:٥/ ٦٩، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

والصحيح أنه يجوز بيع كل شيء ينتفع به كذا في التتارخانية. (الفتاوى الهندية:٣/ ١١٤).

په الفقه الاسلامی کي راځي:

والضابط عندهم: أن كل ما فيه منفعة تحل شرعاً، فإن بيعه يجوز، لأن الأعيان خلقت لمنفعة الإنسان بدليل قوله تعالى: ﴿خلق لكم ما في الأرض جميعاً﴾. (الفقه الاسلامی وادلته: ٤/ ١٨٢، دار الفكر).

په حلال او حرام نومي كتاب كي راځي:

د شی د رانيولو او خرڅولو روا كېدل او نه روا كېدل خاص تعلق د هغه تر قابل انتفاع او نه قابليت پوري هم دئ داسي معلومیږي چي د كوم شی د رانيولو او خرڅولو ممانعت له كتاب او سنت څخه ثابت نه وي او هغه په يوه زمانه كي قابل انتفاع وګرځېدئ نو د دې قابليت په سبب فقهاء د هغه رانيولو او خرڅولو ته جواز وركوي.

لنډه دا چي كله هغه په عرف كي مال وګڼل سو د هغه تجارت روا دئ.

اشكال او جواب:

اشكال_ مګر پر دې اشكال كيږي چي ماده منويه خو ناپاک شی دئ او د ناپاک شی تجارت څنګه روا كېدای سي؟

الجواب: د فقهاوو له عباراتو څخه معلومیږي چي د بيعي د جواز دار ومدار پر پاک او عدم پاک باندي نه بلكي پر قابل انتفاع دئ هر كله چي ناپاک شی قابل انتفاع وګرځېدئ او د خلكو حاجت په هغه پوري وتړل سو د هغه بيعه روا ده مثلاً خوشايي د حيواناتو ګندكي او نور ناپاک دئ مګر د منتفع به په سبب د هغه بيعه روا ده همدارنګه حشرات د هغو بيع د متقلمين فقهاء په نزد د دوی د خباثت په سبب ناروا ده مګر متاخرينو د منتفع به كېدو په سبب روا كړي ده.

وګورئ په درمختار كي راځي:

بخلاف غيرهما من الهوام فلا يجوز اتفاقاً كحيات وضب وما في بحر كسرطان إلا السمك وما جاز الانتفاع بجلده أو عظمه والحاصل أن جواز البيع يدورمع حل الانتفاع مجتبى واعتمده المصنف رحمه الله، وفی الفتاوى الشامية: قوله كحيات في الحاوي الزاهدي:

Maktaba Tul Ishaat.com

يجوز بيع الحيات إذا كان ينتفع منها للأدوية وما جاز الانتفاع بجلده أو عظمه أي من حيوانات البحر أو غيرها .... ونقل السائحاني عن الهندية: ويجوز بيع سائر الحيوانات سوى الخنزير وهو المختار، وعليه مشى في الهداية وغيرهامن الباب المتفرقات. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٥/ ٦٨، مطلب فى بيع دودة القزمر، سعيد).

وفى تقريرات الرافعي: يجوز بيع الحيات هو وإن كان فيها نفع إلا أنه يحرم أكلها فليحرر حموى، سندى. (التحرير المختار:٥/ ١٤١، سعيد).

محقق ابن همام رحمة الله عليه فرمايي:

قال العلامة ابن الهمام رحمة الله عليه بعد ذكر سوال يرد على المصنف رحمة الله عليه: وهذا السؤال ليس في تقرير المصنف رحمة الله عليه ما يرد عليه اولاً ليحتاج إلى الجواب عنه، فإنه ما علل المنع إلا بعدم الانتفاع به، وإنما يرد على من علل بالنجاسة ولا ينبغى أن يعلل بها بطلان بيع أصلاً، فإن بطلان البيع دائر مع حرمة الانتفاع وهى عدم المالية، فإن بيع السرقين جائز وهو نجس العين للانتفاع به كما ذكرنا. (فتح القدير:٦/ ٤٢٧، دار الفكر). وكذا فى حاشية تبيين الحقائق للشيخ شهاب الدين احمد الشلبى:٥/ ٥١، ملتان).

وفى مجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر: وفي التنجيس أن المختار للفتوى جواز بيع لحم المذبوح من السباع ، وكذا الكلب والحمار لأنه طاهر وينتفع به في إطعام سنورةٍ ، بخلاف الخنزير المذبوح لأنه نجس العين ، وفي التخصيص إشعار بعدم جواز هوام الأرض كالحية والعقرب ودواب البحر غير السمك كالضفدع والسرطان ، لأن جواز البيع يدور مع حل الانتفاع وحرمة الانتفاع بها ، وقال بعضهم : إن بيع الحية يجوز إذا انتفع بها للأدوية .... في

القهستاني لكن في البحر وبيع غير السمك من دواب البحر إن كان له ثمن كالسقنقور وجلود الخز ونحوها يجوز وإلا فلا . (مجمع الانهر:۳/ ۱۵۱، بیروت).

په محیط برهاني کي راځي:

ولا يجوز بيع هوام الأرض كالحية والعقرب والوزغ، وما أشبه ذلك؛ لأن لانتفاع بهذه الأشياء حرام ومحليته يعتمد جواز الانتفاع بها، ولا يجوز بيع ما يكون في البحر كالضفدع والسرطان وغيره إلا السمك، وما يجوز الانتفاع بجلده أو عظمه، والحاصل: أن جواز البيع يدور مع حل الانتفاع. (المحیط البرهانی:۷/ ۲۹۹، فصل فیما یجوز بیعه ومالایجوز، رشیدیة).

وفيه أيضاً: ويجوز بيع السرقين والبعر والانتفاع بها، وأما العذرة فلا يجوز الانتفاع بها ما لم يخلط بالتراب، ويكون التراب غالباً، وهذا لأن محلية البيع بالمالية، والمالية بالانتفاع، والناس اعتادوا الانتفاع بالبعر والسرقين من حيث الإلقاء في الأرض لكثرة الريع، أما ما اعتادوا الانتفاع بالعذرة ما لم يكن مخلوطاً بالتراب. (المحیط البرهانی:۷/ ۳۰۲، فصل فیما یجوز بیعه وملایجوز بیعه).

وفی الهداية: قال: ولاباس ببيع السرقين لأنه منتفع به فكان مالاً والمال محل للبيع.

(الهداية:۴/ ۴۶۸، كتاب الكراهية، فصل فی البیع).

وفی تبيين الحقائق: إن المسلمين تمولوا السرقين وانتفعوا به في سائر البلدان والأمصار من غير نكير. (تبیین الحقائق:۶/ ۲۶، فصل فی البیع، ملتان).

Maktaba Tul Ishaat.com

په فقه السنه کي راځي:

واستثنى الاحناف والظاهرية كل ما فيه منفعة تحل شرعاً فجوزوا بيعه، فقالوا: يجوز بيع الارواث والازبال النجسة التي تدعو الضرورة إلى استعمالها في البساتين، وينتفع بها وقوداً وسماداً، وكذلك يجوز بيع كل نجس ينتفع به في غير الاكل والشرب . (فقه السنة، لسيد سابقف باب شروط العاقد:۳/ ٥٤).

د يادو عباراتو څخه داسي معلوميږي چي د رانيولو او خرڅولو دار او مدار پر ماليت باندي وي او ماليت له انتفاع څخه ثابتيږي او په انتفاع کي اصل شی د خلکو تعامل دئ او په دې کي د طهارت قيد نسته له دې وجه فقهاوو سرقين چي نجس العين د قابل انتفاع په سبب د دې تجارت روا کړی دئ بلکي فقهاوو د دې خبري تصريح هم کړې ده چي که کوم پاک شی له کومي وجي منتفع به نه وو د هغه تجارت روا نه دئ.

وګورئ امام محمد رحمه الله په جامع صغير کي فرمايي:

ولا يجوز بيع شعر الإنسان. وفي الشرح: لأن الإنسان مكرم فلا يجوز أن يكون منه شيء مبتذل وهو طاهر عندنا على الصحيح. (الجامع الصغير مع النافع الكبير، ص ۳۲۹، بيروت).

وفي المحيط: وشعر الآدمي طاهر ولايجوز الانتفاع به. (المحيط البرهاني:۷/ ۳۰۲ – وكذا في البدائع:٥/ ١٤٢، سعيد).

د وينې تجارت هم ناروا دي مګر په امداد الاحکام کي ليکلي دي که چيري عرفاً قيمتي شی وګرځيدئ نو بيا يې بيعه او شراء صحيح ده.

په امداد الاحکام کي راځي:

د دې اقوالو مقتضا دا ده که کوم وخت وينه عرفاً قيمتي وګرځيږي نو د تجارت ګنجائش يې سته. (امداد الاحکام:۳/ ۳٥٥).

لنډه دا ده چې په اوسني دور کې توليدي جوهر څنګه چې مال متقوم دئ لهذا د هغه د تجارت ګنجائش شته. والله تعالی اعلم.

د پېچکارۍ په وسيله د ښځينه حيوان حامله ګرځولو حکم

سوال: نن سبا د حيواناتو د حمل کېدو له پاره پېچکارۍ لګول کيږي او پر هغه اجره اخلي دا اجره جائز کېدل په کار دي ځکه چې د اجره له توليدي جوهر سره د پېچکارۍ د لګولو د مصارفو بدل هم دئ؟

اشکال: مګر پر دې يو سوال واردېږي هغه دا چې په حديث شريف کې د عسف الفحل له اجرې اخستلو څخه منعه راغلې ده، د دې جواب څه دئ؟

الجواب: حديث شريف اوله شروحات الحديث څخه معلوميږي چې اصل ممنوع شی هغه اجره ده چې هغه پر ښځينه حيوان د نارينه حيوان د خېژولو په سبب واخستل سي ځکه چې دلته معامله احتمالي ده او په دې کې ډېر احتمالات دي شايد منويه د ماده حيوان ورحم ته نه وي ورغلي يا ورغلي وي خو دباندې بې ځايه توئ سوې وي يا داخله وي خو نښان يې غلط کړی وي يا صحيح رسېدګي نه وي سوې او حمل ونه نيول سي لهذا حمل مشکوک او مجهول وګرځېدئ او د مجهول او مشکوک شی اجره اخستل ناروا دي.

په حديث شريف کې و دې ته اشاره سوې ده البته د تحفې او نورو اخستل جواز لري يعنی ګنجائش يې شته خو لازم به نه ګرځول کيږي.

وګورئ ترمذي شريف کې راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن رجلاً من كلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل، فنهاه فقال يا رسول الله! إنما نطرق الفحل فنكرم فرخص له في الكرامة. قال أبو عيسى.... وقد رخص قوم في قبول الكرامة على ذلك. (ترمذی شريف: ۱/ ۲۴۰، باب ماجاء فی كراهية عسب الفحل).

Maktaba Tul Ishaat.com

وفی جامع الأسول: قال: والعسب: الكراء الذي يؤخذ على ضراب الفحل ، تقول : عسب فحله يعسبه عسبا ، أي أكراه ، وعسب الفحل أيضاً : ضرابه. (جامع الاصول فی احادیث الرسول: ۱۰/ ۵۹۲/ ۸۱۷۳، عسب الفحل).

وفی مسند الربیع: قال الربيع: ذكر العسب وأراد ما يؤخذ عليه من الأجرة والعسب ضراب الفحل. (مسند الربیع، باب فی المحرمات، ص ۲٤۹/ ٦۳٤).

همدارنګه له یو موقوف روایت څخه د دې تائید کیږي.

قال أبو هريرة رضي الله عنه: أربع من السحت: ضراب الفحل.... (سنن النسائی، باب عسب الفحل).

په بلوغ المرام کي راځي:

وعن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال:نهى رسول الله ﷺ عن بيع فضل الماء: رواه مسلم، وزاد في رواية:وعن بيع ضراب الجمل. قال المحشي: الضراب بالكسر والتخفيف هونزو الذكر من الحيوان على الأنثى لتلقيحها أى نهى كراء ضرابه وأجرة مائه.... والعسب ضراب الفحل.... ومورد النهى فى الحديث الأجرة التي تؤخذ على ضراب الفحل. (بلوغ المرام مع التعليق،ص ۲۲۹، کتاب البیوع).

په لغات الحدیث کي راځي:

عسب پر ښځینه د نر ختل یا خیژول د هغه کرایه ورکولو ته وایي، « نهی عن عسب الفحل » د نر پر ښځینه د خېژولو د اجرت اخستلو منع فرمایل سوې ده.

له یادو سوو عباراتو څخه معلومه سوه چي اکثر شراح د عسب الفحل معنی په ضراب الفحل سره کړې یعنی د نر پر ماده خېژول.

قال ابن بطال في شرح صحيح البخاری: وذهب الكوفيون والشافعی وأبو ثور إلى أنه لا يجوز عسب الفحل، واحتجوا بحديث ابن عمر ﷺ، فقالوا: هو شیء مجهول لا ندری أينتفع به أم لا؟ وقد لا ينزل الفحل،.... ومعنى نهيه عليه السلام عن عسب الفحل هو أن يكر به إلى العلوق؛ لأن ذلك مجهول لا يدری متى يعلق، ولا يجوز إجارة المجهول، كما لا يجوز بيعه . (شرح صحيح البخاری لابن بطال، كتاب الاجارات، باب عسب الفحل:٦/ ٤١٢).

په عون المعبود کي راځي:

نهى عنه للغرر لأن الفحل قد يضرب وقد لا يضرب وقد لا يلقح الأنثى ، وبه ذهب الأكثرون. (عون المعبود:٩/ ٢١٣، باب فی عسب الفحل).

په درمختار کي راځي:

لا تصح الإجارة لعسب التيس وهو نزوه على الإناث لأنه عمل لايقدر عليه وهو الإحبال. (الدر المختار:٦/ ٥٥، كتاب الاجارة، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (جدید معاملات کی شرعی احکام:١/ ٢٦٥-٢٧١). والله ﷻ اعلم.

د مردارو غوړو د تجارت حکم

سوال: که له يو چا سره د زيتون تېل وي او هغه تېل د موږک د لوېدلو په سبب ناپاکه وګرځېدل ايا د دې تېلو بيع روا ده او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي د امام صاحب رحمه الله په نزد غوړي که څه هم نجس دي مګر منتفع به دي لهذا د دوی رانيول او خرڅول روا دي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

الفارة لو ماتت فی السمن.... وإن كان مائعاً لم يؤكل وينتفع به من غير جهة الأكل مثل الاستصباح. (الهداية:١/ ٤٥).

Maktaba Tul Ishaat.com

پہ البحر الرائق کي راځي:

ويجوز بيع الدهن النجس لأنه ينتفع به للاستصباح فهو كالسرقين. (البحر الرائق: كتاب البيوع، باب المتفرقات:٦/ ١٧٢، كوئته).

وكذا فى شرح فتح القدير:٧/ ١١٨، مسائل منثورة، دار الفكر – والموسوعة الفقهية الكويتية، باب بيع النجاسات:٤٠/ ١٠٢، الكويت).

وفى المبسوط للإمام السرخسي رحمه الله: لأنه ليس من ضرورة حرمة التناول حرمة البيع، فإن الدهن النجس لا يحل تناوله، ويجوز بيعه، وكذلك بيع السرقين جائز، وإن كان تناوله حرامًا، والسرقين محرم العين، ومع ذلك كان بيعه جائزًا. (المبسوط للامام السرخسى، كتاب الاشربة:٢٤/ ٢٧).

پہ فقه السنه کي راځي:

واستثنى الاحناف والظاهرية كل ما فيه منفعة تحل شرعاً فجوزوا بيعه، فقالوا: يجوز بيع الارواث والازبال النجسة التي تدعو الضرورة إلى استعمالها في البساتين، وينتفع بها وقوداً وسماداً، وكذلك يجوز بيع كل نجس ينتفع به في غير الاكل والشرب كالزيت النجس يستصبح به ويطلى به. (فقه السنة، لسيد سابق، باب شروط العاقد:٣/ ٥٤).

پہ البنايه کي راځي:

وممن أجاز الاستصباح مما يقع فيه الفارة على وابن عباس وابن عمر رضي الله عنهم قال القرطبى: اختلف في جواز بيع كل محرم نجس فيه منفعة.... وأجازه الكوفيون. (البناية:٨/ ٥٧٩).

په الابواب والتراجم کي راځي:

ليس كلما حرم تناوله حرم بيعه.... نعم المذاب للاستصباح ليس بحرام. (الابواب والتراجم للشيخ زكريا، ١٦٤).

په بداية المجتهد کي راځي:

ومن هذا الباب اختلافهم في بيع الزيت النجس.... فقال مالک لايجوز بيع الزيت النجس وبه قال الشافعي.... قد قيل إن في المذهب رواية أخرى تمنع الاستصباح به وهو ألزم للأصل.... وفي مذهب مالک جواز الاستصباح به. (بداية المجتهد:٤/ ٤٨٨).

په فتاوی شامي کي راځي:

وينتفع به للاستصباح لأن الانتفاع به علة جواز البيع.... إلا دهن ودک ميتة لأنه عين نجاسة. (فتاوى الشامي:٥/ ٢٢٩، سعيد). همدا ډول وګورئ:(جديد فقهی مسائل:١/ ٢١١). والله ﷻ اعلم.

د خنزير له پوستوکي څخه د جوړه سوو چوټو د تجارت حکم

سوال: موږ د چوټو پرچون پلورنکي يو اروپا يا کوم بل هيواد ته سفر کوو هلته پاپوش ساز (چوټي جوړونکي) په پاپوش سازی کي د خنزير اجزاء استعمالوي مثلاً پر چوټو د خنزير د پوستو کي استر لګوي موږ غوښتنه ځني کوو دا استر په کوم بل شی بدل کړئ او په عام ډول هغوی داسي کوي له تاجر څخه مال واخلي او هغه ورته وايي چي استر وربدل کړه او ما ته يې راواستوه، موږ ثمن مخکي د بانک په ذريعه اداء کوو چي سامان را ورسيږي او موږ يې معانيه کړو هغه د خنزير په پوستوکی استر کړل سوي وي اوس د سامان بيرته وراستول ممکن نه دي او ثمن اداء کړل سوی دي.

څخه پر ته د دي د سامان ټکس هم اداء سوی دئ اوس موږ له چوټو سره څه وکړو د مهربانی له مخي شرعی حکم راته وفرماياست چي درقم د تر لاسه کولو کوم صورت جوړېدای سي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: په یاد صورت کي د خنزیر له پوست څخه جوړي سوی چوټو بیع منعقده نه ده بلکي دا بیع باطله ده ځکه چي خنزیر د ټولو اعضاوو او اجزاء سره نجس العین دي لهذا د چوټو واپس کول لازم او واجب دي مګر څنګه چي واپسي یې ناممکنه ده او ثمن اداء سوي دي نو اوس د حق وصول کېدو یو شکل د فقهاوو په کتابو کي پیدا کیږي هغه دا چي یو غیر مسلم دي وکیل بالبیع چوړ کړي هغه دي وپلوري، خپل حق دي ورڅخه واخلي او پاته رقم دي د ثواب د نیت پرته صدقه کړي چي په دې سره به له هغه حرام څخه خلاص او وژغورل سي.

په فتاوی بینات کي راځي:

سوال: زموږ په هیواد کي د چین اسپین او نورو هیوادو سامانونه یعنی د خنزیر له پوسته څخه جوړ سوی مصنوعات او چوټي وارېدیږي ځینی چوټي د ریګزین څخه جوړي سوی وي خو پوست یې د خنزیر د پوستکي وي او ځینی چوټي صرف د خنزیر د پوستکي څخه جوړي سوي وي ایا دا چوټي په پښو کول حرام دي او که نه او د یادو سوو چوټو رانیول او خرڅول حرام دي او که نه؟

که یې دوکاندار په نه پوهېدو یا هېره سره د کروړونو مال رانیولي وي په هغه څه وکړي؟

الجواب: باسمه تعالی: د خنزیر په نجس العین والي کي هیڅ شک نسته او فقهاء کرامو د هغه د هر جزء خرڅېدل، رانیول او استعمال حرام بللي دي او هر هغه شی چي په هغه کي د خنزیر د اجزاوو استعمال وي د هغه همداسي حکم دئ. د خنزیر او د هغه له اجزاءوو څخه تیار سوی اشیاوو بیع نه منعقد کیږي او د هغه ثمن (قیمت) بایع ته حرام دئ بلکي د بایع په ملکیت کي هم نه داخلیږي، کومو کسانو چي په هېره یا په نافهمی کي داسي مصنوعات رانیولي وي هغوی دې و هغو دوکاندارنو ته بیرته ورکړي چي دوی څني رانیولی وي او هغه دوکانداران دې و نورو ته او هغه دې بیا ونورو ته بالاخر کمپنۍ ته دې بیرته ورکړل سي تر څو د کفارو دا مصنوعات ودریږي او دوی خپل رقم تر لاسه کړي.

قال الإمام السرخسي رحمه الله: وإذا كان في تركة الذمي خمر وخنزير وغرماؤه مسلمون وليس له وصي فإن القاضي يوكل ببيع ذلك رجلًا من أهل الذمة فيبيعه ويقضي به دين الميت؛

لأن من يأمره القاضي يكون نائبًا عن الميت .... والميت كافر فيجوز بيع الذمي خمره على سبيل النيابة عنه والغرماء إنما يقبضون الثمن بدينهم لا أن يكون بيع قيم القاضي واقعًا لهم .

(المبسوط:١٥/ ١٣١، باب قسمة الدار للميت وعليه دين اووصية، بيروت).

وفي العناية شرح الهداية: وإذا أمر المسلم نصرانيا ببيع خمرٍ أو شرائها ففعل جاز عند أبي حنيفة رحمه الله، وقالا: لا يجوز على المسلم.... وقولهما الموكل لا يليه فلا يوليه غيره منقوض.... وبالقاضي إذا أمر ذميا ببيع خمرٍ أو خنزيرٍ خلفه ذمي آخر وهو لا يلي التصرف بنفسه ، وبالذمي إذا أوصى لمسلمٍ وقد تركهما فإن الوصي يوكل ذميا بالبيع والقسمة وهو لا يلي ذلك بنفسه . (العناية شرح الهداية على هامش فتح القدير:٦/ ٤٣٩، باب البيع الفاسد، دار الفكر).

والله تعالیٰ اعلم.

په فاسده بيع کي د مشتري پر دريم د خرڅولو حکم

سوال: يو کس درويشت کاله وړاندي له خپل ورور څخه څو نمرې ځمکه رانيول مګر بايع پر مشتري شرط ولګاوه چي که په څو کاله کي پر هغو نمرو کورونه جوړ نه سول مثلاً تر لسو کالو وروسته بايع خپله ځمکه بيرته اخلي په همدغه طريقه بيع مکمل سوه او بايع پر ثمن قبضه هم وکړه او مشتري د بايع په اجازه مبيعه په خپله قبضه کي راوسته لهذا مشتري د بايع په اجازه د ځمکي مالک وګرځېدئ اوس درويشت کاله وروسته حکومت دا ځمکه رانيوه او داخستل سوي ځمکي پيسې ادا کوي نو ثمن به څوک اخلي د بائع وارثان غواړي چي ثمن دي دوی ته ورکول سي ځکه اوله بيع فاسده سوي وه ايا اوله بيعه صحيح وه او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي د فاسد شرط له امله بيع فاسده سوي وه لهذا د بيع فسخه ضروري وه خو علقدينو فسخ نه کړل او مشتري د بائع په اجازه پر مبيعه قبضه کړي وه او بائع ثمن تر لاسه کړي وو لهذا مشتري د مبيعي مالک سو نو ثمن به مشتري اخلي ځکه دی د مبيعي مالک وو د بائع وارثانو ته به نه ورکول کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دې مسئلې وضاحت علامه ابن نجیم المصري رحمه الله کړی همدارنګه علامه شامي سید علامه طحطاوی فرمایي کله چې په فاسده بیع کې مشتري مبیعه وپلوري نو ثمن ومشتري ته ورکول کیږي.

وګورئ په البحر الرایق کې راځي:

قوله قبض المشتري المبيع في البيع الفاسد بأمر البائع ، وكل من عوضيه مال ملك المبيع بقيمته.... لأن ركن البيع صدر من أهله مضافًا إلى محله فوجب القول بانعقاده ، ولا خفاء في الأهلية والمحلية ، وركنه المبادلة المال بالمال .... فنفس البيع مشروع ، وبه تنال نعمة الملك إنما المحظورة ما يجوره كما في البيع وقت النداء .... وفي قوله ملك البيع رد على من قال: إنه إنما يملك التصرف دون العين ، وهم العراقيون، وما ذكره قول أهل بلخ ، وهو المنصوص عليه في كلام محمد رحمه الله، وهو الصحيح المختار، فإنه قال: إن المشتري خصم لمن يدعيه لأنه يملك رقبته كذا في جامع الفصولين.... ولو باعه كان الثمن له ، ولو بيعت دار إلى جنبها فالشفعة للمشتري ، ولو أعتقه البائع لم يعتق ، ولو سرقه البائع من المشتري بعد قبضه قطع كما في الجوهرة فهذه كلها ثمرات الملك . (البحر الرائق:٦/ ٩١، ٩٢، فصل فى البيع الفاسد، کوئته).

وفى الهداية : وإذا قبض المشتري المبيع في البيع الفاسد بأمر البائع وفي العقد عوضان كل واحد منهما مال ملك المبيع ولزمته قيمته ..... لكل واحد من المتعاقدين فسخه رفعاً للفساد..... فإن باعه المشتري نفذ بيعه لأنه ملكه فملك التصرف فيه وسقط حق الاسترداد لتعلق حق العبد بالثاني ونقض الأول لحق الشرع وحق العبد مقدم لحاجته ولأن الأول

مشروع بأصله دون وصفه والثاني مشروع بأصله ووصفه فلا يعارضه مجرد الوصف ولأنه حصل بتسليط من جهة البائع. (الهداية:۳/ ۶۲-۶۴، فصل فى احكام البيع الفاسد).

وفى الدر المختار: وإذا ملكه تثبت كل أحكام الملک، وفى الشامية: فيكون المشتری خصماً لمن يدعيه لأنه يملک رقبته نص عليه محمد رحمه الله، ولوباعه كان الثمن له. (الدر المختار مع ردالمحتار:۵/ ۹۰، سعيد).

وفي حاشية الطحطاوي: قوله ملكه أى ملک عينه هو قول أئمة بلخ بدليل أن المشتري إذا أعتقه بعد قبضه صح وكان الولاء له ولوباعه كان الثمن له. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۳/ ۷۸، كوئته – وكذا فى فتح القدير:۶/ ۴۵۹، ۴۶۶، فصل فى احكامه، دار الفكر).

البته يوه خبره داشكال قابل ده هغه دا چې فقهاوو ليكلي دي چې په فاسده بيع كې چې كله مبيعه دوهمه ځل خرڅه كړي كومه ګټه چې يې لاس ته كړل هغه واجب التصدق ده.

وګورئ په فتاوی هنديه كې راځي:

ولو اشترى جاريةً شراءً فاسدًا وقبضها وباعها وربح فيها تصدق بالربح ولو اشترى بثمنها شيئًا آخر فربح فيه طاب الربح كذا في السراج الوهاج. (الفتاوی الهندية:۳/ ۱۴۹).

مګر نن سبا بيع بالتعاطى دخلكو په منځ كې كيږي او دايجاب او قبول نوم او نښان هم نه وي لهذا شرط صرف د كاغذ پر مخ ليكلى وي او كاغذ يا تر بيع وړاندي وركول سي يا تر بيعي وروسته كه قبل العقد وي دا د بيعي وعده ده او كه بعد العقد وي بيا هم دا شرط د وعدي په شان دئ او په هغه سره بيع نه فاسديږي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

قلت: وفي جامع الفصولين أيضاً: لو ذكرا البيع بلا شرط ثم ذكرا الشرط على وجه العقد جاز البيع ولزم الوفاء بالوعد، إذ المواعيد قد تكون لازمة فيجعل لازماً لحاجة الناس .....

Maktaba Tul Ishaat.com

(تنبيه) في جامع الفصولى أيضاً: لو شرط شرطاً فاسداً قبل العقد ثم عقدا لـم يبطل العقد.

(الفتاوى الشامى:٥/ ٨٤، مطلب فى الشرط الفاسد....، سعيد).

په امداد الاحكام كي راځي:

دبيعي ايجاب او قبول وكړل سو او په ايجاب او قبول كي هيڅ كوم شرط دبيرته وركړي او نور ذكر سوي نه دي بلكي تر ايجاب او قبول وروسته شرط ولګول سو دا بالاتفاق روا دئ.« لخلوا العقد عن الشرط» او چي كله په ژبه ايجاب او قبول وسي متصلاً شرط او نور نه وي نو په بيعانه كي متصلاً شرط ليكل حرمت نه راولي. « لأن الأصل فى العقود القول والكتابة وثيقة، والله تعالى أعلم حرره الأحقر ظفر أحمد عفى عنه، أصل الجواب وكذا تصحيحه صحيحان» اشرف على. (امداد الاحكام:٣/ ٤٣٥). والله تعالى اعلم.

د سحر د آلاتو د تجارت حكم

سوال: د سحر د آلات مثلاً اډوكي، وربښتان او نور د دې تجارت څنګه دئ روا دئ او كه نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت كي كه چيري د بايع يقين وي چي دا په سحر او جادو كي استعماليږي بيا د هغه تجارت مكروه دئ ځكه چي په دې كي د تعاون على المعصية ښكاره ثبوت دئ مګر د انسان د هډوكو او وربښتانو تجارت روا نه دئ.

په بحر الرائق كي راځي:

قوله وشعر الإنسان والانتفاع به، أي لـم يـجز بيعه والانتفاع به لأن الآدمي مكرم غير مبتذلٍ فلا يـجوز أن يكون شيء من أجزائه مهانًـا مبتذلًا ، وقد قال النبي ﷺ: لعن الله الواصلة والـمستوصلة. (البحر الرائق:٦/ ٨١، كوئته).

وكذا فى الهداية مع العناية هامش فتح القدير:٦/ ٤٢٥، دار الفكر – وتبيين الحقائق:١/ ٢٦).

وفي الـهداية: ولا بـأس ببيـع عظـام الـميتة وعـصبها وصـوفها وقرنـها وشـعرها ووبرهـا والانتفاع بذلك كله لأنـها طاهرة لا يـحلها الـموت لعدم الـحياة. (الهداية:۳/ ۵۵، باب الفاسد).

وكذا في الفتاوى الهندية:۳/ ۱۱۵ – وفتاوى قاضي خانه:۲/ ۱۳۳).

په تبيين الحقائق کي راځي:

وكره بيع السلاح من أهل الفتنة لأنه إعانة على الـمعصية قال الله تعالى ﴿ وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الإثم والعدوان ﴾.... وإنما يكره بيع نفس السلاح دون ما لا يقاتل به إلا بصنعةٍ كالـحديد لأن الـمعصية تقع بعين السلاح بخلاف الـحديد ألا ترى أن العـصير والـخـشب الـذي يتخـذ منـه الـمعازف لا يكـره بيعـه لأنـه لا معـصية في عينهـا .(تبيـين الحقائق:۳/ ۲۹۶، ملتان – وكذا في الدر المختار مع ردالمحتار:٤/ ۲٦۸، سعيد – وبدائع الصنائع:۷/ ۱٤۲، سعيد).

په فتاوى هنديه کي راځي:

فإن باعها (أي آلات الـمزامير) مـمن يستعملها أو يبيعها هـذا الـمشتري مـمن يـستعملها لا يـجوز بيعها قبل الكسر. (الفتاوى الهندية:۳/ ۱۱٦، فصل في بيع المحرمات).

شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي:

أقول: الإعانة في الـمعصية وترويـجها وتقريب الناس إليها معصية وفساد في الأرض.

(حجة الله البالغة:۲/ ۱۹۲، البيوع المنهى عنها، قديمى كتب خانه). والله تعالى اعلم.

د اوسپني جوړ سوی بت او د هغو د تجارت حکم

سوال: که چيري يو شخص له اوسپني څخه جوړ سوی بت پلوري ايا دا تجارت روا دئ او که نه؟ او که صرف د اوسپني په حساب خرڅ کړل سي نو څه حکم يې دئ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: په یاد سوي صورت کي د اوسپني بت خرڅول ناروا دي او صرف د اوسپني په قیمت خرڅولو کي یې هم احتراز کول (ځانه ساتنه) په کار ده ځکه چي مشتري غالباً هغه په معصیت کي استعمالوي مګر څنګه چي له اوسپني څخه نور شیان هم جوړېدای سي، البته که هغه مات او ټوټه ټوټه کړي بیا یې خرڅول روا دئ.

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه أنه سمع رسول الله ﷺ يقول : عام الفتح وهو بمكة « إن الله ورسوله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والأصنام. (رواه البخارى، باب بيع الميتة والاصنام:۱/ ۲۹۸).

په عمدة القاري کي راځي:

لا يجوز بيع الميتة والأصنام لأنه لا يحل الانتفاع بها ووضع الثمن فيها إضاعة المال، وقد نهى الشارع عن إضاعته، قلت: على هذا التعليل إذا كسرت الأصنام وأمكن الانتفاع برضاضها جاز بيعها عند بعض الشافعية وبعض الحنفية . (عمدة القارى:۸/ ۵۶۹، باب بيع الميتة والاصنام، ملتان).

وفى سبل السلام: وأما علة تحريم بيع الأصنام فقيل لأنها لا منفعة فيها مباحة، وقيل إن كانت بحيث إذا كسرت تنفع بأكسارها جاز بيعها والأولى أن يقال لا يجوز بيعها وهي أصنام للنهي ويجوز بيع كسرها إذ هي ليست بأصنام ولا وجه لمنع بيع الأكسار أصلاً. (سبل السلام:۳/ ۵، كتاب البيوع، لمحمد بن اسمعيل الصنعانى).

وفى شرح السنة للإمام البغوي رحمه الله: وفي تحريم بيع الأصنام دليل على تحريم بيع جميع الصور المتخذة من الخشب والحديد والذهب والفضة وغيرها ، وعلى تحريم بيع جميع

آلات اللهو والباطل مثل الطنبور والمزمار والمعازف كلها ، فإذا طمست الصور ، وغيرت آلات اللهو عن حالتها ، فيجوز بيع جواهرها ، وأصولها ، فضة كانت أو حديداً أو خشباً أو غيرها. (شرح السنة للامام البغوی:۸/ ۲۸، المكتب الاسلامی).

پہ درمختار کې راځي:

اشترى ثورًا أو فرسًا من خزفٍ لأجل استئناس الصبي لا يصح، وفي الشامية: قوله من خزفٍ أي طينٍ قال ط : قيد به لأنها لو كانت من خشبٍ أو صفرٍ جاز اتفاقًا فيما يظهر لإمكان الانتفاع بها وحرره . وهو ظاهر. (الدر المختار مع الفتاوی الشامی:۵/ ۲۲۶، بابب المتفرقات، سعيد).

پہ کتاب الفتاوی کې راځي:

د مجسمو جوړول او خرڅول دواړه حرام دي او د دوی څخه لاس ته راوړل سوي پیسې ناروا دي. (کتاب الفتاوی:۵/ ۲۶۸).

پہ جواهر الفتاوی کې راځي:

رسول الله ﷺ له بت جوړوني او بت رانیولو او خرڅولو څخه منع فرمایلې ده.

همدارنګه د بتانو له استعمال څخه یې منع فرمایلې ده لهذا په مختلفو اشکالو مجسمې جوړول ناروا او حرام دي او نه د دوی رانیول او خرڅول روا دي که هغه د اوسپنې یا د سرو او سپینو یا خاورو یا پلاستک جوړ وي یا د کوم بل شي وي. (جواهر الفتاوی: جلد سوم: ۲۱۰).

پہ ایضاح المسائل کې راځي:

د اوسپنې استیل لرګي ډبري له دې څخه مجسمې جوړول بالکل حرام دي مګر که د دوی په تجارت کې مقصد مالیت وو بیا کېدای سي چي شکل او صورت یې د اصل مالیت تابع وي او لین او دین تول په وزن سره وکړل سي په دې صورت کې د دې تجارت پیسو ته خو بالکل حرام نه سي ویل کېدای مګر له تعاون علی المعصیت څخه نه سي صفا کېدای لهذا مکروه او مشکوکي پیسې دي لهذا د دې تجارت او کار وبار باید ونه کړل سي او یو تجارې د بل تجاره څخه رانه نیسي او که چیري

Maktaba Tul Ishaat.com

مقصد مالیت نه بلکي شکل او تصویر وو بیا د تجارت او پیسې تولي حرام دي. (ایضاح المسائل: ص ۱۵۶). همدا ډول وګورئ: (ایضاح النوادر: حصه اول: ص ۷۹ - ۸٤). والله ﷻ اعلم.

له مشتري څخه د مقدمې د درج کولو د اخراجاتو د وصول کولو حکم

سوال: عمر د زید څخه یو شی رانیوئ او د ثمن و اداء کولو ته یو متعین تاریخ وټاکل سوه د تاریخ د تېرېدو سره سره عمر ثمن اداء نه کړي زید مقدمه ثبت کړه اوس سوال دا دئ چي زید د مقدمه خرڅ او مصرف له عمر څخه چي مشتري دئ اخستلای سي او که نه؟

الجواب: د مقدمې د درج کېدلو پیسې او اخراجاتو کي اختلاف دئ ځیني علماء لکه حضرت مولانا عبد الحی لکنوي رحمه الله او نور وایي چي له مشتري څخه د مقدیمې ثبتولو خرڅ وصول کول ناروا دي او نور علماء چي د هغوی له جملې څخه حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله هم دئ وایي چي له مشتري څخه دي د مقدمې د ثبتولو پیسې وصول کړل سي یعنی اخستل یې روا دي.

حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمن صاحب په فتاوی دار العلوم دیوبند کي دواړه اقوال نقل کړي دي او د خبري تر تشریح کولو وروسته وایي چي د حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله رایه ځکه د ترجیح وړ معلومیږي چي په اوسنی زمانه کي د حقوقو په اداء کولو کي ډېره کمي کیږي بلکي تر دې زمانې وړاندي لا دا مرض ډېر عام سوی وو بناء پر دې خبره فقهاء کرام تصریح کوي چي د حق خاوند که د خپل حق په قدر او اندازه له ماله څخه د من علیه الحق په هره طریقه سره چي وي واخلي که څه هم د خپل حق له جنس څخه نه وي نو دا روا ده. (عزیز الفتاوی: ۱/ ٦٢٧).

بناء پر دې په پوښتل سوي صورت کي مشتري د توان او طاقت سره سره له اداء کولو څخه انکار کوي او بایع په مجبوری سره خپل قرض وصول کوي نو په دې حالت کي له سرکښه مشتري څخه د محکمي خرچه تر لاسه کول روا دي.

وګورئ په امداد الفتاوی کي راځي:

که چیري یو شخص د خپل حق د حفاظت په خاطر مقدمه له اخراجاتو سره ثبت او دائره کړي او د مخالف طرف بالکل د ظالمان رویې له کبله پر مقدمه ډېر اخراجات راځي نو په دې صورت کي د ډېرو علماوو په نزد د خرچي او اخراجاتو پیسې اخستل روا دي. (امداد الفتاوي: ۳/ ۱۲۳).

دزیات تفصیل لـه پاره وګورئ: (عزیز الفتاوی:۱/ ٦٢٦، دار الاشاعت – وفتاوی محمودیه:١٦/ ٤٦٠، مبوب ومرتب – وامداد الاحکام:٣/ ٤٦٠).

اشکال او جواب:

اشکال: مګر پر دې صورت ځینې حضرات دا سوال ښکاره کوي چې په دې صورت کې مشتري متسبب او بایع مباشر دئ او قاعده دا ده چې تاوان پر مباشر باندې وي نه پر متسبب لهذا له مشتري څخه چې متسبب دئ د مقدمې خرڅ اخیستل ناروا دي. د دې څه جواب دئ؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چې فقهاوو چې په هر ځای کې دا قاعده بیان کړې ده نو هلته یې استثناءات هم بیان کړي دي مثلا علامه ابن نجیم په الاشباء والنظائر کې فرمایي: « تضمین الساعی » له دې قاعدې څخه مستثنی ده که څه هم سعایه محض سبب دئ مګر متاخرینو علماوو د ضمان موجب بللی دئ.

وګورئ په الاشباء والنظائر کې راځي:

القاعدة التاسعة عشر: إذا اجتمع المباشر والمتسبب أضيف الحكم إلى المباشر.... وخرجت عنها مسائل.... الخامسة: الإفتاء بتضمين الساعي وهو قول المتأخرين لغلبة السعاية. (الاشباه والنظائر:١/ ٤٠٥، الفن الاول في القواعد الكلية).

وفي مجمع الضمانات : وضمن عند محمد رحمه الله وبه يفتى لغلبة السعاية في زماننا.(مجمع الضمانات:١/ ٣٦٢).

وللاستزادة انظر: (معين الحكام فيما يتردد بين الخصمين من الاحكام:١٥٦، في بيان القضاء بانواع الضمانات الواجبة، وكيفيتها – ومجمع الضمانات:١/ ٣٦٠-٣٦٢ – وخلاصة الفتاوى:٤/ ٢٦٠، الجنس السادس في السعاية، المكتبة الرشيدية). والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د قرض ورکولو په شرط د حصې خرڅولو حکم

سوال: دیوې کمپنۍ ممبران په حصو سره مبیعه خرڅوي او د هري یوې حصې پر اخستونکي لازمه ده چي و کمپنۍ ته به (۳۲۰) افغانۍ قرض ورکوي او کمپنۍ وخپلو مشتریانو ته له خپل پور سره سره پنځه فصیده د ګټي او نفعي په شکل ورکوي ایا داسي سودا کول روا ده او که نه؟

الجواب: په دې بیع کي لومړنۍ خرابي دا ده چي په دې کي فاسد شرط لګول سوی دئ او هغه دا چي پر مشتري (۳۲۰) افغانۍ پور ورکول دي او دا فقهاوو منع بللې ده.

بله خرابي یې دا ده چي کوم څوک چي پیسې جمع کوي هغه ته د خپلو پیسو فیصدي ورکول کیږي او دا طریقه ناروا ده ځکه چي په مضاربت کي طرفین د نفع حصه وړي نه د رقم حصه یعنی له رقم سره سره د نفعي حصه وړي نه د رقم حصه او که چیري ووایي چي له ګټي څخه و هریوه ته له مضاربینو څخه وښت سلنه ورکول کیږي دا روا ده نو بیا چي کومي منافع لاس ته راځي د هغو څلوېښتمه د مضاربینو وهریوه ته ورکول کیږي او دا خبره هم ضروري ده چي د بیعي د کولو په وخت کي به د کمپنۍ په ملکیت کي څه سامان یا جایداد وي چي پر هغه دومره بیع منعقده سي که فی الحال په لاس کي هیڅ موجود نه وي او پر خلکو حصه یا شیرز پلورل کیږي دا درسته او صحیح نه ده، البته که د خلکو څخه برابر او مساوي رقم تر لاسه سي بیا په هغه سره دیو کور رانیول سي دا صحیح دي مګر خو دا د شیرز بیع نه ده بلکي په مکان کي ټول شریکان سوه.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولا بيع بشرط لا يقتضيه العقد ولا يلائمه وفيه نفع لأحدهما. (الدر المختار: ۵/ ۸۵، سعيد).

په ردالمحتار کي راځي:

قوله مثال لما فيه نفع للبائع، ومنه ما لو شرط البائع أن يهبه المشتري شيئاً أو يقرضه.

(ردالمحتار: ۵/ ۸۵، مطلب فی الشرط الفاسد، سعيد).

په فتاوی هندیه کې راځي:

ولو باع شيئًا على أن يهب له المشتري أو يتصدق عليه أو يبيع منه شيئًا أو يقرضه كان فاسدًا . (الفتاوى الهندية:۳/ ۱۳٤، الباب العاشر فى الشروط التى تفسد البيع).

په خلاصة الفتاوی کې راځي:

ولو كان فى الشرط منفعة لأحد المتعاقدين بأن شرط البائع أن يقرض المشتري أو على القلب يفسد العقد. (خلاصة الفتاوى:۳/ ٥٠، الفصل الخامس فى البيع).

په بدائع الصنائع کې راځي:

ومنها : أن يكون الربح جزءًا شائعًا في الجملة ، لا معينًا ، فإن عينا عشرةً ، أو مائةً ، أو نحو ذلك كانت الشركة فاسدةً ؛ لأن العقد يقتضي تحقق الشركة في الربح والتعيين يقطع الشركة لجواز أن لا يحصل من الربح إلا القدر المعين لأحدهما ، فلا يتحقق الشركة في الربح . (بدائع الصنائع:٦/ ٥٩، كتاب الشركة، فصل فى الشرائط العامة، سعيد). (وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣٠٥، كتاب الشركة، سعيد).

په جدید معاملات کی شرعی احکام نومي کتاب کې راځي:

نن سبا د شرکت یو بل صورت هم مخ پر زیاتېدو دئ او هغه دا چې کوم شرکت والا یا دوکاندار و خپلو قریبانو یا ملګرو ته وایي دومره رقم جمع کړئ او هره میاشت به تاسو ته د کاروبار په منفعت یا ګټه کې دومره سلنه درکول کیږي دا صورت په ظاهري ډول روا معلومیږي مګر په دې کې څه خرابۍ دي یعنی عوام دا کاروبار روا بولي مګر په دې کې دېري خرابۍ وجود لري:

۱_ په هر هغه کاروبار کې چې سرمایه مشترکه وي او د ګټې معلومه حصه وربوه یا زیاتو شریکانو ته ورکول کیږي دا پر قرض د سود اخستلو په حکم کې راځي. لکه چا ته سل افغانۍ قرض ورکول سي او یو سلو شل تر لاسه کړل سي دا پر قرض سود کول دي، هر کله چې دا پر قرض د سود اخستلو په حکم کې سو نو حرام دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲_ په دې صورت کي پیسې شاملېدونکي نقصان نه برداشت کوي هغه نقصان د دوکاندار یا کمپنۍ والا وبرخي ته راجع کیږي حال دا دئ چي په شریعت مطهره کي ضروره ده چي په نقصان کي دواړه شریک دي لهذا دا شرکت فاسد وي او دا د فاسد شرکت یو صورت دئ چي ناروا دئ.
(جدید معاملات کی شرعی احکام:۲/ ۲٦).

په اسلام اور جدید معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

هر شریک ته به د حقیقي ګټي څخه یوه اندازه ورمعلومیږي نه د ده د جمع سوو پیسو فیصدي همدارنګه روا نه ده چي یو شریک ته د اصلي رقم څخه یوه اندازه معلومه کړل سي چي دا به ورکړل کیږي که ټولي مشترکي پیسې نقصان وکړي هم یوه وشریک یا متعددو شریکانو ته به دا اندازه ورکول کیږي. (اسلام اور جدید معاشی مسائل:۵/ ۳۱). والله تعالیٰ اعلم.

د استقبال په صیغه سره د بیعي د انعقاد حکم

سوال: زید و عمر ته وویل چي یوه میاشت وروسته دا سامان پر تا خرڅوم او که ما چیري دا خرڅ نه کړ ته زما له طرفه وکیل بالبیع یې د دې عقد څه حکم دئ ایا دا بیع کیږي او که نه؟ او د نه کولو یعنی له بیعي څخه د انکار په صورت کي یې څه حکم دئ؟

الجواب: د زید دا خبره چي یوه میاشت وروسته پر تا دا شی خرڅوم دا د بیعي عقد نه دئ بلکي دا د بیعي وعده ده لهذا پر دې د بیعي احکام نه جاري کیږي او داسي وعده کول فی نفسه صحیح ده او س که په کوم سبب زید وعده پوره نه کړي او عمر ته یې څرګنده کړه چي زما د بیعي اراده نسته او زما له طرفه ته وکیل بالبیع یې او عمر یې قبول کړي نو دا صحیح ده یعنی عمر وکیل جوړېدای سي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

صيغة الاستقبال التي هي بمعنى الوعد المجرد مثل سأبيع وسأشتري، لاينعقد بهما البيع.

(شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة:۱۷۱: ۱/ ۷۸).

په شرح عنايه کي راځي:

لا ينعقد بلفظين أحدهما الماضي، والآخر بلفظ المستقبل، وإنما لا ينعقد بذلك لأن النبي ﷺ استعمل فيه لفظ الماضي الذي يدل على تحقق وجوده، فكان الانعقاد منحصرًا عليه، ولأن لفظ المستقبل إن كان من جانب البائع كان عدةً لا بيعًا. (شرح العناية على هامش فتح القدير:٦/ ٢٤٩، دار الفكر).

البته زيد چي کله د بيع وعده وکړه نو هغه بايد پوره کړي خو که يې له کومي وجي هغه پوره نه کړای سوه نو ګناه ګار نه دئ.

په عمدة القاري کي راځي:

وقال العلماء: يستحب الوفاء بالوعد بالهبة وغيرها استحباباً مؤكداً، ويكره إخلافه كراهة تنزيه، لاتحريم. (عمدة القارى:١/ ٣٢٩، ملتان).

قال في الهداية: كل عقد جاز أن يعقده الإنسان بنفسه جاز أن يوكل به غيره، لأن الإنسان قد يعجز عن المباشرة بنفسه على اعتبار بعض الأحوال فيحتاج إلى أن يوكل به غيره، فيكون بسبيل منه دفعاً للحاجة، وقد صح أن النبي ﷺ وكل بالشراء حكيم ابن حزام رضي الله عنه.

(الهداية:٣/ ١٧٧، كتاب الوكالة). والله تعالى اعلم.

په بندو ډبو کي د مجهولي مبيعې د تجارت حکم

سوال: يوه کمپنی کارټن بسته ظروف خرڅوي او مشريان هغه کاټنان يا ډبې په ډېر شوق سره رانيسي، هغوی ته دومره معلومات سته چي په دې ډبو يا کارټنانو کي ظروف او لوښی وي مګر دا معلومه نه ده چي دا لوښی کوچني دي او که لوی، اعلی کيفيت لرونکی دي او که ادنی، هر ډول چي وه د مشتري خپل قسمت دئ چي څه يې په برخه او لاس ته ورغلل البته که په هغو ډبو کي يو مات سوی يا عيب لرونکی لوښی پيدا سي نو مشتري هغه بيرته واپس کولای سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې کې خیار رویت په کار وو ځکه مشتري په نه دید سودا کړي ده مګر په دې کې خیار رویت نسته البته خیار عیب سته د دې عقد شرعاً څه حکم دئ او که ناروا وي نو د صحت له پاره یې کوم صورت جوړېدلای سي او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کې دوې خرابۍ دي چې د هغو له کبله دا عقد فاسد دئ.

۱_ دا چې مبیعه مجهول ده.

۲_ د غیر مرئي شي تر رانیولو وروسته خیار رویت په کار دئ چې په دې صورت کې هغه نه سته که چیري مشتري د شی تر لیدلو وړاندې رضایت وښیي بیا هم خیار رویت ثابت پاتیږي او نه ساقطیږي او حال دا چې دلته د خیار رویت سوال نه سته.

۱_ د فساد عقد لومړۍ خرابي دا ده چې مبیعه مجهول وي مګر موږ په جواب کې ویلای سو چې دا جهالت مفضی الی النزاع (اختلاف او جګړې ته هڅونکی) ته نه دئ او په تجارت کې چې کوم جهالت مفضی الی النزاع نه وي هغه د عقد مفسد نه ګرځي او قابل تحمل دئ.

د هدایې مصنف رحمة الله علیه فرمایي:

والأثمان المطلقة لا تصح إلا أن تكون معروفة القدر والصفة لأن التسليم والتسلم واجب بالعقد وهذه الجهالة مفضية إلى المنازعة فيمتنع التسليم والتسلم، وكل جهالة هذه صفتها تمنع لجواز هذا هو الأصل. (الهداية:۳/ ۲۰).

د هدایې د مصنف له عباراتو څخه په واضح ډول معلومیږي چې هر جهالت مفضی الی لنزاع نه وي او کوم جهالت چې دا یې صفت وي (مفضی الی النزاع نه وي) هغه د عقد مفسد نه دئ بلکې هغه جهالت چې هغه نزاع پیدا کونکی وي هغه د عقد مفسد دئ.

په شرح مجله کې راځي:

وفى الهندية جهالت المبيع أو الثمن مانعة لجواز البيع إذا كان يتعذر معها التسليم وإن كان لايتعذر لايفسد العقد كما لوباع صبرة معينة ولم يعرف قدر كيلها أو باع أثواباً معينة

ولـم يعرف عددهاف وإنما يفسد البيع بالـجهالة الفاحشة إذا كان محتاجاً إلى تسليم الـمبيع وإلا فلا يفسد. (شرح المجلة، لسليم رستم باز: ١/ ١٠٢، دار الكتب العلمية).

په حاشيه طحطاوي كي راځي:

قوله معرفة قدر هو فى المصنف منون يشمل قدر الـمبيع والثمن قال فى البحر: وأشار بالـمعرفة إلى أن الشرط العلم بهما دون ذكرهـما كما فى الإيضاح فلو كان الـمبيع مـجهولاً جهالة فاحشة ولـم يجربها العرف لايصح البيع. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٣/ ١٢، كوئته).

په فتاوى عالمكيري كي راځي:

فإن كان مـجهولاً جهالة مفضية إلى الـمنازعة يمنع صحة العقد، وإلا، فلا. (الفتاوى الهندية:٤/ ٤١١، كتاب الاجارة).

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله وشرط لصحته معرفة قدر مبيع وثمن ككر حنطة وخمسة دراهم أو أكرار حنطة فخرج ما لو كان قدر المبيع مجهولاً أي جهالة فاحشة، فإنه لا يصح وقيدنا بالفاحشة لما قالوه لو باعه جميع ما في هذه القرية أو هذه الدار والمشتري لا يعلم ما فيها لا يصح لفحش الجهالة، أما لو باعه جميع في هذا البيت أو الصندوق أو الجوالق فإنه يصح لأن الـجهالة يسيرة. (فتاوى الشامى:٤/ ٥٢٩، كتاب البيوع، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

علامه عینی رحمة الله علیه فرمايي:

وكل جهالة هذه صفتها تمنع الجواز أى جواز العقد هذا أى كون الجهالة المفضية إلى المنازعة مانعة هو الأصل أى في كتاب البيوع بالإجماع لأن شرعية المعاملات لقطع المنازعات المفضية إلى الفساد. (البناية فى شرح الهداية:٣/ ١٥) .

په فيض الباري كي شاه صاحب رحمة الله علیه فرمايي:

قلت: إن الناس يتعاملون في أشياء تكون جائزةً فيما بينهم على طريق المروءة والإغماض، فإذا رفعت إلى القضاء يحكم عليها بعدم الجواز.... وذلك لأن العقود على نحوين: ـ نحوٍ: يكون معصيةً في نفسه، وذا لا يجوز مطلقًا، ونحوٍ آخر: لا يكون معصيةً، وإنما يحكم عليه بعدم الجواز لإفضائه إلى المنازعة، فإذا لم تقع فيه منازعة جاز. (فيض البارى:٣/ ٢٨٩، كتاب الوكالة).

على احمد الندوي په جمهرة القواعد الفقهية كي فرمايي:

الجهالة ليست بمانعة لذتها، بل لكونها مفضية إلى النزاع وهذا أصل مهم ينبغى التعويل عليه فى الأحكام، فإن به حل كثير من المشكلات، وليعلم أن أحكام المعاملات الشرعية مبنية على أصلين عادلين:

الأول: منع كل ما فيه ظلم وأكل لأموال الناس بالباطل.

الثاني: منع ما يؤدي إلى الاختلاف والنزاع بسبب الجهالة، فإذا انتفى ما يؤدي إلى الظلم والنزاع بسبب الجهالة، صح التعامل، والعرف أصل عظيم يرجع إليه فى ذلک بعد الشرع.

(جمهرة القواعد الفقهية فى المعاملات المالية:١/ ٣١٩، تحت القاعدة: الجهالة انما توجب الفساد اذا كانت مفضية الى التزاع المشكل).

مفتي ولي حسن صاحب وايي:

كوم جهالت چي نزاع او جګړه پيدا كونكى وي منع دئ او هغه جهالت چي د نزاع سبب نه جوړيږي هغه منع نه دئ.

۲_ د فساد عقد دوهمه خرابي عدم رويت وو نو د دې داسي توجه كيداى سي چي نن سبا په دوكانو كي تجارت او بيع بالتعاطي كيږي چي د ايجاب او قبول نوم او نښان هم پكښې نه وي يعنى په عقد كي د خيار رويت د عدميت او نيستى شرط شامل نه دئ په دې وجه كه چيري كارتن بسته شيان په بيع بالتعاطى سره واخستل سوه او مشتري تر اخستلو وړاندي يا وروسته وعده وكړه چي تر ليدلو وروسته زه دا سامان نه واپس كوم نو مشتري ته د خپلي وعدې لحاظ او خيال ساتل په كار دي.

په شرح مجله كي راځي:

لو ذكر البيع بلا شرط، ثم ذكر الشرط على وجه العدة، جاز البيع ولزم الوفاء بالوعد، إذ المواعيد قد تكون لازمة فيجعل لازماً لحاجة الناس. (شرح المجلة فصل فى حق البيع بشرط: ۲/ ۶۱). والله ﷻ اعلم.

په مطلقه بيع كي د ثمن د تاجيل حكم

سوال: كه يوه سړي يو كتاب په پنځوس افغانى خرڅ كړ او مشتري ووېل چي پيسې وروسته دركوم يعنى د دوى دوو په منځ كي عقد تام سو بيا مشتري وايي چي پيسې وروسته دركوم يا دا روا دئ او كه نه؟

او كه بايع ووېل چي په دې شرط يې درباندي خرڅوم چي پيسې به په حمل يا ثور مياشت كي راكوې څه حكم يې دئ ايا روا دي او كه نه؟

الجواب: كه چيري بيع پوره سي او وروسته دا خبره سي چي ثمن وروسته دركوم هيڅ حرج نسته ځكه بيع مطلق وكړل سوه او وروسته چي په مدت كي كوم جهالت راغئ هغه مضر نه دئ او كه چيري د پور په شرط واخستل سي او په وخت كي يې جهالت راسي دا ناروا ده حال دا چي په بيع مؤجل كي د اجل تعين ضروري دئ او په بيع مطلق كي د اجل جهالت مضر نه دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

په هدایه کي راځي:

بخلاف ما إذا باع مطلقا ثم أجل الثمن إلى هذه الأوقات حيث جاز لأن هذا تأجيل في الدين وهذه الجهالة فيه محتملة. (الهداية:٣/ ٦١).

په شرح مجله کي راځي:

وفي جامع الفصولين: الرواية محفوظة أنه لو باع مطلقاً ثم أجل الثمن إلى حصاد ودياس لايفسد ويصح الأجل. ووجهوه بأن التأخير بعد البيع تبرع فيقبل التأجيل إلى الوقت المجهول.

(شرح المجلة للاتاسى، المادة: ٢٤٨، ٢/ ١٦٨، الفصل الثانى – وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار: ٤/ ٥٣٢، مطلب فى التاجيل الى اجل مجهول، سعيدو ٥/ ٨٢، باب البيع الفاسد، سعيد).

۲_ دوهم صورت روا نه دئ البته که تاریخ تعین کړي او وروسته له بایع څخه مهلت طلب کړي دا صحیح ده.

په شرح مجله کي راځي:

يلزم أن تكون المدة معلومة في البيع بالتأجيل والتقسيط، لأن جهالته تفضي إلى النزاع، فالبائع يطالب في مدة قريبة، والمشتري يأباها، فيفسد البيع، بحر. (شرح المجلة للاتاسى، المادة٢٤٦، ٢/ ١٦٧). والله ﷻ اعلم.

پر مبیعه د قبضې حاصلولو د اختلاف حکم

سوال: یو چا درخته رانیول اوس مشتري د هغې درختي له بېخه څخه کښل غواړي او بایع وایي چي د ځمکي پر سر دي پرې سي اوس د چا خبره د منلو ده د بایع ده او که د مشتري؟

الجواب: څنګه چي د بیع په وخت کښ سودا بلا شرط څخه وکړل سوه نو مشتري کولای سي چي درخته له بېخه وکاږي البته د درختي له بېخه کښل به نزدې دېوال او لاري او نورو به ته تاوان نه رسوي که چیري شبهه د تاوان وو بیا یې د ځمکي پر سر پرې کول ضروري او لازم دي او که چیري له دې

شرط سره پلورل سوي وي چي د مځکي پر سر به يې پرې کوي نو بيا د هغه مطابق عمل کول ضروري دي او که هيڅ شرط نه وي نو بيا په عرف او رواج باندي عمل کول په کار دي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

وفيها إذا اشترى شجرةً للقلع ، فإنه يؤمر بقلعها بعروقها وليس له حفر الأرض إلى انتهاء العروق بل يقلعها على العادة إلا إن شرط للبائع القطع على وجه الأرض أو يكون في القلع من الأصل مضرة على البائع كما إذا كانت بقرب حائطٍ أو بئرٍ ، فإنه يقطعها على وجه الأرض . (البحر الرائق:٥/ ٢٩٤، كتاب البيع، فصل يدخل البناء والمفاتيح في بيع الدار).

په ردالمحتار کي راځي:

اشترى شجرة للقلع يؤمر بقلعها بعروقها وليس له حفر الأرض إلى انتهاء العروق بل يقلعها على العادة إلا أن شرط البائع القطع على وجه الأرض أو يكون في القلع من الأصل مضرة للبائع ككونها بقرب حائط أو بئر فيقطعها على وجه الأرض . (رد المحتار:٤/ ٥٥٤، كتاب البيوع، مطلب في بيع الثمر والزرع والشجر مقصوداً، سعيد).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

ولو اشترى الشجر مطلقاً له أن يقطع من الأصل. (خلاصة الفتاوى:٣/ ٢٨، كتا البيوع، الفصل الثالث فيما يجوز بيعه وفيما لايجوز).

په الفتاوی قاضی خان کي راځي:

رجل اشترى شجرة بشرط أن يقلعها تكلموا في جوازه والصحيح أنه يجوز و للمشتري أن يقلعها من أصلها، وإن اشتري بشرط القلع.... وله أن يقطعها من وجه الأرض فأما عروقها في الأرض لا تكون له إلا بالشرط. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:٢/ ٢٤٥، كتا البيوع).

Maktaba Tul Ishaat.com

وللا ستزادة: انظر: (الفتاوى الهندية:٣/ ٣٥، كتاب البيوع، باب مايجوز بيعه وما لايجوز – وفتاوى حقانية:٦/ ٦٠، كتاب البيوع، باب مايجوز بيعه ومالايجوز).

په عطر هدايه كي راځي:

كه چيري د درختو په پرې كولو كي عرف دا وو چي پر سر به يې پرېكوي يا دا چي يو گز اندازه به مځكه كندل كيږي بيا د عرف مطابق عمل كول كيږي او له اطرافو او جوانبو څخه يې كښل منع دي مگر دا چي د عقد په وخت كي صراحتاً يادونه شوې وي چي له بېخ څخه به كښل كيږي.

مسئله: كه له بېخه د كښلو په صورت كي بايع ته تاوان ښكاره كېدئ بيا دې له كندلو څخه منع سي مثلاً كه دېوال يا كوهي ته تاوان وو. (عطر هدايه: ص ١٨٦). **والله ﷻ اعلم.**

د بلاربي (حمل داري) غوا د تجارت حكم

سوال: يو شخص په دې شرط غوا رانيوه چي حمل دار (بلار به) ده او هغه حمل دار نه سوه ايا اوس دا غوا واپس كېداى سي او كه نه؟

الجواب: فقهاوو د حمل په شرط د غوا اخستل فاسد عقد بللئ دئ او په فاسد عقد كي رد واجب دئ لهذا عقد دي فسخ كړي او بيله شرطه دي عقد وكړي، البته كه له بايع وعده وكړي چي دا غوا يا بزه حمل داره ده كه حمل داره نه وه زما وعده ده چي زه به دا غوا يا بزه بيرته اخلم نو بيا د وعدې په اساس بيرته وركول كېدلاى سي.

وگورئ په فتح القدير كي راځي:

فعلى هذا يتفرع ما لو باع ناقةً أو شاةً على أنها حامل أو تحلب كذا فالبيع . (فتح القدير:٦/ ٥٢٨، دار الفكر).

په درمختار کي راځي:

بخلاف شراءه شاة على أنها حامل أو تحلب كذا رطلاً.... فسد لأنه شرط فاسد لا وصف. وفي الشامية: قوله : لأنه شرط فاسد، لأنه شرط زيادةٍ مجهولةٍ لعدم العلم بها.... ما في البطن والضرع لا تعلم حقيقته . (الدر المختار مع ردالمحتار:٤/ ٥٨٨، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

ولو باع شاة على أنها حامل فسد البيع لأن الولد زيادة مرغوبة وأنها موهومة لايدري وجودها فلا يجوز. (شرح المجلة:٢/ ٦٧، لمحمد خالد الاتاسى).

په شرح مجله کي راځي:

لو ذكر البيع بلا شرط، ثم ذكر الشرط على وجه العدة، جاز البيع ولزم الوفاء بالوعد، إذ المواعيد قد تكون لازمة فيجعل لازماً لحاجة الناس. (شرح المجلة للاتاسى، فصل فى حق البيع بشرط:٢/ ٦١).

د مبيعې د کمېدو په صورت کي د ثمن د کمېدو حکم

سوال: زيد له عمرو څخه درې جريبه مځکه په درې لکه افغاني رانيول کله چي مځکه د متر په حساب گز سول نو د گزاني په حساب تر درې جريبه کمه سوه اوس يې قيمت کمولای سي او که نه؟

الجواب: په يادسوي صورت کي چي څومره مځکه کمه ختلې ده نو هغومره قيمت کمولو اختيار دئ.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ولو قال بعتكها على أنها مائة ذراع بمائة درهم كل ذراع بدرهم فوجدها ناقصة فالمشتري بالخيار إن شاء أخذها بحصتها من الثمن وإن شاء ترك لأن الوصف وإن كان تابعاً لكنه صار أصلاً بإفراده بذكر الثمن. (الهداية:٣/ ٢٣، كتاب البيوع).

Maktaba Tul Ishaat.com

په تبیین الحقائق کي راځي:

ولو قال كل ذراعٍ بكذا ونقص أخذه بحصته أو ترك وإن زاد أخذ كله كل ذراعٍ بكذا أو فسخ، معناه أنه إذا قال بعتكه على أنه عشرة أذرعٍ كل ذراعٍ بدرهمٍ مثلًا فوجده ناقصًا فهو بالخيار إن شاء أخذه بحصته وإن شاء تركه وإن وجده زائدًا أخذه كله كل ذراعٍ بدرهمٍ أو فسخ ؛ لأن الذراع وإن كان وصفًا يصلح أن يكون أصلًا ؛ لأنه عين ينتفع به بانفراده، فإذا سمى لكل ذراعٍ ثمنًا جعل أصلًا وإلا فهو وصف فإذا صار أصلًا فإن وجده ناقصًا أخذه بحصته ويثبت له الخيار لتفرق الصفقة عليه. تبيين الحقائق:٤/ ٦، كتاب البيوع، ملتان).

وللاستزادة انظر: (منحة الخالق على هامش البحر الرائق:٥/ ٢٩١، كوئته). والله ﷻ اعلم.

د وريجو يا غنمو د كوټي د تجارت حكم

سوال: يو شخص د غنمو يا وريجو كوټه لري او وايي چي كيلو په پنځوس افغانۍ دئ ايا دا بيع صحيح ده او كه نه؟

الجواب: دا بيع د صاحبينو پر مذهب صحيح ده او فتوى هم د صاحبينو پر مذهب ده.

وګورئ په هدايه كي راځي:

ومن باع صبرة طعام كل قفيز بدرهم جاز البيع في قفيز واحد عند أبي حنيفة رحمه الله إلا أن يسمى جملة قفزاتها وقالا: يجوز في الوجهين. (الهداية:٣/ ٢٢، كتاب البيوع).

په بحر الرائق كي راځي:

وظاهر ما في الهداية ترجيح قولهما لتأخيره دليلهما كما هو عادته ، وقد صرح في الخلاصة في نظيره بأن الفتوى على قولهما.... قال الفقيه أبو الليث والفتوى على قولهما تيسيرًا للأمر على المسلمين . وعلى هامشه (قوله : وقد صرح في الخلاصة في نظيره) قال في النهر وفي عيون

المذاهب به يفتى لا لضعف دليل الإمام بل تيسيرًا على الناس .... وعزا في الدر المختار مثل ما في النهر إلى الشرنبلالية عن البرهان والقهستاني عن المحيط وغيره . (البحر الرائق مع منحة الخالق:٥/ ٢٨٥، كتاب البيع، كوئته).

په حاشيه الشرنبلاليه کي راځي:

قوله وقالا: يجوز مطلقًا قال في البرهان وبه يفتى وذكر وجهه. (حاشية الشرنبلالية على الدرر:٢/ ١٤٧).

وللاستزادة انظر: (خلاصة الفتاوى:٣/ ٣٢ – ورد المحتار:٤/ ٥٤٠، سعيد – وحاشية الطحاوى على الدر المختار:٣/ ٧، كوئته – والبناية:٧/ ٣٨). والله ﷻ اعلم.

د بيعاني د ضبط کولو له شرط سره د تجارت حکم

سوال: زيد له عمر شخه د موټر د اخستلو خبره وکړه او عمر ته يې بيعانه ورکړل او وې ويل چي که ما موټر وانه خست بيعانه به ضبطيږي بيا زيد د کوم عذر په سبب موټر وانه خست اوس بيعانه ضبطول روا ده او که نه؟ او د رانيولو په صورت کي د دي فاسد شرط په سبب عقد فاسد دئ او که نه؟

الجواب: بيعانه ضبطول روا نه ده، د بيعانې صورت او شکل داسي وي چي د جايداد يا کوم بل شي د عقد په وخت کي تر مبيع نامه يا اقرار نامې تر ليکلو وړاندي چي بيع لا مکمل سوې نه وي د مشتري له طرفه پيشکي رقم وبايع ته ورکول کيږي او بيا چي ټول رقم اداء کيږي مخکني پيسې هم حسابيږي داسي بيعانه ورکول روا دي مګر نن سبا قانون دا دئ که چيري مشتري له طي سوي جائداد يا موټر شخه د کوم مجبوريت په خاطر پيښمانه سي نو بيا مشتري ته د بيعاني رقم بيرته نه ورکول کيږي بلکي بايع هغه رقم په خپل ملکيت کي داخلوي وي لهذا د شريعت له لحاظه وبائع ته داسي کول روا نه دي همدارنګه دا معامله کول له قمار سره مشابه ده.

حضرت شاه ولی الله رحمه الله په حجة الله البالغه کي د داسي رقم ضبطول د قمار مترادف بللی دئ:

Maktaba Tul Ishaat.com

قال: نهى عن بيع العربان أن يقدم المشتري إلى البائع شيء من الثمن، فإن اشترى حسب من الثمن، وإلا فهوله مجاناً، وفيه معنى الميسر. (حجة الله البالغة:٢/ ١٩١، البيوع المنهى عنها، قديمى كتب خانه).

په حديث شريف دي:

مالك عن الثقة عنده عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده :أن رسول الله ﷺ نهى عن بيع العربان. (رواه مالک فی المؤطا، ص ٥٦٨، ماجاء فی بيع العربان – وابو داؤد:٢/ ٤٩٤ – وابن ماجة:١٥٨، باب بيع العربان – والبيهقی فی سننه الكبرى:٥/ ٣٤٢).

ژباړه:

حضرت نبي کريم ﷺ د بيعانې رقم په داسي شرط ورکول چي بيا به يې نه ورکوي منع کړی دئ. ابو عبدالله بن ماجه وايي چي د عربان شکل دا وه چي يو شخص مثلاً په سل دیناره يو حيوان واخلی بيا دوه ديناره په داسي ورنا سره مخکي ورکړي چي که ما دا حيوان ستا څخه وانه خستئ نو دا دواړه دينارونه ستا سول.

په بدايه المجتهد کي راځي:

جمهور علماء الأمصار على أنه بيع العربان غير جائز.... وإنما صار الجمهور إلى منعه لأنه من باب الغرر والمخاطرة وأكل المال بغير عوض. (بداية المجتهد:٥/ ٨).

په تاليفات رشيديه نومي کتاب، کي راځي:

بيعانه په داسي ډول ورکول چي بيع وسوه منجمله د ثمن څخه شمارل کيږي او که ونه سو نو ورڅخه ضبطيږي روا نه ده. « لأن النبى عليه اسلام نهى بيع العربان» **مګر که دا پرېکړه وسي چي د عدم بيع (د سودا د نه کولو) په صورت کي بيعانه بېرته ورکول کيږي بيا صحيح ده او څه مشکل نه سته.**(تاليفات رشيديه:ص ٤٠٥٩.

په اسلام اور جديد معاشى مسائل نومي كتاب كي راځي:
دامام مالک رحمة الله عليه، امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه د دې درو دواړو امامانو په نزد دا شرط لګول روا نه دئ چې بيع تامه نه سوه بائع به بيعانه ضبطوي ځکه بايع چې دا پيسې ضبط کړې دا بلا عوضه د بايع په ملکيت کې راغلي دي.
دامام احمد بن حنبل رحمة الله عليه پر مذهب بيع العربون روا ده لهذا هغه وايي بايع چې کومي پيسې ضبط وي د هغه دا کار يعنى د پيسو ضبطول روا دي. (اسلام اور جديد معاشى مسائل:٤/ ١٥٩).
دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى محموديه: ٢٤/ ٢٠١، مكتبة محموديه – وفتاوى حقانية:٦/ ٩٩ – غرر كى صورتين: ص ١٣٠-١٥٨).
داخستلو په صورت کې (چې مشتري يې رانيسي) څرنګه چې شرط تد بيع تر انعقاد وړاندي ذکر سوى دئ لهذا له دې شرط څخه عقد نه فاسديږي.
په شرح مجله کې راځي:
بقي ما إذا ذكر الشرط قبل العقد ثم عقد خالياً عن الشرط، وقد ذكره في الثامن عشر من جامع الفصولين حيث قال: شرط شرطاً فاسداً قبل العقد، ثم عقداً لم يبطل العقد. (شرح المجلة للاتاسى، فصل فى حق البيع بالشرط:٢/ ٦١).
وكذا ذكره ابن عابدين رحمة الله عليه فى حاشية على الدر المختار:٥/ ٨٤، فى الشرط الفاسد اذا ذكر بعد العقد او قبله، سعيد).

يو اشكال او د هغه جواب:

اشكال: په مصنف عبد الرازق رحمة الله عليه کې د بيع عربان د جواز يو روايت منقول دئ پر همدغه روايت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه د خپل مذهب بنياد ايښى دئ او روا يې بللې ده د دې څه جواب دئ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

قال فی التلخیص الحبیر: وقال عبد الرزاق في مصنفه : أنا الأسلمي عن زيد بن أسلم سئل رسول الله ﷺ عن العربان في البيع فأحله وهذا ضعيف مع ارساله والأسلمي هو إبراهيم بن محمد بن أبي يحيى. (التلخيص الحبير:٣/ ٤٠).

وفی نيل الأوطار: وأخرجه عبد الرزاق في مصنفه عن زيد بن أسلم .... إلى قوله وهو مرسل وفي إسناده إبراهيم بن أبي يحيى وهو ضعيف. (نيل الاوطار:٥/ ١٦٢).

امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه په هغه قصه سره هم استدلال کوي چې په بخاري شريف کې ذکر سوې ده.

واشترى نافع بن عبد الحارث دارًا للسجن بمكة من صفوان بن أمية على أن عمر رضي الله عنه إن رضي بالبيع فالبيع بيعه وإن لم يرض عمر رضي الله عنه فلصفوان أربع مئةِ دينار وسجن ابن الزبير رضي الله عنه بمكة.(بخاری شریف:١/ ٣٢٧، باب الربط والحبس فی الحرم – واخرجه عبد الرزاق فی مصنفه:٥/ ١٤٧، باب الكراء فی الحرم).

په دې قصه کې څلور سوه ديناره د بيعانې په شکل ورکول سوي دي.

الجواب: علامه عيني رحمة الله عليه او حافظ ابن حجر رحمة الله عليه د دې جواب ورکړی دئ.

په عمدة القاري کې راځي:

وأجيب بأنه لم يكن داخلاً في نفس العقد بل هو وعد أو هو مما يقتضيه العقد أو كان بيعاً بشرط الخيار لعمر رضي الله عنه أو إنه كان وكيلا لعمر رضي الله عنه وللوكيل أن يأخذ لنفسه إذا رده الموكل بالعيب ونحوه . (عمدة القاری:٩/ ١٥١).

په فتح الباري کي راځي:

وأما كون نافع شرط لصفوان أربع مائة إن لم يرض عمر رضي الله عنه فيحتمل أن يكون جعلها في مقابلة انتفاعه بتلك الدار إلى أن يعود الجواب من عمر رضي الله عنه. (فتح الباری:٥/ ٧٦).

په هر حال مسئله مجتهد فيه ده او د مسئلې د مختلف فيه او ضرورت له کبله د امام احمد بن حنبل رحمه الله پر مذهب مفتي محمد تقی فتوی ورکول جائز ګڼلې ده.

په اسلام اور جديد معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

څنګه چي معامله مختلف فيه ده لهذا بيع بالعربون ته بالکل باطل نه سو ويلای او ډېر وختونه د داسي بيع ضرورت پيښيږي په ځانګړي ډول زموږ په زمانه کي چي په نړۍ واله سطحه د يوه هيواد د بل هيواد سره تجارت کيږي هلته معامله يداً بيدٍ نه وي او نه کېدای سي او که يو شخص له بل يوه څخه سامان وغواړي او ووايي چي ستا څخه سامان راوړم او بايع د هغه له پاره سامان يو ځای او جمع کړي او ټول کارې مکمل کړ اوس مشتري منکر او له بيع څخه لاس په سر سي او ووايي چي زه بيع نه کوم نو په دې صورت کي به بايع ته د لکونو نقصان ورسيږي ځکه کوم مصرف چي بايع د سامان پر يو ځای کېدو کړی دئ هغه کوم بې مصرفه شی نه دئ ځکه د يوه هيواد يا د يوې کمپنۍ تجارت خو په ډېره لوړه کچه وي لهذا وبايع ته بېله بيعانې سخت زيان رسيږي. په دې صورت کي که بايع د عربون شرط ولګوي د دې له پاره چي مشتري پابند سي نو د دې ګنجائش معلوميږي چي امام احمد بن حنبل رحمه الله پر مذهب فتوی ورکړل سي او دا روا ده مګر که ضرورت نه وي او هسي خلکو د پيسو ګټلو له پاره دا دنده شروع کړي وي نو بيا روا نه ده. (اسلام اور جديد معاشی مسائل:٤/ ١٦١).

او زما له پلار (حضرت مولانا محمد شفيع) څخه نقل سوی دئ چي حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله به د معاملاتو په اړه د ضرورت پر وخت او د عام ابتلاء په صورت کي پر دوهم مذهب د فتوی ورکولو اجازه له حضرت ګنګوهي رحمه الله څخه اخيستل.

او تر کومه ځايه چي د سنن ابن ماجه روايت دئ هغه ضعيف دئ ډاکټر بشار عواد د سنن ابن ماجه په تعليق کي وايي:

إسناده ضعيف، لانقطاعه، فقد رواه مالک بلاغاً عن عمرو بن شعيب أخرجه مالک فی المؤطا (٣٧٧) وأحمد (٢/ ١٨٣) وأبو داؤد (٣٥٠٢) وانظر: تحفة الأشراف (٦/ ٣٤٢/ ٨٨٢٠) وتهذيب الكمال (٣٥/ ١٠٠) ومصباح الزجاجة (ص ١٣٨) والمسند الجامع (١١/ ١١٥/ ٨٤٦٩) وضعيف ابن ماجة للألباني (٤٧٥) وهو مكرر ما بعده. وعن مالك بن أنس قال: حدثنا عبد الله بن عامر الأسلمي عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده.... وإسناده ضعيف، لضعف عبد الله بن عامر الأسلمي. (سنن ابن ماجه بتعليق الدكتور بشارعواد:٣/ ٥٤٣).

وفي حاشية السندي على ابن ماجة: وروي عن ابن عمر رضي الله عنه أنه أجاز هذا البيع ، ويروى عن عمر رضي الله عنه ومال أحمد إلى القول بإجازته ، وضعف الحديث فيه ، لأنه منقطع فقال : رواه مالك عن بلاغاً. (حاشية السندى على سنن ابن ماجة:٤/ ٤١٥). والله تعالى اعلم.

په حوض کي د ماهيان د تجارت حکم

سوال: زه يو ماهي خرڅونکی يم او د مختلفو ځايو څخه ماهيان راوړم له هغو څخه لاندي کوم صورتونه روا دي:

١_ له حوض څخه تر راکښولو وروسته يې اخلو.

٢_ په حوض کي دننه ماهيان رانيسو او حوض د ماهيانو له پاره جوړ سوی وی د هغه د کوچني والی په سبب ماهيان په اسانی سره نيول کيږي او د حوض مځکه د مالک په ملکيت کي ده؟

٣_ او که د حوض دژور والي په سبب د ماهيانو نيول زحمت وغواړي اوس يې د رانيولو حکم څنګه دئ؟

۴_ حوض د چا په ملکيت کي نه دئ مګر څه خلک پر هغه مسلط دي او د ماهيانو په نيولو کي له هغو څخه د اجازې اخستلو ضرورت وي او هغوی پر دې خپله خرچه اخلي؟

۵_ تالاب يا حوض د چا په ملکيت کي نه دئ مګر صرف د اوبو رسېدلو تدبير غواړي. د دې ټولو صورتو احکام لنډ راته بيان کړئ؟

الجواب: ۱_ له حوض څخه د ماهیانو تر راکښلو وروسته د هغوی اخیستل روا دي خو کله چې په اسانۍ سره نیول کیږي یعنی که په اسانۍ سره د ماهیانو پر نیولو قادر وي ماهیان اخیستل روا دي.

په الدرالمختار کي راځي:

وفسد بيع سمک أو صيد ثم ألقي في مكان لا يؤخذ منه إلا بحيلة وإن أخذ بدونها صح.

(الدر المختار:٥/ ٦٠، سعيد).

وفي حاشية ابن عابدين: وأنه (السمک) يملک بالقبض. (فتاوى الشامي:٥/ ٦٠، سعيد).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سوال: که چیري ماهیان خپله راووتل مثلاً چي اوبه وچې سي او په هغه ځای کي پاته سي او پر ملاح خرڅ کول سول څه شرعي قباحت او ممانعت خو به نه وي؟

الجواب: هغه ماهیان چي خپله راوتلی وي پر ملاح یې خرڅول صحیح دي. (فتاوی محمودیه:٢٤/ ٣٣، مکتبة محمودیه)

۲_ په هدایه کي راځي:

ولو كان يؤخذ بغير حيلة اصطياد جاز. (الهداية:٣/ ٥١ – وكذا فى الفتاوى الهندية:٣/ ١٣٣ – وكذا فى فتاوى الشامى:٥/ ٦٠، سعيد).

۳_ که په اسانۍ سره نیول ممکن نه وو نو هغه ته غیر مقدور التسلیم ویل کیږي لهذا د هغوی اخستل ورا نه دي.

په درالمختار کي راځي:

وفسد بيع سمک أو صيد ثم ألقي في مكان لا يؤخذ منه إلا بحيلة. وفى الشامية: قوله فلو سده ملكه أي فيصح بيعه إن أمكن أخذه بلا حيلة وإلا فلا، لعدم القدرة على التسليم. (الدر المختار مع درالمحتار:٥/ ٦٠، مطلب فى البيع الفاسد، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

وفـی رد الــمحتار: او بحیلـة لـم یـجز لانـه وان کـان مــملوکاً فلـیس مقـدور التـسلیم.

(درالمحتار: ٥/ ٦١، مطلب فی البیع الفاسد، سعید).

پہ هدایه کي راځي:

ولا في حظیرة إذا کان لایؤخذ إلا بصیده لأنه غیر مقدور التسلیم. (الهدایة: ٣/ ٥١).

۴_ د شـی د خرڅولـو لـه پـاره دوې خبـري ضـروري دي اول دا چـي کـوم شـی چـي خرڅیـږي د خرڅونکي به هغه شی په ملکیت کـي وي دوهـم دا چـي د هغـه شـي بـه ومشتري تـه حواله کول او سپارل ممکن وي.

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

پر ماهیانو قبضه او ملکیت ثابتول پر درې ډوله دي:

١_ یو دا چي یو شخص ماهیانو ته حوض کندلي وي او ماهیان ورته راځي.

٢_ د دې مقصد له پاره مځکه تیار سوې نه ده مګر د اوبو له راتـګ سره ماهیـان ور داخـل سـول او وروسته یې د تللو لاره بنده کړه دا هم په ملکیت کي راتګ دئ.

٣_ یا هغه په خپله په اوبو کي ماهیان اچولی وو، د دې له پاره چي زیادت وکـړي نو پـه درو سره صورتو کي ماهیان مقدور التسلیم متصور کیږي او بلا ښکار کولو یې حصول ممکن دئ.

(جدید فقهی مسائل: ٤/ ٣٠٦)

لهذا په پورتنی مسئله کي چي کوم څوک پر تالاب یا حوض مسلط دئ، له لوړو درو صورتونو څخه چي یې هریو صورت اختیار کړ هغه د کبانو مالک ګرځي او له هغه څخه رانیول روا دي.

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

په حوض کي موجود ماهیان له را استلو پر ته رانیول او خرڅول منع دي پر ته لـه دې چي ماهیـان دومـره زیـات وي چـي پـه حـصول کـي یـې د ښـکار ضـرورت نـه پیـدا کیـږي. (جدیـد فقهـی مسائل: ٤/ ٣١٦)

۵_ که چیري وحوض ته اوبه په دې مقصد رسول کېدې چې ماهیان حاصل سي او د ماهیانو تر راتګ وروسته د اوبو د تلو د لاري په بندیدو سره ماهیان پاته کېدل دا ماهیان د دې شخص په ملکیت کي دي او دا شخص يې مالک دئ اوس که ماهیان په اسانئ سره نیول کیږي بیا د هغو رانیول او خرڅول هم روا دي یعنی له هغوی حصول په اسانئ سره ممکن وو نو د هغوی رانیول او خرڅول هم روا دئ.

په فتح القدیر کي راځي:

وإن لم يكن عدها لذلك لا يملك ما يدخل فيها فلا يجوز بيعه لعدم الملك إلا أن يسد الحظيرة إذا دخل فحينئذٍ يملكه ثم ينظر إن كان يؤخذ بلا حيلة جاز بيعه وإلا لا يجوز. (فتح القدير:٦/ ٤١٠، دار الفكر – وكذا فی فتاوی الشامی:٥/ ٦١، سعيد)

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد الفتاوی:٣/ ٤٦-٥٠ – واحسن الفتاوی:٦/ ٤٨٠ – وامداد الاحکام:٣/ ٣٦٥ – وجدید فقهی مسائل:٤/ ٣٠١-٣١٦).والله ﷻ اعلم.

د مباح الاصل شیانو تر جمع کولو وروسته د هغو د خرڅولو حکم

سوال: یو شخص خپل کلي ته نږدې د غرونو درختي پرې کوي او بیا يې خرڅوي ایا دا روا دي او که نه؟ همدارنګه که چیري کلیوالي جوړښت یا حکومت د هغو درختو پرې کول منع کړي وي نو د پرې کولو يې څه حکم دئ؟

الجواب: مباح الاصل (چي په اصل کي مباح وي) شیان جمع کول او بیا خرڅول روا دي لهذا له غرو څخه درختي پرېکول او د هغو خرڅول روا دي مګر که چیري حکومت یا کوم سیمیز جوړښت د غرو د درختو پرېکول د کوم معقول امر په سبب منع کړي وي بیا ناروا دي . معقول امر. که نن سبا حکومتونه له دې څخه منعه کوي ځکه چي د هغوی په وجود کي ډېري فواید ثابت دي او د هغوی په پایماله کېدو کي ډېر ضرورنه وي لکه د چاپریال خرابېدل، د حشراتو له منځه تلل او داسي نور مثلاً چي د هغو په پرې کولو سره د هغي سیمي زیب او زینت له منځه ځي لکه نبي کریم ﷺ چي د مدینې

Maktaba Tul Ishaat.com

منورې د حسن او جمال د بر قرار ساتلو په سبب د هغه د شا وخوا درختو له پرېکولو څخه منع فرمايلي وه.

په شرح مجله کې راځي:

يسوغ الاحتطاب من أشجار الجبال المباحة لكل أحد كايناً من كان وبمجرد الاحتطاب يعني بجمعها يصير مالكاً لها والربط ليس بشرط. عبارة الهندية: عن القنية: المحتطب يملک الحطب بنفس الاحتطاب ولايحتاج إلى أن يشده ويجمعه حتى يثبت له الملک.

(شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:٤/ ١٨٨، فصل فی بيان کيفية استملاک الاشياء المباحة).

په فتاوی شامی کې راځي:

والحطب في ملك رجل ليس لأحد أن يحتطبه بغير إذنه، وإن كان غير ملك فلا بأس به، ولا يضر نسبته إلى قرية أو جماعة ما لم يعلم أن ذلك ملك لهم .... ويملك المحتطب الحطب بمجرد الاحتطاب وإن لم يشده ولم يجمعه. (فتاوی الشامی:٦/ ٤٤٠، فصل الشرب، سعی).

وللاستزادة: انظر: (البحر الرائق:٥/ ١٨٣، فصل فی الشرکة الفاسدة، کوئته – والمبسوط للامام السرخسی:٩/ ١٥٣).

په عطر هدايه کې راځي:

مباح اصلي، يعنی هغه شيان چې الله ﷻ په خپل عامه ربوبيت او بشپړ رحمت سره د مخلوق له پاره پيدا کړي تر څو هر کمزورئ، زورور، فقير او مالدار گټه ځنی پورته کړي بلکې هره درند او مرغه کولای سي، نفع ځني حاصله کړي او مباح شيان چې د عقلمندو له پاره کفايت کوي هم د دوی د گټي حاصلولو په خاطر، د مصائبو د ليريکولو په خاطر لکه دريابونه، ځنگلونه، غرونه او د دغودرو سره هغه شيان چې د دوی پيدا وار دي لکه د ځنگل حلالو حيواناتو غوښې، پوستونه، د باران اوبه تږولو ته مباح دي او د خوړلو اغوستلو او سکونت کولو له پاره کافي دي.

په دوهم ځای کي راځي:

هر مباح شی په قبضه سره په ملکیت کي داخلیږي او ترڅو چي په قانوني ډول له لاسه څخه وتلی نه وي له ملکیت څخه نه وځي یا قوت، زمرد، لرګي، واښه، ماهیان، حیوانات، ډبري، معدنیات، دا ټول تر قبضې وروسته مملوک ګرځي او د چا تر قبضې وړاندي په دوی کي د هر شخص حق ثابت دئ او کولای سي چي په خپله قبضه کي یې راوړي.

همدارنګه راغلي دي:

حکومت ته روا نه دي چي پر مباح شیانو قبضه وکړي او د الله ﷻ د حکمت بالغه په ختم کېدلو پسي سي، البته په انتظامي ډول دیوې لاري بندول یا کوم ځنګل پرې کول یا د یوه ځنګل و درختو او وښو ته وده ورکول او د خلکو مداخله منع کول روا دي. (عطر هدایه: ص ۳۱۳، ۳۱۵، ۳۱۶، باب چهار مباحات کا بیان).

په مسلم شریف کي راځي:

عامر بن سعدٍ عن أبیه قال: قال رسول الله ﷺ: «إنی أحرم ما بین لابتی المدینة أن یقطع عضاهها أو یقتل صیدها. (مسلم شریف: ۱/ ۴۴۰).

په شرح معانی الاثار کي راځي:

عن نافعٍ، عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: نهی رسول الله ﷺ عن آطام المدینة أن تهدم. وقال: إنها من زینة المدینة. (شرح معانی الآثار: ۴/ ۱۹۳، ۱۹۴، باب صید المدینة، بیروت).

وقال الطحاوي رحمه الله: یحتمل أن یکون سبب النهی عن صید المدینة وقطع شجرها کون الهجرة إلیها واجبة فکان یفعله بقاءً لزینتها لیتطیبوها ویألفوها لأن بقاء ذلک مما یزید فی زینته ویدعو الیها کما روی بن عمر رضی الله عنه نهی عن هدم آطام المدینة فإنها من زینتها. (مرقات: ۶/ ۲۰ – وتحفة الاحوذی: ۱۰/ ۲۹۲، باب فی فضل المدینة – وفتح الباری: ۴/ ۸۳، باب حرم المدینة – والتهمید لابن عبد البر: ۶/ ۳۱۰).

Maktaba Tul Ishaat.com

یادو سوو احادیثو او شرحي څخه معلومیږي چې امام المسلمین یا د سیمي مشرتابه کولای سي د کوم ځای د درختو حفاظت د عامه مصلحت په اساس وکړي. والله ﷻ اعلم.

د مشرکانو د عبادت ځای د سامان د خرڅولو حکم

سوال: که چیري کوم مشرک د خپل عبادتګاه له پاره سامان اخیستل غواړي نو ایا مسلمان پر دې مشرک د عبادت ځای سامان خرڅولای سي او که نه او خرڅول یې روا دي او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد روا دي البته د صاحبینو په نزد منع دي لهذا اجتناب کول اولی دي تر څو حلاله روزي لاسته را وړو.

په درمختار کي راځي:

قلت : وقامنا ثمة معزيا لنهر أن ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريمًا وإلا فتنزيهًا فليحفظ توفيقاً، وجاز تعمير كنيسة.... وقالا: لاينبغي ذلک لأنه إعانة على المعصية وبه قالت الثلاثة، زيلعي. وفي الشامية: قوله وجاز تعمير كنيسة، قال في الخانية: ولو آجر نفسه ليعمل في الكنيسة ويعمرها لابأس به لأنه لامعصية في عين العمل. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٣٩١، فصل فی البيع، سعيد).

په عالمګیري کي راځي:

ولو استاجر الذمي مسلماً ليبني له بيعة أو كنيسة جاز ويطيب له الأجر كذا في المحيط.

(الفتاوی الهندية:٤/ ٤٥٠).

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: که چیري کافر، مشرک د خپلي عبادت ځای د تعمیر له پاره یا د بتانو د عبادت له پاره کوم شی له مسلمان څخه رانیسي یا یو مسلمان مزدور کړي نو ایا دا شیان پر هغو خرڅول یا پر دې شیانو اجرت حاصلول روا دي او که نه؟

الجواب: د امام صاحب په نزد روا دي او د صاحبینو په نزد ناروا دي لهذا احتیاط بهتر او اولی دئ او کوم غریب چې په دې کار کي بوخت وي پر هغه دي نیو که نه کول کیږي.

حضرت مفتي محمد شفیع په جواهر الفقه کي داعانت علی المعصیت په تفصیل کي مختصراً درج کړی دي وې ګورئ.

ثم السبب علی قسمین قریب وبعید ثم القریب علی قسمین:ــ سبب محرک للمعصیة بحیث لولاه لما أقدم الفاعل علی هذه للمعصیة کسب آلهة الکفار بحیث یکون سبباً مفضیاً لسب الله سبحانه وتعالی ومثله نهی أمهات المؤمنین عن الخضوص فی الکلام للاجانب.... وسبب لیس کذلک ولکنه یعین لمرید المعصیة ویوصله إلی ما یهواه کإحضار الخمر لمن یرید شربه .... فالقسم الأول من السبب القریب حرام بنص القرآن... والقسم الثاني من السبب القریب أعني مالم یکن محرکاً وباعثاً بل موصلاً محضاً فحرمته وإن لم تکن منصوصة ولکنه داخل فیه باشتراک العلة وهی الإفضاء إلی الشرو المعصیة ولهذ أطلق الفقهاء علیها لفظ کراهة التحریم لا الحرمة... وأما السبب العبید کبیع الحدید من أهل الفتنة... وبیع الآجر والحطب ممن یتخذها کنیسة أو بیعة .... إذا علم فتکره تنزیهاً. (جواهر الفقه:۲/ ۴۴۹ -۴۵۲، اقسام السبب واحکامه، مکتبة دار العلوم کراچی).

لنډه دا چي داسبابو درې ډولونه دي او ټول منع نه دي بلکي:

۱ـ سبب قریب محرک مثلاً باطلو معبودانو ته بد ردویل دا په قراني نص سره حرام دي.

۲ـ سبب قریب غیر محرک مثلاً پر اهل فتنه او اهل فساد اسلحه خرڅول دا مکروه تحریمي دي.

۳ـ سبب بعید مثلاً پر کفارو د هغو د عبادت ځای له پاره سامان خرڅول دا مکروه تنزیهی دي.

والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مال حکم چي تر رسېدو وړاندي ضائع سي

سوال: زيد له عمر څخه کافي اندازه مالونه واخيستل او زيد و عمر ته امر وکړ چي زما مال فلاني موټر ته ورکړه، عمر هم داسي وکړه او د زيد مال يې د هغه ورښوول سوي موټر ته حواله کړ، په لاره کي غلو مال لوټ او تالا کړه ايا تاوان پر بايع راځي او که مشتري د هغه د تاوان ذمدار دئ؟

الجواب: په شريعت مطهره کي صرف په بيع کېدو او د مال په ملکيت سره ضمان نه سي منتقل کېداى تر څو چي د مشتري قبضه پر حاصل سوې نه وي او د قبضې حقيقت او خاص صورت په قرآن کريم او احاديثو کي ذکر سوى نه دئ لهذا د هغې دار مدار پر عرف بناء دئ نو چي کله د مشتري عرفاً قبضه حاصله سوې نه وي د بايع په ملکيت کي بلل کيږي او د هلاک کېدو په صورت کي يې بايع ذمداره دئ البته که چيري عرفاً قبضه حاصله سي او بيا تر هغه وروسته هلاک سي بيا مشتري ذمدار بلل کيږي لکه څنګه چي په دې صورت کي د ترسيل عمل د مشتري په حکم سره سوى دئ او د سامان رسولو خرڅه هم مشتري ادا کړې ده خو دا عرفي قبضه فهمول کيږي او د ضايع کېدو په صورت کي مشتري د هغه ذمدار دئ او که چيري د ترسيل حکم مشترى ورکړى وي او خرڅه او نور بايع ورکړي وي نو په دې صورت کي هم قبضه محقق کيږي او د هلاکت په صورت کي مشتري ذمدار دئ او که چيري بايع په خپله د رسولو عمل تر سره کړى وي مشتري نه حکم ورکړي او نه يې مصرف اداء کړى وي نو په دې صورت کي بيا بايع ذمدار ثابتيږي ځکه قبضه متحقق نه ده.

وګورئ په ردالمحتار کي راځي:

وحاصله أن التخلية قبض حكماً لو مع القدرة عليه بلا كلفة لكن ذلك يختلف بحسب حال المبيع،.... قال أجمعوا على أن التخلية في البيع الجائز تكون قبضاً.... اشترى وعاء لبن خاثر في السوق فأمر بالبائع بنقله إلى منزله فسقط في الطريق فعلى البائع إن لم يقبضه المشتري، .... إلا أن يقول (المشتري): ادفعه إلى الغلام لأنه توكيل للغلام والدفع إليه كالدفع إلى المشتري. (ردالمحتار:٤/ ٥٦٢- ٥٦٣، مطلب في شروط التخلية، سعيد – وكذا في الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٤٩٩ – والفتاوى الهندية:٣/ ١٩).

په بدایع کې راځي:

ولا يشترط القبض بالبراجم ؛ لأن معنى القبض هو التمكين ، والتخلي ، وارتفاع الموانع عرفًا وعادةً حقيقةً . (بدائع الصنائع:٥/ ١٤٨، سعيد).

وفيه أيضاً: وكذلك لو فعل البائع شيئًا من ذلك بأمر المشتري ؛ لأن فعله بأمر المشتري بمنزلة فعل المشتري بنفسه. (بدائع الصنائع:٥/ ٢٤٨).

په المغنی کې راځي:

ولأن القبض مطلق في الشرع ، فيجب الرجوع فيه إلى العرف ، كالإحراز ، والتفرق . (المغنی لابن قدامة الحنبلی:٤/ ٢٢٠).

په عطر هدایه کې راځي:

کوم مالونه چې ډاک خانې یا ریل ګاډی په واسطه لیږدول کیږي هغه د مشتري په قبضه کې فهول کیږي یعنی هغه څوک چې سامان یې راغوښتی وي که چیرې مشتري و مالک ته خط ولیکي او غوښتنه یې ورڅخه وکړه چې فلانی مال د ریل ګاډی یا ډاک په واسطه ما ته را واستوه او مالک هم داسې وکړل اوس که مال په لار کې لوټ یا وسوځول سو نو بایع ذمدار نه دئ ځکه چې بایع هغه مال د مشتري و وکیل (ریل ګاډی یا ډاک) ته حواله کړ لهذا مشتري مالک او قابض سو خو که مشتري غوښتنه نه وي کړې او بایع پر خپل سر دا کار کړی وي دا استول د مشتري قبضه نه بلل کیږي او که مشتري ته تر رسېدو وړاندې هلاک سي نو مشتري د هغه مال ذمدار نه دئ. (عطر هدایه:ص ١٨٧).

وللاستزادة انظر: (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:٢/ ٢٠٢-٢٠٤ – واسلام اور جدید معاشی مسائل:٣/ ٢٠٠-٢٤٠ – و جدید فقہی مسائل:٤/ ١٩٦ – ٢٠٠ – وجدید فقهی مباحث:١٥/ ١٢-١٦، ٨٧-١٠٩، ١٢١، ٢٥٤). والله تعالیٰ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

بایع له مشتري څخه په کم قیمت د رانیولو حکم

سوال: یو شخص کاشي خښته اخلي او کله کله تر ضرورت ډېره رانیسي او هغه زیاته بیرته ورکول غواړي اوس بایع وایي شل فیصده کمي پیسې درکړم ایا دا روا ده او که نه؟ او د جوازیې کوم صورت سته او که نه؟ ایا دا شراء ماباع باقل مماباع کي داخل ده او که نه؟.

په اعلاء السنن کي راځي:

فإن كان البيع الأول مشروطاً بالبيع الثاني فهو غير جائز أيضاً لعدم جواز البيعتين في بيعة وإن لم يكن مشروطاً فهو مكروه لأنه مضطر. الخ. (اعلاء السنن:١٤/ ١٧٨). د کراهیت علت یې بیع مضطره ویلی دئ ایا دا بیع مضطره ده او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کي که بایع په اوله بیع کي پر مکمل ثمن قبضه کړې وي او وروسته یې له مشتري څخه په کم قیمت سره واخلي نو بیله کراهیته روا او صحیح ده او له شراء ماباع باقل مما باع کوم چي فقهاء له هغه څخه منعه فرمایلې ده نه ده ځکه په هغه کي د اول ثمن تر اداء کېدو وړاندي د ربح مالم یضمن په سبب منع ده او په دې ځای کي هغه صورت نه دئ او د اعلاء السنن د عبارتو تعلق له بیع عینه سره دئ او د بیع عینه تعلق له مقرض او له مستقرض سره دئ او دا صورت له هغه څخه مختلف دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وفسد شراء ما باع بنفسه أو بوكيله من الذي اشتراه ولو حكمًا كوارثه بالأقل من قدر الثمن الأول قبل نقد كل الثمن الأول .... ولا بد لعدم الجواز من اتحاد جنس الثمن وكون المبيع بحاله فإن اختلف جنس الثمن أو تعيب المبيع جاز مطلقًا كما لو شراه بأزيد أو بعد النقد.

وفي الشامية: قوله قبل نقد كل الثمن الأول. قيد به لأن بعد الافساد ولايجوز قبل النقد وإن بقي درهم.... والحاصل أن نقد كل الثمن شرط لصحة الشراء لا لفساده لأنه يفسد قبل نقد الكل أو البعض، فتأمل. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٧٣، ٧٤، سعيد).

وفي فتح القدير: وقيد بقوله قبل نقد الثمن لأن ما بعده يجوز بالإجماع بأقل من الثمن. (فتح القدير:٦/ ٤٣٣، دار الفكر).

په اعلاء السنن کي راځي:

لأن المشتري لا حاجة له في الحريرة وإنما حاجته في الدارهم، والبائع لايرضى بالإقراض وإنما يرضى بالبيع كذلك، فهو مضطر إلى الشراء فكيون مكروهاً، والوجه فيه أن فيه بخلاً مذموماً وتركاً للمبرة والإحسان الذين هما من مكارم الأخلاق. (اعلاء السنن:١٤/ ١٧٨).

وللاستزادة انظر: (فتح باب العناية في شرح كتاب النقاية:٣/ ٢٤٢، بيروت – بيوع العينة والآجال من منشورات مدرسة عائشة الصديقة للبنات، كراتشي، باكستان – وجديد معاملات كى شرعى احكام:١/ ٥٧). والله ﷻ اعلم.

د شرابو پر تاجر د شیانو د خرڅولو حکم

سوال: یو مسلمان شخص چي هغه د شرابو کار وباری دئ او د هغه ټولي پیسې او دا رایې له دې کار وبار څخه ده ایا پر هغه کوم شي خرڅولای سو او که نه (پر هغه د شي خرڅول روا دي او که نه)؟

الجواب: په پورتنۍ صورت کي که چیري دا شخص شراب پر خلکو د چښلو له پاره پلوري نو بیا د هغه لاسته راغلی پیسې ناروا دي او پر هغه باید سامان ونه پلورل سي او که یې چیري د ضرورت په سبب پلوري لکه الکحل چي د هغو استعمال په ډېرو شیانو کي کیږي لکه دارو درمل، رنګونه پر داسي شتمني لرونکي سامان پلورل کېدلای سي البته کوم شراب چي له اشربه اربعه وو څخه وي هغه چي حرام دي یعني د انګورو شراب، که د پخو وي او که دا ومو وي د خرما شراب د منقه شراب د دې شرابو د تجارت بالکل ګنجائش نه سته او پر داسي شخص د سامان خرڅول هم ناروا دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په فتاوى شامي کي راځي:

وسقط تقومها في حق المسلم حتى لا يضمنها متلفها وغاصبها ولا يجوز بيعها، لأن الله تعالى لما نجسها فقد أهانها، والتقوم يشعر بعزتها، وقال عليه الصلاة والسلام: « إن الذي حرم شربها حرم بيعها وأكل ثمنها». (فتاوى الشامى:٦/ ٤٤٩، كتاب الاشربة، سعيد).

په فتح الملهم کي راځي:

والقسم الثالث: الأشربة المسكرة الأخرى، غير الأقسام الأربعة المذكورة، مثل نبيذ المتمر أو الزبيب المطبوخ أدنى طبخة، أو عصير العنب المطبوخ الذي ذهب ثلثاه، وكذلك نبيذ العسل، والتين، والحنطة والشعير، والحبوب الأخرى، وحكم هذا القسم عند أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله: أنه لايحرم منه شرب القليل الذي لايسكر، وإنما يحرم منه القدر المسكر .... وأفتى كثير من الحنفية بقول الجمهور في حق الحرمة، وبقول أبي حنيفة رحمه الله في جوار بيع غير الخمر وعدم وجوب الحد منه إلا إذا أسكر، وقد صرح ابن عابدين رحمه الله في الأشربة من رد المحتار:٥/ ٣٢٣، بأن الفتوى على قول أبي حنيفة رحمه الله في جواز البيع مع الكراهة والظاهر أن الكراهة ذنما تثبت إذا تعاطاه الرجل لغرض غير مشروع، وأما إذا تعاطاه لغرض مشروع، كالدواء والضماد وغيره فيما يجوز استعماله فيه، فالظاهر انتفاء الكراهة حينئذٍ.... وبهذا يتبين حكم الكحول المسكرة (Alcohols) التي عمت بها البلوى اليوم، فإنها تستعمل في كثير من الأدوية والعطور والمركبات الأخرى، فإنها إن اتخذت من العنب أو التمر فلا سبيل إلى حلتها أو طهارتها، وإن اتخذت من غيرهما فالأمر فيها سهل على مذهب أبي حنيفة رحمه الله، ولايحرم استعمالها للتداوي أو لأغراض مباحة أخرى مالم تبلغ

حد الإسكار، لأنها إنما تستعمل مركبة مع المواد الأخرى، ولا يحكم بنجاسها أخذاً بقول أبي حنيفة رحمه الله، وإن معظم الكحول التي تستعمل اليوم فى الأدوية والعطور وغيرها لاتتخذ من العنب أو التمر، إنما تتخذ من الحبوب أو القشور أو البترول وغيره، وحينئذٍ هناك فسحة فى الأخذ بقول أبي حنيفة رحمه الله عند عموم البلوى، والله سبحانه أعلم. (تكملة فتح الملهم:۳/ ۶۰۰،۶۰۸، كتاب الاشربة، مكتبة دار العلوم كراتشى).

په فتاوی حقانیه کي راځي:

دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد له اشرابه اربعه محرمه څخه پرته له مېوه جاتو او یا نورو شیانو څخه جوړ سوی وي د شرعي دمجبوری په سبب يې استعمالول روا دي او دهغه د تجارت هم ګنجائش سته او سني (الکحول چي د شرابو يو ډول دي) څرنګه چي د پټرول، اوربشی، جواري او داسي نورو څخه جوړېږي او ضرورةً په ډېرو درملو، رنګونو څخه پرته په نورو شیانو کي هم استعمالېږي لهذا بناء دامام ابوحنیفه رحمه الله پر قول د داسي شرابو رانیول او خرڅول روا دي، په اوسني وخت کي د عمومي بلوې په سبب پر دې قول فتوی ورکول کیږي. (فتاوی حقانیه:۶/ ۱۰۳). **والله تعالیٰ اعلم.**

د مېوو د تجارت حکم

سوال: دلته د مېوو باغونه دي او د هغو د تجارت مختلفي طریقې رواج دي له هغو طریقو څخه کوم طریقه روا ده او کومه ناروا ده؟

۱_ مېوه تر پخېدو وروسته اخلي مګر فوراً يې نه شکوي بلکي وخت په وخت يې شکوي او د بیع تر تکمیل وروسته وعده کول کیږي چي يوه میاشت یا دوې میاشتې به مېوه باقی پاته وي؟

۲_ په عقد کي شرط لګول کیږي چي څه مده به مېوه په درختو کي باقي پاته وي؟

۳_ شرط نه تر عقد وړاندي او نه وروسته لګول کیږي مګر عرفاً مېوه باقي پرېښودل کیږي؟

۴_ تر اوسه د مېوې وجود نسته صرف ګلان دي او په ګل کي د مېوې خریداري کول کیږي؟

۵_ څه مېوه پخه وي او څه خامه یا ټوله خامه وي او عقد د ابقاء یا بعرف الابقاء په شرط کول کیږي که کومه غوره مشوره راکول سي زموږ به فائده وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: په پورتنی صورت کي له پنځم لمبر صورت څخه پرته نور لومړي څلور صورتونه روا دي او اخيري صورت چي په هغه کي تر اوسه مېوه وجود نه لري صرف ګل دئ دا ناروا ده ځکه چي دا بيع المعدوم راځي او عام ډول خلک د ګل په وخت کي بيع نه کوي، بلکي د مېوي تر نما او وجود وروسته بيع کوي.

وګورئ په فتح القدير کي راځي:

لا خلاف فى عدم جواز بيع الثمار قبل أن تظهر، ولا فى عدم جوازه بعد الظهور قبل بدو الصلاح بشرط الترك، ولا فى جوازه قبل بدو الصلاح بشرط القطع فيما ينتفع به، ولا فى الجواز بعد بدو الصلاح، .... والخلاف إنما هو فى بيعها قبل بدو الصلاح على الخلاف فى معناه، لا بشرط القطع، فعند مالك رحمة الله عليه والشافعى رحمة الله عليه وأحمد رحمة الله عليه لا يجوز وعندنا إن كان بحال لاينتفع به فى الأكل ولا فى علف الدواب خلاف بين المشايخ قيل لا يجوز ونسبه قاضي خان لعامة مشايخنا، والصحيح أنه يجوز لأنه مال منتفع به فى ثانى الحال إن لم يكن منتفعاً به فى الحال وقد أشار محمد رحمة الله عليه فى كتاب الزكاة إلى جوازه .... وإن كان بحيث ينتفع به ولو علفاً للدواب فالبيع جائز بأتفاق أهل المذهب إذا باع بشرط القطع أو مطلقا .... فإن باعه بشرط الترك فإن لم يكن تناهى عظمه فالبيع فاسد عند الكل وإن كان قد تناهى عظمه فهو فاسد عند أبى حنيفة رحمة الله عليه وأبى يوسف رحمة الله عليه، وهو القياس، ويجوز عند محمد رحمة الله عليه، استحساناً، وهو قول الأئمة الثلاثة، واختاره الطحاوى لعموم البلوى.... وجه قول محمد رحمة الله عليه، فى المتناهى الاستحسان بالتعامل لأنهم تعارفوا التعامل .... ومحمد رحمة الله عليه، يقول بمنعه فيه (أى فيما لم يتناه عظمه) لما فيه من اشتراط الجزء المعدوم وهو الأجزاء التى تزيد بمعنى من الأرض والشجر إلى أن يتناهى العظم، ولا يخفى أن الوجه لا يتم

فی الفرق لمحمد رحمه الله إلا بادعاء عدم العرف فیما لم یتناهی عظمه إذ القیاس عدم الصحة للشرط الذی لا یقتضیه العقد فی المتناهی وغیره خرج منه المتناهی للتعامل، فکون ما لم یتناهی علی أصل القیاس إنما یکون لعدم التعامل فیه . (فتح القدیر:٦/ ٢٨٧-٢٨٨، دار الفکر).

په فتح الملهم کي راځي:

قال العبد الضعیف عفا الله عنه، ویظهر من کلام ابن همام رحمه الله فی الفتح أن العرف إذا جری ببیع الثمار بعد بدو صلاحها بشرط الترک واشتدت إلیه الحاجة کان قیاس قول محمد رحمه الله الجواز وإن لم یتناه عظم الثمار، لأنه أجاز شرط الترک بعد ما تناهی عظمها للعرف والضرورة، قلت: وکذلک أجاز محمد رحمه الله بیع الثمار في حین ظهر بعضها ولم یظهر بعضها للضرورة والعرف.... فکان قیاس قول محمد رحمه الله الجواز عند الضرورة وإن لم یتناه عظمها. (تکملة فتح الملهم:١/ ٣٩٥).

په شرح مجله کي راځي:

فقد اتضح مما ذکرناه وضوح الشمس بحیث لم یبق ریب ولا لبس أنه لو جری التعامل المستفیض في بیع الثمار قبل بدو صلاحها بشرط ترکها حتی تنضج، یصح البیع عند محمد رحمه الله.... فاشتراط ترک الثمار البارزة حتی تنضج وإن کان شرطاً لایقتضیه العقد ولایلائمه وفیه نفع لأحد المتعاقدین لکن حیث جری به العرف الشایع في بلادنا واستفاض بین الخاص والعام، فیکون معتبراً.... وعلیه یکون صحة بیع الثمار البارزة بشرط ترکها حتی تنضج اتفاقیة، فلیحفظ هذا فإنه من مفردات هذا الکتاب. (شرح المجلة لمحمد الاتاسی:٢/ ٩٥-٩٦).

Maktaba Tul Ishaat.com

یہ فتح القدیر کی راحی:

وفي فتح القدير: (ولو اثمرت بعد القبض يشتركان فيه للاختلاط.....) وكان الحلواني يفتى بجوازه فى الكل، وزعم أنه مروى عن اصحابنا، وكذا حكى عن الإمام الفضلى وكان يقول: الموجود وقت العقد أصل وما يحدث تبع نقله شمس الأئمة عنه ولم يقيده عنه بكون الموجود وقت العقد يكون أكثر بل قال عنه: اجعل الموجود أصلاً فى العقد وما يحدث بعد ذلك تبعاً. وقال: استحسن فيه لتعامل الناس، فإنهم تعاملوا بيع ثمار الكرم بهذه الصفة، ولهم فى ذلك عادة ظاهرة وفى نزع الناس من عادتهم حرج، وقد رأيت رواية فى نحو هذا عن محمد رحمه الله وهو بيع الورد على الأشجار فإن الورد متلاحق، ثم جوز البيع فى الكل بهذا الطريق وهو قول مالك رحمه الله. (فتح القدير:٦/ ٢٩١، دار الفكر).

یہ فتاوی شامی کی راحی:

قلت : لكن لا يخفى تحقق الضرورة في زماننا ولا سيما في مثل دمشق الشام كثيرة الأشجار والثمار فإنه لغلبة الجهل على الناس لا يمكن إلزامهم بالتخلص بأحد الطرق المذكورة ، وإن أمكن ذلك بالنسبة إلى بعض أفراد الناس لا يمكن بالنسبة إلى عامتهم وفي نزعهم عن عادتهم حرج كما علمت ، ويلزم تحريم أكل الثمار في هذه البلدان إذ لا تباع إلا كذلك ، والنبي ﷺ إنما رخص في السلم للضرورة مع أنه بيع المعدوم ، فحيث تحققت الضرورة هنا أيضًا أمكن إلحاقه بالسلم بطريق الدلالة ، فلم يكن مصادمًا للنص ، فلذا جعلوه من الاستحسان ؛ لأن القياس عدم الجواز ، وظاهر كلام الفتح الميل إلى الجواز ولذا أورد له

الرواية عن محمدٍ رحمه الله بل تقدم أن الحلواني رواه عن أصحابنا وما ضاق الأمر إلا اتسع .

(فتاوى الشامى:٤/ ٥٥٥، مطلب فى بيع الثمر، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوى:٦/ ٤٨٦، ٤٨٩، ٤٩٢، وجديد معاملات كى شرعى احكام:١/ ٥٠).

يو اشكال او د هغه جواب:

اشكال: دمېوو تجارت چې په ټولو شکلو او صورتو سره د تعامل په سبب روا سو خو حديث شريف له پاره کوم محل پاته نه سو په حديث شريف کې راځي: «نهى رسول الله ﷺ عن بيع الثمار حتى يبدو صلاحها...» **همدارنګه د تعامل په سبب د نص بالکليه ترک لازمېږي چې ناروا دئ او د تعامل په سبب تخصيص النص روا دئ مګر ابطال النص ناروا دئ، کله چې داسي سوه نو د دې څه جواب دئ؟**

الجواب: امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاٰثار کې د دې دوه جوابه ليکلي دي:

١_ « النهي محمول على المشورة». **لکه په بخاري شريف کې چې د زيد بن ثابت رضي الله عنه الفاظ پر دې دلالت کوي:** « كا لمشورة يشيربها لكثرة خصومتهم» **د حديث شريف معنى دا کيږي چې شرعاً د دې شي بيع روا ده البته مشوره دا ده چې داسي دي نه پلورل کيږي خو مشوره واجب القبول نه وي بلکي مندوب القبول وي.**

٢_ «محمول على السلم». **په بيع سلم کې د احنافو په نزد د عقد له وخت څخه بيا تر تسلمېدو يعنی د عقد له وخت څخه بيا د واپس کېدو انتهاء نېټې پوري د مبيعي وجود ضروري دئ په مېوه کې له بدو صلاح څخه وړاندي سلم ممنوع دئ. والله ﷻ اعلم.**

Maktaba Tul Ishaat.com

د قسطو د نه ادا کولو په صورت کي ټول ثمن د معجل ادا کولو حکم

سوال: که زيد ماشين په دوه لکه مؤجل قيمت رانيوئ او ذکريې کړه چي په لسو مياشتو کي به قسطونه ادا کوي په دې شرط که يو قسط پر وخت اداء نه کړل سي نو ټول ثمن به معجل اداء کوي ايا دا معامله روا ده او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي چي د قسط پر نه اداء کېدو د ټول ثمن معجل ادا کېدلو شرط لګېدلی دئ دا صحيح او درسته ده او په دې کي کومه خرابي نسته.

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

ولـو قـال كلمـا دخـل نجـم ولـم تـؤد فالـمـال حـال صـح ويـصير الـمـال حـالاً. (خلاصة الفتاوى:٣/ ٥٤، كتاب البيوع). (وكذا في البحر الرائق:٦/ ١٢٢، فصل في بيان التصرف في المبيع والثمن، كوئته).

په البحر الرائق کي راځي:

وفـي البحـر الرائـق: قـال فـي البزازيـة (على هامش الهندية:٤/ ٤٢٦): وإبطـال الأجـل يبطـل بالشرط الفاسد، بأن قال: كلما حل نجم، ولـم تؤد فالـمـال حال صح، وصار حالا. وعبارة الـخلاصة: وإبطال الأجل يبطل بالشرط الفاسد ولـو قـال كلمـا دخـل نجـم فلـم تـؤد فالـمـال حال صح و يصير الـمـال حالا. فجعلها مسئلتين وهو الصواب وأما قوله في البزازية: بـأن قـال تصويرًا للاولى فسهو ظاهر لأنه لو كان كذلك لبقي الأجل فكيف يقول صح فيتأمل. (البحر الرائق:٦/ ١٨٦، باب المتفرقات، كوئته).

وأيضاً نقله العلامة الشامي عن البحر، وزاد بقوله: وذكر العلامة الـمقدسي أن العبارتين مشكلتان، وأن الظاهر أن الـمراد أن الأجل يبطل، وأنه إذا علق على شرط فاسد كعدم أداء

نجم فی المثال المذكور وحاصله أن لفظ إبطال فی عبارتي البزازية و الخلاصة زائد وأنه لا مدخل لذكره في هذا القسم أصلا. (فتاوى الشامي:٥/ ٢٤٨، مايبطل بالشرط الفاسد، سعيد).

په اسلام اور جدید معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

که د قسطو په بیع کي د عقد په وخت کي دا صراحت وکړل سي چي که یو قسط پر وخت ادا نه کړل سي نو پر مشتري د ټولو قسطونو بالفوراً ادا کول ضروري ګرځي او بائع ته د ټولو قسطونو غوښتنه کول روا ده. (اسلام اور جدید معاشی مسائل:٣/ ١٢١). **والله تعالیٰ اعلم.**

د وینی د تجارت حکم

سوال: د وینی اخستل روا دي او که نه؟

الجواب: وینه مال متقوم نه دئ نو ځکه یې بیع ناروا ده البته په اضطراري حالت کي صرف اخیستل یې روا دي هغه هم که مجاناً نه پیدا کېده خو مسلمانانو ته لازم ده چي بلډبینک جوړ کي او د وینی د مفت تر لاسه کولو چاره برابره او انتظام یې وکړي، د دې له پاره چي خلک د وینې له رانیولو او خرڅولو څخه اجتناب وکړي.

په هدایه کي راځي:

وإذا كان أحد العوضين أو كلاهما محرما فالبيع فاسد كالبيع بالميتة والدم. (الهداية:٣/ ٤٩، باب البيع الفاسد).

په تبیین الحقائق کي راځي:

لم يجز بيع الميتة والدم والخنزير..... لعدم ركن البيع وهو مبادلة المال بالمال وبيع هذه الأشياء باطل. (تبيين الحقائق:٤/ ٣٦٢).

په درمختار کي راځي:

بطل بيع ما ليس بمالٍ والمال ما يميل إليه الطبع ويجري فيه والمنع فخرج التراب ونحوه كالدم المسفوح. (الدر المختار:٥/ ٥٠، سعيد).

Maktaba Tul Ishaat.com

په احسن الفتاوی کي راځي:

ددم مسفوح بیع او شراء حرام ده. (احسن الفتاوی:٦/ ٥٢٢).

په جدید فقهی مسائل نومي کتاب کي راځي:

علماوو ضرورة د وینی ورکولو اجازه ورکړې مګر د رانیولو او خرڅولو اجازه يې نه سته. (جدید فقهي مسائل:١/ ٣٣٥).

په امداد الاحکام کي راځي:

د دې اقوالو مقتضا دا ده که کوم وخت يې د وینی خرڅول عرف وګرځي نو بیا يې بیع او شراء صحیح ده. (امداد الاحکام:٣/ ٣٥٥).

په جواهر الفقه کي راځي:

د وینی بیع ناروا ده مګر په کومو حالاتو کي چي له ځانګړو شرائطو سره ومریض ته د وینی ورکولو جائز ګرځېدل په هغو حالاتو کي که چیري مریض ته بېله قیمته نه پیدا کیږي نو بیا په قیمت سره يې حاصلول روا دي مګر د وینی ورکونکي ته د قیمت اخستل درست نه دئ. (جواهر الفقه:٧/ ٤٧).

په جدید معاملات کی شرعی احکام نومي کتاب کي راځي:

د حلال حیوان هغه وینه چي د ذبح پر وخت ځیني ولاړه سي د هغې رانیول او خرڅول ناروا دئ که چا و پلورله د هغه د تر لاسه سوي قیمت استعمال ناروا نه دئ همدارنګه د انسان وینه خرڅول او د هغې قیمت استعمالول حرام دئ، البته له قیمته پرته وینه ورکول روا دي یعنی لکه څنګه چي د ضرورت په وخت کي د بل چا واولاد ته شیدې ورکول (تی ورکول) روا دئ همدارنګه د ضرورت پر وخت د بل چا د ژوند ژغورلو په خاطر وینه ورکول هم روا ده بلکي ځیني وختونه د حالاتو په لحاظ ضروري هم بلل کیږي. (جدید معاملات کی شرعی احکام:١/ ٤٨).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جواهر الفقه:٧/ ٤٤-٥٠). والله ﷻ اعلم.

د مبیعې وزن له ظرفه سره د حسابلو حکم

سوال: یو شخص لس کېلو وريجي په یوه ډبه کي رانیول مګر په دې کي یو کېلو د ډبې وزن دئ ایا دا روا ده او که نه ځکه ډبه هم د سامان په ډول حساب سوه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي څرنګه چي لیکل سوی وزن مشروط نه وي او اکثر د عاقدینو په رضایت سره بیع بالتعاطی کیږي نو ځکه دا روا ده.

په هدایه کي راځي:

ینعقد بالتعاطي في النفیس والخسیس وهو الصحیح لتحقق المراضاة. (الهدایة:۳/ ۱۹).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د بائع او مشتري دواړو مطلب او مقصد هغه ځانګړې ډبه وي او پر هغه لیکل سوی وزن په بیع کي مشروط نه وي نو ځکه د وزن کولو پرته په هغه کي تصرف کول روا دي. (احسن الفتاوی:٦/ ٤٩٩).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سوال: دوکاندار بوره په یو خلته کي په تاله سره اچوي چي په دې کي د خلتي قیمت هم وي او د هغه یو څه وزن هم سته، د هغه وزن په مقدار بوره کمه ورکول کیږي ایا داسي اخیستل او خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: که ورکونکی او اخستونکی راضي وي ورا دي. (فتاوی محمودیه:٢٤/ ٤٠، مکتبه محمودیه).

په محمود الفتاوی کي راځي:

عرفاً دا معلومیږي چي د خلتې سره د دې موزون وزن دومره کیږي لهذا دا درسته ده او روا ده. (محمود الفتاوی:٢/ ٤٠٥). والله ﷻ اعلم.

د زیارتونو د متولي څخه د پردو او دسملونو د رانیولو حکم

سوال: ځیني خلک پر زیارتو یا عامو قبرو پردې او دسملونه ځوړوي او بیا منجور یا متولي هغه خرڅوي ایا د دې پردو رانیول روا دي او که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: پر قبرو د پردو او داسي نورو شيانو را ځوړول ناروا او حرام دي او منجور د هغه مالک جوړېدای نه سي لهذا د دې شيانو بيع روا نه ده او د هغه له خرڅېدو څخه د مشتري ملکيت نه ثابتېږي البته که چيري مالک له خپل غلط نيت څخه توبه او لاس په سر سو او د خپل شي د خرڅېدو اراده يې وکړه نو هغه ته يې خرڅول روا دي.

الله تعالى فرمايي:

﴿ حرمت عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما أهل لغير الله به ﴾. (سورة المائدة: الاية، ٣).

په التحرير والتنوير کي راځي:

وقوله تعالى: ﴿ وما أهل به لغير الله ﴾ أي ما أعلن به أو نودي عليه بغير اسم الله تعالى، وهو مأخوذ من أهل إذا رفع صوته بالكلام فأهل في الآية مبنى للمجهول، ضمن تقرب فعدى لمتعلقه بالباء وباللام مثل تقرب،.... وفائدة هذا التضمين تحريم ماتقرب به لغير الله تعالى.

(التحرير والتنوير للعلامة محمد طاهر بن عاشور: ٢/ ١١٩).

په عطر هدايه کي راځي:

په خلاصه التفاسير، اول جلد سورة مائده کي راځي:

وما اهل عام دئ مختص په ذبحي پوري نه دئ که مختص بالذبح سي نو بيا هم د مشترک علت په سبب حکم عام دئ. (عطر هدايه: ص ٤٧٤).

په البحر الرائق کي راځي:

وأما النذر الذي ينذره أكثر العوام على ما هو مشاهد كأن يكون لإنسانٍ غائب أو مريض، أو له حاجة ضرورية فيأتي بعض الصلحاء فيجعل سترةً على رأسه فيقول يا سيدي فلان إن رد غائبي، أو عوفي مريضي أو قضيت حاجتي فلك من الذهب كذا، أو من الفضة كذا، أو من الطعام كذا، أو من الشمع كذا، أو من الزيت كذا فهذا النذر باطل بالإجماع لوجوهٍ منها أنه

نذر مخلوقٍ والنذر للمخلوق لا يجوز ؛ لأنه عبادة والعبادة لا تكون للمخلوق .... ومنها إن ظن أن الميت يتصرف في الأمور دون الله تعالى واعتقاده ذلك كفر ..... ولا تشتغل الذمة به ولأنه حرام بل سحت ولا يجوز لخادم الشيخ أخذه ولا أكله ولا التصرف فيه بوجهٍ من الوجوه .... فإذا علمت هذا فما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت وغيرها وينقل إلى ضرائح الأولياء تقربًا إليهم فحرام بإجماع المسلمين ما لم يقصدوا بصرفها للفقراء الأحياء قولًا واحدًا ا هـ .(البحر الرائق:٢/ ٢٩٨، كوئته – وكذا في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح، ص ٦٩٣ – والدر المختار مع رد المحتار:٢/ ٤٣٩، سعيد).

وفي الدر المختار: الحرمة تتعدد مع العلم بها. (الدر المختار:٥/ ٩٨، سعيد).

وفي رد المحتار: (تتمة) في الأحكام عن الحجة: تكره الستور على القبور. (فتاوى الشامي:٢/ ٢٣٨، سعيد).

په کفایت المفتی کي راځي:

پر قبرونو پردې اچول، څراغونه لګول، ګلان خپرول دا ټول ناروا دي. (کفایت المفتی:١/ ٣٤٨).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په منذور لغیر الله کي له حیوان څخه پرته هر هغه شی داخل دئ چي هغه سره تقریب الی غیر الله مطلب وي لهذا له حیوان څخه پرته بل شی چي په ما اهل لغیر الله کي داخل سو حرام دئ یعنی د حیوان بیله واسطې حرمت مدلول د نص دئ او حرمت د غیر حیوان د قیاس په واسطه سره دئ.

(احسن الفتاوی:٥/ ٤٩١، وكذا فی امداد الفتاوی:٢/ ٥٥٤ – ومعارف القرآن از مفتی محمد شفیع:١/ ٤٢٤).

Maktaba Tul Ishaat.com

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: د درور حیوان خوړل حلال دئ او که حرام، ځکه چي په دې د مقلدینو او غیر مقلدینو اختلاف دئ لهذا د دې تفصیلي بیان ته ضرورت دئ او د ملا جیون تفسیر احمدي مطالعه کړئ چي هغه د «ماجعل الله من بحرة و لاسائبة الخ». څه مطلب اخلی؟

الجواب: په دې کي تفصیل دا دئ چي یو صورت خو دا دئ چي یو شخص یو څاروي د غیر الله په نامه نامدار کړي مثلاً دا د قلندر بابا درور دئ او د حیوان په دې نامه سره حلال او ذبح کړي، ذبحي په وخت کي بسم الله هم ووایي دا حرام دئ او په قرآن کریم کي د دې حرمت منصوص دئ او د فقهي په کتابونو کي لکه درمختار او نورو کي صریحاً ذکر سوی دئ.

دوهم صورت دا دئ چي د غیر الله نوم صرف تعبیراً او عنواناً موجود وي مگر په نیت کي تقرب او رضا د غیر الله مقصد نه وي لکه څنګه چي په حدیث شریف کي د عقیقې کولو په وخت کي دا وینا وارده ده. «هذا عقیقة فلان» دا بېله شکه حلال ده او د تفسیر احمدي مصنف هم دې ته حلال ویلي دي کله چي د هغه منهیه د دې شاهدي ورکوي.

دریم صورت دا دئ چي دا حیوان یو شخص دخپل فاسد نیت او عقیدې په سبب ایله کړي او بیا یې حاکم د وخت ونیسي او پر کوم بل کس یې د لیلام په ډول وپلوري اوس هغه کس دا ذبح کړه دا حلال دئ ځکه چي استیلاء موجب ملک ده او چي کله یې ملکیت د لومړي شخص ختم سو هغه فاسد نیت هم اعتبار له لاسه ورکړ یعنی هغه فاسد نیت ته نور اعتبار نسته.

څلورم صورت دا دئ چي کوم شخص په دې فاسد نیت سره دا حیوان پرېښود او بل کس هغه حیوان غلا کړ او په پټه یې ذبحه کړ دا له دوو وجهو حرام دئ.

اول ـ د مالک د فاسد نیت په سبب ځکه چي صرف په سائبه کولو سره د هغه له ملکیت څخه خارج سوی نه دئ.

دوم ـ د غصب او غلا په سبب حرام دئ.

پنځم صورت دا دئ چي اصلي مالک له خپل فاسد نیت څخه توبه وکړي (توبه وکاږي) او دا حیوان یې حلال کړ ،دا حلال دي یو خو ارتفاع علت النهی ثابت سو او د ماجعل الله الخ مطلب د دې

فعل نفی ده کوم چي مزعوم د کفارو ویعنی حرمت د انتفاع د تعظم او حترام په سبب دئ. (امداد الفتاوی: ٤/ ٩٩، کتاب الحظر والاباحة).

په مداد الفتاوی کي راځي:

د اهلال لغیر الله په مثل د میتتې وګرځیدئ نو څنګه چي د میتتې اخستل ناروا دي داسي د دغه رانیول هم روا نه دي. (امداد الفتاوی: ٢/ ٥٦٢ – وفتاوی محمودیه: ١٦/ ٧٠). والله ﷻ اعلم.

د ږنګولې د رانیولو او خرڅولو حکم

سوال: په ځینو سیمو کي خلک د حیوانانو په غاړه زنګولې ورځړوي، د دې زنګولو رانیول او خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: علماوو لیکلي دي چي صحیح هدف په خاطر د حیوان په غاړه کي د زنګولې وراچول روا او درسته دي.

همدارنګه د ږنګولې استعمال د روا غرض په خاطر صحیح او درسته دئ لکه څنګه چي دیني مدارسو کي د ساعتو د تبدلی یا نورو مقصدو په خاطر زنګ شرنګول کیږي دا په صحیح مقصد او عرض کي داخل دي لکه چي آله مکبر الصوت په مساجدو او نورو ځایو کي محض د اواز رسېدو په خاطر استعمالیږي بناء پر دې د ږنګولې تجارت هم روا او درسته دئ او په حدیث کي چي یې ممانعت راغلی دئ علماوو د دغه مختلفي توجهات بیان کړي دي.

وګورئ حدیث شریف کي دي:

عن أبی هريرة رضي الله عنه قال: أن رسول الله ﷺ قال «لا تصحب الملائكة رفقةً فيها كلب ولا جرس». وفي رواية هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ: قال «الجرس مزامير الشيطان». (رواهما مسلم: ٢/ ٢٠٢).

مفتي محمد تقی صاحب وايي:

وقال الشيخ مشايخنا السهارنبوری رحمه الله في بذل المجهود: (١٢/ ٥٣) «وهذا (أی كراهه الكلب والجرس) إذا خليا عن المنفعة وأما ما احتيج إليه منهما فمر خص فيه» والذي يظهر

Maktaba Tul Ishaat.com

الهذا العبد الضعيف عفا الله عنه أن الكراهة المذكورة في الحديث إنما تنصرف إلى كلب وجرس قصد منهما اللهو والغنا كما كان يعتاده بعض أهل القوافل ويدل عليه قوله عليه الصلاة والسلام في الرواية الآتية « الجرس مزامير الشيطان» أما الكلب إذا كان للحراسة والتحرز من اللصوص فهو مرخص فيه ككلب زرع وماشية وكذلك الجرس إذا كان لمقصود مباح فلا بأس به. (تكملة فتح الملهم: ٤/ ١٧٩).

په فتاوى عالمكيري كي راځي:

واختلف العلماء في كراهة تعليق الجرس على الدواب فمنهم من قال بكراهته في الأسفار كلها الغزو وغيره في ذلك سواء .... وقال محمد رحمه الله: فأما ما كان فيه منفعة لصاحب الراحلة فلا بأس به، قال وفي الجرس منفعة جمة منها: إذا ضل واحد من القافلة يلحق بها بصوت الجرس ومنها: أن صوت الجرس يبعد هوام الليل عن القافلة كالذئب وغيره ومنها: أن صوت الجرس يزيد في نشاط الدواب فهو نظير الحداء كذا في المحيط .(الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٥٤).

په نفع المفتى والسائل كي راځي:

وفى الجرس منافع:

منها: إذا ضل واحد من القافلة يلتحق بصوت الجرس.

ومنها: أن صوت الجرس يبعد هوام الليل.

ومنها: أنه يزيد في نشاط الدواب. كذا فى « متفرقات استحسان المحيط»

وان جعل الأجراس في غير الإبل، والحمار الذي يحمل عليه الأثقال لا أحب أن يفعل ذلك، لمكان النهي.

سئل علی بن أحمد عن القلادة التی فيها الأجراس تجعل علی عنق الفرس، هل يجوز، كما هو العادة فی بلادنا؟

قال: نعم، كذا أجاب أبو حامد. (نفع المفتی والسائل، (فتاوی اللكنوی):ص ۴۹۱-۴۹۲، بيروت).

په امداد الفتاوی كي راځي:

د حيوان په غاړه كه ږنګولې يا پتې يا زونبكانو د شان او شوكت د ښكاره كولو په طريقه وي ناروا دي كه چيري د هغو ورپه غاړه كولو سره د څارويو رفتار تېز وي يا په رفتار كي نشاط او اسانی راتله يا لاروېانو ته خبر وركول مطلب وو چي هغه لار خلاص كړي يا د هغو په وړاندي ځان حاضر كړي نو د دې اغراضو په خاطر ورپه غاړه كول روا دي. (امداد الفتاوی:۳/ ۱۱۰). **والله تعالیٰ اعلم.**

د پلورل (خرڅي) سوي مځكي د فصل حكم

سوال: زيد پر خالد مځكه خرڅه كړه، پر مځكه فصل دئ اوس دا فصل د بائع يعنی زيد كيږي او كه د مشتري چي خالد دئ د هغه كيږي؟

الجواب: كه د خرڅولو په وخت كي زيد د فصل او كښت يادونه كړی وه يعنی ويلي يې چي فلانی كښت په دې مځكه كرل سوی دئ، په دې وخت كي مځكه او كښت دواړه د مشتري كيږي مګر كه د بيع په وخت كي يې هيڅ يادونه نه وه سوې نو بيا فصل د بائع كيږي او د هغه په ملک كي پاتيږي او بائع به فوراً خپل كښت ريبي او مځكه به فارغه كوي چي د كښت تر پخېدو له مشتري څخه مځكه په كرايه واخلی.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په هدايه کي راځي:

ولا يدخل الزرع في بيع الأرض إلا بالتسمية لأنه متصل بـها للفصل فشابه الـمتاع الذي فيها .... ويقال للبائع اقطعها وسلم الـمبيع وكذا إذا كـان فيهـا زرع لأن ملك الـمشتري مشغول بملك البائع فكان عليه تفريغه وتسليمه كما إذا كان فيه متاع . (الهداية:٣/ ٢٥، كتاب البيوع).

په عالمګيري کي راځي:

والزرع والثمر لايدخلان فى البيع استحساناً إلا أن يشترط الـمبتاع. (الفتاوى الهندية:٣/ ٣٣، كتا البيوع – والهداية:٣/ ٢٥).

په النهر الفائق کي راځي:

باع أرضاً بدون الزرع فهو للبائع بأجر مثلها، استشكله بأن يجب على البائع قطعه وتسليمه الأرض فارغة، وجوابه أنه محمول على ما إذا كـان برضى الـمشتري. (النهر الفائق:٣/ ٣٥٨، كتاب البيوع).

وفي رد الـمحتار: قوله ويؤمر البائع بقطعهما أي فيما إذا باع أرضاً فيها زرع أو شجرا عليه ثم لـم يشترطه حتى بقي الزرع والثمر على ملك البائع . . . لأن ملك الـمشتري مشغول بملك البائع فيجبر على تسليمه فارغاً.... قوله وما في الفصولين باع أرضاً بدون الزرع فهو للبائع بأجر مثلها محمول على ما إذا رضى الـمشتري أى رضي بإبقاء الزرع بأجر مثل الأرض وإلا أمر البائع بالقلع توفيقاً بين كلامهم. (رد المحتار:٤/ ٥٥٤، كتاب البيوع، سعيد).

وفى « الفقه الحنفي في ثوبه الـجديد»: وإن رضي الـمشتري بإبقاء الزرع بأجر مثل الأرض صح. (الفقه حنفى فى ثوبه الجديد:٤/ ٩١، ما يدخل فى البيع ومالايدخل، بيروت).

وللاستزادة انظر: (جامع الفصولين:٢/ ٩٠ – وغمز عيون البصائر شرح الاشباه والنظائر:٣/ ١٦٩).

والله ﷻ اعلم.

د پشانو د تجارت حکم

سوال: که د یو چا سره بهترین نسل والا پشاني وي او هغه خورا قیمتي وي ایا د دې پشانو رانیول او خرڅول ورا دي او که نه؟ همدارنګه د سپیانو (کتریانو) د رانیول او خرڅول حکم بیان کړئ؟

الجواب: د سپیانو او پشانو تجارت روا دئ.

په فتاوی هندیه کي راځي:

بيع الكلب المعلم عندنا جائز وكذلك بيع السنور وسباع الوحش والطير جائز ....

ويجوز بيع جميع الحيوانات سوى الخنزير هو المختار. (الفتاوى الهندية:٣/ ١١٤). والله ﷻ

اعلم.

د مبیعې سره د انعام اخستلو حکم

سوال: که یو چا له کمپنۍ څخه تجارتي مال او سامان رانیسي او د مبیع قیمت اداء کوي ځیني وختونه له مبیعې سره سره د ګراکانو د ترغیب له پاره یو ټکټ ورکول کیږي او چي خلاص کړل سي په هغه کي لمبر وي او پر هغه لمبر انعام ورکول کیږي ایا دا نعام د تر لاسه کولو په موخه له دې کمپنۍ څخه سامان اخستل او انعام تر لاسه کول روا دي او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کي که دوکاندار سامان په هغه قیمت سره رانیسي چي هغه قیمت په عام بازار کي چلیږي او بیا د انعام تر لاسه کولو په نیت له دې کمپنۍ څخه سامان اخستل روا او د انعام په کوپن (کوډ لمبر) چي کوم انعام لاس ته ورځي هغه هم روا دئ او انعام د بایع له طرفه تبرع ده د کوم شي په عوض کي نه دئ ورکړل سوی او که چیری اخستل سوي شیان د انعام کوپن په سبب تر بازاري قیمت په زیاته خرڅیږي یعنی تر بازار په لوړ قیمت پر مشتري حسابیږي نو بیا په دې صورت کي بیا د متوقع انعاماتو د تر لاسه کولو کوښښ کول ناروا او حرام دئ او له دې څخه ځان ژغورل ضروري دي ځکه چي په دې صورت کي دا په قمار کي داخلیږي چي شرعاً حرام دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

په امداد الاحکام کي راځي:

دا معاهده روا ده او دا د بایع له طرفه تبرع ده او تبرع په کوم مناسب شرط سره مشروط کول روا دي.

(امداد الاحکام:۳/ ۳۸٦).

په حلال او حرام نومي کتاب کي راځي:

د معمه نوعیت هم دې ته نژدې وي په هغه کي هم د معمه پر دکولو لېږونکي فیس ورکوي که صحیح حل راوو تئ زیات رقم لاس ته ورځي او که نه اصلی فیس هم لاس ته نه ورځي، البته که معمه لېږونکی کوم فیس ادا نه کړي بیا صحیح ګرځي او د دې رقم حیثیت صرف د انعام حیثیت دئ. (حلال وحرام:ص ۳۸۱).

هبه په یو شرط سره مشروط کول روا دي.

په فتاوی شامی کي راځي:

قوله والهبة والصدقة کوهبتك هذه المائة أو تصدقت علیك بها علی أن تخدمني سنة،....

وفي جامع الفصولین: ویصح تعلیق الهبة بشرط ملائم کوهبتك علی أن تعوضني کذا .(فتاوی الشامی:۵/ ۲٤۹، باب ما یبطل بالشرط الفاسد، سعید).

جدید معاملات کي شرعی احکام نومي کتاب کي راځي:

که چیري یو شخص په مشروط ډول چا ته یو شی هبه کړي دا صحیح دئ او که نه د دې په اړه ضابطه دا ده که چیري مناسب شرط عاید کړل سي شرط او هبه دواړه صحیح دي او که چیري غیر مناسب شرط عاید کړل سي نو بیا هبه صحیح او شرط باطل دئ. (جدید معاملات کی شرعی احکام:۲/ ۸۷،). همدا ډول وګورئ: (جدید معاملات کی شرعی احکم:۱/ ۱۲٦). والله ﷻ اعلم.

د حج په دوران کي د تجارت حکم

سوال: که یو شخص حج او تجارت دواړه سره یو ځای کړي او د حرمینو شریفینو سفر وکړي شرعاً د دې څه حکم دئ؟

الجواب: که اصل مقصد حج وي او تجارت تبعاً ورسره ملګري سي نو پوره ثواب ورکول کیږي او که دواړه مقصد وي نو د حج په ثواب کي کمښت راځي او که تجارت مقصد وي نو د حج ثواب نسته مګر که فرضي حج وو نو فریضه اداء کیږي.

وګورئ:

قال الله تعالى: ﴿ ليس عليكم جناح أن تبتغوا فضلًا من ربكم ﴾ . (سورة البقرة: الآية:۱۹۸).

قال الإمام القرطبي رحمه الله: في الآية دليل على جواز التجارة في الحج للحاج مع أداء العبادة، وأن القصد إلى ذلك لا يكون شركا ولا يخرج به المكلف عن رسم الإخلاص المفترض عليه ، أما إن الحج دون تجارة أفضل، لعروها عن شوائب الدنيا وتعلق القلب بغيرها.

(الجامع لاحكام القرآن للقرطبى:۲/ ۲۷٤ – وكذا فى الماوردى:۱/ ۱۹۸).

وفي تفسير الماوردي في تفسير قوله تعالى: ﴿ ليشهدوا منافع لهم ﴾. المنافع: إنها التجارة فى الدنيا والآخرة وهذا قول مجاهد. (تفسير الماوردى:٤/ ۱۹).

قوله تعالى: ﴿ وأتموا الحج والعمرة لله ﴾. قال الماوردي: اختلفوا في تاويل إتمامها، منها أن تخرج من دويرة أهلك لأجلهما لاتريد غيرهما، من تجارة ولامكسب وهذا قول سفيان الثورى. (تفسير الماوردى:۱/ ۱۹٦).

په بدائع الصنائع کي راځي:

والتجارة والإجارة لا يمنعان جواز الحج ، ويجوز حج التاجر والأجير والمكاري ، لقوله عز وجل ﴿ ليس عليكم جناح أن تبتغوا فضلًا من ربكم ﴾، قيل : الفضل التجارة ، ولأن

Maktaba Tul Ishaat.com

التجارة والإجارة لا يمنعان من أركان الحج وشرائطها ، فلا يمنعان من الجواز . (بدائع الصنائع: ۲/ ۲۱٦، کتاب الحج، سعيد).

قال في البحر: وتجريد السفر عن التجارة أحسن ولو اتجر لاينقص ثوابه كالغازي إذا اتجر كما ذكره الشارح في السير. (البحر الرائق: ۲/ ۳۰۹).

وفي حاشية الطحطاوي: وهذا محمول على ما إذا لم تحمله التجارة على السفر. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار: ۱/ ٤۸۹).

همدا دول وگورئ: (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۲۱ – وفتح القدير: ۲/ ٤۰۷، و ٥/ ٤۸۳، دار الفكر).

عن مجاهد قال بينا عمر بن الخطاب ﷺ جالس بين الصفا والمروة إذ قدم ركب فأناخوا عند باب المسجد، فطافوا بالبيت وعمر ﷺ ينظر إليهم، ثم خرجوا فسعوا بين الصفا والمروة فلما فرغوا قال: علي بهم فأتي بهم، فقال ممن أنتم قالوا: من أهل العراق، قال: فما أقدمكم، قالوا: حجاج، قال: أما قدمتم في تجارة، ولا ميراث، ولا طلب دين، قالوا: لا، قال: أدبرتم ؟ قالوا: نعم، قال: أنصبتم قالوا: نعم، قال: أحفيتم، قالوا: نعم، قال: فائتنفوا . (اخرجه عبد الرزاق: ٥/ ٦/ ۸۸۰٦، باب فضل الحج).

وفي المرقاة: قال ابن حجر رحمه الله يؤخذ من قول الشافعي رحمه الله وأصحابه من حج بنية التجارة كان ثوابه دون ثواب المتخلي عنها أن القصد المصاحب للعبادة إن كان محرماً كالرياء أسقطها مطلقاً .... أو غير محرم أثيب بقدر قصده الآخرة أخذاً بعموم قوله تعالى: ﴿فمن يعمل مثقال ذرة خيراً يره﴾. وهو تفصيل حسن وتعليل مستحسن. (مرقاة المفاتيح: ۱/ ٤٦، ملتان).

وفي أحكام القرآن: قال بعضهم: إذا كان الداعی للخروج إلى الحج هو التجارة (أو الإكراء كما هو حال أكثر الجمالين) أو كانت جزأ العلة أضر ذلک بالحج لأنه ينافي الإخلاص لله تعالى به. (احکام القرآن للعلامة ظهفر أحمد التهانوی:۱/ ۳۵۲).

په اشرف الاحکام نومي کتاب کي راځي:

که چیري اصل مقصد یې حج وو او دتجارت سامان که نه وای، نو دی به ضرور حج ته تلي بیا په دې صورت کي د حج ثواب نه کمیږي او که د حج او تجارت نیت په برابره درجه کي وو نو په دې صورت کي که څه هم تجارت روا دئ مګر اخلاص کم دئ او د جواز وجه یې دا ده چي هغه له حج سره سره دیو مباح فعل انتظام خو وکړ مګر د فعل حرام انتظام یې نه دئ کړي لهذا د عدم جواز یې کوم دلیل نسته او که چیري تجارت مقصد وو او حج یې تابع وو بیا دا شخص ګناه ګار دئ ځکه په دې صورت کي دا شخص ریاکار بلل کیږي ځکه چي دا شخص مخلوق ته دوکه ورکوي، په دې چي تجارت ته ځي او خلکو ته دا ښکاره کوي چي دی حج ته ځي.

او که اصل مقصد حج وو او د لاري توښه د کفایت په اندازه موجود وه نو افضله دا ده چي د تجارت سامان وانه خلي او که اصل مقصد یې حج وو او د لاري توښه د ضرورت په اندازه وه او نیت د تجارت تابع وو نو په دې نیت چي په سفر کي اساني او اعانت راسي بیا د هغه له پاره مال د تجارت راوړل موجب د ثواب دئ. (اشرف الاحکام:ص ۱٤۸، بحواله کمالات اشرفیه، ص ۱۰۵).

وللاستزادة انظر: (رد المحتار:۱/ ٤۳۸، سعید – وجامع العلوم والحکم:۱/ ٤۰ – وفتاوی محمودیه:۱۰/ ٤۵۲ – وفتاوی رحیمیه:۷/ ۳٤ – شرح الاربعین للامام النووی:۱/ ۹، لعطیة بن محمد سالم).

والله ﷻ اعلم.

په مبیعه کي د زیات راوړل سوي جنس د بیر ته د ورکولو حکم

سوال: زید یو زرګر ته ورغلئ او غوښتنه یې څنی وکړ چي زر رانیسم، زرګر هغه ته وویل چي دا زر په درې حصې دي یوه حصی کوټ دي او دوې حصي زر دي او د دوو حصو لس زره افغانی کیږي

چې دیوې حصې پنځه زر کیږي وروسته معلومه سوه چې په هغه کې کوټ ډېر کم دي او اکثریت یې زر دي اوس د هغه زیاتي اندازي قیمت ومالک ته ور رسول ضروري دي او که نه؟

الجواب: د زیاتو زرو یا سوني ومالک ته رسول ضروري دي البته که د زرو تر تللو وروسته استاد یا زرګر وویل چې په دې زرو (مثلا امېل) کې چې هر څومره زر دي هغه په لس زره افغانۍ دي نو بیا و مالک ته د زائد قیمت رسول ضروري نه دي ځکه هغه خپله یادونه ورته کړې ده چې په امېل کې که لږ او که ډېر زر وي د هغه قیمت لس زره افغانۍ دئ.

په هدایه کې راځي:

ومن ابتاع صبرة طعام على أنها مائة قفيز بمائة درهم .... وإن وجدها أكثر فالزيادة للبائع. (الهداية:٣/ ٢٢).

وقال بعتكها على أنها مائة ذراع بمائة درهم كل ذراع بدرهم .... وإن وجدها زائدة فهو بالخيار إن شاء أخذ الجميع كل ذراع بدرهم وإن شاء فسخ البيع، لأنه إن حصل له الزيادة في الذرع تلزمه زيادة الثمن . (الهداية:٣/ ٢٣).

په موسوعة الفقه الكويتية کې راځي:

إذا ظهر نقص أو زيادة فيما بيع مقدرًا بكيلٍ أو وزنٍ أو ذرعٍ أو عد فإن كان الثمن مفصلا كما لو قال: كل ذراع بدرهم، فالزيادة للبائع. (الموسوعة الفقهية:٩/ ٢٤).

وإذا باع البيع جزافاً فلا أثر لظهور النقص أو الزيادة عما توقعه المشتري أو البائع. (الموسوعة:٩/ ٢٤). والله تعالیٰ اعلم.

په بیع بالقسط کې د ثمن په عوض کې د مبیعې محبوس کولو حکم

سوال: زید له عمر څخه په درې لکه یو ماشین د درو میاشتو په قسطو سره واخست او په میاشت کې به یو لک ادا کوي. اوس عمر دا شرط لګوي چې که زید ټولې پیسې اداء نه کړې نو ماشین به د بایع (عمر) په اختیار کې وي او د زید په قبضه کې به نه ورکول کیږي ایا دا شرط روا دئ او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کي بیع دعقد تر مکمل کېدو وروسته زید د ماشین مالک وګرځېدئ او بایع (عمر) اوس په بیع بالتقسیط کي نه سي کولای چي مبیعه محبوس (بنده) کړي البته د رهن (ګروی) په ډول کولای سي له ځان سره یې کښېږدي او دا په دوو طریقو ممکن ده.

۱ـ چي زید تر قبضې وړاندي ماشین له عمر سره د رهن په ډول پرېږدي او دا ناروا ده ځکه په بیع مؤجل کي د ثمن د تر لاسه کېدو له پاره د مبیعې بندول ناروا دي.

۲ـ دوهم صورت دا دئ چي زید پر ماشین قبضه وکړي او وروسته له قبضې هغه وبایع ته د رهن په ډول کښېږدي، دا صورت روا دئ او زید دي خپل ټول قیمت اداء کړي او عمر دي د قیمت تر وصول کېدو وروسته ماشین وزید ته حواله کړي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

قال أصحابنا: للبائع حق حبس المبيع لاستيفاء الثمن إذا كان حالا كذا في المحيط، وإن كان مؤجلًا فليس للبائع أن يحبس المبيع قبل حلول الأجل ولا بعده كذا في المبسوط.

(الفتاوى الهندية:۳/ ۱۵، الباب الرابع فی حبس المبیع بالثمن).

په محیط البرهانی کي راځي:

قال أصحابنا رحمهم الله: وللبائع حق حبس المبيع لاستيفاء الثمن إذا كان الثمن حالاً؛ لأن البائع عين حق المشتري في المبيع، فيجب على المشتري تعيين حق البائع في الثمن تحقيقا للتساوي بينهما ..... وإن كان الثمن مؤجلاً لم يمكن له حق الحبس؛ لأن حق الحبس إنما يثبت للبائع تحقيقا للتسوية بينهما، وقد سقط حق البائع في المساواة بحكم التأجيل، فيسقط حقه في الحبس ضرورة . (المحيط البرهانی:۷/ ۲۲۲، مكتبة الرشيدية).

Maktaba Tul Ishaat.com

په مبسوط کي راځي:

ويبقى حق البائع في الحبس إلا أن يكون الثمن مؤجلًا فحينئذٍ ليس للبائع أن يحبس المبيع قبل حلول الأجل ولا بعده ؛ لأن قبل حلول الأجل ليس له أن يطالب بالثمن وإنما يحبس المبيع بما له أن يطالبه من الثمن وأما بعد حلول الأجل فلأن حق الحبس لم يثبت له بأصل العقد فلا يثبت بعد ذلك تبعًا بهذا الحق ما كان له من استحقاق اليد قبل البيع ، فإذا لم يبق ذلك بعد العقد لا يثبت ابتداء بحلول الأجل . (المبسوط للامام السرخسی:۱۳/ ۱۹۲، ادارة القرآن).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ومنها ثبوت حق الحبس للمبيع لاستيفاء الثمن ، وهذا عندنا .... أما شرط ثبوته فشيئان أحدهما أن يكون أحد البدلين عيناً والآخر ديناً فإن كانا عينين أو دينين فلا يثبت حق الحبس بل يسلمان معاً..... والثاني أن يكون الثمن حالاً فإن كان مؤجلاً لايثبت حق الحبس لأن ولاية الحبس تثبت حقاً للبائع لطلبه المساواة عادة.... ولما باع بثمن مؤجل فقد أسقط حق نفسه فبطلت الولاية. (بدائع الصنائع:۵/ ۲۴۹ ط سعید).

وللاستزادة انظر: (الهداية:۴/ ۵۳۳، والکفاية علی هامش فتح القدير:۹/ ۹۹، رشيدية – وفتاوی البزازية:۶/ ۵۵– والدر المختار:۶/ ۴۹۷، سعيد – واسلام اور جديد معاشی:۳/ ۹۶–۹۸ – وجديد مسائل:۴/ ۲۶۵). والله ﷻ اعلم.

په بيع کي د دوکې ورکولو حکم

سوال: يو شخص ته د سلو افغانی جعلي او جوړ سوی لوټ په سودا کي ورکړل سوی دئ اوس دا کس کولای سي چي دا لوټ بل کس ته په سودا او نورو کي ورکړي ځرنګه چي د هغه پېژندل مشکل دي لهذا بل هم په خطاء استل کيږي يعنی دوهم کس هم کولای سي هغه وچلوي؟

الجواب: په پورتني صورت کي د جعلي سکې چلول روا نه دي او په دې کي دوکه ورکول دي البته که کومه داسي اداره وي چي هغه جعلي سکې جمع کوي لکه نن سبا بانکونه بيا له خبر ورکولو سره روا دي او کولای سو چي له خبر ورکولو سره دا جعلي سکه وچلوو.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ مر على صبرة من طعام فأدخل يده فيها فنالت أصابعه بللاً، فقال: يا صاحب الطعام ! ما هذا ؟ قال: أصابته السماء يا رسول الله ! قال: أفلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس ؟ ثم قال: من غش فليس منا. (رواه الترمذى:١/ ٢٤٥، باب ماجاء فى كراهية الغش فى البيوع).

په درمختار کي راځي:

لايحل كتمان العيب في مبيع أو ثمن لأن الغش حرام. وفى الشامية: قوله لأن الغش حرام، ذكر في البحر أول الباب بعد ذلك عن البزازية عن الفتاوى: إذا باع سلعة معيبة عليه البيان، وإن لم يبين قال بعض مشايخنا يفسق وترد شهادته، قال الصدر: لا نأخذ به، قال في النهر: أي لا نأخذ بكونه يفسق بمجرد هذا لأنه صغيرة، قلت: وفيه نظر لأن الغش من أكل أموال الناس بالباطل فكيف يكون صغيرة، بل الظاهر في تعليل كلام الصدر أن فعل ذلك مرة بلا إعلان لا يصير به مردود الشهادة وإن كان كبيرة. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٤٧، سعيد).

په درمختار کي راځي:

اتفاقا (ونفق أو أنفقه) فلو قائماً رده اتفاقاً (فهو قضاء) لحقه وقال أبو يوسف رحمه الله: إذا لم يعلم يرد مثل زيفه ويرجع بجيده استحساناً كما لو كانت ستوقة أو نبهرجه، واختار

Maktaba Tul Ishaat.com

للفتوى ابن كمال قلت: ورجحه في البحر والنهر والشرنبلالية فيه يفتى. (الدر المختار:٥/ ٢٣٣، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي: قول الشارح كما لو كانت ستوقة أو نبهرجة أى فإنه يرجع بالجياد اتفاقاً. (التحرير المختار:٥/ ١٧١، سعيد).

وفي رد المحتار: والنبهرجة: مايرده التجار، والستوقة: أن كون الطاق الأعلى فضة والأسفل كذلك وبينهما صفر وليس لها حكم الدراهم. (رد المحتار:٥/ ٢٣٣، سعيد).

امداد المفتين كي راځي:

سوال: يو داسي نوټ ما ته راغلئ چي پر هغه د تېلو اثر دئ او معلوم خبره ده چي د داسي نوټ حكم دا دئ چي هغه دي د كرنسۍ و اجنسۍ ته ور وړل سي يا دي د هغه لمبر چاپ كړل سي او هغه دي د كرنسۍ و اداري ته واستول سي، اداره به هغه لمبر چاپ كړي او ده ته به نوټ وركړي خو كه چيري دا نوټ موږ په بازار كي وچلوو كومه ګناه خو به نه لري؟

الجواب: نوټ اخستونكي ته په دې كي ضرر دئ ځكه پر هغه د كاغذي نوټ چاپولو اجره راځي لهذا د هغه له اطلاع پرته د هغه رضايت نه معلوميږي نو د دې نوټ رضايت پرته وركول روا نه دي همدارنګه خطا كړل سوى شخص وبل ته د شريعت له نګاه څخه دوكه نه سي وركولاى، البته حتى الامكان له خپل ځان څخه ظلم دفع كولاى سي مګر پر بل ظلم كول روا نه دي. (امداد المفتين، جلد دوهم:ص ١٠٢٦).

په قواعد الفقه كي راځي:

المظلوم له أن يدفع الظلم عن نفسه بما قدر عليه لكن ليس له أن يظلم غيره. (قواعد الفقه:ص ١٢٤، بحواله السير الكبير مع شرحه:٤/ ٢٢٢). والله تعالى اعلم.

د مبیعې د نقص په صورت کې د رجوع بالنقصان حکم

سوال: یو شخص له قصاب څخه د بزې غوښه رانیول او کور ته تر راوړلو وروسته معلومه سوه چې هغه د سخندر غوښه وه ایا اوس دا واپس کولای سي او که نه؟ او که غوښه تر خوړلو وروسته معلومه سي چې دا د بزې نه ده نو بیا یې د واپس کولو څه حکم دئ؟

الجواب: که چیر تر استعمال وړاندې معلومه سي نو واپس دې کړي او که تر خوړلو وروسته معلومه سي نو د مفتی به قول مطابق رجوع بالنقصان کولای سي یعنی که د بزې غوښه کېلو په شل افغانۍ وه او د سخندر غوښه په پنځلس افغانۍ وه نو مشتري کولای سي پنځه افغانۍ له بایع څخه بیرته تر لاسه کړي.

په شرح مجله کې راځي:

.... أو لحم معز فكان لحم ضأن، وعلى عكسه ونحو ذلک، فله الخيار.... وفي العينى عن الهداية: ولو امتنع الرد بسبب من الأسباب رجع المشتري على البائع بحصته من الثمن فيقوم العبد كاتباً وغير كاتب وينظر إلى تفاوت ما بين ذلک فإن بمقدار العشر مثلاً رجع بعشر الثمن، ومثله فى البحر وغيره، وقال الطحطاوي في حاشته على الدر: يعنى يعتبر التفاوت من الثمن، فإن هذا البيع صحيح لا نظر فيه إلى القيمة. (شرح المجلة لمحمد الاتاسى:۲/ ۲۵۳، ۲۵۵، الفصل الثانى فى بيان خيار الوصف).

په فتاوی والوالجیه کې راځي:

رجل اشترى طعاماً فوجد به عيباً وقد أكل بعضه يرجع بنقصان عيب ما أكل، ويرد ما بقي بحصته لأن بالأكل تقرر العقد فتتقرر أحكامه وهذا قول محمد رحمه الله وبه كان يفتى الشيخ الفقيه أبو جعفر الهندواني رحمه الله وبه أخذ الفقيه أبو الليث رحمه الله فإن باع نصفه يرد ما بقي عند محمد رحمه الله وعليه الفتوى. (الفتاوى الولو الجية:۳/ ۲۵۳).

Maktaba Tul Ishaat.com

په نقايه کي راځي:

وأما أكل الكل ولبس الثوب فالمذكور هنا قول أبي حنيفة رحمه الله والقياس أن يرجع بالنقصان وهو قولهما ومذهب الشافعي رحمه الله و أحمد رحمه الله وبه أخذ الطحاوى رحمه الله وفى الخلاصة عليه الفتوى. (فتح باب العناية:۳/ ۲۲۸).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

ولو اشترى سمناً ذائباً فأ كله ثم أقر البائع أن الفارة وقعت فيها وماتت له أن يرجع بنقصان العيب، عند أبي يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله وعليه الفتوى. (خلاصة الفتاوى:۳/ ۶۹). والله تعالى اعلم.

د نفعي (ګټي) د تعين حکم

سوال: ايا په شريعت کي د نفع حد مقرر دئ او که نه؟ مقرر يعنى بايع څومره نفع اخستلای سي ايا سل فيصده نفع اخستل روا دي او که نه؟

الجواب: په شريعت مقدسه کي د نفعي په اړه هيڅ حد مقرر نه دئ بلکي طبعي پورته والي او کښته والي ته پرېښودل سوی دئ، رسول الله ﷺ هم د دې لحاظ ساتلی دئ چي په غوښتنه او رسد کي تناسب او توازن قائم وي تر څو په قيمت کي هم توازن بر قرار پاته سي البته په يوه جنس او سامان کي دومره ډېره نفع تر لاسه کول چي غبن فاحش پکښي راسي له کراهيت څخه خال نه وي او غبن فاحش دا دئ چي پر سامان د قيمت مقرر کونکو له تخمين څخه هم زيات وي.

وقال في « الفقه الحنفي في ثوبه الجديد»: وعرف الفقهاء الحنفية الغبن الفاحش بأنه ما لايدخل تحت تقويم المقومين من أهل الخبرة، فلو قوم السلعة أحدهم بمائة درهم وقومها الثاني بخمسة وتسعين وقومها الثالث بتسعين مثلاً، فبيعها بما بين التسعين والمائة فيه غبن يسير، وبالتسعين فما دونها غبن فاحش بالبائع، وبالمائة فما فوقها غبن فاحشن بالمشترى.

ثم حدد المتأخرون من الفقهاء الغبن الفاحش للتيسير فی الفتوی والقضاء والتطبيق، أنه ما بلغ خمس القيمة فی العقار وعشرها فی الحيوان ونصف العشر فی العروض وسائر المنقولات، وبهذا أخذت مجلة الأحكام العدلية فی المادة: ١٦٥ منها. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجديد: ٤/ ١٩٣ – وكذا فی شرح المجلة لمحمد الاتاسی: ٢/ ٢٦، المادة ١٦٥).

په هدايه کي راځي:

قال: ولا ينبغي للسلطان أن يسعر على الناس لقوله عليه الصلاة والسلام: لا تسعروا فإن الله هو المسعر القابض الباسط الرازق ولأن الثمن حق العاقد فإليه تقديره .... إلا إذا تعلق به دفع ضرر العامة .... فإن كان أرباب الطعام يتحكمون ويتعدون عن القيمة تعدياً فاحشا وعجز القاضي عن صيانة حقوق المسلمين إلا بالتسعير فحينئذ لا بأس به بمشورة من أهل الرأي والبصيرة . (الهداية: ٤/ ٤٧٢، كتاب الكراهية، فصل ف البيع).

په جديد معاملات کي شرعی احکام نومي کتاب کي راځي:

شريعت مطهره په تجارت کي پر منافع حاصلولو کوم ځانګړی شرعي حد مقرر کړی نه دئ چي که فلاني مال ته رانيسي نو دومره ګټه په سل کي پر کولای سي تر دې زيات يا کم ناروا يا روا دي. هيڅ تعين نسته بلکي دا خبره يې و عاقدينو تر پرې ايښې چي هغه په خپل منځ کي په څومره سره راضی سول هغه صحيح ده او په خپله خوښه دي معامله وکړي البته دومره زياته نفع نه سي حاصلولای چي په هغه کي د نورو خلکو زيان وي يا د خلکو له مجبوری څخه بده استفاده کول وي ځکه د خلکو د مجبوری څخه ناروا فايده پورته کول له مراني څخه خلاف کار دئ لهذا د وخت حکومت ته لازم ده چي پر ناروا منافع خوري د قابو کولو يو مناسب اقدام وکړي.

البته د مال بې ځايه تعريف کول يا عيب پټول يا نقلي او جعلي مال په اصلی ښکاره کول د دې له پاره چي زيات رقم له دې لاري په لاس راوړي دا يوه عظيمه ګناه ده. قال العلامة علی حيدر

Maktaba Tul Ishaat.com

رحمه‌الله: وجاء تعريف البيع في كثير من الكتب الفقهية بأنه مبادلة المال بالمال بالرضاء. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام:۱/ ۱۰۶). (جدید معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۸۶).

په كتاب الفتاوى كي راځي:

شريعت و نفعي اخيستلو ته هيڅ حد تعين كړى نه دئ بلكي د تجارانو پر عرف او رواج او د طرفينو پر رضايت موقوف دئ البته فقهاوو ليكلي دي چي دومره نفع په يو شى كي تر لاسه كول چي د غبن فاحش په دائره كي راسي مكروه ده. غبن فاحش دا دئ چي په بازار كي د يو شى زيات قيمت ولګول سي بيا هم زيات وي يعنى تر هغه زيات لګول سوي قيمت په زيات قيمت واخيستل سي دې ته غبن فاحش ويل كيږي. (كتاب الفتاوى:۵/ ۲۱۳). والله تعالى اعلم.

د کمپنۍ له طرفه د انعام حکم

سوال: ځينو كمپنيو د خپل سامان د پرمختګ له پاره دوكاندارنو ته څه انعامات وركوي مثلاً د كمپنۍ له طرفه د كال په مخصوصو ورځو كي دوكاندارنو ته اطلاع وركول كيږي چي زموږ د كمپنۍ كوم سامانونه چي تاسو پلورلي وي د هغو بيل وساتئ او بيا يې زموږ له اطلاع سره سم وموږ ته ښكاره كړئ، موږ پر هر شي څه پيسې د انعام په ډول دركوو.

اوس دغه انعام چا ته وركول كيږي د دوكان ومالك ته او كه د كمپنۍ وعملې ته، دوكاندار وايي چي دا ما ته راكول كيږي ځكه چي زما په دوكان كي سامان پلورل سوى دئ او عملې ته خو خپله تنخواه وركول كيږي مګر د عملې د لوري دا غوښتنه ده چي دا انعام موږ ته راكول كيږي ځكه چي كمپنۍ والا خپله وايي چي دوى يې وعملې ته وركوي او په دې اړه د كمپنۍ له طرفه يو خط هم وړاندي كړل سو او په هغه كي مرقوم وو چي دا انعام ستا سره كار كونكو ته وركول كيږي اوس د شريعت له نګاه څخه د دې انعام د اخيستلو حقدار څوك دئ دوكاندار او كه عمله؟

الجواب: له عام عرف او دستور سره موافق د كمپنۍ يا بايع له طرفه هغه انعام يا په خريداري كي رعايت چي لاس ته راځي هغه د خريدار (د مالك دوكان دئ) او هغه دوكاندار ته وركول كيږي ځكه دا معلومه ده چي وهغه ته د سامان د خريدارۍ په سبب وركول كيږي.

په امداد الاحکام کي حضر مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله لیکلي دي:

خریدار ته چي د کال په اوږدو کي کوم کمېشن پر هر معلوم شی ورکول کیږي هغه د بایع له طرفه تبرع ده. (امداد الاحکام:۳/ ۳۸٦).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

که چیري د اخیستلو د شیانو سره خریدار ته د انعام په ډول زیات شی ورکول کیږي نو د دې په روا بللو کي کومه شبه نسته او دا د خرڅونکی له طرفه زیاتونه ده او فقهاوو په مبیعه کي اضافوالي ته اجازه ورکړې ده او روا یې بللې ده. (کتاب الفتاوي:۵/ ۲٤۹).

همدا ډول وګورئ: (جدید معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۱۲٦).

مګر په پورتني پوښتل سوي صورت کي کمپنی په خپله څو ځله دا خبره په وضاحت سره کړې چي دا انعام و عملې ته ورکول کیږي لهذا شرعاً د دې انعام حقدار په دوکان کي کار کونکی شمېرل کیږي یعنی په دوکان کي چي کوم څوک کار کوي هغه د انعام حقدار دئ. والله تعالی اعلم.

په مبیعه کي د استحقاق حکم

سوال: ځینو کسانو یوه مځکه رانیول، بیا یې پر هغه دېوال راوګرځاوو مګر د عمومي سړک له طرفه د حکومتي مځکي هم څه حصه په دې مځکه کي راغله وروسته بیا له دې طرفه (د عمومي سړک له طرفه) یو څه حصه وپلورل سوه البته تر پلورلو وړاندي د ښار والی یو خط هم راغلی وو او په هغه کي لیکلی وه چي د عمومي سړک له طرفه دي دېوال ونړول سي ځکه چي دا حکومتي مځکه ده او دېوال دې په خپلو حدودو کي جوړ سي مګر مالکانو وخط ته څه توجه ونه کړل او د بیع په وخت کي د خط په اړه څه خبري هم ونه کړل سوې بالکل نسیاً مسیاً هېر کړل سو؟

اوس مشتري په دوه سببه د نقصان متحمل وګرځېدئ:

۱_ د دېوال نړولو او بیا دوهم ځل جوړولو خرچه.

۲_ بل دا چي زر ګزه مځکه د مشتري له لاسه و ښار والی ته ورکول سوه حال دا چي مشتري د هغې مځکي قیمت هم اداء کړي وو اوس سوال دا دئ چي مشتري له بایع څخه د دېوال جوړولو

Maktaba Tul Ishaat.com

مصرف بیرته اخیستلای سي او که نه. او همدارنګه د زر متره مربع مځکي د قیمت غوښتنه کولای سي او که نه؟

الجواب: ۱ _ بایع د منقوضه دېوال ذمه دار نه دئ بلکي مشتري په خپلو پیسو د ځان د حفاظت له پاره دېوال جوړ کړی وه، وجه یې دا ده چي مخکنې دېوال په بیع کي داخل نه وو ځکه بیع خو صرف د مځکي سوې وه او دېوال مقصد نه وو او ثمن د اصل په مقابل کي وه. والثمن يكون فى مقابلة الأصل، لا فى مقابلة الوصف والتابع.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ومن اشترى ثوباً على أنه عشرة أذرع بعشرة أو أرضاً على أنها مائة ذراع بمائة، فوجدها أقل، فالمشترى بالخيار: إن شاء أخذها بجملة الثمن، وإن شاء ترك لأن الذرع وصف في الثوب، ألا ترى أنه عبارة عن الطول والعرض والوصف لا يقابله شيء من الثمن كأطراف الحيوان فلهذا يأخذه بكل الثمن. (الهداية:۳/ ۲۳). ثم أشار فيها بعد أن الوصف هو التابع.

وفى الفقه الحنفى في ثوبه الجديد: قال: الوصف ما يدخل تحت البيع بلا ذكر كالشجار والبناء فى الأرض، والأطراف فى الحيوان والجودة فى الكيلي والوزني. (الفقه الحنفى فى ثوبه الجديدى:٤/ ١٠٦، ط: دمشق).

۲ _ زر متره مځکه چي حکومت اخیستي ده مشتري یې له بائع څخه قیمت بیرته اخیستلای سي او بائع هم لومړنی بائع ته رجوع کولای سي.

په هدایه کي راځي:

ولو تداولته الأيدي ثم قطع في يد الآخير، رجع الباعة بعضهم على بعض عنده كما في الاستحقاق .... وقوله في الكتاب .... ولم يعلم المشتري يفيد على مذهبهما، لأن العلم

بالعیب رضاء به ولا یفید علی قوله في الصحیح، لأن العلم بالاستحقاق لا یمنع الرجوع. (الهدایة:۳/ ٤٨، باب خیار العیب).

وفي شرح المجلة نقلاً عن جامع الفصولین: شراه عالماً بأنه لیس لبائعه ثم استحق، رجع بثمنه. (شرح المجلة للاتاسی:۱/ ٤٦٢).

وفي الموسوعة الفقهیة الکویتیة: یحرم شراء الشيء المستحق عند العلم بالاستحقاق، فإن حصل البیع مع علم المشتري بالاستحقاق، فللمشتري الرجوع بالثمن علی البائع عند الاستحقاق إذا ثبت بالبینة. (الموسوعة الفقهیة الکویتیة:٤/ ٨٧). والله ﷻ اعلم.

د شیرز د رانیولو او خرڅولو حکم

سوال: علماء کرام په لاندي مسئله کي څه فرمایي، نن سبا د شېرز رانیول او خرڅول خورا ډېر کیږي او مخ پرورده دي ایا د شېرز رانیول او خرڅول روا دئ او که نه، یعنی یو شخص یوه حصه واخلي او د قیمت د لوړېدو په صورت کي له نفعي سره یې پلوري نو د دې څه حکم دئ؟

الجواب: په اوسني دور کي د شېرز یا برخو او حصو کاروبار له مالي اعتباره خورا ګټور کار ګڼل کیږي او دا حصه کله براه راست له کمپنۍ څخه رانیول کیږي او کله له اجنبي او کله د کمپنۍ له منېجر څخه رانیول کیږي او کله په شخصي ډول خلک خپله اخیستل سوې حصه پر بل کس پلوري او د یاد صورتونه ټول روا دي او په دې ټولو صورتو کي د شېرز مالکان په خپله پر شېرز قبضه کوي یا د کمپنۍ منېجران او منتظمین وکالةً د هغه له طرفه پر اصل ملکیت قبضه کوي او د شي په رانیولو او خرڅولو کي ضروري ده چي پر شی اصل مالک خپله قابض وي او یا به د مالک له طرفه کوم بل شخص وکالةً پر هغه شي قابض وي یعنی هغه به وکیل بالبیع ټاکل سوی وي او دا دواړي خبري په دې صورتو کي متحقق کیږي او دا رانیول او خرڅول د دې پیسو رانیول او خرڅول نه دي بلکي د کوم شي چي دستاویز وخریدارانو ته ورکړل سوی هغه د سامان وثیقه ده او د هغه سامان رانیول او خرڅول دئ چي د هغه ابتدایي قیمت کمپنۍ ټاکلي دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو اوس له څه قدر فرق سره خرڅېدلای سي او چي تر اصل قیمت هر څومره په زیات او یا کم قیمت سره ورکړل سي د سود تحقق نه راځي.

او چي کله په اصولي ډول د شېرز رانیولو او خرڅولو ته جواز ورکړل سي نو اوس د حکم دار و مدار د کمپنۍ پر نوعیت باندي راڅرخي که چیري کمپنۍ روا کاروبار کوي نو د شېرز رانیول او خرڅول هم روا دي او د کمپنۍ اصل مالکان که مسلمانان وي او که غیر مسلمانان څه فرق نه کوي او که هغه ناروا او له شریعت څخه خلاف کار وبار کوي لکه شراب جوړونه مجسمه جوړونه وغیره بیا د دې کمپنۍ د شېرز رانیول او خرڅول هم ناروا دئ. والله تعالیٰ اعلم.

د شېرز په تجارت کي د څو ضروري خبرو نشاندهي:

۱_ د شېرز پر هغه کاږ کي چي د شېرز ګوډلمبر پکښي درج او قبضه کړل سوی وي یا هرنګه چي وي خو یقیني ډول به شېرز هولډر یعنی د حصو مالک ته د حصو په اندازه په کمپنۍ کي ملکیت ثابت سوی وي فائده یې دا ده چي کله پر کمپنۍ نقصان راسي د دې نقصان ضمان به قانوناً پر اجار دار هم راځي مګر پر شېرز له حقیقة قبضې څخه پرته یا د یقیني ډول ملکیت څخه پرته یې وړاندي خرڅول روا نه دي.

تنبیه: زموږ په زمانه کي د شېرز رانیول او خرڅول اکثریت پر انټرنیټ کیږي او د شېرز تر اخیستلو وروسته فوراً د خریدار له اکاونټ څخه رقم بېول کیږي او د شېرز یا حصې د ملکیت خبر په ذریعه د اې میل سره ورکول کیږي، رانیول او بیا خریدار د شېرز د رانیولو رسېد هم را استلای سي کوم چي د حکمې قبض مترادف دئ.

همدارنګه د بایع سرټیفکیټ تر دغه وخته معطل ګڼل کیږي لهذا نور مخ پر وړاندي د خرڅولو ګنجائش په کار دئ که څه هم سرتفکیټ تر اوسه موصول سوی نه دئ.

په معاییر شرعیة کي د انټرنیټ په وسیله سره د اکاونټ منتقل کېدلو قبضه حکمي ویل سوی ده.

معاییر شرعیه نومي کتاب تقریباً (۲۷) محققینو علماوو چي ارباب الفتاوی ورته ویل کیږي مرتب کړې ده او په هغه کي لیکل سوي دي:

إن كيفية قبض الأشياء تختلف بحسب حالها واختلاف الأعراف فيما يكون قبضاً لها، فكما يكون القبض حسياً في حالة الأخذ باليد أو النقل أو التحويل إلى حوزة القابض أو وكيله يتحقق أيضاً اعتباراً وحكماً بالتخلية مع التمكين من التصرف، ولو لم يوجد القبض حسياً، فقبض العقار يكون بالتخلية وتمكين اليد من التصرف، فإن لم يتمكن المشتري من المبيع فلا تعتبر التخلية قبضاً، أما المنقول فقبضه بحسب طبيعته. (المعايير الشرعية: ص ١٢٢).

٢_ د ځينو حضراتو د شېرز رانيول او خرڅول په حقيقت کي مقصد نه وي (د مبيعې او ثمن هيڅ وجود نه وي) د هغو په نظر سرټفکيټ وصول کول هيڅ اعتبار نه لري او نه يې دوی وصول کوي بلکي محض د خولې په خبرو سره انتهايي کاروايي او نتيجه ګري کول کيږي او دوی وايي د سرټفکيټ په وصول کولو او په صرف زباني خبرو سره بيع طی کول څه فرق نه لري مګر دا معامله هم د سود او ستې له امله حرامه ده.

٣_ د موجود شی سودا روا ده که د سرمايې په نيت وي او که په شيرز د ګټې کولو له پاره وي.

۴_ شارټ سيل: يعنی بيع د غير مملوک روا نه ده که چيري د خرڅېدونکي په لاس کي شېرز موجود نه وي د بيع د شارټ يعنی خرڅېدل د غير مملوک کوي چي په عربي ژبه کي (بيع مالا يملک) ورته وايي دا بيع ناروا او باطل ده سبب يې دا دئ چي دا بيع د مالا يملک ده او په نوی اصطلاح شارټ سيل يا بلينک سيل ورته ويل کيږي.

۵_ او که له خرڅونکي سره شېرز موجود وو او ده دهغه شيرز ډيليوري (ادا ينه) هم اخيستې وي او د راتلونکي تاريخ له پاره اوس ايجاب او قبول کوي او په دې سره د راتلونکې بيع تکمله ګرځوي چي دې ته (Forward sale) ويل کيږي يعنی البيع المضاف الی المستقبل نو څنګه چي د راتلونکي نېټي له پاره ده نو دا بيع ناروا ده.

٦_ فيو چرسيل هم ناروا دئ ځکه دا هم سټه بازي ده د دې ذکر په (٢) لمبر کی سوې ده يعنی د شيرز داسي بيع چي شېرز اخيستل ورکول مقصد نه وي بلکي صرف د نفع او نقصان په برابری سره نفع لاس ته راوړل مقصد وي نو دا هم ناروا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

۷_ یوه اهمه او د پاملرني وړ خبره په دې کي دا ده که شېرز هولډر (اجار دار) شراکت ختم کول غواړي او له کمپنۍ څخه وځي تر څو چي یې خپل حصه یا شېرز پر بل شخص نه وي پلورلی، وتلای نه سي مګر څنګه چي له کمپنۍ سره له شروع څخه دا معاهده کړل سوې نو ځکه د معاهدی پابندي کول په کاره دي یعنی د دې بیع ضروري هم ده یعنی د اجار دار د بیع ګنجائش سته.

۸_ که چیري کمپنۍ په څه سودی معاملاتو کي ککړه وي نو په کلنۍ غونډه کي اواز پورته کېدل په کار دي.

۹_ کله چي منافع تقسیمېږي څومره ګټه چي له څومره سودي حصي څخه پورته سوې وي باید هغه صدقه کړل سي.

۱۰_ د قیمت اسمیه په زیات او کم سره خرڅولو له پاره همدا ضروري ده چي د کمپنۍ اثاث به صرف د نقد په شکل کي نه وي.

۱۱_ د کمپنۍ په قواعدو کي دا خبره هم شامله ده چي کمپنۍ له مختلفو بانکونو څخه سودي قرضه تر لاسه کوي که چیري دا خبره صحیح وي نو دا ناروا ده او د دې قرضې د عدم جواز په سبب ټول شریکان د سود اخیستلو په ګناه کي ملوث ګرځي.

مګر څنګه چي دا سودی معامله معمولي او په قلیل مقدار کي ده او بالذات مقصد هم نه وي بلکي ضمناً او تبعاً وي همدارنګه ډېر وختونه غټي کمپنۍ له ځان څخه د ضرر دفع کولو په خاطر د حکومتي قوانینو مراعت ساتي تر څو له هغه ظالمانه ټکسونو څخه ځان خلاص یا په ټکس کي تخفیف راولي د همدې مجبورۍ په اساس له بانکونو څخه سودي قرضه اخیستل کیږي نو ځکه د دې ګنجائش پیدا کېدای سي که چیري د غیر مسلمو کمپنۍ وه بیا نور تخفیف پر راغلی. لکه څنګه چي مولانا ظفر احمد تهانوی په امداد الاحکام کي :(٤/ ٣٩٧/ ٤٤٠).

تفصیلي بحث کړئ چي لنډیز یې دا دئ چي د غالب اعتبار وکړل سي بیا ګنجائش لري البته د کمپنۍ په لاسته راوړنه کي کم مقدار د سود وي نو د حصو ومالکانو ته هغه حاصل سوې سودي لاسته راوړنه بیا صدقه کول په کار دي.

۱۲_ دکمپنۍ مېنجر (man ager) چې له تنخوا سره سره الاونس اخلي هغه نامعلومه وي مګر که چیري هغه د سلني له اعتبار څخه معلومه کړي نو ګنجائش سته او ورا دئ.

زيات تفصيل له پاره لاندني کتابونه وګورئ: (جديد فقهی مسائل: جلد اول ، وجلد چهارم - واسلام اور جديد معيشت وتجارت، ص ۱۰۳-۱۱۲، جديد فقهی مباحث: ج ۱۶، ادارة القرآن - وفتاوی عثمانی، جلد سوم - وايضاح النوارد، حصه اول - وامداد الفتاوی، جلد سوم - وامداد الاحكام: ٤/ ٣٩٩ - ونتی مسائل اور علمائی هند کی فيصلی، ص ۱۱۱، واهم فقهی فيصلی: ۱۰۹، وعصر حاضر کی پيچيده مسائل اور ان کا حل: ۲/ ۲۳۵، وجديد معاملات کی شرعی احکام، جلد اول). والله ﷻ اعلم.

د شارټ سيل حکم

(بيع مالايملک) (يعنی د هغه شی بيع چې بائع يې اوس مالک نه وي).

سوال: ايا بيع د مالايملک روا ده او که نه؟

الجواب: شارټ سيل پکښې بيع د غير مملوک ته ويل کيږي يعنی بايع داسي برخه پلوري چې د هغه په ملکيت کې نه وي مګر په دې کې دا اميد وي چې تر سودا کولو وروسته به په لاس ورسي لهذا دا برخه خرڅول روا نه ده.

په جامع ترمذي کې راځي:

حدثنا قتيبة ثنا هشيم عن أبي بشر عن يوسف بن مالك عن حكيم بن حزام رضي الله عنه قال: سألت رسول الله ﷺ فقلت: يأتيني الرجل فيسألني من البيع ما ليس عندي أبتاع له من السوق ثم أبيعه قال: لا تبع ما ليس عندك. (ترمذی شريف: ۱/ ۲۳۳، باب ماجاء فی کراهية بيع ماليس عنده).

د دې مسئلې لنډ وضاحت د شيرز د رانيولو او خرڅولو په مسئله کې تېر سو البته که چيري د بيع وعده وکول سي حقيقتاً بيع نه وي او د سامان يا شېرز تر حصول وروسته بيع منعقده کړي بيا څه مشکل نه لري او روا ده. والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مړي له طرفه د کفالې حکم

سوال: یو کس وفات سو او هیڅ مځکه او جائداد ورځخه پاته نه سو او هغه تقریباً یو لک روپۍ نقدي قرضداره دئ، د مړه سوي شخص دوې لوڼې پاته دي او د مقرض (د کوم چا چي پر مړي پور باندي دئ) لخوا ځورول کیږي د محلي یو بل شخص د مقرض د قرضو ذمداري پر غاړه واخیسته، د مړي وارثانو د قرض په اداء کولو کي نوره ټکي برګي شروع کړه او بالاخر مقرض یا پور وړي له هغه کلیوال ضامن کس ځخه غوښتنه وکړه، ضامن ځرګنده کړه چي ما خو صرف د ورثه وو د مهلت اخیستلو ذمداري پر غاړې اخیستي وه او تاسو ته معلومه ده چي د فقهي په کتابو کي راځي چي د مړي له طرفه کفالت نه کیږي پر ته له دې که د مړي مال پاته وو یا یو شخص د مړي د ژوندي حالت کفیل وو اوس د قرض خواه (پور غوښتونکي) او د کفیل په منځ کي جګړه ده اوس له تاسو هلیه ده چي فتوی راکړي ایا کفیل د قرض پر اداء کولو مجبور کولای سي او که نه؟

الجواب: په پورتنۍ مسئله کي د حنفي علماوو په منځ کي اختلاف دئ حضرت امام اعظم رحمة الله عليه فرمایي چي دا کفاله صحیح نه ده او اصحاب متونو هم دا قوال اختیار کړی او ترجیح يې ورکړې ده او د صاحبینو په نزد دا کفاله صحیح ده. مجلې او شرح مجلې د صاحبینو قول اختیار کړی دئ او ویلي يې دي چي دا قول مختاره دئ لهذا د صاحبینو قول ته په کتلو سره پر کفیل ذمداري راځي او دی به خپله وعده پوره کوي البته که کوم شخص د مړي له طرفه تبرعاً کومه ذمداري چي پر مړي باقي پاته ده ادا کوي دا اتفاقاً صحیح او روا ده.

په شرح مجله کي راځي:

وكذا تصح الكفالة بعد موته مفلساً.... أما لو مات مفلساً وعليه دين لحقه في حياته لا كفيل به ولا رهن فكفله إنسان فعند أبي حنيفة رحمة الله عليه لاتصح الكفالة به .... وعندهما تصح لأن الدين لما كان ثابتاً في حياته لايسقط إلا بالأداء أو الإبراء.... لكن ظاهر هذه المادة أن جمعية المجلة قد اختارت قول الامامين رحمة الله عليه الموافق لما قال به الأئمة الثلاثة وأكثر أهل العلم كما في فتح القدير لأنها أطلقت صحة الكفالة عن المفلس ولم تقيدها بكون المفلس

حياً ولو كان مرادها التقييد بذلک لما سكتت عن بيان حكم الكفالة بدين من مات مفلساً وإذا كانت جمعية المجلة قد اختارت قولهما يجب العمل به. (شرح المجلة لمحمد الاتاسی:۳/ ۳۲، المادة:۶۳۳ – وكذا فی شرح المجلة لعلی حيدر:۳/ ۶۵۰).

په فتح القدير کي راځي:

وقال أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله والأئمة الثلاثة وأكثر أهل العلم تصح لأنه كفل بدين ثابت لعموم قوله صلى الله عليه وسلم « الزعيم غارم » ولما روي أنه صلى الله عليه وسلم أتي بجنازة .... الخ، فلو لم تصح عن الميت المفلس لما صلى عليه بعد الكفالة و لأنه كفل بدين ثابت . (فتح القدير:۷/ ۳۰۴، دار الفكر).

دبخاري په شرحه عينی کي راځي:

الكفالة من الميت .... فقال ابن أبي ليلى رحمه الله ومحمد رحمه الله وأبو يوسف رحمه الله والشافعی رحمه الله: الكفالة جائزة عنه وإن لم يترک الميت شيئاً ولارجوع له فی الميت إن ثاب للميت مال. (عمدة القاری:۸/ ۶۵۰، ملتان).

وللستزادة انظر: (البحر الرائق:۶/ ۲۳۲ – العناية:۷/ ۲۰۴ – وشرح المجلة لرستم باز:۱/ ۲۳۵ – والبنياية:۳/ ۲۴۷ – وتبيين الحقائق:۴/ ۱۵۹ – بدائع الصنائع:۶/ ۶، سعيد). والله تعالی اعلم.

د اسرائيلو له معاون غير مسلم سره د کار وبار حکم

سوال: يوه اداره ده چي له اسرائيلي فوج سره تعلق لري او د هغو معونت کوي او اسرائيلي فوجيان په خپل ظلم او وحشت او د ځمکي په غصب کي مشهور دي ايا له داسي اداري سره په شراکت د ټلويزون يو چينل خلاصول روا دي او که ناروا، حال دا چي په يقيني دول دا معلومه ده چي له دې معاملې سره د اسرائيلي فوج نفع تړلې ده؟ همدارنګه که د هغه شخص په اړه معلومات راکول سي چي

دا خبري تولي پېژني او په خبر هم دي ولي بيا هم دا کړنه ترسره کوي يا په دې کې شامل وي د دې شخص څه حکم دئ؟

د مهربانۍ له مخې خبره د قرآن او سنت په رڼا کې راته تشريح کړئ، ځکه کوم څوک چې په داسې معاملاتو کې بوخت وي هغه د دلائلو غوښتنه کوي او همداسې چې کومه بله فتوی چې له تاسو سره موجود وي د مهربانۍ له مخې يې ومومړ ته يې ارسال کړئ، الله ﷻ دې تاسی په دواړو جهانو کې سرلوړي وګرځوي.

الجواب والله الموفق للصواب:

په عامو حالاتو کې چې کله يهود او نصاری د مسلمانانو په وړنه تويولو کې بوخت نه وي شرعاً له هغو سره پېر او پلور روا دئ له قرآن او حديث څخه ثابته ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿ لا ينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الدين ولم يخرجوكم من دياركم .....﴾. (سورة الممتحنة، الآية:٨).

نبي کريم ﷺ خپله له يهودو سره معاملات ترسره کړي.

عن عائشة رضي الله عنها، أن النبي ﷺ اشترى طعامًا من رجل يهودي إلى أجلٍ ورهنه درعًا من حديدٍ. (رواه البخاري:١/ ٢٧٧).

همدارنګه نبي کريم ﷺ د خيبر له يهودو سره د مزارعت معامله کړې ده.

« قام عمر خطيبًا فقال: إن رسول الله ﷺ كان عامل يهود خيبر على أموالهم وقال: نقركم ما أقركم الله ». (رواه البخاري:١/ ٣٧٧).

حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه له غير مسلمو سره معامله کړې ده.

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: كان بالمدينة يهودي وكان يسلفني في تمري إلى الجذاذ. (رواه البخاري، كتاب الاطعمة:٢/ ٨١٨).

وعنه أنه أخبره أن أباه توفي وترک عليه ثلاثين وسقاً لرجل من اليهود. (رواه البخاری:کتا الاستقراض:١/ ٣٢٢).

مګر هغه کفار چې د مسلمانو په وينه تږيولو کې ښکېل وي او د هغو ځاني دښمنان وي او پر هره دقيقه او ثانيه کې د مسلمانانو د وينې په پلان او فکر کې وي او په شپه او ورځ کې د مسلمانانو د وينو تږيول د هغو طبعيت جوړ ونه جوړ سوی وي لکه چې نن سبا د اسرائيلي فوجيانو کردار دئ له داسي ظالمانو يا د هغو له معاوينينو سره د تعاوني معاملاتو کول د قرآن کريم او د نبوي احاديثو او د فقهاوو د عباراتو په رڼا کې سخت ممانعت راغلی او ناروا بلل سوی ځکه چې د مؤمن پر خلاف له ظلم کونکي سره هر ډول معاونت کول لويه ګناه ده خو کله چې په يقيني ډول له معلومه وي چې د دې اداري ګټه و هغو ته رسيږي .

د کتاب الله او سنت څخه دا دلائل وګورئ:

الله تعالی فرمايي: ﴿ إنما ينهاكم الله عن الذين قاتلوكم في الدين وأخرجوكم من دياركم وظاهروا على إخراجكم ....الخ﴾. (سورة الممتحنة، الآية:٩).

وقال تعالى: ﴿ ولا تعاونوا على الإثم والعدوان واتقوا الله إن الله شديد العقاب ﴾ . (سورة المائدة الآية:٢).

علامه الوسی البغدادي رحمه الله فرمايي:

قال العلامة الآلوسی البغدای رحمه الله: فيعم النهي كل ما هو من مقولة الظلم والمعاصي ويندرج فيه النهي عن التعاون على الاعتداء والانتقام. (روح المعانی:٦/ ٥٧).

وقال الإمام القرطبي: وأن يكون المسلمون متظاهرين كاليد الواحدة (المؤمنون تتكافأ دماؤهم ويسعى بذمتهم أدناهم وهم يد على من سواهم، ويجب الإعراض عن المتعدي وترك النصرة له ورده عما هو عليه، ثم نهى فقال : ﴿ ولا تعاونوا على الإثم والعدوان ﴾ وهو

Maktaba Tul Ishaat.com

الحكم اللاحق عن الجرائم ، وعن ﴿ العدوان ﴾ وهو ظلم الناس.(الجامع الاحكام القرآن:۳/ ۳۳).

وفي الدر المنثور فی التفسير المأثور: وأخرج ابن ماجه عن أبي هريرة ﷺ، أن رسول الله ﷺ قال : « من أعان على قتل مؤمن ولو بشطر كلمة، لقی الله مكتوب بين عينيه آيس من رحمة الله ».

وأخرج الطبراني في الأوسط والحاكم عن ابن عباس ﷺ، ان رسول الله ﷺ قال : « من أعان ظالماً بباطل ليدحض به حقاً فقد بری ء من ذمة الله ورسوله ».

وأخرج البخاري في تاريخه والطبراني والبيهقي في شعب الايمان عن أوس ابن شرحبيل ﷺ قال : قال رسول الله ﷺ : «من مشیٰ مع ظالم ليعينه وهويعلم أنه ظالم فقد خرج من الإسلام ».

وأخرج الحاكم وصححه والبيهقي عن عبد الرحمن بن عبد الله بن مسعود ﷺ عن أبيه قال : قال رسول الله ﷺ: « من أعان قوماً على ظلم فهو كالبعير المتردي فهو ينزع بذنبه ».

په معارف القرآن کي راځي:

اثم او عدوان سخت جرم بلل سوی او د هغه له تعاون څخه ځان ساتل په کار دي. د عدوان لفظي معنا له حد څخه تجاوز کول دي او د هغه څخه مراد ظلم او جور دئ او ابن کثير ﷫ د طبراني په روايت ليکلي دي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:

کوم شخص چي له ظالم سره مدد وکړ هغه له اسلام څخه خارج او څه برخه ېکښې نه لري بناء پر دې سلفو صالحينو د ظالم باچا له ملازمت يعنی وظيفه اجراء کولو او پر عهده مقرر کېدلو څخه سخت احتراز کړی دئ ځکه چي په دې کي د هغو امداد او معاونت دئ.

په تفسیر روح المعاني کي تر دې ایات ﴿ فلن اکون ظهیرًا للمجرمین ﴾، لاندي دا حدیث نقل کړی، چي رسول الله ﷺ فرمايي: د قیامت په ورځ به اواز وکړل سي چي چیري دي ظالمان او د هغو مرسته کونکي حتا هغه څوک چي د ظالم یې دومره مرسته کړې وي چي دیو قلم یا کاغذ مرسته هغه به هم له دوی سره ټول په اوسپنیز تابوت کي سره جمع کړي او جهنم ته به یې ټېل وهي. (معارف القرآن:۳/ ۲۵).

مسلمانی ټولني ته په کار ده چي د مظلومو فلسطنیانو مرسته او کومک وکړي او د ظالمانو ظلم، وحشت او بربریت نور پای ته ورسوي او د اسلامي اخوت چي کوم درسونه زموږ په وړاندي موجود دي هغه پر عملي لباس سره وپوښل سي.

وګورئ «عن سالمٍ عن أبیه، عبد الله بن عمر رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: «المسلم أخو المسلم لا یظلمه ولا یسلمه من کان فی حاجة أخیه کان الله فی حاجته، ومن فرج عن مسلمٍ کربةً فرج الله عنه بها کربةً من کرب یوم القیامة ومن ستر مسلمًا ستره الله یوم القیامة». (رواه مسلم:۲/ ۳۲۰).

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دئ، نه یو مسلمان پر بل ظلم کوي او نه دی له هغه سره مرسته پرېږدي او کوم مسلمان چي د بل مسلمان په نصرت او کومک کي وي الله تعالی د هغه حاجتونه ور پوره کوي او کوم مسلمان چي د بل مسلمان مصیبت او پرېشاني لیري کړي الله تعالی به د ده مصیبت د قیامت له مصیبتونو څخه لیري کړي او کوم چا چي دیو مسلمان پرده وساتل (د هغه عیب یې ذکر او ښکاره نه کړ) الله تعالی به په قیامت کي د ده پرده وساتي.

عن أبي موسی الأشعري رضی الله عنه المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضاً. (رواه البخاری:۲/ ۸۹۰).

مسلمان د مسلمان له پاره لکه عمارت داسي دئ یو د دوهم له پاره د مضبوطۍ سبب ګرځي.

Maktaba Tul Ishaat.com

عن النعمان بن بشير ﵁ قال قال رسول الله ﷺ « مثل المؤمنين فى توادهم وتراحمهم وتعاطفهم مثل الجسد إذا اشتكى عضو منه تداعى له سائر الجسد بالسهر والحمى ».

(صحيح مسلم:۲/ ۳۲۱).

مسلمانان د شفقت، مهربانى او ترحم د دوستۍ له لحاظه په خپل منځ كي د يوه جسم په شان دي كه چيري د اندام يو عضوه په تكليف كي مبتلاء وي نو د بدن ټول اندامونه په تبه او بې خوابۍ ورسره اخته وي.

په هدايه كي راځي:

قال ويكره بيع السلاح في أيام الفتنة معناه ممن يعرف أنه من أهل الفتنة لأنه تسبيب إلى المعصية وقد بيناه في السير. (الهداية:۳/ ۴۷۲ – وكذا فى رد المحتار:۶/ ۳۹۱، كتاب الكراهية، سعيد).

په فتح القدير كي راځي:

ولا ينبغي أن يباع السلاح من أهل الحرب ولا يجهز إليهم لأن النبي عليه الصلاة والسلام نهى عن بيع السلاح من أهل الحرب وحمله إليهم، ولأن فيه تقويتهم على قتال المسلمين فيمنع من ذلك وكذا الكراع لما بينا، وكذلك الحديد لأنه أصل السلاح، وكذا بعد الموادعة ؛ لأنها على شرف النقض أو الانقضاء فكانوا حربًا علينا . (قوله ولايجهز إليهم) مع التجار إلى دار الحرب . وفى العناية: قوله(ولايجهز اليهم) أى لايبعث التجار إليهم بالجهاز وهو فاخر المتاع، والمراد به هاهنا السلاح والكراع والحديد. (الهداية مع فتح القدير والعناية:۵/ ۴۶۰، كتا السير، دار الفكر). فقط والله تعالى اعلم بالصواب.

د مذبوح غير مدبوغ د پوستكي د تجارت حكم

سوال: يو كار خانه ده وهغې ته پوستكي راځي چې حلال سوي وي مګر دا معلومه نه ده چې مجوسي، مسلمان، كتابي چا ذبحه كړې ده او دا پوستكي پاخه سوي نه وي ايا د داسي پوستكو تجارت روا دئ او كه ناروا يعنى په غير شرعي طريقه ذبحه پوستكى پاكوي او كه نه؟

۲_ همدارنګه د هغو حيواناتو غوښه چې په غيري شرعي طريقه سره ذبحه سوي وي د سپيو، پشانو او خنزيرانو له پاره رانيولای سي او كه نه؟

الجواب: ۲_ پر غير شرعي طريقه چې حيوانات ذبح سي نو د هغو غوښه پاكه وي او كه نه؟ په دې خبره كي د فقهاوو اختلاف دئ چې د غير مسلم په لاس د ذبح سوي حيوان غوښه حلاله ده او كه حرامه خو اكثره مشائخ پر دې خبره دي چې دا پاكېدلای نه سي او پر خپل اصلي ناپاكى پاته ده مګر ځيني حضرات بيا وايي چې پاک كيږي ملا على قاري رحمه الله په شرح نقايه كي د غير ماكول حيوان چې په شرعى ډول حلال سي د غوښي په اړه فرمايي چې د پاک بللو قول د امام كرخي رحمه الله، د هدايې د مصنف، او د تحفي مصنف رحمه الله، محيط مصنف رحمه الله، بدائع مصنف رحمه الله او نورو غټو علماوو اختيار كړی دئ نو بناء پر دې د يادو سوو حيواناتو چې په شرعي ډول حلال كړل سوي وي د غوښي تجارت روا دئ.

وګورئ په شرح نقايه كي راځي:

قوله وكذا (أى طهر) لحمه وإن لم يؤكل) لأن الجلد يطهر بالذكاة اتفاقاً، واللحم متصل به فلايكون نجساً، وهو مختار الكرخى رحمه الله، وصاحب الهداية والتحفة وفى المحيط: وهو الصحيح من المذهب، وفى البدائع: وهو أقرب إلى الصواب، لأن النجاسة بالدم المسفوح وقد زال بالذكاة، وقال كثير من المشايخ: يطهر جلده بها ولا يطهر لحمه.

(فتح باب العناية: ۱/ ۸۳، احكام الدباغة، بيروت).

Maktaba Tul Ishaat.com

علامه عینی د هدایې په شرح کې لیکلي:

(وكذلک يطهر لحمه) أى لحم ما ذكى حتى اذا صلى ومعه من لحم الثعلب المذبوح أو نحوه أكثر من قدر الدرهم جازت صلاته (هو الصحيح) أى الحكم بطهارة لحمه هو الصحيح، واحترز به قال فى الأسرار وغيره أنه نجس قلت: وقد اختلف أصحابنا في طهارة لحمه وشحمه، فقال الكرخى رحمه الله: كل حيوان يطهر جلده بالدباغ يطهر بالذكاة فهذا يدل على أنه يطهر شحمه ولحمه وسائر أجزاءه، وقال بعض مشائخنا: يطهر جلده لاغير منهم نصر بن يحيى والفقيه أبو جعفر والأول أقرب إلى الصواب، وقال فى المفيد هو الصحيح.

... (البناية فى شرح الهداية:۱/ ۲۳۳، ط: فيطل آباد).

په فتاوی هندیه کې راځي:

وفي فتاوى أهل سمرقند: إذا ذبح كلبه وباع لحمه جاز، وكذا إذا ذبح حماراً وباع لحمه وهذا فصل اختلف المشايخ فيه بناءً على اختلافهم في طهارة هذا اللحم بعد الذبح واختيار الصدر الشهيد على طهارته .... ويجوز بيع لحوم السباع والحمر المذبوحة في الرواية الصحيحة، ولا يجوز بيع لحوم السباع الميتة كذا في محيط السرخسي . (الفتاوى الهندية:۳/ ۱۱۵).

په فتاوی شامی کې راځي:

قوله والسباع وكذا يجوز بيع لحمها بعد التذكية لإطعام كلب أو سنور بخلاف لحم الخنزير لأنه لا يجوز إطعامه محيط. (فتاوى شامى:۵/ ۲۲۶، سعيد).

حضرت حکیم الامت رحمه الله په بهشتي زېور کي ليکلي دي:

د هغو مړو سوو حيواناتو بيع روا ده چي پاک وي لکه دريابي حيوانات يا حشرات غير ذی دم يا وينه درلودونکی خو تر ذبحي وروسته ځکه چي تر ذبحي وروسته هر حيوان پاک ګرځي پرته له خنزير څخه. (بهشتی زیور، نوان حصه، ص ۱۰۳).

بل ځای کي ليکي:

پرته له خنزير څخه نور ټول حيوانان که د هغو غوښه حلاله وي او که نه وي، له باقاعده ذبحي څخه ټول حلاليږي يعنی د هغه ټول اجزاء، غوښه، چربي، پوست او نور ټول پاک سوه پرته له ويني يعنی دم مسفوح نتيجه يې دا ده چي د هغه هر رنګه خارجي استعمال روا دئ لکه پر سر تړل او داسي نور البته خوړل يې روا نه دي. (بهشتی زیور، نوان حصه، ص ۱۰۳).

علامه عينی رحمه الله او علامه اکمل الدين بابرتی رحمه الله د مخالف لوري د قول جوابونه ورکړي دي او د نور تفصيل له پاره وګورئ: (شرح العناية على الهداية بهامش فتح القدير مع الفتح: ۱/ ۹۵-۹۶، دار الفكر – والبناية فی شرح الهداية: ۱/ ۲۳۳ – وفتاوی شامی: ۱/ ۲۰۵، سعيد – ومجمع النهر شرح ملتقی الابحر: ۱/ ۶۱، تحت الماء المستعمل – وحاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ص ۱۶۹ – وخلاصة الفتاوی: ۱/ ۴۳، احكام الدباغة – والجوهرة النيرة: ۱/ ۱۷، ملتان – والفتاوی الو لو الجية: ۱/ ۴۶، الفصل الثانی، بيروت – وامداد الفتاح: ص ۱۷۰، بيروت).

دلته يوه بله خبره د يادولو وړ ده هغه دا چي مراد شرعي ذبحه ده او که په ذبحه د مجوسي سره هم پاک ګرځي يعنی دا ضروري ده چي د مسلمان په لاس حلاله سي پاکيږي او که د مجوسي او مسلمان د لاس په پاکوالی کي فرق نسته.

همدا ډول که په غير شرعي طريقه ذبح سي او بهېدونکي وينه په پوره ډول وبهېده نو ايا غوښه يې پاکه سوه او که نه؟ په دغه مسئله کي د فقهاوو دوه قوله دي او د دواړو تصحيح سوي ده څنګه چي مسئله په تجارتي کار وبار پوري اړه لري لهذا د بيع ګنجائش يې پيدا کيږي او د دې نظير سرطان (چنګابښ) چي غير ماکول دئ مګر بيع يې روا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوسری علامہ طحطاوی رحمۃ اللہ علیہ فرماتے ہیں:

قوله الشرعية، نقل في البحر من كتاب الطهارة عن الدراية والمجتبى والقنية أن ذبح المجوسي، وتارك التسمية عمداً يوجب الطهارة على الأصح وإن لم يؤكل، وأفاد في التنوير أن اشتراط الذكاة الشرعية هو الأظهر وان صحح المقابل. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۱۶۹، کتاب الطهارة، قدیمی).

علامہ عینی رحمۃ اللہ علیہ وایی:

وفی القنية: قال الكرابيسی والقاضی عبد الجبار: مجوسی ذبح حماراً قيل لايطهر والصحيح أنه يطهر. (البناية:۱/ ۲۳۳).

پہ درمختار کې راځي:

(وهل يشترط كون ذكاته شرعيةً) بأن تكون من الأهل في المحل بالتسمية (قيل نعم ، وقيل لا ، والأول أظهر) ؛ لأن ذبح المجوسي وتارك التسمية عمدًا كلا ذبحٍ (وإن صحح الثاني) صححه الزاهدي في القنية والمجتبى ، وأقره في البحر .وفی رد المحتار: قوله وأقره في البحر حيث ذكر أنه في المعراج نقل عن المجتبى والقنية تصحيح الثاني ، ثم قال: وصاحب القنية هو صاحب المجتبى ، وهو الإمام الزاهدي المشهور علمه وفقهه ، ويدل على أن هذا هو الأصح : أن صاحب النهاية ذكر هذا الشرط : أي كون الذكاة شرعيةً بصيغة قيل معزيا إلى الخانية. (الدر المختار مع رد المحتار:۱/ ۲۰۵، سعيد – وكذا فی حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۱۱۳، باب المياه، کوئته).

د پورتنۍ يادي سوي مسئلې څو نظائر لاندي ذکر کيږي:

۱ _ د شافعي پر متروک التسميه عمداً پر حلال کېدلو ځينو فقهاوو ليکلي دي چي پر ضائع کوونکي تاوان نسته مګر محققينو علماوو تاوان لازم ګڼلی دئ. (فتاوی دار العلوم ذکريا: ۴/ ۶۱۸-۶۲۰).

او تاوان د بيع په حکم کي دئ زموږ فقهاوو د کلب معلم له بيع څخه د هلاک د تاوان اخيستلو څخه استدلال کړی دئ.

وګورئ علامه بدر الدين العينی رحمة الله عليه فرمايي:

الكلاب التي ينتفع بها يجوز بيعها ويباح أثمانها..... ثم عندنا لا فرق بين المعلم وغير المعلم في رواية الأصل، فيجوز بيعه كيف ما كان، وروى عن أبي يوسف رحمة الله عليه أنه قال: لا يجوز بيع الكلب العقور، كما روى عن أبي حنيفة رحمة الله عليه فيه، ثم على أصلهم يجب قيمته على قاتله، واحتجوا بما روي عن عثمان ابن عفان رضي الله عنه أنه أغرم رجلاً ثمن كلب قتله عشرين بعيراً وبما، روي عن عمرو بن العاص رضي الله عنه أنه قضى في كلب صيد قتله رجل بأربعين درهماً، وقضى في كلب ماشية بكبش. (عمدة القاری:۸/ ۵۷۴، ملتان).

۲ _ د فقهاوو له عبارتو څخه معلوميږي چي مردار وسپي او پيشي ته نه سي راوړلای، البته سپی او پشي ور ايله کولای سي تر څو هغه يې خپله وخوري.

په البزازيه کي راځي:

قال فی الفتاوی البزازية: ولا يحمل الجيفة إلى الهرة ويحمل الهرة إلى الجيفة. (الفتاوی البزازية: ۴/ ۸۲).

Maktaba Tul Ishaat.com

په نفع المفتی کي راځي:

ثم إن كان لابد من سقي الخمر فرساً لايشر به بل يضع الخمر بين يديه ليشربه، كما أن لاينبغي أن يؤكل الميتة الكلب إلا بأن يضع الميتة بين يدي الكلب، فيأ كله بنفسه كما فى مطالب المؤمين. (نفع المفتى والسائل، باب مايتعلق بالحيوانات، ص ٤٧٢، بيروت).

په المحيط البرهانی کي راځي:

رجل له امرأة ذمية، أو أب ذمي ليس له أن يقوده إلى البيعة، وله أن يقوده من البيعة إلى منزله؛ لأن الذهاب إلى البيعة معصية وإلى المنزل لا، ولا يحمل الخمر إلى الخل ولكن يحمل الخل إليها، وكذلك لا يحمل الجيفة إلى الهرة ويحمل الهرة إلى الجيفة. (المحيط البرهانی: ٦/ ١٠٣، فصل فى معاملة اهل الذمة، كتاب الاستحسان، رشيدية).

مګر له ځينو فقهاوو له عباراتو څخه معلوميږي چي ناپاکي اوبه ځاروبو ته د څښلو له پاره ورکول کېدای سي.

په البحر الرائق کي راځي:

وفي الذخيرة: ولا بأس برش الماء النجس في الطريق ولا يسقى للبهائم وفي خزانة الفتاوى: لا بأس بأن يسقى الماء النجس للبقر والإبل والغنم. (البحر الرائق: ١/ ١٢٥، كوئته).

د ضرورت په وخت کي پر دوهم قول فتوی ورکول کېدای سي، اول پر خلاف الاولی حمل کيږي سره له دې چي دوهم قول مؤيد بالحديث هم دئ.

الف _ په بخاري شريف کي روايت راځي چي کله نبي کريم ﷺ د ثمود د قوم وسيمي ته ورسېدئ صحابه وو د هغو له ځاه څخه اوبه راوکښې او اوړه يې په لامده کړل نبي کريم ﷺ اوړه و ځاروبو ته ورکړل يعنی حکم يې وکړ هغه لامده اوړه دي حيوانانو ته ورکړل سي دا يې نه وفرمايل، چي دا اوړه په يو ليري ځای کي کښېږدئ او چي هغه خپله ورسي او وې خوري.

عن ابن عمر رضي الله عنهما أخبره أن الناس نزلوا مع رسول الله ﷺ أرض ثمود الحجر فاستقوا من بئرها واعتجنوا به، فأمرهم رسول الله ﷺ أن يهريقوا ما استقوا من بئرها، وأن يعلفوا الإبل العجين .... الخ. (رواه البخاري:۱/ ۴۷۸).

باء _ په يوه بل حديث شريف کي راځي، چي يوې ښځي نبي کريم ﷺ ته دوډۍ وکړه نبي کريم ﷺ هغه دعوت قبول کړ او ورغلئ خو کله چي يې په دوډۍ خوړلو پيل وکړ او د ګولي د ژوولو کوښښ يې وکړ هغه نه ژول کېده او بيا يې وفرمايل: دا غوښه د مالک له اجازې څخه پرته پخ سوې ده.

وروسته نو ښځي دا واقعه ذکر کړ چي د خپل همسايه له کور څخه مو د هغه له اجازې څخه پرته بزه راوسته او حلاله مو کړه، پيسې مو د هغه کور ته وروړي خو هغه په کور کي موجود نه وو نبي کريم ﷺ وفرمايل: «أطعميه الأساری» يعنی دا غوښه و فقيرانو ته ورکړئ. (رواه ابو داود:۲/ ۱۱۷، باب اجتناب الشبهات).

۳ _ همدارنګه د حرام مال په اړه فقهاء وايي، که چيري يې مالک معلوم نه وو صدقه دي کړل سي معلومه سوه چي په کوم مال کي چي خبث وي هغه مال و فقيرانو ته ورکول کېدای سي.

علامه شامي رحمه الله د رقمطراز دي:

لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد علی صاحبه. (فتاوی الشامی:۶/ ۳۸۵، سعيد). والله تعالی اعلم.

جواب: ۱ _ د غير شرعي مذبوح د پوست په اړه د علماء وو اختلاف دئ چي د هغه تفصيل د تر پورتني مسئلې لاندي تېر سو.

لنډه دا ده چي د اصح قول مطابق شرعي ذبحه ضروري نه ده بلکي علامه نقل کړې دي چي د شرعي ذبحي قيد له قيل څخه منقول دئ او د هغه ضعف خو واضح دئ نو ځکه په لوړه مسئله کي د مذبوحه غير مذبوغه پوستونو د تجارت ګنجائش سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

وقال الشيخ الشلبي رحمه الله في حاشية التبيين: وفي القنية قال الكرابيسي والقاضي عبد الجبار: مجوسي ذبح حمارًا قيل لا يطهر والصحيح أنه يطهر . (حاشية تبيين الحقائق:۱/ ۲٦، ط: ملتان).

علامه طحطاوي ليکي:

قوله وأقره في البحر، حيث ذكر أنه في المعراج نقل عن المجتبي والقنية تصحيح الثاني، ثم قال: وصاحب القنية هو صاحب المجتبي، وهو الإمام الزاهدي المشهور عمله وفقهه، ويدل على أنه هذا هو الأصح أن صاحب النهاية ذكر هذا الشرط أي كونه الذكاة شرعية بصيغة قيل معزياً إلى فتاوى قاضي خان. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار:۱/ ۱۱۳، باب المياه، كوئته – والدر المختار مع رد المحتار:۱/ ۲۰۵، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د مار له پوست څخه د جوړ سوي زين د تجارت حکم

سوال: د فقهاوو له عباراتو څخه معلوميږي چي د مار پوست په دباغت سره هم نه پاکيږي ځکه چي هغه د باغت متحمل نه دئ مګر که چيري په اوسني زمانه کي په د دواوو (Chemicals) پوخ کړل سي ايا دا پاک کړل سو؟ او له دې څخه د جوړ سوي شی پېر او پلور روا دئ او که نه؟همدارنګه استعمال يې روا دئ او که نه؟ د نوو دواوو په ذريعه د باغت طريقه دي ملاحظه کړل سي؟

د مار پوست په اوسني وخت کي په عام ډول د (saddle) زين په جوړولو کي استعماليږي د هغه طريقه دا ليکل سوې ده چي په هغه کي (chemicals) دوايي واچول سي او (tan) کړل سي يعنی هغه وچ کړل سي بيا په هغه کي نوره دوا واچول سي او نور نرم کړل سي چي په دې سره د پوست رطوبت ختم کړل سي وروسته که بيا په اوبو کي واچول سي نو د هغه رطوبت هيڅ اثر نه پاته کيږي يعنی رطوبات يې د دوا په ذريعه زائل کړل سي؟

الجواب: فقهاوو د مار د پوست د باغت په سبب د نه پخېدو په بيان کي علت دا بيان کړی دئ چي هغه د باغت متحمل نه دئ مګر که چيري د (chemicals) په ذريعه په نوې طريقه پوخ کړل سي (

د باغت يې وكړل سي) نو د حديث د عموم په سبب د پاكى حكم پر كيږي نو ځكه له دې څخه د جوړو سوو شيانو تجارت او استعمال روا دئ.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

« كل اهاب دبغ فقد طهر ».

په البحرالرائق كي راځي:

وقوله كل إهاب يتناول كل جلد يحتمل الدباغة. (البحر الرائق:۱/ ۹۹، كوئته).

په فتح القدير كي راځي:

وكل إهاب دبغ فقد طهر يتناول كل جلد يحتمل الدباغة لا مالا يحتمله. (فتح القدير:۱/ ۹۲، دار الفكر).

په قاموس الفقه كي مولانا خالد سيف الله ليكلي:

احنافو په عام ډول د مار، موږك او داسي نورو پوستكي ناقابل انتفاع مقرر كړي وي چي د هغو د باغت ممكن نه وي مګر څنګه چي په ننۍ زمان كي د حشرات الارض پوستونه هم پخول كيږي او په نورو الاتو سره ممكن ګرځېدلي دي، ښكاره خبره ده چي هغه تر باغت وروسته قابل د انتفاع وګرځېدئ لكه څنګه چي له امام محمد رحمه الله څخه منقول دي چي د مرداري بزې مثانه كه چيري د باغت كړل سي او د استعمال وړ وګرځيږي هغه پاكه ګرځي. (قاموس الفقه:۳/ ۴۰۵). والله تعالى اعلم.

له حرام كار وباري غير مسلم سره د تجارت حكم

سوال: يو شخص له يو غير مسلم (هندو يا عيسايي) سره معاملات او كار وبار كوي يا د هغه هديه قبله وي يا كله ناكله د هغه دعوت خوري او هغه غير مسلم داسي كار كوي چي مسلمانانو ته شرعاً روا نه وي مثلاً:

۱_ د فاسدي بيع مرتكب دئ، له خارج څخه شيان واريده وي او تر قبضې وړاندي يې پلوري.

۲_ شراب پلوري او د هغه ډېره لاسته راوړنه هغه څخه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com

۳_ د ذی روح یا ژوندی ژوی تصویر والا تانونه خرڅوي او دا یې ګټه ده.
۴_ دلاق دئ او خلکو ته په غیر شرعي ډول ورښتان ورجوړه وي او د خلکو بږیري ورلنډ وي.
۵_ په قمار لګیا دئ.
٦_ د ساز او سرود سامان خرڅوي همدارنګ پیتې یا کستونه خرڅوي.
اوس که چیري یو مسلمان پر دې غیری مسلم شی خرڅ کړي یا د هغه هدیه قبوله کړي دا روا ده او که نه؟ او داسي واقعات په غیر مسلم هیوادو کي ډېري واقع کیږي؟

الجواب: باسم الملهم الصواب:

هغه غیر مسلم چي د ده کمایي یا لاسته راوړنه یادو کړل سو معاملاتو څخه وي، له هغه سره د مسلمان صحیح معامله روا ده حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله د بیع قبل القبض په اړه لیکي:

که چیري خریدار کافر وو له هغه سره په داسي بیع کولو کي مضائقه نه سته. (امداد الاحکام:۳/ ۴۱۰)

بل ځای کي وایي: د کفارو له پاره د سروز د آلاتو په خرڅولو کي څه حرج نه سته. « وفی بیعه أی المزمار مع الکفار لم تقم الحرمة بالعین ولا بالفعل فإن الکفار لیسوا مخاطبین بحرمة الغناء ولا هو حرام فی الأدیان کلها. (امداد الحکام:۳/ ۳۸۴). والله تعالیٰ اعلم.

د عیب په سبب د مبیعي د بیرته ورکولو د خرچې حکم

سوال: زید پر عمر یو وزن دار ماشین وپلورئ او تر پلورلو وروسته په ماشین کي عیب پیدا سو د هغه عیب په سبب د ماشین د بیرته ورکولو ضرورت پیښ سو اوس د ماشین د بیرته ورکولو او انتقال خرچه پر عمر او که پر زید (پر بایع او که پر مشتري) باندي ده د مهربانی له مخي شرعي حکم راته بیان کړئ؟

الجواب: په پورتنی صورت کي که چیري مشتري پر مخکني عیب خبر پیدا کړی وو اوس یې بیرته ورکول غواړي نو د بېرته وروړلو خرچه پر مشتري لازمیږي.

په البحرالرائق کې راځي:

تنبیهات مهمة: الأول: وجد بالمبیع الذي له حمل ومؤنة عیبًا ورده فمؤنة الرد على المشتري. (البحر الرائق:٦/ ٣٧، کوئته).

په فتاوی بزازیه کې راځي:

وجد بالمبیع الذي له حمل ومؤنة عیباً ورده فمؤنة الرد على المشترى. (الفتاوى البزازیة على هامش الهندیة:٤/ ٤٤٧).

وفي المحیط البرهاني: وفي المنتقى: اشترى من آخر تمراً بالري وحمله إلى الكوفة ثم اطلع على عیب هناك فإن أراد أن یرده قال محمد رحمه الله: لیس له ذلك حتى یرده إلى ذلك الموضع علل فقال: لأن لحمله مؤنة . (المحیط البرهاني:٨/ ٣٠، فصل في العیوب، رشیدیة).

د محیط البرهانی له عباراتو څخه هم معلومیږي چې و بایع ته بیرته د مبیعې رسول چې د مشتري ذمه سوه لهذا د وړلو خرچه هم پر مشتري لازمه ده.والله تعالیٰ اعلم.

د دوهم مشتري څخه د ټول قیمت د غوښتلو حکم

سوال: دوو کسانو یو ماشین واخیستئ او د هغه ثمن تریوې میاشتې مؤجل دي (د یوې میاشتې په پوره یې واخیستئ) یو له دوی دوو څخه غائب سو او ولاړئ اوس د پور د اداء کېدو نېټه پوره. سوه بایع د ټول ثمن غوښتنه کوي اوس دوهم مشتري ماشین څه ډول وصول کړي؟

الجواب: په پورتنی صورت کې چې بایع د پور ثمن د ترلاسه کېدو پرته په ماشین ورکولو راضي نه دئ نو مشتري ته ښایي چې پوره قیمت اداء کړي او پر ماشین قبضه وکړي بیا چې څه وخت اول مشتري حاضر سو نصف قیمت دي ورڅخه وصول کړي او د هغه حصه دي ور وسپاري.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په درالمختار کي راځي:

وإن اشترى اثنان شيئًا وغاب واحد منهما فللحاضر دفع كل ثمنه ويجبر البائع على قبول الكل ودفع الكل للحاضر و له قبضه وحبسه عن شريكه إذا حضر حتى ينقد شريكه الثمن . بخلاف أحد المستأجرين . (الدر المختار:٥/ ٢٣١، سعيد).

په تبيين الحقائق كي راځي:

ولو غاب أحد المشتريكين للحاضر دفع كل الثمن وقبضه وحبسه حتى ينقد شريكه يعني إذا اشترى رجلان شيئًا فغاب أحدهما قبل القبض يكون للحاضر دفع كل الثمن وقبضه كله، ثم إذا حضر شريكه فله أن يحبسه عنه حتى ينقده . (تبيين الحقائق:٤/ ١٢٩، ملتان).

همدا ډول وګورئ: (شرح العناية:٧/ ١٢٧ – والبحر الرائق:٦/ ١٧٠ – وفتح القدير:٧/ ١٢٧ – والبناية:٣/ ٢١١). والله ﷻ اعلم.

له غیر مسلم سره په بیع کي د فاسد شرط د لګېدو سره د بیع حکم

سوال: یو کس د کوچنیانو د مدرسې له پاره ګرجه (د غیر مسلمو عبادت ځای رانیوي) او پر هغه ځیني شرایط لګول سوي دي مثلاً یو شرط دا لګول سوی دئ، چي په دې ګرجه کي دننه چي کومي تبدیلی کول په کار دي هغه کېدای سي مګر د باندي له طرفه چي کوم شکل او ډیزاین دئ پر هغه حالت باید پاته سي ځکه چي دا ډېره پخوانی ګرجه یا مندر دئ له دې وجه چي دا له قدیمه اثاروو څخه شمېرل کیږي لهذا پر خپل حال پرېښودل یې ښه خبره ده همدارنګه دا شرط لګول سوی دئ چي د ګرج یا مندر په احاطه کي د هغه دبانی قبر دئ او کولای سي چي پر هغه شا وخوا میانه قده دېوال را وګرځوي تر څو دننه طرف شی په نظر رانه سي، د دې ګرجې د اهمیت په سبب خریدار دا ټول شرطونه قبول کړل او د ده لوی هدف دا وو چي دا بیت الکفر په بیت الاسلام سره بدل کړي. د کلیسا اهمیت او د ځینو مسیحي ډلو ټپلو جماعتو د اعتراض په سبب دا معامله د رسنیو سرخي

وګرځېده او یو مفتي صاحب پر دې فتوی صادره کړه چي دا معامله د فاسدو شرایطو په سبب فاسد ده او واجب الرد ده په دې مسئله کي ستاسو د دار الافتاء مسئله څنګه ده؟

الجواب: د شریعت مطهره قانون دا دئ چي د فاسدو شرایطو په سبب بیع فاسده ګرځي مګر دا قانون د مسلمانانو په خپل منځ کي د معاملاتو متعلق مسئله ده که چیري له غیر مسلم سره عقد سوی وي نو د فاسد شرط په سبب عقد فاسد نه ګرځي.

حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی رحمة الله علیه په امدا الاحکام کي د بیع قبل القبض په اړه د استفتاء په جواب کي لیکي:

بیع قبل القبض روا نه ده ځکه چي د بیع د معدوم یا بیع مالم یقبض ده او دا دواړي فاسدي دي. البته که خریدار کافر وو بیا په داسي بیع کي مشکل نه سته خو له مسلمان سره دي داسي معامله نه کیږي.

په بل ځای کي فرمایي:

د کفارو له پاره د سروز د آلاتو په خرڅولو کي هیڅ حرج نسته: وفي بيعه أي المزمار مع الكفار لم تقم الحرمة بالعين ولا بالفعل فإن الكفار ليسوا مخاطبين بحرمة الغناء ولا هو حرام فى الأديان كلها. (امداد الحكام:٣/ ٣٨٤). والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com



قال الله تعالى

﴿ وابتغوا من فضل الله ﴾. (سورة الجمعة، الآية: ۱۰).

وقال الله تعالى عزوجل:

﴿ ليس عليكم جناح أن تبتغوا فضلًا من ربكم ﴾. (سورة البقرة الآية: ۱۹۸).

باب .... څلورم

د مرابحې او بانک په اړه د احکامو بیان

اول .... فصل

د اسلامي بانک د مرابحې احکام

د اسلامي بانک پر عقد مرابحه اشکال او جواب

سوال: زموږ په ښار کي غیر سودي بانک دئ او د مرابحې پر طریقه کار کوي چي د هغه څه صورتونه په لاندي ډول دي:

زید د سامان ضرورت لري مګر د هغه سره د سامان قیمت نه سته نو بانک ته يې درخواست وړاندي کړئ چي زما سره دي د مرابحې معامله وکړل سي، بانک تر تحقیقانو وروسته د ایګریمینټ کاغذ ورکوي طریقه يې دا ده چي زید ویوه دوکان یا کار خانې ته ځي او غوښتل سوي سامان د بانک د کوم وکیل یا زید په خپله دیوه لک روپو په اندازه سامان اخلی بیا دغه سامان زید له بانک څخه په یوه لک دېرش زره مؤجل قیمت رانیسي ایا دا روا دئ او که نه؟

ځینو علماء پر دې اشکالات کوي چي له هغو څخه دوه د پاملرني وړ دي:

۱_ که چیري دا سامان د بانک وکیل د بانک له پاره رانیسي کومه د اعتراض وړ خبره نه ده مګر که زید په خپله د بانک وکیل بالشراء جوړیږي او د بانک له پاره سامان رانیسي بیا په خپله دوهم ځل

خریدار ګرځي نو د هغه لوړي قبضه د وکیل او امین په حیث ده او هغه قبضه د امانت ده او دوهمه قبضه چي هغه د ده د ځان قبضه ده دا قبضه د ضمان یا قبض معاوضه ده او قبض امانت چي مخکنی قبض دئ د قبض معاوضه چي قبض لاحق دئ قائم مقام نه سي کېدای.

۲_ اشکال دا دئ چي که چیري زید خپله وکیل بالشراء هم دي او ځان یې وکیل بالبیع جوړ کئ او بیا مشتري هم وګرځېدئ نو دا یو کس بایع او مشتري وګرځېدئ او حال دا چي د فقهاوو په کلام کي دا منع دئ.

یا دي داسي وویل سي چي زید اصیل هم دئ (مشتري او وکیل هم دئ) یعنی وکیل بالبیع یا په نورو الفاظو زید مطالب ثمن او مطلوب بالثمن هم دي دا دواړه حیثیتونه څنګه جمع کېدای سي؟

وګورئ علامه شامی رحمة الله علیه لیکي:

وفيه الوكيل بالبيع لا يملك شراءه لنفسه ؛ لأن الواحد لا يكون مشتريًا وبائعًا فيبيعه من غيره ثم يشتريه منه. (فتاوى الشامي:۵/ ۵۲۱، سعيد).

الجواب: ۱_ په پورتنی صورت کي قبض امانت قائم المقام د قبض ضمان نه سي ګرځېدای ځکه قبض امانت ضعف او کمزوری دئ او قبض ضمان قوی او مضبوط دئ او ضعیف او کمزورئ د قوی او مضبوط قائم مقام نه سي کېدای، البته په قبض امانت کي په تصرف کولو سره په خپله قبض ضمان جوړېږي او د هلاکت په صورت کي مشتري د تاوان ذمداره ګرځي.

لنډه دا ده چي د تصرف په صورت کي قبض امانت په خپل قبض ضمان وګرځېدئ که چیري قبض امانت قبض ضمان نه ګرځېدای نو د هلاکېدو په صورت کي به پر بانک چي بایع دئ تاوان راتلئ مګر د انتقال یا د تصرف کولو په صورت کي پر مشتري تاوان راځي یعنی د قبض امانت د قبض ضمان د نه قائم المقام کېدو مسئلې تعلق پر ضمان باندي دئ چي د هلاکت په صورت کي ضمان پر کوم یوه راځي دا کوم د حلال حرام مسئله نه ده البته که مشتري له بانک سره ایګریمنټ وکي یا په زباني ډول ورته ووایي چي که زما تر تصرف وړاندي هلاک سو نو بانک ذمدار ګرځي.

په القواعد الفقهیه کي راځي:

Maktaba Tul Ishaat.com

بخلاف ما لو باع الأمانة ممن هي عنده فإنه لا ينوب قبض الأمانة عن قبض البيع لأن قبض البيع قبض ضمان وقبض الأمانة دونه فلا ينوب عنه بل لا بد من تجديد القبض بأن يخلي بين نفسه وبين الأمانة المبيعة بعد العقد. (شرح القواعد الفقهية للشيخ احمد بن الشيخ محمد الزرقا، ص ٣٠١).

په هدايه کي راځي:

وإن كان له مال في يد أجنبي فأنفق عليهما بغير إذن القاضي ضمن لأنه تصرف في مال الغير بغير ولاية لأنه نائب في الحفظ لا غير، بخلاف ما إذا أمره القاضي لأن أمره ملزم لعموم ولايته، وإذا ضمن لا يرجع على القابض لأنه ملكه بالضمان فظهر أنه كان متبرعاً به. (الهداية:٢/ ٤٤٨، باب النفقة).

په جديد فقهی مباحث نومي کتاب کي راځي:

لومړی قبضه کوم چي وکالت دئ دامانت حيثيت لري او دوهمه قبضه په خپل حساب کي او قبضه د ضمان ده او داسي دوهمه قبضه په هغه ځای کي داعتبار وړ گرځي په کوم ځای کي چي اوله قبضه هم له هغه قسمه څخه وي لکه چي يو شخص مال غصب کړ او کښېښنوئ نو قبضه د ضمان خو راغله مگر د دې تصريح موجوده ده چي د امانتي قبضي په صورت کي د بيع تر معاملي وروسته چي سړی دې مال ته ځان رسوي يا په هغه کي مالکانه تصرف کوي نو اوس پر دغه سامان د ده د خپل حساب قبضه گرځي.

او هغه مسئله چي موجب د اشکال ده د هغې اصل دا راوځي چي که چيري اولنی قبضه امانتي وه نو له نفس بيع څخه هغه قبضه په خپله ضمانتي قبضه سره نه سي بدلېدای او که اولنی قبضه هم ضمانتي وي نو بيا په نفس بيع سره خپله قبضه گرځي. (جديد فقهی مباحث:٣/ ٤٢٧-٤٢٨، بحواله البحر الرائق:٦/ ٨٦ – و درالمحتار:٤/ ١١٢).

په قبض امانت کي تصرف کول قبضه ضمان جوړیږي یعنی قبض امان په تصرف سره قبضي ضمان ګرځي.

وګورئ په مسبوط کي راځي:

ثم الخلط أنواع ثلاثة خلط يتعذر التميز بعده كخلط الشيء بجنسه فهذا موجب للضمان لأنه يتعذر به على المالك الوصول إلى عين ملكه ....وخلط يتعسر معه التميز كخلط الحنطة بالشعير فهو موجب للضمان لأنه يتعذر على المالك الوصول إلى عين ملكه إلا بحرج .... وإذا كان عند الرجل وديعة دراهم أو دنانير ، أو شيء من المكيل ، أو الموزون فأنفق طائفةً منهما في حاجته : كان ضامنًا لما أنفق .... فإن جاء بمثل ما أنفق ، فخلطه بالباقي ، صار ضامنًا لجميعها ؛ لأن ما أنفق صار دينًا في ذمته ، وهو لا ينفرد بقضاء الدين بغير محضرٍ من صاحبه ، فيكون فعله هذا خلطًا لما بقي بملك نفسه ، وذلك موجب للضمان عليه .(المبسوط للامام السرخسی:۱۱/ ۱۱۰-۱۱۱، كتاب الوديعة، ادارة القرآن).

په تالیفات رشیدیه نومي کتاب کي راځي:

امین ته په امانت کي تصرف کول درست نه دي که چیري تصرف کوي ضامن جوړیږي همدارنګه مودع که د ودیعت پر سپرلی سپور سو او د سپرتیا په حالت کي هلاک سو نو پر مودع تاوان راځي.

علامه عینی رحمة الله علیه فرمایي:

لأن الضمان وجب عليه بنفس الركوب حتى لو هلک في حالة الاستعمال يضمن بلا خلاف. (حاشية هداية:۳/ ۲۷۲).

معلومه سوه چي د ودیعت پر حیوان سپرلی کول یا د ودیعت کالي اخیستل سره د قبض امانت قبض ضمان ګرځي نو ځکه فقهاء اعارة الدراهم للانفاق ته قرض ویلي په دې سبب چي په

Maktaba Tul Ishaat.com

خواست له يو چا څخه دراهم را ورل سي او خرڅ كړل سي په خپله قرض ګرځي يعني دهغه پر ذمه قرض سو.

حضرت تهانوى رحمة الله عليه وايي:

په اجازه سره د امانت مصرفول قرض ګرځي كه څه هم دهغه قصد نه وي. (امداد الفتاوي:٣/ ١٤٥).

همدارنګه په دوهم ځاى كي وايي:

او په بانكو كي چي كومي پيسې جمع كيږي ګواكي دهغو عنوان و دويعت دئ مګر په دې قواعدو كي دا امريقيني او منل سوي دئ چي هلته ودايع نه اېښودل كيږي بلكي په هغو سره كار كول كيږي نو په دې قاعده سره چي ((المعروف كا لمشروط)) دا تصرف د مودع په كسر الدال له طرفه څخه ماذون سوى دئ او د تصرف كول اذن اقراض دئ يعنى د امانت وركونكى د طرفه د تصرف اجازه وركول دا قرض ګرځي. (امداد الفتاوى:٢/ ٥٧١، كتاب الوقف).

وللاستزادة انظر: فتاوى الشامى:٥/ ٦٦٨ – ٦٧٠، كتاب الايداع، سعيد – وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:٣/ ٣٧٩، كوئته).

اشكال او جواب:

اشكال: پر دې مسئله دا اشكال كيږي چي په امانت كي تصرف كول ګناه ده بيا د تصرف كولو څنګه اجازه كېداى سي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي په تصرف كولو سره مالك خوښ او راضي دئ لهذا په دې كي ګناه نه سته.

٢_ اشكال جواب دا دئ چي علامه شامي يو قول دا هم ذكر كړى چي د مؤكل په حكم سره وكيل كولاى سي خپل ځان ته يو شى واخلي يعنى بايع او مشتري چي دواړه په يوه وخت كي جوړ سي دا روا ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وإن أمره الموكل أن يبيعه من نفسه وأولاده الصغر أو ممن لا تقبل شهادته فباع منهم جاز بزازية كذا في البحر، ولا يخفى ما بينهما من المخالفة، وذكر مثل ما في السراج في النهاية عن المبسوط، ومثل ما في البزازية في الذخيرة عن الطحاوي، وكأن في المسألة قولين خلافاً لمن ادعى أنه لا مخالفة بينهما. (فتاوى الشامى:۵/ ۵۲۲، سعيد – وكذا فى البحر الرائق:۷/ ۱۶۷، كوئته).

د خلکو له سودې کار وبار څخه د ځان ساتلو په خاطر د علامه پر دې قول فتوی ورکول کېدای سي، البته که بانک کوم بل شخص وکیل بالبیع وټاکي نو نور علی نور دئ.

لنډه دا چي که د مشتري تر تصرف وړاندي مبیعه هلاک سوه نو بانک د هغه ذمدار دئ او که د مشتري تر تصرف وروسته مبیعه هلاک سوه نو مشتري ذمدار دئ او تاوان پر مشتري دئ. والله تعالی اعلم.

د بانک د مرابحې پر عقد دوهم اشکال او د حیلې حکم

سوال: د بانک په ذریعه د مرابحې بیع اصل مقصد او خلاصه خو دا ده چي بانک و زید ته یو لک نغدي روپۍ ورکړې او یو لک پنځوس زره لاس ته ورڅخه راوړي چي ښکاره سود دئ د دې د جواز له پاره د مرابحې په نامه په اخیستلو سره تر کومه ځایه جواز پیدا کولای سي؟

الجواب: د مشتري چي زید دئ مقصد یې قرض اخیستل نه دي بلکي د هغه و یوه ماشین ته ضرورت دئ مګر له هغه سره دومره رقم موجود نه دئ نو اوس د ماشین د حاصلولو له پاره دوې طریقې دي یوه دا چي هغه قرض واخلي او زیات رقم اداء کي او د قرض په رقم سره ماشین واخلي دا خو صریح سود دئ. دوهمه طریقه یې دا ده چي هغه د بانک په ذریعه ماشین د مرابحې په ډول واخلي چي دا دوهمه طریق سود نه دئ بلکي له سود څخه د ځان ساتلو تدبیر دئ او په معاملاتو کي خپله نبي کریم ﷺ داسي تدبیرونه ور زده کړي او ورښوولي. هغه واقعه ټولو ته معلومه ده چي یوه صحابي دوې تالۍ ادنی خرما په یوه کاسه اعلی خرما سره رانیوله او نبي کریم ﷺ دا سود وبلئ یعني

Maktaba Tul Ishaat.com

سودي سودا يې وبلله او امر يې وکړ چې رد دي کړل سي او د تدبير ښوونه يې وکړه چې دوې صاع خرما په دراهمو خرڅه کړه او څومره دراهمونه چې پر مشتري لازم سوه په هغه دراهمو دي له مشتري څخه عمده خرما واخيستل سي چې د دواړو عقدو خلاصه يوه ده مگر په دغه تدبير سره معامله روا سوه.

د حيلو ډولونه او د هغو حکم:

هره حيله ناروا نه ده بلکي هغه حيله ناروا ده چې د هغې مقصد د يو شرعي حکم ماتول يا د يو چا مال په دې حيله سره تر لاسه کول وي که يو شخص د زکوة د حکم باطلولو له پاره د کال تر گرځېدلو لږ وړاندي خپلي ښځي ته هبه کړي او بيا ښځه د کال تر گرځېدلو مخکي د دې حکم د باطله ولو له پاره وخپل خاوند ته هبه کړي نو د دې تدبير مقصد د شرعي حکم باطلول دي او د فقراوو پر حق چاړه کشلول دي نو دا حيله ناروا ده يا لکه څنگه چې بنی اسرائيل د شنبې په ورځ د ماهيانو له ښکار څخه منعه سوي وه. د دې حکم مقصد يوم السبت د ښکار له پاره ذريعه نه گرځول وو مگر هغو د شنبې په ورځ ماهيان په مختلفو حوضو کي جمع کول او د واپسی لاره به يې بندوله او په يکشنبه به يې ښکار کول دا د ښکار کولو د جواز حيله وه مگر دا د شرعي حکم د باطلولو مترادف وه ولي په دې کي يوم السبت د ښکار ذريعه وگرځېده بلکي د ځيني حضراتو په نزد د اوبو له بندولو څخه هم منعه کړل سوي وه يا لکه يو شخص چې بل شخص په لاس سره د يو چا د وهلو منع وکړي خو هغه يې په لاس خو ونه وهي مگر په لغتو يې وهي ظاهره خبره ده چې مقصد فوت سو يا پر يهودو واز گه حرامه سوې وه لکه څنگه چې په صحيح البخاري کي ذکر سوي دي نو دوی به وريلي کول او بيا به يې خرڅوله څنگه چې په وريلي کېدو سره د شی حقيقت نه بدليږي بلکي هغه واز گه ده لهذا دا حيله ممنوع او ناروا ده، البته په هغه حيله کي څه حرج نه سته چې په هغه کي د چا له حرامو څخه ساتنه مقصد وي لکه په مبسوط سرخسي کي چې راځي:

« فالحاصل : أن ما يتخلص به الرجل من الحرام أو يتوصل به إلى الحلال من الحيل فهو حسن » . (المبسوط للامام السرخسی: ۳۰/ ۲۰۹).

همدارنګه د صاع حيله هم په حديث شريف كي ور زده كړل سوې ده لكه د شيخينو په روايت كي چي ثابت دي، همدارنګه هغه حيله هم ناروا نه ده چي په هغه كي ديوه بې ګناه شخص ساتنه مقصد وي لكه چي د مفسرينو په قول د حضرت ايوب عليه السلام واقعه چي ښځي د وهلو له پاره د دورو پر ځاى جاور استعمال سو د دې له پاره چي قسم پوره كړل سي يا د چا له مرګ څخه د ساتلو په خاطر حيله وكړل سي منعه نه ده لكه د هغه شخص واقعه چي زنا ور څخه كړل سوې وه خو دېر كمزوري وو د درو برداشت يې كولاى نه سواى لهذا هغه د غمچينو په يوه دسته سره ووهل سو چي له مرګ څخه وساتل سي. والله تعالى اعلم.

په مرابحه كي د مياشتي د نفعي د تعين حكم

سوال: زيد له عمر څخه يو ماشين په زر روپۍ واخستئ او عمر داسي خرڅ كئ چي اصل قيمت زر روپۍ دئ البته زيد په قسطو سره ثمن اداء كوي لهذا له زيد څخه د مياشتي دوو سوه مياشتانه اخيستل كيږي مثلاً د حمل له اخير څخه تر سنبلي پوري پنځه مياشتي پوره كيږي او د دې مياشتو اقساط دوه زره جوړيږي نو په دوه زره مؤجل قيمت سره د ماشين له خرڅولو سره دا هم ويل سوي دي چي كه مشتري دوې مياشتي وروسته پوره قيمت اداء كي نو د ماشين قيمت څوارلس سوه كيږي ايا دا صورت روا دئ او كه نه؟

الجواب: دا عقد په حقيقت كي د مرابحې عقد دئ او په مرابحه بيع كي دا روا ده چي په هر مياشت كي دوه سوه نفع واخيستل سي لهذا كه پنځه مياشتي وروسته اداء كړل سي نو پوره دوه زره جوړيږي او كه دوې مياشتي وروسته اداء كړي او يا د مشتري انتقال وسو نو څوارلس سوه جوړي سوي، كه څيري بيع مرابحه وه په هغه كي چي بايع د وخت په مقابل كي په ثمن كي څومره زيادت كوي هغه دي صراحةً بيان كړي . د دې په اړه د متاخرينو علماوو فتوى دا ده چي په دې صورت كي كه مديون تر ټاكلي نېټې وړاندي خپل پور اداء كي يا تر ټاكلي نېټې وړاندي د هغه انتقال وسي نو په دې صورت كي به بايع صرف دومره پيسې وصول كوي څومره چي د تېري سو ورځو په مقابل كي كيږي او تر ټاكلي نېټې چي څومره ورځي پاته دي د هغو ورځو د مقابل ثمن پرېښوول كيږي. شايد د متاخرينو احنافو د دې فتوى بنياد پر دې خبره وي چي وخت اګر چي مستقل ډول صلاحيت د عوض نه لري مګر ضمناً او تبعاً د هغه په مقابل كي څه ثمن مقرر كول روا دي مثلاً لكه د غوا په نس كي د

Maktaba Tul Ishaat.com

ګيلګي مستقل صورت رانيول روا نه دي مګر د دې حمل په سبب د دې غوا په قيمت کي اضافه کول روا دي همدارنګه د ډېرو شيانو بيع مستقله روا نه ده مګر ځيني وختونه د هغه عوض اخيستل روا دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

قضى المديون الدين المؤجل قبل الحلول أو مات فحل بموته فأخذ من تركته لا يأخذ من المرابحة التي جرت بينهما إلا بقدر ما مضى من الأيام، وهو جواب المتأخرين، قنية، وبه أفتى المرحوم أبو السعود أفندي مفتي الروم، وعلله بالرفق للجانبين. وفي الشامية: قوله لا يأخذ من المرابحة، صورته اشترى شيئًا بعشرةٍ نقدًا وباعه لآخر بعشرين إلى أجلٍ هو عشرة أشهرٍ ، فإذا قضاه بعد تمام خمسةٍ أو مات بعدها يأخذ خمسةً ، ويترك خمسةً، أقول : والظاهر أن مثله ما لو أقرضه وباعه سلعةً بثمنٍ معلومٍ وأجل ذلك ، فيحسب له من ثمن السلعة بقدر ما مضى فقط تأمل . (الدر المختار مع الفتاوى الشامى:٦/ ٧٥٧، قبيل كتاب الفرائض، سعيد).

په فتاوى شامي کي راځي:

(قوله وعلله) علله الحانوتي بالتباعد عن شبهة الربا ، لأنها في باب الربا ملحقة بالحقيقة، ووجه أن الربح في مقابلة الأجل ، لأن الأجل وإن لم يكن مالًا ، ولا يقابله شيء من الثمن لكن اعتبروه مالًا في المرابحة إذا ذكر الأجل بمقابلة زيادة الثمن ، فلو أخذ كل الثمن قبل الحلول كان أخذه بلا عوضٍ . (فتاوى الشامى:٦/ ٧٥٧، قبيل كتاب الفرائض، سعيد).

وللاستزادة انظر: (فتح القدير:٦/ ١٣٣، باب المرابحة والتولية، دار الفكر – والبحر الرائق:٦/ ١٤٤، باب المرابحة والتولية، كوئتة – والطحطاوى على الدر المختار:٤/ ٣٦٣، كوئته). والله ﷻ اعلم.

پر مروجه او اوسني اسلامي بنکارۍ اشکال او د هغه جواب

سوال: ځيني حضرات د بانک پر لاندي ثبت معاملاتو اعتراض کوي؟

يو شخص يو موټر رانيول غواړي خو له هغه سره پوره رقم موجود نه دئ مګر غير سودي بانک خپله موټر اخلي او بيا يې مشتري ته تر ډېره وخته مثلاً تر درې کالو پوري په کرايه ورکوي او د کرايې د تعين کولو په وخت کي دا خبره په نظر کي ساتي چي کرايه دار د درو کالو په مده کي خپل مصرف سره له څه ګټې لاس ته راوړي او وروسته هغه د کرايې موټر کرايه دار په ډېر کم قيمت يا په تحفه کي مستاجر ته ورکوي؟

ځيني حضرات پر دې څه اعتراضات کوي، له هغو څخه يو دا دئ چي تر اجازې وروسته موټر مستاجر ته هبه کوي يا يې پر خرڅوي لهذا دا صفقة فی صفقة دئ او په حديث شريف کي د دې ممانعت راغلی دئ. نو ځکه دا معامله روا نه ده؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي د عرف او رواج په سبب د صفقة فی صفقة د عقد ګنجائش له منځ تللی دئ او د خلکو د عرف او تعامل له کبله عقد نه فاسدېږي ځکه تعامل په اجماع پوري محلق دئ.

دوهمه وجه دا ده چي په کاغذاتو کي دواړه جلا جلا عقدونه دي په دې سبب هم روا ده.

د ((صفقة فی صفقة)) مختلف تعريفونه:

قال الامام الترمذي رحمة الله عليه: وقد فسر بعض أهل العلم قالوا: بيعتين في بيعة:

١ ــ أن يقول أبيعك هذا الثوب بنقد بعشرة وبنسيئة بعشرين، ولا يفارقه على أحد البيعين، فإذا فارقه على أحدهما، فلا بأس، إذا كانت العقدة على أحد منهما، قال الشافعي رحمة الله عليه: ومن معنى نهي النبي ﷺ عن بيعتين في بيعة:

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ـ أن يقول: أبيعك داري هذه بكذا، على أن تبيعني غلامك بكذا، فإذا وجب لي غلامك وجب لك داري، وهذا يفارق عن بيع بغير ثمن معلوم، ولا يدري كل واحد منهما على ما وقعت عليه صفقته. (ترمذی شریف:۱/ ۲۳۳، باب ماجاء فی النهی عن بیعتین فی بیعة).

وفي تحفة الأحوذي: قال: واعلم أنه قد فسر البيعتان في بيعةٍ بتفسيرٍ آخر وهو:

۳ـ أن يسلفه دينارًا في قفيز حنطةٍ إلى شهرٍ فلما حل الأجل وطالبه بالحنطة قال: بعني القفيز الذي لك علي إلى شهرين بقفيزين، فصار ذلك بيعتين في بيعةٍ؛ لأن البيع الثاني قد دخل على الأول فيرد إليه أوكسهما وهو الأول، كذا في شرح السنن لابن رسلان؛ فقد فسر حديث أبي هريرة رضي الله عنه المذكور، بلفظ: نهى رسول الله ﷺ عن بيعتين في بيعةٍ، بثلاثة تفاسير فاحفظها. (تحفة الاحوذی:۳/ ۳۲۶).

وللاستزادة انظر: (بذل المجهود فی حل ابی داؤد:۱۵/ ۱۳۵، باب فیمن باع بیعتین فی بیعة – وبداية المجتهد فی نهاية المقتصد:۲/ ۱۱۵، الفصل الثالث، فی الفرق بین مایباع من العطام مکیلاً وجزافاً).

مولانا اعجاز احمد صمداني د بيعتان فی بيعة او صفقتان فی صفقة په اره بېل بېل بيان کړی دئ او دواړو په منځ کې يې د عموم او خصوص فرق واضح کړی دئ . د نور تفصيل له پاره د غرر صورتونه وګورئ. (غرر کی صورتیں، ۶۵-۱۲۹).

وګورئ حکيم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمايي:

« قال في نور الأنوار: وتعامل الناس ملحق بالإجماع وفيه ثم إجماع من بعدهم أى بعد الصحابة رضي الله عنهم من أهل كل عصر».

له دې څخه معلومه سوه چې تعامل هم لکه اجماع په کوم خاصه زمانه پورې خاص نه دئ، البته هغه شی چې د اجماع رکن دئ د هغه وجود په دې کې هم ضروري دئ يعنی د دې وخت علماء دې پر دې نيوکه نه کوي، همدارنګه فقهاوو د ډېرو نوو جزئياتو پر جواز د تعامل دليل بيانوي:

كما فى الهداية: في البيع الفاسد: ومن اشترى نعلاً على أن يحذوه البائع قوله يجوز للتعامل فيه فصار كصبغ الثوب للتعامل جوزنا الاستصناع وفيها فى السلم أن استصنع الى قوله للإجماع الثابت بالتعامل. (فقه حنفى كى اصول وضوابط:ص ١٦١، بحواله امداد الفتاوى:٤/ ٢٦٥).

قال فى الكفاية: وجه الاستحسان أن فيه عرفاً ظاهراً وفى النزوع عن العادة حرج بين فصار كصبغ الثوب لأن القياس أن لايجوز لأن الإجارة بيع المنافع والصبغ عين وجوزناها للتعامل وكالاستصناع فإن بيع المعدوم لايجوز وإنما جوزناه للتعامل. (الكفاية شرح الهداية على هامش فتح القدير:٦/ ٨٥، رشيدية).

وقال في العناية: ووجهه ما بيناه أنه شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لأحد المتعاقدين وفي الاستحسان : يجوز للتعامل ، والتعامل قاضٍ على القياس لكونه إجماعًا فعليا كصبغ الثوب. (العناية فى شرح الهداية على هامش فتح القدير:٦/ ٨٥، رشيدية).

وقال في فتح القدير: قوله وفي الاستحسان : يجوز البيع ويلزم الشرط للتعامل كذلك ، ومثله في ديارنا شراء القبقاب على هذا الوجه : أي على أن يسمر له سيرًا .... ومثله إجارة الظئر مع لزوم استهلاك اللبن جاز للتعامل .... قوله وللتعامل جوزنا الاستصناع مع أنه بيع المعدوم ومن أنواعه شراء الصوف المنسوج على ان يجعله البائع قلنسوه بشرط أن يبطن لها البائع بطانه من عنده .... وفى المنتقي ..... قال لو اشترى على أن يهب له ديناراً من الثمن جاو وهو

Maktaba Tul Ishaat.com

حسن لأن حاصل هذا حطيطه مشترطه ومآلها إلى الشراء بالثمن الانقص ولو باع رقبه الطريق على أن له حق المرور أو السفل على أن له قرار العلو جاز . (فتح القدير:٦/ ٨٥، رشيدية – وكذا في شرح المجلة:٢/ ٦٤ – ٧٠ المادة ١٨٨-١٨٩).

۲_ كه چيري تر صلاح اثمار وروسته درختي وپلورل سي په دې صورت كي د مېوو په درختو كي د پرېښودلو په اړه امام محمد رحمه الله وايي، چي په درختو كي د مېوو پرېښودل روا دئ او د دې دليل عرف عادت او استحسان دئ.

وكذا إذا تناهى عظمها عند أبى حنيفة رحمه الله وأبى يوسف رحمه الله لما قلنا واستحسنه محمد رحمه الله للعادة. (الهداية:٣/ ٢٦).

او د تعامل په سبب د امام محمد رحمه الله پر قول فتوى ده:

القول الراجح هو قول محمد رحمه الله قال العلامة ابن الهمام يجوز عند محمد رحمه الله استحساناً وهو قول الائمة الثلاثة واختار الطحاوي رحمه الله لعموم البلوى. وقال العلامة الحصكفي: وبه يفتى، بحر عن الأسرار.... وقال العلامة ابن نجيم وفي الأسرار: الفتوى على قول محمد رحمه الله وبه أخذ الطحاوى رحمه الله... قال أستاذنا المفتي غلام قادر النعماني: والعرف في زماننا يقتضى ترجيح قول محمد رحمه الله. (القوال الرجح:٢/ ٩).

۳_ په بيع كي د كفالت شرط د ملائم والي او مناسب والي په سبب د هدايې مصنف جواز وركړى دئ.

قال في الهداية: ومن باع داراً وكفل رجل عنه بالدرك فهو تسليم لأن الكفالة لو كانت مشروطة في البيع فتمامه بقبوله ثم بالدعوى يسعى في نقض ما تم من جهته وإن لم تكن

مشروطة فيه فالمراد بها أحكام البيع وترغيب المشتري فيه إذ لا يرغب فيه دون الكفالة .

(الهداية:۳/ ۱۲٤).

وفي شرح العناية: قال: أن الكفالة إما أن تكون مشروطة في البيع أو لا، فإن كان الأول (أى مشروطة) وهو شرط ملائم للعقد. (العناية فى شرح الهداية على هامش فتح القدير:۷/ ۲۱۷، باب الكفالة).

۳_ په محيط البرهاني کي راځي:

ولو قال: اعتق عبدک عني بألف درهم، فأعتق، فإنه يعتق عن الآمر ويلزمه المال عن الآمر استحساناً. (المحيط البرهانی:٤/ ۲۲۱، کتاب العتاق، فصل فی المتفرقات، رشيدية).

وفی البدائع الصنائع: ولو قال لآخر: أعتق عبدك عني على ألف درهم فأعتق فالولاء للآمر ؛ لأن العتق يقع عنه استحسانًا .... أن الأمر بالفعل أمر بما لا وجود للفعل بدونه كالأمر بصعود السطح يكون أمرًا بنصب السلم والأمر بالصلاة يكون أمرًا بالطهارة ونحو ذلك ولا وجود للعتق عن الآمر بدون ثبوت الملك ، فكان أمر المالك بإعتاق عبده عنه بالبدل المذكور أمرًا بتمليكه منه بذلك البدل، ثم بإعتاقه عنه تصحيحًا لتصرفه كأنه صرح بذلك فقال: بعه مني وأعتقه عني ففعل.... لأن الملك في البيع الصحيح لا يقف على القبض ، بل يثبت بنفس العقد فصار المأمور بائعًا عبده منه بالبدل المذكور ، ثم معتقًا عنه بأمره وتوكيله.

(بدائع الصنائع: كتاب الولاء:٤/ ١٦٠، سعيد).

وفي درر الحكام: كأنه قال: بع عبدک عني بألف وكن وكيلي بالإعتاق. (درر الحکام شرح غرر الاحکام، اکثر مدة الحمل:٤/ ٤٣٣).

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه دا چي په دې عقد کي يعني په وکالت بالاعتاق کي وکالت بالبيع موجود دئ چي صفقة فی صفقة ده چي د دې باوجود فقهاوو د استحسان په سبب روا بللې.

۴_ د هدايې مصنف وايي:

وكذا لو سلطا المرتهن على بيعه لأنه توكيل بالبيع وهما يملكانه. (الهداية: ٤/ ٥٢٩، كتاب الرهن).

په لوړ عبارت کي د رهن په عقد کي وکالت بالبيع دئ او فقهاوو هغه روا بللي دئ.

۵_ د مفت سروس له شرط سره سره بيع روا ده کوم چي اجاره مشروطه فی البيع ده.

حضرت مولانا محمد تقی عثماني وايي:

په عقد د بيع کي له مقتضائي عقد څخه خلاف شرط لګول سوی دئ مګر د تجارانو په منځ کي دغه شرط په عقد کي داخل ګڼل کيږي نو داسي شرط لګول هم روا بلل کيږي لکه نن سبا چي په بازارو کي ډېر داسي شيان خرڅيږي چي بايع وايي تريوه کاله پوري د دې شی زه مفت سروس کوم نو دا ښکاره خبره ده چي دا مفت سروس کول په عقد کي داخل نه دئ مګر د متعارف کېدلو په سبب دا روا دئ لهذا که چيري مشتري ووايي چي زه يې په دې شرط اخلم چي تريوه کاله پوري به د دې ماشين سروس مفت کول کيږي نو د دې شرط له کبله عقد نه فاسديږي. (تقرير ترمذی: ۱/ ۱۰۸).

د ((صفقة فی صفقة)) په اړه د حضرت تهانوي عبارت وګورئ:

سوال: ((نهی عن صفقة فی صفقة)) له ظاهري معنا څخه ځيني امور ناروا معلوميږي مګر په عوامو او خواصو کي خورا په ډېر کثرت شايع دي مثلا د ساعت پرزي ماتي سوي دي اوس هغه پرزه راکاږي او روغ پرزه ورلګوي نو ده پرزې بېل قيمت دئ او د ور لګولو اجاره ده.

۲_ چارپايي جوړول خو لرګي له ځانه ورکوي نو د لرګي بيع ده او د جوړولو اجرت دئ.

۳_ له ساقي څخه اوبه رانيول څنګه چي هغه اوبه له ځاه څخه را کښلې او په خپلو ظرفو کي يې ځای پر ځای کړي دي لهذا د ده ملک وګرځېدئ اوس د اوبو بيع وسوه او له هغه ځای څخه د راوړلو اجاره ده همدارنګه بيع دليس ما عنده هم ده.

۴_ د زرو ګوتمی د جوړولو له پاره و زرګر ته ورکول کیږي نو د غمیانو بیع کیږي او د هغو د لګولو اجاره ده وغیر ذالک من المعاملات الرائجة؟

الجواب: د تعامل په سبب هغه چي ذکر سول بېله انکاره شایع دي چي د اجماع یوه نوع ده او دا ټول معاملات روا دي نو نص عام مخصوص البعض دي لکه چي فقهاوو په صباغي او خیاطي کي د دې اجازه ورکړې ده چي صبغ او خیط د صانع وي او په دې کي اجاره هم و هذا ظاهر جداً فقط. والله اعلم. (امداد الفتاوی:۳/ ۶۳-۶٤).

حضرت مولانا محمد تقی عثماني وايي:

د احنافو مذهب دا دئ چي په عامو حالاتو کي له عقد سره هر شرط لګول عقد فاسده وي البته درې ډوله شرطونه دي چي د هغو وجود په عقد کي صحیح دئ او عقد نه ورڅخه فاسدیږي یو هغه شرط چي د عقد له مقتضٰی سره سم وي.

دوهم هغه شرط چي له عقد سره ملائم وي لکه یو شی په رهن کي د ایښودلو یا کفالت یا د حوالې شرط او درېیم هغه شرط چي پر هغه عرف او تعامل راغلی وي.

په بیع بالوفاء کي د وفا شرط چي په صلب د عقد کي وي بیا هم ځینو احنافو فقهاوو روا بللی دئ او د نهایې مصنف پر دې فتوی ورکړې ده او علامه شامي رحمه الله له علامه زیلعي رحمه الله څخه د دې مطلب دا نقل کړی دئ چي بیع صحیح کیږي او مشتري ته له هغه څخه فائده پورته کول هم روا ده مګر څنګه چي په بیع کي دا شرط دئ چي چیري یو وخت بایع قیمت واپس کړي نو پر مشتري به یې دوباره خرڅوي په دې سبب مشتري هغه نور پر بل چا نه سي خرڅولای او ورته روا نه ده چي دی یې وپلوري او امام زیلعي رحمه الله دغه قول مفتی به بللی او علامه شامي رحمه الله د نهر په حواله وايي چي زموږ رایه او عمل پر دې قول دئ کوم چي زیلعي رحمه الله ترجیح ورکړې ده بیا وايي چي شاید د جواز قول پر دې بنیاد سوی وي چي دا شرط متعارف ګرځېدلی دئ البته اکثره احنافو فقهاوو جواز ورکړی نه دئ چي د وفا شرط دي په صلب عقد کي وي. تر دې وروسته مفتي تقي عثماني له شامي، محیط برهاني، فتاوی قاضي خان، جامع الفصولین، شرح مجلې او د نورو څخه دلائل وړاندي کړي دي. وګورئ (غیر سودی بینکاری، ص ۲٤۲-۲٤۷).

Maktaba Tul Ishaat.com

د ((صفقة في صفقة)) د جواز دوهم صورت:

که چیرې دواړه عقده بېل بېل وکړل سي بیا هم معامله صحیح کیږي (چې یو عقد د بل له پاره پر منزله د شرط نه وي نو معامله صحیح کیږي).

د هدایې مصنف څو مثالونه ذکر کړي دي:

۱_ که چا وویل زه پنځه کتابونه په دوه سوه افغانۍ ورکوم او مشتري وویل چې ما درې کتابونه په یوسل شل واخیستل نو دا صحیح نه ده ځکه په دې صورت دیوې مبیع له پاره بایع ته د دوو عقدو کولو ضرورت پیدا سو مګر که چیرې بایع وویل چې زه پنځه کتابونه په دوه سوه پلورم او هر کتاب په څلوېښت روپۍ خرڅوم او مشتري درې کتابونه واخیستل دا روا کیږي ځکه د لفظ تکرار راغی.

په هدایه کې راځي:

وليس له أن يقبل في بعض المبيع ولا أن يقبل المشترى ببعض الثمن لعدم رضاء الأخر بتفرق الصفقة إلا إذا بين كل واحد لأنه صفقات معنى. (الهداية:۳/ ۱۹).

وفى الكفاية: قوله وليس له أن يقبل في بعض المبيع، وإذا أوجب البائع البيع فى شيئين أو ثلاثة وأراد المشتري أن يقبل العقد في أحدهما دون الآخر فهذا على وجهين إن كانت الصفقة واحدة فيس له ذلک وإن كانت متفرقه فله ذلک وهذا لأن الصفقة إذا كانت واحدة فالمشتري بقبول العقد في أحدهما يريد تفريق الصفقة على البايع وفي ذلک ضرر بالبائع لأن العادة فيما بين الناس أنهم يضمون الردئ إلى الجيد فى البياعات و ينقصون شيئاً عن ثمن الجيد لترويج الردئ بالجيد فلو ثبت خيار قبول العقد في أحدهما فالمشترى يقبل العقد فى الجيد ويترک الردئ على البائع فيزول الجيد عن ملک البايع بأقل من ثمنه وفيه ضرر بالبايع وقال القدورى رحمة الله عليه: إلا أن يرضى البايع فى المجلس نحو أن يقول بعتک هذا العبد

بخمسين فيقول المشتری قبلت في نصفه فيرضی به البايع.... ويكون ذلک من المشتري فی الحقيقة استيناف إيجاب لا قبولاً فإذا رضي به البائع فی المجلس يصح. (الكفاية:٥/ ٤٦٢).

علامه ابن الهمام رحمه الله په فتح القدير كي پر دې بحث كړی او ليكلي يې دي چي كه چيري د ثمن وېش د اجزاء په اعتبار سره وو نو روا ده ځكه چي د هغه هره برخه معلومه سوه او كه چيري تقسيم د قيمت په اعتبار سره وو مثلا د عقد نسبت وغلامينو يا ثويينو ته وكړل سي نو د جهالت په سبب روا نه ده او كه چري بايع ووېل: «بعتک هذين العبدين هذا بمائة وهذا بمائة» او مشتري له هغو څخه يو قبول كي نو په ځيني مواقعو كي دا روا بلل سوي او په جامع صغير كي راځي چي د جواز له پاره د بيع د لفظ تكرار ضروري دئ مثلاً. «بعتک هذين العبدين بعتک هذا بمائة وبعتک هذا بمائة».

وګورئ فتح القدير كي راځي:

.... الا أن يرضى الآخر بذلك بعد قبوله في البعض ويكون المبيع مما ينقسم الثمن عليه بالإجزاء كعبد واحد أو مكيل أو موزون، فإن كان مما لا ينقسم الا بالقيمة كثوبين وعبدين لا يجوز وإن قبل الآخر .... فلو كان بين ثمن كل منهما فلا يخلو إما ان يكون بلا تكرار لفظ البيع أو بتكراره، ففيما اذا كرره فالاتفاق على أنه صفقتان فإذا قبل في أحدهما يصح مثل أن يقول بعتك هذين العبدين بعتك هذا بألف وبعتك هذا بألف أو اشتريت منك هذين العبدين اشتريت هذا بألف واشتريت هذا بألف كذا في موضع .... (فتح القدير:٦/ ٢٥٥-٢٥٦، دار الفكر).

۲_ كه چيري يو چا صراف ته يو درهم وركړ او ورته يې ووېل چي د دغه د نيمايي فلوس راكړه او د پاته نصف په عوض نيم درهم راكړه خو يو پيسه تري كمه كړه نو د صاحبينو په نزد صرف په فلوسو كي بيع روا ده او په نورو كي باطله ده او د امام صاحب رحمه الله په نزد په ټولو كي باطل ده ځكه

Maktaba Tul Ishaat.com

چي صفقة فى صفقة لازم سوه لهذا باطل ده مكر كه چيري يې داسي وويل چي د نصف په عوض كي فلوس راكه او د باقي نصف په عوض كي له يوې پيسې څخه پرته نيم درهم راكه بالاتفاق په فلوسو كي بيع روا ده ځكه چي د اعطاء لفظ مكرر سو.

قال فى الهداية: ومن اعطى صيرفياً درهماً وقال أعطني بنصفه فلوساً وبنصفه نصفاً إلا حبة جاز البيع في الفلوس وبطل فيما بقي عندهما وعلى قياس قول أبي حنيفة رحمه الله بطل في الكل ولو كرر لفظ الإعطاء بأن قال: أعطني بصفه كذا فلساً وأعطني بنصفه الباقي نصفاً إلا حبة فالحكم أن العقد في حصة الفلوس جائز بالإجماع هو الصحيح . (الهداية مع الحاشية:٣/ ١١٠-١١١).

د حديث شريف جواب:

تر كومه ځايه چي د حديث شريف تعلق دئ د هغه جواب دا دئ چي حديث شريف هم په عرف سره مقيد دئ په كوم ځاى كي د صفقة فى صفقة عرف نه وي په هغه ځاى كي دا معامله فاسده گرځي او په كوم ځاى كي چي يو عقد متعارف وي او په هغه كي صفقة فى صفقة راځي نو د تعامل په سبب روا دئ لكه چي امام ابو يوسف رحمه الله د كيل او وزن په اړه فرمايي.

وگورئ فتاوى شامي كي راځي:

وعن الثاني اعتبار العرف مطلقًا ورجحه الكمال وخرج عليه سعدي أفندي استقراض الدراهم عددًا وبيع الدقيق وزنًا في زماننا يعني بمثله وفي الكافي الفتوى على عادة الناس بحر وأقره المصنف (قوله مطقاً) أي وإن كان خلاف النص، لأن النص على ذلك الكيل في الشيء أو الوزن فيه ما كان في ذلك الوقت إلا لأن العادة إذ ذاك كذلك وقد تبدلت فتبدل الحكم ....(قوله ورجحه الكمال) حيث قال عقب ما ذكرنا: ولا يخفى أن هذا لا يلزم أبا يوسف رحمه الله لأن قصاراه أنه كنصه على ذلك وهو يقول: يصار إلى العرف الطارىء بعد النص بناء على أن

تغير العادة يستلزم تغير النص، حتى لو كان ﷺ حياً نص عليه وتمامه فيه .... وملخصه: أن النص معلول بالعرف فيكون المعتبر هو العرف في أي زمن كان ولا يخفى أن هذا فيه تقوية لقول أبي يوسف رحمه الله فافهم . (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۱۷۶، مطلب فى ان النص اقوى من العرف، سعيد – وفتح القدير:۷/ ۱۵، دار الفكر).

وقال مصطفى أحمد الزرقا: خلافاً لأبي يوسف رحمه الله الذي يعتبر المقياس المتعارف فيهما مطلقاً في كل زمن بحسبه، ويتبدل مقياس التساوى بتغير العرف تبعاً له حيث يعلل النص بالعرف الذي كان قائماً وقت وروده، فلا يكون اتباع العرف عند أبي يوسف رحمه الله مخالفاً للنص، بل يراه هو الموافق للنص، وأن الثبات على المقياس القديم الذي ورد فى النص هو المخالف للنص، فهو يعتبر هذا النص نصاً عرفياً، بمعنى أنه ذكر فيه المقياس الذي عينه النص، لأنه كان هو المتعارف حين وروده النص، ولو كان المتعارف مقياساً آخر لورو د النص بذلک الآخر، لأن مقاييس الكميات تتبع الأعراف، ولتنظر رسالة « نشر العرف فيما بنى من الأحكام على العرف»، لابن عابدين رحمه الله. وقد أو ضحت هذا المسألة في كتابى المدخل الفقهى العام. (حاشية شرح القواعد الفقهية، ص ۲۲۱، تحت القاعدة: « العادة محكمة»).

دوهم جواب:

نص عام مخصوص البعض دئ يعني د عرف او تعامل په سبب د نص تخصيص سوى دئ لكه علامه ابو البركات نسفي رحمه الله او علامه شامي رحمه الله د ((فقيزا الطحان)) په اره فرمايلي دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

وگورئ علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي:

ثم اعلم أن العرف قسمان عام وخاص فالعام يثبت به الحكم العام ويصلح مخصصاً للقياس والأثر بخلاف الخاص.... قال في الذخيرة في الفصل الثامن من الإجارات في مسألة مالو دفع إلى حائک غزلاً لينسجه بالثلث ومشايخ بلخ كنصير بن يحيى ومحمد بن سلمة وغيرهما كانوا يجيزون هذه الإجارة في الثياب لتعامل أهل بلدهم في الثياب والتعامل حجة يترک به القياس ويخص به الأثر وتجويز هذه الإجارة في الثياب للتعامل بمعنى تخصيص النص الذي رود في قفيز الطحان لأن النص ورد في قفيز الطحان لا في الحائک إلا أن الحائک نظيره فيكون وارداً فيه دلالة فمتى تركنا العمل بدلالة هذا النص في الحائک وعملنا بالنص في قفيز الطحان كان تخصيصاً لاتركاً أصلا وتخصيص النص بالتعامل جائز ألاترى أنا جوزنا الاستصناع للتعامل ولااستصناع بيع ماليس عنده وإنه منهي عنه وتجويز الاستصناع بالتعامل تخصيص منا للنص الذي رود في النهي عن بيع ماليس عند الإنسان لاترک للنص أصلاً لأنا عملنا بالنص في غير الاستصناع. (شرح عقود رسم المفتي، ص ٤١ – وكذا رسالة « نشر العرف في بناء بعض الاحكام على العرف» المندرجة في رسائل ابن عابدين: ۲/ ١١٤، سهيل)

علامه نسفي رحمة الله عليه فرمايي:-

والاستحسان أنواع يكون بالأثر والإجماع والضرورة والقياس الخفي كالسلم فإن القياس يأبى جوازه لعدم المعقود عليه عند العقد إلا أنا تركناه بالنص وهو قوله عليه السلام « من أسلم منكم فليسلم في كيل معلوم » الحديث، والاستصناع فيما فيه تعامل الناس مثل أن يأمر إنساناً بأن يخرز له خفاً بكذا ويبين صفته ومقداره ولم يذكر له أجلاً والقياس يقتضي أن

لایجوز لأنه بیع معدوم لکنهم استحسنوا ترکه بالإجماع لتعامل الناس فیه فإن قلت: الإجماع وقع معارضاً بالنص وهو قوله علیه السلام « لا تبع ما لیس عندک ». وأجیب بأن النص صار مخصوصاً في حق هذا الحکم بالإجماع، وفیه نظر لأن القران شرط الخصوص عندنا والإجماع لیس بمقارن ویمکن أن یجاب عنه بأن القران شرط التخصیص الأول والنص مخصوص قبل الإجماع بالسلم فیجوز بعده بالإجماع. (منار مع شرحه لعبد اللطیف ابن الملک: ۲/ ۸۱۲).

دریېم جواب: دا دئ چي صفقة فی صفقة چي په کوم ځای کي عرف نه وي هلته په یو عقد کي ممنوع ده او په دوو عقدو کي روا ده.

د نور تفصیل له پاره وګورئ: (غرر کی صورتیں: ۸۵-۱۲۹) والله ﷻ اعلم.

د بانک په واسطه د کور رانیولو حکم

سوال: یو سړی د بانک په واسطه کور اخلي چي د هغه دوه صورتونه دي یو دا چي له بانک څخه سودي قرض اخلي او دوهم صورت دا دئ چي د بانک څخه په پنځه لکه کور واخلي او بیا یې ضرورت مند ته په شپږ لکه مؤجل قیمت سره ورکړي له دواړو صورتو څخه کوم صورت اختیار ول په کار دي؟

الجواب: دوهم صورت دي اختیار کړي ځکه چي له بانک څخه سودي قرضه په عامو حالاتو کي اخیستل روا نه دئ او دوهم صورت چي هغه د مرابحې صورت دئ او په مرابحه کي دا روا ده البته په دې شرط چي په عقد کي به دا خبره بیان کړل سوې وي چي په هر قسط کي به دومره زیادت وصول کیږي.

په ایضاح المسائل کي راځي:

د بانک په واسطه د موټر داسي نور رانیولو له پاره بهترین او اسانه شکل دا دئ چي له مشتري سره بانک خپل یو کس ولیږي او هغه له کمپنۍ سره د یو لک سودا کوي نو اوس دیوه لک روپیو موټر د بانک ملکیت سو بیا نو د بانک له طرفه استول سوی سړی دغه موټر د بانک د قانون او اصولو سره سم

Maktaba Tul Ishaat.com

په يوه لک او لس زره مشتري ته حواله کړي او وروسته بانک په قسطو سره له مشتري څخه يوه لک لس زره تر لاسه کړي او دا شرعاً روا ده. (فتاوى عالمگيرى:٢/ ١٦٠).

يو شکل دا هم اختيار کېداى سي چي بانک خپل نفر وانسته وي بلکي مشتري د خپل وکيل په شکل واسته وي (وکيل يې جوړ کړي) او خريدار به يې په يوه لک رانيسي، وبانک ته يې حواله کي په دغه وخت کي بيا بانک دغه موټر په يو لک او لس زره پر مشتري وپلوري او دغه شخص د بانک له پرېکړي سره سم په ټاکلي وخت کي يو لک او لس زره قسطونه اداء کړي نو په شرعي ډول داسي معامله روا ده.(ستفاد از امداد الفتاوى:٣/ ١٢٥). (ايضاح المسائل:ص ١٥٨).

په فتاوى شامي کي راځي:

علله الحانوتي بالتباعد عن شبهة الربا لأنها في باب الربا ملحقة بالحقيقة، ووجه أن الربح في مقابلة الأجل لأنه الأجل وإن لم يكن مالا ولا يقابله شيء من الثمن، لكن اعتبروه مالاً في المرابحة إذا ذكر الأجل بمقابلة زيادة الثمن، فلو أخذ كل الثمن قبل الحلول كان أخذه بلا عوض. (فتاوى الشامى:٦/ ٧٥٧، قبيل كتاب الفرائض، سعيد – وكذا ٥/ ١٤٢، باب المرابحة، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

وجوابه أن الأجل في نفسه ليس بمالٍ فلا يقابله شيء حقيقةً إذا لم يشترط زيادة الثمن بمقابلته قصدًا، ويزاد في الثمن لأجله إذا ذكر الأجل بمقابلة زيادة الثمن قصدًا فاعتبر مالًا في المرابحة احترازًا عن شبهة الخيانة . (البحر الرائق:٦/ ١١٥، باب المرابحة، كوئت).

همدا ډول وګورئ: (غير سودى بينكارى:٧٨ – وكفايت المفتى:٨/ ٥٤ – واسلام اور جديد معاشى مسائل:٥/ ٩٠، ٣/ ١١٨). والله ﷻ اعلم.

دوهم .... فصل

د اسلامي بنکارۍ د کار طریقه

د بانک تعریف:

بانک د یو داسي تجارتي اداري نوم دئ چي د خلکو پیسي د ځان سره د دې له پاره جمع کوي چي تاجرانو، صنعت کارانو او نورو ضرورت مندو کسانو ته د قرض ورکولو جوګه وګرځي اوسني روان بانکونه پر هغو قرضو باندي سود اخلي او خپلو امانت دارانو ته سود ورکوي او د سود درمیاني فرق د بانکونو نفع ده.

بانکونه خلکو ته د امانتونو د جمع کولو دعوت او پشنهاد کوي (چي په فقهي لحاظ قرض ګرځي) د دې ته په عربي ژبه کي ودایع او په پښتو کي ذخیره یا ګرو په اردو کي امانت او په انګلسي کي (Deposita) ډپازټ ویل کیږي او د ډپازټ ډولونه:

۱_ (Current Account) کرنټ اکاونټ). دې ته په عربو کي ((الحساب الجاري)) او په اردو کي ((مدروان)) وایي په دغه کي پر ایښودل سوي روپیو باندي سود نه ورکوي او په دغه اکاؤنټ کي ایښودل سوي پیسې هر وخت او هر څومره را اخیستلای سي.

۲_ (SavinG Account) (سیونګ اکاونټ) هغه ته په عربي کي ((حساب التوقیر)) او په اردو کي ((بچت کهاته)) وایي پر دغه اکاؤنټ کي پر پیسو را ایستلو پابندي وي او پر دغه بانک سود ورکوي.

۳_ (Fixed Deposit) ((فکس ډپازټ)) هغه ته په عربي کي ((ودایع ثابته)) وایي په دې کي له بانک څخه تر ټاکلي وخت وړاندي پیسې نه سي اخیستلای او پر دغه هم بانک سود ورکوي او د سود شرح د وخت مطابق وي چي په زیات وخت کي شرح زیاده وي او پر کم مده باندي شرح کمه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د بانک وظیفې:

بانک د سرمایې تر جمع کېدو وروسته څو وظیفې اجرء کوي مثلاً تمویل، تخلیق زر، په صادراتو او وارداتو کې واسطه جوړېدل او داسې نور چې د هغو تفصیل اسلام او جدید معیشت وتجارت او داسې نورو کتابو کې کتلای سئ. والله تعالیٰ اعلم.

د اسلامي بانک د کار طریقه

د بانک کارونه اکثره پر دوو اساسي برخو وېشل کیږي

۱ _ د ذمه دارۍ حصه، په دې حصه کې سودي بانک له خپلو ډیپازیټر څخه پیسې وصول کوي او د دغه مقصد له پاره مختلف اکاؤنټونه متعارف کوي چې بنیادي یې اکثره دوه اکاؤنټه وي.

الف _ هغه چې هغه نفع نه ورکوي دغه ته کرنټ اکاؤنټ وایي.

باء _ هغه چې هغه نفع ورکوي په دې کې ((سیونګ اکاؤنټ)) فکس ډیپازټ او نور شامل دي.

الف _ دبې ګټې یعني کرنټ اکاؤنټ تعریف:

په کرنټ اکاؤنټ کې چې کومې پیسې بانک وصول کوي شرعاً په هغو پیسو کې سود نه وي یعنی قرض بېله سود څخه وي ځکه چې د اکاؤنټ خاوند ته د دې ګرنټي او ضمانت ورکول کیږي چې د ده پیسې به ضرور واپس کیږي او هر مضمون پیسو ته قرض ویل کیږي او پر دغه به زیاتي روپۍ هم نه ورکوي خالی اصلي روپۍ ده ته ورکول کیږي ځکه دا د بېله سود قرض سره برابر دئ.

باء _ د نفع ورکونکي اکاؤنټ تعریف:

له کرنټ اکاؤنټ څخه پرته نور اکاؤنټونه د هغو له پاره اسلامي بانک چې کومې پیسې وصول کوي هغه د مضاربت او مشارکت پر اساس وي چې په هغه کې د ډیپازیټر حیثیت د رب المال، یا سرمایه ورکونکي افرادو وي او د اسلامي بانک حیثیت د عملې د شریک وي، اسلامي بانک د خپلو تمویلي طریقو مثلاً مرابحه، اجاره او مشارکه او نورو په ذریعه چې کومه نفع حاصلوي د هغه مناسبه حصه خپل د اکاؤنټ خاوند ته ورکوي کوم چې له شروع څخه مقرر سوی وي، مثلاً دا خبره معلومه سوې وه چې بانک چې کومه نفع حاصلوي د هغه نیمه حصه بانک ته او نیمه حصه دغه سړي ته رسیږي او په شرعي لحاظ د اکاؤنټ د خاوند پیسې په بانک کې لکه امانت داسې دي یعني که

چیري د بانک له زیادتي یا د کوتاهی یا د غفلت څخه پرته دا پیسې هلاک سوې نو بانک د دې پیسو ذمه دار نه دئ.

دا هم یاد وساته چي اسلامي بانک له خپل شریک یا د اکاؤنټ له خاوند څخه د پیسو د اخیستلو په وخت کي هغه ته په هر حال کي د دوباره اخیستلو کرنتي نه سي ورکولای او نه په شروع کي خامخا د نفع مقدار ویلای سي، بلکي ډیپازټر د سرمایې له تناسب څخه په یو معلوم نسبت سره روا هم نه ده چي هغه حتمي ذکر کړي یعني هغه دا نه سي ویلای چي زما سرمایه دومره ده او دومره نفع باید له دې نسبت څخه راکړل سي، له دې څخه شرکت فاسد ګرځي او په عام ډول و اسلامي بانکونو ته دا نه معلومیږي چي له دې سرمایې څخه څومره لاس ته را ورنه لري، البته د خپل امانت رقم د لاس ته راوړولو او خزنداری د ختمېدو پر وخت و ډیپازټر ته د ګټي مناسبه حصه ورکړي او د دغي ګټي نسبت له اصلي سرمایې سره وښیي نو دا شرعاً ناروا نه ده، له دې څخه دا معلومه سوه که چیري چي اسلامي بانک د ګټي تر وېشلو وروسته دا اعلان کوي چي هغه په دې کال کي خپل ډیپازټر ته لس فیصده نفعه ورکړه نو دا طریقه له اصولو سره متصاد نه ده مګر که چیري په شروع کي دا وو ایي چي موږ د سرمایې دومره فیصدي (سلنه) درکوو نو دا شرعاً ناروا ده.

۲_ دوهمه حصه اثاثه جاتي حصه:

په دې حصه کي بانک وخپل تمویل دار ته د کار مختلف سهولتونه برابر وي یعنی بانک وهغو خلکو ته تمویلي سهولتونه او اسانی برابره وي کوم چي د مختلفو مالي اړتیا وو په سبب له بانک سره په رابطه کي وي. په اسلامي بانک کي له بانک څخه د ضرورت پور کونکو له پاره د مختلفو ضروریاتو په نظر کي نیولو سره مختلف معاملات برابروي.

۱_ مرابحه.

۲_ اجاره.

۳_ مشارکه متناقصه . له دې څخه پرته ځیني وختونه د سلم او استصناع په ذریعه هم تمویلي اسانی مهیا کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱_ مرابحه:

مرابحه په اصل کي د بيع يو ډول دئ، هغه ډول چي سامان والا شخص مشتري ته وايي چي دا سامان ما ته په دومره پورت دئ اوس دا سامان په دومره ګټه پر تا پلورل کيږي په اسلامي بانکو کي مرابحه پر لاندي مراحلو مشتمله وي.

الف _ جامع معاهده:

په لومړۍ مرحله کي د کلائنټ (له بانک څخه د کار اخستونکي) او بانک په منځ کي يوه جامع معاهده کيږي چي هغه ته جنرل ايګريمينټ ويل کيږي په هغه کي دا پرېکړه کيږي چي کلاينټ د څومره پيسو سامان له بانک څخه اخلي او بانک پر اخيستل سوي سامان څومره ګټه اخلي او د ادا کولو طريقه به يې څنګه وي(په څه ډول به وي).

باء _ د مطلوبه سامان خريداري:

تر دې وروسته بانک هغه سامان له مارکېټ څخه اخلي کوم چي وروسته پر کلائنټ خرڅيږي په عامه توګه د دې له پاره کلائنټ وکيل ګرځول کيږي مګر همېشه داسي کول ضروري نه دي.

جيم _ پر اخيستل سوي سامان قبضه او وبانک ته اطلاع ورکول:

که چيري د خريدارۍ له پاره کلائينټ وکيل جوړ کړل سي او هغه تر خريدارۍ وروسته پر هغه سامان قبضه وکړه څنګه چي شرعاً د وکيل قبضه د مؤکل قبضه بللل کيږي نو دا فهمول کيږي چي دا د مؤکل يعني د بانک په قبضه کي ده لکه څنګه چي پر دې مرحله د قبضې ټول احکام جاري کيږي خصوصاً دا حکم چي که چيري د کلائنټ له څه تعدي څخه پرته سامان هلاک کړل سي نو نقصان د بانک خپل نقصان دئ او د کلائنټ نه دئ.

د _ د مرابحې انعقاد:

تر دې وروسته کلائنټ وبانک ته دا درخواست وړاندي کوي چي دی دا سامان په هغه متعين قيمت چي په هغه کي د بانک لګول سوې پيسې او نفع شامله ده پلوري او د هغه قيمت فوراً يا مخصوصه مده وروسته اداء کوي نو چي کله بانک د دې قبولي وکړ نو مرابحه منځ ته راځي او وجود پيدا کوي او پر کلائنټ د هغه د قيمت اداء کول واجب او لازم ګرځي او بانک د دې واجب الاداء قيمت په بدله کي له کلائنټ څخه څه ضمانتو نه اخلي.

۲_ اجاره:

په شرعي اصطلاح کي اجاره د يو شي يا يوه شخص له خوا تعين کړل سوي روا منفعت د ټاکلي اجرت په بدله کي د ورکولو نوم دئ.

د سودي او اسلامي بانک په اجاره کي فرق:

د اجارې معامله په اسلامي او سودي بانکو دواړو کي کول کيږي نو ځکه دلته هغه فرق چي د دوی په منځ کي وجود لري بيانيږي، نن سبا چي په کنوينشنل يا سودي بانکو کي د اجارې کومه طريقه رائج ده په هغو کي درې خرابۍ دي:

الف _ په يوه عقده کي دننه د بيع او اجارې دوې معاملي کيږي يعني هغه قسطونه چي کلائنټ يې د اجاري په مده کي اداء کوي هغه په ابتداء کي د اجارې اقساط شمارل کيږي مګر څنګه چي د کرايه داري مده پوره کيږي هغه اقساط بيا قيمت بلل کيږي او مطلوبه شی خوبخوده د کلائنټ په ملکيت کي راځي چي و دې ته په فقهي اصطلاح کي صفقتان فی صفقة ويل کيږي کوم چي شرعاً ناروا ده.

باء _ د هغه شي چي په اجاره ورکړل سوی دئ ټولي ذمه واری چي په ده پوري تړلي دي د مساجر پر ذمه وي حالانکه صرف له استعمال سره تړلي ذمه واری پر مستاجر باندي غورځول کېدای سي لکه د موټر سروس کول تېل وربدلول او نور او هغه د ذمه واری چي د هغو تعلق د دې شي د مالک سره وي يعنی د هغه د ملکيت له کبله پر ده باندي راځي هغه پر مؤجر باندي دي لکه ټکس اداء کول د يو ناڅاپي افت په سبب چي هغه تباه کړل سي بيا مرمت کول يې او داسي نور.

جيم _ په اجاره ورکړل سوي شي وکلائنټ ته تر حواله کېدو وړاندي پر هغه د کرايه لګولو شروع کېدل حالانکه له مستاجر څخه تر هغه وخته کرايه اخيستل روا نه ده تر څو چي مطلوبه شی وهغه ته حواله سوی نه وي.

د دې بر عکس د اسلامي بانکونو په اجاره کي يادي سوی شرعي خرابۍ په لاندي طريقه سره ليري سوی دي.

الف _ په ابتداء کي صرف د اجارې معامله کيږي او په اجاره ورکړل سوي شی د ټېر په څېر د بانک په ملکيت کي پاته وي او بيا د اجارې د مدې تر ختمېدو وروسته کلائنټ ته اختيار ورکول

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږي چې په دې متعین قیمت یې اخلي او که یې په خوښه وبانک ته واپس کوي . په اول الذکر شکل کې بانک د مستقل عقد په ذریعه هغه شی پر کلائنټ باندې پلوري او ځیني وختونه هغه شی د یو مستقل عقد په ذریعه وکلائنټ ته هبه کوي چې په دې کې د صفقتان فی صفقة خرابي نه لازمیږي.

باء_ د اسلامي بانک د جارې په معاملاتو کې دا صراحةً ذکر کیږي چې مستاجر صرف هغه ذمه وارۍ قبلوي چې د موټر تر استعمال پورې تعلق لري له دې څخه د ((صیانه عادیه)) په نامه سره تعبیر کیږي او هغه ذمه دارۍ چې هغه د مالکیت حیثیت لري بانک برداشت کوي لکه د هغه ټیکس ((انشورنس)) تکافل او د یو حادثې په صورت کې که موټر ته څه نقصان ورسیږي هغه د بانک ذمداري ده.

جیم_ اسلامي بانک چې کله د کرایې معامله وکړي بیا چې تر څو وکلائنټ ته مطلوبه سامان حواله کړل سوی نه وي تر هغو پورې کرایه نه وصول کوي.

۳_ مشارکه متناقصه:

په اوسنیو اسلامي بانکو کې دریمه لویه تمویلي طریقه ((مشارکه متناقصه)) ده چې د هغې په ذریعه په عام ډول تمویل په مکاناتو کې کیږي دا هم له دې کبله هوم مشارکه (home) هم ویل کیږي، دا کاري طریقه په بنیادي ډول درې مرحلې لري:

۱_ اسلامي بانک او کلائنټ په مشرک ډول یو سرای یا کور رانیسي چې هغه کې په عام ډول د کلائنټ تر برخې د بانک برخه ډېره وي مثلاً یو مکان یا کور په داسې ډول اخیستل کیږي چې په هغه کې اتیا (۸۰) فیصده ونډه د بانک او شل (۲۰) فیصده ونډه د کلائنټ وي.

۲_ د بانک حصه پر وړو وړو یونټانو وېشل کیږي مثلاً په ذکر سوی مثال کې د بانک حصه اتیا (۸۰) یونټه جوړه سوه اوس کلائنټ د بانک مملوکه یونټونه لمبر وار یو یو کوي او رانیسي یې چې د هغه په نتیجه کې د کلائنټ ملکیت لوړیږي او پر مخ تګ کوي او د بانک ملکیت مخ پر کمېدو روان وي.

۳_ څومره یونټونه چې د بانک په ملکیت کې وي کلائنټ د کرایه داری تر معاهدې لاندې د هغو په خپل تصرف کې راوړلو او استعمال له کبله کرایه اداء کوي څنګه چې کلائنټ په مستقل ډول یونټونه اخلي لهذا په کرایه کې هم ټیټوالی راځي او مقدارېې کمیږي په اخر کې چې کلائنټ د بانک مملوکه ټول یونټونه په خپل ملکیت کې را وړي او اخلي يې نو د یونټونو په ختمېدو سره کلائنټ د سرای یا کور مالک ګرځي، ګواکې په دې کاري طریقه کې په بنیادي ډول درې کارونه کول کیږي.

۱_ په مشترک ډول د دوکان یا کور رانیول.

۲_ دیوه شریک له طرفه د دوهم شریک مملوکه حصه په کرایه اخیستل.

۳_ دیوه شریک له طرفه چې کلائنټ دئ د دوهم شریک یعني بانک حصه اخیستل.

د دې عقد د صحت له پاره ضروري ده چې یوه معامله به له دوهمې سره مشروطه نه وي لکه څنګه چې په ذکر سوې کاري طریقه کې هیڅ یوه معامله له بلې معاملې سره مشروطه او تړلې نه ده بلکې کلائنټ خپله یو طرفه وعده کوي چې که چیرې بانک مطلوبه مکان یا کور واخلي نو هغه د بانک حصه په اجاره اخلي او د هغه کرایه اداء کوي همدارنګه هغه د بانک د حصې مختلف یونټونه مرحله پر مرحله اخلي. د نور تفصیل له پاره وګورې: (اسلام اور جدید معاشی مسائل، جلد پنجم، واسلامی بینکاری او متفقه فتوی کا تجزیه واسلام اور جدید معیشت وتجارت).والله ﷻ اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com



عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قدم النبي ﷺ المدينة وهم يسلفون بالثمر السنتين والثلاث، فقال: « من أسلف في شيء ففى كيل معلوم ووزن معلوم إلى أجل معلوم» . (رواه البخاري:

وعن أبي حسان قال: قال ابن عباس رضي الله عنهما أشهد أن السلف المضمون إلى أجل مسمى قد أحله الله تعالى فى الكتاب وأذن فيه، قال الله عزوجل ﴿ يا أيها الذين آمنوا إذا تداينتم بدينٍ إلى أجلٍ مسمى فاكتبوه ﴾. الآية: (اخرجه الحاكم).

پنځم .... باب

د بيع سلم او استصناع احكام بيان

د سلم بيع او استصناع بيان

په امولو کي د سلم بيع حکم

سوال: دلته د يوه محترم د زوي دوې مياشتي وروسته واده دئ او د ټول هيواد څخه قدرمن مېلمانه په دې کي شرکت کوي څرنګه چي د دې سميي آم ډېر مشهور دي لهذا هغه دآموو له يو تاجر سره د سلم د بيع معامله کوي هغه په داسي ډول چي زموږ فلاني ډول آمونو ته د زر کېلو په اندازه ضرورت پر فلاني تاريخ په دومره قيمت ضرورت سته او غواړو يې مګر هغه وخت په عام بازار کي امونه موجود نه دي نو ايا دا د سلم بيع روا ده او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي دي د سلم بيع پر ځای له هغه څخه په خاص قيمت سره د امونو د برابرولو وعده واخلي مګر که چيري د سلم بيع ضرورت وي نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد سلم بيع کېدای نه سي ځکه په سلم بيع کي دا شرط دئ چي د دې شی د عقد د انعقاد له وخته بيا د هغه د حواله کېلو تر وخته به يو ځای په بازار کي پيدا کېدای سي او مطلق وجود يې ضروري دئ او حال دا چي امونه موجود نه دي لهذا سلم بيع کېدای نه سي، البته د ضرورت په وخت کي د امام شافعي رحمه الله پر

قول د عمل کولو گنجائش سته . حضرت تهانوي رحمه الله او حضرت متفي ولي حسن په دې مسئله کې د امام شافعي رحمه الله پر قول فتوی ورکړې، لکه څنګه چې په امدادا الفتاوی کې راځي:

په سلم عقد کې د بيع له وخته بيا معاد تر وخته برابر او مسلسل وجود د احنافو په نزد ضروري شرط دئ او که دا شرط پوره نه کړل سي نو سلم عقد روا نه دئ مګر د امام شافعي رحمه الله په نزد يوازې پر تاکلې نېټې يې وجود ضروري دئ او په منځ کې که نيستي سي باک نه کوي. (کذا فی الهدايه: ٣/ ٩٣). نو که د ضرورت په صورت کې پر دې قول عمل وکړل سي څه ملامتيا نه سته او رخصت دئ. (امداد الفتاوی: ٣/ ١٠٦).

بل ځای ليکي:

څنګه چې په دغه کې عامه ابتلاء ده لهذا د امام شافعي رحمه الله پر قول عمل گنجائش سته. (امداد الفتاوی: ٣/ ٢١).

په درس هدايه کې راځي:

د اوسني دور ومشکلاتو ته په کتو سره فقهاوو ويلي دي چې که چيرې په داسې مسائلو کې د امام شافعي رحمه الله پر قول فتوی ورکړل سي نو گنجائش سته تر څو خلک له حرامو څخه وژغورل سي.

فائده: په دنيا کې يو د عبادتو او بل د معاملاتو نظام دئ، د عباداتو له پاره نصوص په کار وي او په معاملاتو کې هر امام د توان تر بريده د اسانۍ کوښښ کوي. (درس الهدايه: باب شروط المسلم، صـ ٣٢٩). همدا ډول وګورئ: (مالی معاملات پر غرر کی اثرات، ص ٣٩-٤٣).

په سلم بيع کې د وخت او نېټې حکم

سوال: ايا په سلم بيع کې تر يوې مياشتې کم وخت ټاکل کېدای سي او که نه؟

الجواب: اکثر فقهاء فرمايي، چې په سلم بيع کې کم تر کم يوه مياشت وخت په کار دئ او تر دې کم روا نه دئ مګر امام کرخي رحمه الله فرمايي، په څومره وخت کې چې مسلم فيه حاصل کېدای سي د هغومره وخت کافي دئ که څه هم تر يوې مياشت کم وي لهذا د وخت د ضرورت او عموم بلوی په سبب د امام کرخي رحمه الله قول اختيار کېدای سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وګورئ په هدایه کي راځي:

ولایجوز السلم إلا مؤجلا.... بأجل معلوم لما روينا ولأن الجهالة فيه مفضية إلى المنازعة كما في البيع، ولأجل أدناه شهر وقيل ثلاثة أيام وقيل أكثر من نصف يوم والأول أصح . (الهداية:۳/ ۹٤).

په البنايه کي علامه عيني رحمه الله فرمايي:

وفى الذخيرة: عن الكرخي أنه ينظر إلى مقدار المسلم فيه وإلى عرف الناس فى التاجيل فيه فإن كان قدراً أجل أحد يؤجل مثله فى العرف والعادة يجوز السلم، قوله والأول أصح، وقال الصدر الشهيد في طريقته المطولة والصحيح ما رواه الكرخى رحمه الله أنه مقدار ما يمكن فيه تحصيل المسلم فيه. (البناية فى شرح الهداية: الجزء الثالث، ص ۱۸۸).

په البحر الرائق کي راځي:

وفي البناية وقال الصدر الشهيد.... فقد اختلف التصحيح.... وفي فتح القدير بعد نقل تصحيح الشهيد وهو جدير أن لايصح.... أقول: هو جديد بأن يصحح ويعول عليه فقط.

(البحر الرائق:٦/ ۱٦۰، باب السلم، كوئته).

په محيط البرهاني کي راځي:

عن أبي الحسن الكرخي رحمه الله: أنه ينظر إلى مقدار المسلم فيه وإلى عرف الناس في تأجيل مثله، فإن كان شرط أجلاً يؤجل لمثله في العرف والعادة تجوز السلم ومالا فلا. (المحيط البرهاني: ۸/ ۱۸۰، فصل فى السلم، مكتبة رشيدية).

حضرت تهانوي رحمه الله په امداد الفتاوی کي لیکي:

په سلم بیع کي کم تر کم یوه میاشت مهلت په کار دئ او د امام شافعي رحمه الله په نزد څرنګه چي اجل شرط نه دئ له همدې وجه دا معامله په سلم کي داخلېدای سي څرنګه چي په دې کي عامه ابتلاء ده لهذا د امام شافعي رحمه الله پر قول د عمل کولو کنجائش سته. (امداد الفتاوی:۳/ ۲۱).

پر مالي معاملاتو د غرر د اثراتو په اړه مولانا اعجاز احمد لیکلي دي:

البته د ځیني معاصر علماء کرامو رایه دا ده چي د نن سبا و معاملاتو ته په کتو سره په دې قول عمل کول زیات بهتر دي لهذا که چیري د طرفینو په خوښه یو تاریخ مقرر کړل سي نو د دې د عدم جواز یا ناروا بللو کوم دلیل نه سته. (مالی معاملا بر غرر کی اثرات،صـ ۴۷).

وللاستزادة انظر: (فتح القدير:۷/ ۸۷، دار الفكر – وتبيين الحقائق:٤/ ١١٥، باب المسلم، ملتان، - مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:۲/ ۱۰۰ – مالی معاملات پر غرر کی اثرات:ص ٤٣-٤٨). والله تعالى اعلم.

په غوښه کي د بیع سلم حکم

سوال: په نژدې راتلونکي کي زما د زوی واده کېدونکی دئ تر واده څو ورځي وړاندي زه یو غوښه پلورنکي ته ورغلم او غوښتنه مي ورڅخه وکړه چي په فلاني تاریخ زما د پرش کېلو فلانی ډول غوښي ته ضرورت دئ تر څو د واد والو له پاره روشونه ورڅخه پاخه کړو نو ځینو حضراتو سوالونه پیل کړل چي دا په غوښه کي بیع سلم ده او دا روا نه ده اوس په دې اړه شرعي فتوی څه ده؟

الجواب: کله چي د غوښي کیفیت په مکمل ډول تشریح او احتمال د جنګ پیدا کېدلو ختم کړل سو نو دا صورت روا دئ.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ولاخير في السلم في اللحم عند أبي حنيفة رحمه الله وقالا: إذا وصف من اللحم موضعاً معلوماً بصفة معلومة جاز. (الهداية: باب السلم:۳/ ۹٤).

Maktaba Tul Ishaat.com

د هدايې له عبارتو معلوميږي چي د امام صاحب په نزد په غوښه کي بيع سلم روا نه ده مګر صاحبين فرمايي چي په داسي کيفيت او حالت بيانولو سره چي نزاع رامنځ نه سي نو روا ده او له متاخرينو علماوو څخه ډېرو د صاحبينو پر قول فتوی ورکړې.

وګورئ علامه عيني رحمه الله په بنايه شرح کي راځي:

وقال: وفى الحقائق والعيون: الفتوى على قولها، لأن اللحم مو زون في عادة الناس مضبوط الوصف ببيان هذه الأشياء. (البناية فى شرح الهداية:٣/ ١٨٦، ط: فيصل آباد).

ملا علي قاري رحمه الله په شرح نقايه کي فرمايي:

ولا يصح السلم فى اللحم عند أبي حنيفة رحمه الله ويصح عندهما وبه يفتى. (فتح باب العناية:٣/ ٢٧٨).

علامه ابن نجيم رحمه الله فرمايي:

وقالا: يجوز إذا بين جنسه ونوعه وسنه وموضعه وصفته وقدره كشاة خصي ثني سمينٍ من الجنب أو الفخذ مائة رطلٍ ؛ لأنه موزون مضبوط الوصف .... وفي الحقائق والعيون الفتوى على قولهما . (البحر الرائق:٦/ ١٥٨، كوئته).

وفي الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: وجوزه الصاحبان إذا بين وصفه وموضعه، لأنه موزون معلوم، وبه قالت الأئمة الثلاثة، وعليه الفتوى. (الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد:٤/ ٢٨٩، مايجوز السلم فيه ومالا يجوز).

له دې څخه پرته د فقهاء کرامو يو جماعت د حقائق او عيون په حواله سره د صاحبينو پر قول فتوی نقل کوي مثلاً محقق ابن الهمام رحمه الله ((فتح القدير: ٨٤/٧، دار الفكر))، او علامه شامی رحمه الله ((رد المحتار: ٢١٢/٥، سعيد)) کي او همدا دول په ((الفتاوى الهندية: ١٨٤/٣ – شرح المجلة: ٢/ ٤٠٠)) ذکر يې کړه.

وقد وجدت في مخطوطة عيون المذاهب للعلامة قوام الدين محمد بن محمد الكاكى، قال: ولا في لحم وعند هما والثلاثة يصح وبه يفتى. (عيون المذاهب:ص ۱۰۰۵). والله ﷻ اعلم.

په تهوکر کي د استصناع حکم

سوال: يو شخص په چين کي وړوې کمپنۍ ته خبر ورکړئ چي تانونه ورجوړ کړي مگر اجل او وخت مقرر سوی نه دئ نو که دا چيري استصناع بيع وي نو د فقهاوو پر قول په تهوکر کي استصناع روا نه ده او که سلم بيع وي نو وخت مقرر سوی نه دئ، نو دا کوم عقد کېدای سي او حکم يې څه دئ؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي دا عقد عقد استصناع دئ او د فقهاوو د نه روا والي د وينا مدار پر عرف دئ چي د هغو په زمانه د تهوکر استصناع عرف نه وه او په نني زمانه کي چي د تهوکر د تيارولو اردر ورکول کيږي او ورته تياريږي دا عام عرف دئ لهذا د گنجائش کېدل په کار دي همدارنګه علامه فتح محمد اللکنوي په تکمه د عمدة الرعايه کي ليکلي دي، په هر شي کي استصناع روا او صحيح ده که په هغه کي عرف وي او که نه وي.

وګورئ په تکمله عمدة الرعايه کي راځي:

قول مشايخنا إن الاستصناع فيما يتعامل الناس فيه كان في زمانهم أما في زماننا لاكفاية لنا عليه بل لاحاجة إليه، لكن المحتاج إليه أمر لايعتاد الناس به بل لايعرفه كماترى في كثير من الآلات والأشياء التي يخترع ويؤمر به الصناعون وإن نهيناهم عنه يختل الأمر ويفضي إلى مالايسمع فوقها أحد من السامعين فضلاً عن الجاهلين ولذلک إشارة في ما ذكرناها لأن الآية ساكتة (أى آية المداينة) فصارت مطلقة والحديث (أى حديث صناعة المنبر) دال على ماهو حاجتي لأن العرب لايعرفون المنبر حتى قالت امرأة: أجعل لک شيئاً تقعد عليه ووصفته وما ذكر ته باسمه المنبر لأنه كان غير المعروف وأيضاً الخاتم المستصنع إن كانت مما يتعامل الناس فيه لكن النقش باسمه الشريف كان أمراً جديداً فهذا صريح مما لايتعامل

Maktaba Tul Ishaat.com

الناس فينبغي أن يجوز في كل ما يمكن ضبطها ووضعها. (تكملة عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية:۳/ ۸۳، فصل فى الاستصناع، سعيد).

په العرف والعاده كي راځي:

فالفقه أن ما جرى العرف به صح استصناعه كالخفاف الأحذية والأواني وأثاث المنزل وعدد الحرب والثياب. وأما تصريح فقهائنا بأنه لايجوز استصناع الثياب فذلك مبني على عرفهم، لأن الناس ماكانوا يتعاملون هذا النوع، وأما الآن فقد فشا هذا التعامل بين التجار والصناع فى البلدان. (العرف والعادة فى راي الفقهاء للدكتور احمد فهمى ابو سنة، ۱۷٦).

په شرح مجله كي راځي:

كل شيء تعومل استصناعه يصح فيه الاستصناع على الإطلاق. (شرح المجلة:۲/ ٤۰۳، لمحمد الاتاسى).

وفى الفقه الإسلامي: اشترط الحنفية لجواز الاستصناع شروطاً ثلاثة إذا فاتت أو فات واحد منها فسد العقد..... (۱) بيان جنس المصنوع ونوعه وقدره وصفته .... (۲) أن يكون المصنوع مما يجري فيه تعامل الناس كالمصوغات والأحذية .... ويصح في عصرنا الحاضر الاستصناع في الثياب لجريان التعامل فيه، والتعامل يختلف بحسب الأزمنة والأمكنة. (الفقه الاسلامى وادلته:۵/ ۳۰۸، الشروط التى تلحقه، دار الفكر، الطبعة الرابعة).

علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي: اجاره في الثياب د عرف په سبب د بلخ مشائخو روا بللي ده.

وګورئ په الفتاوی شامي کي راځي:

بخلاف الاستصناع كان التعامل به جرى في كل البلاد وبمثله يترك القياس ويخص الأثر، وفي العناية: فإن قيل لا نتركه بل يخص عن الدلالة بعض ما في معنى قفيز الطحان بالعرف كما فعل بعض مشايخ بلخ رحمه الله في الثياب لجريان عرفهم بذلك. (فتاوى الشامى:٦/ ٥٩، مطلب يخص القياس والاثر بالعرف العام، سعيد).

په محيط البرهاني کي راځي:

ومشايخ بلخ كنصيربن يحيى ومحمد بن سلمة وغيرهما كانوا يفتون بجواز هذه الإجارة في الثياب لتعامل أهل بلدهم في الثياب والتعامل حجة يترك به القياس ويخص به الأثر. (المحيط البرهانى:٩/ ١٧٩، رشيدية).

په عطر هدايه کي راځي:

د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد چي له استصناع څخه بيع لازميږي نو د دې شی د متعارف کېدلو شرط ځېله ضرورت دئ ولي په عام ډول هغه شی په اړه جوړېږي هغه به په نوي ډول يا د اعلی کيفيت درلودونکی وي که داسي شيان له استصناع څخه خارج سي نو د استصناع ضرورت پاته نه سو او د امام ابو يوسف رحمه الله د قول تائيد له دې روايت څخه کيږي چي نبي کريم ﷺ مسجد نبوي ته د لرګو څخه منبر جوړ کړ حال دا چي له هغه څخه وړاندي منبر نه متعارف او نه استعمال سوی وو. (عطر هدايه:ص ٢٠٧). والله تعالى اعلم.

د نمونې سره سم د نه جوړولو په صورت کي د بيرته ورکول کېدو حکم

سوال: که يو شخص د يوې کمپنۍ ته د سامان جوړولو اړډر ورکړ او هغو د نمونې مطابق سامان جوړ نه کړ نو ايا بيرته يې واپس کولای سي او که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: په اړډر او خبر ورکولو سره د سامان جوړولو ته د شريعت په اصطلاح استصناع ويل کيږي او د استصناع په عقد کي چي کله د نمونې مطابق نه وي جوړ سوى نو بېرته ورکول يې صحيح دي البته که د اړډر مطابق جوړ وو بيا يې بيرته ورکول صحيح نه دي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

إذا انعقد الاستصناع فليس لأحد العاقدين الرجوع وإذا لم يكن المصنوع على الأوصاف المطلوبة المبينة كان المستصنع مخيراً. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى:۲/ ۴۰۶).

وفي شرح المجلة لسليم رستم باز اللبناني: قال: كان المستصنع مخيراً لفوات الوصف المرغوب فيه. (شرح شرح المجلة:۱/ ۲۲۱، المادة:۷۹۲).

وفى الموسوعة الفقهية: وذهب أبو يوسف إلى أنه إن تم صنعه، وكان مطابقًا للأوصاف المتفق عليها، يكون عقدًا لازمًا، وأما إن كان غير مطابقٍ لها فهو غير لازمٍ عند الجميع؛ لثبوت خيار فوات الوصف..... واللجنة ترجح (رأي أبي يوسف رحمه الله كما اختاره صاحب المجلة)، وترى لزوم عقد الاستصناع، لما يترتب على استقلال أحد الطرفين بفسخه من المضار إلا إذا جاء على خلاف الوصف المتفق عليه. (الموسوعة الفقهية:۳/ ۳۲۹).

مالى معاملات پر غرر کي اثرات نومي کتاب کي اعجاز احمد صاحب ليکلي دي:

دريم قول د امام ابو يوسف رحمه الله دئ هغه فرمايي چي که د مطلوبه صفاتو سره سم سامان جوړ کړل سوى وو نو وهيچا ته د فسخ کولو اختيار نه سته، سبب يې دا دئ چي د مطلوبه صفاتو سره سم د جوړولو سره سره ويوه فريق ته د اختيار ورکولو په صورت د دوهم فريق نقصان دئ. د ننى زمانې حالاتو او معاملاتو ته په کتو سره د امام ابو يوسف رحمه الله قول ډېر د عمل وړ معلوميږي او متعدوو معاصرو علماوو هم د امام ابو يوسف رحمه الله وقول ته ترجيح ورکړې ده.

لكه څنكه چي ډاكټر صديق محمد الامين الضرير فرمايي: والعمل برأي أبي يوسف رحمة الله عليه أولى من العمل بالرأيين الصحيحين فى المذهب في نظري لأنه لا ضرر فيه على المتعاقدين وهو أبعد عن الغرر... (الغررو اثره فى العقود:ص ٤٦٧).

او شيخ احمد زرقا رحمة الله عليه فرمايي:

لزم اختيار قول أبي يوسف رحمة الله عليه في هذا مراعاة المصلحة الوقت. (مجلة مجمع الفقه الإسلامى).

مجمع الفقه الاسلامي (اسلامي فقه اكيډمي جده)

په خپل فيصله سوي قرارداد كي د امام ابو يوسف رحمة الله عليه قول اختيار كړى دئ. (مالى معاملات پر غرر كى اثرات، ص ٦٧-٧١). والله تعالى اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com



عن أنس بن مالک رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ باع حلسا وقدحا وقال: من يشترى هذا الحلس والقدح، فقال رسول الله ﷺ من يزيد على درهم فآعطاه رجل درهمين فباعها منه.

عن ابن عمر رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: «إذا تبايعتم بالعينة وأخذتم أذناب البقر ورضيتم بالزرع وتركتم الجهاد سلط الله عليكم ذلا لاينزعه حتى ترجعوا إلى دينكم». (رواه ابو داؤد – والبيهقى فى سننه الكبرى).

شپږم .... باب

د بيع د مختلفو ډولونه بيان

د بيع بالوفاء طريقه او د هغه حکم

سوال: په دې هيواد کې کله چې ديو چا ښځه وفات وکړي نو اکثره هغه دوهمه نکاح کوي نو کله کله داويا يا پنځه اويا کالو په عمر کې هم نکاح وکړي او په عام ډول د څلويښتو پنځه څلويښتو يا پنځوسو کالو ښځه په نکاح کوي او په وروستنۍ عمر کې خاوند دا فکر کوي چې زما تر مرګ څخه وروسته زما مېرمن زما په موجود سرای کې نه سي اوسېدای ځکه چې د مخکنۍ ښځې اولاد چې له دې خاوند څخه دئ له دې سرای څخه خپله خپله حصه وړي او د مېرمنې حصه داوسېدو له پاره کافي نه وي اوس که خاوند مېرمنې ته وصيت کوي خو وارث ته وصيت نه کيږي او که خاوند ومېرمنې ته سرای هبه کوي نو خاوند دخپل اولاد د حق تلفي فکر کوي ځکه چې د مېرمنې تر مرګ وروسته د هغې وارثان هغه سرای په ميراث وړي او د خاوند مرحوم اولاد محروم پاتيږي په دې صورت کې د احنافو په مذهب کې دننه له پاته کېدو سربېره کوم داسې تجويز او صورت جوړېدای سي چې مېرمن په سرای کې دژوند تر پايه په عزت سره واوسيږي او د هغې تر انتقال او وفات وروسته سرای د خاوند واولاد ته پاته سي؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت كي د مېرمني په سراى كي د اوسېدو له پاره يو صورت د عمرى پر مسئله په عمل كولو سره كېداى سي يعنى كه چيري خاوند ووايي چي تر څه وخته مېرمن ژوندۍ وه تر هغه وخته به په دې سراى كي اوسيږي نو د امام مالك رحمة الله عليه په نزد مېرمن ته د ژوند تر پايه په سراى كي د اوسېدو حق حاصل سو.

په بداية المجتهد كي راځي:

والقول الثاني أنه ليس للمعمر فيها إلا المنفعة فإذا مات عادت الرقبة للمعمر أو إلى ورثته وبه قال مالك وأصحابه. (بداية المجتهد :٢/ ٢٤٨، القول فى انواع الهبات).

په المغني مع الشرح الكبير كي راځي:

وقال مالك رحمة الله عليه والليث رحمة الله عليه: العمرى تمليك المنافع لاتملك بها رقبة المعمر بحال ويكون للمعمر السكنى فيه فإن مات عادت إلى المعمر. (المغنى:٦/ ٣٠٤–وكذا فى الشرح الكبير:٦/ ٢٦٥، بيروت).

په احكام القرآن د قرطبي رحمة الله عليه كي راځي:

وأما العمرى فاختلف العلماء فيها على ثلاثة أقوال: أحدهما أنها تمليك لمنافع الرقبة حياة المعمر مدة عمره، فإن لم يذكر عقباً فمات المعمر رجعت إلى الذي أعطاها أو لورثته، هذا قول القاسم بن محمد رحمة الله عليه ويزيد بن قسيط رحمة الله عليه والليث بن سعد رحمة الله عليه، وهو مشهور مذهب مالك رحمة الله عليه، واحد أقوال الشافعي رحمة الله عليه. (الجامع لاحكام القرآن:٩/ ٣٩، سورة هود).

د احنافو په مذهب كي د عمرى داسي صورت موجود نه دئ چي مېرمن د ژوند تر پايه له سراى څخه ګټه پورته كړي او د هغې تر وفات وروسته د مرحوم ووارثانو ته پاته سي د احنافو په مذهب كي له پاته كېدو سره د عمرى په مسئله سره په عمل كولو سره سراى بيرته وركول كېداى نه سي، البته د احنافو په نزد په دې ځاى كي د بيع بالوفاء صورت كېداى سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

بیع بالوفاء دا ده چي بایع ومشتري ته وایي چي زه دا شی پر تا پلورم په یوه خاص معلوم وخت کي یا چي کله ما ثمن واپس کړه یا زما وارثانو ثمن در کړ ته به مبیعه ورکوې دا تر بیع وړاندي یا تر بیع وروسته د وعدې په شکل کي به وي شرط لکول ښه نه دئ په دې صورت کي د مېرمني تر وفات وروسته د هغې وارثان سرای واپس کوي او د خاوند مرحوم وارثان ثمن واپس کوي، د بیع بالوفاء په جواز او عدم جواز کي ډېر اختلاف دئ مګر د احنافو په نزدیو قول د جواز هم سته او مشکلاتو ته په کتو سره بېله ترد ده پر دې قول د عمل کولو کنجائش په کار دئ.

وګورئ معجم اللغة الفقهاء راځي:

أن يبيع السلعة للمشري بالذي له عليه من الدين على أنه متى قضاه الدين عادت إليه السلعة. (معجم لغة الفقهاء:ص ١٣٧).

په القاموس الفقهي کي راځي:

بيع الوفاء عند الحنفية: هو أن يقول البائع للمشتري: بعت منك هذا الشئ بمالك علي من الدين على أني متى قضيت الدين فهو لي، و هو: أن يبيعه العين على أنه إذا رد عليه الثمن رد عليه العين ويسمى أيضاً بيع الطاعة. (القاموس الفقهى:ص ٣٨٤، حرف الواو، دمشق).

په معجم المصطلاحات کي راځي:

بيع الوفاء في اللغة: عرف الحنفية البيع بشرط أن البائع متى رد الثمن يرد المشتري المبيع إليه. ويسمى بيع الثنيا عند المالكية، والعهدة عند الشافعية والأ مانة عند الحنابلة، ويسمى أيضاً بيع الطاعة، وبيع الجائز، وسمى في بعض كتب الحنفية بيع المعاملة. (معجم المصطلحات: ١/ ٤١٦).

په شرح مجله کي راځي:

وإذا اتفق المشتري مع البائع على أنه يرد له المبيع إذا رد له مثل الثمن في وقت كذا ثم جاء الوقت وامتنع البائع عن رد مثل الثمن فإنه يؤمر ببيع المبيع وقضاء الثمن من ثمنه فإن أبى باعه الحاكم عليه. (شرح المجلة، ص ۲۲۳، للبنانی، فصل فی بیع الوفاء، المادة: ۳۹۶).

په فتاوی شامي کي راځي:

حتى لم يملك المشتري بيعه من آخر ولا رهنه. (فتاوی الشامی:۵/ ۲۷۷، مطلب فی بیع الوفاء، سعید).

په تبيين الحقائق کي راځي:

ومن مشايخ سمرقند من جعله بيعًا جائزًا مفيدًا بعض أحكامه منهم الإمام نجم الدين النسفي، فقال اتفق مشايخنا في هذا الزمان فجعلوه بيعًا جائزًا مفيدًا ، بعض أحكامه وهو الانتفاع به دون البعض وهو البيع، لحاجة الناس إليه ولتعاملهم فيه ، والقواعد قد تترك بالتعامل وجوز الاستصناع لذلك، وقال صاحب النهاية وعليه الفتوى.... وعندهما هذا البيع عبارة عن بيعٍ غير لازمٍ فكذلك وإن ذكر البيع من غير شرطٍ ثم ذكرا الشرط على الوجه المعتاد جاز البيع ويلزمه الوفاء بالميعاد ؛ لأن المواعيد قد تكون لازمةً . (تبيين الحقائق:۵/ ۱۸۳، کتاب الاکراه، ملتان).

په النقايه کي راځي:

وتلفظا بتلفظ البيع بشرط الوفاء أو بالبيع الجائز .....وإن ذكرا البيع من غير شرط ثم ذكرا الشرط على وجه الميعاد جاز البيع ويلزمه الوفاء بالميعاد لأن المواعيد قد تكون لازمة، قال رسول الله ﷺ: « العدة دين » فيجعل هذا الميعاد لازماً لحاجة الناس إليه... وصورته: أن

Maktaba Tul Ishaat.com

بقول البائع للمشتري: بعت منک هذه العين بألف درهم على أني لو دفعت إليک ثمنک تدفع العين إلي ثم قال ويسمى هذا بيع الوفاء وهذا البيع موجود فی المصر يتعامل به ويسمونه بيع الأمانة. (شرح النقاية:٣/ ٢٥٣، قبيل فصل الاقالة، بيروت).

علامه ابن البزار الکردي فرمايي:

وفي فوائد البرهان: تبايعا مطلقاً ثم ألحقا الوفاء يلتحق عند الإمام كإثبات الشرط المفسد وإسقاطه إذا لم يكن قوياً.... وأجر على الرد إذا أحضر الدين.... وجعلناه كذلک لحاجة الناس إليه فراراً من الربا. (الفتاوی البزازية بهامش الهندية:٤/ ٤٠٨، نوع فيما يتصل بالبيع الفاسد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وإن ذكر البيع من غير شرط ثم ذكر الشرط على وجه المواعدة جاز البيع ويلزمه الوفاء بالوعد لأن المواعدة قد تكون لازمة فتجعل لازمة لحاجة الناس. (فتاوی قاضی خان بهامش الهندية:٢/ ١٦٧٥، فصل فی الشروط المفسدة).

په درالمختار کي راځي:

صح بيع الوفاء في العقار استحساناً واختلف في المنقول وفی الشامية: وصح فی العقار باستحسان بعض المتأخرين. (فتاوی الشامی:٥/ ٢٧٩، سعيد).

که بيا له عاقينو يو وفات سي نو دهغه وارثان د مبيع په واپس اخيستلو کي دهغه پر ځای دريږي.

په شرح مجله کي راځي:

إذا مات أحد المتايعين وفاءً انتقل حق الفسخ للوارث. (شرح المجلة، للبنانی:ص ٢٢٦).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

إذا باع باتاً أو وفاءً.... فورثته يقومون مقامه في أحكام الوفاء. (الفتاوی البزازية:٤/ ٤١١).

په درمختار کي راځي:

ولو باعه المشتري فللبائع أو ورثته حق الاسترداد وأفاد في الشرنبلالية أن ورثة كل من البائع والمشتري تقوم مقام مورثها نظرا لجانب الرهن . (الدر المختار:۵/ ۲۷۸، سعيد).

په فتاوی بزازیه کي دا هم ذکر سوی دي چي دا بيع په ځينو احکامو کي د بيع فاسدي په ډول ده او په ځينو کي د بيع صحيح ده.

عبارت وګورئ:

هذا البيع فاسد في حق بعض الأحكام حتى ملک کل منهما الفسخ وصحيح في حق بعض الأحكام حتى لم يملک الشارى بيعه من آخر ولا رهنه. (الفتاوى البزازية:٤/ ٤٠٩، نوع فيما يتصل بالبيع الفاسد).

حضرت مفتي محمد تقی وایي: متاخرینو احنافو هم په څو مسائلو وعد قضاءً لازمه ګرځولې لکه د بيع الوفاء په مسئله کي. (هاوس فائنسنگ کا شرعی طریق:ص ۱۷ – وغیر سودی بنکاری:ص ۲٤۲ -۲٥٤ بيع بالوفاء).

د خانقاه تهانه بهون مفتي د پاکستان شيخ السلام حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله په امداد الاحکام کي ليکلي دي:

د بيع بالوفاء يو صورت دا دئ چي ايجاب او قبول د بيع او شراء وکړل سي او په ايجاب او قبول کي هيڅ شرط د واپسي او نورو نه وي بلکي تر ايجاب او قبول وروسته شرط د رد او نورو ولګول سي دا بالاتفاق روا دئ. « لخلو العقد عن الشرط» او چي په زباني ايجاب او قبول کي متصلاً شرط نه وي په بيع نامه کي په متصلاً شرط ليکلو سره حرمت نه راځي:

لأن الأصل فى العقود القول والكتابة وثيقة، والله أعلم، حرره الأحقر ظفر أحمد عفى عنه.

(امداد الاحکام:۳/ ٤۳٥).

پر دې فتوی د حضرت مولانا اشرف علي رحمه الله تهانوي دستخط هم سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت رحمه الله له دې جواب ځخه معلوم سوه چي كه چيري په ايجاب او قبول كي د واپسۍ شرط نه وو نو بيا په وثيقه كي وليكل سي دا بالكل صحيح دئ، البته د وثيقي په سبب د هغه واپس كول لازم سو او د واپسۍ وعده پوره كول لازم دي لهذا كه چيري خاوند هغه مكان يا سراى خرڅ كي او د بيع په الفاظو كي د واپسۍ شرط نه وي بلكي په ليكنه كي واپسي شرط وكړل سي نو په دې صورت كي بيله شكه جواز سته مشكل نه لري، د بيع په صورت كي دي عاقدين ثمن كم وټاكي او د مړمني تر وفات وروسته دي د هغه وړوارثانو ته وركول سي.

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي په مخكنى عبارت كي د بيع وفاء په داسي شكل د جواز خبره كړې چي په ايجاب او قبول كي يې څه شرط نه وي او په دوهم ځاى كي يې د بيع بالشرط ته هم جواز وركړ البته د ضرورت پر وخت لكه چي په امداد الحكام كي راځي:

د بيع بالوفاء تعريف دا دئ چي په دې شرط سره بيع كول چي مشتري څه وخت ژر ثمن وبايع ته واپس كړي پر بايع د مبيع واپس كول ضروري دي داسي بيع كول په اصل كي د شرعي اصولو له لحاظه ځخه ناروا ده.

فقد نهى رسول الله ﷺ عن بيع وشرط. (رواه الطبراني بطريق أبي حنيفة رحمه الله وذكر عبد الحق في أحكامه وسكت عنه وأعله ابن القطان بأبي حنيفة رحمه الله كذا فى التخريج للزيلعي، قلت: وإعلامه رد عليه فليس مثل أبي حنيفة رحمه الله يعل به).

مګر څنګه چي په بيع بالشرط په ناروا والي كي د علماوو اختلاف دئ لكه د امام شافعي رحمه الله په نزد په ځينو صورتو كي بيع بالشرط روا ده همدارنګه د ابن ابى ليلى او ابن شبرمه دغه خبره ده چي بيع بالشرط روا ده همدا وجه ده چي متاخرين فقهاء د ضرورت پر اساس بيع بالوفاء روا بللې تر څو په دې طريقه له سود ځخه وژغورل سي. (امداد الاحكام).

لنډه دا چي كله خاوند پر ښځي هغه كور خرڅ كړي دا روا دئ بيا نو د هغه د بيع بالوفاء جوړولو دوه صورتونه دي:

١_ له زباني ايجاب او قبول وروسته دي په تحريري يا زباني ډول ښكاره كړي چي كله د كور يا سراى قيمت واپس كړل سو بيا نو د هغه څو صورتونه دي.

الف _ وخت دي تعين کړل سي مثلاً شل کاله وروسته به ثمن واپس کيږي او بيا به مکان يا سرای واپس کيږي.

باء _ څه وخت چي ثمن واپس کړل سو سرای به هم واپس کيږي او دا صورت زموږ د مذکوره مسئلې حل نه سي کېدای.

ج _ چي کله د مېرمني انتقال وسي نو د ثمن د واپس کېدو په صورت کي دي مکان (سراي يا کور) د خاوند و واثارنو ته واپس کړل سي په ياد ولري په وارثانو کي مېرمن هم شامله ده لکونه کالرهن.

۲ _ صورت دا دئ چي په ايجاب او قبول کي دننه شرط ولګول سي ودې ته هم کافي مشائخو کرامو د ضرورت په سبب د روا حکم ورکړی او ځينو حضرت د ناروا حکم کړی لهذا له دې صورت څخه احتراز کول په کار دي. والله تعالیٰ اعلم.

د بيع عينه طريقه او حکم

سوال: عمر و زيد ته ورغلئ او لس زره قرض روپۍ يې ورڅخه وغوښتې زيد له قرض ورکولو څخه انکار وکړ البته دا خبره يې زيد ته وکړه چي زما سره ماشين سته د هغه قيمت لس زره دئ هغه ته په ديارلس زره واخله او شپږه مياشتي وروسته ثمن اداء کړه يعني ما ته د هغه قيمت راکړه عمر ماشين واخيست او بيا په بازار کي يا بېرته پر زيد په لس زره نغدي خرڅ کړ شرعاً د دې څه حکم دئ؟ او يا د بانکو مرابحه د بيع عينه له قبيل څخه ده او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي دا عقد په بيع عينه کي داخل او د دې مسئلې مختلف صورتونه دي:

۱ _ يو دا چي زيد په عقد کي لا دا شرط ولګوي چي ماشين به بيرته پر ما په لس زره پلورې دا صورت په دوه سببه ناروا دئ.

الف _ د شرط په سبب.

باء _ « شراء ماباع بأقل مما باع قبل نقد الثمن». په سبب يعني بايع په لوړ قيمت خرڅ کړ او په ټيټ يې رانيوئ د ثمن تر اداء کېدو وړاندي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲_ صورت دا دئ چي ببله شرط څخه يې وپلوري او د بيرته خرڅولو وعده ورڅخه واخلي يا شرط تر بيع وروسته ولګوي دا صورت هم ناروا دئ ځکه په دي کي هم، « شراء ماباع بأقل مما باع قبل نقد الثمن ». البته د ثمن تر اداء کولو وروسته روا ده.

۳_ صورت دادئ چي زيد پر عمر هغه شی په (۱۳) زره وپلوري بيا عمر هغه پر بکر وپلوري او بکر بيرته هغه پر زيد وپلوري په دې صورت کي د امام محمد رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله اختلاف دئ، امام محمد رحمه الله فرمايي: « هذا البيع في قلبي كأمثال الجبال ذميم اخترعه أكلة الربا. (شامی، كتاب الكفالة:۵/ ۳۲۶، مطلب بيع العينة، سعيد). او دې ته ناروا وايي په قاضي خان کي راځي:

ثم أن المستقرض يبيعها من غيره بأقل مما اشترى ثم ذلک الغير يبيعها من المقرض بما اشترى.... وهذا الحيلة هي العينة التي ذكرها محمد. (فتاوى قاضی خان، بهامش الهندية:۲/ ۲۷۹، فصل فيما يكون فراراً من الربا).

د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد روا ده بلکي دا يې قابل اجر بللی دئ همدارنګه د بلخ مشائخ هم ودې ته روا وايي.

په فتاوى قاضي خان کي راځي:

وقال مشايخ بلخ بيع العينة في زماننا خير من البيوع التي تجري في أسواقنا وعن أبي يوسف رحمه الله أنه قال العينة جائزه مأجورة وقال أجره لمكان فراره من الحرام. (فتاوى قاضی خان بهامش الهندية:۲/ ۲۷۹).

۴_ صورت دا دئ چي زيد پر عمر ماشين وپلوري او عمر بيا په بازار کي پر بکر دا ماشين وپلوري او د زيد ولاس ته بيرته رانه سي دا صورت د امام محمد رحمه الله په نزد هم روا دئ.

په فتح القدير كي راځي:

ومالم ترجع إليه العين التي خرجت منه لايسمى بيع العينة. (فتح القدير: ۷/ ۲۱۳، دار الفكر).

وبيع عنيه ته ځكه عينه وايي چي په دې كي بايع له قرض ځخه لاس په سر كيږي او د عين او سامان وطرف ته رجوع كوي او يا د دې امله چي د بايع ولاس ته عين يعنى هغه شى راغلئ.

د بيع عينه مانعين په لاندي حديث سره استدلال كوي:

حدثنا حيوة بن شريحٍ عن إسحاق أبى عبد الرحمن قال سليمان عن أبى عبد الرحمن الخراساني أن عطاءً الخراساني حدثه أن نافعًا حدثه عن ابن عمر رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: «إذا تبايعتم بالعينة وأخذتم أذناب البقر ورضيتم بالزرع وتركتم الجهاد سلط الله عليكم ذلا لا ينزعه حتى ترجعوا إلى دينكم». (رواه ابو داؤد: ۳/ ۲۹۱، باب فى النهى عن العينة –والبيهقى فى سننه الكبرى، باب مارود فى كراهية التبايع: ۵/ ۳۱۶، دائرة المعارف).

وفى الدراية في تخريج أحاديث الهداية: قل: وإسناده ضعيف، وله عند أحمد إسناد آخر أجود وأمثل منه ومن حديث عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نحوه عنده بإسناده ضعيف.

(باب البيع الفاسد: ۲/ ۱۵۱، بيروت).

وفى نصب الراية: قال رواه أحمد، وأبو يعلى الموصلي، والبزار في مسانيدهم، قال البزار: وأبو عبد الرحمن هذا هو عندي إسحاق بن عبد الله بن أبي فروة، وهو لين الحديث، انتهى.

قال ابن القطان في كتابه: وهذا وهم من البزار، وإنما اسم هذا الرجل إسحاق بن أسيد أبو عبد الرحمن الخراساني، يروي عن عطاءٍ، روى عنه حيوة بن شريحٍ، وهو يروي عنه هذا الخبر، وبهذا ذكره ابن أبي حاتمٍ، وليس هذا بإسحاق بن أبي فروة، ذاك مديني، ويكنى أبا سليمان، وهذا خراساني، ويكنى أبا عبد الرحمن، وأيهما كان فالحديث من أجله لا يصح، ولكن

Maktaba Tul Ishaat.com

للحديث طريق أحسن من هذا، رواه الإمام أحمد في « كتاب الزهد » حدثنا أسود بن عامرٍ ثنا أبو بكر بن عياشٍ عن الأعمش عن عطاء بن أبي رباحٍ عن ابن عمر ﷺ، قال: أتى علينا زمان، وما يرى أحدنا أنه أحق بالدينار والدرهم من أخيه المسلم، ثم أصبح الدينار والدرهم أحب إلى أحدنا من أخيه المسلم، سمعت رسول الله ﷺ يقول: « إذا ضن الناس بالدينار والدرهم، وتبايعوا بالعينة، واتبعوا أذناب البقر، وتركوا الجهاد في سبيل الله، أنزل الله بهم ذلا، فلم يرفعه عنهم حتى يراجعوا دينهم »، انتهى. قال: وهذا حديث صحيح، ورجاله ثقات، انتهى. حديث آخر: رواه أحمد في « مسنده » حدثنا يزيد بن هارون عن أبي جنابٍ عن شهر بن حوشبٍ أنه سمع عبد الله بن عمرٍو عن رسول الله ﷺ، فذكر نحوه. (نصب الراية لاحاديث الهداية: ٤/ ١٧، كتاب البيوع، بيروت).

لنډه دا چي د ابو داؤد سند ضعيف دئ او د مسند احمد سند صحيح دئ.

که دا حديث صحيح وي نو له دې څخه د بيع عينه ممانعت ثابتيږي خو دا حديث څلورم لمبر صورت ته شامل نه دئ همدارنګه د اسلامي بانکو مرابحه په دې حديث کي نه راځي، ځکه چي پلورل سوي سامان واپس و بانک ته نه راځي همدارنګه ځيني حضرات وايي په دې حديث د جهاد څخه د غفلت او په کار وبار کي له مشغولتيا څخه ممانعت دئ او د دې په تائيد کي دا خبره هم کېداى سي چي په ځينو طروقو کي د زرع لفظ هم راغلى دئ نو بيا به زراعت هم منعه سي حال دا چي د هغه د ممانعت هيڅ يو کس قايل نه دئ، لکه علامه سعدي چلپي د فتح القدير په حاشيه کي فرمايي: لو صح ذلک تكون الزراعة مذمومة أيضاً. (حاشية فتح القدير: ٧/ ٢١٢، دار الفكر).

وللاستزادة، انظر: (فتاوى الشامي: ٥/ ٢٧٢ - ٢٧٣، ٣٢٥، سعيد - وفتح القدير: ٧/ ٢١٣، دار الفكر - اعلاء السنن: ١٤/ ١٧٧، ادارة القرآن - والهداية: ٣/ ١١٣ - والرسالة المسماة بـ « بيوع العينة والآجال» اعدتها استاذة مدرسة عائشة، ط: كراتشى باكستان). والله تعالى اعلم.

د بیع تلجیې طریقه او حکم

سوال: بیع تلجیه کومه بیعه ده او حکم یې څه دئ؟

الجواب: بیع تلجیه وهغه بیع ته وایي چې بایع او مشتري د یو مصلحت پر بناء ظاهراً بیع وکوي مګر په حقیقت کي بیع نه وي او د توکو ټکالو یو ډول دئ او حکم یې فساد دئ یعنی دا بیع فاسده ده.

قال الجرجاني: هو العقد الذي يباشره الإنسان عند ضرورة يصير كالمدفوع إليه. وصورته: أن يقول الرجل لغيره: أبيع داري منك بكذا في الظاهر، ولا يكون بيعاً في الحقيقة ويشهد على ذلك وهو نوع من الهزل. وفي الإنصاف: عرفه بقوله: هو أن يظهرا بيعاً لم يريداه باطنا بل خوفا من ظالم ونحوه. ويعرف بعض الحنفية بيع التلجئة بأنه عقد ينشئه لضرورة أمر فيصير من المدفوع إليه. (معجم المصطلحات:۱/ ٤٠٥).

وفي الفتاوي الهندية: التلجئة هي العقد الذي ينشئه لضرورة أمرٍ فيصير كالمدفوع إليه وأنه على ثلاثة أضربٍ أحدها أن تكون في نفس البيع وهو أن يقول لرجلٍ: إني أظهر أني بعت داري منك وليس ببيعٍ في الحقيقة ويشهد على ذلك ثم يبيع في الظاهر فالبيع باطل والثاني أن تكون التلجئة في البدل نحو أن يتفقا في السر أن الثمن ألف ويتبايعان في الظاهر بألفين فالثمن هو المذكور في السر ويصير كأنهما هزلا في الزيادة وروى أبو يوسف رحمه الله أن الثمن هو المذكور في الظاهر، والثالث: أن يتفقا في الباطن أن الثمن ألف درهمٍ ويتبايعان في الظاهر بمائة دينارٍ، قال محمد رحمه الله القياس أن يبطل العقد وفي الاستحسان يصح بمائة دينارٍ كذا في الحاوي، وعن أبي حنيفة رحمه الله بيع التلجئة موقوف إن أجازاه جاز ، وإن رداه بطل كذا في

Maktaba Tul Ishaat.com

التهذيب، ولو اتفقا أن يقرا ببيعٍ لم يكن فأقرا بذلك فهو باطل ولا يجوز بإجازتهما كذا في الحاوي .(الفتاوى الهندية:۳/ ۲۰۹، باب فی البیاعات المکروهة والارباح الفاسدة).

په درمختار کي راځي:

وبيع التلجئة وهو أن يظهرا عقدًا وهما لا يريدانه يلجأ إليه لخوف عدو وهو ليس ببيعٍ في الحقيقة بل كالهزل كما بسطته في آخر شرحي على المنار . (الدر المختار:۵/ ۲۷۳، بیع الفاسد).

وفى الدر المختار: ولم ينعقد مع الهزل لعدم الرضا بحكمه معه، وفي الشامية: لهزل في اللغة : اللعب، وفي الاصطلاح : هو أن يراد بالشيء ما لم يوضع له ، ولا ما صح له اللفظ استعارةً ..... فإن تواضعا على الهزل بأصل البيع : أي توافقا على أنهما يتكلمان بلفظ البيع عند الناس ولا يريدانه واتفقا على البناء : أي على أنهما لم يرفعا الهزل ولم يرجعا عنه فالبيع منعقد لصدوره من أهله في محله ، لكن يفسد البيع لعدم الرضا بحكمه فصار كالبيع بشرط الخيار أبدًا . (الدر المختار مع ردالمحتار:۴/ ۵۰۷، مطلب فی حکم البیع مع الهزل، سعید).

په شرح مجله کي راځي:

البيع الفاسد يفي الحكم عند القبض إلا في أربع بيع الهازل..... (شح المجلة:۲۰۷، للبنانی).

په قاموس الفقه کي راځي:

د فرضي بيع ته بيع تلجيه وايي له دې څخه مراد دا دئ چي په حقيقت کي بيع نه وي مګر د کوم مصلحت پر بنياد ښکاره کول سي چي فلانی سامان زه له دې شخص څخه را نيسم يا دا چي اصل قيمت کم وي په ښکاره د مصلحت په نامه لوړ قيمت وايي د امام محمد رحمه الله په نزد دا بيع باطل سوه او د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا د طرفينو پر اجازه موقوفه ده که هغه دغه نمائشي بيع باقي پرېښود سي نو بيع کيږي که داسي نه وي کالعدم ګرځي. (قاموس الفقه:۲/ ۳۷۳، فرض بیع).

وللاستزادة، انظر: (البحر الرائق:٦/ ٩٩، فصل فى البيع الفاسد، بيروت – والمبسوط للامام السرخسى، باب التلجئة:٢٤/ ٢٢٦ – وفتاوى الشامى، مطلب فى بيع التلجئة:٥/ ٢٧٣، سعيد – بدائع الصنائع:٥/ ١٧٦ – وقاضى خان:٣/ ٤٩٢).

لنډه دا چي بيع تلجيه فاسده بيع ده، البته كه وروسته بايع او مشتري رضايت ښكاره كړي، نو بيا بيع صحيح ګرځي. لكه بيع د مكره، كبيع المكره. والله تعالىٰ اعلم.

د بيع الاستجرار طريقه او د هغې حكم

سوال: په ځينو ځايو كي د بيع دوه صورتونه رائج دي چي د دواړو شرعي حكم معلومول غواړم:

١ـ په ځينو ځايو كي د مشتري رقم له دوكاندار سره جمع وي له دوكاندار څخه اجناس رانيسي تر څو رقم ختميږي په دې صورت كي ظاهراً دا خرابي لازميږي چي قيمت يعنى ثمن معلوم نه دي.

٢ـ صورت دا دئ چي مشتري له دوكاندار څخه سامان وړي درې مياشتي يا د مياشتي په اخير كي دوكاندار ومشتري ته قيمت وايي يا يې ليكلي وي په دې كي ظاهراً دا خرابي راځي چي هغه شى تر استعمال وروسته ختميږي نو دا بيع د معدوم ده او شريعت له نظر د دې دواړو صورتونو څه حكم دئ؟

الجواب: د اول صورت دوه شكلونه.

الف ـ بايع به ومشتري ته هر وار د ثمن وايي نو دا صورت بېله شكه صحيح او درست دئ.

باء ـ بايع ومشتري ته د ثمن نه وايي مګر د دواړو په ذهن كي بازاري قيمت وي نو دا هم د مفضى الى النزاع نه كېدو په سبب صحيح دئ.

٢ـ صورت د استحساناً روا او صحيح دئ ځكه په خلكو كي مروج دئ او په حقيقت كي بيع د معلوم هم نه ده څرنګه چي د عقد په وخت كي موجود دئ او مشتري د بايع په اجازه استعمال كي او كه بالفرض يې معدوم مقرر كي بيا هم د خلكو د عرف او رواج په سبب دا بيع روا كيږي.

وګورئ په معجم المصطلاحات كي راځي:

Maktaba Tul Ishaat.com

واصطلاحاً مايستجره المشترى من البائع شيئاً فشيئاً ثم يدفع ثمن ما أخذه بعد ذلک.

(معجم المصطلحات والالفاظ الفقهية، لمحمد عبد الرحمن عبد المنعم:١/ ٤٠٢).

په التعريفات الفقيه کي راځي:

بيع الاستجرار: هو ما يستجره الإنسان من البياع إذا حاسبه على أثمانها بعد استهلاكها.

(التعريفات الفقهية:ص ٢١٢).

وفی الدر المختار: ما يستجره الإنسان من البياع إذا حاسبه على أثمانها بعد استهلاكها جاز استحسانًا ، وفی الشامية: قوله ما يستجره الإنسان.... الخ. ذكر في البحر: أن من شرائط المعقود عليه أن يكون موجوداً، فلم ينعقد بيع المعدوم ثم قال: ومما تسامحوا فيه، وأخرجوه عن هذه القاعدة ما في القنية الأشياء التي تؤخذ من البياع على وجه الخرج كما هو العادة من غير بيع كالعدس والملح والزيت ونحوها ثم اشتراها بعدما انعدمت صح. فيجوز بيع المعدوم هنا، وقال بعض الفضلاء: ليس هذا بيع معدوم إنما هو ضمان المتلفات بإذن مالكها عرفا تسهيلا للأمر ودفعا للحرج كما هو العادة وفيه أن الضمان بالإذن مما لا يعرف في كلام الفقهاء حموي،وفيه أيضا أن ضمان المثليات بالمثل لا بالقيمة والقيميات بالقيمة لا بالثمن.

قلت: كل هذا قياس، وقد علمت أن المسألة استحسان .... وخرجها في النهر على كون المأخوذ من العدس ونحوه بيعاً بالتعاطي، وأنه لا يحتاج في مثله إلى بيان الثمن لأنه معلوم .... قلت: ما في النهر مبني على أن الثمن معلوم، لكنه على هذا لا يكون من بيع المعدوم بل كلما أخذ شيئاً انعقد بيعاً بثمنه المعلوم قال في الولوالجية: دفع دراهم إلى خباز، فقال:

اشتريت منك مائة من من خبز، وجعل يأخذ كل يوم خمسة أمناء فالبيع فاسد وما أكل فهو مكروه لأنه اشترى خبزا غير مشار إليه، فكان المبيع مجهولاً ولو أعطاه الدراهم، وجعل يأخذ منه كل يوم خمسة أمناء ولم يقل في الابتداء اشتريت منك يجوز وهذا حلال وأن كان نيته وقت الدفع والشراء لأنه بمجرد النية لا ينعقد البيع، وإنما ينعقد البيع الآن بالتعاطي والآن المبيع معلوم فينعقد البيع صحيحاً، قلت: ووجهه أن ثمن الخبز معلوم فإذا انعقد بيعاً بالتعاطي وقت الأخذ مع دفع الثمن قبله، فكذا إذا تأخر دفع الثمن بالأولى، وهذا ظاهر فيما كان ثمنه معلوما وقت الأخذ مثل الخبز واللحم . (فتاوى الشامى:٤/ ٥١٦، سعيد) .

په اسلام او جدید معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

بيع استجرار ودې ته ویل کیږي چي یو کس له دوکاندار څخه د ضرورت پر اساس وخت په وخت لږلږ سامان وړي او هر وار د وړلو په وخت کي نه دهغو په منځ کي ایجاب او قبول وي او نه نور تاوو بالا وي چي په دومره یا په دومره یې وړم، یعنی یو څوک له دوکاندار څخه کم کم شیان وړي او دهغو شیانو تر استعمال څخه وروسته دهغو شیانو قیمت ته حساب کوي بیا یې اداء کوي چي حاصل یې داسي کیږي ګواکي دوکاندار او مشتري په منځ کي پرېکړه سوې ده چي که زموږ په کور کي سامان ته ضرورت پیدا سو له تا څخه به یې وړو همدارنګه چي کوم وخت د ده په کور کي ضرورت پیدا سي له دوکان څخه شیان وړي او دوکاندار وده ته شیان بېله ایجاب او قبول څخه ورکړي همدارنګه د قیمت ذکر نه کیږي هغه کس له دې شیانو څخه خپل کار اخلي او بیا په میاشت کي دننه چي څومره شیان ده له دوکاندار څخه وړي دهغو حساب کوي او د دوکانداره ثمن ورکوي او ټوټل قیمت پر یوه ځای اداء کوي . متاخرینو احنافو وو د بیع استجرار د جواز فتوی ورکړې که څه هم له دوکاندار څخه د سامان وړلو پر وخت د قیمت هیڅ ذکر ونه سي. (اسلام او جدید معاشی مسائل:۲۳۳، ۲۳۷، بیع الاستجرار).

Maktaba Tul Ishaat.com

وللاستزادة، انظر: (البحر الرائق:٥/ ٢٥٩، کوئته - اسلام اور جدید معاشی مسائل، از مفتی محمد تقی صاحب:٣/ ٢٣٣ -٢٥١، بیع الاستجرار). والله تعالیٰ اعلم.

دمیاشتنۍ یا مجلې د رانیولو له پاره مخکې د پیسو د اداء کولو حکم

سوال: زه د یوې دیني رسالې مشتري یم او د هغې له پاره یو کال وړاندې پیسې جمع کوم ځینو حضراتو زما په زړه کې شک پیدا کړې چې دا د معدوم بیع ده ځکه چې رسالې تر اوسه موجودې نه دي بلکې راتلونکې هره میاشت چاپیږي د دې د جواز کوم صورت کېدای سي که چیرې دا د سلم بیع وشمارل سي نو سلم بیع په بازار کې د مبیع په یوه نه یوه ځای کې وجود ضروري دئ او دا رساله خو بل ځای پیدا کېدای نه سي؟

الجواب: په سلم بیع کې صرف د احنافو په نزد د مبیعې وجود په بازار کې د عقد له وخته بیا د اداء تر وخته ضروري شرط دئ په شافعي مذهب کې کوم داسې شرط نه سته بلکې د مسلم فیه محض د اداء په وخت کې وجود ضروري دئ او په دې سره کفایت کیږي نو په دې مسئله کې د ضرورت پر اساس د امام شافعي رحمه الله پر قول د عمل کولو رخصت دئ لکه چې علامه تهانوي رحمه الله په امداد الفتاوی کې په دې سره تصریح کړې وه.

په امداد الفتاوی کې راځي:

مسلسل وجود له ضروري شرطو څخه دئ که چیرې دا شرط پوره کړل سي عقد روا ګرځي مګر د امام شافعي رحمه الله په نزد صرف د اداء کولو پر وخت یې وجود ضروري دئ لکه په هدایه کې چې راځي نو که چیرې د ضرورت په سبب د امام شافعي رحمه الله په قول عمل وکړل سي هیڅ ملامتیا نه سته او رخصت دئ. (امداد الفتاوی:٣/ ١٠٦).

په درس هدایه کې مفتي ولي حسن وایي:

و اوسنیو مشکلاتو ته په کتو سره فقهاء فرمایي چې د امام شافعي رحمه الله پر قول د فتوی ورکولو ګنجائش سته تر څو خلک له حرامو څخه وژغورل سي. (درس هدایه: ص ٣٢٩، شروط السلم).

لهذا د دې حضراتو د قول سره سم وپوښتل سوي صورت ته د سلم عقد ویل کېدای سي، مګر حقیقت دا دئ چې پورتنۍ مسئله له بیع استجرار سره مشابه ده او بیع استجرار دا ده چې یو شخص

کله ناکله له دوکاندار څخه مختلف شیان رانیسي او په اخیر کې حساب کړلو سره معامله صافه کړي دا روا ده او په دې صورت کې چې مخکې پیسې جمع سوې دي هغه پر قرض باندې حمل کیږي یعنی اداء کړل سوي رقم پر مدرسه قرض دئ بیا چې څه وخت رساله راځي په هغه کې د تعاطۍ په ډول عقد منعقد ګرځي.

وګورئ:

وفى الدر المختار: ما يستجره الإنسان من البياع إذا حاسبه على أثمانها بعد استهلاكها جاز استحسانًا، وفى الشامية: قوله ما يستجره الإنسان.... الخ. ذكر فى البحر: أن من شرائط المعقود عليه أن يكون موجوداً، فلم ينعقد بيع المعدوم ثم قال: ومما تسامحوا فيه، وأخرجوه عن هذه القاعدة ما في القنية الأشياء التي تؤخذ من البياع على وجه الخرج كما هو العادة من غير بيع كالعدس والملح والزيت ونحوها ثم اشتراها بعدما انعدمت صح. فيجوز بيع المعدوم هنا، وقال بعض الفضلاء: ليس هذا بيع معدوم إنما هو ضمان المتلفات بإذن مالكها عرفا تسهيلا للأمر ودفعا للحرج كما هو العادة وفيه أن الضمان بالإذن مما لا يعرف في كلام الفقهاء حموي، وفيه أيضا أن ضمان المثليات بالمثل لا بالقيمة والقيميات بالقيمة لا بالثمن.

قلت: كل هذا قياس، وقد علمت أن المسألة استحسان .... وخرجها في النهر على كون المأخوذ من العدس ونحوه بيعاً بالتعاطي، وأنه لا يحتاج في مثله إلى بيان الثمن لأنه معلوم .... قلت: ما في النهر مبني على أن الثمن معلوم، لكنه على هذا لا يكون من بيع المعدوم بل كلما أخذ شيئاً انعقد بيعاً بثمنه المعلوم قال في الولوالجية: دفع دراهم إلى خباز، فقال: اشتريت منك مائة من من خبز، وجعل يأخذ كل يوم خمسة أمناء فالبيع فاسد وما أكل فهو

Maktaba Tul Ishaat.com

مکروه لأنه اشترى خبزا غير مشار إليه، فكان المبيع مجهولاً ولو أعطاه الدراهم، وجعل يأخذ منه كل يوم خمسة أمناء ولم يقل في الابتداء اشتريت منك يجوز وهذا حلال وأن كان نيته وقت الدفع والشراء لأنه بمجرد النية لا ينعقد البيع، وإنما ينعقد البيع الآن بالتعاطي والآن المبيع معلوم فينعقد البيع صحيحاً، قلت: ووجهه أن ثمن الخبز معلوم فإذا انعقد بيعاً بالتعاطي وقت الأخذ مع دفع الثمن قبله، فكذا إذا تأخر دفع الثمن بالأولى، وهذا ظاهر فيما كان ثمنه معلوماً وقت الأخذ مثل الخبز واللحم. (فتاوى الشامي:٤/ ٥١٦، سعيد).

په شرح مجله کې راځي:

وهذا إذا كان ثمن مايستجره معلوماً لدى المتبايعين بأن بيناه قبل الاستجرار، أو كان معلوماً عند كل الناس كالخبزو للحم، وأما إذا كان مجهولاً فلا يصح تخريجه على بيع التعاطى كما لايخفى. (شرح المجلة لمحمد الاتاسى:٢/ ٤٠، مادة ١٧٥).

په موطاء امام مالک کې راځي:

ولا بأس بأن يضع الرجل عند الرجل درهماً ثم يأخذه منه بثلث أو بربع أو بكسر معلوم سلعة معلومة. ... (مؤطا امام مالک: ص ٥٩٠، باب جامع بيع الطعام).

په شرح مجله کې راځي:

ويصح البيع با لتعاطي فى الخسيس والنفيس على ماهو المعتمد ويصح أيضاً ولو كان الإعطاء من أحد الجانبين فقط وبه يفتى وصورته أن يتفقا على الثمن ثم يأخذ المشتري المتاع ويذهب برضا صاحبه من غير أن يدفع الثمن أو أن يدفع الشمتري الثمن للبائع ويذهب بدون قبض المبيع فإن البيع لازم على الصحيح..... وفى الدر المختار: مايستجره

الإنسان من البياع كالزيت والعدس والملح وماشا كل إذا حاسبه على أثمانها بعد استهلاكها جاز استحساناً. (شرح المجلة:١/ ١٧٥، المادة:١٧٥، لسليم رستم باز اللبناني).

بحوث فی قضایا فقهیه کی رائے:

أما بيع الاستجرار فهو مأخوذ من قولهم: استجر المال: إذا أخذه شيئاً فشيئاً، وهو في اصطلاح الفقهاء المتأخرين أن يأخذ الرجل من البياع الحاجات المتعددة شيئاً فشيئاً، دون أن يجرى بينهما مساومة أو إيجاب وقبول في كل مرة،

والاستجرار على نوعين: الأول: الاستجرار بثمن مؤخر.

والثاني: الاستجرار بمبلغ مقدم.

وأما النوع الثاني من الاستجرار، فهو أن المشتري يدفع إلى البائع مبلغاً مقدماً، ثم يستجر منه الأشياء، وتقع المحاسبة بعد أخذ مجموعة من الأشياء في نهاية الشهر أو في نهاية السنة مثلاً.... ويخرج على هذا اشتراك المجلات الدورية فإن العادة في عصرنا أن الناس يدفعون بدل الاشتراك السنوي في بداية كل سنة إلى أصحاب هذه الدوريات وأنهم يبعثون إليهم نشرة من الملجة في كل شهر فبدل الاشتراك قرض مضمون عندهم، ويقع بيع كل عدد من المجلة عند ما تصل المجلة إلى المشتري، فلو انقطعت المجلة في أثنا السنة لزم على أصحابها رد ما بقي من بدل الاشتراك. (بحوث في قضايا فقهية معاصرة:١/ ٥٥، ٦٦-٦٩، بيع الاستجرار).

(وكذا فی اسلام اور جديد معاشی مسائل:٣/ ٢٣١-٢٥٠، وفتاوى عثمانی:٣/ ١١٢).

Maktaba Tul Ishaat.com

د دې مسئلې نظیر حضرت مولانا تهانوي رحمه الله په امداد الفتاوی کې هم ذکر کړی دی. (امداد الفتاوی:۳/ ۱۳۲).

ولاستزادة: انظر: (ردالمحتار:٤/ ٥١٦، سعيد – والبحر الرائق:٥/ ٢٥٩- والفقه الحنفى فى ثوبه الجديد:٤/ ٤٧، بيع التعاطى والاستجرار – وغرر كى صورتين:ص ٢٨٣ -٢٩٥). والله تعالیٰ اعلم.

وقصاب ته مخکې پیسې ورکول او غوښه ورځخه د وړلو حکم

سوال: زما د غوایي او ګامېښې پښې ډېرې خوښې دي نو ما وقصاب ته سل روپۍ ورکړې چې روزانه ما ته د لسو روپیو له حسابه د غوایي پښې راکوه ځینو حضراتو دې ته د بیع المعدوم نوم ورکړی او ناوړا یې وبلله ایا دا معامله روا ده او که نه؟

الجواب: دا معامله روا ده نور نو د مخکینو حوالو و تفصیل ته مراجعه وکړئ چې دلته اوږد والی ورځخه راځي. (جدید معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۱۲۲). والله تعالیٰ اعلم.

د بیع من یزید حکم

سوال: ایا د فقهاء په نزد بیع من یزید روا ده او که نه؟

الجواب: د جمهورو فقهاوو په نزد بیع من یزید روا ده البته د امام اوزاعي او امام اسحاق دا بیع صرف د غنیمت په مال یا د میراث د مال په خرڅولو کې روا بللې یعنی د دې دوو ډولو مال په خرڅولو کې بیع من یزید دوی دوه روا بولي او د ابراهیمي نخعي رحمه الله په نزد دا بیع مکروه ده او دې ته بیع مزایده، نیلام، هراج هم ویل کیږي.

په ترمذي شریف کې راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ باع حلساً وقدحاً وقال: من يشتري هذا الحلس والقدح، فقال رجل: أخذتهما بدرهم، فقال النبي ﷺ: من يزيد على درهم فأعطاه رجل درهمين فباعهما منه، هذا حديث حسن. (رواه الترمذى فى باب ماجاء فى بيع من يزيد:١/ ٢٣١).

نبي كريم ﷺ ديوه ټاټ او يوې پيالې ليلام لګولي وويو كس په يوه درهم اخيستلو ته تياري وښوده نبي كريم ﷺ وغ وكړ تر دې په زيات قيمت يې څوک اخلي، دوهم نفر وويل زه يې په دوو اخيستلو ته تيارېم نبي كريم ﷺ وهغه دوهم كس ته وركړل.

روي عن رسول الله ﷺ لا يستام الرجل على سوم أخيه .... والنهي لمعنًى في غير البيع وهو الإيذاء فكان نفس البيع مشروعًا فيجوز شراؤه ولكنه يكره ، وهذا إذا جنح البائع للبيع بالثمن الذي طلبه المشتري الأول فإن كان لم يجنح له فلا بأس للثاني أن يشتريه ؛ لأن هذا ليس استيامًا على سوم أخيه فلا يدخل تحت النهي ، ولانعدام معنى الإيذاء أيضًا ، بل هو بيع من يزيد وأنه ليس بمكروهٍ ؛ لما روي أن رسول الله ﷺ « باع قدحًا وحلسًا له ببيع من يزيد » وما كان رسول الله ﷺ ليبيع بيعًا مكروهًا . (بدائع الصنائع كتاب البيوع، فصل فى صفة البيع الذى يحصلبه التفريق:٥/ ٢٣٢، سعيد).

وللاستزادة انظر: (العناية فى شرح الهداية، فصل فيما يكره من البيوع، بهامش فتح القدير:٦/ ٤٧٩ – وتبيين الحقائق:٤/ ٦٧، دار الكتب الاسلامى – والدر المختار مع ردالمحتار:٥/ ١٠٢، باب البيع الفاسد، سعيد – والمغنى لابن قدامة الحنبلى: فصل لايسوم الرجل على سوم اخيه). والله ﷻ اعلم.



Maktaba Tul Ishaat.com